فَسْئَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ

فتاوىٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

افادات

محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا **مفتی محمد فرید** رحمہ اللہ

جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج و ترتیب

مفتی محمد وہاب منگلوری مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

مکتبہ رشیدیہ

جی ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

دویم جلد

افادات	محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی **محمد فرید** رحمۃ اللہ علیہ جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک
تخریج وترتیب	مفتی محمد وہاب منگلوری مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی
ترجمہ وکمپوزنگ	**دار الترجمہ وکمپوزنگ سنٹر** عبد الغنی پلازہ محلہ جنگی پشاور
زیر سر پرستی	مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی مہتمم دار العلوم صدیقیہ زروبی ضلع صوابی
ناشر	مکتبہ رشیدیہ اکوڑہ خٹک

دوم جلد

د کتاب نوم: فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (دویم جلد)

افادات: محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا
مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمه الله
شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج: مولانا مفتی محمد وهاب منګلوری نقشبندی
دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون: مولانا مفتی عصمت الله حقانی

مترجمین: مولانا محمد منظر مردانی فاضل جامعه امداد العلوم صدر
برهان الدین صدیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
ایم اے پشاور یونیورسٹی (فون: ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصحح: مولانا لطف الرحمٰن صاحب مدرس ونګران قاسم العلوم شبقدر

کمپوزنګ: دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر عبدالغنی پلازه محله جنګی پشاور

ضخامت: ۲۱۲ صفحات

رومبی چهاپ: اکتوبر ۲۰۱۱ء .... شوال ۱۴۳۲ھ

زیر سرپرستی: مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر: مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره
رابطه نمبر: ۰۳۴۴-۹۰۸۴۶۹۳

فهرست مضامین

مضمون	صفحه

الباب الثامن فی الاستنجاء

کتاب الصلوٰة

باب المواقیت وما یتصل بها

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب الاذان والاقامة

مضمون	صفحه

فصل فی من تصح امامته ومن لا تصح

باب القراءة فی الصلوة

باب ما يفسد الصلوة

باب احکام المساجد

مضمون	صفحه

باب الاستسقاء

مضمون	صفحه

باب سجود السهو

مضمون	صفحه

باب صلوة المريض

باب سجود التلاوة

مسائل شتى

مضمون	صفحه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (دویم جلد)

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد!

د الله تعالی لاکهـ لاکهـ شکر دې چه په خپل بې انتهار رحمت او کرم سره ئې د دویم جلد د تکمیل توفیق راکړو، په دسمبر ۲۰۰۳ء کښې مکمل شو او د کتاب مراحل شروع شو. د دې جلد په ترتیب او تبویب او تخریج کښې هم د هغې ټولو امورو خصوصیت سره خیال ساتلې شوې دې، د کوم تفصیل چه په ړومبی جلد کښې راغلې دې. په بعضې مسئلو کښې د عنوان په لحاظ سره په ظاهره تکرار ښکاری، لیکن په معنو کښې بین فرق، د بعضې مسئلو اهمیت، د سوالاتو مختلف نوعیت او د حضرت سیدی وسندی و مولائی حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم د بعضې علمی تدقیقاتو د اضافو په وجه حذف نه کړې شو. اول اراده وه چه ټول ,,کتاب الصلوة،، یو جلد کښې راشی خو زیات ضخامت په وجه د کتاب الصلوة باقی ابواب به په دریم جلد کښې ان شاء الله شاملیږی.

د الله تعالی د ټولو نه لوئې نعمت دا دې چه حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم هرباب او فصل لفظ به لفظ مطالعه کولو سره تصحیح کړې دې. او یو لفظ هم د حضرت صاحب د مسلک او مزاج خلاف په دې کښې شامل نه دې. او بنده د خپلې رائې په ټوله فتاوی کښې چرته هم زره برابر اضافه نه ده کړې. په بنده باندې د الله تعالی دا مهربانی ده. چه د حضرت شیخی وسندی و مولائی حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم سرپرستی. د حضرت سیدی واستاذی مولانا مفتی سیف الله حقانی مدظله العالی نګرانی او د مولانا حافظ حسین احمد صدیقی مدظله سعی او اهتمام راته حاصل دې.

په آخر کښې عرض دې چه د بشری غلطئ نه هیڅوک هم محفوظ نه دې چرته کښې خو غلطی او کوتاهی یقینی ده. اګرچه د بنده نه څومره محنت او کوشش کیدې شو په هغې کښې ئې هیڅ کوتاهی نه ده کړې. په تخریجی امورو کښې د مولانا عصمت الله حقانی معاونت. د اردو ګرائمر او محاورې تصحیح او پروف کښې د جناب سلطان فریدی صاحب کوشش. او په کمپوزنګ کښې د حافظ ولی الرحمن صدیقی د ډیر زیات محنت او کوشش ډیر زیات مشکوریم. الله تعالی دې د دوی محنت او کوشش قبول کړی. او د حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم سورې دې په مونږ قائم اوساتی. او د دوی علم دې د سلف نه خلف ته منتقل کړی. او د فقیر دا خدمت دې د علماؤ په نظر کښې ډیر خوښ او د عوامو د پاره زیات نه زیات د استفادې لائق جوړ کړی. او زمونږ استاذانو او مشائخو او د مور پلار د پاره دې په دنیا او آخرت کښې د فلاح او نجات ذریعه ثابته کړی. **ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم**

طالب دعا:..... محمد وهاب منګلوری عفی عنه

دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ
فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ
وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى
الْكَعْبَيْنِ ط وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ط
وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ
مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ
تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا
بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ط

(سورة المائدة)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دویم جلد

کتاب الطهارة



بسم الله الرحمٰن الرحیم

کتاب الطهارة

الباب الاول فی الوضوء

د ریل گاړی په بیت الخلاء کښې اودس کول صحیح دی

سوال: علمائي دین په دې مسئله کښې څه فرمائی چه د سفرپه دوران کښې د ریل گاړی په بیت الخلاء کښې اودس کول صحیح دی یا نه؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید مډل سکول درازنده ډی آئی خان... ۱۹۷۲ء۲۱/۵

الجواب: صحیح دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د غټ اودس ماتی په ځائې باندې چینجی وتلوسره اودس ماتیږی

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د قضائې حاجت نه فارغ شی او د غټ اودس ماتی ځائې سخت خارخت شروع کړی او کله کله ترینه یو چینجې وغیره سر بهرته راوباسی او کله ئې واپس دننه کړی نو آیا ددې چینجی سر راویستل او دننه کول اودس ماتونکې دې؟او دداسې سړی پسې امامت صحیح دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نعمت الله صاحب دارالعلوم اسلامیه لکی مروت

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: ومن آداب الوضوء الجلوس فی مکان مرتفع تحرزا عن الماء المستعمل وعبارة الکمال وحفظ ثیابه من التقاطر وهی اشمل. الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۹۴ جلد ۱ کتاب الطهارة)

الجواب: که دا حقیقت وی او مشاهده وی چه د دغه ځائې نه چینجې سر رابهر کوی او واپس ئې دننه کوی نو دې سره اودس ماتیږی او ددې سړی امامت صحیح نه دې. فی الدرالمختار وخروج غیر نجس مثل ریح او دودة او حصاة من دبر. ﴿۱﴾ وهو الموفق

بغیر آواز نه هوا وتلوسره هم اودس ماتیږی

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بغیر د آوازنه د هوا وتلو څه حکم دې؟ اودس ورسره ماتیږی که نه؟ بینوا توجروا

الجواب: اودس ماتیږی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

په جمات کښې د اودس کولوحکم

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جمات کښې اودس کول جائزدی که نه؟ که نه وی جائز نو همیشه په جمات کښې اودس کولو والا به فاسق وی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ثناء الله...... ۷۶/۶/۷

الجواب: که د اول نه د اودس دپاره ځائې نه وی جوړ کړې نو اودس کول به جائز نه وی. لما فی الهندیه ص۱۱۶ جلد ۱ وتکره المضمضة والوضوء فی المسجد الا ان یکون ثمه موضع اعد لذلک. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾(الدر المختارعلی هامش ردالمحتار ص ۱۰۰ جلد ۱ مطلب نواقض الوضوء کتاب الطهارة)

﴿۲﴾ قال العلامة الشامی: (قوله مثل ریح) فانها تنقض لانها منبعثة عن محل النجاسة لا لان عینها نجسة لان الصحیح ان عینها طاهرة حتی لو لبس سراویل مبتلة او ابتل من الیتیة الموضع الذی تمربه الریح فخرج الریح لا ینجس وهو قول العامة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۰۰ جلد ۱ مطلب نواقض الوضوء کتاب الطهارة)

﴿۳﴾(فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۱۰ جلد ۱ فصل کره غلق باب المسجد)

که په مونځ کښې اودس مات شو نو بیا به اودس کوی او مونځ به پوره کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې مونځ کوی او د مونځ په دوران کښې ئې اودس مات شی نو ده لره مونځ ختمول پکاردی یا ئې دا مونځ اوشو؟

المستفتی: معتبرشاه آف کوټکی..... ۱۹۷۳ء/۱۲/۱۴

الجواب: ده دپاره ضروری دی چه دغه وخت اودس ته روان شی او باقاعده مونځ پوره کړی.《۱》 وهوالموفق

په ولاړه باندې اودس کول جائز او د ادب نه خلاف دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دې زمانه کښې په بعضې ځایونو مثلاً هوټلونو وغیره کښې "بیسن" وغیره جوړ کړې شوې وی چه په هغې کښې په ولاړې باندې مخ لاس وینځلې کیږی نو آیا په هغې کښې اودس (چاراندام) کول جائزدی یا نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: نامعلوم.......

الجواب: اودس کول جائزدی خو خلاف الادب دی:

وفی الکبیری ومن الاداب ان یجلس المتوضی مستقبل القبلة عند غسل سائر الاعضاء ومن الاداب ان یکون جلوسه علی مکان مرتفع《۲》. وهوالموفق

مسواک د سړو او ښځو دپاره یوشان سنت دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مسواک استعمال

《۱》قال العلامه ابن نجیم: قوله من سبقه الحدث توضأ وبنیٰ واستخلف لو اماما الخ. (البحر الرائق ص ۳۸۹ جلد۱ باب الحدث فی الصلاة)

《۲》(غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۳۰ باب اداب الوضوء)

صرف د سړو دپاره سنت دې یا د ښځو دپاره هم. د مسئلې وضاحت په دلیل سره اوکړئ او اجرحاصل کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی محمدعمر امام مسجد معیارمردان..... ۱۴ رمضان ۱۴۰۹ھ

الجواب: د ښځو دپاره هم سنت دې د عائشه صدیقه رضی الله عنها نه د مسواک استعمال کول روایت شوی دی.《۱》

د اوښ غوښې خوړلو سره اودس نه ماتیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اوښ غوښې خوړلو سره اودس ماتیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حضرت شیرمحطة الملاح خمیس مشط سعودی عرب...۱۹۸۲ء/۷/۲۱

الجواب: په دې اودس نه ماتیږی مګر اودس کول بهتردی چه بالکل د اختلاف نه سړې بچ شی.《۲》 وهوالموفق

《۱》عن عائشة رضی الله عنها قالت کان النبی ﷺ یستاک فیعطینی السواک لا غسله فابدأبه فاستاک ثم اغسله وادفعه الیه رواه ابو داؤد. (مشکواة المصابیح ص ۴۵ جلد ۱ باب السواک)

ویدل علیه مافی الدرالمختار تقوم الخرقه الخشنه او الاصبع مقامه کما یقوم العلک مقامه للمرأة مع القدرة علیه قال ابن عابدین کما یقوم العلک مقامه ای فی الثواب اذا وجدت النیه وذلک ان المواظبة علیه تضعف اسنانها فیستحب لها فعله بحر. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۸۵ جلد ۱ مطلب فی منافع السواک)

《۲》قال العلامه محمد فرید: ذهب احمد بن حنبل الی وجوب الوضوء من لحم الابل مطبوخا کان او نیاوله فیما سوی اللحم من الکبد والطحال والکرش وغیره قولان وقال ای احمد فی الوضوء من لحوم الابل حدیثان صحیحان عن النبی ﷺ حدیث البراء وحدیث جابر بن سمرة کذا فی المغنی. وقال الشاه ولی الله السرفی ایجاب الوضوء منها انها کانت محرمة فی التوراة فلما اباحها الله لنا شرع......باقی حاشیه په راروانه صفحه باندے

د فالج والا د اودس حکم چه په اودس او تیمم باندې قادر نه وی

سوال: یو سړي مفلوج دي بالکل معذوردي نه پخپله خوراک کولي شی نه ځان صفاکولي شی آیا هغه بغیر د اودس نه مونځ کولي شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: غیاث بیگ میرپورخاص.... ۱۲۳ رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دا سړي پخپله هم اودس یا تیمم نه شی کولي او بل څوک هم اودس یا تیمم کولو والا نه وی نوبغیر د طهارت (پاکئ، اودس) نه مونځ کولي شی او نورو عباداتونوکښې هم مشغول کیدي شی. (ماخوذ از ردالمحتار وکبیری) وهوالموفق

(بقیه حاشیه) الوضوء لنا شکراً لما انعم علینا وعلاجا لما عسى ان یختلج فی بعض الصدور من اباحتها بعدما حرمها الانبیاء وذهب الجمهور الیٰ عدم وجوب الوضوء من لحم الابل لحدیث الوضوء مما خرج ولیس مما دخل رواه الطبرانی فی الکبیر ولان لحم الابل من الطیبات فلا یتوضأ منه الا ترىٰ ان ابیا وابا طلحة انکرا علی انس بن مالک رضی الله عنهم حین اراد الوضوء من الخبز واللحم وقالا اتتوضأ من الطیبات لم یتوضأ منه من هو خیر منک رواه احمد والجواب عن حدیث توضؤوا منها ان جمهور الصحابة والتابعین اعرضوا عن الاخذ بظاهره فهی قرینة قویة علیٰ ان المراد منه الوضوء اللغوی ای غسل الید والفم، وثبت الوضوء اللغوی فی عرف الشرع ولسان الحدیث کما فی حدیث عکراش رواه الترمذی بسند ضعیف وکما فی حدیث ابی امامة اذا کان احدکم علی وضوء فاکل طعاما فلا یتوضأ الا ان یکون لبن الابل اذا شربتموه فتمضمضوا بالماء رواه فی کنز العمال وکما فی حدیث معاذبن جبل قال نسمی غسل الفم والید وضوء ولیس بواجب وکما فی حدیث عبد الله بن مسعود انه غسل یدیه من طعام ثم مسح وجهه وقال هذا وضوء من لم یحدث اخرجها الزیلعی فی نصب الرایة والحکمة فیه ان له دسما وزهومة ولو سلم ان المراد منه المعنی الشرعی فیکون منسوخا لعموم قوله علیه الصلاة والسلام کان اخر الامرین ترک الوضوء مما غیرت النار ایاها وکذا لشمول الطیبات ایاها.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۱۹۸، ۱۹۹ جلد ۱ باب الوضوء من لحوم الابل)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والمحصور فاقد...... (باقی حاشیه په راروانه صفحه باندې)

په تماکو او شراب څکلو سره اودس ماتیږی یا نه؟

سوال: په سګریټ، چلم اونسوار او شراب څکلو سره اودس ماتیږی یا نه؟ دغه رنګې که په سګریټ، چلم، نسوار او شرابو کښې څه فرق وی نوهغه واضح کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: حنیف الله ګرین مارکیټ مردان......... ۱۱۰ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: (۱) تماکو نه د نشې څیزدې اونه مفتر اومحذردې لهذا ددې په استعمال سره به اودس نه ماتیږی.

(یدل علیه مافی ردالمحتار ص ۲۰۶ جلد۵) فانه لم یثبت اسکاره ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت الاصل فی الاشیاء الاباحة ﴿۱﴾.

(۲) که په شرابو څکلو سره لړه شان نشه پیدا شوې وه نود اودس د ماتیدلو حکم به کیږی ګنی نود نشې نه پیدا کیدلو په وخت کښې اودس کول ضروری نه دی. (ماخوذ از شامی وغیره) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د غټ اودس ماتی په ځائې باندې لوندوالې موجودیدلو سره اودس ماتیږی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو کس ته د دوه کالو

(بقیه حاشیه) ای الماء والتراب...... وکذا العاجز عنهما لمرض یؤخرها عنده وقالا یتشبه بالمصلین وجوباً...... وبه یفتیٰ والیه صح رجوعه ای الامام کما فی الفیض وفیه ایضاً مقطوع الیدین والرجلین اذا کان بوجهه جراحة یصلی بغیر طهارة ولا تیمم ولا یعید علی الاصح.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۸۵ جلد ۱ باب التیمم)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار کتاب الاشربة ص ۴۵۹ جلد۵)

﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی وینقضه اغماء ومنه الغشی وجنون وسکر بان یدخل فی مشیه تمایل ولو باکل الحشیشة، قال ابن عابدین قوله وسکر وهو حالة تعرض للانسان من امتلاء دماغه من الابخرة المتصاعدة من الخمر ونحوه فیتعطل معه العقل الممیز بین الامور الحسنة والقبیحة اسمعیل عن البرجندی.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۰۱ جلد ۱ بعد مطلب نوم الانبیاء غیر ناقض)

نه یو تکلیف دې چه مخکښې ورته نه وو ،هغه داچه دغټ اودس ماتی په ځائې باندې ,,لوندوالې،، محسوس کوی او دا لوندوالې بهیږی نه، لیکن په ګوتې سره محسوسیږی او کله کله د ناستې په حالت کښې په جامو باندې هم ښکاری نو آیا دې سره اودس ماتیږی؟

نوټ: دا لوندوالې د ,,لاړو،، په شان وی د وینې او پیپ پشان نه وی او پکښې څه قسم درد او زخم نشته،خو زیات تکلیف د مونځ د وجې نه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد زمان کوټ...... ١٢٥ فروری ١٩٧٥ء

الجواب: دغټ اودس ماتی دځائې نه چه کومې اوبه راوځی هغه اګرکه اونه بهیږی خو اودس پرې ماتیږی.(کمافی الدرالمختار) او دغه خیزپاک هم وی نو اودس ماتیږی لکه هوا، چینجې او کانړې وغیره.

والمراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور وفی غیرهما عین السیلان فلیراجع ﴿١﴾ هذا جواب علی زعم المستفتی والا فهو نجس کما لا یخفیٰ. وهوالموفق

نشې والا دوایانې اودس ماتوی که نه؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د نشې والا دوایانو سره اودس ماتیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

﴿١﴾ قال العلامه حصکفی ثم المراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور وفی غیرهما عین السیلان ولو بالقوة لما قالوا لو مسح الدم کلما خرج ولو ترکه لسال نقض والا لا کما لو سال فی باطن عین او جرح او ذکر...... وخروج غیر نجس مثل ریح او دودة او حصاة من دبر لا خروج ذلک من جرح ولا خروج ریح من قبل...... لان خروج الدودة والحصاة منهما ناقض اجماعاً کما فی الجوهرة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص٩٥، ٩٦ جلد ١ مطلب نواقض الوضوء)

الجواب: دوائی پخپله اودس ماتونکې نه ده خو چه دنشې د وجې نه بې هوشی راشی نو اودس باقی نه پاتې کیږی او بغیرنشې نه په اودس باندې څه اثرنه غورزیږی.

وفی الدر المختار وینقضه اغماء ومنه الغشی ص ١٤٤ جلد ١ ﴿١﴾ . وهو الموفق

د ګرمئ په موسم کښې د وړو وړو دانو ماتیدوسره د اودس مسئله

سوال: دګرمئ په موسم کښې چه دانسان په بدن باندې وړې وړې دانې راوځی هغې ته غورمکې یا ګرمکې یا تنکئ وائی نوددې په ماتیدو سره اودس ماتیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبد الرحمن لکی مروت..... ٣٠/١/١٩٧٧ء

الجواب: که ددې دانو نه اوبه نه اوځی نو بیا دهغې ماتیدل اودس نه ماتوی﴿٢﴾ وهو الموفق

د اودس متعلق د دریو مسئلو تطبیق

سوال: علمائې دین لاندینئ دریو مسئلو کښې د تطبیق څه صورت ښائی چه څما په نزد باندې د یو بل متضاد دی؟ بینوا توجروا

﴿١﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ١٠٦ جلد ١ کتاب الطهارة)

﴿٢﴾ قال الطحطاوی وعن الحسن ان ماء النفطة لا ینقض قال الحلوانی وفیه توسعة لمن به جرب او جدری او مجل بالجیم وهو ما یکون بین الجلد واللحم وفی الجوهرة عن الینا بیع الماء الصافی اذا خرج من النفطة لاینقض...... قال العارف بالله سیدی عبدالغنی النابلسی وینبغی ان یحکم بروایة عدم النقض بالصافی الذی یخرج من النفطة فی کی الحمصة وان ما یخرج منها لا ینقض وان تجاوز الیٰ محل یلحقه حکم التطهیر اذا کان ماء صافیاً اما غیر الصافی بان کان مخلوطاً بدم او قیح او صدید فانه ناقض اذا وجد السیلان بان تجاوز العصابة والا لم ینقض مادامت الورقة فی موضع الکی معصبة بالعصابة الخ.
(الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ٤٨ جلد ١ فصل فیما ینقض الوضوء)

مسئله: (الف) که په جامو یابدن باندې نجاست اولږی او یاد نه وی او غالب گمان په یو ځائې باندې هم نه وی نوچه دجامو یا بدن کوم ځائې هم اووینځې ټول به پاک گڼړلې کیږی.

مسئله: (ب) د اودس په مینځ کښې یا د اودس نه پس دیو ځائې باره کښې د نه وینځلو شک پیداشی اوهغه اندام معلوم نه وی نوپه غالب گمان سره چه کوم یواندام رایاد شو هغه اووینځه گنی نوبیا اودس اوکړه.

مسئله: (ج) که داودس په دوران کښې د یواندام په وینځلو اونه وینځلو کښې شک پیداشی نوکه داشک ئې په اول ځل وی اوعادت ئې نه وی نوهغه اندام دې اووینځی دکوم باره کښې چه شک شوې دې اوکه داسې ئې عادت وی نو دهغې پرواه مه کوئ ترڅو چه غالب گمان نه وی. (ردالمحتار)

الجواب: اولنئ مسئله په درمختار ص ۳۰۱ جلد اول کښې مذکورده ﴿۱﴾ او ددې حکم محمل دادې چه یقین یا غالب گمان وی چه دلته نجاست دې لیکن معین ځائې معلوم نه وی او دویمه او دریمه مسئله په درمختار ص ۱۱۱ جلد اول کښې لیکلې شوې ده. ﴿۲﴾ چه د فتاوی تاتارخانیه نه منقول ده او ددې محمل شک او تردد دې، یقین او غالب گمان نه دې. والفرق بین الشک والظن واضح ﴿۳﴾. فقط

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفى رحمه الله:(وغسل طرف ثوب) او بدن (اصابت نجاسة محلامنه ونسى) المحل (مطهر له وان) وقع الغسل (بغير تحر) وهو المختار.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۲۴۰ جلد ۱ باب الانجاس)

﴿۲﴾قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله شک فی بعض وضوئه) ای شک فی ترک عضو من اعضائه (قوله والا لا) ای وان لم یکن فی خلاله بل کان بعد الفراغ منه وان کان اول ماعرض له الشک او کان الشک عادة له وان کان فی خلاله فلا یعید شیأ قطعا للوسوسة عنه کمافی التاترخانية وغيرها. (ردالمحتار ص ۱۱۱ جلد ۱ مطلب فی ابحاث الغسل)

﴿۳﴾قال ابن عابدين: (قوله ظنا قويا) ای غالبا قال فی البحر عن اصول اللامشى ان احد الطرفين اذا قوى وترجح على الآخر ولم يأخذ القلب ما ترجح به ولم يطرح الآخر فهو الظن واذا عقد القلب على احدهما وترک الآخر فهو اكبر الظن وغالب الرأى.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۸۱ جلد ۱ مطلب فی الفرق بين الظن وغلب الظن)

ماشوم ته پئ ورکولوسره اودس نه ماتیږی

سوال: ایا د موربچی ته پئ ورکول اودس ماتونکی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم....۱۸ رمضان المبارک ۱۳۸۸ھ

الجواب: بچی ته پئ ورکول اودس ماتونکې نه دی. ﴿ ۱ ﴾ وهوالموفق

مسواک چوپل

سوال: د مسواک چوپلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فدا محمد اچهریان مانسهره..۱۹۷۵ء۱۰ ۲۸۱۸

الجواب: د مسواک چوپل منع دی. ﴿ ۲ ﴾ کما فی الدرالمختار ولا یمصفه فانه یورث العمی ﴿ ۳ ﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾قال الحصكفى وينقضه خروج كل خارج نجس منه...... لا ينقض لو خرج من اذنه ونحوها كعينه وثديه قيح ونحوه كصديد وماء سرة وعين. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۹۴،۱۰۴ جلد ۱ ملطب نواقض الوضوء)

قال العلامه ابن عابدين وفى المحيط ان خرج اللبن فسدت(اى صلاة) لانه يكون ارضاعاً والا فلا ولم يقيده بعد دوصححه فى المعراج حليه وبحر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۶۴ جلد ۱ باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها)

(وهكذا فى امداد الفتاوىٰ ص ۱۴ جلد ۱)

﴿۲﴾ پس معلومه شوه چه مسواک چوپل دنظرقوت کموی په دې وجه فقهاؤ منع فرمائیلې ده البته دمسواک نرمولو اونری کولودپاره په غاښونو کښې جوئیل جائزدی. کمافى البخارى عن عائشة رضى الله عنها...... فاخذت السواک فقضمته ونفضته وطيبته ثم دفعته النبى ﷺ.

(صحيح البخارى ص ۶۳۸ جلد ۲ باب وفات النبى ﷺ) (ازمرتب)

﴿۳﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۷۸ جلد ۱)

د شونډو نه په صفا اوبو وتلو سره اودس نه ماتیږی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که چرته د شونډو نه صفا اوبه اوځی چه وینه یا پیپ وغیره پکښې نه وی نو آیا دا اوبه اودس ماتونکې دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: پیرمحمد جندری کرک......یکم شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: که بالکل صفا اوبه وتل یقینی وی نو دې سره اودس نه ماتیږی. کمافی المراقی الفلاح﴿۱﴾. والله اعلم

د معذور د اودس حکم اوطریقه

سوال: مفتیان دشرع متین په دې مسئلې کښې څه فرمائی چه بنده دګیس په بیماریٔ کښې اخته دې چه دهغې په وجې سره په خیټه کښې ګیس پیدا کیږی.

(۱) کله کله دغې اودس ماتی نه فارغ شم اودس کوم خو دغه وخت کښې هم په خیټه کښې د ګیس د وجې نه دهوا د وتلو خطره پیداشی ډیرپه مشکل سره هغه راتینګه کړم نو آیا په دویم ځل هوا وتلو سره اودس کول پکاردی؟ یا هم دغه اودس سره مونځ کول پکاردی؟ او آیا دا د معذورپه حکم کښې راځی که نه؟

(۲) څه د هر مونځ په وخت کښې خپل کوشش کوم، هوا اوباسم بیا اودس اوکړم او مونځ کووم. لیکن دهوا زور بیاهم نه کمیږی او په مونځ کښې شک راځی چه اودس مې مات شو. نو دې حالاتو کښې زه د معذور په حکم کښې راځم؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اقبال صرافه بازار ایبټ آباد

﴿۱﴾قال العلامة الطحطاوی ان ماء النفطة لا ینقض...... وفی الجوهره عن الینا بیع الماء الصافی اذا خرج من النفطة لا ینقض.
(الطحطاوی علی المراقی الفلاح ص۴۸ فصل فی ماینقض الوضوء)

الجواب: (۱) ته د بیماریٔ د زورپه وخت کښې اودس پسې سمدستی بیواځې مونځ کوه او که ته شرعی معذور ئې نو د وخت داخلیدلو نه پس اودس کوه او د وخت وتلو پورې په دې اودس باندې مونځونه کوه په دې بیماریٔ سره اودس نه ماتیږی.

(۲) شرعی معذورهغه دې چه د فرض مونځ وخت تیرشی او دا سړې دومره وخت هم اونه مومی چه دې کښې مختصر اودس او مونځ اوکړی، دې ته د عذر ابتداء او شروع وئیلې شی.﴿۱﴾ وهوالموفق

په خُله کښې د نسوارو سره سره د اودس او ذکر لسانی مسئله

سوال: آیا په نسوارو سره اودس ماتیږی؟ که اودس نه ماتیږی نو آیا د مونځ دپاره په اوبو باندې خُله صفاکول پکاردی؟ دغه شان که په خُله کښې نسوار وی نو ذکرکول جائزدی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدحسین نیوسوات قاری ایجنسی....۱۹۸۸ء۱۵۱۹

الجواب: تماکونه مُسکردې اونه مُفتردې نو ددې استعمال د اودس ماتونکې نه دې.﴿۲﴾ او په دې کښې چونکه بدبوئی شته نو ددې د استعمال په وخت کښې په ژبې سره د ذکرکولو نه پرهیزکول پکاردی.﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: وصاحب عذر من به سلس بول لا یمکنه امساکه او استطلاق بطن او انفلات ریح او استحاضة او بعینه رمد...... ان استوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بان لا یجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلی فیه خالیا عن الحدث ولو حکماً......ثم یصلی به فیه فرضاً ونفلاً فدخل الواجب بالاولیٰ فاذا خرج الوقت بطل ای ظهر حدثه السابق.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۱۲، ۲۱۳ جلد۱ مطلب فی احکام المعذور)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدین: فانه لم یثبت اسکاره ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع الخ (ردالمحتار علی الدرالمختار کتاب الاشربة ص ۴۵۹ جلد۵)

﴿۳﴾قال الشیخ محمد بن عبد الله النقشبندی: وآداب الذکر...... الثانی الغسل للذکر او الوضوء وکان ابویزید قدس سره یتوضأ ویغسل فمه بماء ورد کلما اراد الذکر.
(البهجة السنیة فی اداب النقشبندیه ص ۵۰ آداب الذکر)

د ناخن پالش سره د اودس حکم

سوال: زنانه د نوکونو رنګ (ناخن پالش) استعمالوی نو دهغوی دپاره د اودس اوغُسل څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن تربیله ډیم......۱۵جمادی الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: که د نوکونو رنګ د چاقو وغیره نه بغیر نه لرې کیدلو نو بیا به د حرج د وجې نه د اودس او غُسل نه مانع نه وی.

ونظیره مافی شرح التنویر ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ﴿۱﴾. وهو الموفق

د اودس ماتی نه پس سمدستی اودس کول ضروری نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله اودس ماتی ته لاړلو نو ما به ورته اوبه کینبودې په هغې سره به ئې طهارت حاصل کړو اوبیا به ئې لاس په خاوره باندې راښکلو، بیابه مې دویم لوښې راوړو په هغې باندې به ئې اودس اوکړو (سنن ابی داؤد) ددې مطلب دادې چه پیغمبر علیه السلام به په لوټې سره د استنجاء کولو نه پس په اوبو سره طهارت حاصلولو، په سنن ابی داؤد کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها په روایت کښې داهم دی چه یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس ماتی نه فارغ شو نو حضرت عمر رضی الله عنه اوبه راخستلې وې او ولاړ وو نو پیغمبر علیه السلام اووئیل، عمره! دا څه دی؟ اوبه دې ولې راخستې دی او ولاړئې؟ حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل د اودس دپاره مې اوبه راخستې دی. نو پیغمبر علیه السلام اوفرمائیل چه ماته ددې حکم نه دې شوې چه کله هم متیازې اوکړم نو خامخا به اودس کووم، او که څه په داسې پابندئ باندې همیشوالې اوکړم نود امت دپاره به یو دستور جوړشی. (معارف الحدیث)

﴿۱﴾ قال العلامة حصکفی: ویجب ای یفرض غسل کل ما یمکن من البدن بلاحرج مرة...... ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتیٰ وقیل ان صلبا منع وهو الاصح. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۵۲، ۱۵۳ جلد ۱ مطلب ابحاث الغسل)

نودا عبارت چه ,,ماته ددې حکم نه دې شوې.. نوآیا پیغمبر علیه السلام ته د متیازو نه پس د اودس کولو حکم نه وو شوې؟ بینوا توجروا

المستفتی: تاج محمد، عابد محمد راولپنډی کینټ...۱۱ربیع الثانی ۱۴۰۴ھ

الجواب: پیغمبر علیه السلام او ټول امت ته دوجوب په طریقې سره ددې حکم نه دې شوې چه د متیازو او نورو بې اودسونه پس سمدستی چاراندام اوکړی ﴿۱﴾ وهو الموفق

د اودس د نیت نه بغیرپه اوبوکښې لاس وهلو سره اوبه مستعمل نه ګرځی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو سړې بغیر د اودس د نیت نه چرته د اوبو په تیم کښې لاس ورددنه کړی نو آیا دا اوبه به مستعمل شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اصلاح الدین بنوں...... یکم ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا اوبه مستعمل نه دی.

لعدم ازالة الحدث به ولعدم التقرب عنده (شامی) ﴿۲﴾. وهو الموفق

د ناخن پالش په لرې کولوکښې احتیاط دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله دنوکونو رنګ لرې کیږی نه، نوپه دې سره د اودس اوغسل جنابت د فریضې نه د انسان ذمه فارغه کیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: وزیرمحمد چارباغ جنګل خیل کوهاټ

﴿۱﴾ وفی الهندیه: الاجماع علی انه لا یجب الوضوء علی المحدث والغسل علی الجنب والحائض والنفساء قبل وجوب الصلوٰة او ارادة ما لا یحل الا به کذا فی البحر الرائق. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۶ جلد ۱ قبیل الباب الثالث فی المیاه)

﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی: او بماء استعمل لاجل قربة ای ثواب و لو مع رفع حدث او من ممیز او حائض لعادة عبادة او غسل میت او ید لاکل او منه بنیة السنة او لاجل رفع حدث ولو مع قربة کوضوء محدث ولو للتبرد فلو توضأ متوضئ لتبرد او تعلیم او لطین بیده لم یصر مستعملا اتفاقاً الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۳۸، ۱۳۹ جلد ۱ مبحث الماء المستعمل)

الجواب: په لړي کولو کښې احتیاط دې البته دباقی پاتې کیدلو په صورت کښې هم څه ناڅه ګنجائش شته.

یدل علیه مافی شرح التنویر ولا یمنع علی ظفر صباغ هامش ردالمحتار ص ۱۴۳ جلد ۱ ﴿۱﴾ قلت وجه الدلالة واضح لانه لا یمکن ازالته الا بکلفة فیلراجع الی امداد الفتاویٰ ص ۱۹ جلد ۱ ﴿۲﴾. وهوالموفق

د اودس په وخت کښې د ږیرې وینځلو مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اودس په وخت کښې پوره ږیره وینځل ضروری دی که بعضې ږیره؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: ږیره په دوه قسمه ده. ګنړه او رنګئ... که د ویښتونه دننه د مخ پوستکې ښکاریدلو نو دا رنګئ ږیره ده. او په کومه ږیره کښې چه د مخ پوستکې بالکل پټ وی نو هغې ته ګنړ ږیره وائی. د رنګئ ږیرې په صورت کښې ږیره او په نظر راتلونکې دمخ پوستکې د دواړو وینځل فرض دی. او په ګنړه ګیره کښې دمخ په حدودو کښې چه کومه ږیره وی د هغې وینځل فرض دی په مسترسل (رازورنده) ږیره کښې صرف مسح کافی ده.

وفی الدر المختار ثم لا خلاف ان المسترسل لا یجب غسله ولا مسحه بل یسن و ان

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی ویجب ای یفرض غسل کل مایمکن من البدن بلا حرج مرة...... ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتیٰ وقیل ان صلبا منع وهو الاصح. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۵۲، ۱۵۳ جلد ۱ مطلب ابحاث الغسل)

قال الشیخ اشرف علی التهانوی رحمة الله علیه په دې مسئله کښې یوقید دې هغه دا چه که په آسانئ سره لرې کول ممکن وی نو هله او که په لرې کولو کښې تکلیف وی نو بغیر د لرې کولونه هم صحیح دی. فی الدرالمختار ولا یمنع الطهارة ونیم. په چونه کښې هم دغه تفصیل دې که په آسانئ سره چونه راویستلې کیږی نو راویستل ئې واجب دی ګنی معاف دی. (امداد الفتاوی ص ۲۰ جلد ۱ کتاب الطهارت)

الخفیفة التی تریٰ بشرتها یجب غسل ما تحتها (ص ۱۰۰ جلد ۱) ﴿۱﴾. وهوالموفق

که تول وخت په مرض ریح کښې تیریږی نو د هروخت د پاره به اودس کوی

سوال: څه معذوریم هروخت مې هوا اوځی نو آیا یو اودس دټولو عبادتونو دپاره کافی دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ایم اے بیګ پاک پی ډبلیو ډی بنوں چهاؤنی ۱۲۸ربیع الاول ۱۳۹۷ھ

الجواب: که واقعی ستا ټول وخت په دې مرض ریح کښې اوځی نو ته دهر وخت دپاره اودس کوه او په هغې سره مونځ او تلاوت کوه. ﴿۲﴾ وهوالموفق

په ګرمو اوبوسره اودس جائزدې خو بهتر نه دې

سوال: په ګرمو اوبوسره اودس کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید ایس وی جنوبی وزیرستان ډی آئی خان

الجواب: په ګرمواوبوسره اودس کول جائزدی خوبهتر نه دی. ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۷۴ جلد ۱ کتاب الطهارة)

﴿۲﴾ وفی الهندیه: المستحاضة ومن به سلس البول او استطلاق البطن او انفلات الریح او رعاف دائم او جرح لا یرقا یتوضؤن لوقت کل صلاة ویصلون بذلک الوضوء فی الوقت ما شاؤا من الفرائض والنوافل هکذا فی البحر الرائق. ۱۲

(فتاویٰ هندیه ص ۴۱ جلد ۱ الفصل الرابع فی احکام الحیض والنفاس والاستحاضة)

﴿۳﴾ قال العلامه طحطاوی: ومن الادب انه لا یتوضأ بماء مشمس لانه یورث البرص لقوله علیه السلام لعائشة حین سخنت الماء: لا تفعلی یا حمیراء فانه یورث البرص. (حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۷۸ فصل فی اداب الوضوء)

اخرجه البیهقی فی السنن الکبریٰ کتاب الطهارة باب کراهة التطهیر بالماء المشمس (ص ۶ جلد ۱) والدار قطنی باب الماء المسخن (ص ۳۸ جلد ۱) والزیلعی فی نصب الرایة کتاب الطهارة باب ما ورد فی الماء المشمس (ص ۱۰۲ جلد ۱).

په سربانډې د مسح کولو سنت طریقه

سوال: سنت طریقې سره دمسح کولو څه طریقه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدصادق مهاجرکیمپ هزاره....١٢٤جمادی الاول ٢ ١٤٠ھ

الجواب: دواړه ورغوی اوګوتې به په سرکیږدي اوشا طرفته به ئې بوځي.﴿١﴾ وانكر ابن الهمام والزيلعی علی التجافی، وفی الشامیه ص١٤ اجلد ا والاظهر ان یضع كفيه واصابعه على مقدم رأسه ويمدهما الى القفا على وجه يستوعب جميع الرأس ثم يمسح اذنيه باصبعيه﴿٢﴾. وهوالموفق

د سټ مسح د حدیث نه ثابت ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په اودس کښې دسټ مسح چرته حدیث نه ثابت ده که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الحق حضرو اټک....١٩٨٦ء

﴿١﴾ دسره په مسح کولو کښې فقهائې کرامو دمختلفو طریقو تصحیح کړې چه په عینی کښې ذکردی اوعلامه سدیدالدین کاشغری رحمة الله عليه چه دمحیط په حوالې سره کومه طریقه ذکر کړې چه دمسح په وخت کښې به مسواکه او غټه ګوته جدا اوساتی چه په دې سره به دغوړونو مسح کیږی اوشاته بوتلو وخت کښې به تلی (ورغوی) جدا ساتې چه واپسئ کښې پرې د سر دواړه طرفونه مسح شی. نوپه دې طریقه باندې ابن الهمام په فتح القدیر کښې اعتراض کړې دې چه په سنت کښې ددې هیڅ اصل نشته.

لان الاستعمال لا يثبت قبل الانفصال والاذنان من الرأس حتى جاز اتحاد بلتهما ولان احدا ممن حكى وضوء رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يوثر عنه ذاك فلو كان من الكيفيات المسنونة وهم شارعون فی حكايتها لترتكب وهی غير متبادرة لنصوا عليها وكذا رد عليها الزيلعی. والتفصيل فی منهاج السنن شرح جامع السنن فليراجع. (وهاب)

﴿٢﴾ قال العلامه ابن عابدين: (قوله مستوعبة)...... وما قيل من انه يجافی المسبحتين والابهامين ليمسح بهما الاذنين والكفين ليمسح بهما جانبی الرأس خشية الاستعمال فقال فی الفتح لا اصل له فی السنة لان الاستعمال لا يثبت قبل الانفصال والاذنان معزيا)

الجواب: روى ابو عبيد والديلمی وتاريخ اصفهان عن ابن عمر مرفوعاً وموقوفاً انه امان من الغل يوم القيامة وتمام الكلام فی منهاج السنن ص١٢٨ جلد ا ﴿١﴾. وهو الموفق

د متیازو په ښکاره کیدلو سره اودس ماتیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مخصوص اندام په سرکښې کوم سورې دې که انسان دا کولاوهی نو کلاویږی نودا سورې داخل دې که خارج دې، دغه شان که دې سُوری ته متیازې راشی او بهرته اونه ځی نوپه دې صورت کښې اودس ماتیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:محمد ابراهیم بلامبټ تیمرګره ضلع دیر....١٢٥شوال ١٣٨٩ھ

الجواب: ترځو پورې چه متیازې ښکاره شوې نه وی اودس نه ماتیږی.اوچه کله په سُوری کښې اوکتلې شی نو اودس ماتیږی اګرکه نه وی بهیدلې (شامی ص١٢٥.١٢٤ جلد ١) ﴿٢﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال المفتی الاعظم محمد فريد: ان مسح العنق مستحب عندنا وعند احمد رحمه الله وقال به الامام الشافعی رحمه الله فی رواية والحجة على مشروعيته ما رواه ابو عبيد والديلمی وتاريخ اصفهان عن ابن عمر مرفوعاً وموقوفاً انه امان من الغل ومن توضأ ومسح عنقه وقی الغل يوم القيمة وكذاما رواه ابو داؤد مرفوعاً يمسح رأسه حتى لمغ القذال وهو اول القفا وجه الدلالة ان بلوغ منتهى اليد الى القذال يستلزم مسح العنق وقال مسدد مسح رأسه من مقدمه الى مؤخره حتى اخرج يديه تحت اذنيه وهو واضح الدلالة.

(ف) واعلم انه لم يرو ان العنق من الرأس وكذالم يثبت اخذالماء الجديد له فالانسب ان يمسح ببلة ظهور الكفين بعد الاذنين.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص١٢٨ جلد ا باب ماجاء ان الاذنين من الرأس)

﴿٢﴾ قال العلامه حصكفی: ثم المراد بالخروج من السبيلين مجردالظهور وفی غيرهما عين السيلان، قال ابن عابدين ای الظهور المجرد عن السيلان فلو نزل البول الى قصبة الذكر لا ينقض لعدم ظهوره بخلاف القلفة فانه نزوله اليها ينقض الوضو.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص٩٩، ١٠٠ جلد ا مطلب فی نواقض الوضوء)

د اودس دعاګانې مروى دى وئيل ئې مستحب دى

سوال: د اودس دعاګانې وئيل واجب دى که سنت؟ دا رنګې داچرته په حديث کښې راغلې دى او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: اکرام الحق راوالپنډى...... ۲۴/۳/۱۹۷۲ء

الجواب: د اودس ددعاګانو لوستل مستحب دى ځکه چه ددې متعلق روايات راغلې دى «رواه ابن حبان وغيره» (۱) او که بالفرض ثابت هم نه وى نو دا اذکار فقهائې کرامو خوښ کړى دى.

وما رأه المؤمنون حسناً فهو عند الله حسن، رفعه الامام محمد فى موطاه (۲). وهو الموفق

(۱) قال العلامه حصكفى: والتسمية كما مرعند غسل كل عضو وكذالممسوح والدعاء بالوارد عنده اى عند كل عضو وقد رواه ابن حبان وغيره عنه عليه الصلاة والسلام من طرق قال محقق الشافعية الرملى فيعمل به فى فضائل الاعمال وان انكره النووى.

قال العلامه ابن عابدين: قوله (والتسمية كامر) اى من الصيغة الواردة وهى بسم الله العظيم والحمدلله على دين الاسلام وزاد فى المنية التشهد هنا ايضاً تبعا للمحيط، وشرح الجامع لقاضيخان قال فى الحلية ومن البراء بن عازب عن النبى ﷺ قال ما من عبد يقول حين يتوضا بسم الله ثم يقول بكل عضو اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله ثم يقول حين يفرغ اللهم اجعلنى من التوابين واجعلنى من المتطهرين الا فتحت له ثمانية ابواب الجنة يدخل من ايها شآء فان قام الخ، وقال حديث حسن. (قوله والدعا بالوارد) فيقول بعد التسمية عند المضمضة اللهم اعنى على تلاوة القرآن وذكرك وشكرك ...... كما فى الامداد والدرر وغيرهما وثم روايات اخر ذكرها فى الحلية وغيرها...... لكن رأيت فى الحلية عن المختارات ويدعو بالوارد وبا وفى البواقى فليراجع.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۹۴ جلد ۱ مطلب فى بيان ارتقاء الحديث الضعيف الى مرتبة الحسن مندوبات الوضو)

(۲) قال العلامه ناصر الدين البانى: حسن موقوفا اخرجه الطيالسى واحمد وغيرها بسند حسن وصححه الحاكم ووافقه الذهبى (وجعله الامام محمد مرفوعا فى بلاغاته).

(شرح العقيدة الطحاوية ص ۵۳۱ نحب اصحاب رسول الله من غير افراط)

نسوار اودس نه ماتوى

سوال: بعضې خلق داودس نه پس خُله کښې نسوار اچوى اود مونځ په وخت کښې نسوار اوغورځوى اوصرف خُله صفاکړى نوآيا دې سره اودس نه ماتيږى؟ يا صرف خُله وينځل کافى دى؟ بينوا توجروا

المستفتى: فضل ولى ګهړى کپوره...... ۲۷/۸/۱۹۷۸ء

الجواب: چونکه تماکو نه مُسکردې اونه مُفتر، لهذا په دې سره د اودس ماتيدلو حکم کول غلط دى.

قال العلامة الشامى فى ردالمحتار ص ۳۰۵ جلد ۵ فانه لم يثبت اسكاره ولا تفتيره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فى الاشياء الاباحة، البته که دې سره اغماء حاصله شى نو اغما سره اودس ماتيږى (۱) وهوالموفق

په ږيره باندې وسمه لګولوسره اودس جائزدې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه کومې ږيرې ته وسمه ورکړې شى نوهغې سره په اودس باندې اثر غورزيږى يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: نامعلوم......

الجواب: وسمې لګولوسره په ويښتو باندې څۀ پوستکې نه جوړيږى نوددې وجې نه ئې په اودس اوغسل باندې څۀ اثر نه غورځيږى.

وفى الدرالمختار: ولا يمنع ما على ظفر صباغ ولاطعام بين اسنانه او فى

(۱) قال العلامه حصكفى: وينقضه اغماء ومنه الغشى وجنون وسكر بان يدخل فى مشيه تمايل ولو باكل الحشيشة قال ابن عابدين قوله وسكر وهو حالة تعرض للانسان من امتلاء دماغه من الابخرة المتصاعدة من الخمر ونحوه فيتعطل معه العقل المميز بين الأمور الحسنة والقبيحة اسمعيل عن البرجندى.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۰۱ جلد ۱ بعد مطلب نوم الانبياء غير ناقض)

سنه المجوف (ص ١٥٤ جلد١) البته د پوستکي جوړيدلو په صورت کښې چه د اوبو رسيدل ممکن نه وی نو بيا اودس صحيح نه دې.

لمافي الهنديه: والخضاب اذا تجسد ويبس يمنع تمام الوضوء والغسل (ص ۴ جلد ١ ﴿٢﴾. وهوالموفق

په مسواک سره د مونځ ثواب اويا چنده کيږی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مسواک اوکړی او مونځ اوکړی نوثواب کښې څومره زياتوالې کيږی اوبغير مسواک نه څومره نقصان کيږی؟ بينوا توجروا

المستفتی: حاجی قطب الدين منډی بهاؤالدين گجرات

الجواب: اويا (٧٠) چنده ثواب به ورکولې شی.الحديث﴿٣﴾ وهوالموفق

که صرف بوټ اووينځلې شی اوښپې نه، نو آيا اودس کيږی؟

سوال: علمائې دين مسئلې باره کښې څه فرمائی که فوجی يا مجاهد صرف بوټ اووينځی اوښپې اونه وينځی نوآيا په دې سره اودس صحيح کيږی؟ بينوا توجروا...

المستفتی: محمد ازرم تبوک سعودی عرب.....١٧١٧/ ١٤٠١هـ

الجواب: که په موزو باندې دمسح کولوشرائط ﴿ ۴ ﴾ پکښې موجود نه وی نود ښپو وينځل ضروری دی.وهوالموفق

﴿١﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ١١۴ جلد ١ قبيل مطلب سنن الغسل)

﴿٢﴾(فتاویٰ عالمگيريه ص ۴ جلد ١ كتاب الطهارة)

﴿٣﴾وعن عائشة رضى الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ تفضل الصلوٰة التى يستاك لها على الصلوٰة التى لا يستاك لها سبعين ضعفا رواه البيهقى فى شعب الايمان. (مشكواة المصابيح ص ۴۵ جلد ١ باب السواك)

﴿۴﴾قال العلامه حصكفى: شرط مسحه ثلاثة امور الاول كونه ساتر القدم مع الكعب او يكون نقصانه اقل من الخرق المانع فيجوز على......(بقيه په بل مخ)

په اودس کښې مضمضه کول سنت دی

سوال: علمائې دين په دې مسئله کښې څه فرمائی که څه د روژې په حالت کښې د اودس په وخت په خُله کښې اوبه وانه چوم نوپه دې سره په مونځ کښې څه فرق راځی که نه؟ ځکه چه په خُله کښې اوبه اچولوسره ماته د روژې د ماتيدلو شک راځی؟ بينوا توجروا

المستفتی: يوسف شاه صدربازار رسالپورکينټ نوشهره...١٢٧/رمضان١٤١٠هـ

الجواب: ته هيڅ فکرمه کوه.او خُله کښې اوبه اچوه.البته په اودس کښې مضمضه کول سنت دی.﴿ ١ ﴾ ددې په پريخودلو سره اودس ته نقصان نه رسی اوپه ثواب کښې کمې راځی.وهوالموفق

نسوار، چيلم او سگريټ اودس ماتونکی نه دی

سوال: علمائې دين شرع متين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نسوار، حقه او سگريټ څکل حرام دی که مکروه؟ اوپه دې سره اودس ماتيږی اوکه نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: معتبرشاه کوټکی........١٩٨٣/١٢١/١٤١

(بقيه حاشيه) الزربول لو مشدوداً...... والثانى كونه مشغولاً بالرجل ليمنع سراية الحدث:..... والثالث كونه ممايمكن متابعة المشئ المعتاد فيه فرسخاً فاكثر، قال ابن عابدين (قوله لو مشدوداً) لان شدة بمنزلة الخياطة وهو مستمسك بنفسه بعد الشد كالخف المخيط بعضه ببعض فافهم وفى البحر عن المعراج ويجوز على الجاروق المشقوق على ظهر القدم وله ازراريشدها عليه تسده لانه كغير المشقوق وان ظهر من ظهر القدم شئ فهو كخروق الخف. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ١٨٢، ١٨٣ جلد ١ باب المسح على الخفين)

﴿١﴾قال الحصكفى وغسل الفم اى استيعابه ولذا عبر بالغسل او للاختصار بمياه ثلاثه والانف...... وهما سنتان مؤكدتان، قال ابن عابدين فلو تركهما اثم على الصحيح سراج قال فى الحلية لعله محمول على ما اذاجعل الترک عادة له من غير عذر. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ٨٢ جلد ١ سنن الوضوء)

الجواب: دنسوار، سگریټ وغیره څیزونو استعمال مباح دي چه د فضولیاتو دپاره نه وی او د نشې د نشتوالی په وجه باندې په دې سره اودس نه ماتیږی.﴿١﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامه ابن عابدین: فانه لم یثبت اسکاره ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۵۹ جلد۵ کتاب الاشربة)

الباب الثانی فی الغسل

د غسل په شروع کښې اودس سنت دې

سوال: دغسل نه مخکښې اودس کول سنت دي که مستحب؟ که یو سړې دجنابت نه غُسل اوکړی اونه په اول کښې اودس اوکړی اونه په آخر کښې، نو مونځ ئې جائزدې که نه؟ اوچه کله ئې اودس نه وی کړې نود غُسل نه پس اودس لازم دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد فائق باجوړایجنسی عنایت کلې......۱۵مئ ۱۹۸۲ء

الجواب: دغُسل په شروع کښې اودس کول سنت دی.(شرح التنویر)﴿١﴾ چه کله یو سړې دمضمضې اواستنشاق نه پس په ټول بدن باندې اوبه واچوی نوسره ددې نه چه غُسل ئې خلاف سنت دې خوصحیح دې او دده مونځ هم صحیح دې.﴿٢﴾ وهوالموفق

په بربنډه غُسل کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کومه غُسل خانه باندې چت وی په هغې کښې په بربنډه غُسل کول جائزدې که نه؟ بینوا! توجروا

المستفتی: محمد ازرم تبوک سعودی عرب........۱۴۰۱۱۷۱۷ھ

﴿١﴾ قال الحصکفی: وسننه...... البداءة بغسل یدیه وفرجه...... وخبث بدنه ان کان علیه خبث لئلا یشیع ثم یتوضأ...... ثم یفیض الماء علی کل بدنه ثلاثا الخ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۱۰، ۱۱۱ جلد ۱ مطلب سنن الغسل)

﴿٢﴾ وفی الهندیه: الفرائض الغسل وهی ثلاثة المضمضة والاستنشاق وغسل جمیع البدن علی مافی المتون. (فتاویٰ هندیه ص ۱۳ جلد ۱ الباب الثانی فی الغسل)

الجواب: په بربنډه غسل کول جائزدی البته لنګ وهل بهتردی.《۱》 په عورت باندې نظر غورځېدلو سره اودس نه ماتیږی اودس صحیح دی.《۲》
وهوالموفق

په احتلام باندې غسل واجب کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څه دفالج مریض یم. یوه بنیه مې شله ده اوما واده هم کړې دې تقریباً دولس کاله مې اوشو. اوس مسئله داده چه ماته په هفته کښې دوه، درې ځلې احتلام کیږی کله څوک اووینم اوکله هم دغه شان احتلام کیږی. ځما عمر تقریباً ۳۷ کاله دې او تقریباً اته کاله نه مې په پابندئ سره مونځ کول هم شروع کړی دی. نوددې وجې نه هر وخت غسل کول وی. نو تاسو صاحبان فتوی ورکړئ چه په دې احتلامونو سره په ما باندې غُسل واجب کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسترخان ګرهی سخاکوټ......یکم اپریل ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام: السلام علیکم. خبره داده چه په احتلام سره غُسل واجب کیږی.《۳》 ته همت مه بائیله. غُسل کوه الله کریم دې تاته صحت درکړی فقط

《۱》قال الحصکفی: وسننه کسنن الوضوء سوی الترتیب وادابه کادابه سوی استقبال القبلة لانه یکون غالباً مع کشف عورة وقال ابن عابدین اقول اوالمراد الکراهة حال الکشف فقط کما افاده التعلیل السابق والظاهر من حاله علیه السلام انه لا یغتسل بلا ساتر (قوله مع کشف عورة) فلو کان متزراً فلا باس به کما فی شرح المنیة والامداد.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۱۰ جلد ۱ مطلب سنن الغسل)

《۲》وفی الهندیه: مس الرجل المراة والمراة الرجل لا ینقض الوضوء کذافی المحیط مس ذکره او ذکر غیره لیس بحدث عندنا کذافی الزاد.
(فتاویٰ هندیه ص ۱۳ قبیل الباب الثانی فی الغسل)

《۳》قال العلامه مرغینانی: والمعانی الموجبة للغسل انزال المنی علی وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم و الیقظة.
(هدایة علی صدر فتح القدیر ص ۵۳ جلد ۱ فصل فی الغسل)

د غیر محرم په بربنډ حالت کښې لیدلو سره غسل نه واجب کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یوه زنانه یو غیرمحرم په بربنډ حالت کښې اووینی نو په دې باندې غسل واجب دې که نه؟
بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد......۲\۴\۱۹۷۴ء

الجواب: غسل نه واجب کیږی《۱》. وهوالموفق

د نارینه د بالغ کیدو کمه موده او منی وغیره د پاکولو طریقه

سوال: د نارینه د پاره د بالغ کیدو موده څه ده؟ بنده چه کله د دولسو کالو شو نو انزال ئې شوې وو ایاد هغه وخت نه بلوغ شروع کیدې شی؟ دغه شان د منی ودی او مذی د پاکولو طریقه څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: منظور راوالپنډی.....۲۴\شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: د نارینه د پاره د بلوغ کمه موده دولس کاله دې ته چه د دولسو کالو شوې نو بالغ شوې ځکه چه د بلوغ علامت یعنی انزال موجود شوې دې《۲》 او چه منی په ګرولو او مږلو سره صفا کیږی او که اوچه نه وی نو بیا وینځلو سره《۳》 دغه شان مذی او ودی هم وینځلو سره صفا کیږی《۴》 وهوالموفق

《۱》ځکه چه دا دهغه څیزونو نه نه دې کوم چه غسل واجبوی (سیف الله حقانی)

《۲》قال العلامة الحصکفی: بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال والاصل هو الانزال...... فان لم یوجد فیهما شئ فحتی تتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتیٰ لقصر اعمار اهل زماننا وادنی مدته له اثنتا عشرة سنة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۷ جلد ۵ فصل بلوغ الغلام کتاب الحجر)

《۳》وقال فی الهندیه: ومنها الفرک فی المنی اذا اصاب الثوب فان کان رطبا یجب غسله وان جف علی الثوب اجزأ فیه الفرک استحسانا.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۴۴ جلد ۱ الباب السابع فی النجاسة)

《۴》قال الفقیه طاهر بن عبد الرشید: اذاحت النجاسة...... (بقیه حاشیه په بل مخ)

په لاس باندې مشین سره نوم ليكل داودس او غسل نه مانع نه دی

سوال: بنده په ماشوموالی کښې دمشین په ذریعی سره په لاس باندې نوم لیکلې دې اوس خلق وائی چه وران کړه په دې سره اودس او غسل نه کیږی او حال دا چه هغه نوم اوس بغیر داپریشن نه وارنیږی هم نه نوددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نارتھ وزیرستان ایجنسی میران شاه....۱۹۸۸ء۲۸۱۴۱

الجواب: داخط دخال او ډک کړی شوې زخم پشان یو اندام دې نه د اودس نه مانع دې او نه دغسل نه ﴿۱﴾ دوا عظانو دسختو او غلطو مسئلو نه مه ویریږئ﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) لم یجز الا فی المنی الیابس فان کان رطبا لا یطهر الابالغسل وهو نجس عندنا...... ولکن هذا اذالم یخرج المذی قبل خروج المنی اما اذاخرج المذی ثم خرج المنی لا یطهر الثوب بالفرک.

(خلاصة الفتاویٰ ص ۴۱ جلد ۱ الفصل السادس فی غسل الثوب والدهن)

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: یستفاد مما مرحکم الوشم فی نحو الید وهو انه کالاختضاب اوالصبغ بالمتنجس لانه اذا غرزت الید اوالشفة مثلا بابرة ثم حشی محلها بکحل اونیلة لیخضر تنجس الکحل بالدم فاذاجمد الدم والتأم الجرح بقی محله اخضر فاذاغسل طهر لانه اثریشق زواله لانه لا یزول الا بسلخ الجلد او جرحه فاذاکان لا یکلف بازالة الاثر الذی یزول بماء حارٍ اوصابون فعدم التکلیف هنا اولیٰ وقد صرح به فی القنیه فقال ولو اتخذ فی یده وشمالا یلزمه السلخ اه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۳۰ جلد ۱ مطلب فی حکم الوشم باب الانجاس)

﴿۲﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی: واما المذکر فلا بد...... ان یکون میسراً لا معسراً...... واما الأفات التی تعتری الوعاظ فی زماننا فیها عدم تمییزهم بین الموضوعات وغیرهابل غالب کلامهم الموضوعات المحرفات وذکرهم الصلوات والدعوات التیٰ عدها المحدثون من الموضوعات ومنها مبالغتهم فی شیئ من الترغیب والترهیب.

(القول الجمیل ص ۱۷۱، ۱۷۲ باب التذکیر والوعظ)

خناورسره بغیرد انزال نه وطی (بدفعلی)

کولو سره غسل نه واجب کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو سړې دخناورسره وطی اوکړی لیکن انزال نه وی شوې نو غسل واجب کیږی که نه؟

بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: صرف وردننه کول غسل نه واجب کوی بلکه وردننه کولو (التقاء الختانین) دپاره شهوت والا محل پکار دې او ځناور خو دشهوت محل نه دې نوځکه بغیر دانزال نه غسل نه واجب کیږی.

وفی الهندیه (ص ۱۵ جلد ۱) والایلاج فی البهیمة والمیتة والصغیرة التی لا یجامع مثلها لا یوجب الغسل بدون الانزال ﴿۱﴾. وهو الموفق

په مټ باندی څه قسم مسالې سره نوم

لیکل د اودس او غسل مانع نه دی

سوال: یو سړی په خپل مټ باندی نوم لیکې چه دستنې په ذریعه سره ئی راکنی او یو قسم رنگداره مساله پکښې اچوی نو دنوم نه لاندې داوبو رسیدل مشکل کیږی نو ایا د داسې سړی غسل وغیره صحیح کیږی؟

بینوا توجروا

المستفتی: حافظ شمس الحق قمرحضر و اتک...۱۲۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: داخط د خال پشان دغسل وغیره نه مانع نه دې

کمافی ردالمحتار ص ۲۲۰ جلد ۱ باب الانجاس ، یستفاد مما مرحکم الوشم فی نحو الید وهو انہٗ کالاختضاب او الصبغ بالمتنجس لانه اذا غرزت الید او الشفة مثلاً بابرة ثم حشی محلها بکحل او نیلة لیخضر تنجس الکحل بالدم فاذا جمدالدم والتأم الجرح بقی

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۵ جلد ۱ الفصل الثالث فی المعانی الموجبة للغسل وهی ثلاثة)

محله اخضر فاذا غسل طهر لانه اثر یشق زواله لانه لا یزول الا بسلخ الجلد او جرحه فاذا کان لا یکلف بازالة الاثر الذی یزول بماء حار او صابون فعدم التکلیف هنا اولیٰ.......... وفی الفتاوی الخیریه من کتاب الصلاة سئل فی رجل علی یده وشم هل تصح صلوته وامامته معه ام لا اجاب نعم ﴿۱﴾. وهو الموفق

وسمه داودس اوغسل نه مانع نه ده

سوال: بعضي خلق په سپينه ږيره باندې توره وسمه لګوی نو په ويښتو باندې وسمې لګولو سره ممکن ده چه اوبه دويښتو اصل جسم ته اونه رسيږي لهذا په دې حالت کښې اودس یاغسل کيدې شی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نور رحمان ناوګئ بونير سوات....۱۲/اګست ۱۹۸۳ء

الجواب: په ويښتو باندې وسمې لګولو سره داخبره ضروری نه ده چه اصل ويښتو ته به اوبه رسوې چه دويښتو په ظاهری سطح باندې اوبه واچولې شی نو د غسل جنابت دپاره کافی ده (شامی) ﴿۲﴾ وهو الموفق

د غسل په وخت کښې خبرې کول او د دعاګانو ويلو حکم

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دغسل دوران کښې دخبروکو څه حکم دې؟ اودغه وخت کښې مسنون دعاګانې ويل جائز دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.......

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۳۰ جلد ۱ مطلب فی حکم الوشم باب الانجاس)

﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی: ولا یمنع الطهارة ونیم ای خرء ذباب وبرغوث لم یصل الماء تحته وحناء ولو جرمه به یفتی...... ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتی وقیل ان صلبا منع وهو الاصح.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۹ جلد ۱ قبیل مطلب سنن الغسل)

الجواب: دغسل په وخت کښې چپ اوسيدل بهتردی په بربنډه باندې فقهاؤ خبرې کول مکروه ليکلي دې اودمسنون دعاګانو دپاره داوخت مناسب نه دې فی ردالمحتار ص ۱۵۶ جلد ۱ ويستحب ان لا يتكلم بكلام مطلقة اما كلام الناس فلكراهته حال الكشف واما الدعا فلانه فی مصب المستعمل ومحل الاقذار والاوحال ﴿۱﴾. وهو الموفق

زنانو د پاره په غسل کښې دويښتو وينځلو طريقه

سوال: که زنانه غسل کوی نود سرو پشان هغوې لره هم په ټول بدن باندې اوبه اچول ضروری دی اوکه نه؟ اود زنانو دسرپه ويښتو باندې اوبو اچولوطريقه څه ده؟ بعضې زنانه صرف په مسح باندې اکتفاکوی آيا داصحيح دی؟

بينوا توجروا

المستفتی: محمد امين شراوک ملائشيا....۲۵/رمضان المبارک ۱۴۰۳ھ

الجواب: په زنانه باندې هم دسرو پشان دټول بدن وينځل فرض دی خودکونځې شوې ويښتو اصل ته اوبه رسول کافی دی دټولو وينځل ضروری نه دی اوپه غسل کښې دسرپه ويښتو باندې مسح کول کافی نه ده برابره خبره چه زينت ته نقصان ورکوی اوکه نه خو که چرته ويښته پرانستې وو .نو دپوره ويښتو وينځل ضروری دی ﴿۲﴾ هو الموفق

د عمر په لحاظ سره دبلوغ موده

سوال: علماء دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دعمر په لحاظ

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۱۵ جلد ۱ مطلب سنن الغسل کتاب الطهارة)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: وکفی بل اصل ضفیرتها ای شعر المرأة المضفور للحرج اما المنقوض فیفرض غسل کله اتفاقا ولو لم یبتل اصلها یجب نقضها مطلقا هو الصحیح ولو ضرها غسل رأسها ترکته وقیل تمسحه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۸ جلد ۱ مطلب فی ابحاث الغسل)

سره دمذکر او مؤنث بلوغ په څومره موده کښې پورې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نصر الله صوابی......۱۹محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: دعمر په لحاظ سره دمذکر او مؤنث دبلوغ پنځلس (۱۵) کاله دی. کمافی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ص ۱۳۲ جلد۶ فان لم یوجد فیهما شئ فحتی تمَّ لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی ﴿۱﴾. وهو الموفق

داحتلام هیریدلو په صورت کښې د قضاء مونځونو حکم

سوال: علماء دین څه فرمائی دې مسئله کښې چه یو سړی ته احتلام شوې وو لیکن هغه نه هیر شوې وو څو ورځې پس ورته یاد شو چه احتلام شوې وو نو چه کوم مونځونه ئې بغیر غسل نه کړی دی دهغه قضاء به څنګه کوی؟

بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........

الجواب: که چاته څو ورځې پس داحتلام پته اولګی چه په فلانکې ورځې باندې ماته احتلام شوې وو نو دهغې ورځې نه به دمونځو نو قضاء کوی او که دمعلومې ورځې علم ورته نه وی نو دآخری خوب نه به جنبی شمارلې کیږی نو دهغې نه پس چه ئې څومره مونځونه کړی وی دهغې قضاء به پرې لازم وی (مجموعة الفتاوی ص ۱۲۴ جلد ۱) ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مذی په وتلو سره غسل نه واجب کیږی

سوال: جناب مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک! علمائې دین دې مسئلې

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۱۰۷ جلد۵ فصل بلوغ الغلام کتاب الحجر)

﴿۲﴾ قال العلامه عبدالحی لکهنوی: که داعلم ورته اوشو چه دفلانکئ ورځې نه ماته احتلام شوې وونو هغې ورځې نه به دجنابت حکم جاری شی او که د ورځې دتعین علم نه وی صرف دومره علم وی چه ماته احتلام شوې وو نو داحتلام حکم به هغه آخری خوب نه ورکولې کیږی چه دهغې نه پس نه دې اوده شوې (مجموعة الفتاوی ص ۱۲۵ جلد ۱ کتاب الطهارة)

باره کښې څه فرمائی که چاته شهوت راشی یعنی آله تناسل ئی په آرام وی اوبیا مُنتشر شی او داندام مخصوص په سر باندې لوندوالې راشی اوپته نه وی چه دامنی ده که څهٔ بل څه دی نو په دې سره غسل واجب کیږی یا نه؟

بینوا توجروا

المستفتی: رحمت نبی ضلع پشاور......یکم ذی الحجه ۱۳۸۹ھ

الجواب: دامذی ده ددې په وتلو سره غسل نه واجب کیږی ﴿۱﴾ اودمنی په وتلو سره هغه وخت غسل واجب کیږی چه کله په ټوپ اوشهوت سره وی ﴿۲﴾ اوپه ذکر شوې صورت کښې داشرط نشته دې (هکذا فی جمیع کتب الفقه) وهو الموفق

د غاښ سوري په مسالې سره بندول دغسل نه مانع نه دي

سوال: شق دندان را داکتر پر کرده ام، بعض مولوی صاحبان درباره غسل فرموده اند، که غسل مے شود و بعضے گفته اند نمیشد، اکنون محترم شما را هدایت دهید که صحیح خیال چیست؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالباقی افغانستان......۲۴/شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: غسل بلاشک وشبه جائز است زیرا نچه خالی کردن سوراخ در وقت هر غسل حرج عظیم است، که در شرع شریف مرفوع است، نظیره مافی الهندیه ص ۳۳۶ جلد۵ من شد السن بالذهب

﴿۱﴾ قال ابن المنذر حدثنا محمد بن یحیٰ حدثنا ابو حنیفة رحمه الله حدثنا عکرمه عن عبد ربه بن موسیٰ عن امه انها سالت عائشه رضی الله عنها عن المذی فقالت ان کل فحل یمذی وانه المذی والودی والمنی فاما المذی فالرجل یلاعب امرأته فیظهر علی ذکره الشئ فیغسل ذکره وانثیه ویتوضأ ولا یغتسل الخ.

(فتح القدیر ص ۵۳، ۵۴ جلد ۱ فصل فی الغسل)

﴿۲﴾ قال المرغینانی: والمعانی الموجبة للغسل انزال المنی علی وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم والیقظة.

(هدایه علی صدر فتح القدیر ص ۵۳، ۵۴ جلد ۱ فصل فی الغسل)

والفضة﴿۱﴾ ومافی غسل شرح التنویر وثقب انضم، قلت فهذا اشد حرجاً منه﴿۲﴾. فافهم

د غسل په وخت کښې د عورت ښکاره کیدلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئله باره کښې څه فرمائی چه په اکثر نهرونو او تالابونو کښې خلق په اجتماعی طریقې سره غسل کوی اودنوم نه لاندې او د زنګون نه پورته ځائې په نظر راځی او خاص اندامونه ئې پټ کړی وی نو آیا په داسې ځایونو کښې داسې کول جائزدی؟ او که چرته څوک نه وې نو په بربنډه غسل جائز دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم......

الجواب: خیر شئ چه انسان په داسې ځائې کښې غسل کوی کوم ځائې کښې چه یو اخې وی نو داسې ځائې کښې هم دعورت ښکاره کولو نه احتراز کول پکار دې دضرورت مطابق ورته د عورت ښکاره کولو رخصت دې او که په داسې ځایونو کښې نور خلق هم موجود وی نو په داسې حالت کښې د سړو دپاره دټول عورت (یعنی دنوم نه تر زنګونانو پورې) پټول فرض دی چه دهغې ښکاره کول حرام دی او که یو سړی په داسې طریقې سره غسل او کړو نو د حرامو دارتکاب سره سره دغسل فریضه ادا کیږی.

فی الکبیری ص ۵۱ وان یغتسل فی موضع لا یراه احد لاحتمال بدؤ العورة حال الاغتسال

﴿۱﴾ وفی الهندیه: قال محمد رحمه الله فی الجامع الصغیر ولا یشد الاسنان بالذهب ویشدها بالفضة یرید به اذاتحرکت الاسنان وخیف سقوطها فاراد صاحبها ان یشدها یشدها بالفضة ولا یشدها بالذهب وهذا قول ابی حنیفه رحمة الله وقال محمد رحمه الله یشدها بالذهب ایضاً ...... وذکر الحاکم فی المنتقیٰ لو تحرکت سن رجل وخاف سقوطها فشدها بالذهب او بالفضة لم یکن به بأس عند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالیٰ الخ. (فتاویٰ هندیه ص ۳۳۶ جلد ۵ الباب العاشر فی استعمال الذهب والفضة)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی: لا یجب غسل مافیه حرج کعین وان اکتحل بکحل نجس وثقب انضم ولا داخل قلفة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۰۷ جلد ۱ مطلب فی ابحاث الغسل)

او اللبس ولحدیث یعلی بن امیة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال ان الله حی ستیر یحب الحیاء والستر فاذا اغتسل احدکم فلیستتر رواه ابوداؤد﴿۱﴾. وهوالموفق

ښانبونو ته د سرو زرو خول اچول د غسل نه مانع نه دي

سوال: که چا خپلو غاښونو ته د سروزرو خول دښایست یا دځه بیمارئ دوجې نه واچولو نو آیا اوس به دغسل نه مانع وی که نه؟ دغه شان داخول اچول شرعا څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټر ګل فراز دندان ساز مانیری ضلع صوابی. ۱۹۸۸ء/۸/۱۹

الجواب: که دا جائز یا نا جائز د سروزرو خول﴿۲﴾ هر غسل دپاره لرې کول اودغسل نه پس واپس اچول دحرج باعث وی نو دا دغسل نه مانع نه دې لان الحرج مدفوع﴿۳﴾. ویورده فی الاثار﴿۴﴾ فلیراجع الی نصب الرایه ص ۲۳۷ جلد ۴. وهوالموفق

﴿۱﴾ (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۴۹ فرائض الغسل)

﴿۲﴾ قال العلامه طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله: ویشد الاسنان بالفضة ولا یشدها بالذهب. (خلاصة الفتاویٰ کتاب الکراهیة فی اللبس ص ۳۷۰ جلد ۴)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: (قوله وثقب انضم) قال فی شرح المنیة وان انضم الثقب بعد نزع القرط وصار بحال ان امر علیه الماء یدخله وان غفل لا فلا بد من امراره ولا یتکلف لغیر الامرار من ادخال عود ونحوه فان الحرج مدفوع.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۰۷ جلد ۱ مطلب ابحاث الغسل)

وفی الهندیة: والصرام والصباغ ما فی ظفرهما یمنع تمام الاغتسال وقیل کل ذلک یجزیهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع کذا فی الظهیریة.

(فتاویٰ عالمگیری الباب الثانی فی الغسل ص ۱۳ جلد ۱)

﴿۴﴾ وفی المنهاج: والاثار تدل علی الجواز کما فی نصب الرایة عن الطبرانی فی معجمه الاوسط ان النبی صلی الله علیه وسلم امر عمرو بن العاص ان یشد ثنیته...... (بقیه حاشیه په بل مخ)

د غابښ سورې په سیسې وغیره سره ډکول دغسل نه مانع نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دغابښ سورې په قلعی وغیره ډکول دغسل نه مانع دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........۲۹/۹/۱۹۸۶ء

الجواب: الحمد لله وسلام علی عباده الذین اصطفی، امابعد: داخبره دې معلومه وی چه کله دغابښ سورې د قلعی نه ډک شی او اوبه ورته نه داخلیږی نو دحرج وجې نه دغسل جنابت نه مانع نه دې.

کمایشیر الیه مافی ردالمحتار ص ۱۴۳ جلد ۱ قوله وهو الاصح، صرح به فی شرح المنیة وقال لامتناع نفوذالماء مع علم الضرورة والحرج، فافهم﴿۱﴾، ویدل علیه مافی اعلاء السنن جلد۱۷ ص ۲۹۹ ان عثمان بن عفان رضی الله عنه ضبب اسنانه بالذهب اخرجه عبد الله بن احمد بن حنبل فی مسند ابیه، والتضبیب مانع من الوصول، وفی ص ۲۹۸ ان انس بن مالک شدد اسنانه بذهب اخرجه الطبرانی والتشدید مانع من جریان الماء تحته﴿۲﴾. فافهم. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الساقطة بالذهب، وعن معجم الصحابة ان عبد الله بن عبد الله بن ابی سلول امره النبی ﷺ ان یتخذ ثنیة من ذهب، وفی مسند احمد ان عثمان بن عفان رضی الله عنه ضبب اسنانه بذهب، وروی الطبرانی ان سنان انس رضی الله عنه شدت بالذهب.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۲۲ جلد۵ باب ماجاء فی شد الاسنان بالذهب)

﴿۱﴾قال الحصکفی: ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه او فی سنه المجوف به یفتیٰ وقیل ان صلبا منع وهو الاصح، وقال ابن عابدین صرح به فی شرح منیه وقال لامتناع نفوذ الماء مع علم الضرورة والحرج.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۰۹ جلد ۱ باب فی ابحاث الغسل)

﴿۲﴾وفی المنهاج: والاثار تدل علی الجواز کما فی نصب......(بقیه حاشیه په بل مخ)

په غسل کښې د پوزې د نرمئ پورې وینځل فرض دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په غُسل کښې اوبه په پوزه کښې په ګوتې سره وردننه کول پکاردی. که پوزه رابنکلوسره؟ اوچه په پوزه رابنکلوسره په دماغوکښې د داخلیدلو په وجه باندې د بیمارو پیدا کیدو خطره هم وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شمشیرخان حاجی زئ شبقدر...۲۸/۱۰/۱۹۷۵ء

الجواب: په غُسل کښې ددې نرمئ وینځل فرض دی﴿۱﴾ ،تاته چه څنګه آسان وی هغه شان خپل معمول جوړکړه .وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الرایة عن الطبرانی فی معجمه الاوسط ان النبی ﷺ امر عمروبن العاص ان یشد ثنیته الساقطة بالذهب، وعن معجم الصحابة ان عبد الله بن عبد الله بن ابی سلول امره النبی ﷺ ان یتخذ ثنیة من ذهب، وفی مسند احمد ان عثمان بن عفان رضی الله عنه ضبب اسنانه بذهب، وروی الطبرانی ان اسنان انس رضی الله عنه شدت بالذهب.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۲۲ جلد۵ باب ماجاء فی شد الاسنان بالذهب)

﴿۱﴾وفی الهندیة: وحد المضمضة استیعاب الماء جمیع الفم وحد الاستنشاق ان یصل الماء الی المارن کذا فی الخلاصة.

(فتاوئ عالمگیریه ص ۶ جلد ۱ الفصل الثانی فی سنن الوضوء)

الباب الثالث فی البئر والحوض

په لوئې حوض کښې ټول کال د ولاړو اوبو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اوبو یو لوئې حوض دې او دهغې اوږدوالې او پلن والې دلس لس ګزه نه زیات دې په هغې کښې د باران اوبه جمع کولې شی اوبیا ټول کال په هغې کښې وی ګیرچاپیره ترینه ګندونه او خزلې هم وی لیکن دحفاظت دوجې نه په هغې کښې غورځیږی نه، اود اوبو رنګ هم صحیح وی نوآیا په دې اوبو سره اودس کول صحیح دی؟

بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........۷۴،۱۴،۳

الجواب: ددې حوض نه د اودس او غُسل نه کیدلو هیڅ وجه نشته. وهو الموفق

ناپاکه اوبو سره جوړې شوې خښتې وغیره په کوهی کښې لګولو حکم

سوال: علمائی دین څه فرمائی دې مسئله کښې چه یو کوهی کنستلې کیدو او په هغه وخت کښې هغه ناپاک شو بیا روستو ددې کوهی جوړول وغیره او دکون په دغې ناپاک اوبو او خاورې او ښختو سره او شو او چه کله کوهې تیار شو نو ټولې اوبه ترینه راویستلې شوې اوس سوال دادې چه داوبو ویستلو سره به داټول کوهی دسره پورې پاک ګڼړلې کیږی یانه؟

بینوا توجروا

المستفتی: هلال احمد طورو مردان.....۱۵نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: دامسئله صراحةً چرته ملاؤ نه شوه البته دقواعدو په رڼا کښې به داکوهی پاک وی دغه شان په پاکو اوبو کښې دمنړک وغیره په مړ کیدلو سره په ناپاک کیدلو کښې دیوالونه وغیره هم ناپاک کیږی او دکوهی پاک

کیدلو په وخت کښې به دیوالونه وغیره هم پاک شی ﴿۱﴾ نو دلالت په وجه سره د پاکوالی په اراده سره دمخکښی او روستنی یو حکم وی. وهوالموفق

په مشین والا کوهی کښې د حیوان غورځیدلو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که په یو کوهی کښې مشین وی چه په هغې سره اوبه راوباسلې کیږی نو که په هغې کښې یو ځناور او غورځیږی ددې څه حکم دې؟ بینو اتوجروا

المستفتی: محمود.......

الجواب: که دمشین جاری کیدو په وخت کښې په دې کوهی کښې ځناور اوغورځیږی او مړ شی نودا معاف دی (لکون النـزح کالجریان کمافی البحر ص ۸۰ جلد ۱) ﴿۲﴾ ګنی بیا کوهی نجس اوپلیت دې. وهو الموفق

﴿۱﴾قال الشرنبلالی: وکان ذلک المنزوح طهارة للبئر والدلو والرشاء والبکرة ویدالمستقی، روی ذلک عن ابی یوسف والحسن لان نجاسة هذه الاشیاء کانت بنجاسة الماء فتکون طهارتهابطهارته نفیا للحرج.

(حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص۳۸ فصل فی مسائل الآبار)

﴿۲﴾ قال ابن نجیم :ومنهم المصنف فی المستصفی ان المراد بنزح البئر نزح مائها اطلاقا لاسم المحل علی الحال کقولهم جری المیزاب وسال الوادی واکل القدر والمراد ماحل فیها للمبالغة فی اخراج جمیع الماء والمراد بالبئر هنا هی التی لم تکن عشرافی عشر اما اذا کانت عشرا فی عشر...... وابی یوسف البئر لا تنجس کالماء الجاری البئر اذالم تکن عریضة وکان عمق مائها عشرة اذرع فصاعدا فوقعت النجاسة فیها لا یحکم بنجاستها فی اصح الاقاویل...... ای ونزح ماء البئر لکن هذا انما یستقیم فیما اذا کانت البئر معینها لاتنزح واخرج منها المقدار المعروف اما اذا کانت غیر معین فانه لا بد من اخراجها لوجوب نزح جمیع الماء...... والماء ینبع شیأفشیأ واما ان لا تنجس اسقاطا لحکم النجاسة حیث تعذر الاحتراز او التطهیر کما نقل عن محمد انه قال اجتمع رائ ورأی ابی یوسف ان ماء البئر فی حکم الجاری لانه ینبع من اسفله ویؤخذ من اعلاه فلا یتنجس کحوض الحمام الخ.

(بحر الرائق ص ۱۱۰، ۱۱۱ جلد ۱ کتاب الطهارة)

په لوئي حوض کښې استنجاء اوغسل کول منع نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو حوض دی اوږدوالي او پلن والي ئی دموجوده زمانې په گزونو (درې فټه گزوالا) باندې اتلس (۱۸) اتلس گزه دې اودا حوض صرف داودس دپاره دې او مستعمل او به دې حوض ته غورځیږی دبهر تللوځه لاره نشته اوداستنجاء اوغسل دپاره بل ځائی هم شته نوبغیر دځه عذرنه ددې حوض نه استنجاء او غسل کول څنگه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فقیرمحمدمعصوم سرائې نورنگ بنون....۲۳/۱شعبان ۱۳۹۷ھ

الجواب: چونکه دا حوض غټ دې لهذا په دې کښې استنجاء او غسل کول منع نه دی یعنی په دې سره اوبه نه پلیتیږی البته داکار بهترنه دې.
فلیراجع الی شرح حدیث لا یغسلن احدکم فی الماء الراکد ولا یبولن الحدیث ﴿۱﴾. وهوالموفق

په حوض کښې د بال غورځیدل

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو حوض دشرعی مقدار مطابق دې اویو هلک پکښې بال او غورځوو آیا داحوض به پاک گڼلې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.......۱۹/۱مئ ۱۹۸۴ء

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن: باب کراهیة البول فی الماء الراکد ای الماء الذی لا یکون جاریا حقیقة ولا حکما یکره فیه البول ویتنجس بخلاف الماء الجاری حقیقة او حکما وهو الماء الکثیر الراکد فانه یکره فیه البول ولاکن لا یتنجس ولعل الامام الترمذی یقصد بذکر هذا الباب ذکر دلیل الحنفیة.
(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص ۱۷۱ جلد۱ باب کراهیة البول فی الماء الراکد)
وفی الدرالمختار وکذا یجوز براکد کثیر کذلک ای وقع فیه نجس لم یر اثره.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۴۰ جلد۱ باب المیاه)

الجواب: که داخبره یقینی معلومه نه وی چه بال ناپاک وو نو دحوض (نجاست) حکم ورکول دقاعدې نه خلاف دی. وهوالموفق

د کوهی او اوبو د پاکئ او پلیتی عجیبه مسئلې

سوال: علمائی دین دې مسئلو باره کښې څه فرمائی ﴿۱﴾ په هدایه (ص۳۲) کښې دی چه کوم ځناور په اوبو کښې اوسیږی، هغه چرته په اوبو کښې مړشی نو اوبه نجس نه وی او دیعیش فی الماء تعریف ئی داکړې دې چه مایکون معاشه وتوالده فی الماء نو که معیشت ئی په اوبو کښې وو او تولد ئی په اوبو کښې نه وو لکه بطخ چه دهغې معاش په اوبو کښې دې اوتولدئی په اوبو کښې نه دې نو که داسې بطخ او موندلې شی چه دهغې تولدهم په اوبو کښې شوې وی او بیا په اوبو کښې مړه شوه نو ددې څه حکم دې ﴿۲﴾ که په شیشه (بوتل) کښې منږک بند کړې شو اودکوهی په اوبو کښې ئې دابوتل کیښودو اومنږک په کوهی کښې دشیشې په بوتل کښې مړشو او دری ورځې پس ئی دا شیشه په کوهی کښې ماته کړه او په شیشه کښې منږک پړسیدلې او رژیدلې وو نود څو ورځو د مونځونو اعاده به کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا سیدنصیب علی شاه بنوی....۱۷/۱دسمبر۱۹۷۴ء

الجواب: (۱) که داسې بطخ اوموندلې شوه نو هغه به دمهی په حکم کښې وی لیکن عادةً داسې بطخ ناممکن ده.

(۲) دداسې کوهی ټولې اوبه به راویستلې کیږی (کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتارص ۱۹۷ ج۱ ولو تفسخه خارجها ثم وقع فیها ذکره الوالی) ﴿۱﴾ نو که دشیشې دماتیدلو وخت معلوم نه وی نو دعلم دوخت نه به د نجاست حکم ورکولې شی ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی ولو تفسخه خارجها ثم وقع فیها ذکره الوالی ینزح کل مائها الذی کان فیها وقت الوقوع ذکره ابن الکمال بعد اخراجه.
(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ص۱۵۵ جلد۱ فصل فی البئر)
﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی ومذ ثلاثة ایام بلیالیها ان انتفخ او تفسخ استحسانا وقال من وقت العلم فلا یلزمهم شئ قبله قیل وبه یفتیٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۶۱ جلد۱ مطلب مهم فی تعریف الاستحسان)

دړي کلنه ماشومه په کوهی کښې پریوتله خومره اوبه به راویستلې شی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دړې (٣) کلنه ماشومه په کوهی کښې پریوتله دجمات امام حکم اوکړو چه اویا بوقو راویستلو سره به کوهې پاک شی دامسئله په چرګه باندې قیاس کړې شوه اودوهم امام صاحب دټولو اوبو دېلیتیدو حکم اوکړو په دی کښې صحیح کوم یو دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: مولانا فضل مولا فاطمه ضلع مردان.... ٤/١١/٠١/١٩٧٢

الجواب: ک داماشومه ژوندئ راوتلې وی نو کوهی پاک دې اوکه په کوهی کښې مړه شوې وی نو ټولې اوبه به ترې نه راوباسلې کیږی.

فی الشرح الکبیر وان ماتت فیها شاة او کلب او آدمی نزح جمیع الماء ﴿١﴾ . وهوالموفق

په لوئی حوض کښې د جنابت غسل کول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو حوض پلن والې دوه ګزه وې او اوږوالی ئې څلویښت پنځوس ګزه وی آیا دیکښې غسل جنابت جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.... ٣٠/١٥/١/١٩٧٢

الجواب: جائز دې ﴿٢﴾ وهوالموفق

که په کوهی کښې د منږک ګور ځیدلو وخت معلوم نه وی نوڅه به کوې؟

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څه عام طور سره په کوهی کښې اودس کوم او جمات ته څم او جمات باره نږدې دې او مقتدیان

﴿١﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ١٥٥، ١٥٦ فصل فی البئر)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصکفی و کذا یجوز براکدٍ کثیر کذلک ای وقع فیه نجس لم یر اثره ولو فی موضع وقوع المرئیة به یفتیٰ بحر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ١٤٠ جلد ١ مطلب لو ادخل الماء من اعلی الحوض باب المیاه)

هم مختلف وی امام څه پخپله یم دکور په کوهی کښې یو منږک غورځیدلې وو اوپته ئې هله اولګیده چه کله داوبو ذائقه خرابه شوه نوماخو پخپله ددریو ورځو شپو مونځونو را اوګرځول خو دمقتدیانو به څه کیږی؟ اودا کوهی به دکوم وخت نه پلیت شمارلې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حکیم غلام حسین مانیرئی صوابی.... ٢٥/١١/٠١/١٩٨٩

الجواب: دا کوهی به دپته لګیدلو نه پلیت شمارلې کیږی او نامعلومه مقتدیانو ته اطلاع ضروری نه ده.

فی الدرالمختار ویحکم بنجاستها الخ، وقالا من وقت العلم فلا یلزمهم شئ قبله قیل وبه یفتیٰ وفی الشامیه الخ قولهما هو المختار ﴿١﴾. وهوالموفق

که په کوهی کښې پلیته جامه غائبه شوه نوکوهی به څنګه پاکولې شی؟

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوهی کښې به ګندګئ او میتازو وغیره سره ککړه جامه اوحیض په وینه باندې پلیته شوې جامه اوغورځیږی اوداجامه دری کاله مخکښې غورځیدلې وی اوڅوک موپه کوهی کښې ورکوز کړی هم نه وو البته ددی جامې دغورځیدلو نه پس مونږ پنځه سوه تیمه (غوړو والا) راویستلې دی نوآیا داکوهی اوس پاک دې که ناپاک دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: س، ر، ش زیارت کاکاصاحب.... ٢٣/١٨/١/١٩٨٩

الجواب: کله چه ددی کوهی نه دومره بوقې [illegible] یستلې شی په کومو سره چه کوهې پاکیږی (مثلاً دوه سوه ٢٠٠ بوقې) ﴿٢﴾ نو داکوهی او پلیته جامه ټول به پاک شمارلې کیږی.

کمافی الهندیه ص ٢٠ جلد ١ ولو وقعت فی البئر خشبة نجسة او قطعة ثوب نجس وتعذر اخراجها

﴿١﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ١٦١ جلد ١ مطلب مهم فی تعریف الاستحسان فصل فی البئر)

﴿٢﴾ وفی الهندیه: واذا وجب نزح جمیع الماء ولم یمکن فراغها لکونها معینا ینزح مائتادلو کذا فی التبیین.

(فتاویٰ هندیه ص ١٩ جلد ١ الباب الثالث فی المیاه الفصل الاول)

وتغیبت فیها طهرت الخشبة والثوب تبعاً لطهارة البئر کذا فی الظهیر ﴿١﴾. وهوالموفق

وتغیت فیها طهرت الخشبة والثوب تبعاً لطهارة البئر کذا فی الظهیریه ﴿۱﴾. وهو الموفق

د کوهی نه دچرګ هډوکی راوتل نو کوهې پاک دې که ناپاک

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه یو کوهی ته د ۲۶ رمضان دوَلی نه پس چرګ غورځیدلې وو هغه داسې چه کور والو دچرګ د راښیولو په کوشش کښې وو په کوهی کښې ئې دبره نه تماشه هم اوکړه خوڅه په نظر رانغله څلورمیاشتې پس دکنستلو په حالت کښې معلومه شوه چه دا چرګه دې کوهی ته غورځیدلې وه ځکه چه دهغې تول هډوکی وغیره په کوهی کښې موجود وو او ددې کوهی اوبه تقریباً څلورمیاشتې استعمال شوی دی نو اوس به دمونځونو وغیره څه حکم وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا میرشاهد الله میران شاه شمالی وزیرستان..... ۱۹۸۷ء۱۲۱۱۴۱

الجواب: په دې کوهی کښې دچرګې غورځیدل اومړه کیدل نه مشاهد ي نه ثابت دې او نه غالب ګمان نه لهذا اکوهې پاک دې صرف دشک په وجه کوهې نه ناپاکه کیږی.

وقد وقع ههنا شک فی ان هذه العظام عظام هذه الدجاجة او غیرها وفی ان هذه العظام وقعت فیه الیوم او قبل ذلک حین کانت مخلوطة باللحم فافهم ﴿۲﴾. وهو الموفق

په نسوارو او افیونو غورځیدلو باندې کوهې نه ناپاک کیږی

سوال: علمائی دین دې مسئله باره کښې څه فرمائی چه په یو کوهی کښې نسوار

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ص ۲۰ جلد ۱ الباب الثالث فی المیاه الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجیم: وقالا یحکم بنجاستها وقت العلم بها ولا یلزمهم اعادة شئ من الصلوٰت ولا غسل ما اصابه ماء ها قبل العلم وهو القیاس لان الیقین لا یزول بالشک لانا نتیقن بطهارتها فیما مضی وقد شک فی النجاسة لاحتمال انها ماتت فی غیر البئر ثم القتها الریح العاصف فیها او بعض السفهاء او الصبیان او بعض الطیور الخ.
(البحر الرائق ص ۱۲۴ جلد ۱ باب الانجاس)

اوغورځیدل نو کوهې پاک دې که ناپاک دې؟ دغه شان دافیونو څۀ مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل احد، غلام احد واخوانهما بازاریته خیله ملاکند ایجنسی ۱۹۷۰ء۵۱۳۲۳

الجواب: تماکو او تول بوټی پاک دی او افیون هم پاک دی نو ددې په غورځیدلو سره کوهې نه پلتیږی.

فی الدر المختار ص ۴۰۳ جلد ۵ ولم نر احداً قال بنجاستها ولا بنجاسة نحو الزعفران ﴿۱﴾. فقط

د چینه دارکوهی نه داوبو راویستلو په مقدار کښې دفقهاؤ مختلف اقوال او مفتیٰ به قول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو ماشوم دسپی ورکوټې بچې کوهی ته ورغورزار کړو او هغه په کښې لږساعت پس مړشو دوه (۲) دری (۳) ګهینټې پس پته اولګیدله چه هغه دسپی بچې ئې راویستلې دې او دجماعت دامام نه تپوس کولو نه پس ئی اتیا بوقې هم راویستلې او کوهی چینه داردې چه څومره اوبه ترنه هم راوباسې خو هغه کمیږی نه بیا وروستو یو بل مولوی صاحب چه دا واقعه واوریدله هغه اووئیل چه دفقهې دکتابونو په رڼرا کښې به ددې کوهی ټولې اوبه راویستلې کیږی هله به کوهی صفا کیږی نو دې کښې بحث دومره اوچلیدلو چه اوس به دکوم مولوی صاحب په خبره باندې عمل کیږی بیا خلقو یو بل مولوی صاحب ته رجوع اوکړه هغوی دالیکلې ورکړل چه درې سوه (۳۰۰) بوقې تر نه راوباسئ نو کوهی به بې شکه پاک شی نو درې سوه (۳۰۰) بوقې ترینه اویستلې شوې اوس چه کوم مولوی صاحب دټولو اوبو راویستلو مسئله خودلې وه هغه اوس هم په خپله خبره کلک دې چه دا کوهې اوس هم پلیت دې ددې نه په شرعی طریقه سره ټولې اوبه راوباسئ او پاک ئی کړي هغه وائې چه دکوهې اوړدوالې او پلن والې ناپ کړئ او دهغې هومره کنده او کنئ هغه ددې کوهی د اوبو نه ډکه کړی نو پاک

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: لو کان قلیل البنج او الزعفران حراما عند محمد لزم کونه نجسا لانه قال ماسکر کثیره فان قلیله حرام نجس ولم یقل احد بنجاسة البنج ونحوه.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۱۷۲ جلد ۳ قبیل باب حد القذف)

به شی دویمه خبره هغه دابیان کړله چه د کوهی ژوروالي تاسو ناپ کړئ او اوبه راویستل شروع کړئ، دهغوی وینا ده چه که دکوهی ژور والي لس (۱۰) لاسه وی اوپه یوه گهینټه کښې یو لاس لاندې لاړشی نو لس (۱۰) گینټې اوبه راویستلو سره به کوهې پاک شی اویائې داوبو ویستلو والامشین سره راوباسئ بیا چه مود فقهې کتابونه اوکتل (تعلیم الاسلام) حصه دوم مرتبه حضرت مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله علیه دهلوی نو په هغې کښې دپوره اوبو راویستلو حکم دې دغه ددیوبندی مسلک کتاب (بهشتی زیور) کښې هم دټولو اوبو راویستلو حکم دې هغې کښې هم د درې سوو (۳۰۰) بوقو څه ذکر نشته په فتاوی رشیدیه کامل مبوب مطبوعه کراچی صفحه ۲۴۳ باندې دی که خپه ئې پلیته وی نو اوبه به راوباسي اوکه پاکه وی نوهیڅ نشته په هغې کښې هم د درې سوو (۳۰۰) بوقو څه ذکر نشته، صرف فتاوی دارالعلوم دیوبند. مطبوعه کراچی جلد ۱ صفحه ۳۸ او جلد ۲ صفحه ۵۷ باندې په مستعمل کوهی کښې اود چیلئ د پچو غورزیدو په حکم کښې د چینه دار کوهی نه درې سوو بوقو راویستلو مسئله ده، دارنگې دفقه حنفی معتبر کتاب هدایه اولین مطبوعه مطبع مجتبائی دهلی صفحه نمبر ۲۷ کښې دی:

وان ماتت فیها شاة او آدمی او کلب نزح جمیع مافیها من الماء لان ابن عباس رضی الله عنه وابن زبیر رضی الله عنه افتیا بنزح الماء کله حین مات زنجی فی بئر زمزم فان انتفخ الحیوان فیها او تفسخ نزح جمیع ما فیها صغر الحیوان او کبر لانتشار البلة فی اجزاء الماء وان کانت البیر معینة بحیث لا یمکن نزحها اخرجوا مقدار ما کان فیها من الماء وطریق معرفته ان تحفر حفر مثل موضع الماء من البئر ویصب فیها ما ینزح منها الی ان تمتلی او ترسل فیها قصبة وتجعل لمبلغ الماء علامته ثم ینزح منها مثلاً عشر دلاء ثم تعاد القصبة فتنظر کم انتقص فینزح لکل قدر منها عشر دلاء وهذان عن ابی یوسف رحمه الله وعن محمد رحمه الله نزح مائتا دلو الی ثلث مائة وکانه بنی قوله علی ما شاهد فی بلده،

په دې عبارت کښې د لکیر والا عبارت کښې (وعن محمد رحمه الله علیه) په حاشیه ئی لیکلي دي. (قوله وعن محمد الی آخره والمروی عن ابی حنیفه اذا نزح منها مائة یکتفی وهوبناء علی ابار الکوفة لقلة الماء فیها، دارنگې دریم (۳) نمبر عبارت

(علی ما شاهد) لاندې حاشیه باندې دی (قوله علی ماشاهد..الخ) من غالب میاه ابار بغداد لان ابار بغداد لا تزید علی ثلث مائة دلو، دارنگې درساله رکن الدین صفحه ۵۴ باندې دی دداسی کوهی نسبت چه هغه بالکل خالی کیږی نه بعضی علماؤ ددری سو (۳۰۰) بوقو راویستلو فتوی ورکړې ده داولې دی ددې سوال په جواب کښې یې لیکلې دی چه دا فتوئ په ضعیف قول باندې ده او ددې اصل دادې چه امام محمد رحمه الله علیه دافتوی دبغداد شریف کوهیانو سره مخصوص کړیده کله چه هغوي اولیدل چه دبغداد په کویانو کښې ۳۰۰ دری سوه بوقونه زیاتې اوبه نشته نو په دې قول سره هم ټولې اوبه واویستل ثابت شو اودا چرته کیدې شی چه امام محمد رحمه الله علیه دټولې دنیا په کوهیانو باندې دیو مخصوص شمیر فتویٰ ورکوله! وحال داچه دفقهاء صحابه رضی الله عنهم دپلیتی په سبب سره دټولو اوبو راویستل یو جاری عمل وی لکه دحضرت عبدالله بن عباس اود عبدالله ابن الزبیر رضی الله عنهما ددې مخالف منقول دی دهغه علماؤ ډیره غټه غلطی ده چه داقول امام محمد رحمه الله علیه ته منسوب کړو اودټولې دنیا په ټولو کوهیانو باندې فتوی ورکوی حال دادې چه امام محمد رحمه الله علیه کوم ځای کښې دافتوی ورکړې ده نو په یو مخصوص شمار سره ئی دټولو اوبو راویستلو فتوی هم ورکړې ده لکه جه ثابته شوه (ازشامی) صحیح مسئله څۀ ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید جماعت علی شاه صاحب گیلانی مقام خاص مولی پور تحصیل کبیروالا ضلع ملتان

الجواب: صحیح حکم دادې چه دموجوده اوبو مقدار راوباسئ مثلاً که کوهې دری (۳) گزه ډوب وی اوپه یو فټ کښې شپیته (۶۰) بوقی اوبه وی نوچه کله د کوهی نه (۵۴۰) پنځه سوه څلویښت بوقې راوباسلې شی نوپاك بی شی دمقدار معلومولو دپاره چرته یو ماهر کس ته رجوع اوکړئ (۱) فقط

(۱) قال العلامه الحصکفی وان تعذر نزح کلها لکونها معینا فبقدر مافیها وقت ابتداء النزح قاله الحلبی یؤخذ ذلک بقول رجلین عدلین لهما بصارة بالماء وبه یفتیٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۵۷ جلد ۱ فصل فی البئر)...... وهاب

په حوض کښې د لس په لس والا شرط مفتی به نه دی

سوال: زمونږ په علاقه کښې دټیوب ویل په ذریعه سره واړه واړه تالابونه جوړکړې شوې دی چه هغه لس په لس والا مقدار نه کم دی اوټیوب ویل هر وخت جاری نه وی اوخلق ددې تالابونونه اوبه وړی نو آیا ددې اوبو په استعمال سره مونځ وغیره کیږی نه؟ دارنګې د لس په لس مقدار ماخذ دقران حدیث اوفقې نه دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد زمان سرائې نورنګ بنوں....۱۲۷شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: محققینو احنافو تصریح کړې ده چه داوبو دلږوالی اوډیر والې دارومدار پخپله هغې مسئلې کښې د اخته سړی په رائی باندې ده.د عشراً فی عشر باندې نه ده ﴿۱﴾ نو که ددی حوضونو متعلق داستعمال والو رائې داوی چه که دې کښې نجاست اوغورځیږی نود اودس کولو په وخت کښې سمدستی بل طرفته نه رسیږی نو دابیا غټ حوضونه دی اوکه داسې نه وی نو واړه دی وهو الموفق

د حوض په مقدار کښې مفتی به قولونه

سوال: محترم ومکرم عزیز القدر صاحب حضرت مفتی صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ په ملک کښې دحکومت دطرفه تالابونه منظور شوې دی چه په هغې کښې بعضی

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی رحمه الله: والمعتبر فی مقدار الراکد اکبر رأی المبتلیٰ به فیه فان غلب علی ظنه عدم خلوص ای وصول النجاسة الی الجانب الآخر جاز والا لا هذا ظاهر الروایة عن الامام والیه رجع محمد وهو الاصح کما فی الغایة وغیرها وحقق فی البحر انه وان التقدیر عشراً بعشر لا یرجع الی اصل یعتمد علیه. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۴۱ جلد ۱ باب المیاه) (ایضاً)

ګول دې لیکن دشرعی حدنه کم دی چه هغه عشراً فی عشر دې او اوبه دیو طرفته راځی اوتالاب کښې جمع کیږی او بل طرفته نه اوځی او خلق په بالټیو او ټیمانو سره دا اوبه دتالاب نه اوباسی نو که په دې تالاب کښې څه پلیتی او غورځیږی نودا تالاب به پاک وی که پلیت؟ اوددې حکم به (کالماء الجاری) وی که نه؟ څمونږ ځائی کښې بعضې مولایان وائی چه دا (عموم بلوی) ده او څوک ورته د (کالماء الجاری) حکم ورکوی دغه شان د (منیة المصلی) صفحه ۲۴ عبارت هم دې.

حوض صغیر یدخل الماء فیه من جانب ویخرج من جانب آخر فتوضأ فیه الانسان فوقعت غسالـه فیه ان کان الحوض اربعاً فی اربع یجوز وضوءه لان الماء المستعمل لایستقر فی مثلـه بل یدور حولـه ویخرج وان کـان الحوض اکبر من ذلک لا یجوز لان الماء المستعمل یستقر فی مثله،

ددې عبارت تشریح هم واضحه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټرسید غلام سرائې نورنګ ضلع وتحصیل بنوں...۱۹۶۹ء۵۱۷۱

الجواب: ﴿۱﴾ که ددې تالاب غټوالې دومره وی چه یو طرف کښې پلیتی غورځیدلو سره دویم طرفته دپلیتئ اثر رسیږی نو داتالاب (کالماء الجاری) نه دې اوپلیتیږی اوکه دنجاست اثر بل طرفته نه رسیږی نوبیا (کالماء الجاری) دې اود اوصافو د بدلون نه بغیر نه نجس کیږی اوهم داظاهر الروایة دې.

فی الدرالمختار: والمعتبر فی مقدار الراکد اکبر رأی المبتلیٰ به فیه فان غلب علی ظنه عدم خلوص النجاسة الی الجانب الاخر جاز والا فلا، هذا ظاهر الروایة عن الامام والیه رجع محمد وهو الاصح (هامش ردالمحتار ص۱۷۷ جلد۱)

اودا عشراً فی عشر قول داعتماد لائق نه دې.

لمافی الدرالمختار وان التقدیر بعشر فی عشر لا یرجع الی اصل یعتمد علیه ﴿۱﴾

اوکه بالفرض ددې مراد ثابت شی نو بیا ترې شرعی ګزونه مراد دی چه هغه نهه بنده دې نوپه دې وجه که په انګریزی ګزونو سره طول اوعرض ساتی

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۴۱ جلد ۱ باب المیاه)

نو داحوض غټ دي او (کالماء الجاری) هم دي.

(ای فی غیر ظاهر المذهب واختاره فی النهر الفائق)﴿۱﴾.

۲. په منیه کښې قاضی خان (ددې عبارت نه پس) داعبارت نقل دي.

والاصح ان هذا التقدیر غیر لازم فان خرج الماء المستعمل من ساعة لکثرة الماء وقوته یجوز والا فلا﴿۲﴾ قال العلامة الشامی ص ۱۷۶ جلد ۱ واقره الشارحان...... واجاب رکن الاسلام السغدی بالجواز مطلقاً لانه ماء جار والجاری یجوز التوضأ به وعلیه الفتویٰ﴿۳﴾

ددې عبارت نه معلومه شوه چه کوم حکم تادمنیه والا نقل کړې دې (غیر صحیح) او غیر مفتی به دې. فقط

د شرعی ګز اندازه اوتحقیق

سوال: علمائی دین دې مسئله باره کښې څه فرمائی چه په (منحة الخالق علی البحر الرائق ص ۱۳۹) کښې دشرعی ګز اندازه لیکلې شوې ده. والذراع اربعة وعشرون اصبعاً والاصبع ستة شعرات مرصوصة بالعرض،،

ددې عبارت نه معلومیږی چه داسې شکل کښې به کیښنودې شی (۱۱۱۱۱۱) بیایی لاندې لیکلې دی (فظهر شعرة منها الی بطن الاخریٰ توضع،، چه دهغې شکل څما په ذهن کښې داسې راځی (- - -) دشری ګزناپ داولنی شکل مطابق دې که ددویم شکل مطابق داولنی شکل په وجه باندې دشرعی ګزاندازه ډیره کمه راځی اوددویم شکل په وجهې سره د انګریزی ګز دو چنده جوړیږی ددې جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: شفیع اکبر ملک آباد علاقه ګدون..... ۱۵۱۷۱۱۹۸۲ء

الجواب: په سعایه وغیره کښې دی چه شرعی ګزه یونیم فټ دې. (وهو مختار صاحب

﴿۱﴾ (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۹۹ فصل فی احکام الحیاض)
﴿۲﴾ (وهکذا فی منحة الخالق هامش البحر الرائق ص ۷۳ جلد ۱ کتاب الطهارة)
﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۴۰ جلد ۱ مطلب لو ادخل الماء من اعلی الحوض وخرج الخ)

الهدایه والاکثرین، البته قاضی خان وغیره ددرې نیم فټو مقدار والا ګز معتبر کړیدې دې او صاحب د بزازیه د هرې زمانې اوعلاقې خپل مروجه عام ګز معتبر کړې دي ﴿۱﴾ (فلیر اجع الی ابواب المیاه.) وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن: واختلفوا فی تحدید الذراع علی ثلثة اقوال، الاول ان المعتبر ذراع الماسحة وهو سبع قبضات فوق کل قبضة اصبع ای الابهام قائمة (درے نیم فٹه ۴۲ انچه) افتیٰ به قاضی خان وغیره، والثانی ان المعتبر ذراع الکرباس وهو ست قبضات من دون قیام الاصبع (اتلس انچه یونیم فٹ) واختاره صاب الهدایه والاکثرون القول الثالث ان المعتبر ذراع کل زمان ومکان واختاره صاحب البزازیه.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۶۰ جلد ۱ باب ماجاء ان الماء لا ینجسه شئ)

الباب الرابع فی التیمم

فالج والا د خادم او نوکر په نه موجودګئ کښې تیمم کولې شي

سوال: علماء کرام په دې مسئلې کښې څه فرمائی چه زید په لاس، غوږ او سترګو سره بالکل روغ رمټ دې لیکن په خپو فالج وهلې دې چه ګرزیدې نه شي داسې په وخت کښې دننه داودس کولو انتظام نشی کولې ځکه چه پخپله داوبو تلاش نشی کولې اووخت هم تیرېږی که دې د تیمم په ذریعه سره مونځ ادا کړی نو دا جائز دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......۱۳۹۷ھ

الجواب: داسې دخادم او نوکرپه عدم موجودګئ کښې تیمم کولې شی.

کمافی شرح التنویر اولم یجد من یوضئه فان وجد ولو باجرة مثل وله ذلک لا یتیمم فی ظاهر المذهب کما فی البحر (هامش ردالمحتار ۲۱۵ جلد ۱) ﴿۱﴾ وبمعناه فی الهندیه ص۲۸ جلد ۱ ﴿۲﴾ وفتاویٰ دارالعلوم دیوبند ص ۲۴۴ جلد ۱ فلیراجع. وهو الموفق

د مرګی د مریض د پاره د غسل په ځای باندې د تیمم حکم

سوال: څه د مرګی مریض یم یو ځل مې دغسل اراده اوکړه نو دغسل په وخت

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱۷۱ جلد ۱ باب التیمم)

﴿۲﴾ وفی الهندیه او کان لا یجد من یوضیه ولا یقدر بنفسه فان وجد خادما او مایستأجربه اجیراً او عنده من لو استعان به اعانه فعلیٰ ظاهر المذهب انه لا یتیمم لانه قادر کذافی فتح القدیر. (عالمګیریه ص۲۸ جلد ۱ الباب الرابع فی التیمم الفصل الاول)

کښې راباندې دوره راغله او تندې می په تیره ګټه باندې اولګیدو او زخمی شو او تقریبا یو میاشت پورې زخم وو نو داسې حالت کښې به ماته دغسل نه کولو اجازت وی که نه غسل کول به ضروری وی؟ یا څه بله طریقه اوښایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمن بنوں..... ۱۲۰نومبر۱۹۷۴ء

الجواب: که اسانه وی نود صبا راختلو نه مخکښې غسل کوه او باقی مسئله داده که په غسل کولو سره دوره راتلل یقینی وی یا غالب ګمان وی نو بیا تیمم کولې شې.

کمافی الهندیه ص۲۸ جلد ۱ ویعرف ذلک الخوف اما بغلبة الظن عن امارة اوتجربة اواخبار طبیب حاذق مسلم غیر ظاهر الفسق کذا فی شرح منیة المصلی لابراهیم الحلبی﴿۱﴾. وهوالموفق

د اوبو ضرری کیدلو په وخت کښې تیمم جائز دی

سوال: یو سړې مخ لاس وینځی خله کښې اوبه اچوی استنجاء هم اوبو سره کوې اوبیا استنجاء اولاس وینځلو نه پس دمونځ دپاره تیمم کوی نو آیا داتیمم کیدی شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدامین فرتوپه اټک....۸/۱۱/۱۹۹۱ء

الجواب: که داسې بیمار وی غسل او اودس ده ته ضرر ورکوی نوده دپاره تیمم جائز دې ﴿۲﴾ وهوالموفق

اودس ماتیدلو سره جنابت د پاره کړی تیمم باندې څه اثر نه غورځیږی

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو سړې دجنابت دپاره

﴿۱﴾ (فتاویٰ هندیه ص۲۸ جلد ۱ باب التیمم الفصل الاول)

﴿۲﴾ فی الهندیه ولوکان یجد الماء الا انه مریض یخاف ان استعمل الماء اشتد مرضه او ابطأ برؤه تیمم...... ویعرف ذلک الخوف اما بغلبة الظن عن امارة او تجربة او اخبار طبیب حاذق مسلم غیر ظاهر الفسق.

(الفتاویٰ العالمګیریه ص ۲۸ جلد ۱ باب التیمم الفصل الاول)

تیمم اوکړی اوپه غسل باندې قادرنه وی اوبیا اودس مات شی نوآیا دجنابت دپاره به په دویم ځل تیمم کوې که هغه مخکښې کافی دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: ترځوپورې دغسل کولو عذر باقی وی نو دهغې پورې دجنابت دپاره دایو تیمم کافی دې اوچرته دغسل اوړیدلو باعث په دویم ځل راشی نوپه دویم ځل به تیمم ضروری وی البته داودس ماتیدلو په صورت کښې به باقاعده اودس کول پکار وی.

وفی الکبیری ص ۸۶ وان کان الماء یکفی للوضوء ولا یکفی للمعة یتوضأ به ولا ینتقض تیمم الجنابة لان الماء فی حق اللمعة کالمعدوم لعدم کفایته لها ﴿۱﴾. وهو الموفق

په یو لاس باندې دشل سړي اودس او تیمم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که دچا لاس نه وی نو دې سړې دپاره داوبو په عدم موجودګئ کښې تتمم فرض دې یانه؟ او که فرض وی نو تیمم به څنګه کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدشفیع موقوف علیه دارالعلوم حقانیه....یکم صفر ۱۴۱۱ھ

الجواب: یو لاس والا کس اودس هم کولې شی او تیمم هم کولې شې په یو (ضرب) دې مخ مسح کړی او لاس دې په خاورې وغیره پورې راکاږی اودغه شان دخادم په ذریعې سره هم اودس اوتیمم جائز دې.

فلیراجع الی ردالمحتار وغیره ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (غنیة المستملی ص ۸۳ فصل فی التیمم)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین رحمه الله (قوله کمافی البحر) حاصل مافیه انه ان وجد خادما ای من تلزمه طاعته کعبده وولده واجیره لا یتیمم اتفاقاً وان وجد غیره ممن لو استعان به اعانه ولوزوجته فظاهر المذهب انه لا یتیمم ایضاً الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۷۱ جلد ۱ باب التیمم)

وقال ایضا وفی التاتارخانیه الرجل المریض اذالم...... (باقی په بل مخ)

د خلقوپه مخکښې د عورت ښکاره کیدلو په وجه دغسل په ځای تیمم کول

سوال: که یو سړی داسی ځای کښې مقیم وی چه هلته دغسل انتظام نه وی مطلب داکه غسل کوی نو دخلقو په مخکښې دعورت ښکاره کیدلو پوره یقین دې نو داسی حالت کښې دا سړی په تیمم سره مونځ کولې شی یانه؟ اونور خلقو ته امامت کولې شي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: علی عباس خان مدرسه قاضی حسام الدین کوهاټ...یکم ذی الحجه ۱۳۹۷ھ

الجواب: که دخلقو په مخکښې دعورت ښکاره کیدلو نه بغیرغسل ممکن نه وی نوددې سړی په تیمم کښې اختلاف دې امام حلبی جواز طرفته مائل دې کمافی شرح الکبیر ص ۵۰ وبالجملة فلا ضرورة فی کشف العورة للغسل عندمن لا یجوز نظره الیها لان له خلفا بخلاف الختان ونحوه ﴿۱﴾ او زیات احتیاط په دې کښې دې چه امامت دې نه کوی اوکه امامت ئې کړې وی نود خط په ذریعې سره دې مقتدیانو ته دمونځ راګرځولو خبرورکړی.

کما فی شرح التنویر کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب بالقدر الممکن بلسانه او بکتاب او رسول علی الاصح لو معینین والا لا یلزمه وفی ردالمحتار ص ۵۵۴ جلد ۱ وقال ان تعین بعضهم لزمه اخباره ﴿۲﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) تکن له امرأة ولا امة وله ابن او اخ وهو لا یقدر علی الوضوء قال یوضئه ابنه او اخوه غیر الاستنجاء فانه لا یمس فرجه ویسقط عنه والمرأة المریضة اذالم یکن لها زوج وهی لاتقدر علی الوضوء ولها بنت او اخت توضئها ویسقط عنها الاستنجاء اه، ولا یخفیٰ ان هذالتفصیل یجری فیمن شلت یداه لانه فی حکم المریض.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۵۰ جلد ۱ باب الاستنجاء)

﴿۱﴾ (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۵۰ بحث الغسل)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۳۸ جلد ۱ مطلب المواضع التی تفسد صلاة الامام دون المؤتم)

د اوبو په یومیل کښې کم فاصله باندې تیمم صحیح نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ خلق ددوه (۲) غرونو نه اوني پريکوی او راوړی چه دکلی نه لرې دی بعضې علماؤ پخوا زمانه کښې په دې غربانډې جمات جوړکړې وو آبادغه ځاې په تیمم سره مونځ صحیح دې حال داچه ددې غرنه دمیل په دریمه حصه فاصله کښې څه آبادی هم شته لیکن هغوی ته هم داوبو تکلیف دې خلق ډیر لرې نه په سرونو باندې اوبه راوړی اودلرګوالا درې څلورسوه کسان جوړیږی چه هغوی ته اوبه ورکول دې کورونو والا دپاره ډیرګران دی نوآیا په داسې ځاې کښې تیمم سره مونځ کول صحیح دې؟اوحال داچه خلق خپلوخپلو کورنو ته په وخت رسیدې شی؟بینوا توجروا

المستفتی: میاں ګل میران شاه وزیرستان..... ۸۱۱۱ء۱۹۸۲

الجواب: کوم ځاې کښې چه په تیمم سره مونځ کولې شی که داځاې داوبو نه یو میل لرې وی (یعنې یو میل پورې داوبو نام ونشان نه وی اویا په کورونو کښې اوبه وې لیکن دبعضی عوارضو په وجه باندې ئې کورونو واله راتلونکو ته نشی ورکولې) نو دا راتلونکی خلق په تیمم سره مونځ کولې شی(۱) اګر که داکسان په وخت کښې دننه خپلو کورونو ته رسیدلې شی اوکه اوبه نزدې وی یادا کورونو والا خلق دوی ته اوبه ورکوی نو په تیمم سره مونځ کول صحیح نه دی (ماخوذ از کبیری وردالمحتار) وهو الموفق

---

(۱) قال العلامه حصکفی من عجز عن استعمال الماء المطلق الکافی لطهارته...... لبعده ولو مقیماً فی المصر میلاً، قال ابن عابدین (قوله ولومقیماً) لان الشرط هو العدم فاینما تحقق جاز التیمم نص علیه فی الاسرار بحر.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۷۰، ۱۷۱ باب التیمم)
(هکذا فی غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۶۴ باب التیمم)

الباب الخامس

فی المسح علی الخفین وغیرهما

په خپو باندې د مسحې د پاره د قرانی ایت نه د روافضو دلیل نیول غلط دی

سوال: علمائی دین دمفتیان شرعې متین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه شیعه حضرات دسورة المائده دپنځم او شپږم ایت په وجې سره په خپو باندې دمسحې دفرض کیدو قائل دی او په صرفی او نحوی ترکیب سره هم مسحه ثابتوی او غسل رجلین یعنی دخپو وینځلو ته دقران نه خلاف وائی او اعلان کوی چه سنی علماء ترقیامته پورې دغسل رجلین دثابت کولو نه عاجزدی نو هغه کوم نحوی اوصرفی ترکیب دې چه دهغې نه مونږ اهل سنت والجماعت دخپو وینځل ثابتوؤ دغه شان په نورو دلائلو اوبراهینو سره هم مختصر وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: اهل سنت والجماعة منډی بهاؤالدین ضلع ګجرات ۱۷۱۱۲۱ء۱۹۷۲

الجواب: اعلم ان ارجلکم معطوف علی المغسول دون الممسوح یدل علیه القرآن والحدیث والاجماع والعقل، اما الاول فهو قوله تعالیٰ الی الکعبین ولم یقل الی الساقین والکعب غایة الغسل دون المسح واما الثانی فهی الاحادیث المتواترة الواردة فی عمل الغسل وترغیب الغسل والوعید علی ترکه واما الثالث فلان الصحابة رضی الله عنهم حتی علیا وابن عباس ذهبوا الی وظیفة الغسل، واما الرابع فان الرجلین اقرب الیٰ محل الغبار والنجاسة بخلاف الرأس والعجب من اهل التشیع انهم لم یلتفتوا الی قرأة النصب

مع ان العطف بالنصب على المجرور لا يصح الا فی المجرور بالحرف الزائد فافهم وتدبر﴿۱﴾. (وانما كتبت الجواب بالعربية لانها مسئلة معضلة لا يفهمها العوام. فقط

د سفر په دروان کښې په موزو باندې مسح کولو کښې د صاحب هدایه په استدلال باندې د ابن الهمام کلام

۱۵ ربیع الاول ۱۴۰۹ھ

الجواب: ملخص استدلال صاحب الهداية ان كل مسافر يمسح ثلثة ايام فلا بد ان يكون مقدار السفر ثلاثة ايام والا فيصدق نقيض الكلية الاولى، اى بعض المسافرين لا يمسحون ثلاثة ايام فيلزم خلاف الحديث.

ملخص ايراد الامام ابن الهمام انه لو حمل هذا الحديث على الاطلاق لزم صدق نقيضه لان بعض المسافرين لا يمسحون ثلاثة ايام كما اذا بكر المسافر فی .

﴿۱﴾قال العلامه ابراهيم الحلبی: والارجل من بين الاعضاء الثلثه المغسولة تغسل يصب الماء عليها فكانت مظنة للاسراف المذموم المنهی عنه فعطف على الممسوح لا لتمسح ولكن لينبه على وجوب الاقتصاد فی صب الماء عليها وقيل الى الكعبين فجئ بالغاية اماطة لظن ظان يحسبها ممسوحة لان المسح لا تضرب له غاية فی الشريعة انتهىٰ وقد ثبت فی الصحيحين من رواية عبد الله بن عمر وابی هريرة رضی الله عنهما ان رسول اللهﷺ رأى قوما توضؤا واعقابهم تلوح لم يمسها الماء فقال ويل للاعقاب من النار وفی رواية لابی هريرة رضی الله عنه ويل للعواقيب من النار وفی صحيح مسلم عن جابر رضی الله عنه قال اخبرنی عمر بن الخطاب رضی الله عنه ان رجلاً توضأ فترک موضع ظفر على قدمه فابصره النبیﷺ فقال ارجع فاحسن وضوئک وعن عائشة رضی الله عنها لان تقطعا احب الى من ان امسح على القدمين من غير خفين وعن عطاء ماعلمت ان احداً من اصحاب رسو اللهﷺ مسح على القدمين فهذا اجماع من الصحابة على وجوب الغسل وهو يؤيد الاحاديث الصحيحة فلا عبرة بمن جوز المسح على القدمين من الشيعة ومن شذ (غنية المستملی المعروف بالكبيری ص ۱۵، ۱۶ شرائط الصلاة)

اليوم الاول الى وقت الزوال حتى بلغ المرحلة فنزل بها للاستراحة وبات فيها ثم بكر فی اليوم الثانی ومشى الى مابعدالزوال ونزل ثم بكر فی الثالث ومشى الى الزوال فبلغ المقصد، لانه مسافر عند النية كما صححه السرخسی ولا يمسح ثلاثة ايام، فلا بد من ان يحمل هذا الحديث على التقيد اى كل مسافر كان سفره ثلاثة ايام فصاعداً يمسح ثلاثة ايام، فلم يصح استدلال صاحب الهداية بهذا الحديث ويصح كون قدرالسفر اقل من ثلاثة ايام، وان اجابوا عن هذا الايراد بان بقية كل يوم ملحقة بالمنقضى منه فلا يلزم كون قدر سفر هذا المسافر اقل من ثلاثة ايام، فهذالجواب لا يدفع هذا الايراد لان بقية اليوم الثالث لاتصح الحاقها بالمنقضى لعدم السفر فيها حقيقة ولعدم رخصة السفر فيها، فالايراد وارد الآن كما كان اى لزوم كون بعض المسافرين لايمسحون ثلاثة ايام، وهذا لازم باطل لازم من كون المبكر المذكور مسافراً فالملزوم مثله، وبالجملة ان المبكر المذكور غير مسافر فلا يمسح ثلاثة ايام ولايقصر ايضاً فلايقصر مسافر يوم واحد وان قطع فيه مسيرة ايام.

ولا يبعد ان يجاب عن كلام ابن الهمام ان معنى الحديث ان كل مسافر اذا خلى وطبعه يمسح ثلاثة ايام مادام مسافراً، فجاز ان لايمسح ثلاثة ايام لمايعرضه كالعجلة فی السير، والمبكر المذكور لم يبق مسافراً فلذا لم يتمم اليوم الثالث فافهم ولا تعجل فی الرد والقبول. وهوالموفق

په جرابوباندې د مسح شرطونه

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نن صبا کومې د نائلون جرابې دی آیا په دې باندې داحنافو په نزد مسح جائز ده که نه؟ دلته

بعضي خلق په دي جرابو باندي په مسح جائز وائی چه داهل ظواهرو په شان دی آیا داصحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: بنده رحمن الدين ضلع ديرملاكنډ ډويژن

الجواب: د نائلون په جرابو باندي مسح كول جائزنه دی، ځکه چه په جرابو باندي دمسح دجواز دپاره داشرط دي چه داسي سختي اوغتي به وی چه صرف دا واغوندی نو دري ميله پوري په كښي تللي شي اوشليږی نه اوداشرط دي چه داواچوی او تړلونه بغير هم غورځيږی نه او كه دانه غورځيدل دتنګئ دوجي نه وی نو بیاهم مسحه كول جائز نه دی اودا شرط هم دي چه اوبه تری نه اوځی او څلورم شرط دادي چه دننه پکښي څه په نظر نه راځی یعنی چه سترګي پري اولګوي نو هم څه په نظر نه راځی.

یدل علیه مافی الدر المختار اوجوربیه ولو من غزل او شعر الثخینین بحیث یمشی فرسخا ویثبت علی الساق بنفسه ولایری ماتحته ولا یشف آه ﴿۱﴾ و فی الشرح الکبیر ص۱۰۸ وینبغی ان یقید بما اذالم یکن ضیقاً فانانشاهد مایکون منه فیق یستمسک علی الساق من غیر شد ولو کان من الکرباس انتهیٰ ﴿۲﴾

او خبر شئ چه دنيلون جرابي دتنګئ دوجي نه نه غورځيږی لهذا په كښي دويم شرط موجودنه دي او اوبه ترينه هم اوځی او چه دومره راكاږی څومره چه خپي ته د اچولو په وخت كښي وی نو دهغي نه بهر والاخيز هم په نظر راځی او دريم اوڅلورم شرط هم په كښي نشته لهذا په دي باندي مسحه كول دمذهب نه خلاف دی ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۶۹ جلد ۱ باب المسح علی الخفین)

﴿۲﴾ (غنیة المستملی ص۱۰۸ فصل فی المسح علی الخفین)

﴿۳﴾ قال ابن نجیم (قوله والجورب المجلد والمنعل والثخین ای یجوز المسح علی الجورب اذا کان مجلداً او منعلاً او ثخیناً...... والثخین ان یقوم علی الساق من غیر شد ولا یسقط ولا یشف وفی التبیین ولایریٰ ما تحته.
(البحر الرائق ص ۱۸۲ جلد ۱ باب المسح علی الخفین)

نائلون په جرابو مسح كول جائز نه دی

سوال: د نائلون په جرابو مسح جائز ده كه ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتی: بهادرسيد دروش چترال....۱۳صفر۱۳۹۷ھ

الجواب: ناجائز ده ﴿۱﴾ وهوالموفق

د مسح علی الجوربین مسئله

سوال: په موزو باندي خومسحه صحيح ده ليكن كومي جرابي چه دباړي (كارخانو) نه راوړلي كيږی او هغه اوبه هم راكاږی نوبغير عذر نه په دغسي جرابو باندي مسحه كول صحيح دی كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: حضرت مولانا فضل مولیٰ صاحب سابق شيخ الحديث بدارالعلوم حقانيه اكوړه خټك ۱۴ ربيع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: دمفتی به قول په بناباندي په جرابو مسحه كول جائز دی ليكن دجواز دپاره څه شرطونه دی چه په (درمختار باب المسح علی الخفين) كښي ليكلي شوي دی (منها ما ذكره (ای اشاراليه) المستفق) اودنائيلون په جرابو كښي داشرطونه نشته ﴿۲﴾ لهذا په دي باندي مسح جائز نه ده وهوالموفق

﴿۱﴾ خفین دڅرمني موزو ته وائی اودمسحي په جواز كښي اصل هم خفين دی، غير مدرك بالقياس په وجي سره دقياس تقاضا داده چه په غير څرمني والا موزوباندي دي مسح جائز نه وی ليكن داستحسان په بنا باندي هغه غير څرمني والاموزي چه په هغي كښي دخفين شرائط موجود وي په هغي به هم جائز وی او په نائيلون ياتار والا جرابو كښي دغه شرطونه نشته نو په هغي باندي به څنګه دخفين (څرمني والا موزي) پشان مسحه جائز شی (فافهم)

قال العلامه حصکفی او جوربیه ولو من غزل او شعر الثخینین بحیث یمشی فرسخا ویثبت علی الساق بنفسه ولایریٰ ما تحته ولایشف الا ان ینفذ الی الخف قدر الفرض. (الدر المختار ص۱۹۷ جلد ۱ باب مسح الخفین) ......(ازمرتب)

﴿۲﴾ **قال العلامه حصکفی اوجوربیه ولو من غزل او شعر...... (بقیه حاشیه په بل مخ)**

په فتاوی عالمګیري کښې د مسئله فرک المنی او مسح علی الجبائر په باره کښې تپوس

سوال: ﴿۱﴾ د فتاوی عالمګیری په تطهیر الانجاس کښې دی ومنها الفرک فی المنی، فرک الثوب، دفرک معنی ده جامه مږل او فرک عن الثوب څه ځیز دجامونه مږل او لرې کول نو دلاندینې عبارت نه مراد به جامې مږل او څنډل وی یا ګرول او مږل.

ومنها الفرک فی المنی، المنی اذا اصاب الثوب فان کان رطباً یجب غسله وان جف علی الثوب اجزأ فیه الفرک استحساناً(کذافی العنایه) (جلد ا ص ۴۴)،

نن صبا ددې مسئلې په حکم کښې څه تبدیلی خونه ده راغلې؟

(۲) په جلد اص ۳۵ المسح علی الجبائر کښې دی:

(الف) ویکتفی بالمسح علی اکثر الجبیرة (کذافی الهدایه) (ب) رجل باصبعه قرحة فادخل المرارة فی اصبعه او المرهم فجاوز موضع القرحة فتوضأ ومسح علیها جاز اذا استوعب المسح العصابة وکذا فی حق المفتصد وعلیه الفتوی

په دیکښې په جبیره (پټۍ) باندې د مسحې په باره کښې په اکثره جبیره باندې مسحې ته کافی وئیلې شوې دی مګر په عصابه کښې د استیعاب حکم دې دافرق ولې دې؟ که فرق دې دپاره وی چه جبیره دزخم نه زیاتی ځائې نیولې وی لهذا په هغې کښې په اکثر حصه باندې مسحه کافی ده او عصابه صرف په زخم باندې وی نو په هغې کښې استیعاب دې نو په مذکوره صورت کښې فادخل المرارة فی اصبعه والمرهم فجاوز..الخ) کښې په زیاتی ځائی باندې مراره ده په هغې کښې هم په اکثر مراره باندې مسحه کافی کیدل پکار دی وضاحت اوکړئ چه داپریشانی ختمه شی؟ بینو اتوجروا

المستفتی: محمدصادق ناظم مجلس منتظمه اشاعت فتاوی عالمګیریه سهګل جهلم... ۱۹۷۰ء/۵/۱۷

الجواب: (۱) فی ردالمحتار هو الحک بالید حتی یتفتت بحر (شامی ص ۲۲۸ جلد ۱) او مقصود منی لرې کول دی هرې طریقې سره چه وې (ب) ددلائلو او روایات

(بقیه حاشیه) الشخینین بحیث یمشی فرسخا ویثبت علی الساق بنفسه ولا یری ماتحته ولایشف. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۶۹ جلد ا باب المسح علی الخفین)

فقهیه ؤ په وجه باندې حکم کښې څۀ فرق نشته البته په درمختار کښې لیکلې شوې دی چه داستنجاء نه کولو په صورت کښې منی په فرک سره نشی پاکیدې ﴿۱﴾ (هامش ردالمحتار ص ۲۸۷ جلد ۱)(۲) استیعاب والا روایت مؤول دې یا مرجوح دې، یدل علی بعض المرادمافی ردالمحتار (ص ۲۵۹ جلد ۱)﴿۲﴾ وهوالموفق

په کومو شرطونو سره په جرابو باندې مسح جائزده؟

سوال: په جرابو باندې مسح جائز ده که نه؟ که جائز وی نو په کومو شرطونو سره؟ بعضې خلق په دې کښې جهګړه کوی او ماپه جرابو باندې مسح جائز وئیلې ده آیا داصحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: بشیراحمد حویلیان ایبټ آباد.... ۲۲/۱۲ذی الحجه ۱۳۸۸ھ

الجواب: که په جرابو کښې دا یوځو شرطونه وی نو په هغې باندې مسح جائز ده ګنی نوجائزنه ده (۱) داسی سختې اوغټې وی چه صرف هم هغه واچوې اودرې میله پورې لاړشې او اونه شلیږی (۲) که هغه واچوې اوپه پنډۍ باندې ئی اونه تړی اوبیاهم نه غورځیږی (۳) چه دهغې نه اوبه نه راوځی (۴) چه دننه تری نه څه په نظر نه راځی (۵) که دپنډۍ نه دتنګۍ په وجې سره نه غورځیږی هغه هم نا منظوردی داشرطونه په کبیری ﴿۳﴾ او په درمختار ﴿۴﴾

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی ان طهر رأس حشفة کأن کان مستنجیا بماء وفی المجتبیٰ اولج فنزع فانزل لم یطهر الا بغسله. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۲۸ جلد ا باب الانجاس)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: ویحتمل ان یکون مراد المصنف ان المسح یجب علی کل العصابة ولا یکفی علی اکثرها لکن ینافیه انه سیصرح بانه لا یشترط الاستیعاب فی الاصح فیتناقض کلامه وانه کان الاولیٰ حینئذ تعریف العصابة لان الغالب فی کل عند علم القرینة انها اذا دخلت علی منکر افادت استغراق الافراد واذا دخلت علی معرف افادت استغراق الاجزاء الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۵ جلد ا مطلب فی لفظ کل اذا دخلت علی منکر)

﴿۳﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۱۰۸ فصل فی المسح علی الخفین)

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۲۹ جلد ۱ باب المسح علی الخفین

وغیره کښې مذکوردی او واضحه دي وی چه دا شرطونه د نائلون په جرابو کښې بالکل نشته دي لهذا په هغې باندې هم مسحه جائزه نه ده.

په بوټ باندې مسح جائزده او مونځ پکښې قابل اعتراض دي

سوال: که بوټ دګیټونه بره وی یعنې ګیټئ پکښې پټې وی او بنه کلک ئی او تړې او څه شلیدلې ځائی پکښې هم نه وی نو آیا دې باندې مسح صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: طلامحمد خان ټل هنګو.... ۲۴/۷/۱۹۸۲ء

الجواب: مسح بریں پاپوش قابل اعتراض نیست، لیکن نماز دروے قابل اعتراض است یکے از وجہ نجاست، دوم از وجہ عدم وضع اصابع بر زمین (در حالت سجدہ) نہ حقیقتاً (کماهو واضح) و نہ حکماً از جهت ارتفاع و عدم تابع شدہ پیش طرف وے کہ مضبوط و سخت باشد کما اشار الیه القاری ﴿۲﴾. وهو الموفق

که په بوټ کښې شرطونه وی نو مسح او مونځ دواړه جائز دی

سوال: دابوټان چه د مضبوطې څرمنې نه جوړ شوې دی او ګیټوپورې رسی یعنې

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن: قال مشائخنا الیوم لا یصلی بالنعال فی المسجد لان دخول المسجد متنعلاً من سوء الادب فی العرف الحادث ولان تلویث المسجد بها واقع لا محالة ولان علة التنعل قد انتهت لان الیهود والنصاری فی زماننا یصلون فی النعال لا یخلعونها.

(ف) اعلم ان النعال اذا لم تکن مانعة من توجیه رؤس الاصابع الی القبلة فجاز الصلوٰة فیها والا فلا، کما یشیر الیه کلام القاری فی المرقاة، فالصلوٰة فی المداس الرائج الیوم لا یجوز اذا کان مقدمه مرتفعاً واسعاً بحیث لا یمتلأ باصابع القدم فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۷۸ جلد ۱ باب ماجاء فی الصلوٰة فی النعال)

په هغې کښې دننه وی او د سجدې په دوران کښې پکښې ګوتې هم خوزی نو آیا په دې باندې مسح او مونځ جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: متعلم دارالعلوم حقانیه.... ۱۱/۱۲/۱۹۸۷ء

الجواب: برین پاپوش (بوټان) مسح جائز است و نماز دروے درست است، لتحقق جمیع شرائط مسح علی الخفین والصلوٰة﴿۱﴾ هاں طهارت این پاپوش ضروری است. وهو الموفق

د نائلون په جرابو باندې د مسح کولو حکم

بعضې د نوې رڼا والا خلقو د طرفنه دا مسئله را اوچته شوه چه د موزو پشان د نائیلون په جرابو هم مسح جائز کیدل پکاردی نو اکابر علماؤ د فقهې او فتاوې په رڼا کښې د دې مسئلې شرعی حیثیت واضح کړو د حضرت مفتی اعظم دامت برکاتهم او علامه شمس الحق افغانی رحمه الله رائی او تحقیق فتوی ماهنامه الحق شائع کړې ده خو د خپل د اهمیت په بنیاد په دې فتاوی کښې هم شامل کولې شی (از مرتب)

فی الدرالمختار او جوربیه ولو من غزل او شعر الثخینین بحیث یمشی فرسخاً ویثبت علی الساق بنفسه ولایری ما تحته ولا یشف الخ، (حلبی کبیر ص ۱۲۱) وحد الجورب الثخینین ان یستمسک ای یثبت ولا ینسدل علی الساق من غیر ان یشد

﴿۱﴾ د مونځ د جواز حکم ځکه دې چه په دې کښې د سجدې په دوران کښې ګوتې برابر خوځی او د بوټ او ګوتو په مینځ کښې څه داسې سختی او خلا نشته چه د مونځ نه مانع اوګرځی (از مرتب) په منهاج السنن کښې دی.

اعلم ان النعال اذا لم تکن مانعة من توجیه رفع الاصابع الی القبلة فجاز الصلوٰة فیها والا فلا، کما یشیر الیه کلام القاری فی المراقاة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۷۸ جلد ۱ باب ماجاء فی الصلوٰة فی النعال)

بشي هكذا فسروه كلهم وينبغي ان يقيد بما اذا لم يكن ضيقا فانانشاهد ما يكون فيه ضيق يستمسك على الساق من غير شد ولو كان من الكرباس. انتهىٰ

د پورته عبارت نه معلومه شوه چه په جرابو باندې په یو څو شرطونو سره مسح کول جائزدی اول دا چه دومره غټې اوډبلې وی چه که یواځې جرابې واغوندې نو کم ازکم درې میله پکښې تلل اوشی اوترلې ئی هم نه وی اوبیا هم دېنډئ (زنګون) نه لاندې نه کوزیږی اودویم داچه سمدستی ترینه اوبه نه اوځی کماصرح بهذا القید فی الشرح الکبیرص ۱۰۸، دریم داچه دننه پکښې څه څیزپه نظر نه راځی یعنی که سترګې پرې او لګولې او اوګورې نو هم څه نه ښکاری څلورم دادېنډئ نه نه غورځیدل دتنګوالې په وجې سره نه وی.

د نائیلون جرابې چه څومره مونږ لیدلې دی په هغې کښې داشرطونه نشته ځکه چه په نائیلون کښې دربړ پشان دغوندیدلو او اوږدیدلو خاصیت موجود دې نود اغوستلو نه پس دهغې نهٔ غورځیدل دټینګیدلو او تنګئ د وجې نه دی اوکله کله د لږ مزل نه پس هغه دېنډئ نه غورځیږي ,, کمالایخفی علی من جرب،، اوکله چه دا جرابې داغوستلو په وخت کښې څومره راښکلې کیږی چه دهغې هومره راښکلې شی اوکتل پکښې اوکړې شی نوهرڅهٔ پکښې ښکاری او اوبه ترینه هم سمدستې اوځی اودتاڼ په جرابو کښې داسی نه وی نو په دې وجه باندې په دې مسح کول جائز نه دی او که د نائیلون داسې جرابې وی چه په هغې کښې داشرطونه موجود وی نو بیا به دمفتی به قول مطابق په هغې باندې مسح کول جائزوی هذاماعندی ولعل عندغیری احسن من هذا...

(محمدفرید عفی عنه)

د حضرت العلامه شمس الحق افغانی رحمه الله تحقیق اووضاحت

دثخینین په باره کښې د فقهې په کتابونو کښې (ردالمحتارص ۱۸۸ جلد ۱) عبارت د (ثخینین) لاندې اوګورئ!

بحیث یمشی فرسخاً ویثبت علی الساق بنفسه ولایری ما تحته ولا ینشف (الدر) وفی الرد وفی بعض الکتب ینشف وفسر فی الخانیه الاول بان لا یشف الجورب الماء الی نفسه کالادیم والصرم وفسر الثانی بان لا یجاوز الماء الی القدم وقال تحت بنفسه ای من غیر شد اه.

ددې عبارت نه معلومه شوه چه د (جواز مسح علی الثخینین) دپاره سختوالې ضروری دې چه هغه په درې خبرو سره راځی ﴿۱﴾ چه بغیر د څپلونه پکښې سړې شرعی درې (۳) میله یا دهغې نه زیات تللې شی ﴿۲﴾ دتړلو نه بغیر دېنډئ پورې انختې وی ﴿۳﴾ او که اوبه پرې واچولې شی نو دننه نه ځی.

دا درې واړه کارونه اوخاص طورسره دریم کار دنائیلون په جرابو کښې بالکل نشته لهذا مسح پرې صحیح نه ده اوپه دیکښې احتیاط ځکه هم ضروری دې چه په قران کښې (غسل الرجلین) راغلې چه قطعی حکم دې او د (مسح علی الخفین) حدیثونه متواتر یا مشهور دی نوددې وجې نه دتخصیص دپاره کافی دی صرف په (مسح علی الجوربین) کښې ځما په نزدداسې (صحیح السند) صریح الدلالة حدیثونه دشهرت په درجه کښې نشته او د (قیاس علی الخفین) دپاره دمضبوط مشاکلت اومشابهت ضرورت دې والله اعلم

(احقر شمس الحق افغانی بهاولپور)

....

الباب السادس

فی الحیض والنفاس

د حیض په حالت کښې د ښځې نه د پرتوګ دَ پاسه د فائدې اخستلو حکم

سوال: علمائی کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دحیض په حالت کښې دښځې نه دپرتوګ د پاسه دفائدې اخستلو حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم.....۱۲مارچ ۱۹۸۴ء

الجواب: چه کله حائل موجود وی نو ممنوع نه دی ﴿۱﴾ وهوالموفق

د حائضې د لاس خوراک خوړل جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دحائضې دلاسونو خوراک وغیره خوړل جائز دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سرفرازخان کرد کالا باغ میاں والی....۱۴۱۱۰۱ء۱۹۷۵

الجواب: دحائضې په لاسونو سره خوراک پخول او خوړل ټول جائز دی. لحدیث اصنعوا کل شئ الاالنکاح ﴿۲﴾ ولان نجاستها حکمیه. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله یعنی مابین سرة ورکبة) فیجوز الاستمتاع بالسرة ومافوقها والرکبة وماتحتها ولو بلا حائل وکذا بما بینهما بحائل بغیر الوطء. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۱۴ جلد ۱ مطلب فی حکم وطء المستحاضة)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص۵۶ جلد ۱ الفصل الاول باب الحیض)

که د زنانه دروژې په حالت کښې حیض شروع شو نو امساک به کوی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوې زنانه دپشمنی نه پس سحر یاعرمه کښې خپله بیماری (جامې، حیض) شروع شی نو دغه وخت نه خوراک څکاک جائزدی اوکه نه دماښام پورې به انتظار کوی؟

بینوا توجروا

المستفتی: فضل واحد باجوړایجنسی ۱۲شوال ۱۴۰۴ھ

الجواب: داسی حائضه به امساک کوی (شامی) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د حیض په حالت کښې داستغفار، درود شریف او تسبیحاتو وئیلو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زنانه دحیض اونفاس په دوران کښې تلاوت خونشی کولې خو (سبحان الله، الحمدلله،استغفار، درود شریف او نورذکرونه وئیلې شی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل واحد پشه سالارزی باجوړ....۱۱جولائی۱۹۸۴ء

الجواب: داکلمات وئیل جائزدی (شرح التنویر) ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین:(قوله کمسافر اقام وحائض)......والاصل فی هذه المسائل ان کل من صار فی آخر النهار بصفة لو کان فی اول النهار علیها للزمه الصوم فعلیه الامساک......وکذا کل من وجب علیه الصوم لوجود سبب الوجوب والاهلیة ثم تعذر علیه المضی ...... فانه یجب علیه الامساک الخ. (ردالمحتار علی هامش الدرالمختار ص ۱۱۶ جلد۲ مطلب فی جواز الافطار بالتحری کتاب الصوم)

﴿۲﴾ قال الحصکفی (ولاباس) لحائض وجنب (بقراءة ادعیة ومسها وحملها وذکر الله تعالیٰ وتسبیح).

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۱۵ جلد ۱ باب الحیض)

د حیض د بندیدلو او حمل نه کیدلو دوایانو استعمالولو په صورت کښې د طهر د ورځو حکم

سوال: زید دبچونه پیدا کیدلو په وجه سره دوائی استعمالوی آیا داجائز دی که نه؟ اودغه شان دحیض بندؤلو دپاره ګولی هم ورکوی نود طهادت حکم به وی که دحیض؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ۱۱۹مارچ۱۹۸۴ء

الجواب: دصحیح نیت اومقصدپه بنیاد داسې کول جائز دی ﴿۱﴾ لکه څنګه چه عزل وغیره جائزدی﴿۲﴾ اودحیض بندولو په وخت کښې به دطهر (پاکئ) احکام جاری کیږی.﴿۳﴾ وهوالموفق

د حیض بندولو د پاره علاج کول جائزدی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه بعضې زنانه داغواړی چه په رمضان شریف کښې ټولې روژې اونیسی او دحج په ورځو کښې دحج په

﴿۱﴾ مثلاً دښځې ئی داسې بیماری وی چه دهغې په وجه باندې دماشومانو راوړلو قابله نه وی اوکه ښځه ئی صحتمنده وی بیماره نه وی نو بیا به دعارضی وقفې هم اجازت نه وی ځکه چه په دې سره دمسلمانانو افرادی قوت ته نقصان رسیږي چه دهغې اجازت هیچرې نشی ورکولې (سیف الله حقانی)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین الشامی (قوله ویکره ان تسقی لاسقاط حملها وجاز لعذر) کالمرضعة اذا ظهر بها الحبل وانقطع لبنها ولیس لابی الصبی مایستاجر به الظئر ویخاف هلاک الولد قالوا یباح لها ان تعالج فی استنزال الدم مادام الحمل مضغة او علقة ولم یخلق له عضو وقدروا تلک المدة بمائة وعشرین یوماً وجاز لانه لیس بآدمی وفیه صیانة الآدمی خانیه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۰۴، ۳۰۵ جلد ۶ کتاب الحظر والاباحة باب البیوع)

﴿۳﴾ وفی الهندیه لا یثبت حکم کل منها الا بخروج الدم وظهوره وهذا هو ظاهر مذهب اصحابنا وعلیه عامة مشایخنا وعلیه الفتویٰ وهکذا فی المحیط.
(فتاویٰ هندیه ص۳۸ جلد ۱ فصل فی احکام الحیض والنفاس والاستحاضة)

احکاماتو طواف وغیره کښې هم کمی رانشی ددې مقصد دپاره دانګریزی علاج ټیکه (انجکشن) وهی چه دهغې په وجې سره ئی حیض دمقرر شوي وخت پورې بندشی نوزید ایم بی بی ایس ډاکټر هم دې هغه وائی چه داعلاج مکمل طور سره اثرکونکې دې اوددغې انجکشن لګولو سره حیض دڅۀ مودې دپاره اودریږی نو دشریعت په رڼاکښې داسی کار کول جائزدې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدمشتاق احمد صوبائی اسمبلی خیبررودپشاور...۱۹۹۱ء۱۵۱۲

الجواب: دحیض بندولو یاشروع کولو دپاره علاج کول مباح دی نه مطلوب شرعی دی اونه ممنوع شرعی دی یدل علیه ﴿۱﴾

د نفاس په موده کښې استحاض راتلل

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه دیوې زنانه ماشوم پیداشو نود ۲۸ ورځوپورې ئی وینه راغلې وه یعنی جاری وه بیا دیارلس (۱۳) ورځې بنده شوه بیاپه خوارلسمه (۱۴) ورځ جاری شوه اوس به ددې زنانه نفاس څوورځې وی او دحیض به څه حکم وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمن مروت کرک.....۱۲۱ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: خبرشه په حیض اونفاس کښې پرله پسې والې ناممکن دې لکه چه ددوو (۲) حیضونو په مینځ کښې پرله پسې والې ناممکن دې په مینځ کښې یې کم نه کم پنځلس (۱۵) ورځې وقفه ضروری ده ﴿۱﴾ (شامی، بحر) نوکه په

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: قال فی السراج سئل بعض المشائخ عن المرضعة اذا لم ترحیضا فعالجته حتی رءت صفرة فی ایام الحیض قال هو حیض تنقضی به العدة.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۰۲ جلد ۱ باب العدة)

﴿۲﴾ قال الحصکفی واقل الطهر بین الحیضتین او النفاس والحیض خمسة عشر یوماً ولیالیها اجماعاً ولاحد لاکثره.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۲۰۹ جلد ۱ مبحث فی مسائل المتحیره باب الحیض)

دې صورت کښې دا زمانه عادت والانه وی (۲۸+۱۲-۴۰) ورځې دهغې نفاس دې او روستو موده دطهر زمانه ده اوداوينه داستحاض ده ﴿۲﴾ اود عادت نه کيدلو په وجه باندې به د طهر زمانه پنځلس ورځې وی. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدين اذا وقع فی المبتدأة ...... ونفاسها اربعون ثم عشرون طهرها اذ لا يتوالى نفاس وحيض ثم عشرة حيضها ...... خلافا لما فی الامداد من ان طهرها خمسة عشر والمعتادة ترد الیٰ عادتها فی الطهر ...... وهذا على قول الميدانی الذی عليه الاكثر.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۱ مبحث فی مسائل المتحيره باب الحيض)

الباب السابع فی الانجاس

د جنابت، حيض اونفاس د پاره دطهارت حکميه يعنی تيمم حکم

سوال: آيا د جنابت، حيض او نفاس دپاره هم طهارت حکميه يعنی تيمم جائزدې؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد خطيب نورانی مسجد فرنتيير کالونی کراچی نمبر ۱۲... صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: طهارت حکميه يعنی تيمم دحديث اصغر، حديث اکبر، حيض اونفاس ټولو دپاره جائزدې هرکله چه ئی په طهارت حقيقيه (غسل اواودس) باندې قدرت نه وی. ﴿۱﴾

صرح به فی جميع كتب الفروع لاحاجة الى نقل عبارات الفقهاء. وهو الموفق

د مذی وتلو نه دَ بچ کيدلو تدبير

سوال: کله کله بې اختياره دفاسد خيالونو راتلو سره دمشانې نه مذی راوځی اوسره دکوشش نه هم په مونځ کښې داسی صورت پيداکيږی نو آيا مونځ به صحيح وی؟ بينوا توجروا

المستفتی: ممتازاحمد پشاور... ۱۹۸۶ء۱۱/۲۱

الجواب: داسې دی داستنجاء اود اودس کولو په وخت کښې په آله تناسل (اندام مخصوص) باندې يو پټئ (يونيم انچ پلنه شپږانچ اوږده) معمولی شان اوتړی چه دتکليف نه محفوظ شی ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحصكفی: من عجز (مبتدا خبره) تيمم عن استعمال الماء المطلق الكافی لطهارته. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۱۷۰ جلد ۱ باب التيمم)

﴿۲﴾وفی الهنديه: اذا خاف الرجل خروج البول فحشا احليله بقطنه ولولا القطنة يخرج من البول فلا بأس به ولا ينتقض وضوءه حتى يظهر البول على القطنة كذافی فتاویٰ قاضی خان.
(فتاویٰ هنديه ص ۱۰ جلد ۱ باب الوضوء فصل نواقض الوضوء)

په وینه ګنده شوي پلستر سره د عذر په وجې مونځ کول صحیح دی

سوال: داحقر خپه داکسیډنټ په وجه باندې دګیټونه بره پورې ماته شوې وه، بیائی زهٔ په خیبر هسپتال کښې داخل کړم لیکن وینه بالکل نه وه بنکاره شوې نو بنده به په تیمم سره په ناستې مونځ کولو بیا په خپه کښې څه فرق راغې نو ماته ئی نشه راکړه اوخپه کښې ئی راته دستیلو میخ اولګولو اوپلسترئی کړه او بنه کافی وینه هم اووتله چه پلستر سره اونختله نوبنده په وینې سره دګنده شوی پلستر دوجې نه دمونځ کولو نه معذورشو اوس عرض دادې چه دغه شان کوم مونځونه زمانه قضاء شوې وی نو هغه به جوړیدو او پلستر لرې کولو نه پس قضاء راګرځوم اوکه نه هم دغه شان ئې ددې پلسترسره کوم؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالواسع بلی ټنګ کوهاټ... ۱۲۱ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دپلستر اوپټئ سره چه کوم نجاست ونښلی هغه معاف دې ځکه چه دهغې وینځل ناممکن یاتکلیف والا دی باقاعده مونځ کولې شي. (۱) وهو الموفق

په جاری اوبو کښې دنجاست ملاویدلو حکم

سوال: چہ مے فرمایند علماء دین دریں مسئلہ کہ جوئے آب جاری باشد، وبرائے ویں جوئے دیگر ناپاک یعنی بول خلط شدہ باشد، چہ حکم دارند۔ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی سعد الرحمٰن علی زئی کوہاٹ......۶/صفر ۱۴۰۳ھ

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین فان ضره الحل و الغسل مسح الکل تبعاً والا فلا بل یغسل ماحول الجراحة ویمسح علیها لا علی الخرقة ما لم یضره مسحها فیمسح علی الخرقة التی علیها ویغسل حوالیها وما تحت الخرقة الزائدة لان الثابت بالضرورة یتقدر بقدرها کما اوضحه فی البحر عن المحیط والفتح.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۵ جلد ۱ قبیل باب الحیض) ...... وهاب

الجواب: اگربعد ازاختلاط وآمیزش آب جوی جاری متغیرشود یعنی درین آب رنگ یا طعم یا بوئې نجاست ظاهرشد، پس این جوئی نجس باشد ورنه نجس نباشد ﴿۱﴾ (هدایه، شامی، بحر، هندیه)۔ وهو الموفق

د نابالغه ماشومانوپه اطلاع باندې به په اوبو د نجاست حکم نشی لګولې

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو کوهی کښې یو ناپاکه ټپوس اوغورځیدو تقریباً شل (۲۰) ورځې پس وړو هلکانو اقرار اوکړو چه داټپوس مونږ غورزولې وو نواوس به ددې کوهی داوبو څهٔ حکم وی اوکوم ځیزونه چه په دې سره وینځلې شوې دی اوکوم مونځونه وغیره چه په دې سره شوې دی دهغې به څهٔ حکم وی؟ راګرځول ئی لازمی دی که نه اودځومره ورځو اعاده به کول وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: احسان الله هزاروی متعلم دار العلوم حقانیه ۱۸ دسمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: دنابالغه بچو خبر ورکول نامنظور دی لهذا داوبه به دهغه وخت نه ناپاکه ګڼړلې کیږی ﴿۲﴾ دکوم وخت نه چه ئی پته اولګی.

کمافی احکام الصغار الصبی اوالمعتوه اذا اخبر بنجاسة الماء لا تثبت النجاسة بقوله لانه لقلة عقله قد یکذب فلا یترجح صدقه علی کذبه (هامش جامع الفصولین ص ۱۴۳ جلد ۱) ﴿۳﴾. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی وبتغیر احد اوصافه من لون او طعم اوریح ینجس الکثیر ولو جاریاً اجماعاً. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۳۶ جلد ۱ باب المیاه)
﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی ومذ ثلاثة ایام بلیالیها ان انتفخ او تفسخ استحسانا وقال من وقت العلم فلا یلز مهم شئ قبله قیل وبه یفتیٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۶۱ جلد ۱ مطلب فی تعریف الاستحسان)
﴿۳﴾ وفی الهندیه: ولو کان المخبر بنجاسة الماء صبیا او معتوهاً یعقلان ما یقولان فالاصح ان خبرهما فی هذا کخبر الذمی (ای لا یقبل) لانه لیس لهما ولایة الالزام هکذا فی فتاویٰ قاضی خان. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۳۰۹ جلد ۵ الباب الاول فی العمل بخبر الواحد)

د ناپاکه تیلو د پاکولو طریقه

سوال: دشرشمو دتیلو ټیم دي چه په هغې کښې به تقریبالس (۱۰) سیره تیل وی په یو ټیم کښې منږک (چوها) اوموندلې شو نو آیا اوس داتیل پاک دی که ناپاک؟ اوپه خپله ئې استعمالولې شو که نه؟ اودپاکولو طریقه ئې څه ده؟

بینوا توجروا

المستفتی: مختاراحمد شوګرملزچارسده....۱۴جمادی الثانی ۱۴۱۱ھ

الجواب: ته داتیل یا غوړی په اته سیره ګرامو اوبو کښې واچوه اوهغې اوبو ته حرکت ورکړه کله چه ښه په قلار شی نو یو بل لوښی ته تری نه داتیل یاغوړی واړوه چه په هغې کښې هم تقریبااته (۸) سیره ګرمې اوبه وی او چه دحرکت ورکولو نه پس په آرام شی نو په بل کښې دغه شان دری (۳) ځلې دې کولو سره په داتیل اوغوړی پاک اوحلال شی (شامی) ﴿۱﴾ وهوالموفق

د حلال څناورو د متیازو او سوټو اود چرګې د بولو (غلو) حکم

سوال: ټول حلال څناور اودکومو چه مونږ غوښې خورو دهغې متیازې غُل وغیره دچاپه جامویابدن باندې اولګی نو دا غلاظت خفیفه دې که غلیظه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام محمد ډهوک منجوکاجټ کیملپور....۱۹۷۲ء۱۲۱۸

الجواب: (۱) دکوموڅناوروغوښه چه حلاله ده دهغوی متیازې نجاست خفیفه دې (کما فی الهدایه والدرالمختار) ﴿ ۲ ﴾ اوپه سوټو کښې اختلاف دې.

﴿۱﴾ قال ابن عابدین ولو تنجس ...... الدهن یصب علیه الماء فیغلی فیعلوا الدهن الماء فیرفع بشئ هکذا ثلاث مرات، اه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۴۵ جلد ۱ مطلب فی تطهیر الدهن والعسل)(ومثله فی الطحطاوی ص ۱۶۰ باب الانجاس)

﴿۲﴾ قال العلامه حصکفی من نجاسة مخففة کبول مأکول ومنه الفرس وطهره محمد. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲۳۵ جلد ۱ باب الانجاس)

دامام ابو حنیفه رحمه الله علیه په نزدباندې نجاست غلیظه دی لیکن دعموم بلوٰی دوجې نه نجاست خفیفه کیدل زیات مناسب دی﴿۱﴾ اوپه دی هم پوهه شی چه په نجاست غلیظه کښې هم دلاس دَتلی په اندازې سره معاف دی اوپه خفیفه .کښې د څلورمې حصې نه کم معاف دی﴿۲﴾.(۲) دچرګانو غل نجاست غلیظه دی ﴿۳﴾ وهوالموفق

دسلس البول د مریض د پاره چه کله ګران وی نو جامې وینځل یې ضروری نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دسلس البول مریض خوبه دهر مونځ دپاره نوې اودس کوی لیکن دجامو سره به څهٔ کوی دهغې دبدلولو ضرورت شته که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود کوهاټی تیراه.....۱۹۷۲ء۱۳۱۵۱

الجواب: که ګرانه نه وی نو جامې به وینځی او که ګرانه وی مثلاً دمونځ ختمولو نه مخکښې ئی جامې بیا پلیتیږی نو وینځل ئی ضروری نه دی﴿۴﴾ (شامی ص۲۸۲ جلد۱) وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین:(قوله وطهر هما محمد آخراً ای فی آخر امره حین دخل الری مع الخلیفة ورأی بلوی الناس من امتلاء الطرق و الخانات بها وقاس المشائخ علی قوله هذا طین بخاریٰ. (قوله وبه قال مالک) فیه انه یقول ماا کل لحمه فبوله ورجیعه طاهر فقط فلا یقول بطهارة روث الحمار.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۳۵ جلد ۱ باب الانجاس)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی: وعفاالشارع عن قدر درهم وان کره تحریما فیجب...... ونجاسة خفیفة ...... وعفی دون ربع جمیع بدن وثوب الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۳۱،۲۳۵ جلد ۱ باب الانجاس)

﴿۳﴾ قال العلامه الحصکفی: وخمر ...... وخرء کل طیر لا یذرق فی الهواء کبط اهلی ودجاج. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۳۴ جلد ۱ باب الانجاس)

﴿۴﴾ قال العلامه الحصکفی: وان سال علی ثوبه فوق الدرهم جازله ان لا یغسله ان کان لوغسله تنجس قبل الفراغ منها ای الصلاة والایتنجس قبل فراغه فلا یجوزترک غسله هو المختار للفتویٰ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۲۴ جلد ۱ مطلب فی احکام المعذور)

که په خټه کښې اوبه یا خاوره پلیته وی نو د مفتیٰ به قول مطابق خټهٔ به پاکه وی

سوال: دقاضی خان په صفحه ۱۳ کښې دی.

التراب الطاهر اذا جعل طینا بالماء النجس او علی العکس الصحیح ان الطین نجس ایما کان نجسا(نور الکشور)اوپه بنایه جلد اول ص ۴۵۷ نور الکشور کی دی: ان الماء والتراب اذا اختلطا وصار طیناً واحد هما نجس فقیل العبرة فیه للماء وقیل للتراب وقیل للغالب وقیل ایهما کان طاهراً فالمطین طاهر وبه قال الاکثر وقیل ان کان نجسین فالطین طاهر لانه صار شیأ آخر کالخمر الخ،

په دې دواړو کښې راجح قول کوم یو دې طهارت طین که نجاست طین (خټه) صحیح جواب سره د حوالونه اولیکئ اوددواړو جهانو اجر حاصل کړئ؟

بینوا توجروا

المستفتی:مولوی محمدیوسف وانډه سیمولکی مروت.... ۱۹۷۰ء

الجواب: دامختلف فیه مسئله ده قاضی خان او ابو اللیث سمر قندی، شارح المنیة او صاحب المحیط خودیته ترجیح ورکړې ده چه په دې دواړو څیزونو کښې کوم یو هم ناپاک وی نو ټول به پلیت وی ﴿۱﴾ اوالدرالمختار والا داخبره غوره کړې ده چه کله دواړه پلیت نه وی نو مخلوط به پاک وئ.

وقال الشامی هذا ما علیه الاکثر فتح وهو قول محمد والفتویٰ علیه بزازیه فلیراجع الی ردالمحتار (ص ۳۳۴ جلد ۱)

نو بس هم دیته مفتیٰ به قول وئیلې شوې دې﴿۲﴾ نو دیته به ترجیح ورکولې شی اګر چه په هغه بل کښې احتیاط موجود دې فقط

﴿۱﴾ قال العلامه ابراهیم الحلبی: الماء والتراب اذا اختلطا و کان احدهما نجساً فالطین الحاصل منها نجس لان اختلاط النجس بالطاهر ینجسه هذا هو الصحیح کما ذکره قاضی خان وهو اختیار الفقیه ابی اللیث و کذا روی عن ابی یوسف ذکره فی الخلاصه.

(غنیة المستملی ص ۱۸۶ فصل فی الأسار)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی: رطوبة الفرج طاهرة خلافالهما العبرة للطاهر من تراب او ماء اختلطا به یفتیٰ، قال ابن عابدین هذا ماعلیه الاکثر فتح وهو قول محمد والفتویٰ علیه بزازیه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۵۷ جلد ۱ قبیل کتاب الصلاة)

چه د خاورو تیل په جامو اولګې نودمونځ کولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا دخاورو تیل پاک دی؟ که داپه جامو اولګی نو دغه حالت کښې دمونځ کولو څه حکم دې؟

بینوا توجروا

المستفتی: محمدعبدالرحیم عزیرموضع مولې پورکبیروالا ملتان...۱۹۲۹ء۱۹۱۳۱

الجواب: بغیرد څه اختلاف نه بالکل پاک دی لیکن بوئی دار دی نو جماعت ته داسې جامو کښې تلل اومونځ کول مکروه دی ﴿۱﴾ (کبیری ص ۶۶۳) وهوالموفق

که په مرغئ یا ماشوم باندې ګندګې وی اوپه مونځ ګذار باندې کینې نو مونځ نه فاسد یږی

سوال: په یو کتاب کښې ئی د(مراقی الفلاح) په سند سره لیکلې دی چه دمونځ ګذار په غیږ یا په شا باندې ماشوم یا مرغې کینی چه په هغه باندې دفساد په مقدار نجاست لګیدلې وی نو مونځ ئی کیږی آیا داصحیح دی؟

بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیق شاه اسماعیل شهید روډ راوالپنډی....۱۹۲۹ء۱۱۱۲۱

الجواب: داجزئیه صحیح ده په فتاوی کښې لیکلې شوې ده ﴿۱﴾ تائید کښې ئی حدیث هم موجود دې ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدین الشامی (قوله واکل نحوثوم ویمنع منه) ای کبصل ونحوه مما له رائحة کریهة للحدیث الصحیح فی النهی عن قربان آکل الثوم والبصل المسجد الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۹ جلد ۱ مطلب فی الغرس فی المسجد)

وقال العلامه ابراهیم الحلبی: الاول فیما تصان عنه المساجد یجب ان تصان عن ادخال الرائحة الکریهة لقوله علیه السلام من اکل الثوم والبصل والکراث فلا یقربن مسجدنا فان الملائکة تتأذی مما یتأذی منه بنو آدم متفق علیه .(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۵۶۲ فصل فی احکام المسجد)

﴿۲﴾ قال العلامه الشرنبلالی: وجلوس صغیر یستمسک فی حجر المصلی وطیر متنجس علی رأسه لا یبطل الصلاة اذالم تنفصل منه نجاسة. (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص ۱۱۳ باب شروط الصلاة وارکانها) (وهکذافی الهندیه ص ۶۳ جلد ۱ قبیل فصل استقبال القبلة

﴿۳﴾ عن ابی قتاده الانصاری ان رسول الله ﷺ کان......(بقیه حاشیه په بل مخ)

د جناح کیپ د څرمنی مسئله

سوال: جناح کیپ یا قراقلی چه د کومې څرمنی نه جوړیږی دهغې بهترینه څرمن دهغې ګډې د بچې نه جوړیږی چه دمور په خیټه کښې وی او دویم قسم څرمن دذبح کولو نه پس حاصلیږی آیا داعمل صحیح دې چه صرف دخپل شوق دپاره موراو بچې ذبح کړی شی نو داظلم نه دې؟ او که داسې کس امامت کوی نو دهغه اقتداء به صحیح وی؟ دغه شان ددې نسل کشئ دجواز او نه جواز حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: معاویه رسول خان کیمل پور روډ پاکستان کراچی...۱۴\۱۱\۱۴۰۷ھ

الجواب: خبرشه چه دمردار ځناور څرمن داوچیدلو نه پس پاکیږی ﴿۱﴾ (حدیث وفقه) او ګډه دبچی سره ذبح کول ممنوع شرعی نه دی نو داسی کار کول دتقویٰ نه خلاف نه دی البته دزړه دسختې باعث ضرور دی چه دا امامت ته ضرر نه رسوی. وهوالموفق

د جنب خوله پلیته نه ده

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو جنب سړې استنجاء

(بقیه حاشیه) یصلی وهو حامل امامة بنت زینب بنت رسول الله ﷺ ولابی العاص ابن ربیعة بن عبد شمس فاذاسجد وضعها واذا قام حملها. (صحیح البخاری ص ۷۴ جلد ۱ باب اذا حمل جاریة صغیرة علی عنقه فی الصلوٰة کتاب الصلوٰة)

﴿۱﴾ عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ایما اهاب دبغ فقد طهر، (الجامع الترمذی ص ۳۰۳ جلد ۱ باب ماجاء فی جلود المیتة اذا دبغت)

وقال العلامه ابراهیم الحلبی: وکل اهاب دبغ فقد طهر...... جازت الصلوٰة معه ملبوساً او مفروشا او محمولا الا جلد الخنزیر لنجاسة عینه. (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۱۵۱ باب الانجاس)

کوی او په بدن باندې ئی څۀ ښکاره پلیتی نه وی نو ددې سړې خوله پاکه ده. که ناپاکه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام حبیب اکبرپوره نوشهره...۱۵\فروری ۱۹۸۹ء

الجواب: دجنبی خوله پلیته نه ده لهذا دې سره جامې نه پلیتږی.

قال فی الدرالمختار فسور آدمی مطلقاً ولو جنبا او کافراً وحکم عرق کسؤر ﴿۱﴾. وهوالموفق

مصنوعی خاوره پاکه ده

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مصنوعی خاوره دشریعت په رڼا کښې پاکه ده که ناپاکه؟ چه داپه زمکه واچولې شی نو هلته مونځ کیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد خورشید رسالپور ګنډیری نوشهره...۱۸ربیع الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: مصنوعی خاوره پاکه ده لتبدل الذات ﴿۲﴾ وهوالموفق

په وینه ګنده شوې نو ټونو سره مونځ اداکول

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو امام په جیب کښې روپې وی چه په وینو ګنده وی او خلقو ته مونځ هم ورکوی نو امام مونځ خو اونه شو نو امام به ټولو خلقوته اطلاع ورکوی او که صرف امام به قضاء راوړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: رحمت نبی ډاک اسماعیل خیل نوشهره یکم ذی الحجه ۱۳۸۹ھ

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۶۳ جلد ۱ مطلب فی السئور)

﴿۲﴾ قال العلامه ابراهیم الحلبی: واکثر المشائخ اختار واقول محمد رحمه الله وعلیه الفتویٰ لان الشرع رتب وصف النجاسة علی تلک الحقیقة وقد زالت بالکلیة، فان الملح غیر العظم واللحم فاذا صارت الحقیة ملحا ترتب علیه حکم الملح ...... وعلی قول محمد فرعوا طهارة صابون صنع من دهن نجس وعلیه یفرع مالو وقع انسان وکلب فی قدر الصابون فصار صابونا یکون طاهراً لتبدل الحقیقة. (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۱۸۶ فصل فی الاسار).

الجواب: که وینه دتلی دپلنوالی نه زیاته نه وی نو دامعاف ده ﴿۱﴾ او دمونځ د راګرځولو حکم په چاباندې هم نشته او که زیاته وی نو صرف په امام باندې اعاده ضروری ده که نورخلقو ته معلومه وی نو اعاده دی او کړی او که معلومه نه وی نو دامام شافعی رحمه الله په قول باندې به فتوی ورکولې شی او اعادې اعلان به ضروری نه ﴿۲﴾ هکذا فی الفتاوی.

د جنابت په حالت کښې خوراک څکاک او ګرزیدل وغیره جائزدی

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې جنب شو داوبو دموجودګې باوجود نه اودس کوی اونه تیمم نودهغه دپاره اوده کیدل، روټی خوړل اوبه څکل سلام اچول یا اخستل یا ګرزیدل وغیره ترکوم حد پورې جائز دی حرام دی که مکروه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فقیرمحمد معصوم سرائې نورنګ بنوں.... ۱۹۷۷ء\۱۸\۱۰

الجواب: دجنابت په حالت کښې اوده کیدل خوراک څښاک ګرزیدل سلام اچول

﴿۱﴾ وفی الهندیه: (النجاسة) المغلظة وعفی منها قدر الدرهم والصحیح ان یعتبر بالوزن فی النجاسة المتجسدة وهو ان یکون وزنه قدر الدرهم الکبیر المثقال وبالمساحة فی غیرها وهو قدرعرض الکف هکذا فی التبیین والکافی واکثر الفتاویٰ .(والمراد بعرض الکف عرض مقعد الکف وهو داخل مفاصل الاصابع.)
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۴۵ جلد ۱ الفصل الثانی فی الاعیان النجسة)

﴿۲﴾ قال الحصکفی کما یلزم الاخبار القوم اذا امهم وهو محدث...... بالقدر الممکن...... والا لایلزمه بحر عن المعراج وصحح فی مجمع الفتاویٰ عدمه مطلقا لکونه عن خطا معفو عنه قال ابن عابدین وصحح فی مجمع الفتاویٰ وکذا صححه الزاهدی فی القنیه والحاوی والیه اشار ابویوسف ...... واما صلاتهم فانهاوان لم تصح ایضاً لکن لا یلزمهم اعادتها هم ولا یلزمه اخبارهم لعدم تعمده فافهم.
مع ردالمحتار ص ۴۳۸ جلد ۱ باب الامامة)

دسلام جواب ورکول تول جائزدی.

لان النبی صلی الله علیه وسلم انکر علی من امتنع عن المصافحة ولم ینکر علی المشی وغیره کما لا یخفیٰ علی من راجع الی کتب الاحادیث ﴿۱﴾ واما علم ردالسلام قبل التیمم والوضوء فمحمول علی الدوام ﴿۲﴾. وهوالموفق

غنمو وغیره ته د خنزیر لاړې لګیدل

سوال: څمونږ په علاقه ډیر خنزیران دی چه اکثر فصلونه تباه کوی نو کوم غنم یا فصل وغیره چه خنزیر خراب کړی نو آیا دهغې خوړل جائزدی؟

بینوا توجروا

المستفتی: حافظ جهانداد خطیب جامع مسجد اټک ۱۳\۱۱رمضان۱۴۰۵ھ

﴿۱﴾ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال لقینی رسول الله صلی الله علیه وسلم وانا جنب فاخذ بیدی فمشیت معه حتی قعد فانسللت فاتیت الرجل فاغتسلت ثم جئت وهو قاعد فقال این کنت یااباهریرة فقلت له فقال سبحان الله ان المؤمن لا ینجس، وعلی هامش المشکواة وفی شرح السنة فیه جواز مصافحة الجنب ومخالطته وهو قول عامة العلماء واتفقوا علی طهارة عرق الجنب والحائض،و فیه دلیل علی جواز تاخیر الاغتسال للجنب وان یسعیٰ فی حوائجه ، مرقاة.
(مشکواة المصابیح ص ۴۹ جلد ۱ باب مخالطة الجنب وما یباح له الفصل الاول)

﴿۲﴾ وفی منهاج السنن: قوله وهو یبول فلم یرد علیه فوراً بل رد علیه بعد الطهارة بدلیل روایات اخری، اعلم انهم صرحوا علی انه لا یسلم علی من یبول او یتغوط او یصلی او یتلوا اویذکر الله تعالیٰ او یؤذن او یقیم او یدرس او یاکل وغیر ذلک فمن سلم علیهم فلم یستحق الرد واما رده صلی الله علیه وسلم علی هذا المسلم فمحمول علی الاستحباب او تطیب القلب واما السلام علی من یستنجی من البول بالحجر اوالمدر قائماًاو قاعداً فلم یثبت فیه من الفقهاء شئ والراجح هو الجواز اذا کان غیر مکشوف العورة، لان النبی صلی الله علیه وسلم ندب الی السلام علی الاهل بلا استثناء الحائضة والنفساء ولم یقل احد من الفقهاء بکراهة السلام علی الحائضة اوا لنفساء وکذا علی من به داء سلس البول.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۸ جلد ۱ باب کراهیة ردالسلام غیر متوضئ)فرتن

الجواب: ددغه څيزونو خوراک جائزدې ليکن دڅه سره چه دخنزير لاړې لګيدلې وى دهغې خوراک جائزنه دې خو صرف دلاړو لګيدلو شک حرامونکې نه دې ﴿۲﴾ فقط

په ډرائى کلينر مشين کښې وينځلو سره جامى نه پاکيږى

سوال: علماءِ دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه په ډرائى کلينرمشين کښې په مختلفو پوډرو اومائع څيزونو سره جامې صفاکوى نوآيا دې طريقې سره جامې دګندګې نه صفا کيږى حال داچه صفا کيدو دپاره درې ځلې اوبو سره وينځل اومږل هم ضرورى دى؟ بينوا توجروا

المستفتى: معين الدين ناصرشور سوات....۱۹۷۷ء۱۲\۸\۱

الجواب: په ډرائى کلينر مشين کښى ناپاکې جامې نه پاکيږى البته د خيرونه صفا کيږى.

لان المائع الذى يغسل به الثوب فيه ليس بجار لا حقيقة ولا حكماً فيتنجس المائع عند القاء الثوب النجس فكيف يطهر الثوب فافهم (ماخوذ از ردالمحتار)﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامه الحصكفى: وسؤر خنزير و كلب وسباع بهائم ومنه الهرة البرية وشارب خمر فور شربها ولوشاربه طويلا لا يستوعبه اللسان فنجس.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۱۶۳ جلد ۱ مطلب فى السئور)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدين ولم يحكم بنجاسته للشک.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۶۴ جلد ۱ مطلب فى السئور)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن عابدين: (قوله وحكم سائر المائعات الخ)فكل ما لا يفسد الماء لا يفسد غير الماء وهو الاصح محيط وتحفة والاشبه بالفقه بدائع اه بحر وفيه من موضع آخر وسائر المائعات كالماء فى القلة والكثرة يعنى كل مقدار لو كان ماء تنجس فاذا كان غيره ينجس، ومثله فى الفتح. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۳۶ جلد ۱ مطلب حكم سائر المائعات كالماء فى الاصح).

وقال العلامه ابن نجيم: (قوله يطهر البدن والثوب بالماء وبمائع مزيل كالخل وماء الورد) هذا بالاجماع ارادبه الماء المطلق...... واراد بطهارة البدن ......(بقيه حاشيه په بل مخ)

د شرابى د خولې حكم

سوال: ځمونږ ځائې کښې يومولوى صاحب دشرابى باره کښې اووئيل چه دکافر او جنبى خوله پاکه ده اود شرابى خوله پليته ده دغه شان دهغه دبدن اجزاء هم پليت دى هم دې وجې نه دشرابى دپاره صفاحكم دې چه شرابى دى مونځ نه كوى ځكه چه د شرابى مونځ نه قبليږى نو براه مهربانى ددې مسئلې حكم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتى: فضل اكبرجلبئ صوابى....۱۹۷۹ء۱۲۱\۲۰

الجواب: د شرابى خوله نجس (پليت) كيدل او اودس ماتونكې كيدل مرجوح قول دې اود شرابى دپاره دمونځ نه كولو حكم غلط دې (فليراجع الى ردالمحتار ص ۶۴۰ جلد ۵) ﴿۱﴾ فقط

(بقيه حاشيه)طهارته من الخبث لا من الحدث ...... قياسا على ازالتها بالماء بناء على ان الطهارة بالماء معلولة بعلة كونه قالعا لتلک النجاسة و المائع قالع فهو محصل ذلک المقصود فتحصل به الطهارة.

(البحر الرائق ص ۲۲۱ جلد ۱ باب الانجاس)

﴿۱﴾قال العلامه الحصكفى: عرق مدمن الخمر خارج نجس...... وكل خارج نجس ينقض الوضوء فينتج ان عرق مدمن الخمر ينقض الوضوء لكنه محتاج لاثبات الصغرىٰ...... قلت قال شيخنا الرملى كيف يعول عليه وهو مع غرابته لا يشهد له رواية ولا دراية اما الاولىٰ فظاهر اذ لم يرو عن احد ممن يعتمد عليه واما الثانية فلعدم تسليم المقدمة الاولىٰ ويشهد لبطلانها مسئلة الجدى اذا غذى بلبن الخنزير فقد عللوا حل اكله بصيرورته مستهلكا لا يبقى له اثر فكذلک نقول فى عرق مدمن الخمر ويكفينا فى ضعفه غرابته . وقال ابن عابدين: قال الرملى ايضا فى حاشية المنح وتقدم فى كتاب الاشربة عن المحقق ابن وهبان انه لا تعويل ولا التفات الى كل ماقاله صاحب القنية مخالف للقواعد ما لم يعضده نقل من غيره ولم ينقل عن احد من علمائنا المتقدمين والمتأخرين ان عرق مدمن الخمر ناقض للوضوء. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۵۱۶ جلد ۵ مسائل شتىٰ قبيل كتاب الفرائض)

د دباغت نه پس د کومو کومو ځناورو

څرمنې پاکيږي او د کومونه پاکيږي

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی ﴿۱﴾ چه آيا دسپی څرمن ددباغت نه پس داستعمال قابل ده يعني په غاړه کښې اچولو سره به مونځ کيږی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: سميع الرحمن مراد آباد گړهی کپوره مردان....۱۲۳؍شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: دسپی هډوکی او اوچه څرمن ددباغت نه پس پاکه ده اودمونځ نه مانع نه ده ﴿۱﴾ وهو الموفق ﴿۲﴾ مار منږک او خنزير هغه ځناور دی چه ددباغت نه پس ئی هم څرمنی نه پاکيږی.

اما لعدم الاحتمال ،اولوجه آخر فليراجع الى ردالمحتار ﴿۲﴾ (ص ۱۲۲ جلد ۱). وهو الموفق

د جنابت په حالت کښې نوکونه

ويښته وغيره اخستل مکروه تنزيهی دی

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره څه فرمائی چه دجنابت په حالت کښې نوکونه پريکول ويښته کټ کول وغيره مکروه تحريمی دی که مکروه تنزيهی دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق ډی: ۵۵۲ راوالپنډی

﴿۱﴾قال العلامه الحصكفى: ليس الكلب بنجس العين عند الامام وعليه الفتوىٰ وان رجح بعضهم النجاسة كما بسطه ابن الشحنة فيباع ويؤجر ويضمن ويتخذ جلده مصلى ودلوا الخ. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۱۵۳ جلد ۱ مطلب فى احكام الدباغة)

﴿۲﴾قال العلامه الحصكفى: ومالا يحتملها فلا وعليه فلا يطهر جلد حية صغيرة...... وفارة...... خلا جلد خنزير فلا يطهر وقدم لان المقام للاهانة الخ. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۱۴۹ جلد ۱ مطلب فى احكام الدباغة)

الجواب: عالمگيری داکراهيت دقيد نه بغير ذکر کړی دی ﴿۱﴾ ليکن په دې کښې څه امر نهی او وعيد نه دې راغلي لهذا دا کراهت تنزيهی معلوميږی ﴿۲﴾ وهوالموفق

په صحرا او آبادئ دواړو کښې د متيازو

په وخت قبلې ته مخ او شا کول نه دی پکار

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د تشو يا ډکو متيازو دپاره خو قبلې ته مخامخ کيناستل ناجائزدی ليکن که يو سړی صرف تشې متيازې کوی او داسی کينی چه قبلې ته يې شا راځی نو داسی کول به جائز وی؟ بعضی خلق وائی چه شرقاً غرباً کيناستل ناجائز دی برابره خبره ده چه قبله مخې ته وی که شاته وی اوبعضی خلق داشرط لګوی که دبيت الخلاء دروازه بنده وی نو جائز دی صحيح مسئله اوليکئ ډير مهربانی به وی والسلام

المُستفتی: خليل الله تهائی لينډ.....۱۲۰؍اپريل ۱۹۷۵ء

الجواب: په دې مسئله کښې ځمونږ مذهب ډير احتياط والا دی ځمونږ په نزد به په صحرا او آبادئ دواړو کښې تشو متيازو ته يا ډکو متيازو ته به مخ نه کوی او نه به شاه کوی.

لحديث ما رواه ابو داؤد فى اول السنن ﴿۳﴾ فليراجع والمسئلة طويلة الذيل والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته. وهوالموفق

﴿۱﴾وفى الهنديه: حلق الشعر حالة الجنابة مكروه وكذا قص الاظافير كذا فى الغرائب. (فتاوىٰ هنديه ص ۳۵۸ جلد ۵ الباب التاسع عشر فى الختان والخصاء الخ كتاب الكراهيه)

﴿۲﴾ وفى الهنديه: والاصل الفاصل بينهما ان ينظر الى الاصل فان كان الاصل فى حقه اثبات الحرمة وانما سقطت الحرمة لعارض ينظر الى العارض ان كان مما تعم به البلوىٰ وكانت الضرورة قائمة فى حق العامة فهى كراهة تنزيه، وان لم تبلغ الضرورة هذا المبلغ فهى كراهة تحريم فصار الى الاصل وعلى العكس ان كان الاصل الاباحة ينظر الى العارض فان غلب على الظن وجود المحرم فالكراهة للتحريم والا فالكراهة للتزيه. (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۳۰۸ جلد ۵ كتاب الكراهيه)

﴿۳﴾عن عبد الرحمن بن يزيد عن سلمان الفارسى: قال...... (بقيه حاشيه په راروان مخ)

د متیازو د ځاځکو پریوتلونه د عذاب قبر ثبوت

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دمتیازو ځاځکی غورځیدلو سره دعذاب قبر ثبوت شته که نه؟ دادکوم حدیث نه ثابت دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد.....۱۲اپریل ۱۹۷۴ء

الجواب: آؤ ثابت دې (رواه ابوداود) ﴿۱﴾ وهوالموفق

د هندو دوبی دلاس وینځلې شوو جاموحکم

سوال: علمائی دین دې مسئله باره کښې څۀ فرمائی که په هندو دهوبی باندې جامې اووینځلې شی نوآیا هغه پاکیږی حال داچه هغه دهندوانو او مسلمانانو جامې یو ځائی وینځی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عزیزالحق جده سعودیه.....۱۹۸۵ء۱۰۱۱۱۳

الجواب: دهندو نجاست اعتقادی دې ﴿۲﴾ هغه دجامو دپاکولو اهلیت

(بقیه حاشیه) قیل له لقد علمکم نبیکم کل شیئ حتی الخراءة قال اجل لقد نهانا ﷺ ان نستقبل القبلة بغائط اوبول وان لا نستنجی بالیمین وان لا یستنجی احدنا باقل من ثلثة احجار او یستنجی برجیع او عظیم وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ انما انا لکم بمنزلة الوالد اعلمکم فاذا اتی احدکم الغائط فلا یستقبل القبلة ولا یستدبرها الخ.
(سنن ابی داؤد ص ۳ جلد ۱ باب کراهیة استقبال القبلة عند الحاجة)

﴿۱﴾ عن ابن عباس قال مر النبی ﷺ علی قبرین فقال انهما یعذبان وما یعذبان فی کبیر اما هذا فکان لا یستنزه من البول وامٌا هذا فکان یمشی بالنمیمة ثم دعا بعسیب رطب فشقه باثنین ثم غرس علی هذا واحد وعلی هذا واحد وقال لعله یخفف عنهما مالم ییبسا قال هناد یستتر مکان یستنزه. (سنن ابی داؤد ص ۴ جلد ۱ کتاب الطهارة باب الاستبراء من البول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فسؤر آدمی مطلقا ولو جنبا او کافر...... طاهر، قال ابن عابدین: (قوله او کافر) لانه علیه الصلاة والسلام انزل بعض......(بقیه حاشیه په راروان مخ)

لری ﴿۱﴾ وهوالموفق

د ګنو په جوس کښې منږک غورځیدل او ګوړه ترینه جوړولو سره د منږک حقیقت نه بدلیږی

سوال: ستاسو څه رائی ده چه یو منږک دګنو په جوس (اوبو شربت) کښې اوغورځیږی اومړشی اوددغې شربت نه توره ګوړه هم جوړه شی نودا ګوړه به پاکه وی که نه؟ بعضې کسان وائی چه ددې خوراک جائزدې اوهغوې دلیل نیسی چه خر کله دمالګې په کان کښې اوغورځیږی او مالګه شی نو هغه پاکوی، ویقیسون هذه المسئلة بمسئلة الاستحالة فی الدهن حین صارت صابوناً هل هذا استدلالهم وقیاسهم صحیح ام لا؟ بینوا رأیکم و توجروا

المستفتی: پیرغلام ډیره اسماعیل خان

الجواب: په دې صورت کښې منږک نه فناشوې دې اونه پکښې څه انقلاب راغلې دې لهذا داګوړه به ناپاکه او حرامه وی (ونظیره الماء النجس اذا انجمد) وهوالموفق

د ګنو په شربت کښې منږک غورځیدلو سره ګوړه پلیتیږی

سوال: دګنو په شربت کښې منږک اوغورځیدلو دتلاش کولو باوجود ملاؤ نه

(بقیه حاشیه) المشرکین فی المسجد علی ما فی الصحیحین فالمراد بقوله تعالیٰ انما المشرکون نجس النجاسة فی اعتقادهم.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۶۳ جلد ۱ مطلب فی السؤر باب المیاه)

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ولو شک الخ) فی التاتر خانیه من شک فی انائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة او لا فهو طاهر مالم یستیقن و کذا الآبار والحیاض والحباب الموضوعة فی الطرقات ویستقی منها الصغار والکبار والمسلمون والکفار و کذا مایتخذه اهل الشرک او الجهلة من المسلمین کالسمن والخبز والاطعمة والثیاب.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۱۱ جلد ۱ قبیل مطلب ابحاث الغسل)

شو چه ګوړه پخه شو او په اتره کښې راواچوالې شوه نو منږک په ګوړه کښې ښکاره شو اوس به ددې ګوړې سره څه کیږی داپاکه ده که ناپاکه؟

بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالرؤف کورغه سینئ.... یکم صفرالمظفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: داګوړه ناپاکه ده په څاروُو به خوړولې شی.

نظیره مافی الهدایه قیل لا تحمل الخمر الیها اما اذا قیدت الی الخمر فلا بأس به کمافی الکلب والمیتة ص ۴۹۹ ﴿۱﴾ وفی البحر ص ۱۵۲ جلد ۱ اختیار الاکل علی المواشی ﴿۲﴾ فلیراجع . وهوالموفق

په ویلې شوې غوړو کښې د منږک د غورځیدلو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئله باره کښې څه فرمائی چه کله په نرمو غوړو کښې منږک اوغورځیږی او مړ شی اګر چه دصحیح مسلم شریف دروایت نه نجاست معلومیږی اوبعضې فقهاؤچه د پاکولو دپاره کومه طریقه ښودلې ده دهغې وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد شریف سورج ګنج بازارکوئټه... ۱۹۸۵ء۱۲۱۲۴

الجواب: په کومو نرمو غوړو کښې چه منږک مړشی هغه دپاکولو قابل نه دې البته د خوراک څکاک نه علاوه نور استعمال ئی منع نه دې.

کمافی الخلاصه ص ۴۱ جلد ۱ وفی المائع اذا وقعت الفارة فیه

﴿۱﴾ قال العلامه مرغینانی: وکذا لایسقیها الدواب وقیل لا تحمل الخمر الیها اما اذا قیدت الی الخمر فلا بأس به کمافی الکلب والمیتة وعلی هامشها فلا تحمل المیتة الی الکلب ولوقیدالکلب الی المیتة یجوز. (هدایه ص ۴۹۶ جلد ۴ کتاب الاشربة)

﴿۲﴾ قال ابن نجیم: ذکر الاسبیجابی ان ماعجن به قال بعضهم یلقی الی الکلاب وقال بعضهم یعلف المواشی...... واختاره الاول فی البدائع وجزم به بصیغة قال مشائخنا یطعم للکلاب...... ولابأس برش الماء النجس فی الطریق ولایسقی للبهائم وفی خزانة الفتاوٰی لابأس بان یسقی الماء النجس للبقر والابل والغنم. (البحر الرائق ص ۱۲۵ جلد ۱ باب الانجاس)

ینتفع به سوی الاکلة کالاستصباح ودبغ الجلد ﴿۱﴾ لاکن فی البزازیه (هامش هندیه ص ۱۹ جلد ۴) مایشیر الی تطهره ایضاً ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (خلاصة الفتاوٰی ص ۴۱ جلد ۱ فصلی فی غسل الثوب والدهن ونحوه)

﴿۲﴾ قال ابن البزاز الکردری: ان الدهن النجس یصب علیها الماء فیطفو الدهن فیرفع ثلاث مرات فیطهر وکذا العسل والدبس یموت فیه فارة یطبخ الماء ثلاثا حتی یعود فی کل مرة الیٰ ماکان علیه فی الاول لکن یخرج من حیز الانتفاع.

(فتاوٰی بزازیه علی هامش الهندیه ص ۱۹ جلد ۴ الفصل السادس فی ازالة الحقیقة)

الباب الثامن فی الاستنجاء

د هوا په وتلوسره استنجاء نه بلکه صرف اودس (چار اندام) واجب کیږي

سوال: علمائی دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دهوا وتلو په صورت کښې مخصوص ځائی نه وینځلې کیږي اونور اندامونه وینځلې کیږي په دې شرط چه اندامی مخصوص گنده نه وی نوداولې داسې دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: جهان بخت خان ملاکنډ ایجنسی....۲۷/۱۱/۱۹۷۸ء

الجواب: صرف هوا نه بلکه په متیازو کښې هم دا اعتراض کیدې شی او د جماع متعلق هم دټول بدن وینځلو په باره کښې داسوال پیدا کیږي د داسې سوالونو پیژندګلو دپاره درس نظامی وئیل ضروری دی (۱) فقط

---

(۱) امام شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله سنت داواجب گرځولې دی چه کله شرعی حکم په صحیح روایت سره ثابت شی نو په هغې باندې عمل کول به په دې وجه نشی روستو کولې چه ددې حکم مصلحت اوحکمت معلوم نه دې ځکه چه ډیرو خلقو عقلونه داحکاماتو دمصلحتونو معلومولو نه قاصره دی اوبله داچه درسول الله ﷺ ذات زمونږ دعقلونو نه زیات قابل اعتماد دې نوددې وجې دشرعی احکاماتو د پټو رازونو اوحکمتونو علم داهلیت والؤ نه علاوه دنورو خلقو نه پټ ساتلې شوې دی اوددې دپاره هغه شرطونه کیخودې شوې دی کوم چه دقران کریم دتفسیر دپاره دی په دیکښې صرف په رائی سره غوراو فکر کول چه سندئی دسنتو او آثارونه ملاؤ نشی حرام گرځولې شوې دی.

(ارمغان شاه ولی الله ص٦ حسن قبح کاشرعی یاعقلی هونا)

وقال الشاه اشرف علی تهانوی په دې کښې هیڅ شک نشته چه د احکام شرعیه اوفرعیه د ثبوت مدارنصوص شرعیه دی چه دهغې نه پس ئی په قبلولو کښې دڅه مصلحت اوحکمت معلومولو انتظار کول یقینی طورسره دحق سبحانه وتعالی نه بغاوت دې لکه څنګه چه د دنیاوی حکومتونو دقانونو وجوهات او اسباب که چاته معلوم نه وی اوهغه ئې ددې نه معلومیدلو ....

(باقی حاشیه په راروان مخ)

متیازو لګیدو د پاکولو طریقه

سوال: بخدمت جناب حضرت مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ځمونږ خلق په دې باندی اختلاف کوی چه په کوم سړی باندې د متیازو ګندګی اولګی نو هغه نه صفا کیږي نو مهربانی اوکړئ چه داسې کس به کله صفا کیږي او په کوم څیز باندې به صفائی راځی شرعی مسئله راته اوښایئ الله دی درته ډیر ثوابونه درکړي؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.....۱۲۲/شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: درې ځلې وینځلو سره بدن او جامې صفا کیږي (۱) فقط

د متیازو کولو نه پس داستنجاء حکم

سوال: که یو سړې په اودس کښې وی او متیازې ورته ورشی اود متیازو کولو نه پس په لوټې سره اودس اوچ کړي اوصرف چار اندام اوکړي او په اوبو سره استنجاء اونه کړي نو آیا دهغه مونځ کیږي؟ یا استنجا هم ضروری ده؟ وضاحت اوکړئ ډیره شکریه به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: رسول خان لیب ټیکنیشن کمبائنډ ملټری هسپتال...۳۱/۷/۱۹۷۹ء

(باقی حاشیه) سبب باندې نه منې یا دا عذر اوکړی چه دوجې معلومیدلو نه بغیر ئې څنګه اومنم نو آیا یو عاقل سړی ته دده په باغی کیدلو کښې څه شک شبه شته؟ نو آیا دشرعی احکاماتو مالک ددې دنیوی بادشاهانو نه هم کم شو؟ غرض داچه په دې کښې څه شک پاتې نه شو چه دشرعی او فرعی احکاماتو دثبوت دارومدار شرعی نصوص دی لیکن دغه شان په دیکښې هم څۀ شبه نشته چه دې سره سره به په دې احکاماتو کښې داسې نورهم ډیر رازونه او مصلحتونه وی خود دې احکاماتو دثبوت مدار به په هغې باندې نه وی. (بوادرالنوادر ص ۱۰۵ غریبه درشرائط نافعیت تحقیق مصالح واحکام)

(۱) قال العلامه حصکفی: یجوز رفع نجاسة حقیقة عن محلها...... بماء ولو مستعملا به یفتی وبکل مائع طاهر...... ثلاثا. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۲۶ جلد ۱ باب الانجاس)

وفی الهندیه یجوز تطهیر النجاسة بالماء وبکل مائع طاهر یمکن ازالتها به کالخل وماء الورد ونحوه مما اذا عصر انعصر کذافی الهدایه.

(فتاوی عالمگیریه ص ۴۱ جلد ۱ الباب السابع فی النجاسة واحکامها)

الجواب: كه د متيازو د سورى نه علاوه د غټې روپئ اندازې ته گندگي رسيدلې وى نوبيا استنجاء سنت ده او كه ډيره وى نوبيا فرض ده. والغسل بالماء بعده اى الحجرسنة ويجب ان جاوزالمخرج نجس مانع (الدرالمختار مختصراً) او اودس بهرحال صحيح دې ليكن په دې اودس سره به مونځ هله كيږى چه كله استنجاء فرض نه وى. ﴿۱﴾ فقط

د سړى په شان زنانه هم لوټه استعمالولې شي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه ښځې لره په لوټه باندې استنجاء كول منع دى اود متيازو نه پس ورله په اوبو باندې استنجاء كول سنت دى ليكن كه د سفر وغيره په وجه باندې داسې اوشى چه د متيازو نه پس د استنجاء دپاره اوبه ملاؤ نشى اومونځ هم كول وى نو آيا په داسې وخت كښې زنانه لره په لوټه استنجاء كول جائزدى؟ بينوا توجروا

المستفتى: اكرام الحق نشترآباد راولپنډى

الجواب: د سړى او زنانه په استنجاء كښې هيڅ فرق نشته، يعنى څنګه چه سړې صرف لوټه استعمالولې شى او يا د لوټې نه پس اوبه استعمالولې شى نو بالكل د زنانه د پاره هم دغه شان حكم دې، خو بيشكه په زنانه باندې استبراء نشته، يعنى په اوبو سره استنجاء كولو كښې دومره ايسارېدل چه څاڅكى بند شى دا په زنانه باندې هسې بې فائدې كاردې. دا ټولې مسئلې په ردالمحتار ص۳۱۲ جلد۱ فصل الاستنجاء كښې ليكلى دى. ﴿۲﴾ فقط

﴿۱﴾ قال العلامه حصكفى: والغسل بالماء...... بعده اى الحجر...... سنة مطلقا به يفتى ويجب اى يفرض غسله ان جاورالمخرج نجس مائع ويعتبر القدرالمانع لصلاة فيما وراء موضع الاستنجاء لان ماعلى المخرج ساقط شرعا وان كثر ولهذا لا تكره الصلاة معه. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۲۴۸ جلد ۱ فصل الاستنجاء)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدين: وفيها ان المرءة كالرجل الا فى الاستبراء فانه لا استبراء عليها بل كما فرغت تصبر ساعة لطيفة ثم تستنجى. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۵۳ جلد ۱ مطلب فى الفرق بين الاستبراء والاستنقاء......)

د استنجاء په وخت كښې كشفِ عورت او د خرچ شوو اوبو اندازه

سوال: (۱) زمونږ په جمات كښې جنوباً شمالاً د استنجاء ځايونه جوړشوى دى يو سړې ددې باوجود هميشه مشرق طرف ته مخ كوى اومغرب ته شا كوى او استنجاء كوى او پرده هم نه كوى ټول مونځ گذار دده په دې حركت باندې خفه دى ځكه چه زمونږ په نزد بربنډ كيدل ډير معيوب شمارلې كيږى؟

(۲) دا سړې په استنجاء باندې دوه لوټې اوبه په غټه خوله استعمالوى نو په استنجاء باندې څومره اوبه خرچ كول پكاردى؟ بينوا توجروا

المستفتى: غلام حسين سرواله كيملپور...... ۱۱\صفر۱۳۹۲ھ

الجواب: (۱) كوم سړې چه دخلقو په مخكښې عورت ښكاره كوى او استنجاء كوى نودا فاسق اوفاجردې.

فى الدرالمختار بلاكشف عورة عنه احدامامعه فيتركه كما مر فلو كشف له صار فاسقا ﴿۱﴾ (هامش ردالمحتار ص ۳۱۲، ۳۱۳ جلد۱)

(۲) د استنجاء په صورت كښې د اوبو څه خاص اندازه مقرره نه ده، دا د نجاست په لږوالى او ډيروالى پورې ده، د گندگۍ په لرې كيدو كښې چه دې ترڅو غالب گمان نه وى نو د اوبو استعمالول جائزدى ليكن د گذارې نه كار اخستل پكاردى. ﴿۲﴾ (هامش ردالمحتار ص۳۱۲، ۳۱۳ جلد۱) وهوالموفق

د حشفې گيرچاپيره سوروته اوبه نه رسيدلو صورت كښې د اودس حكم

سوال: د سُنتۍ په وخت كښې كله كله د حشفې نه گيرچاپيره سُورى پاتې شى چه په غسل كښې ورته اوبه رسول ډيرگران وى د كوشش سره هم ورته اوبه دننه نه ورځى نود اودس اوغسل به څه حكم وى؟ بينوا توجروا

المستفتى: فضل احد بټ خيله ملاكنډ...... ۲۷\شعبان ۱۴۰۲ھ

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۲۴۸ جلد ۱ فصل فى الاستنجاء)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصكفى والغسل بالماء الى ان يقع فى قلبه انه طهر مالم يكن موسوساً فيقدر بثلاث كمامر. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۲۴۸ جلد ۱ فصل فى الاستنجاء)

الجواب: په کوم سوری کښې چه اوبه ور دننه کول ګران وی نوهلته د غوږونو د سوروپه شان د بهرنه اوبه اچول هم کافی کیږی.(۱) وهوالموفق

ټشو پیپر د استنجاء د پاره استعمالول جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نن صباکوم خاص قسم کاغذ سره استنجاء کولې شی نوددې د استعمال جواز شته که نه؟

الجواب: دا خاص قسم کاغذ نه د لیکلو قابلیت لری او د پریکولو نه پس ئې څه قیمت هم نه وی لهذا په دې سره استنجاء کول منع نه دی.(۲)

اما الاول فظاهر واما الثانی فلما فی ردالمحتار ص۳۱۵ جلد۱ وهل اذاكان متقوما ثم قطع منه قطعة لا قيمة لها بعد القطع يكره الاستنجاء بها ام لا الظاهر الثانی(۳) وهوالموفق

(۱) قال العلامه ابن عابدين: (قوله وثقب انضم) قال فی شرح المنيه وان انضم الثقب بعد نزع القرط وصار بحال ان امر عليه الماء يدخله وان غفل لافلا بد من امراره ولا يتكلف لغير الامرار من ادخال عود ونحوه فان الحرج مدفوع.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۱۱۳ جلد۱ ابحاث الغسل)

(۲) وفی منهاج السنن شرح جامع السنن: قلت فالكاغذ المعد لذلک فی عصرنا لا يكره الاستنجاء به لانه لا قيمة له بعد القطع وكذا ليس هذا للكتابة فافهم، وفی شرح النقاية وقد ضبط بعض العلماء ضبطا جيدا فقالوا يجوز الاستنجاء بكل جامد طاهر منق قلاع للاثر غير موذليس بذی حرمة ولا شرف ولايتعلق به حق الغير.
(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص۹۱ جلد۱ باب كراهية ما يستنجی به)

(۳) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۵۰ جلد۱ فصل فی الاستنجاء)

......

صرف په اوبوسره استنجاء کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ د جمات امام صاحب وئیلې دی چه که څوک تشې متیازې یا غټې متیازې اوکړی او هغه ځې په اوبوسره اووینځی او روستو استنجاء اونه کړی صرف اودس اوکړی نومونځ ئې کیږی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدشفیع سورجال جماعت هفتم سی هائی سکول راولپنډی... ۱۹۷۹ء۱۰/۳/۱۷

الجواب: د لوټو نه پس اوبه استعمالول بهتردی چه کله په اوبوسره استنجاء فرض شوې نه وی او د جمات دا امام صاحب دا قول هم صحیح دې.(۱) وهوالموفق

(۱) وفی الهنديه: والاستنجاء بالماء افضل ان امكنه ذلک من غير كشف العورة وان احتاج الیٰ كشف العورة يستنجی بالحجر ولا يستنجی بالماء كذا فی فتاویٰ قاضی خان والافضل ان يجمع بينهما كذافی التبيين قيل هو سنة فی زماننا وقيل علی الاطلاق وهو الصحيح وعليه الفتویٰ كذافی السراج الوهاج.
(فتاویٰ عالمگیریه ص۴۸ جلد۱ الفصل الثالث فی الاستنجاء)

...

بسم الله الرحمن الرحيم


إِنَّنِيٓ أَنَا اللّٰهُ لَآ إِلٰـهَ إِلَّآ
أَنَا فَاعۡبُدۡنِي
وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكۡرِيٓ ﴿۱۴﴾

....(سورة طهٰ)....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

کتاب الصلوة



....

کتاب الصلوٰة

(اهمیت او فضیلتونه)

د مونځ نه منکر او په دې پورې ټوقې کونکې زندیق او کافر دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې مونځ نه کوی او وائی (۱) په قرآن کښې د مونځ د کولو حکم نه دې بلکه په زړه کښې قائمول دی. (۲) په حدیث کښې دی نبی کریم ﷺ او فرمائیل چه زما زړه غواړی چه دهغه خلقو کورونه او سوزوم کوم چه اذان واوری او مونځ کولو ته جمات ته نه راځی. داحدیث چه ئې واوریدلو، وائی چه دا دروغ دی که داسې وی نو بیا اور ولې نه لګی؟ (۳) د ږیرې باره کښې وائی چه په دې ویښتو کښې هیڅ نشته دا ډیر سپک کار دې. (۴) او وائی چه د جمات امام صاحب په مونځ کښې صرف دوه سورتونه لولی، او په هغې کښې د خلقو مرګ خیرې دی او دلته چه څومره مرګونه شوی دی د هغې سبب هم دا دوه سورتونه دی. (۵) اخترونه او جنازې دې امام پسې کوی او پنځه وخت مونځ نه کوی. چه کله ورته او وئیلې شی چه دا ولې؟ نو وائی چه زه ده پسې ولاړیم خو ځما نیت د یو بل امام پسې وی، د دې سړی په باره کښې د شریعت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا غلام محمد ملتان شهر... ۱۵نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: د رشتیاؤ او ثابتیدو په شرط سره دا سړې زندیق او کافر دې ﴿۱﴾ دده

﴿۱﴾قال العلامه الحصکفی: ویکفر جاحد لثبوتها بدلیل قطعی وتارکها عمداً مجانة ای تکاسلا فاسق. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۵۹ جلد ۱ مطلب فیما یصیر الکافر به مسلماً کتاب الصلاة)

سره هر مسلمان لره بائیکاټ کول ضروری دی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په قصد سره مونځ پریخودونکې کافر نه دې البته فاسق او فاجر دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړې قصداً مونځ پریږدی نو هغه کافر کیږی که نه؟ په قصد سره د مونځ پریخودونکی څۀ حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ادریس پرائمری سکول نیو کیمپ پشاور

الجواب: قصداً مونځ پریخودونکې د حنابلهؤ په نزد کافر او مرتد دې لیکن د جمهور علماؤ په نزد فاسق او فاجر دې. ﴿۲﴾ ځکه چه د قرآن او حدیث نه د رنړا ورځ پشان واضحه ده چه اعمال د ایمان نه خارج دی. کما فصل فی موضعه لهذا

﴿۱﴾قال الحافظ ابن الحجر العسقلانی: (قوله باب مایجوز من الهجران لمن عصیٰ) اراد بهذه الترجمة بیان الهجران الجائز لان عموم النهی مخصوص بمن لم یکن لهجره سبب مشروع. فتبین هنا السبب المسوغ للهجر وهو لمن صدرت منه معصیة فیسوغ لمن اطلع علیها منه هجره علیها لیکف عنها...... قال المهلب غرض البخاری فی هذا الباب ان یبین صفة الهجران الجائز، وانه یتنوع بقدر الجرم، فمن کان من اهل العصیان یستحق الهجران بترک المکالمة کما فی قصة کعب وصاحبیه...... وقال الطبرانی قصة کعب بن مالک اصل فی هجران اهل المعاصی وقد استشکل کون هجران الفاسق او المبتدع مسروعاً ولا یشرع هجران الکافر وهو اشد جرما منهما لکونهما من اهل التوحید فی الجملة...... واجاب غیره بان الهجران علی مرتبتین الهجران بالقلب والهجران باللسان، فهجران الکافر بالقلب وبترک التود دوالتعاون والتناصر لا سیما اذا کان حربیا وانما لم یشرع هجرانه بالکلام لعدم ارتداعه بذلک عن کفره بخلاف العاصی المسلم فانه ینزجر بذلک غالبا الخ.
(فتح الباری شرح صحیح البخاری ص۵۹۷ جلد۱۳ باب ما یجوز من الهجران لمن عصیٰ)

﴿۲﴾قال العلائی: ویکفر جاحدها لثبوتها بدلیل قطعی وتارکها عمداً مجانة ای تکاسلا فاسق یحبس حتی یصلی لانه یحبس لحق العبد فحق الحق احق وقیل یضرب حتی یسیل منه الدم وعند الشافعی یقتل بصلاة واحدة حدا وقیل کفراً، قال ابن عابدین وکذا عند مالک واحمد وفی روایة عن احمد وهی المختارة عند جمهور اصحابه انه یقتل کفرا وبسط ذلک فی الحلیة.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۵۹ جلد ۱ مطلب فیما یصیر الکافر به مسلما من الافعال)

مونځ پریخودونکې به کافرنه وی.او د ,,ولاتکونوا من المشرکین،،﴿۱﴾ چه عبارت، اشارت، دلالت، اقتضاء او اعتبار سره د یونه هم نه معلومیږی چه ,,تارکُ الصلوة،، مشرک یا کافردې، اوکه اومنلې شی نودا آیت به په استحلال یا سختوالی باندې محمول وی چه د نورو آیتونو سره متعارض نشی﴿۲﴾.
وهوالموفق

په مونځ کښې سستۍ باندې دخپل طاقت مطابق امربالمعروف او نهی عن المنکر د ذمې فارغیدلو د پاره کافی دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) ,,قوا انفسکم واهلیکم نارا،، آیت په بناء باندې د کورخلقو ته نصیحت کوم لیکن د نصیحت او زورنې سره بیا هم په مونځ کښې سستی کوی نوآیا ددې نه پس به په ماځه گناه وی؟ (۲) د کورخلق اگرچه مونځونه کوی لیکن د وختونو پابندی نه کوی نو آیا د وختونو پابندی ضروری نه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: علی اکبر پټن کلان آزاد کشمیر

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ: منیبین الیه واتقوه واقیموا الصلوٰة ولا تکونوا من المشرکین.
(سورة الروم پاره: ۲۱ رکوع:۷ آیت: ۳۱)

﴿۲﴾ قال العلامه علی قاری: (ولا نکفر) ای لا ننسب الی الکفر (مسلما بذنب من الذنوب) ای بارتکاب معصیة (وان کانت کبیرة) ای کما یکفر الخوارج مرتکب الکبیرة (اذا لم یستحلها) ای لکن اذا لم یکن یعتقد حلها لان من استحل معصیة قد ثبتت حرمتها بدلیل قطعی فهو کافر (ولا نزیل عنه اسم الایمان) ای ولا نسقط عن المسلم بسبب ارتکاب کبیرة وصف الایمان، کما یقوله المعتزلة حیث ذهبوا الی ان مرتکب الکبیرة یخرج عن الایمان ولا یدخل فی الکفر...... ومن المعلوم ان السب دون القتل نعم لو استحل السب او القتل فهو کافر لا محالة وعلی تقدیر ثبوت الحدیث فیجب ان یؤول کما اول حدیث "من ترک صلاة متعمداً فقد کفر" والحاصل ان الفسق والعصیان لایزیل الایمان فیصیر کافر اولاواسطة .
(شرح فقه الاکبر للقاری ص ۷۱، ۷۲ الکبیرة لا تخرج المومن عن الایمان)

الجواب: (۱) لایکلف الله نفساً الا وسعها﴿۱﴾ په تا باندې د نصیحت او کوشش کولو نه پس گناه نشته. (۲) ضروری ده.﴿۲﴾. وهوالموفق

د اسلام او دین نه بالکل د بې خبره سړی دمونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې خپل ځان ته مسلمان وائی لیکن دانه پیژنی چه پیغمبر علیه السلام چاته وائی؟ د حضور صلی الله علیه وسلم نوم څه دې؟ او قرآن مجید آسمانی کتاب دې او په حضور صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوې دې، چه کله یو سړې ددې ټولو احکاماتو نه بې خبره وی نوآیا دهغه دپاره مونځ کول صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......۱۹۷۴ء ۳۱۴۱

الجواب: ددا سې برائې نام مسلمانانو سره محنت او مشقت ډیرزیات ضروری دې.﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه جلال الدین السیوطی: ولما نزلت الایة التی قبلهاشکا المؤمنون من الوسوسة وشق علیهم المحاسبة بها فنزل لا یکلف الله نفسا الا وسعها ای ماتسعه قدرتها لها ماکسبت من الخیر ای ثوابه وعلیها ما اکتبست من الشر ای وزره ولا یؤاخذ احد بذنب احد ولا بمالم یکسبه مما وسوست به نفسه.
(تفسیر جلالین ص ۴۵ جلد ۱ سورة البقرة پاره: ۳ رکوع: ۸ آیت: ۲۸۶)

﴿۲﴾ قال العلامه سید احمد الطحطاوی: (والاوقات اسباب ظاهراً تسیراً) اعلم ان الاوقات لها جهات مختلفة بالحیثیات فمن حیث ان الصلاة لاتجوز قبلها وانما تجب بها اسباب ومن حیث ان الاداء لا یصح بعدها لاشتراط الوقت له وانما تکون قضاء الخ.
(الطحطاوی علی المراقی الفلاح ص ۹۳ کتاب الصلاة)

﴿۳﴾ قال العلامة الشامی: من فرائض الاسلام تعلم ما یحتاج الیه العبد فی اقامة دینه واخلاص عمله لله تعالیٰ ومعاشرة عباده وفرض علی کل مکلف ومکلفة بعد تعلمه علم الدین والهدایة تعلم علم الوضوء والغسل والصلاة والصوم الخ.
(ردالمحتار مقدمه ص ۳۱ جلد ۱ قبیل مطلب فی فرض الکفایة والعین)

وقال الملا علی قاری: (قوله بلغوا عنی ولو آیة) ای انقلوا الی...... (بقیه حاشیه په راروان مخ)

د ملازمت د وجې نه بالکل مونځ یا د جماعت مونځ پریخودل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) دلته سعودی عرب کښې څمونږ ډیوټی اکثر داسې وی مثلاً کرین چلول، ګاډې چلول وغیره چه افسرپکښې راسره وی، دغه وخت کښې اذان اوشی لیکن څمونږ افسر څمونږ مونځ ته تللو باندې خفه وی، نوآیا مونږ ملازمت اوکړو یا جمات ته لاړشو، یا مونځ روستو اوکړو؟ (۲) که جماعت کیږی او مونږ په داسې کار کښې لګیا یو، نو که کار پریږدو نوکار اودریږی او افسرخفه کیږی او سزا راکولو ته تیاریږی خو که مونږ ته د جماعت ملاویدلو اُمیدهم نه وی، نو په دې حالاتو کښې مونږ د ضروری کارپه وخت کښې د جماعت مونځ پریخودلې شو که نه؟ (۳) که مونږ مونځ ته لاړشو او نوکری مو په خطره کښې وی اود نوکرئ نه لاس وینځلې کیږی نوداسې حالت کښې جماعت پریخودلې شو یامونځ قضاکړو؟ بینوا توجروا

المستفتی: اجمل خان خلیل ریاض سعودیه عربیه.... ۱۲\۱۱نومبر۱۹۸۳ء

الجواب: که د ګاډی د ضائع کیدلو اوهلاک کیدلو خطره یا غالب ګمان وی اود افسرانو دطرف نه د سزا ورکولو یا ظلم کولو خطره وی نو په تاسو باندې جمات ته تلل ضروری نه دی، تاسو خپل ځائې کښې ځان له یا په جمع سره مونځ کوئ، البته مونځ مه قضاکوئ. (ماخوذ ازمراقی الفلاح) (۲) ددې مسئلې جواب هم د مخکنی پشان دې البته که داقامت په وخت کښې اجازت ملاویږی نوغنیمت دې. (۳) که په ملازمت کښې په مونځ کولو پابندی وی او مونځ قضا کول عادت جوړشوې وی نود بل ملازمت کوشش ضروری دې. ﴿۱﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) الناس وافیدوهم ما امکنکم او مااستطعتم مما سمعتموه منی وما اخذتموه عنی من قول او فعل او تقریر بواسطة او بغیر واسطة (ولو آیة) ای ولو کان المبلغ اية. (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ص ۲۶۴ جلد ۱ کتاب العلم)

﴿۱﴾ قال العلامه الطحطاوی: (وخوف ظالم) ای علی نفسه او ماله او خوف ضیاع ماله او خوف ذهاب قافله لو اشتغل بالصلاة جماعة. (حاشیة الطحطاوی ص۲۹۷ فصل یسقط حضور الجماعة)

باب المواقیت وما یتصل بها

د ګهړو د مقررشوی وخت نه مخکښې یا روستو مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جماتونوکښې د ګهړو په لحاظ سره چه کوم وخت مقررکولې شی ددې نه مخکښې یا روستو د قوم په اجازت سره مونځ کول یا جماعت کول جائز دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......

الجواب: سره د اجازت نه اوبغیر د اجارت نه دواړو صورتونوکښې جائز دی البته د مقرر وختونو خیال ساتل پکاردی چه دچا نه جمع اونه شی، جمات والا چه کوم وخت مقررکړی دا دانتظامی امورونه دی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د غرونو په مینځ کښې اوسیدلو والا د طلوع او غروب مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ علاقه د غرونو په مینځ کښې واقع ده. دنمر راختل شل منټه دپاسه پنځه بجې (۵:۲۰) باندې د غرنه کیږی او غروب (نمر پریوتل) شپږ منټه دپاسه اووه بجې (۷:۰۶) باندې کیږی نو مونږ دسحر اذان څه وخت کوو؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا لطیف الرحمن کوټکې تختی خیل شکرالله... ۱۴۱۰ھ

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: (ویجلس بینهما) بقدر ما یحضر الملازمون مراعیاً لوقت الندب (الافی المغرب). (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۲۸۷ جلد ۱ باب الاذان)

الجواب: تاسو د طلوع او غروب وختونه د ریډیو نه معلوم کړئ او نمر راختلو نه پنځه پاوه (یوه ګهنټه او پنځلس منټه) مخکښې د سحر اذان کوئ او د غروب په وخت باندې د ماښام اذان کوئ. ﴿۱﴾ وهوالموفق

غروب الشمس او د خیط الاسود او الابیض صحیح مطلب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) یو سړې وائی چه د ماښام وخت د نمر پریوتلو سره سمدستی شروع کیږی د هغې علامت او نښه داده چه مشرقی طرف ته د آسمان په غاړه باندې تیاره راختل شروع شی. دویم کس وائی چه په مغربی طرف کښې د اسمان په غاړه باندې سوروالې راتلل د نمر پریوتلو نښه ده. نو صحیح صورت څۀ دې؟ (۲) د پیشمنی د ختمیدلو وخت او د سحر د شروع کیدلو د وخت علامت یعنی ,,خیط الاسود،، او ,,خیط الابیض،، په باره کښې یو سړې وائی چه ,,خیط الاسود والابیض،، هم په مشرقی طرف کښې د اسمان په غاړه د توروالی نه لاندې سپین والی ته وائی. او دا هم مشرق طرف ته راخیژی. بل کس وائی چه خیط الابیض په ټول آسمان باندې وی د دې هم صحیح صورت څۀ دې؟ او کوم طرف ته کتل پکاردی؟

(۳) د ماښام وخت شروع کیدلو او ماسخوتن وخت شروع کیدلو مینځ کښې د ګهړۍ په حساب سره څومره وقفه کول پکاردی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ایوب خان محله شیام ګنج مردان... ۱۰ صفر ۱۳۹۲هـ

الجواب: (۱)(۲) د فقهې او حدیث په رڼا کښې د اولنی سړی خبره صحیح ده. ﴿۱﴾

﴿۱﴾ قال الحصکفی: وقت صلاة (الفجر)...... (من) اول (طلوع الفجر الثانی) وهو البیاض المنتشر المستطیر لا المستطیل (الی) قبیل (طلوع ذکاء) بالضم غیر منصرف اسم الشمس. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۶۳ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ قال ابن العلامه ابن الهمام: (اول المغرب حین تغرب الشمس وآخره حین یغیب الشفق ومارواه) من امامة جبریل علیه السلام فی الیومین فی وقت واحد (کان للتحرز عن الکراهة لان تاخیر المغرب الی آخر الوقت مکروه (ثم) اختلف العلماء فی (الشفق) فقال ابو حنیفة رحمه الله (هو البیاض فی الافق بعد الحمرة) (فتح القدیر ص ۱۹۵ جلد ۱ باب المواقیت)

(۳) کم نه کم یوه نیمه ګهنټه وقفه کول پکاردی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د صبح صادق او غروب الشمس د وخت متعین کولو طریقه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه مونږ اوریدلې دې چه د نمر راختلو نه واخله تر پریوتلو پورې وخت چه په اتو حصو تقسیم کړې شی نو اتمه حصه چه څومره راغله نو دا د صبح صادق او غروب شمس وخت وی یعنې دومره وخت د صبح صادق او طلوع الشمس او د غروب شمس او غیوب البیاض په مینځ کښې وی. آیا دا صحیح دې؟ او دویمه خبره داده چه د طلوع فجر په مینځ کښې یوه نیمه ګینټه وخت وی نو آیا دا تعین صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: نا معلوم.........

الجواب: خبرشئ چې په اتمه حصه باندې دارو مدار صحیح نه دې په روایاتو کښې په دې باندې د فقهاؤ اعتماد په نظر نه دې راغلې دغه شان دا خبره دې هم واضحه وی چه د صبح صادق وخت د طلوع الشمس نه یوه نیمه ګینټه مخکښې نه شروع کیږی زیات نه زیات پنځه پاؤه مخکښې شروع کیږی. ﴿۳﴾ کما هو یعلم من المشاهدة والریاضی. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن الهمام: واول وقتها اذا طلع الفجر الثانی ای الفجر الصادق وهو البیاض المعترض فی الافق واحترز به عن الفجر الکاذب وهو البیاض الذی یبدو فی السماء ویعقبه ظلام وتسمیة العرب ذنب السرحان. (فتح القدیر ص ۱۹۲ جلد ۱ باب المواقیت)

﴿۲﴾ قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بین طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وکذا بین غروب الشمس وغیوب البیاض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فی دیارنا قدر ساعة وربع ساعة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰ جلد ۲ باب مواقیت الصلاة)

﴿۳﴾ قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بین طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وکذا بین غروب الشمس وغیوب البیاض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فی دیارنا قدرساعة وربع ساعة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰ جلد ۲ باب مواقیت الصلاة)

د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې وقفه

سوال: د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې څومره وقفه پکار دا؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوی رسول شاه اله داد خیل... ۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۲

الجواب: د غروب نه پنځه پاوه (۱:۱۵) پس بیاض غائب کیږي او غالبًا زمونږ په علاقو کښې هم دا فرق دې. د ریاضئ په اصولو باندې ۱۵×۴=۶۰ منټ فرق کیدل پکار دي ﴿۱﴾ وهو الموفق

د ماخوستن د مانځه وخت کله شروع کیږي؟

سوال: علماء دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ماښام نه څومره وقفې کولو نه پس د ماسخوتن وخت شروع کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل رحیم زړه میانه نوشهره

الجواب: د غروب نه یوه ګینټه پس د ماسخوتن وخت شروع کیږي ﴿۲﴾ احتیاطاً یوه نیمه ګینټه انتظار پکار دې د فن ماهرینو د فجر صادق او طلوع شمس په مینځ کښې پنځلس درجې اندازه او د غروب

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (و) وقت (المغرب منه الى) غروب (الشفق وهو الحمرة) عندهما وبه قالت الثلاثة واليه رجع الامام كما في شروح المجمع وغيرها فكان هو المذهب (و) وقت (العشاء والوتر منه الى الصبح).

(الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۲۶۵ جلد ۱ كتاب الصلاة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: (و) وقت (المغرب منه الى) غروب (الشفق وهو الحمرة) عندهما وبه قالت الثلاثة واليه رجع الامام كما في شروح المجمع وغيرها فكان هو المذهب، قال ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله اليه رجع الامام) اى الى قولهما الذى هو رواية عنه ايضاً وصرح في المجمع بان عليه الفتوى.

(الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۶۵ جلد ۱ كتاب الصلاة مطلب في الصلاة الوسطى)

او غیوب بیاض په مینځ کښې هم پنځلس درجې اندازه معین کړې ده چه د هغې نه ۴×۱۵=۶۰ منټ جوړیږي.

واما الاحتياط فلا جل اعتبار غروبهم ولاجل اضطراب الساعات ﴿۱﴾. فافهم، وهو الموفق

د مونځ مستحب وختونه

سوال: بحضور جناب محترم شیخ الحدیث مفتي محمد فرید صاحب دار العلوم حقانیه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! بنده عارض بدیں سوال است که اقوال واختلاف مذاهب در اوقات صلوٰة خمسه کثیر است اوقات معتبره صلوٰة که دریں وقت نماز بهتر است ودریں وقت بهتر نیست تحریر کن، وایضاً تحریر کن که اذان صبح به کدام وقت صحیح است، نیز وقت از صبح صادق تا طلوع شمس چند وقت است وایضاً فاصله در مابین سنت صبح وفرض چند است؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاری فرمان الله متعلم حقانیه

الجواب: د سحر آذان د طلوع شمس نه پنځه پاوه مخکښې کول پکار دي او سنت په تیاره کول بهتر دي او فرض اسفار یعني رڼا کښې کول بهتر دي، او مونځ د طلوع نه نیمه ګینټه مخکښې کول بهتر دي. او ماښام د غروب نه پس کول بهتر دي یعني بغیر د تاخیر نه. او د غروب نه پنځه پاوه ۱:۱۵ روستو د ماسخوتن مونځ کول جائز دي البته د ثلث اللیل پورې تاخیر کول بهتر دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ في منهاج السنن: قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بين طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وكذا بين غروب الشمس وغيوب البياض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد في ديارنا قدر ساعة وربع ساعة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰ جلد ۲ باب ماجاء في مواقيت الصلاة عن النبي صلى الله عليه وسلم)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (والمستحب) للرجل (الابتداء) في الفجر (باسفار والختم به)...... (وتاخير ظهر الصيف) بحيث يمشي في الظل (مطلقا)...... (و) تاخير (عصر) صيفا وشتاء توسعة للنوافل (مالم يتغير ذكاء) بان لا ......(بقيه حاشيه په راروان مخ)

د چاشت او اشراق د مانځه وخت او د ضحوه کبرٰي او صغرٰي مطلب

سوال: علماء دین او مفتیان شرع لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائي؟

(۱) د اشراق او څاښت مونځ وخت کومې پورې وی بعضې خلق وائي چه د اشراق وخت دورځې تر څلورمې حصې پورې وی نو دا څلورمه حصه د صبح صادق نه شروع کیږی یا د طلوع آفتاب نه؟

(۲) د ضحوة الکبری او ضحوة الصغرٰی نه څه مراد دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق ایف ۲۸۷ نشترآباد راولپنډی... ۱۲۵شوال ۱۳۸۹ء

الجواب: د چاشت او اشراق مونځ د محققینو په نزد دوه ځان ځان ته مونځونه نه دی. او د جمهورو په نزد جدا جدا مونځونه دی، او ځما جواب د جمهورو په مذهب باندې دې، هغه دادې چه د نمر د صفا کیدلو نه پس ددې وخت شروع کیږی او د استواء په وخت کښې ختمیږی. (الدرالمختار) او د بعضې فقهاؤ په نزد باندې هم دا بهتر دي چه د ورځې د څلورمې حصې نه پس اوکړې شي (شامي، کبیري) او د ورځې نه مراد ظاهري طورسره نهار عرفي دی. او باوجود د تلاش نه چرته وضاحت ملاؤ نه شوځکه چه د حدیث ترمض الفصال د وجې نه دا قول کړې شوې دې او ګرمی د دغې وخت نه شروع کیږی.﴿۱﴾

(بقیه حاشیه) تحار العین فیها فی الاصح (و) تاخیر (عشاء الی ثلث اللیل) قیده فی الخانیة وغیرها بالشتاء اما الصیف فیندب تعجیلها ......(و) اخر (المغرب الی اشتباک النجوم) ای کثرتها. (الدر المختارعلی هامش ردالمحتار ص ۲۶۹ تا ۲۷۱ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: فصاعد فی الضحی) علی الصحیح من بعد الطلوع الی الزوال ووقتها المختار بعد النهار، (تحت قوله ووقتها المختار) ای الذی یختار ویرجع لفعلها وهذا عزاه فی شرح المنیة الی الحاوی وقال لحدیث زید بن ارقم ان رسول الله ﷺ قال صلاة الاوابین حین ترمض الفصال رواه مسلم وترمض بفتح التاء والمیم ای بترک من شدة الحرفی اخفافها.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۰۵ جلد ۱ کتاب الصلاة مطلب سنه الضحیٰ)

(۲) د صبح صادق د طلوع او د نمر د غروب نیمې ته (الضحوة الکبری) وائي او ددې نه مخکښې ته ضحوة الصغری وئیلې شي، (شرح وقایه).﴿۱﴾

وهو الموفق

د زوال او چاشت په باره کښې په دویم ځل تپوس

سوال: حضرت مقتدانا مفتي صاحب د امت برکاتهم دارالعلوم حقانیه علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) چه د صبح صادق او غروب آفتاب په مینځ کښې ضحوة کبرٰی نه واخلې د طلوع او غروب افتاب په مینځ کښې نصف النهار پورې که مونځ کول مکروه دی نو دا مکروه تحریمی دی که مکروه تنزیهي؟ د دغه شان جناب لیکلي وؤ چه د چاشت وخت د استواء په وخت ختمیږي؟ ددې نه خو معلو میږي چه ددې سوال په ذکر شوې وخت کښې مونځ کول مکروه نه دي، او حال دا چه بالکل د استواء په وخت کښې منع بلکه ناجائز دي نو آیا دا صحیح ده؟ (۲) د حضرت د تحریر مطابق دا معلومه شوه چه د اشراق وخت د طلوع نه تر غروب پورې چه ورځ حساب شي نو د هغې تر څلورمې حصې پورې وی او د ورځې د څلورمې حصې ختمیدلو نه پس د چاشت وخت شروع کیږي آیا دا مفهوم صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق غفرله ایف ۲۸۷ راولپنډي

الجواب: (۱) دې وخت کښې مونځ کول مکروه تحریمي وی. صرف د خوارزم داما مانو په نزد او د نورو امامانو په نزد صرف د استوا په وخت کښې مونځ کول مکروه تحریمي دي. کذا فی الدرالمختار مع

﴿۱﴾ قال العلامه عبید الله بن مسعود: اعلم ان النهار الشرعی من الصبح الی الغروب فالمراد بالضحوة الکبریٰ منتصفة ثم لا بدان تکون النیة موجودة فی اکثر النهار فیشترط ان تکون قبل الضحوة الکبریٰ ...... فی مختصر القدوری الی الزوال والاول اصح. (شرح الوقایه ص ۳۰۶ جلد ۱ کتاب الصوم وهکذا فی ردالمحتار ص ۹۲ جلد ۲ کتاب الصوم)

رد المختار ص ۳۴۵ جلد ۱. لیکن د احدیثو روایاتو نه د دویم قول ترجیح معلومیږي او اکثر فقهاؤ هم دامختار کړې ده (فلیراجع الی کتب الفقه)《۱》

(۲) د حدیث په ترمض الفضال په بنا باندې ما دې طرفته ترجیح ورکړې ځکه چه دفقهاؤ په کلام کښې د مناسب تلاش نه پس ددې تعین ملاؤ نه شو.《۲》 وهوالموفق

د سحر او ماسخو تن د وختو نو بیان

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) د سحر د مونځ وختونه او لیکئ او دغه شان دا هم او فرمایئ چه د نمر ختلو پورې څومره وقفه وي؟ (۲) د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې څومره وقفه ده هغې تعین اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا رفیع الحق صاحب خطیب مسجد صاحب زادګان نوشهره کلان

الجواب: زمونږ دمذهب په بنا باندې د سحر وخت غالباً پنځه پاؤه (۱:۱۵) وی

《۱》قال ابن عابدين: (قوله واستواء) ...... ان الوقت المكروه هو عند انتصاف النهار الى ان تزول الشمس ولا يخفى ان زوال الشمس انما هو عقيب انتصاب النهار بلا فصل وفى هذا القدر من الزمان لا يمكن اداء صلاة فيه فلعل المراد انه لا تجوز صلاة بحيث يقع جزء منها فى هذا الزمان اوالمراد بالنهار هو النهار الشرعى وهو من اول طلوع صبح الى غروب الشمس وعلى هذا يكون نصف النهار قبل الزوال بزمان يعتد به ...... نهى عن صلاة نصف النهار حتى تزول الشمس ...... بان اعداد انتصاف النهار الشرعى وهو الضحوة الكبرىٰ الى الزوال عند ائمة خوارزم. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۷۳ جلد ۱ كتاب الصلاة)

《۲》قال العلامة الحصكفى رحمه الله: (والمستحب) للرجل (الابتداء) فى الفجر (باسفار والختم به) هوالمختار بحيث يرتل اربعين آية ثم يعيده بطهارة لوفسد وقيل يؤخر جدا لان الفساد موهوم (الالحاح بمزدلفة).
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۶۹ جلد ۱ كتاب الصلاة)

او دغه شان د ماښام وخت هم. نو د سحر د مونځ مناسب وخت دادې چه د نمر ختلو نه نیمه ګینټه مخکښې ختم شي او د غروب نه ۱:۱۵ (پنځه پاوه پس) د ماسخوتن اذان اوشي.《۱》 وهوالموفق

د غیوب شفق او وختونو تعین په مشا هدې سره کول پکار دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دلته په برطانیه کښې ډیرې مودې نه دا خبره مشهوره ده چه د شفق او صبح صادق مشاهده کول مشکل دي نو ددې وجې نه چا دې ته ډیره توجه نه ده کړې د یخنۍ په موسم کښې خو څه حد پورې خبره صحیح کیږي لیکن د نورو میاشتو د پاره یقیني چه داسې نه ده. بهرحال مشاهده بالکل پریخودل او خالص د (محکمه موسمیات) نه د غروب شفق او صبح صادق د راختلو په حاصل شوو وختونو باندې اکتفا کوی. اصل کښې په انګلینډ کښې اوسیدونکې مسلمانانو په اول کښې دماسخوتن مونځ اوصبح صادق د پاره خپل ځائې کښې د خپلو رصدګاهونو نه د وختونو د تعین نقشې را غوښتلې وې، نو رصدګاهونو د دولس درجو مطابق وخت را ولیږلو سره را الیږلې وو، بیا په آرام آرام په ټول انګلینډ کښې دولس درجو والا ټایم باندې عمل شروع شو. بیامو د شرع مفتیانو ته رجوع اوکړه نو هغوی پنځه پاوه پس دمونځ متعلق اووئیل اوس شرعي حکم څه دې؟ چه مونږ په هغې باندې عمل اوکړو؟ بینوا توجروا

المستفتي: حزب العلماء یوکے انګلینډ..... ۱۵۱۱۲۱۱ء۱۹۸۷

نوټ: دا استفتاء په ډیرو صفحاتو باندې مشتمل وه لیکن مونږ صرف په خلاصه باندې اکتفا اوکړه. (مرتب)

الجواب: تاسو د کال په هره میاشت کښې یا دوه درې ځلې د شفق احمر او شفق ابیض د غائب کیدلو د وخت مشاهده اوکړې او د راتلونکې وخت د پاره ئې لائحه عمل جوړ کړې《۲》

《۱》قال العلامة الحصكفى رحمه الله: (و) وقت (المغرب منه الى) غروب (الشفق وهو الحمرة) عندهما وبه قالت الثلاثة واليه رجع الامام كما فى شروح المجمع وغيرها فكان هو المذهب (و) وقت (العشاء والوتر منه الى الصبح).
(الدرالمختار على ردالمحتار ص ۲۶۵ جلد ۱ كتاب الصلاة)

《۲》قال العلامه ابن عابدين: وحاصله انا لا نسلم ...... (بقيه حاشيه په راروان مخ)

محکمه موسمیات او درجات وغیره شاته اوغورځوي. ﴿۱﴾ د هغوي اندازه دلته هم د مشاهده نه خلاف ده او دا خبره دې هم واضحه وي چه د حرج لرې کولو د پاره احتیاط پر یخودل خلاف شریعت اقدام نه دې. وهو الموفق

د ماښام او ماسخوتن د مینځنۍ وقفې دارومدار په مشاهدې دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) د مونځونو په بعضې نقشو کښې ئې د ماسخو تن او ماښام په مینځ کښې وقفه یوه ګینټه لیکلې او دائې ورسره هم لیکلي دی چه کومو حضراتو یوه نیمه ګهنټه یا ۱:۲۰ منټ لیکلې هغوي د طول بلد او عرض بلدنه پوره خبرنه دی. نو هغوي تخمیناً اندازه لګولې ده تاسو خپل تحقیق بیان کړئ. (۲) د (ذی القعده) د میاشتې د مختلفو تاریخو نو د صبح صادق که مو مطا لعه اوکړه نو هغه هم مهرباني او کړې اولیکئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: بدر منیر تبلیغی صاحب افغان ټل اټوسټوربټ خیله ملاکنډ ایجنسی... ۱۴ ذی قعده ۱۴۰۲ھ

(بقیه حاشیه) لزوم وجود السبب حقیقةً بل یکفی تقدیره کما فی ایام الدجال ویحتمل ان المراد بالتقدیر المذکور هو ماقاله الشافعیه من انه یکون وقت العشاء فی حقهم بقدر ما یغیب فیه الشفق فی اقرب البلاد الیهم...... فتعین ما قلنا فی معنی التقدیر مالم یوجد نقل صریح بخلافه واما مذهب الشافعیه فلایقضی علی مذهبنا...... قال فی امداد الفتاح قلت وکذلک یقدر لجمیع الآجال کالصوم والزکاة والحج والعده وآجال البیع والسلم والاجارة وینظر ابتداء الیوم فیقدر کل فصل من الفصول الاربعة بحسب مایکون کل یوم من الزیادة والنقص کذافی کتب الائمة الشافعیة ونحن نقول بمثله اذاصل التقدیر مقول به اجماعاً فی الصلوٰت. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۶۶ تا ۲۶۸ جلد ۱ مطلب فی فاقدوقت العشاء کاهل بلغار)

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: ووجه ما قلناه ان الشارع لم یعتمد الحساب بل الغاه بالکلیة بقوله نحن امة امیة لانکتب ولانحسب الشهر هکذا وهکذا وقال ابن دقیق العید الحساب لا یجوز الاعتماد علیه فی الصلاة انتهیٰ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۰۰ جلد ۲ مطلب ماقاله السبکی من الاعتماد علی قول الحساب مردود)

الجواب: د ریاضي په اصولو باندې دا وخت پنځلس درجې یعني ۴×۱۵=۶۰ منټ دې لیکن د غروب نه پس د مکرر مشاهدو نه ۱:۱۵ ثابت دی. او د صبح صادق وخت هم ددې مقدار نه زیات نه دې ځمونږ په علاقو کښې د ذوالقعده په اول اول کښې صبح صادق ۴:۲۵ نه پس راوځي ﴿۱﴾ وهو الموفق

په رمضان کښې د سحر مونځ په غلس کښې ادا کول

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په رمضان المبارک کښې د سحر مونځ د اذان نه پنځلس منټه پس اداکول څنګه دي؟ حال دا چه فائده داده چه اکثر خلق په جماعت کښې شریک کیږي ایا دا جائز دي؟

المستفتي: حافظ محمد زبیر عثماني حضرواټک.......... ۲۲\رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: د حدیث او فقهي روایاتو په بناء باندې د سحرپه مونځ کښې اِسفار افضل دې الا الحاج بمزدلفة ﴿۲﴾ او تغلیس جائز دې لیکن افضل نه دې کما صرحوا به ﴿۳﴾ جواز هم په هغه صورت کښې دې چه کله اذان د طلوع شمس نه ۱:۱۵ مخکښې وي.

اوکه ۱:۳۰ یا ۱:۴۵ مخکښې اذان شوې وي نو ددې اذان نه پنځلس منټه پس د صبح صادق هلو څه نوم او نښه هم نه وي. وهو الموفق

﴿۱﴾ قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بین طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وکذا بین غروب الشمس وغیوب البیاض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فی دیارنا قدر ساعة وربع ساعة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰ جلد ۲ باب مواقیت الصلاة)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: (والمستحب) للرجل (الابتداء) فی الفجر (باسفار والختم به) هو المختار بحیث یرتل اربعین آیة ثم یعیده بطهارة لو فسد وقیل یؤخر جداالان الفساد موهوم (الاالحاج بمزدلفة). (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۶۹ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۳﴾ وفی منهاج السنن: اعلم ان النبی ﷺ ثبت عنه التغلیس بالفجر کما مرفی الباب السابق والاسفار به کما روی الطحاوی عن ابی ...... (بقیه حاشیه په بل مخ)

د صبح صادق نه تر طلوع افتاب پورې په ګهړۍ باندې د وخت تعين

سوال: علماء دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د صبح صادق نه نمر راختلو پورې څومره وخت جوړيږي اکابر علمائې ديو بند ١:٣٠ بيانوي، او مفتي رشيد احمد صاحب کراچي د هغې نه اتلس منټه کم وائي. او کومه نقشه چه هغوي مونږ سرګودها والؤ لره ورکړې ده د هغې متعلق د حکم وضاحت اوکړئ؟ بينوا توجروا.

المستفتی: قاری عبدالحميد چنات آئل ملزملت آباد سرګودها.....١٥جولائی ١٩٨٦ء

الجواب: په اصولي طريقې سره د مفتی رشيد رحمة الله عليه اندازه صحيح ده البته خمونږ په علاقو کښې د مشاهدې په بنياد باندې ١:١٥ جوړيږي.﴿١﴾ وهوالموفق

(بقيه حاشيه)طريف وكان شاهداً مع رسول الله صلى الله عليه وسلم حصن الطائف فكان يصلى بنا صلوٰة الفجر حتى لو ان انسانا رمى نبله ابصر مواقع نبله وروى عن جابر يقول كان النبى عليه السلام يؤخر الفجر كاسمها، وروى الشيخان عن ابى برزة الاسلمى عن النبى صلى الله عليه وسلم قال كان ينفتل عن صلوٰة الفجر حين يعرف الرجل جليسه، قلت وهذاالحديث يدل على الاسفار به نهاية لا بداية وروى الشيخان عن ابن مسعود قال ما رئيت رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى صلوٰة الا لميقاتها الاصلوٰتين صلوٰة المغرب والعشاء بجمع وصلى الفجر يومئذٍ قبل مقياتها، وفى لفظ مسلم قبل ميقاتها بغلس، قلت افاد هذا الحديث ان المعتاد كان غير التغليس وكان عليه السلام يفعل الافضل وقد يفعل غير الافضل توسعة على الامة ولم يعلم من هذه الروايات ان ايهما افضل الاسفار او التغليس، فان قيل حديث ابن مسعود يعلم منه ان الاسفار افضل لكونه معتاداً قلنا يعارضه حديث الباب السابق فانه يدل على كون التغليس معتاداً فالظاهر ان تعامله صلى الله عليه وسلم مختلف بين الاسفار مرة وبين التغليس مرة اخرىٰ ولكن للحنفية تشريع قولى عام فى حديث الباب وليس للمخالفين تشريع قولى عام لعدم ورود غلسوا بالفجر. ومن الاصول تقديم مثل التشريع القولى العام على الفعل والوقائع الجزءية على ان فى الاسفار تكثير الجماعة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص١٧، ١٨ جلد٢ باب ماجاء فى الاسفار بالفجر)

﴿١﴾ وفى منهاج السنن: قلت وصرح المشائخ بتفاوت......(بقيه حاشيه په راروان مخ)

د ګهړۍ په اعتبار سره د مونځ وختونه

سوال: علمائ دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فجر، ظهر، عصر، مغرب، او عشاء وختونه د ګهړۍ په اعتبار سره اوښايئ مثلاً د سحر وخت څومره وي او د ماښام نه څومره وخت پس د ماسخوتن وخت شروع کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالفتاح پابينئ صوابی.....١٢٤ شعبان ١٤٠٣ھ

الجواب: خمونږ په علاقو کښې د سحر او ماښام پوره وخت تقريباً ١:١٥ وي﴿١﴾ او د مازيګر وخت تقريباً د ورځې شپږمه حصه جوړيږي او نور وختونه معلوم او مشهور دي وهوالموفق.

(بقيه حاشيه) الوقت بين طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وكذا بين غروب الشمس وغيوب البياض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فى ديارنا قدر ساعة وربع ساعة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص١٠ جلد٢ باب مواقيت الصلاة)

وقال العلامه ابن عابدين: ووجه ما قلناه ان الشارع لم يعتمد الحساب بل الغاه بالكلية بقوله نحن امة امية لا نكتب ولا نحسب الشهر هكذا وهكذا وقال ابن دقيق العيد الحساب لا يجوز الاعتماد عليه فى الصلوٰة انتهىٰ.

(ردالمحتار ص١٠٠ جلد٢ مطلب ما قاله السبكى من الاعتماد على قول الحساب مردود)

﴿١﴾ وفى المنهاج: قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بين طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وكذا بين غروب الشمس وغيوب البياض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فى ديارنا قدر ساعة وربع ساعة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص١٠ جلد٢ باب مواقيت الصلاة)

﴿٢﴾ وفى المنهاج: قال بتعجيل العصر فى اول وقتها مالك والشافعى واحمد وقال ابوحنيفة واصحابه بتاخيرها قال العلامة الشامي ان الوقت بعد العصر اى بعد دخول العصر الى الغروب قدر سدس النهار.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص٢٦ جلد٢ باب ماجاء فى تعجيل العصر)

د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې فاصله

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ځمونږ په علاقه کښې د ماسخوتن اذان د ماښام د اذان نه پنځوس منټه پس یا ۵۵ یا زیات نه زیات یوه ګینټه پس کیږي عام طور سره د ماښام اذان او ماسخوتن په مینځ کښې پنځه پاؤه وقفه ساتلې کیږی دې سلسله کښې ستاسو حضراتو نه وضاحت مطلوب دې چه د ماښام او ماسخو تن په اذانونو کښې څومره فرق ساتل پکار وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: غلام سرور لوند خوړ مردان...... ۱۹۸۷ء/۱/۱۳

الجواب: چه کله نمر یقیني طریقې سره ډوب شي او د هغې نه پس ۱:۱۵ ګینټه تیره شي نو د ماسخوتن وخت داخل شي ځمونږ د مشاهدې او تجربې نه دا ثابته ده ﴿۱﴾ البته د ریاضي په حساب سره پنځلس درجې چه کل ۱۵×۴=۶۰ منټه وخت د مغرب دې دهغې نه پس د ماسخوتن وخت شروع کیږي.﴿۲﴾ وهو الموفق

د شفق ابیض د غیوب نه مخکښې د ماسخوتن مونځ کول

سوال: مفتیان شریعت دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ځمونږ ځائي کښې یو جماعت کښې د جولائي میاشت کښې د ماسخو تن آذان په ۸:۱۵ بجې او مونځ ۸:۴۵ بجې کیږي د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې د پنځه ځلویښت

﴿۱﴾ وفی المنهاج: قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بین طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وکذا بین غروب الشمس وغیوب البیاض بتفاوت المواسم والبلاد، والمشاهد فی دیارنا قدر ساعة وربع ساعة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰ جلد۲ باب ماجاء فی مواقیت الصلوٰة عن النبی ﷺ)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: (و) وقت (المغرب منه الی) غروب (الشفق وهو الحمرة) عندهما وبه قالت الثلاثة والیه رجع الامام کما فی شروح المجمع وغیرها فکان هو المذهب (و) وقت (العشاء والوتر منه الی الصبح) (الدر المختار ص ۲۶۵ جلد ۱ کتاب الصلاة)

منټو وقفه پاتې کیږي سوال دادې چه د پنځه ځلویښت منټه تیریدلو نه پس د ماسخو تن وخت دا خلیدې شي یا نه؟ په دې سلسله کښې داحنافو مفتی به مسلک کوم یو دې او د ماښام او ماسخو تن د اذان په مینځ کښې څومره فاصله ضروري ده دغه شان د شفق په مصداق کښې چه د ائمه مذاهب په مینځ کښې کوم اختلاف دې د هغې نه د بچ کیدلو ډیره د احتیاط طریقه څه ده؟ او شفق ابیض د غائب کیدلو نه مخکښې د جماعت کولو څه حکم دې؟

المستفتي: حبیب الله خیر آباد نو شهره...... ۱۹۸۲ء/۶/۱۸

الجواب: دغروب او عشاء په مینځ کښې کم نه کم پنځه پاؤه فاصله ساتل پکار دي دشفق ابیض دغائب کیدو په وخت کښې اذان کول پکاردي داد محققینو رائې ده او هم دا احتیاط دې بلکه د بعضې فقهاؤ په نزد د غیوب بیاض نه مخکښې د جمعې مونځ کولو نه د غیوب نه پس ځان له مونځ افضل دې ﴿۱﴾

کمافی شرح الکبیر ص ۵۲۹ وفی فتاویٰ صاعد امام محلته یصلی العشاء قبل غیاب البیاض فالافضل ان یصلیها وحده بعد البیاض ﴿۱﴾. وهو الموفق

د مثل اول نه پس د مازیګر د اذان حکم

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه سعودي عرب کښې د مثل اول نه پس د ماز یګر اذان کیږي او حال دا چه د احنافو قول د مثلینو نه پس دې نو که مونږ د هغوي په اقتداء کښې دغه وخت کښې مونځ او کړو نو د هغې به څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: منیراحمد شارع الشفاء طائف سعودیه عربیه... ۲۲ اکتوبر۱۹۸۳ء

جواب دغه امام پسې اقتداء کوئ که کیدلې شی درنه نو احتیاطاً یې اعاده او کړئ ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۵۲۵ فصل فی احکام المسجد)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: (وعلیه عمل الناس الیوم) وانظر هل اذالزم من تاخیره العصر الی المثلین فوت الجماعة یکون الاولیٰ التاخیر ام لا...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په مشرقي جانب کښې د شفق احمر زوال معتبر نه دي

سوال: حامداً ومصلیاً (رساله تحقیق وقت مغرب) صنفه مولانا فقیر محمد حسن صاحب زکوزی (اول وقت المغرب غیوبة الشمس المعلومة بذهاب الحمرة المشرقیه هذا هو الاصح، وعلیه عمل اکثر الاصحاب لقول قائم اذا غابت الحمرة من هذا الجانب یعنی المشرق فقد غابت الشمس من شرق الارض وغربها، وروی الکلبی عن ابن عمر رضی الله عنه مرسلا عن النبی ﷺ، اول وقت المغرب سقوط القرص ووقت الافطار ان تقوم بحذاء القبلة وتفقد الحمرة التی ارتفع من المشرق اذا جاوز قمة الراس الی ناحیة المغرب فقط وجب الافطار وسقط القرص، وهو صافی فی ان زوال الحمرة الشرقیة علامة سقوط القرص الذی یری غیوبة الشمس ومرسل ابن عمر کالمسند، وللشیخ قول بان الغروب یتحقق باستتار القرص لقوله ﷺ لابن اسامة رضی الله عنه وقد صعد جبل قیس والناس یصلون المغرب فرای الشمس لم تغب وانما توارت الجبل بئس ما صنعت انها تصلیها اذا تریها حیث غابت او غارت وانما علیک مشرقک ومغربک ولیس علی الناس ان یبعثوا، وجوابه انه لا دلالة فیها ان تحقیق الغروب قبل ذهاب الحمرة فبقی الاخبار الصحیحه الصریحة باعتبار زوالها بغیر معارض، انتهی (نقل من کتاب قواعد الاحکام تصنیف عزبن عبد السلام الشافعی المصری ولد فی سنه ۶۰۰ ه) والحال این کتاب درخانقاه سراجیه نزد کندیا شریف بدست مولانا خان محمد صاحب سجاده نشین موجوداست۔

(بقیه حاشیه) والظاهر الاول بل یلزم لمن اعتقد رجحان قول الامام تأمل ثم رأیت فی آخر شرح المنیة ناقلا عن بعض الفتاویٰ انه لا کان امام محلته یصلی العشاء قبل غیاب الشفق الابیض فالافضل ان یصلیها وحده بعد البیاض . (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۶۴ جلد ۱ قبیل مطلب لوردت الشمس بعد غروبها اوقات الصلاة)

...

بسم الله الرحمن الرحیم الخ (فی فج العمیق: من تصنیف شیر محمد کاکیانی فی مذهب النعمانی) ما مر به اول وقت المغرب وقت غروب الشمس اذا غربت عن الافق فی جانب المغرب مائل فعلامة وقت المغرب التی اذا زالت الحمرة من جانب المشرق وبرفع السواد انتهیٰ فی ص ۱۹۹ . وایضاً صرح سید سند فی شرحه علی الجغمینی تحت قوله وفی الشرع من طلوع الفجر الثانی الیٰ غروب الشمس قوله الی غروب الشمس بمعنی مجاوزته عن الافق الغربی بحیث تظهر الظلمة فی جهة المشرق وتزول الحمرة الخ فی القفعمه ص ۱۳۱ ، وایضاً قال ابو الفتح ارکن بن حسام المفتی الکناری فی الفتاویٰ الحمادیة نقل من مطلوب المسلمین اما تغربیه اول وقت صلوة المغرب اذا غربت الشمس ولم یبق اثر شعاعها یعنی من جانب المشرق انتهیٰ ص ۹ . وایضاً قال علاء الدین الحصکفی فی درالمختار فی درالمنتقیٰ شرح الملتقیٰ تحت قول المصنف، الصوم ترک الاکل الخ من الفجر الی الغروب الی زمان غیبوبة تمام حمرة الشمس بحیث تظهر الظلمة فی جهة المشرق انتهیٰ فی الفتحه ص ۱۳۰ . بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم ۱۳/جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: اعلم ان التقید بزوال حمرة المشرق لا توافقه الروایات الحدیثیة ولا الفقهیة کما لا یخفیٰ علی من راجع الی کتب الحدیث وکتب الفقه المتداولة بین العلماء، وما اوردوا فی حدیث ابن عمر لا یقبل قبل ذکر الاسناد اوالاستناد الی الکتاب الذی یروی فیه الحدیث مع الاسناد، او یقال ان المراد من ظهور الظلمة فی جهة المشرق هو الظهور فی الافق واما الحمرة فلا یکون فی سائر الایام فلا تکون

حاشیة شرح الوقایة﴿۱﴾. وهو الموفق

یو وطن کښې چه مونځ اوکړي او بل وطن ته لاړشي او وخت داخل شوې نه وي نو څه به کوي.

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه خپل وخت باندې مونځ اوکړي بیا روستو د جیټ طیارې په ذریعه سره وطن ته اورسیدلو چه هلته د دغه د مونځ وخت نه دې داخل شوې آیا دا سړې به دا مونځ په دویم ځل کوي؟

المستفتي: نامعلوم...... ۱۰ محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: بعضې فقهائې کرام فرمائي چه د وخت د واپسۍ په صورت کښې به مونځ دوباره کول ضروري وي(فی الدر المختار فلو غربت ثم عادت هل یعود الوقت الظاهر نعم)او بعضې فقهاء فرمائي چه دې صورت کښې به په دویم ځل نه شی کولې.

فی ردالمحتار ص ۳۳۴ جلد ۱ قلت علی ان الشیخ اسماعیل رد ما بحثه فی النهر تبعاً للشافعیه بان صلوة العصر بغیبوبة الشفق تصیر قضاء ورجوعها لا یعیدها اداء ...... ومافی الحدیث خصوصیة لعلی کما یعطیه قوله علیه السلام انه کان فی طاعتک وطاعة رسولک، وقال العلامة الشامی قلت ویلزم علی الاول بطلان صوم من افطر قبل ردها وبطلان صلوة المغرب لو سلمنا عود الوقت بعودها للکل والله تعالیٰ اعلم انتهیٰ مافی ردالمحتار﴿۲﴾ قلت ظاهر حدیث لا یصلی صلوة مرتین یقتضی ترجیح الثانی فافهم وکذا علم اعادة النبی ﷺ عند عود الشمس . وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامه عبد الحئی اللکهنوی: قوله (والمغرب منه الیٰ مغیب الشفق وهو الحمرة عندهما وبه یفتیٰ) قوله الی ان تغیب الشمس قال شیخ الاسلام التفتازانی المعتبر فی غروب الشمس سقوط قرص الشمس وهذا ظاهر فی الصحراء واما فی البنیان وقلل الجبال فبان لا یری شئ من شعاعها علی اطراف البنیان وقلل الجبال وان یقبل الظلام من المشرق. (هامش عمدة الرعایه علی شرح الوقایه ص ۱۴۷ جلد ۱ کتاب الصلوٰة)

﴿۲﴾(الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۶۵ جلد ۱ مطلب لو ردت الشمس بعد غروبها)

په بلغاریه کښې د سحر د مونځ حکم

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه فتاویٰ ودودیه صفحه ۱۰۳ او ۱۰۴ کښې لیکلې شوې دي چه په بلغاریه کښې کله کله د ماښام د مونځ نه پس د شفق غائب کیدلو نه مخکښې مخکښې په آسمان باندې نمر راخیژي د فتاوي مصنف جناب مولوي محمد ابراهیم مرحوم لیکلې دي که د ماسخوتن مونځ قضاء کوی او که نه لیکن چه کله نمر راوخیژي نو د سحر مونځ هم نه کیږي نو دوي (مرحوم) د فجر متعلق نه دي لیکلې چه قضا به ئې کوي او که نه نو د فجر متعلق مسئله واضحه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: اورنګزیب پیپي پشاور...... ۲۴/۸/۱۹۷۲ء

الجواب: په بلغاریه کښې په بعضې موسمونو کښې د غروب شفق سره طلوع فجر کیږي، لهذا هلته به د فجر مونځ با قائده کولې شي.

کما فی الدر المختار کبلغار فان فیها یطلع الفجر قبل غروب الشفق فی اربعینیة الشتاء (هامش ردالمحتار ص ۳۴۲ جلد ۱﴿۱﴾)﴿۲﴾. وهو الموفق

په قطب شمالي کښې د شپږ و میاشتو په ورځ کښې د صوم وصلوة حکم

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کوم ځائې کښې شپږ میاشتې یوه ورځ وي نو هلته به د مونځ او روژې څه حکم وي؟

المستفتي: عبد الظاهر افغانستان متعلم جامعه اسلامیه اکوړه خټک.....۱۷ ذیقعده ۱۳۹۶

﴿۱﴾(الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۶۶ جلد ۱ کتاب الصلاة مطلب فی فاقد وقت العشاء کاهل بلغار)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدین: وفی شرح المنهاج ویجری ذلک فیما لو مکثت الشمس عند قوم مدة، قال فی امداد الفتاح قلت وکذلک یقدر بجمیع الآجال کالصوم والزکاة والحج والعدة وآجال البیع والسلم والاجارة وینظر ابتداء الیوم فیقدر کل فصل من الفصول الاربعة بحسب ما یکون کل یوم من الزیادة والنقص...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: قطب شمالي ته تلل او هلته د انسان پاتې کېدل ډېر زيات ګران دي بلکه محال دي لهذا شريعت غراء د داسې ځايې د پاره د صوم اوصلوة حکم نه دې جاري کړې ځکه چه شريعت شاذاو نوادر څيزونه نه بيانوي البته په شريعت کښې دداسې نادر کارونو مثالونه خامخا وي. چه علماء دضرورت په وخت دذې نه استخراج اوکړي. والاصل هٰهنا حديث الدجال رواه مسلم والترمذی اقدروا له قدره. ﴿۱﴾ نودا سړې به په اندازې او سوچ سره طلوع او غروب وغيره معلوموي او په هغې باندې به صوم وصلوة بناکوي اوکه دا ګرانه وي نوکوم نزدې ښارکښې چې پنځه وختونه موجوديږي دهغې نه دريډيو وغيره په ذريعې سره معلومات اوکړئ اوپه هغې وختونو بنا اوکړئ.

﴿۲﴾ واعلم ان القمر يتحقق فيه الطلوع والغروب والاستواء كالارض

(بقيه حاشيه) كذا فى كتب الائمة الشافعيه ونحن نقول بمثله اذاصل التقدير مقول به اجماعا فى الصلوات. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۶۸ جلد ۱ مطلب فى طلوع الشمس من مغربها)

﴿۱﴾ حديث الدجال قلنا يارسول الله فذلك اليوم الذى كسنة ايكفينا فيه صلاة يوم قال لا اقدروا له قدره. (مشكواة المصابيح ص۴۷۳ جلد ۲ باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدين: وفى شرح المنهاج ويجرى ذلك فيما لو مكثت الشمس عند قوم مدة قال فى امداد الفتاح قلت وكذلك يقدر لجميع الآجال كالصوم والزكاة والحج والعدة وآجال البيع والسلم والاجارة وينظر ابتداء اليوم فيقدر كل فصل من الفصول الاربعة بحسب ما يكون كل يوم من الزيادة والنقص كذا فى كتب الائمة الشافعية ونحن نقول بمثله اذا صل التقدير مقول به اجماعاً فى الصلوات.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۶۸ جلد ۱ مطلب فى طلوع الشمس من مغربها)

وايضاً قال فى الصفحة ۲۶۶ وحاصله انا لا نسلم لزوم وجود السبب حقيقة بل يكفى تقديره كما فى ايام الدجال ويحتمل ان المراد بالتقدير المذكور هو ما قاله الشافعية من انه يكون وقت العشاء فى حقهم بقدر ما يغيب فيه الشفق فى اقرب البلاد اليهم...... فتعين ما قلنا فى معنى التقدير ما لم يوجد نقل صريح بخلافه وامامذهب الشافعيه فلا يقضى على مذهبنا.

(ردالمحتار ص۲۶۶،۲۶۷ جلد ۱ مطلب فى ما قد وقت العشاء كاهل بلغار)

وكذا تفاوت الليل والنهار فالحكم فيه كحكم الارض ﴿۱﴾. فافهم

چاچه د مازيګر مونځ نه وي کړې نو د مونځ نه مخکښې نفل کول د اعتراض قابل نه دي دغه شان د ماسپخين سنتو او فرضو مينځ کښې نفل کول هم د اعتراض قابل خبره نه ده

سوال: علماء دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په يو جمات کښې د مازيګر مونځ شوې دې يو سړې د مونځ د پاره راغې بل کس ورته اووئيل لږ صبراوکړه څه هم اودس کوم بيابه جمع اوکړو. اوس داسړې ددويمې جمعې نه مخکښې او اولنۍ جمعې نه پس نفل کولې شي که نه؟ دغه شان د ماسپخين د سنتو او فرضو په مينځ کښې نفل کول جائز دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمن لکي مروت...... ۳۰۱۷۱۱۹۷۷

الجواب: کوم کس چه د مازيګر مونځ نه وي کړې د هغه دپاره داصفرار نه مخکښې نفل کول صحيح دي. (كما صرح به جميع الفقهاء) ﴿۲﴾ يوفقيه هم د ماسپخين دسنتو او فرضو په مينځ کښې

﴿۱﴾: ځنګه چه په زمکه باندې مونځ فرض دې دغه شان که څوك په سپوږمۍ، زهره، مريخ، يا نورو سيارو کښې اوسيدل شروع کړي نو هلته به هم مونځ فرض وي. البته دا خبره ده چه سجده ديته وائي چه (ان تكون على الارض اوعلى ماقام مقام الارض) او په فضا کښې زوړند څيزونه خو داسې نه دي. نو د هغې جواب په منهاج النق کښې داسې ورکړې شوې دې.

قلنا كما ان الماء جسم فاصل بين السفينة والارض لا يعد بفصله فكذلك الريح جسم فاصل بين الطيارة والارض لا يعد بفصلها وكما ان السماء جسم ليس بارض ولاقام مقامها وتصح الصلوٰة فيها لقوله تعالىٰ واوصانى بالصلوٰة والزكواة ما دمت حيا، ولاستقرار الجبهة عليها فكذلك الطيارة تصح الصلاة والسجدة فيها، وكذلك يقال فى الصلوٰة فى القمر والمريخ وغيرهما،

البته د قبلې طرف لازمي دې او هغه په قبله نما يا بلې ذريعې سره معلوميدلې شي. ګني نو د تحري حکم هم شته چه تحري او کړي او د قبلې طرف متعين کړي الله تعالى فرمائي: (اينما تولوا فثم وجه الله...الايه) (ازمرتب)

﴿۲﴾ قال العلامه مرغينانى: لاتجوز الصلوة عند طلوع الشمس ولا ...... (بقيه حاشيه په راروان مخ)

د نفل کولو نه منع نه ده کړې. کما لایخفی. وهو الموفق

دماښپښين مونځ په مثل ثاني کښې کول داستحباب اواحتياط نه خلاف دي

سوال: يوه مسئله ده او په هغې کښې ئې دا ثابت کړي دي چه سخته يخنۍ کښې مثل ثاني د ۲-۱۵نه شروع کيږي او په هغې څه حوالې هم ليکلې شوې دي. دغه شان سائل په مثل ثاني کښې مونځ کول خلاف استحباب ثابت کړې دي جناب حضرت مفتي صاحب داسې جواب ليکلې دي نو تاسوهم په خپلې رائې سره تسلي راکړې؟ بينوا توجروا

السائل : شير محمد.........۱۹۷۸ء۱۰/۱۲/۱

الجواب: دا عبارات محوله درست دي ددې عبارتونو په بناء باندې په مثل ثاني کښې مونځ کول د استحباب او احتياط نه خلاف دي. البته ۲:۳۰بجې د مثل ثاني داخليدل د غور قابل خبره ده دغه شان د ګرمئ او يخنئ په مو سمونو کښې په فئ الزوال کښې فرق وي په زياتي سوري کښې نه وي﴿۲﴾ فافهم

(بقيه حاشيه)عند قيامها فی الظهيرة ولا عند غروبها لحديث عقبة بن عامر رضی الله عنه قال ثلثة اوقات نهانا رسول الله ﷺ ان نصلی وان نقبر فيها موتانا عند طلوع الشمس حتی ترتفع وعند زوالها حتی تزول وحين تضيف للغروب حتی تغرب.

(الهدايه ص ۸۰ جلد ۱ فصل فی الاوقات تكره فيه الصلاة)

﴿۱﴾قال العلامه حصكفی: ولو تكلم بين السنة والفرض لا يسقطها ولكن ينقص ثوابها وقيل تسقط وكذا كل عمل ينافی التحريمة علی الاصل. (الدر المختار علىٰ هامش ردالمحتار ص ۵۰۳ جلد ۱ قبيل مبحث مهم فی الكلام علی الضجعة بعد سنن الفجر)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجيم:(والظهر من الزوال الی بلوغ الظل مثليه سوی الفیئ) ای وقت الظهر اما اوله فمجمع عليه لقوله تعالیٰ اقم الصلاة لدلوک الشمس ای لزوالها وقيل لغروبها واللام للتاقيت ذكره البيضاوی واما آخره ففيه روايتان عن ابی حنيفه الاولی رواهما محمد عنه ما فی الكتاب والثانيه رواية الحسن اذا صار ظل كل شئ مثله سوی......

(بقيه حاشيه په راروان مخ)

يوکس د ماښپښين مونځ اوکړو بيائې د هوائي جهاز په ذريعې سره سفر اوکړو بل ځائې کښې دماښپښين وخت داخل شونودمونځ څه حکم دي؟

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړي د ماښپښين مونځ په يو ځائې کښې او کړو او بيا د هوائي جهاز په ذريعه بل ځائې ته لاړشي او هلته د دغې مونځ وخت اذان کيدو نو او هلته دغه وخت داخل شو نو آيا په دويم ځل به مونځ اداکوي. او که نه هغه اولني مونځ ورله کافي دي؟

المستفتي: سعيدالله آزاد کوهستان........۱۹۸۵ء۳۱/۱/۹

الجواب: که دتيرشوی وخت اعاده د وخت تيريدلونه پس شوې وی.نودغه مونځ به دوباره کوی.

ونظيره اعادة الظهر والعصر يوم تطلع الشمس من المغرب ﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقيه حاشيه) الفئ وهو قولهما والاولی قول ابی حنيفة قال فی البدائع انها المذكورة فی الاصل وهو الصحيح وفی النهاية انها ظاهر الرواية عن ابی حنيفة وفی غاية البيان وبها اخذ ابوحنيفة وهو المشهور عنه وفی المحيط والصحيح قول ابی حنيفة وفی الينا بيع وهو الصحيح عن ابی حنيفة وفی تصحيح القدوری للعلامة قاسم ان برهان الشريعة المحبوبی اختاره وعول عليه النسفی ووافقه صدر الشريعة ورجع دليله.

(البحر الرائق ص ۲۴۵ جلد ۱ كتاب الصلاة)

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: ورد فی حديث مرفوع ان الشمس اذا طلعت من مغربها تسير الی وسط السماء ثم ترجع ثم بعد ذلک تطلع من المشرق كعادتها قال الرملی الشافعی فی شرح المنهاج وبه يعلم انه يدخل وقت الظهر برجوعها لانه بمنزلة زوالها ووقت العصر اذا صار ظل كل شئ مثله والمغرب بغروبها وفی هذا الحديث ان ليلة طلوعها من مغربها تطول بقدر ثلاث ليال لكن ذلک لا يعرف الابعد لابهامها علی الناس فحينئذٍ قياس ما مر انه يلزم قضاء الخمس لان الزائد ليلتان فيقدران عن يوم وليلة وواجبها الخمس.

(ردالمحتار مع الدر المختار ص ۲٦۸ جلد ۱ كتاب الصلاة مطلب فی طلوع الشمس من مغربها)

که فرض مونځ اودجنازې یو وخت مقرشوې وي نوکوم یوبه مخکې کیږي؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ماسپخین اود جنازې د مونځ د پاره نو وخت مقرر شوې وي نو د فرضونه مخکښې کول خو ظاهره خبره ده خو جنازه به د سنتونه مخکښې کیږي یا روستو؟ بینوا توجروا

المستفتي: صوبیدار حمیدګل ګرګره کوهاټ...... ۱۹۹۱ء/۱۲/۱۹

الجواب: چه کله د ماسپخین اودجنازې مونځ په یو وخت شروع کیدلو والا وي یا وخت تنګ وي نو د مفتیٰ به قول په بنیادسره به سنت په جنازې مخکښې کولې شي. کمافی ردالمحتار باب العیدین﴿۱﴾. وهو الموفق

د غروب او ماسخوتن داخلیدلو په مینځ کښې د وقفې مقدار

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره که څه فرمائي چه دماښام د مونځ وخت څومره وخت پس ختمیږي او د ماسخوتن د مونځ څومره وخت پس شروع کیږي؟ المستفتي: غلام محمد ډوک منجو ضلع کیملپور...... ۱۹۷۲ء/۲۱/۸

الجواب: د غروب نه ترد دخول عشاء پورې تقریباً یوه نیمه ۱:۳۰ یا پاوۀ باندې ګنټه ۱۵ :۱ فرق وي﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی: وتقدم صلاة الجنازة على الخطبة وعلى سنة المغرب وغيرها(كسنة الظهر والجمعة والعشاء) والعيد على الكسوف لكن فى البحر قبل الاذان عن الحلبى الفتوىٰ على تاخير الجنازة عن السنة واقره المصنف كانه الحاق لها بالصلاة لكن فى آخر احكام دين الاشباه ينبغى تقديم الجنازة والكسوف حتى على الفرض مالم يضق وقته فتامل. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ٦١١ جلد١ مطلب فيما يترجع تقديمه من صلاة عيد وجنازه الخ)

﴿۲﴾ وفى منهاج السنن: قلت وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بين طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وكذا بين غروب الشمس وغيوب البياض بتفاوت المواسم والبلاد والمشاهد فى ديارنا قدر ساعة وربع ساعة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ١٠ جلد٢ باب ماجاء فى مواقيت الصلاة عن النبى ﷺ)

په کینډا کښې د مازیګر او ماسخوتن د وخت تعین

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دلته کینډا کښې اوولس نیمې ګینټې ورځ وی. د مونځ چاټ هم درلیږم. او دلته په مئي کښې ګهړئ یوه ګینټه مخکښې کوي او په نومبر کښې ئې یوه ګینټه وروستو کوي. دانقشه د امام شافعی رحمه الله د مسلک مطابق ده نو د حنفي مسلک مطابق به دمازیګر وخت څه وي؟دغه شان دلته دغروب افتاب نه پس شفق احمرغائب شي لیکن شفق ابیض د شپې یوولس بجو یا دهغې نه هم ناوخته پورې وي دغه وخت انتظار ډیرمشکل وی.آیا دماښام د مونځ نه پس فوراً مونږ د ماسخوتن مونځ کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتي:محمد اشفاق کینډا...... ۱۹۷۹ء/۸/۵

الجواب: د غروب نه زیات نه زیات دوه ګینټې مخکښې د مازیګر مونځ کوئ او د غروب نه ۱۵-۱ ګینټه پس د ماسخوتن مونځ کوئ ﴿۱﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ د احنابو په معمول کښې د مازیګر وخت د ورځې د پوره مقدار (یعني د طلوع نه تر غروب شمس پورې تقریباً آخرنئ حصه ده. لیکن په دې کښې دومره تا خیر کول چه زیړوالي ته اورسیږي مکروه دي.

قال الحصكفى وآخر العصر الى اصفرار ذكاء فلو شرع فيه قبل التغير فمده اليه لا يكره (الدرالمختار ص٣٦٨ جلد٢)

دارنګې شفق احمر هغه دې چه د نمر غروب کیدو وخت کښې د افق کیدلو په وجه باندې وي اونمرپه افق کښې عموماً دشپې داتمې حصې نه زیات نه پاتې کیږي. بهرحال چه په وختونوکښې داسې قسمه تغیر پیداشو او دورځې شپې امتیازناممکن وي نود نزدې ملکونو په اعتبارسره په څلورویشتو(۲۴)ګینټو کښې دپنځه مونځونو اهتمام کول ضروري دي.

قال الحصكفى: وفاقدوقتهما كبلغار فان فيها يطلع الفجر قبل غروب الشفق فى اربعينة الشتاء مكلف بهما فيقدر لهما ولا ينوى القضاء لفقد وقت الاداء. (درمختار ص ٣٦٢ جلد١) وكما فى حديث مسلم ص ٤٠ جلد٢ باب ذكر الدجال: قلنا يا رسول الله فذلك اليوم الذى كسنة اتكفينا فيه صلوٰة يوم قال لا اقد رواله قدره الخ.(ازمرتب)

د جمعې مونځ کوم وخت پورې صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جمعې مونځ د کوم وخت نه کوم وخت پورې صحیح دې؟

المستفتي: سید اسماعیل شاه تحصیل وضلع اټک........۱۲۵؍اکتوبر ۱۹۸۳

الجواب: د زوال نه پس دوه نیمو ګینټو نه زیات تاخیر کول بې احتیاطي ده ﴿۱﴾ د جمعې مونځ کښې جلتي کول بهتر دې. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مازیګر یا سحر مونځ نه پس د نفل او قضاء مونځ کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د مازیګر یادَ سحر دَ مونځ نه پس څوک نفل یا قضاء مونځ کولې شي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد زاهد حولدار الیکټریش میډیم رجمنټ ایل اے ډي...۱۷ محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: قضاء مونځ کول جائز دي او نفل کول منع دي ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم المصری رحمه الله: والجمعة کالظهر اصلاً واستحبابا فی الزمانین کذا ذکره الاسبیجابی. (البحر الرائق ص ۲۴۷ جلد ۱ کتاب الصلاة فی المواقیت الصلاة)

﴿۲﴾ وفی منهاج السنن: یدل حدیث سلمة علی التبکیر فی الجمعة وهو المختار عند العینی وقال الاسبیجابی الجمعة کالظهر اصلاً واستحبابا فی الزمانین، ویؤید التبکیر ماقاله ابن قدامة فی المغنی ، کان النبی ﷺ یصلیها اذا زالت الشمس صیفا وشتاء علی میقات واحد. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۵ جلد۳ باب ماجاء فی وقت الجمعة)

﴿۳﴾ وفی الهندیه: تسعة اوقات یکره فیها النوافل وما فی معناها لا الفرائض هکذا فی النهایه والکفایه فیجوز فیها قضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة کذا فی فتاویٰ قاضی خان منها ما بعد طلوع الفجر قبل صلاة الفجر. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۵۲ جلد ۱ الفصل الثالث فی بیان الاوقات التی لا تجوز فیها الصلاة وتکره)

د ماښام په مونځ کښې تاخیر کول مکروه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ماښام مونځ په داسې تاخیر سره کول چه په ټولو جماتونو کښې مونځ اوشي جائز دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد الخلیل محله اباخیل نوشهره..... ۱۰؍رمضان ۱۳۹۲

الجواب: په ماښام کښې ډېر تاخیر (د شفع په مقدار) مکروه دي (فتح القدیر) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د قضا مونځونو د پاره مکروه وختونه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د قضا مونځونو مکروه وختونه کوم کوم دي؟ آیا د زوال نه علاوه بل هم څه ممنوع وخت شته؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد ازرم (اے سي) تبوک سعودیه عربیه......۱۷؍۱۱؍۱۴۰۱ھ

الجواب: صرف درې وختونه دي، غروب، طلوع او استواء په دې وختونو کښې قضاء مکروه ده. (والاصفرار فی حکم الغروب) ﴿۲﴾ وهو الموفق

د ماسپخین د وخت مونځ دارو مدار په زوال دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ګرمي او یخنۍ په موسمونو

﴿۱﴾ قال المرغینانی (واول وقت المغرب اذا غربت الشمس وآخر وقتها ما لم یغیب الشفق) وقال ابن الهمام رحمه الله: ولذا قلنا ان تاخیر المغرب مطلقاً مکروه. (هدایه مع فتح القدیر ص ۱۹۵ جلد ۱ باب المواقیت)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجیم رحمه الله: ثم لیس للقضاء وقت معین بل جمیع اوقات العمر وقت له الا ثلاثة وقت طلوع الشمس ووقت الزوال ووقت الغروب فانه لا تجوز الصلاة فی هذه الاوقات لما مر فی محله. (البحر الرائق ص ۸۰ جلد۲ باب قضاء الفوائیت)

کښې د ظهر وخت په شروع کیدو کښې څه فرق شته که نه؟ ما اوریدلي دي چه زوال یعنې د ظهر دمونځ وخت د دولس نیمو بجو نه شروع کیږي.نو که یو مسافر یا مقیم په ګرمۍ یا یخنۍ کښې پاؤکم په یوه بجه د ظهر مونځ اوکړي نو دا به صحیح وي؟

المستفتي: عبدالحمید......۲۳\۴\۱۹۷۴ء

الجواب: دارو مدار په زوال باندې دې پاؤ کم په یو بجه باندې په هر موسم کښې زوال شوې وي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: ووقت الظهر من زواله ای میل ذکاء عن کبد السماء الی بلوغ الظل مثلیه، قال ابن عابدین: من زواله الاولیٰ من زوالها عن کبد السماء ای وسطها بحسب ما یظهر لنا. (الدرالمختا ر مع هامش ردالمحتار ص ۲۶۴ جلد ۱ قبیل مطلب لو ردت الشمس بعد غروبها)

باب الاذان والاقامة

د اذان په وخت کښې د خبرو کولو او وعظ کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ﴿۱﴾ د اذان نه مخکښې څه کسان په جمات کښې ناست وي په خبرو کښې مشغول ووچه اذان شروع شي نو اوس به خبرې بند کړي او د اذان د الفاظو جواب ورکول به ضروري وي او که نه خبرې دې جاري ساتي؟ (۲) که په یو مجلس کښې وعظ کیږي او اذان آواز شي نو د اذان په عزت کښې بۀ وعظ هم بند ولې شي او که نه وعظ به جاري ساتلې کیږي؟ بینوا توجروا.

المستفتي: محمد ایوب خان محله شیام ګنج مردان....۱۰\اصفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: (۱) خبرې جاري ساتل خلاف سنت کار دې.﴿۱﴾ (لان اجابة الاذان سنة) ﴿۲﴾ که په دې وعظ کښې ددین تعلیم شروع وي نو وعظ جاري ساتل صحیح دي﴿۳﴾ (ردالمحتار باب الاذان) وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: وینبغی للسامع ان لا یتکلم ولا یشتغل بشئی فی حالة الاذان والاقامة ولایرد السلام ایضا لان الکل یخل بالنظم. (ردالمحتار ص ۲۹۴ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجیم: ومن سمع الاذان فعلیه ان یجیب وان کان جنبا لان اجابة الموذن لیست باذان وفی فتاویٰ قاضی خان اجابة الموذن فضیلة وان ترکها لا یاثم واماقوله علیه الصلاة والسلام من لم یجب الاذان فلا صلاة له فمعناه الاجابة بالقدم لاباللسان فقط وفی المحیط یجب علی السامع للاذان الاجابة. (البحر الرائق ص ۲۵۹ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: قوله(و تعلیم علم تعلمه) ای شرعی فیما یظهر ولذا عبر فی الجوهرة بقراءة الفقه (قوله بخلاف قرآن) لانه لا یفوت جوهره ولعله لان تکرار القراءة انما هو للاجر فلایفوت بالاجابة بخلاف التعلم فعلیٰ هذا لو یقرأ تعلیما او تعلما لا یقطع.

((ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۹۲ جلد ۱ باب الاذان)

د اذان او اقامت کلمات به هم د تجوید په قواعدو سره ادا کولې شي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د اذان او اقامت په کلماتو کښې به د تجويد د اصولو او قواعدو مطابق او غير وقف احکامات جاري کيږي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحمن الدين تحصيل وډاکخانه خاص دير ضلع دير

الجواب: د تجويد او عربيت قواعد په ټولو کلماتو کښې جاري کيږي د اذان او اقامت په کلماتو کښې هم جاري کيږي. ﴿۱﴾

﴿۱﴾(يدل عليه مافى ردالمحتار ص ۲۵۸، ۲۵۹ جلد ۱). وهوالموفق

په دوه يا زياتو ځايو نو کښې مؤذن کيدل مکروه دي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړې په دوه يا درې ځايو نو کښې اذان کوي ځکه چه اذان خو صرف اعلان دې نو آيا دا جائز دي؟

المستفتي: سعيدالله آزاد کوهستان....۱۹۸۵ء۱۰/۱/۲

الجواب: دوه يا دوونه زياتو جماعتونو کښې موذن مقرر کيدل مکروه دي. کمافى شرح التنوير قبيل شروط الصلاة ويكره له ان يوذن فى مسجدين﴿۲﴾وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامه الحصكفى ولالحن فيه اى تغنى بغير كلماته فانه لا يحل فعله وسماعه كالتغنى بالقرآن وبلا تغير حسن، قال ابن عابدين بغير كلماته اى بزيادة حركة او حرف او مد او غيرها فى الاوائل والاواخر قهستانى.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۸۵ جلد ۱ مطلب فى اول من بنى المنابر للاذان)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدين: (قوله فى مسجدين) لانه اذا صلى فى المسجد الاول يكون متنفلا بالاذان فى المسجد الثانى والتنفل بالاذان غير مشروع ولان الاذان للمكتوبة وهو فى المسجد الثانى يصلى النافلة فلاينبغى ان يدعو الناس الى المكتوبه وهو لايساعدهم فيها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۹۵ جلد ۱ قبيل باب شروط الصلاة)

د اختر دَ مونځ د پاره اذان کول د سنتونه خلاف دي

سوال: علمائي دين دې باره کښې څه فرمائي چه د اختر د مونځ د پاره اذان کول څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سميع الرحمان ګړهی کپوره مردان.......۱۹۷۲/۲/۸

الجواب: د سنتو نه خلاف دي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د ټيپ ريکارډ نه د اذان کولو حکم

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې فرمائي چه په ټيپ ريکارډ سره د اذان کولو څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: حاجي عبدالله کلې ډاکخانه هواره چارسده.....۲۴ا ذى الحجه ۱۴۰۲

الجواب: په ټيپ ريکارډ سره د آواز عکس اوريدلې کيږي اصلي اذان نه نود اذان په عکس باندې اکتفاء کولو سره سنت نه ادا کيږي. ﴿۲﴾ لکه څنګه چه په محراب کښې په ټيپ پکارډ کيښودلو سره جماعت نه کيږي ګني نو د مؤذن او امام د خرچونه به خلاصې راشي. وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامه الحصكفى: لا يسن لغيرها كعيد، قال ابن عابدين كعيد اى ووتر وجنازة وكسوف واستسقاء وتراويح...... لكن فى التعليل قصور لا قتضائه سنية الاذان لماليس تبعاً للفرائض كالعيد ونحوه فالمناسب التعليل بعدم وروده فى السنة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۸۴ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدين: ان اذان الصبى الذى لا يعقل لايجزى ويعاد لان مايصدر لاعن عقل لا يعتدبه كصوت الطيور...... ان المقصود الاصلى من الاذان فى الشرع الاعلام بدخول اوقات الصلاة ثم صار من شعار الاسلام فى كل بلدة اوناحية من البلاد...... لابد من الاسلام والعقل والبلوغ والعدالة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۹۱ جلد ۱ باب الاذان)

د وخت نه مخكښې اذان كول جائز نه دي

سوال علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي كه دوخت نه مخكښې مثلاً دَ زوال نه مخكښې اذان اوشي نو آيا دا جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: اختر ګل ظهران افريقه.... ۲۷۱۱۱۱۹۷۵ء

الجواب: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې دزوال نه مخكښې اذان كول جائز نه دي.

لان المقصود من الاذان اعلام الناس بالوقت وفى الاذان قبل الوقت تجهيل لهم ولم يروفيه حديث ثابت حتى يترك به القياس ﴿١﴾. وهوالموفق

په (حى على الفلاح) كښې آواز ډير راښكل نه دي پكار

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په (حي علي الفلاح) كښې د (الفلاح) په لفظ باندې د آواز راښكلو په مسئله كښې يو مولانا صاحب اووئيل چه ديكښې آواز ډير راښكل نه دي پكار آيا د مولانا صاحب دا خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: مثل زاده تر لاندي ضلع صوابي........ ۱۹۶۹ء/۵/۱۲

الجواب: دلته (مد) نشته نو ددې وجې ډير راښكل نه دي پكار ﴿٢﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ وفى الهنديه: تقديم الاذان على الوقت فى غير الصبح لا يجوز اتفاقا و كذافى الصبح عند ابى حنيفه ومحمد رحمهما الله تعالىٰ وان قدم يعاد فى الوقت هكذافى شرح مجمع البحرين لابن الملك وعليه الفتوىٰ هكذا فى التتارخانيه ناقلا عن الحجة.

(فتاوىٰ عالمگيريه ص ۵۳ جلد ۱ باب الاذان)

﴿٢﴾ قال العلامه حصكفى :ومنها القراء ة بالالحان ان غير المعنى والا لا الا فى حرف مد ولين ......فلو فى اعراب او تخفيف مشدد وعكسه اوبزيادة حرف فاكثر. (الدرالمختار على هامش ردالمختار ص ۴۲۶ جلد ۱ باب مايفسد الصلوٰة مطلب مسائل زلة القارى)

د اذان په آخره كښې په جواب كښې محمد رسول الله زيا تول

سوال: علمائې دين ومفتيان عظام دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه كله مؤذن اذان كوي نو د اذان په جواب وركولو كښې په آخره كښې د (لا اله الا الله) په جواب كښې (محمد رسول الله) وئيل پكار دي كه نه؟ بعضې وائي چه دا كلمه زياتول ګناه ده او بعضې وائي چه دا كلمه پوره كول پكار دي نو په ديكښې كوم قول صحيح دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... ۱۹۹۰ء۱۵۱۱۰

الجواب: د اذان جواب وركول سنت دي او د اذان كلمات د خپل طرفه زياتول بدعت سيئه دي. ﴿١﴾ وهوالموفق

د ماښام د اذان وخت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه كله د پيښور په ريډيو باندې اذان كيږي نو په اسمان كښې په بعضې ځايو نو باندې سرخي په نظر راځي نو دا اذان صحيح دي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: جهان بخت خان ملا كنډ ايجنسي...... ۲۲۱۱۱۱۹۷۸ء

الجواب: آذان د غروب الشمس نه پس واجب دي ﴿٢﴾ اګرچه سُرخي موجود وي (عمدة الرعاية) ﴿٣﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامه الحصكفى: بان يقول بلسانه كمقالته ان سمع المسنون منه، قال ابن عابدين قوله كمقالته اى مثلها فى القول لافى الصفه من رفع صوت ونحوه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۹۲ جلد ۱ باب الاذان)

﴿٢﴾ قال العلامه مرغينانى واول المغرب حين تغرب الشمس وآخره حين يغيب الشفق.

(هدايه على صدرفتح القدير ص ۱۹۵ جلد ۱ باب المواقيت)

﴿٣﴾ قال العلامه عبد الحئى اللكهنوى: (قوله فيعاد) تفريع على...... (بقيه حاشيه په بل مخ)

د ږیره خرئونکو اذان او اقامت

سوال: يو امام صاحب وئیلي دي چه کوم سړي ږیره خرئي (شیو کوي) نو دهغه اذان او اقامت کول مکروه دي آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: راجه علي اصغر کیاني لائلپور فيصل آباد.... ۱۹۷۲ء ۱۸۱۲۱

الجواب: کوم سړي چه همیشه ږیره خرئي نو د هغه اذان او اقامت مکروه دي لیکن دا کراهت هغه وخت وي چه کله دي باقاعده مؤذن جوړ کړې شي ګني نو بیا کراهت نشته (۱) (فی ردالمحتار ص ۳۶٤، ۳٦٥ جلد ۱) وهوالموفق

د ماشوم په غوږ کښې آذان کله کول پکار دي

سوال: فقهائي احناف او مفتیان عظام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله ماشوم پیدا شي نو دهغه غوږ ونو کښې اذان او اقامت کول په کومه ورځ بهتردي؟ آیا په اوله ورځ یا په اوومه ورځ افضل دی؟ او که اوومه په ورځ افضل دی او چا په مخکښې ورځ کړې وی نو دهغې اعاده به کولې شی،یا هم هغه کافی دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمان.... ۱۹۷۸ء ۱۳۱۷۱

(بقیه حاشیه) قوله فی وقتها ای فتجب اعادة الاذان ان اذن قبل الوقت و کذا لو قدم بعض کلماته علی الوقت ووقع بعضها فی الوقت یلزم استیناف الکل.

(عمدة الرعایه فی حل شرح الوقایه علی هامش شرح الوقایه ص ۱۵۲ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ویکره اذان جنب و اقامته......وفاسق . قال ابن عابدین وحاصله ان یصح اذان الفاسق وان لم یحصل به الاعلام ای لاعتماد علی قبول قوله فی دخول الوقت...... ثم اعلم انه ذکر فی الحاوی القلسی من سنن المؤذن کونه رجلا عاقلا صالحا عالما بالسنن والاوقات مواظباً علیه محتسبا ثقة متطهراً مستقبلاً......الظاهران الاعادة انما هی فی الموذن الراتب اما لو حضر جماعة عالمون بدخول الوقت واذن لهم فاسق او صبی یعقل لا یکره ولا یعاد اصلا لحصول المقصود ، تأمل. (ردالمحتارمع الدرالمختار ص ۲۸۹، ۲۹۰ جلد ۱ باب الاذان)

الجواب: د ولادت په وخت کښې د اذان د پاره څه وخت مقرر نشته دې(۱) البته د تعامل نه جلتې معلومیږي. وهوالموفق

د آذان الفاظو غلط لوستل مکروه دي.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو مؤذن دې د اذان الفاظ داسې وائي چه په (الله اکبر) کښې د «اللهُ» په (ها) باندې (زور) وائي او د حي الفلاح) په لفظ کښې په الفلاح فا باندې پېښ وائي نو داسې اذان کول صحيح دي که غلط؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي حکيم قلم خان لنډي کوتل.... ۱۹۷۸ء ۶۱۳۱

الجواب: دې مؤذن لره د اذان صحیح کولو نه مخکښې اذان کول مکروه دي.

فی الدر المختار ولالحن فیه ای تغنی بغیر کلماته فانه لایحل . (هامش ردالمحتار ص ۳۵۹ جلد ۱) ﴿۲﴾. وهوالموفق

دآذان نه مخکښې د تعوذ او تسمیې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه څمونږ په علاقه کښې

﴿۱﴾ قال الشیخ عبد القادر الرافعی: (قوله حتی قالوافی الذی یؤذن للمولود ینبغی ان یحول) قال السندی فیرفع المولود عند الولادة علی یدیه مستقبل القبلة ویؤذن فی اذنه الیمنی ویقیم فی الیسرىٰ ویلتفت فیهما بالصلاة لجهة الیمین وبالفلاح لجهة الیسار وفائدة الاذان فی اذنه انه یدفع ام الصبیان عنه. (تقریرات الرافعی ص ۴۵ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله بغیر کلماته) ای بزیادة حرکة او حرف او مد اوغیرها فی الاوائل والاواخر قهستانی.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۸۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی اول من بنی المنائر للاذان)

یو مولوی صاحب د هر اذان نه مخکښې په لاوډ سپیکر کښې په زوره سره اعوذ بالله او بسم الله وائي او هغه ددې د وجوب قائل دې.نو تاسو صاحبانو ته گذارش دې چه آیا اعوذبالله یا بسم الله په ښکاره باندې په شرعي کتابونو کښې ثابت ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي گلاب خان فاضل حقانیه....۱۵\ربیع الاول ۱۴۰۴ھ

الجواب: د ډېر کوشش باوجود څه واضحه جزئیه ملاؤ نه شوه نو مناسب ده چه ددې مولوي صاحب نه جزئیه طلب کړې شی ځکه چه هغه د متعارف او تعامل نه مخ اړولې دې....﴿۱﴾ فقط

د تهجدو دپاره اذان کول

سوال: دتهجدو د اذان څه حکم دې؟ څمونږ په ځائې کښې په یو جمات کښې د تهجدو اذان کیږي او په ډېرو جماتونو کښې خو نه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عین العلوم صادق روډ کوئټه......۱۲\ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: جائز دي ﴿۲﴾

کما یشیر الیه کلام البدائع ص۵۵ جلد۱ بلال رضی الله عنه اما کان یؤذن بلیل لصلاة الفجر بل لمعان اخریٰ لما روی عن ابن مسعود رضی الله عنه عن النبی ﷺ انه قال ایمنعکم من السحور اذان بلال فانه یؤذن بلیل لیوقظ نائمکم ویرد قائمکم الحدیث﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیه :الاذان خمس عشرة کلمة وآخره عندنا لا اله الا الله کذافی فتاویٰ قاضی خان. (فتاویٰ عالمگیریه ص۵۵ جلد۱ باب الاذان)

﴿۲﴾ وفی منهاج السنن: ذکر محمد فی الموطأ وغیره ان اذان بلال کان فی رمضان خاصة لسحور الناس وفی شرعة الاسلام ان الاذان للتسحیر فی رمضان مستحب وکلام البدائع وغیره یدل علی انه کان فی السنة کلها لصلوٰة التهجد.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۸۰ جلد۲ باب ماجاء فی الاذان باللیل)

﴿۳﴾ (بدائع الصنائع ص۱۵۵ جلد۱ فصل فی بیان وقت الاذان)

په موجوده زمانه کښې د وختونو په نقشې باندې د اذان حکم او د وخت نه مخکښې اذان کولو اعاده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د کوم سړي نه د صبح صادق او کاذب د پیژند گلو تجربه نه وي نو هغه د پاره نن صبا په دې چهاپ شوو نقشو باندې عمل کول جائز دي که نه؟ (۲) د وخت نه مخکښې چه په اذان کولو باندې اعاده واجب ده نو چه څومره مخکښې اذان اوشي ځکه چه دلته یو سړي لس منټه مخکښې اذان وئیلو باندې د اعادې وئیلې دی؟ نو جواب راکړې اود دواړو جهانو اجر حاصل کړئ.

المستفتي: نامعلوم....۱۱\دسمبر ۱۹۸۳ء

الجواب: (۱) چونکه ددې نقشو دارومدار د اغیارو په تقلید باندې دې په مشاهداتو باندې نه دې،نو په دې باندې داعتماد کولو په ځائې په مشاهدې باندې اعتماد کول پکاردي،اودطلوع شمس نه دې پنځه پاؤه مخکښې اوکړې شي او ددې نه مخکښې ادا کړې شوې مونځ دې واپس راوگرځولې شي﴿۱﴾ (۲) نیم منټ اوددې نه هم کم د واپس راگرځولو موجب دې.﴿۲﴾ وهوالموفق

(تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ص ۳۵۱ جلد ۱ لايباح الاخذ من اللحية وهى دون القبضة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۲۸۹ جلد ۱ مطلب فى المؤذن اذاکان غير محتسب فى اذانه باب الاذان)

په جيل کښې د قيديانو د پاره د اذان مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د نوښار په حوالات کښې د پخوا نه دا طريقه وه چه دلته به قيديانو مونځ جماعت سره هم کولو، او اذان به ئې هم کولو، اوس يو مولوی صاحب قيديان ددې نه منع کړې دی چه تاسو اذان هم مه کوئ او جماعت هم مه کوئ دا په شريعت کښې منع دي. ځکه چه اذان په هغه ځائې کښې کول پکار وي چه هلته دروازې آزادې وي عام خلق بغير د څه بنديز نه تللې راتللې شي. مولوي صاحب دا هم اووئيل چه مونږ مجرمان يو او د مجرم اقتداء صحيح نه ده، لهذا درخواست دادې چه د شريعت محمدي ﷺ په رڼا کښې ددې مسئلې جواب د معتبرو کتابونو په حوالو سره مدلل اوليکئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد سيف الله..۱۳\جولائي ۱۹۷۳

الجواب: د جمعې مونځ په حوالات(جيل) کښې کول جدا څيز دې او د جُمعې مونځ جدا څيز دې او په دې دويم صورت کښې اذان کول بې قاعدې حکم دې﴿۱﴾ او که دې مولوي صاحب ته څه جزئيه معلومه وي نو مونږ ته دې رااوليږي.وهوالموفق

د خطبې اذان کوم ځائې کښې کول پکار دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جمعې د مونځ نه مخکښې چه کوم اذان کولې شي د هغې دپاره د ځائې څه قيد شته يا نه؟ يا هرځائې کښې چه اوکړې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالوهاب زړه ميانه نوشهره

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدين:(قوله للفرائض الخمس الخ) دخلت الجمعة بحر وشمل حالة السفر والحضر والانفراد والجماعة قال فی مواهب الرحمن ونور الايضاح ولو منفرداً اداء او قضاء سفرا او حضراً .

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۸۳ جلد ۱ باب الاذان)

الجواب: دا اذان په جمات کښې دننه کول پکار دي دغه شان د ممبر مخې ته او ممبر ته نزدې کول پکاردي. «والتفصيل فی امدادالفتاوی ص۴۴۹ جلد۱)﴿۱﴾ وهوالموفق

په کوم جمات کښې چه امام او مؤذن مقرر نه وي نو راتلونکو د پاره اذان او اقامت افضل دي.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د سفر په حالت کښې چه په اکثرو جماتونو دويم جماعت کيږي نو دغې حالت کښې اقامت کول بهتر دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مفتي بدر منير مهتمم دارالعلوم مدنيه بډ خيله ملاکنډ ايجنسي... ۱۰\ذی قعده ۱۴۰۹ھ

الجواب: دکوم جما ت د پاره چه امام او مؤذن مقرر نه وي نو راتلونکو دپاره افضل دا ده چه اذان او اقامت اوکړي.

کمافی الهنديه ص۵۶ جلد ۱ مسجد ليس له موذن وامام معلوم يصلی فيه الناس فوجاً فوجاً بجماعة فالافضل ان يصلی کل فريق باذان واقامة علی حدة کذا فی فتاویٰ قاضی خان ﴿۲﴾. وهوالموفق

په اذان کښې د تکبير کلمات دوه دوه يوځائې وئيل پکار دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د اذان ټول کلمات به

﴿۱﴾ شيخ اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمائي: داکثرو کتابو نو عبارت د دوو وجهو احتمال لري ليکن د جامع الرموز عبارت دې چه متبادر نزديوالې او مخامخ دې وهو هذه بين يديه ای بين الجهتين المسامتتين اليمين المنبر او الامام ويساره قريبا منه و وسطهما بالسکون فيشمل ما اذا اذن فی زاوية قائمة او حادة او منفرجة حادثة من خطين خارجين من هاتين الجهتين، قلت تحدث القائمة اذا کان المؤذن حذاء وسط المنبر بالحرکة والمنفرجة والحادة اذا کان فی غير حذائه. (امداد الفتاویٰ ص ۷۴۴ جلد ۱ باب صلوٰة الجمعة والعيدين)

﴿۲﴾(فتاویٰ عالمگيريه ص ۵۵ جلد ۱ الفصل الاول فی صفته واحوال المؤذن)

ځان ځان له ساه سره وئیل ضروري وي یا د الله اکبر الله اکبر دوه دوه کلماتو په یوه ساه سره وئیلو څه استثناء موجود ده؟ بینوا توجروا.

المستفتي:عبدالحق ابوها سوات....۹۱۴۱۱۹۸۹

الجواب: د دوو الله اکبر نه پس به ساه اخستلې کیږي.﴿۱﴾ وهوالموفق

دږیره خرئیلی د اذان اعاده کښې احتیاط دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي که ږیره خرئیلې چرته اذان اوکړي نو دهغې اعاده به کولې شی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: صدررحمان ګل قریب نیو حاجي کیمپ کراچي نمرا...۵۱۷۱۱۴۰۱

الجواب: ږیره خرؤنکې فاسق دې او مردودالشهادت دې کما في تنقیح الفتاوی﴿۲﴾ او د هغه اذان مکروه دې او ډیر احتیاط دادې چه غیر فاسق د ددې اعاده اوکړي.

کمافی ردالمحتار ص ۳۹۳ جلد ۱ قوله ویعاد اذان جنب الخ، زادالقهستانی والفاجر والراکب والقاعد﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم (قوله ویترسل فیه ویحدرفیها) ای یتمهل فی الاذان ویسرع فی الاقامة وحده ان یفصل بین کلمتی الاذان بسکتة بخلاف الاقامة للتوارث...... ولوجعل الاذان اقامة یعید الاذان ولوجعل الاقامة اذانا لا یعید لان تکرار الاذان مشروع دون الاقامة.
(بحر الرائق ص۲۵۷ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین فی تنقیح الفتاوی: ان الاخذمن اللحیة وهی دون القبضة کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم یبحه احدو اخذ کلها فعل یهود الهنود ومجوس الاعاجم فحیث ادمن علی فعل هذا المحرم یفسق وان لم یکن ممن یستخفونه ولا یعدونه قادحاً للعدالة والمروءة فکلام المؤلف غیر محرر ،فتدبر.
(تنقیح الفتاوی الحامدیه ص ۳۵۱ جلد ۱ لایباح الاخذ من اللحیة وهی دو ن القبضة)

﴿۳﴾ (ردالمحتار ص ۲۸۹ جلد ۱ مطلب فی المؤذن اذا کان غیر محتسب فی اذانه باب الاذان)

د ږیره خریونکې اذان مکروه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ږیره خریونکې مستقل طریقې سره د جمات مؤذن جوړولې شې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي علي محمد دفتر عالمي مجلس تجفظ ختم نبوت نادرشاه بازار بهار ولنګر...۱۰۱۵۱۱۹۸۸

الجواب: عادةً ږیره خریونکې فاسق دې ﴿۱﴾ او فتاؤو والا لیکي چه د فاسق اذان او امامت مکروه دې ﴿۲﴾ نو دې مستقل طریقې سره امام او مؤذن جوړول ددین نه بې پرواهي او سستي کول دي.وهوالموفق

بې اودسه اذان کولو سره د قوم خوار کیدل او ذلیله کیدل موضوعي وعید دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې خلق وائي چه بغیر اودسه اذان کولو سره په قوم باندې خواري اوذلت راځي آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا المستفتي: قیس نعماني مرهتي نو شهره

الجواب: بې اودسه اذان کول خلا فِ استحباب دي﴿۳﴾ او ددې د وجې نه په قوم باندې خواري او پستي منصوصی خبره نه ده بلکه موضوعي او خودساخته وعید دې.وهوالموفق

﴿۱﴾ (تنقیح الفتاویٰ الحامدیه ص ۳۵۱ جلد ۱ لایباح الاخذ من اللحیة وهی دون القبضة)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصکفی: ویکره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه واذان امرأة وخنثیٰ وفاسق ولو عالما لکنه اولیٰ بامامة واذان من جاهل تقی.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۸۹ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۳﴾ قال الشرنبلالی: ویستحب ان یکون الموذن ...... علی وضوء لقوله علیه السلام لا یؤذن الا متوضیٔ.
(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ۲۱۱ ما یستحب للمؤذن)......(بقیه حاشیه په بله صفحه)

(بقیه حاشیه)وفی المنهاج: مذهب ابی حنیفة انه یکره الاقامة بغیر وضوء ویجوز الاذان، وروی عنه انه یکره الاذان ایضاً ویؤیده حدیث لا یؤذن احدکم الا وهو طاهر، اخرجه ابو الشیخ مرفوعا وفی سنده عبد الله بن هارون وهو ضعیف واخرجه البیهقی موقوفا علی وائل وفی سنده انقطاع لم یسمع الجبار عن ابیه وائل شیأ، ومذهب الشافعی انه یکره الاذان بغیر طهور، ومذهب احمد ان التطهر مستحب فی الاذان والامامة، وقال مالک یصح الاذان بغیر طهور ولا یقیم الا متوضئ.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۷۷ جلد۲ باب کراهیة الاذان بغیر وضوء)

....

باب شروط الصلوة وارکانها

په جیب کښې نسوار یا سګریټو سره مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د نسوارو ډبې یا تهیلئ یا سګریټ په جیب کښې وي نو مونځ کول جائز دي؟ یا دې لره لرې کول لازمي دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: لطیف الله چارسده

الجواب: په نسوارو کښې غالباً پاکي اوبه اچولې کیږي لهذا دې سره مونځ کول ممنوع نه دي او که د سګریټو تهیلئ یا ډبې پاک وي نو په هغې سره مونځ ته څه نقصان نه رسیږي ﴿۱﴾ البته بدبویه او ضرري څیزونه جمات ته وړل منع دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مړي دلامبولو د پاره په استعمال شوې پاکه تخته باندې مونځ صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د مونځ په تخته باندې ئې د یو ماشوم لاش ته غُسل ورکړو او نو اوس دې تخته باندې مونځ صحیح دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: منشي محمود مانسهره

﴿۱﴾ وفی الهندیه: تطهیر النجاسة من بدن المصلی وثوبه والمکان الذی یصلی علیه واجب هکذا فی الزاهدی فی باب الانجاس.

(فتاویٰ عالمگیریه ص۵۸ جلد۱ الفصل الاول فی الطهارة)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله واکل نحو ثوم) ای کبصل ونحوه مما له رائحة کریهة للحدیث الصحیح فی النهی عن قربان آکل الثوم والبصل المسجد قال الامام العینی فی شرحه علی صحیح البخاری قلت علة النهی اذی......(بقیه حاشیه په راروان مخ....)

الجواب: خبرشئ چه د مونځ د صحیح والي د پاره د مکان پاکوالي شرط دي نو که دا تخته پاکه وي نو دي باندي مونځ کول صحیح وي. (۱)

والظاهر هي الطهارة والا فلم يصح صلوٰة الجنازة ايضا. فافهم وتدبر. وهو الموفق

د دویمي سجدي د هیروالي په صورت کښي د سلام نه ورسنو اداکول

سوال: علمائ دین دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه یو سړي نه په اخري رکعت کښي دویمه سجده هیره شوه او سلام نه هم فارغ شو نو بیا ورته رایاد شواو تر اوسه ئي د مونځ مخالف څه کار نه دي کړي نو اوس به څه صورت اختیار وی؟ او که دمونځ مخالف څه کار ئي کړي وي نو بیا به څه صورت وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمان

الجواب: دداسي کس نه که د مونځ مخالف څه کار شوي وي نو د مونځ اعاده به کوي او که څه منافي کار ترینه نه وي شوي نو دویمه سجده به اوکړي او التحیات به اووائي سجده سهوه به اوکړي بیا به التحیات اووائي اوسلام به اوګرځوي. (۲) وهو الموفق

(بقيه حاشيه) الملائكة واذى المسلمين ولا يختص بمسجده عليه الصلاة والسلام بل الكل سواء لرواية مساجدنا بالجمع خلافا لمن شد ويلحق بما نص عليه فى الحديث كل ماله رائحة كريهة ماكولا او غيره الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۸۹ جلد ۱ مطلب فى الغرس فى المسجد)

(۱) وفى الهندية: تطهير النجاسة من بدن المصلى وثوبه والمكان الذى يصلى عليه واجب هكذا فى الزاهدى فى باب الانجاس. (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۵۸ جلد ۱ الفصل الاول فى الطهارة)

(۲) قال الشيخ طاهر بن عبد الرشيد البخارى: وان سلم وهو غير ذاكر لهما (اى سجدة صلبية وسجدة التلاوة) فان سلامه لا يكون قطعا وعليه ان يسجد للتلاوة ويسجد للصلوتية الاول فالاول ثم يتشهد ثم يسلم ثم يسجد سجدتى السهو ثم يتشهد ثم يسلم.

(خلاصة الفتاوىٰ ص ۱۸۰ جلد ۱ باب سجو د السهو)

په کوټ پتلون او ټائی کښي مونځ کول

سوال: علمائي دین دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه انګریزي جامه یعني کوټ پتلون اوټائي اچول یو عام رسم جوړشوي دي او خاص کر د افسر ټیپ خلقو دا طریقه ده د ډیو ټي په وخت کښي چه کله د مونځ وخت شي او دجامو د بدلولو موقع ملاؤ نشي نو آیا په دي لباس کښي مونځ کول جائز دي؟

بینوا توجروا

المستفتي: ډاکټرخالدحسین میډیکل افسرمیرعلي شمالي وزیرستان... ۲۸/۵/۱۹۷۲ء

الجواب: د مونځ قضاء کیدلو نه دابهتر ده چه په دي غیر شرعي لباس کښي اوکړي شی او خاصکر چه کله عذر هم وي. (۱) فقط

په سجده کښي خپې اوچتول

سوال: علمائي کرام دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه په سجده کښي د خپو اوچتولو سره مونځ فاسد کیږي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: شفیق الرحمان پشاور.......... ۱۵ اګست ۱۹۷۹ء

الجواب: چه کله په ټوله سجده کښي خپې د زمکي نه اوچتي کړي نو د مونځ راګرځول واجب کیږي لیکن داسي کیدل مونږ چرته نه دي اوریدلی (بحر شامي) (۲) وهو الموفق

---

(۱) قال الشيخ محمدامين ابن عابدين: (قوله والرابع سترعورته) اى ولو بما لا يحل لبسه كثوب حرير وان اثم بلا عذر كالصلوٰة فى الارض المغصوبة.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۲۹۷ جلد ۱ مطلب فى سترا لعورة)

(۲) قال فى شرح التنوير: ومنها السجود بجبهته وقدميه ووضع اصبع واحدة منهما شرط، قال ابن عابدين: وافاد انه لو لم يضع شيأ من القدمين لم يصح السجود وهو مقتضى ما قدمناه آنفا عن البحر وفيه خلاف سند كره فى الفصل الآتى (ص ۳۳۰ جلد ۱) وقال الحصكفى: وفيه يفترض وضع اصابع القدم ولو واحدة نحو القبلة والا لم تجز والناس عنه غافلون.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۳۰، ۳۶۹ جلد ۱ بحث الركوع والسجود)

د زنانو په نرئ لوپټه او د مړوند نه بره لستونړو په حالت کښې مونځ

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) داسې نرئ لوپټه چه وینته پکښې ښکاري په دې کښې مونځ کول څنګه دي؟ (۲) او چه کله لستونړي د مړوند ونو نه بره وي نو دمونځ څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نامعلوم

الجواب: (۱) د زنانه دپاره په دې نرئ لوپټه کښې مونځ کول صحیح نه دي او په دویم ځل ئې پرې باقاعده طریقې سره راګرځول واجب دي. دا حدیثو او فقهي روایاتو نه دا ثابت ده﴿۱﴾ (۲) د سړي د پاره مکروه دي او ښځې دپاره مفسد دي.

والدلیل علی الاول کراهة الصلوٰة علی وجه الولایة، والدلیل علی الثانی کون الیدین عورة الا الکفین﴿۲﴾. فقط

د علم په اعتبار سره د مونځ ګزارو قسمونه او د عالمګیري په عبارت کښې د فیه د ضمیر مرجع

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فتاویٰ عالمګیري د لاندیني عبارت متعلق یو تپوس دی.

المصلون ستة من علم الفرائض منها والسنن وعلم معنی الفرائض انه ما یستحق الثواب بفعله والعقاب بترکه والسنة ما یستحق الثواب بفعلها ولا یعاقب بترکها فنوی الظهر والفجر اجزأته واغنت نیة الظهر عن نیة الفرض والثانی من یعلم

﴿۱﴾ قال فی الهندیه: بدن الحرة عورة الا وجهها و کفیها وقدمیها کذا فی المتون، وشعر المرأة ما علی رأسها عورة واما المسترسل ففیه روایتان الاصح انه عورة کذا فی الخلاصة وهو الصحیح وبه اخذ الفقیه ابو اللیث وعلیه الفتویٰ...... والثوب الرقیق الذی یصف ما تحته لا تجوز الصلاة فیه کذا فی التبیین. (فتاویٰ هندیه ص ۵۸ جلد ۱ الفصل الاول فی الطهارة وستر العورة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین رحمه الله: وقید الکراهة فی الخلاصة والمنیة بان یکون رافعا کمیه الی المرفقین. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۷۳ جلد ۱ مطلب مکروهات الصلاة)

ذلک وینوی الفرض فرضاً ولکن لا یعلم ما فیه من الفرائض والسنن یجزیه کذا فی القنیة"

په دې عبارت کښې د مافیه د (ه) ضمیر مرجع څه دی، ما في الوقت دی که ما في الفرض؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد صادق ناظم مجلس منتظمه اشاعت فتاوي عالمګیري سهګل جهلم... ۱۷۱۵۱۹۷۰ء

الجواب: په (مافیه) کښې ضمیر مونځ ته راجع دی یعني چه دومره پوهیږي چه دا مونځ فرض دی لیکن په دې مونځ کښې چه څومره فرائض او واجبات وغیره دي د هغې نه بې خبره وي. وهو الموفق

د ګډې بیزې د څرمنې نه د جوړې شوې مصلې کېښودلو طریقه

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ګډې بیزې په مصلې باندې دلته په علماؤ کښې اختلاف پیدا شوې دی د بعضو په نزد باندې به د سر او سټ والا حصه مخکښې کولې شي او د بعضو په نزد باندې به شاتنئ حصه مخکښې کولې شي. لهذا د مستندو کتابونو په حوالو سره ددې مسئلې وضاحت اوکړئ چه د مصلې کوم طرف به مخکښې او کوم طرف شاته کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي سعید اصفهاني چائي ډپوکوهاله مري

الجواب: دواړه طرفونه جائز دي ځکه چه دواړو متعلق نه حکم راغلې او نه منع. نو دحدیث (وما سکت عنه فهو عفو) ﴿۱﴾ په بنیاد دواړه جائز او مباح دي البته تکلف او سختي منع ده. فقط

د فرض مونځ او سنتو نیت به څنګه کولې شي؟

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) دمونځ نیت به څنګه کولې شي صرف په زړه سره یا په زړه او ژبې دواړو سره؟ په سنت مونځ کښې د سنت رسول الله وئیل څهٔ حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: صفدر حسین اینډ برادرز سعودي عرب...... ۳۰۱۱۱۱۹۸۶

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ص ۱۸۳ جلد ۲ باب مالم یذکر تحریمه)

الجواب: (۱) نیت د زړه د ارادې نوم دې برابره خبره ده چه په ژبې سره ئې او وائي یا نه البته په ژبې سره وینا کول مستحب دي په دې سره د زړه د ارادې تائید او تقویت کیږي او د سنت ثابته سره ئې څه ټکراؤ هم نشته (۱) (۲) سنت یا سنت رسول الله وئیل یو حکم لري یو مجمل دې او دویم مفصل (۲) وهوالموفق

د زنانو د پاره په مونځ کښې ستر دعوت

سوال: چه مے فرمایند علماء کرام دریں مسئله که یک زن مسلمان واصیل که در یک لباس نماز ادا میکند، و دران لباس ساق زن وصدرش از جهت کشادگی گریبان ظاهر میشود، این نماز زن دران لباس درست است یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: باز محمد افغانی......۱۹۸۷ء/۱/۲۴

الجواب: ماسوائے وجہ وقدمین وکفین ہراندام مکمل یاربع وے کہ برہنہ شود، نمازش فاسد شود، کما فی الهندیه ص ۶۰ جلد ۱ الربع وما فوقه کثیر وما دون الربع قلیل وهو الصحیح هکذا فی المحیط(۳). وهوالموفق

د قبلې طرف کښې چه بعضې قبلې ته مخ وي نو مونځ نه فاسدیږي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې ته پته نه وه چه د قبلې نه په سینې اړولو سره مونځ فاسدیږي په بې علمئ سره اوس

(۱) قال العلامه ابراهیم الحلبی: والمستحب فی النیة ان ینوی یقصد بالقلب ویتکلم باللسان بان یقول اصلی صلوٰة...... ولو نوی بالقلب ولم یتکلم باللسان جاز بلا خلاف بین الائمة لان النیة عمل القلب لا عمل اللسان واستحباب ضمه لما ذکرنا.
(غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۲۵۱، ۲۵۲)

(۲) فی ردالمحتار : ان کان مما واظب علیه الرسول ﷺ او الخلفاء الراشدون من بعده فسنة. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۷۶ جلد ۱ مطلب فی السنة وتعریفها)

(۳) (فتاویٰ عالمگیریه ص ۵۸ جلد ۱ الفصل الاول فی الطهارة وستر العورة)

سینه د قبلې نه واوړیدله نیمه یا د نیمې نه زیاته یعنې کم نه کم څومره سینه چه د قبلې نه واړوی نو هغې سره مونځ فاسدیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق نشتر آباد راولپنډي......۱۲\ذي الحجه ۱۳۸۹ء

الجواب: که بعضې مواجهت باقی وي نو مونځ نه فاسدیږي او چه کله مواجهت بالکل ختم شي نو بیا مونځ فاسدیږي (یدل علیه ما فی رد المختار ص ۳۹۸ جلد ۱) (۱) فقط

په باران سره لوندو جامو کښې مونځ جائزدې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د یو سړي بدن هم پاک دي او جامې ئې هم پاکې دي لیکن د باران په وجه لوندې شوې او بدن پورې اونختلې او نورې جامې هم نشته نو آیا په دې جامو کښې به مونځ ادا کوی که قضابه راوړي؟ بینوا توجروا

المستفتي: میر احمد بن جمال الدین کوهاله راولپنډي......۱۹۷۰ء/۴/۱۴

الجواب: مونځ به پکښې کوي ځکه چه جامې په لوندیدلو سره نه پلیتیږي. وهوالموفق

(۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وسیأتی فی المتن فی مفسدات الصلاة انها تفسد بتحویل صدره عن القبلة بغیر عذر فعلم ان الانحراف الیسیر لا یضر وهو الذی یبقی معه الوجه او شئ من جوانبه مسامتالعین الکعبة او لهوائها بان یخرج الخط من الوجه او من بعض جوانبه ویمر علی الکعبة او هوائها مستقیما ولا یلزم ان یکون الخط الخارج علی استقامة خارجا من جبهه المصلی بل منها او مَن جوانبها کما دل علیه قول الدرر من جبین المصلی فان الجبین طرف الجبهة وهما جبینان وعلی ما قررناه یحمل ما فی الفتح والبحر عن الفتاویٰ من ان الانحراف المفسد ان یجاوز المشارق الی المغارب. فهذا غایة ما ظهر لی فی هذا المحل والله تعالیٰ اعلم.
(ردالمحتار ص ۳۱۶، ۳۱۷ جلد ۱ مبحث فی استقبال القبلة)

خمونږ په ښارونوکښې د مونځ د پاره دقبلې طرف کافي دې خاص قبله نه

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زمونږ د پاره د قبلې صحيح طرف څه دې؟ آيا د ژمي او گرمئ په موسم کښې دنمر پريوتلو منځ ځائې کښې به قبله وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: جهان بخت خان ملاکنډ ايجنسي....۱۹۷۸ء۱۱\۲۷

الجواب: خبر شئ چه د رياضئ والو په نزد زمونږ د ښارونو په نسبت سره کعبه شريفه جنوب (سويل) طرفته مائله ده ليکن د ټولو فقهاؤ وينا ده چه مونځ د قبلې ټول طرف ته کول جائز دي﴿۱﴾ وهو الموفق

زمونږ په ښارونو کښې د قبلې طرف بين المغربين دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه هندوستان پاکستان کښې قبله مغرب طرفته ده نو ددې وجې نه د جماتونو مخ هم خاص قبلې طرفته دې ليکن نن صبا چه د سعودي عرب نه کومه قبله نما ملاويږي د هغې په ذريعه سره زمونږ د گجرات په ښار کښې قبله د مغرب نه اتلس درجې جنوب راځي نو اوس هغه جمات کښې چه صحيح مغرب طرفته جوړ شوي وي مونځ کول صحيح دي يا نه؟ بينوا توجروا

الجواب: زمونږ په ښارونو کښې د قبلې طرف بين المغربين دې او د کعبې

﴿۱﴾ قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي: (قوله اصابة جهتها) فالمغرب قبلة لاهل المشرق وبالعكس والجنوب قبلة لاهل الشمال وبالعكس فالجهة قبلة كالعين توسعة على الناس كما فى القهستانى حتى لو ازيل المانع لا يشترط ان يقع استقباله على عين القبلة كما فى الحلبى وهو قول العامة وهو الصحيح لان التكليف بحسب الوسع. (مراقى الفلاح ص ۱۵ ا باب شروط الصلاة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين رحمه الله: وقال فى شرح زادالفقير وفى بعض الكتب المعتمدة فى استقبال القبلة الى الجهة اقاويل كثيرة واقربها الى الصواب قولان الاول ان ينظر فى مغرب الصيف فى اطول ايامه ومغرب الشتاء فى اقصر ايامه......(بقيه حاشيه په راروان مخ...)

شريفې استقبال دواړو طرفونو ته ۳۲درجاتو پورې کافي دې او په دې نوو آلاتو باندې اعتماد کول نه مطلوب دي او نه ممنوع، البته ددې په وجې سره په پخوانو جماتونو کښې شبهات پيدا کول جائز نه دي...﴿۱﴾ وهو الموفق

د ډمتوب والا ځائې باندې مونځ کول

سوال: علمائې دې دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دا سې يو مخصوص ځائې چه هلته گډيدل او سندري وئيلي کيږي په هغه ځائې کښې د جنازې مونځ کول جائز دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: منصف دار مقام بوليا توال ضلع اټک......۲۳\۱رمضان ۱۴۰۸

(بقيه حاشيه) فليدع الثلثين فى الجانب الايمن والثلث فى الايسر والقبلة عند ذلک ولو لم يفعل هكذا وصلى فيما بين المغربين يجوز واذ وقع خارجا منها لا يجوز بالاتفاق، ملخصا وفى منية المصلى عن امالى الفتاوىٰ حد القبلة فى بلادنا يعنى سمر قند بين المغربين مغرب الشتاء ومغرب الصيف فان صلى الى جهة خرجت من المغربين فسدت صلاته.
(ردالمحتار ص ۳۱۴ جلد ۱ مبحث استقبال القبلة)

﴿۱﴾ قال العلائى: فتبصر وتعرف بالدليل وهو فى القرىٰ والامصار محاريب الصحابة والتابعين وفى المفاز والبحار النجوم كا لقطب، قال صاحب ردالمحتار تحت (قوله محاريب الصحابة والتابعين) فلا يجوز التحرىٰ معها زيلعى بل علينا اتباعهم خانيه ولا يعتمد على قول الفلكى العالم البصير الثقة ان فيها انحرافا خلافا للشافعيه فى جميع ذلک كما بسطه فى الفتاوىٰ الخيرية فاياک ان تنظر الى ما يقال ان قبلة اموى دمشق واكثر مساجدها المبنية على سمت قبلته فبها بعض انحراف وان اصح قبلة فيها قبلة جامع الحنابله الذى فى سفح الجبل اذ لا شک ان قبلة الاموى من حين فتح الصحابة ومن صلى منهم اليها وكذا من بعدهم اعلم واوثق وادرى من فلكى لا ندرى هل اصاب ام اخطا بل ذلک يرجح خطاه وكل خير فى اتباع من سلف...... قال القهستانى ومنهم من بناه على بعض العلوم الحكمية الا ان العلامة البخارى قال فى الكشف ان اصحابنا لم يعتبروه...... اقول لم ار فى المتون ما يدل على عدم اعتبارها (اى دلائل النجوم) ولنا نعلم ما نهتدى به على القبلة من النجوم وقال تعالىٰ والنجوم لتهتدوا بها على ان محاريب الدنيا كلها نصبت......(بقيه حاشيه په راروان مخ....)

الجواب: دحدیث په بنا باندې په ټوله ځمکه مونځ کول جائز دي ﴿۱﴾ سیوا دبعضې خاصو ځایونو نه چه هغه حدیث مستثنی کړیدي﴿۲﴾ او دا تپوس والا ځائې په هغې کښې نشته دي.وهو الموفق

په بس کښې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه که په بس کښې د مونځ د قضا کیدلو خطره وی نومونځ کول جائز دي که نه؟ او قبلې ته مخ کول ضروري دي که نه؟بینوا توجروا

المستفتي: ملک امان الله جامع عثمانیه برهان اټک.......۱۹۸۹ء۹/۱۲/۱

الجواب: د بس او ریل ګاډي حکم یو شان دي په دیکښې مونځ کول جائز دي او قبلې ته مخ کول ضروري دي.﴿۳﴾ دغه شان چه کله بس ولاړ وي نو په ناسته منځ کول صحیح نه دي.﴿۴﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) بالتحری حتی منی کما نقله فی البحر ولا یخفی ان اقوی الادلة النجوم والظاهر ان الخلاف فی عدم اعتبارها انما هو عند وجود المحاریب القدیمة اذ لا یجوز التحری معها کما قدمناه لئلا یلزم تخطئة السلف الصالح وجماهیر المسلمین.

(ردالمحتار مع الدر المختار ص۳۱۷ جلد۱ قبیل کرامات الاولیاء ثابتة)

﴿۱﴾ عن حذیفة قال قال رسول الله ﷺ فضلنا علی الناس بثلاث جعلت صفوفنا کصفوف الملائکة وجعلت لنا الارض کلها مسجدا وجعلت تربتها لنا طهورا اذا لم نجد الماء رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص۵۴ جلد۱ باب التیمم الفصل الاول)

﴿۲﴾ عن ابن عمر قال نهی رسول الله ﷺ ان یصلی فی سبعة مواطن فی المزبلة والمجزرة والمقبرة وقارعة الطریق وفی الحمام وفی معاطن الابل وفوق ظهر بیت الله رواه الترمذی وابن ماجه. (مشکواة المصابیح ص۷۱ جلد۱ باب المساجد ومواضع الصلوٰة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: (والمربوطة بلجة البحر ان کان الریح یحرکها شدیدا فکالسائرة والا فکالواقفة) ویلزم استقبال القبلة عند الافتتاح.

وقال ابن عابدین رحمه الله: (قوله والا فکالواقفة) ای ان لم تحرکها الریح شدیدا بل یسیرا فحکمها کالواقفة فلا تجوز الصلاة فیها قاعدا مع القدرة ......(بقیه په بله صفحه یا ند ې)

(د تیر مخ باقی حاشیه) علی القیام کما فی الامداد (قوله ویلزم استقبال القبلة) ای فی قولهم جمیعا بحر وان عجز عنه یمسک عن الصلاة امداد عن مجمع الروایات ولعله یمسک مالم یخف خروج الوقت لما تقرر من ان قبلة العاجز جهة قدرته وهذا کذلک والا فما.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص۵۶۳ جلد۱ باب صلاة المریض)

﴿۴﴾ وفی منهاج السنن: واما الصلوة فی السفینة اذا کانت سائرة فجائزة بلا کراهة اذا لم یمکن الخروج الی الشط، ومع الکراهة اذا امکن الخروج الیه نعم الصلوٰة قاعدا برکوع وسجود عند العجز عن القیام وعن الخروج الی الشط تجزیٔ بالاتفاق، وعند القدرة علی القیام وعلی الخروج الی الشط تجزیٔ عند ابی حنیفة مع الاساءة وعند ابی یوسف ومحمد لا یجزیٔ ویلزم التوجه الی الکعبة اتفاقا، وتمام الکلام فی البدائع، واما الصلوٰة فی السیارات البریة من القطارات وغیرها فعند الوقوف حکمها کحکم الصلوة علی الارض وعند السیر حکمها کحکم الصلوٰة فی السفینة السائره فمن صلی فیها قاعداً برکوع وسجود اجزءت، ومن صلی فیها بالایماء للزحمة وضیق المحل فالظاهر من النظائر ان یعید الصلوة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۳۴ جلد۲ باب ماجاء فی الصلوة علی الدابة حیث توجهت به)

باب صفة الصلوة

د جدت پسندئ د مرض انجام خراب وي

سوال: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! څه حنفي اومقلد يم ليكن د رفع اليدين حديثو نه هم موجود دي اوس څه با قاعده رفع اليدين كووم نو آيا ددې ثواب يا عذاب شته دي؟ براه كرم د جواب نه مو مستفيد كړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل عالم بډه بيره پشاور......١٩٧٢ء١٢\٥\١

الجواب: محترم وعليكم السلام نه پس خبره دا ده چه كه ته د شاه ولى الله صاحب پشان محقق او مدقق عالم نه ئې نو بيا ته د جدت پسندئ (نوې رنړا) په مرض كښې اخته ئې. او په داسې مريض باندې په قلاره قلاره په الحاد او زنديقئ كښې د اخته كيدلو سخته خطره وي علماء احناف خو حديث د حديث د وجې نه پريږدي او افسوس دې چه ته حنفيت په خپلې رائې سره پريږدې الله كريم دې تا ته د استقامت نعمت در كړي. فقط

كه قبر مخامخ وي نو داسې وخت كښې د مونځ كولو څه حكم دې؟

سوال: چه ميفر مايند علماء دين دريں مسئله كه زمين مقبره كه پيش درزمين قبور باشد بلاضرورت نماز درآں جا جائز است يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: نا معلوم......١٩٧٩ء/١١/٢٣

الجواب: اگر قبور زير نظر نه باشد كراهيت نيست، كما فى الهنديه ص ١١٣ جلد ١ (مصرى) وفى الحاوى وان كانت القبور ماوراء المصلى لا يكره فانه ان كان بينه وبين القبر مقدار ما لو كان فى الصلوٰة ويمر انسان لايكره فههنا ايضا لا يكره كذا فى التتارخانيه،

انتهى ﴿١﴾ قلت وانه قدر ما يقع بصره على المار لو صلى بخشوع اى راميا ببصره الىٰ موضع سجوده، ردالمحتار ص ۵۹۳ جلد ١ ﴿٢﴾. وهوالموفق

د بوټانو سره مونځ كول

سوال: علمائې كرام دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه آيا فوجيان د بوټانو سره مونځ كولې شي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حوالدار محمدزاهد سي او ايس بي پي اونمبر ٣..١٧محرم ١٣٩٢هـ

الجواب: په بوټانو كښې مونځ كول منع نه دي ليكن د بوټانو د پاك او ناپاك پيژندل ډير گران دي لهذا مونږ ديكښې د مونځ كولو فتوىٰ نه شو وركولې. ﴿٣﴾ فقط

په هوائي جهاز او موټر د مونځ حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په هوائي جهاز كښې مونځ كول جائز دې كه نه؟ او موټر كښې په اشارې سره د مونځ كولو څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي گل محمد گلي چشمه كوئټه........١٢٠\شوال ١٤٠٤

﴿١﴾ (هنديه ص ١٠٧ جلد ١ الفصل الثانى فيما يكره فى الصلاة ومالايكره)

﴿٢﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٤٦٩ جلد ١ مطلب اذا قرأ تعالىٰ جد باب مايفسد الصلاة)

﴿٣﴾ وفى المنهاج: قال مشائخنا اليوم لا يصلى بالنعال فى المسجد لان دخول المساجد متنعلا من سوء الادب فى العرف الحادث ولان تلويث المسجد بها واقع لا محالة ولان علة التنعل قد انتهت لان اليهود والنصارىٰ فى زماننا يصلون فى النعال لا يخلعونها، واعلم ان النعال اذا لم تكن مانعة من توجيه رءوس الاصابع الى القبلة فجاز الصلوٰة فيها والا فلا كما يشير اليه كلام القارى فى المرقاة، فالصلوٰة فى المداس الرائج اليوم لا يجوز اذا كان مقدمه مرتفعا واسعا بحيث لا يمتلأ باصابع القدم فافهم. منهاج السنن شرح جامع السنن ص ٢٧٨ جلد٢ باب الصلاة فى النعال)

الجواب: (۱) په هوائي جهاز کښې د تندي لګيدل ممکن دي لهذا په هغې کښې دکشتئ سپورمئ او آسمان پشان مونځ کول جائز دي (۲) په موټر کښې په اشارې سره مونځ کول کافي نه دي او واجب الاعاده دي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

دویم الجواب: په هوائي جهاز کښې ټول ارکان باقاعده ادا کیدې شی لهذا په دې صورت کښې دیکښې دکشتئ پشان مونځ کول صحیح دي.

فی البدائع ص۱۰۹ جلد۱ وان کانت سائرة فان امکنه الخروج الی الشط یستحب له الخروج الیه لانه یخاف دوران الرأس فی السفینة فیحتاج الی القعود وهو آمن عن الدوران فی الشط فان لم یخرج وصلی فیها قائماً برکوع وسجود اجزاه لما روی الخ﴿۲﴾، ویؤید صحة الصلوٰة فی السماء قال الله تعالیٰ اوصانی بالصلوٰة والزکوٰة ما دمت حیا﴿۳﴾ فافهم. وهو الموفق

د مونځ وغیره متفرق مسئلې

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) یو جمات کښې یو امام صاحب د قرآن شریف د ختم د پاره ولاړ دې او بل طرفته بغیر ختم والا تراویح کیږي لیکن فرض یو ځائي کوی نو آیا دا صورت جائز دي.(۲) چه د یوې دوائي تاریخ ختم شوې وي لیکن د فائدې امید پکښې وي نو آیا دهغې خرخول صحیح دي؟(۳) که امام د الحمد نه مخکښې یو آیات یا زیات اولولي نو

﴿۱﴾وفی المنهاج: واما الصلاة فی السیارات البریة من القطارات وغیرها فعند الوقوف حکمها کحکم الصلاة علی الارض وعند السیر حکمها کحکم الصلاة فی السفینة السائرة فمن صلی فیها قاعداً برکوع وسجود اجزءت، ومن صلی فیها بالایماء للزحمة وضیق المحل فالظاهر من النظائر ان یعید الصلوٰة. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۲۴ جلد۲ باب الصلاة علی الدابة الخ)

﴿۲﴾(بدائع الصنائع ص۱۰۹ جلد۱ فصل فی ارکان الصلاة)

﴿۳﴾(سورة مریم پاره: ۱۶ رکوع:۵ آیت: ۳۲)

مونځ کښې فرق راځي که نه.(۴) د حافظ قرآن شاته که فاتح د قرآن نه ګوري او فتحه ورکوي نو دا جائز دي؟(۵) که حافظ قرآن یو ځائي ختم او کړي بیا په بل ختم شروع کړي نو آیا د مقتدیانو سنت به ختم شي؟(۶) د سحر دوه رکعته سنت داسې ځائي کول چه د امام قرأت اوریدلې کیږي صحیح دي که نه؟(۷) کوم سړې چه مړ شوې وي د هغه شناختي کارډ په کور کښې ساتل جائز دي که نه؟ (۸) په تبلیغ کښې چه لاړ شي نو د بریلیانو امامانو پسې مونځ کول صحیح دي که نه؟(۹) د مونځ ګزارو مخې نه تیریدلو د پاره څومره فاصله شرط ده؟ (۱۰) محمد نواز او محمد عیاض نوم کیښودل جائز دي که نه؟ (۱۱) که په جمات کښې چا ته احتلام اوشي نو دا محتلم نر آذان پورې په جمات کښې پاتې کیدلې شي؟ او د جمات په دیوال باندې تیمم جائزدي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: طاهر یو ناني دوا خانه اقبال مارکیټ مینګوره سوات ۱۹۹۰ء/۲۱/۱۷

الجواب: (۱) جائز دي﴿۱﴾ (۲) دا صرف قانوني جرم دي. (۳) سجده سهوه واجب ده ﴿۲﴾ (کبري ص۱۲۲) (۴) که دا فاتح د فتح ورکولو په وخت کښې په مونځ کښې شامل نه وو نو دده فتحه اخستل مونځ فاسدوي.﴿۳﴾ (۵) بغیر د شک اوشبې نه ادا کیږي.﴿۴﴾ (۶) د فاصل (جداکونکي څیز) په

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین: من صلی العشاء والتراویح والوتر فی منزله ثم ام قوما آخرین فی التراویح ونوی الامامة کره له ذلک ولا یکره للماْمومین ولو لم ینوالامامة وشرع فی الصلاة فاقتدی الناس به لم یکره لواحد منهما.
(ردالمحتار ص۵۲۴ جلد۱ مطلب فی کراهة الاقتداء فی النفل علی سبیل التداعی)

﴿۲﴾قال الحلبی: وقد یقال انه بقرأته قبل الفاتحة آخر الفاتحة فقد آخر الواجب.
(غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص۴۳۱ فصل فی سجود السهو)

﴿۳﴾وفی الهندیه: وان فتح غیر المصلی علی المصلی فاخذ بفتحه تفسد کذا فی منیة المصلی.
(فتاویٰ عالمگیریه ص۹۹ جلد۱ الفصل الاول فیما یفسد)

﴿۴﴾قال العلامة عبد الحئی: قد روی بعض هل العلم عن کنز الفتاویٰ رجل ام قوماً فی التراویح وختم فیها ثم ام قوما آخرین له ثواب الفضیلة ولهم ثواب الختم.
(مجموعة الفتاویٰ ص۲۲۴ جلد۱ کتاب الصلاة)

موجود کئ کښېي سنت کول د پرېخودلو نه ښه کار دې﴿۱﴾ (۷) نه ممنوع دي نه مطلوب دي. (۸) بعضې وختونو کښې اعاده ضروري وي. (۹) درې ځلور ګزه. ﴿۲﴾ (۱۰) جائز دي. (۱۱) په جمات کښې د جنبي او سيدل جائز نه دي. ﴿۳﴾ او د جمات ديوال باندې تيمم نا جائز نه دي. وهو الموفق.

د مونځ په باره کښې د بعضې تپوسونو مختصر جوابونه

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي(۱) د ماښام او ماسخوتن په مونځ کښې که امام درې ايتونو نه پس غلط شو او مقتدی ورته فتحه ورکړه او امام فتحه واخستله نو دې صورت کښې به د چا مونځ فاسد وئ؟ (۲) که د سحر سنت پرېخودلې شول نو روستو به ئې کوی که نه؟ (۳) که د سحر مونځ نه يو سړې او ده وې نو د اشراق نه پس په د قضاء نيت کوي که د ادا؟ (۴) د مازيګر مونځ به د غروب افتاب نه پس د قضاء نيت کوې که د ادا نيت سره؟ (۵) که امام په سري مونځ کښې الحمد پورې په ښکاره او وئيل نو سجده سهوه واجب ده که نه؟ (۶) د امام د پاره پټکې (عمامه) تړل صرف په مونځ کښې سنت دي يا هر وخت سنت دې.؟ (۷) د سنتو نه پس اجتماعي دعا بدعت دې که جائز ده؟ (۸) د بريلی امام پسې د ديوبندي عقيدې والا مونځ کول څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي:عمر خطاب، محمد حکيم، هاتيان مردان.........۵رمضان ۱۴۱۰

﴿۱﴾ قال ابن الهمام: ومن انتهىٰ الى الامام فى صلاة الفجر وهو لم يصل ركعتى الفجر ان خشى ان تفوته ركعة ويدرک الاخرى يصلى ركعتى الفجر عند باب المسجد ثم يدخل لانه امكنه الجمع بين الفضيلتين وان خشى فوتهما دخل مع الامام لان ثواب الجماعة اعظم والوعيد بالترک الزم بخلاف سنة الظهر. (فتح القدير ص ۴۱۴ جلد ۱ باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: انه قدر ما يقع بصره على المار لو صلى بخشوع اى راميا ببصره الى موضع سجود. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۶۹ جلد ۱ باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى: ويحرم الحدث الاكبر دخول المسجد لا مصلى عيد وجنازة ولو للعبور خلافا للشافعى الالضرورة حيث لا يمكنه غيره ولو احتلم فيه ان خرج مسرعا تيمم ندبا. (الدرالمختار ص ۱۲۶ جلد ۱ مطلب يوم عرفة افضل من يوم الجمعة كتاب الطهارة)

الجواب: (۱) د امام او فاتح دواړو مونځونه صحيح دي﴿۱﴾ (شامي كبيري) (۲) د نمر ختلو نه پس به ئې کوی د طلوع نه مخکښې مکروه دي. ﴿۲﴾ (شامي) ﴿۳﴾ د نمر په ختلو سره فجر قضا کيږي البته د زوال نه مخکښې قضا کولو په صورت کښې به سنت هم کولې شی ﴿۳﴾ (۴) د غروب نه پس به د قضا نيت کوي. (۵) دومره لږ مقدار معاف دې ﴿۴﴾ (۶) پټکې تړل د ثواب کار دې او بغير پټکي نه مونځ کول مکروه تحريمي نه دي. ﴿ ۵ ﴾ (۷) مستحب ده او د فرضونه روستو جائز ده. ﴿ ۶ ﴾ (۸) چه د چا عقيده شرکی وي هغه پسې اقتداء کول باطل ده. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه الحصكفى رحمه الله: بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتح وآخذ بكل حال(قوله بكل حال) اى سواء قرأ الامام قدر ما تجوز به الصلاة آم لا انتقل الى آية اخرى ام لا تكرر الفتح ام لا هو الاصح.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۶۰ جلد ۱ باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها)

﴿۲﴾﴿۳﴾قال العلامه ابن عابدين: (قوله ولا يقضيها الا بطريق التبعية) اى لا يقضى سنة الفجر وفاته الفجر الا اذا فاتت مع الفجر فيقضيها تبعا لقضائه لو قبل الزوال واما اذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل الطلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذلک عندهما وقال محمد احب الى ان يقضيها الى الزوال كما فى الدرر قيل هذا قريب من الاتفاق لان قوله احب الى دليل على انه لولم يفعل لالوم عليه وقالا لا يقضى وان قضى فلابأس به. (ردالمحتار على هامش الدرالمختار ص ۵۳۰ جلد ۱ باب ادراک الفريضة)

﴿۴﴾قال ابن عابدين: لان القليل من الجهر فى موضع المخافتة عفو.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۴۹ جلد ۱ باب سجود السهو)

﴿۵﴾ قال الحلبى: المستحب ان يصلى الرجل فى ثلثة اثواب ازار وقميص وعمامة ولو صلى فى ثوب واحد متوشحا به جميع بدنه كما يفعله القصار فى القصرة جاز من غير كراهة مع تيسر وجود الطاهر الزائد ولكن فيه ترک الاستحباب.

(غنية المستملى المعروف بالكبيرى ص ۳۳۷ فصل فى بيان ما الذى يكره فعله فى الصلوٰة)

﴿۶﴾ قال العلامة ابن عابدين: واما ما ورد من الاحاديث فى......(بقيه حاشيه په راروان مخ ...)

په ناسته مونځ کولو کښې د رکوع طریقه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائي لکه څنګه چه په ولاړه باندې رکوع داسې کوې چه ملا دومره نیغه وی که د اوبو ډکه پیالې پرې کیږدې نو اوبه نه غورځیږې نو آیا دغه شان رکوع د ناستې مونځ کښې هم ده. حال دادې چه داخو به د سجدې سره مشابه شي صحیح طریقه څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق غفرله

الجواب: صرف انحناء (ټیټېدل) کافي دې د حقیقي او اصل رکوع پشان ملا نیغول نا ممکن دي. (فلیراجع الی ردالمحتار ص ۷۱۱ جلد ۱) ﴿۱﴾ فقط

حنفیان دې امین په قلاره وائي

سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائي مونږ په (ابوظهبي) کښې فرض مونځ په جماعت سره کوو. نو عربیان د امام پسې امین په زوره وائي نو آیا مونږ به هم په زوره وایو؟ او مونږ په قلاره ولې وایو؟ بینوا توجروا.

المستفتي: لته باز خان ابوظبي...... ۱۹۷۴ء ۱۰/۱۱/۱۰

(بقیه حاشیه) الاذکار عقیب الصلاة فلا دلالة فیه علی الاتیان بها قبل السنة بل یحمل علی الاتیان بها بعدها لان السنة من لواحق الفریضة وتوابعها ومکملاتها فلم تکن اجنبیة عنها فما یفعل بعدها یطلق علیه انه عقیب الفریضة.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۳۹۱ جلد ۱ اداب الصلاة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ویجعل سجوده اخفض) اشار الی انه یکفیه ادنی الانحناء عن الرکوع وانه لا یلزمه تقریب جبهة من الارض باقصی مایمکنه کما بسطه فی البحر عن الزاهدی. (ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۵۶۱ جلد ۱ باب صلاة المریض)

الجواب: تاسو په قلاره امین وایئ ﴿۱﴾ او په عربیانو باندې اعتراض مه کوئ. د هغوی مسلک څمونږ نه جدا دې ﴿۲﴾ وهوالموفق

په رفع الیدین، امین بالجهر وغیره اختلافي مسئلو کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه اختلاف را روان دې

سوال: محترم جناب مفتي صاحب څه ددین د محقق په طور دا عرض کووم چه د قیامت په ورځ د الله (ج) مخې ته د پیش کیدلو منظر مخې ته کیږده او په صحیح ترین سند سره جواب راکړه چه د رکوع کولو په وخت کښې رفع الیدین او امین بالجهر وئیلو کښې د کولو د لیلونه زیات قوي دي که د نه کولو والا زیات مضبوط دي؟ بینو وتوجروا

المستفتي: امان الله حلیم میډیکوز یونیورستي ټاون پشاور..... ۱۲جون ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام د امت برکاتکم! وعلیکم السلام نه پس دې دا خبره واضحه وي چه دې مسئلو کښې د صحابه کرامو د زمانې نه اختلاف راروان دې لهذا په دې کښې د الله په نزد د حق تعین کول مشکل بلکه نا ممکن دې. په دیکښې هر مذهب د خپل مذهب والو په نزد حق دې باقي چه کوم سړې د علم تفسیر او علم حدیث نه باقاعده خبر دار نه وي او د یو امام مقلد نه وي هغه د شیطان ښکار کیږي. وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیه: اذا فرغ من الفاتحة قال آمین، السنة فیه الاخفاء کذا فی المحیط. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۷۴ جلد ۱ الفصل الثالث فی سنن الصلاة وآدابها وکیفیتها)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: اختلفوا فی انه اهل یجهر بها من یؤمن ام یخفیها الثانی مذهب ابی حنیفة واحدقولی مالک، والاول قول الشافعی فی القدیم وقول احمد وقال الشافعی فی الجدید یجهر بها الامام ویخفیها الماموم، والمختار قوله القدیم وقال الحافظ ابن حجر وعلیه الفتویٰ وروی عن عمر وعلی وابن مسعود بل الخلفاء الراشدین الاخفاء...... فاستدل الحنفیة بروایة شعبه فقال آمین وخفض بها صوته ویؤیدها قوله تعالیٰ ادعوا ربکم تضرعا وخفیة. لان آمین دعاء وکذا یؤیدها حدیث حفظت من رسول الله ﷺ السکتتین لان المراد من السکتة الاخفاء دون عدم القراءة وکذا یؤیدها آثار الصحابة کما مرت وکذا القیاس علی سائر الاذکار.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۲۵، ۱۲۷ جلد ۲ باب ماجاء فی التامین)

د رفع اليدين حديثونه زموږ په نزد منسوخ دي

سوال: محترم مولانا صاحب د رفع اليدين په باره کښي ستاسو فتوى خه وير په هيرانتيا کښي واچولم ما د ثبوت د پاره د بخاري او مسلم د حديثونو د پيش کولو وئيلي وو. ليکن تا د تعصيل د پاره شرطونه پيش کړل چه ترخو پوري د قرآن او حديث لوئي عالم نه وي يا د يو امام مقلد نه وي او عمل کوي نو د شيطان ښکار کيږي نو مشرانو! خه نه عالم د ين يم او نه تقليد پيژنم اوس خه خه اوکړم د بخاري او مسلم د احاديثونه صفا انکار اوکړم

المستفتي امان الله حليم ميډيکوز يونيورسټي ټاون پشاور ۱۷ جون ۱۹۷۵

الجواب: محترم المقام دامت بركاتكم. السلام عليكم ته پس خبره داده که ته يا قاعده عالم نه ئي نو دي مسئلو کښي خپل عذر ظاهر کړه او دا چرته مقامي يا غير مقامي عالم نه اوليږه چه ستا تسلي اوشي محترم د بخاري او مسلم دا حديثونه منسوخ دي. (۱) هغي کښ صرف دا ثابت دي چه پيغمبر ﷺ رفع اليدين کړي دي دا يکښي نه دي ثابت چه تر مرګه پوري ئي کړي دي لکه څنګه چه په موږ کښي ګرځيدل او خبري کول معمول وو وهو الموفق

---

(۱) په احاديثو کښي د رفع اليدين او ترک رفع اليدين دواړو متعلق روايتونه موجود دي ليکن د ترک رفع اليدين روايتونه ناسخ دي. په منهاج السنن کښي دي اعلم ان ترک الرفع متواتر عملا كالرفع، والبلاد قاطبة فيها الرافعون وفيها التاركون ما عدا الكوفة فانهم باجمعهم تعاملوا بالترک وكذا بالترک كان تعامل اهل المدينة في عهد مالک کما ينقله المالكية ...... فيحمل حديث ابن عمر على النسخ ويؤيده ترک الراوي العمل به كما في رواية الطحاوي، وكذا يؤيد النسخ كونه غير المعمول به في المدينة المنورة في عهد مالک وكذا ترک اكابر الصحابة وفقهاء هم مثل عمر وعلي وابن مسعود العمل به (منهاج السنن ص ۱۳۲ جلد۲) ددې نه علاوه دا روايتونه هم د ترک رفع يدين دپاره صريح دليلونه دي: (۱) عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا ...... (باقي حاشيه په بل مخ)

د ترک رفع اليدين مسئله د مسلم شريف حديث

سوال: محترم ومكرم تاسو حضراتو وئيلي وو چه رفع اليدين منسوخ دي ليکن رفع اليدين کوئلو والا وائي که چا ئي منسوخ کيدل ثابت کړل نو موږ به ورته د انعام په طور پنځه سوه روپۍ ورکړو ما ورته هغه مسلم شريف والا حديث پيش کړو هغوي مسلم شريف راوړو چه دا منع خود سلام په وخت کښي ده. او بيائي هم دي مسلم شريف کښي د رکوع په وخت کښي د رفع اليدين څو حديثونه په اثبات کښي پيش کړل براه مهرباني د منسوخ کيدلو مضبوط دليل په حوالي سره او ليکئ چه موږ د اهل حديث جواب اوکړو؟ بينوا توجروا

المستفتي امان الله پشاور يونيورسټي ۱۹ جولائي ۱۹۷۵ء

الجواب: الحديث المسئول رواه جابر بن سمرة رضي الله عنه مرفوعاً ص ۱۸۱ جلد ۱ ﴿۱﴾ وفيه انكار على رفع اليدين لقوله ﷺ اسكنوا في الصلوة وهو

(بقيه حاشيه) اصلي بكم صلاة رسول الله ﷺ فصلى ولم يرفع يديه الا مرة واحدة مع تكبير الافتتاح رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وهو حديث صحيح (آثار السنن باب ترک رفع اليدين في غير الافتتاح ص ۱۰۳) وفي التعليق قلت صححه ابن حزم وقال الترمذي حديث ابن مسعود حديث حسن (باب رفع اليدين عند الركوع ص ۵۹ جلد ۱). (۲) عن براء بن عازب قال ان رسول الله ﷺ كان اذا افتتح الصلوة رفع يديه الى قريب من اذنيه ثم لا يعود (ابوداؤد ص ۱۰۹ جلد ۱). (۳) عن عبد الله بن عمر قال: رأيت رسول الله ﷺ اذا افتتح الصلوة رفع يديه حذو منكبيه واذا اراد ان يركع وبعد ما يرفع رأسه من الركوع فلا يرفع ولا بين السجدتين (مسند حميدي ص ۲۷۷ جلد ۲ احاديث عبد الله بن عمر رقم: ۶۱۳)

﴿۱﴾ عن جابر بن سمرة قال خرج علينا رسول الله ﷺ فقال مالي اراكم رافعي ايديكم كانها اذناب خيل شمس اسكنوا في الصلوة قال ثم خرج علينا فرانا حلقا فقال مالي اراكم عزين قال ثم خرج علينا فقال الا تصفون كما تصف الملائكة عند ربها فقلنا يارسول الله وكيف تصف الملائكة عند ربها قال يتمون الصفوف الاول ويتراصون في الصف. (الصحيح المسلم ص ۱۸۱ جلد ۱ باب الامر بسكون في الصلاة)

د رفع الیدین حدیثونه زمونږ په نزد منسوخ دي

سوال: محترم مولانا صاحب د رفع الیدین په باره کښې ستاسو فتوې څه ډیر په هیرانتیا کښې واچولم ما د ثبوت د پاره د بخاري او مسلم د حدیثونو د پیش کولو وئیلي وو. لیکن تا د تعمیل دپاره شرطونه پیش کړل چه ترڅو پورې د قرآن او حدیث لوئي عالم نه وي یا دیو امام مقلد نه وي او عمل کوي نو د شیطان ښکار کیږي. نو مشرانو! څه نه عالم دین یم او نه تقلید پیژنم اوس څه څه اوکړم د بخاري او مسلم د احادیثونه صفا انکار اوکړم.

المستفتي: امان الله حلیم میډیکوز یونیورسټي ټاون پشاور......۱۷ جون ۱۹۷۵

الجواب: محترم المقام دا مت بر کا تکم. السلام علیکم نه پس خبره داده که نه با قاعده عالم نه ئې نو دې مسئلو کښې خپل عذر ظاهر کړه اودا چرته مقامي یا غیرمقامي عالم نه اولیږه چه ستاتسلي اوشي. محترم د بخاري او مسلم دا حدیثونه منسوخ دي، (۱) هغې کښ صرف دا ثابت دي چه پیغبر ﷺ رفع الیدین کړې دي دا پکښې نه دي ثابت چه تر مرګه پورې ئې کړې دي لکه څنګه چه په مونځ کښې ګرځیدل او خبرې کول معمول وو. وهو الموفق

(۱) په احادیثو کښې د رفع الیدین او ترک رفع الیدین دواړو متعلق روایتونه موجود دي لیکن د ترک رفع الیدین روایتونه ناسخ دي، په منهاج السنن کښې دي. **اعلم ان ترک الرفع متواتر عملا کالرفع، والبلاد قاطبة فیها الرافعون وفیها التارکون ما عدا الکوفة فانهم باجمعهم تعاملوا بالترک وکذا بالترک کان تعامل اهل المدینة فی عهد مالک کما ینقله المالکیه ...... فیحمل حدیث ابن عمر علی النسخ ویؤیده ترک الراوی العمل به کما فی روایة الطحاوی، وکذا یؤید النسخ کونه غیر المعمول به فی المدینة المنورة فی عهد مالک وکذا ترک اکابر الصحابة وفقهاءهم مثل عمر وعلی وابن مسعود العمل به (منهاج السنن ص ۱۴۲ جلد ۲) ددی نه علاوه دا روایتونه هم د ترک رفع یدین دپاره صریح دلیلونه دی: (۱) عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا ..... (باقی حاشیه په بل مخ)**

د ترک رفع الیدین مسئله د مسلم شریف حدیث

سوال: محترم ومکرم تاسو حضراتو وئیلي وو چه رفع الیدین منسوخ دي لیکن رفع الیدین کولو والا وائي که چا ئې منسوخ کیدل ثابت کړل نو مونږ به ورته د انعام په طور پنځه سوه روپې ورکړو. ما ورته هغه مسلم شریف والا حدیث پیش کړو هغوي مسلم شریف راوړو چه دا منع خود سلام په وخت کښې ده، او بیائې هم دې مسلم شریف کښې د رکوع په وخت کښې د رفع الیدین څو حدیثونه په اثبات کښې پیش کړل. براه مهرباني د منسوخ کیدلو مضبوط دلیل په حوالې سره اولیکئ چه مونږ د اهل حدیث جواب اوکړو؟

بینوا توجروا

المستفتي: امان الله پشاور یونیورسټي..........۱۹ جولائي ۱۹۷۵ء

الجواب: الحدیث المسئول رواه جابر بن سمرة رضی الله عنه مرفوعاً ص ۱۸۱ جلد ۱ ﴿۱﴾ وفیه انکار علی رفع الیدین لقوله ﷺ اسکنوا فی الصلوٰة وهو

(بقیه حاشیه) اصلی بکم صلاة رسول الله ﷺ فصلی ولم یرفع یدیه الامرة واحدة مع تکبیر الافتتاح رواه الترمذی وابوداؤد والنسائی وهو حدیث صحیح (اٰثار السنن باب ترک رفع الیدین فی غیر الافتتاح ص ۱۰۴) وفی التعلیق قلت صححه ابن حزم وقال الترمذی حدیث ابن مسعود حدیث حسن (باب رفع الیدین عند الرکوع ص ۵۹ جلد ۱). (۲) عن براء بن عازب قال ان رسول الله ﷺ کان اذا افتتح الصلوٰة رفع یدیه الی قریب من اذنیه ثم لا یعود (ابوداؤد ص ۱۰۹ جلد ۱). (۳) عن عبد الله بن عمر قال: رأیت رسول الله ﷺ اذا افتتح الصلوٰة رفع یدیه حذو منکبیه واذا اراد ان یرکع وبعد ما یرفع رأسه من الرکوع فلا یرفع ولا بین السجدتین (مسند حمیدی ص ۲۷۷ جلد ۲ احادیث عبد الله بن عمر رقم: ۶۱۴)

﴿۱﴾ عن جابر بن سمرة قال خرج علینا رسول الله ﷺ فقال مالی اراکم رافعی ایدیکم کانها اذناب خیل شمس اسکنوا فی الصلوٰة قال ثم خرج علینا فرانا حلقا فقال مالی اراکم عزین قال ثم خرج علینا فقال الا تصفون کما تصف الملائکة عند ربها فقلنا یارسول الله وکیف تصف الملائکة عند ربها قال یتمون الصفوف الاول ویتراصون فی الصف. (الصحیح المسلم ص ۱۸۱ جلد ۱ باب الامر بسکون فی الصلاة)

لا يصدق على وقت السلام لان السلام محلل ومخرج عن الصلوة ﴿۱﴾. وهو الموفق

په مونځ کښې عدم رفع الیدین او تقلید فیصله شوې مسئلې دي

سوال: د رفع الیدین متعلق بخاري شریف ص ۴۲۸ کښې د ابن عمر رضي الله عنه روایت مسلم شریف کښې ابو قلابه او جابر بن سمره، او په بیهقي کښې دي چه خلفائې راشدینو به رفع الیدین کول. دغه شان فاتحه خلف الامام هم ثابت ده بخاري شریف ص ۴۸۰ ترمذي ص ۱۰۵. ددې به څه جواب ورکوو دغه شان د تقلید شخصي وضاحت هم اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: حکیم الله، محمد یوسف مسکین پور شریف مظفر ګړه. ۱۹۷۵ء۱۰۱۲،۱۸

الجواب: محترم المقام! دا فیصله شوې مسئلې دي ددې په هر پهلو باندې علماؤ بحث کړې دي، ته عینی او معارف السنن ته رجوع اوکړه او تسلي حاصله کړه. البته د تقلید شخصي متعلق دې دا خبره واضحه وي چه الله(ج) په قران کښې د هغه تقلید انکار کړې چه د امام او مقلد سره هدایت او عقل نه وي یعني نه ورسره عقلي دلیل وي او نه ورسره نقلي دلیل وي. (حیث قال اولو کان آباءهم لا یعقلون شیئاً ولا یهتدون) ﴿۲﴾
خالص په تقلید شخصي باندې ئې انکار نه دې کړې لهذا هغه تقلید شخصي به منکر نه وي چه د امام سره ئې عقلي یا نقلي دلیل موجود وي. دغه شان (فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون) ﴿۳﴾ ایت هم دې او قرآن مطلق دې یعني په هره حادثه کښې یو اهل ذکر ته رجوع کوئ او جدا جدا اهل ذکر ته رجوع کول

﴿۱﴾ وفی المنهاج: ومنها ما رواه مسلم وغیره عن جابر بن سمرة قال خرج علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم ونحن رافعوا ایدینا فی الصلاة فقال ما لی اراکم رافعی ایدیکم کانها اذناب خیل شمس واللفظ للنسائی وسیاق هذا الحدیث مغایر عن سیاق الحدیث الذی انکر فیه علی من رفع ایدیهم عند السلام کما لا یخفیٰ علی من راجع الی نصب الرایه وتعلیقاته.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۴۰ جلد ۲ باب رفع الیدین عند الرکوع)

﴿۲﴾ (سورة البقرة پاره: ۲ رکوع ۵ آیت: ۱۷۰)

﴿۳﴾ (سورة النحل پاره: ۱۴ رکوع: ۱۲ آیت: ۴۳)

د دواړو جائز کول دي. (والاول هو التقلید الشخصی) دغه شان تقلید شخصي په خیر القرون کښې بغیر د څه انکار نه موجود شوې دې نو دا به سنت وي بدعت به نه وي. (لان الائمة الاربعة کانوا ائمة فی حیاتهم فافهم ولاتعجل) دغه شان حدیث (علیکم بالسواد الاعظم) ﴿۱﴾ هم د تقلید شخصي د افضلیت مؤید دې ځکه چه په هره زمانه کښې د خواصو سواد اعظم تقلید کړې شوې دې.

کما لا یخفیٰ علی من راجع الی تاریخ المحدثین والشارحین للحدیث والفقهاء واصحاب الطریقة من الشیوخ، واما غیر المقلدین فانهم یقلدون (فی الحقیقة) الائمة شر القرون ویذرون ائمة خیر القرون تلک اذاً قسمةٌ ضیزیٰ. وهو الموفق

﴿۱﴾ عن ابن عمر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اتبعوا لسواد الاعظم فانه من شذ شذ فی النار رواه ابن ماجه من حدیث انس.

(مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة کتاب الایمان)

باب واجبات الصلوة

په روان ریل ګاډي کښې په ناسته مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې په ریل ګاډي کښې سفر کوي او د مونځ وخت شو نو اوس دا سړې په ناسته مونځ کولې شي؟ یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: ګل محمد بلوچستان............۲۱/۷/۱۹۸۶

الجواب: په ریل ګاډي کښې په ناسته مونځ کول جائز دي اګر که روان وي او سړې د ولاړې نه معذو وي البته قبلې ته مخ کول ضروري دي. (هندیه ص ۱۵۲ جلد ۲) ﴿۱﴾ وهو الموفق

په تکبیر تحریمه کښې کوم څیز فرض یا واجب دي؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په تکبیر تحریمه کښې کوم څیز فرض او څه واجب او سنت دي د فتاوی عالمګیري د اشاعت

﴿۱﴾ قال فی الهندیه: ومن اراد ان یصلی فی سفینة تطوعا او فریضة فعلیه ان یستقبل القبلة ولایجوز له ان یصلی حیثما کان وجهه کذا فی الخلاصة.

(فتاویٰ عالمګیریه ص ۶۳، ۶۴ جلد ۱ الفصل الثالث فی استقبال القبلة)

وفی منهاج السنن: واما الصلوٰة فی السیارات البریة من القطارات وغیرها فعند الوقوف حکمها کحکم الصلوٰة علی الارض وعند السیر حکمها کحکم الصلوٰة فی السفینة السائرة فمن صلیٰ فیها قاعداً برکوع وسجود اجزأت، ومن صلی فیها بالایماء للزحمة وضیق المحل فالظاهر من التطائر ان یعید الصلوٰة، واما الصلوٰة فی الطیارات فلعل حکمها کحکم الصلوٰة فی السفینة السائرة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۳۴ جلد ۲ باب الصلوٰة علی الدابة حیث ما توجهت به)

د پاره د با حواله د جواب ضرورت دي. ځکه چه عالمګیري کښې د مونځ په واجباتو کښې د تکبیر تحریمه په باره کښې هیڅ څیز نه دي ذکر شوي. بینوا توجروا

المستفتی: محمد صادق ناظم مجلس منتظمه اشاعت فتاوی هندیه سهګل جهلم

الجواب: تکبیر تحریمه شرط او فرض دي (درمختار باب صفة الصلوة) ﴿۱﴾ او خاص طور سره الله اکبر وئیل واجب یا سنت دي. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۴۴۷ جلد ۱) ﴿۲﴾ فقط

د ماسخوتن په څلورو رکعتونو کښې قصداً یا سهواً جهر کول

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو امام د ماسخوتن په څلور واړو رکعتونو کښې قرأت بالجهر اوکړو او سجده سهوه ئې او نه کړه. ددې مونځ څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نا معلوم.............

الجواب: د ماسخو تن په اخرني دوه رکعتو نو کښې په پټه قرأت کول واجب دي لهذا ددې واجب په پریخودلو سره به سجده سهوه واجب وي خو دا هله چه داسې پریخودل سهواً وي ګني بیا اعاده واجب ده.

قال فی شرح التنویر والجهر فیما یخافت فیه الامام هامش ردالمحتار ص ۶۹۴ جلد ۱ ﴿۳﴾ والاسرار یجب علی الامام والمنفرد مما یسر فیه وهو صلوٰة الظهر والعصر والثالثة من المغرب والاخریان من العشاء ردالمحتار ص ۴۳۷ جلد ۱ ﴿۴﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: من فرائضها التحریمة وهی شرط.
(الدار المختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲۶ جلد ۱ باب صفة الصلوٰة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفي: واذا اراد الشروع فی الصلاة کبر لو قادرا للافتتاح ای قال وجوبا الله اکبر قال ابن عابدین واجیب بانه یفید السنیة او الوجوب. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۳۵۴ جلد ۱ فصل فی بیان تالیف الصلوٰة الی انتهائها باب صفة الصلوٰة)

﴿۳﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۴۸ جلد ۱ باب سجود السهو)

﴿۴﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۴۶ جلد ۱ باب صفة الصلاة)

په مونځ کښې په الفاظو باندې ژبه خوزول ضروري دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) که یو مونځ گزار الحمد شریف، تشهد، درود شریف، اودُعا په سوچ سره اود معنیٰ په پوهیدلو سره په بندو شونډو سره زړه کښې الفاظ ادا کوي. نوآیا قرات وغیره په زړه کښې کولو سره مونځ کیږي؟ (۲) که په زړه کښې لوستلو سره مونځ نه ادا کیږل نو هغه کومه طریقه ده چه په بندو شونډو سره په ژبې باندې الفاظ اداکړي. نن صبا ۹۹٪ فیصده مونځ گذار داسې معلومیږي چه د هغوی شونډې نه خوزیږي که چرته داسې څه طریقه وي نو د قرآن او سنت مطابق اولیکئ راولیږئ چه څه هم په اسانۍ سره مونځ اداکړم؟ بینوا توجروا

المستفتي: نورمحمد بوهړ بازار راولپنډي.......یکم جون ۱۹۷۰ء

الجواب: دا تدبر او تفکر دې په دې سره ذمه نه فارغیږي د ذمه وارۍ نه اوزگاریدلو د پاره په ژبه وئیل ضروري دی.

وفی الهدایة ص ۹۸ ثم المخافة ان یسمع نفسه والجهر ان یسمع غیره وهذا عند الفقیه ابی جعفر الهندوانی، وقال الکرخی ادنی الجهر ان یسمع نفسه وادنی المخافة تصحیح الحروف لان القرأة فعل اللسان وعلی هذا الاصل کل ما یتعلق بالنطق ﴿۱﴾.

(۲) دگونگې نه علاوه بل چا دپاره دا گنجائش نشته دې. ته تکلیف برداشت کړه او تلفظ اوکړه الله (ج) به تا ته دوه چنده اجر درکړي (لحدیث ورد بذالک) ﴿۲﴾ او ته چه څنگه خبرې کوې او تکلیف برداشت کوی نو دغه شان په مونځ کښې هم تکلیف برداشت کوه. فقط

﴿۱﴾ (هدایه ص ۱۰۶، ۱۰۷ جلد ۱ کتاب الصلوٰة فصل فی القرأة)

﴿۲﴾ عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ الماهر بالقرآن مع السفرة الکرام البررة والذی یقرأ القرآن ویتتعتع فیه وهو علیه شاق له اجران متفق علیه.
(مشکواة المصابیح ص ۱۸۳ جلد ۱ باب فضائل القرآن)

د مونځ الفاظ په فکر سره نه بلکه په تلفظ سره ادا کول لازمي دي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په جماعت سره مونځ کولو وخت کښې کله تشهد درود شریف او دعا کول وي نو په ژبې سره. ځما د ژبې نه په صحیح طریقې سره الفاظ نه ادا کیږي بلکه په زړه کښې بنه سوچ سره په معنیٰ باندې پوهیدو سره وائم نو آیا په دې سره مونځ کیږي؟ که نه کیږي نو (باقی څه آواز بیا اوځي چه د هغې په وجې سره د نزدې مونځ گزارو په مونځ کښې خلل راځي اوکه آواز نه اوباسم نو آواز په ژبه راځي لیکن پته نه لگي چه په ژبې سره ادا شول که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: نور محمد بوهړ بازار راولپنډي...مئ ۱۹۷۰ء

الجواب: د تشهد وئیل واجب دي لهذا ستا د پاره ضروري ده چه ته به په تفکر او تد بر (سوچ) کولو باندې اکتفا نه کوي بلکه دخپل وَس اوطاقت موافق به تلفظ کوې که ته خپل الفاظ نه اورې لیکن دا یقین حاصل وي چې ما په ژبې سره خروف صحیح ادا کړی نو دا هم کافي ده. ﴿۱﴾ فقط

په بس (لارۍ) کښې بغیر قبلې نه د ادا شوي مونځ اعاده واجب ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله د سفر دوران کښې ډرائیور د مونځ د پاره گاډې نه اودروي نو بغیر د قبلې د مخ کولو نه په اشارې سره مونځ جائز دي که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتي: مولوي عبدالله مدرس عربي هائي سکول لتمبر ضلع کرک...۲۶/۱۱/۱۹۷۲ء

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: (و) ادنی الجهر اسماع غیره وادنیٰ المخافتة اسماع نفسه، قال ابن عابدین: اعلم انهم اختلفوا فی حد وجود القرأة علی ثلاثة اقوال فشرط الهندوانی والفضلی لوجودها خروج صوت یصل الی اذنه وبه قال الشافعی وشرط بشر المریسی واحمد خروج الصوت من الفم وان لم یصل الی اذنه لکن بشرط کونه مسموعا فی الجملة حتی لو ادنیٰ احد صماخه الی فیه یسمع ولم یشترط الکرخی وابوبکر البلخی السماع واکتفیا بتصحیح الحروف. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۹۳ جلد ۱ فصل فی القرأة)

الجواب: په غیر جاندار سورلئ کښې قبلې ته مخ کول ضروري دي، (في الدار المختار علی هامش ردالمحتار ص۷۱۴ جلد۱) ﴿۱﴾ او که د وخت د تنګئ په وجه بغیر د قبلې نه مونځ ادا کړې شو نو روستو به واجب الاعاده وي. (بالاصل المذکور فی البحر ص۱۴۹ جلد۱) وهوالموفق

د مونځ متعلق د مختلفو سوالونو جوابونه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه! (۱) د ناستې په مونځ کښې به د رکوع په وخت کښې لاس چرته کېښودې کیږي؟ (۲) آیا منفرد به په سجده سهوه کښې دواړو طرفونو ته سلام ګرځوي؟ (۳) د ماښام په دریم یا د ماسخوتن، مازیګر په څلورم رکعت کښې چه سړې شریک شي نو اوس به د امام د فراغت نه پس د یو رکعت نه پس قاعده کوي که دوه رکعتو نه پس؟ (۴) د طلاق مغلظ ورکولو نه پس چه کوم سړې دغه ښځه د ځان سره ساتي دې سړي ته به د مونځ کولو اجازت ورکولې کیږي یا منع کولې به شي.؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمٰن وانډه شهاب خیل لکی مروت... ۲۵۱۲، ۱۹۷۲

الجواب: (۱) که ګرانه نه وي نو په زنګو نانو باندې به لاس کېښودل افضل وي (ماخوذ از شامی) ﴿۲﴾ (۲) سلام به یو طرف ته (ښي طرفته) ګرځوي په

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والمربوطة بلجة البحر ان کان الریح یحر کها شدیدا فکالسائرة والافکالواقفة ویلزم استقبال القبلة عند الافتتاح وکلما دارت (قوله ویلزم استقبال القبلة) ای فی قولهم جمیعا بحر وان عجز عنه یمسک عن الصلاة امداد عن مجمع الروایات ولعله یمسک مالم یخف خروج الوقت لما تقرر من ان قبلة العاجز جهة قدرته وهذا کذلک والا فما الفرق فلیتأمل وانما لزمه الاستقبال لانها فی حقه کالبیت حتی لا یتطوع فیها مومئا مع القدرة علی الرکوع والسجود بخلاف راکب الدابة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۶۳ جلد ۱ مطلب فی الصلاة فی السفینة باب صلاة المریض)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: (قوله ان یبلغ الرکوع) ای یبلغ اقل الرکوع بحیث تنال یداه رکبتیه وعبارته فی الخزائن عن القنیة الی ان یصیر اقرب الی الرکوع:
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۲۸ جلد ۱ قبیل مبحث القرأة)

د یکښې د امام او منفرد څه فرق نشته البته دواړه طرفته سلام ګرځول مونځ نه فاسدوي. خلافا للبعض (شامي) ﴿۱﴾ (۳) د مفتی به قول مطابق به دیو رکعت نه پس قعده کوي. (شامي) ﴿۲﴾ (۴) داسې ګناه ګار سړې د جمع د مونځ یا جمات نه منع کول حرام دي. (القرآن) ﴿۳﴾ وهوالموفق

د سورلئ او پیاده مزل په حالت کښې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په سورلئ یا پیدل تلو په حالت کښې د مونځ څه حکم دې؟ او دې آیت به څه مطلب وي (وان خفتم فرجالاً او رکباناً... الایه) بینوا توجروا

المستفتي: محمد امین......... ۲۱۴۱، ۱۹۷۴

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: (یجب بعد سلام واحد عن یمینه فقط) لانه المعهود وبه یحصل التحلیل وهو الاصح بحر عن المجتبیٰ وعلیه لو اتی بتسلیمتین سقط عنه السجود.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۴۵، ۵۴۶ جلد ۱ باب سجود السهو)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویقضی اول صلاته فی حق قرأة وآخرها فی حق تشهد فمدرک رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ولا یقعد قبلها . قال ابن عابدین: (قوله ویقضی اول صلاته فی حق قرأة) هذا قول محمد کما فی مبسوط السرخسی وعلیه اقتصر فی الخلاصه وصرح الطحاوی والاسبجابی والفتح والدرر والبحر وغیرهم وذکر الخلاف کذلک فی السراج لکن فی صلاة الجلابی ان هذا قولهما وتمامه فی شرح الشیخ اسمعیل وفی الفیض عن المستصفیٰ لو ادرکه فی رکعة الرباعی یقضی رکعتین بفاتحة وسورة ثم یتشهد ثم یأتی بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابی حنیفة وقالا رکعة وسورة وتشهد ثم رکعتین اولا هما بفاتحة وسورة وثانیتهما بفاتحة خاصة. وظاهر کلامهم اعتماد قول محمد (قوله وتشهد بینهما) قال فی شرح المنیة ولولم یقعد جاز استحسانا لا قیاسا ولا یلزمه سجود السهو لکون الرکعة اولی من وجه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۴۱ جلد ۱ قبیل باب الاستخلاف)

﴿۳﴾ قال الله وتعالیٰ: ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه وسعی فی خرابها.
(سورة البقرة پاره: ۱ رکوع: ۱۴ آیت: ۱۱۴

الجواب: اعلم ان الراجل هو القائم على الرجلين سواء كان ماشياً او لا كما ان الراكب هو الواقف على المركب سواء كان ذاهبا اولا. لكن الفقهاء الكرام اتفقوا على كون العمل الكثير مفسداً كما صرحوا به والمشى المتتابع عمل كثير فيكون مفسداً وهو مقتضى الاحتياط، فافهم نعم لو ورد مشاة وركبانا لقدم النص على الاصل فتقديم المحتمل على الاصل خلاف الاحتياط، وكذا الراكب هو الساكن وانما الماشى هو المركب فالتقابل ايضا يقتضى الاحتياط﴿۱﴾. وهو الموفق

د دواړو سجدو مينځ کښې جلسه نه کول د مونځ د راګرځولو سبب دي

سوال: علمائې دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي که څوک سړې د دوو سجدو په مينځ کښ جلسه نه کوي يعني صرف اشاره کوي نو آيا دا مونځ کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مسعود صديقي محله موچي پوره کابلي ګيټ پشاور...۱۹۹۱

الجواب: کله چه جلسه د (سبحان الله) وئيلو مقدار نه کمه وي نو مونځ واجب الاعاده دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين: فلايجوز على الدابة بلا عذر لعدم الحرج كما فى البحر (قوله راكبا) فلاتجوز صلاة الماشى بالاجماع بحر عن المجتبى.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۱۶ جلد ۱ مطلب فى الصلاة على الدابة)

﴿۲﴾قال العلامة الحصكفى: وتعديل الاركان اى تسكين الجوارح قدر تسبيحة فى الركوع والسجود وكذا فى الرفع منهما على مااختاره الكمال. قال ابن عابدين: لو تركها او شيئا منها ساهيا يلزمه السهو ولو عمدا يكره اشد الكراهة ويلزمه ان يعيد الصلاة.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۴۲ جلد ۱ باب صفة الصلاة)

باب سُنن الصلوة

د فرض مونځ نه پس اورده دُعا کول يا د اللهم انت السلام د مقدار حکم

سوال: علمائې دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د مونځ نه پس د امام يا مقتدي په ناسته باندې د اوږدې دُعا څه حکم دې؟ او حال دا چه په روايتونو کښې خو صرف د اللهم انت السلام مقدار راغلي دې. آيا ددې نه زياته ناسته جائز نه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم.....۱۹۷۴ء۱۲۱۴۱

الجواب: د فرض مونځ نه پس د ذکر مقدار د فقهائې کرامو د تصريح مطابق د (اللهم انت السلام په مقدار يا څه کم وزيات دي.

كما فى ردالمحتار ص ۴۹۵ جلد ۱ وقول عائشة رضى الله عنها بمقدار لا يفيد انه كان يقول ذلك بعينه بل كان يقعد بقدر ما يسعه ونحوه من القول تقريباً فلا ينافى ما فى الصحيحين من انه ﷺ كان يقول فى دبر كل صلوة مكتوبة لا اله الا الله الخ ﴿۱﴾. وهو الموفق

په تشهد کښې اشاره او د فقهائې کرامو اقوال

سوال: علمائې کرامو دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په تشهد کښې اشاره سنت ده که نه؟ دغه رنګې مجدد الف ثاني رحمه الله په خپلو مکتوباتو کښې داحرام ليکلې. اودغه شان په جامع الرموز، خلاصة الفتاوى، فتاوى ظهيريه، فتاوى هنديه کښې هم دي چه (والمختار انه لايشير والاكثرون لايرون الاشارة) تحقيقي جواب اوليکئ او تسلي اوکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمان مدرسة الحسينيه شهداد پور سانګهړ.....۱۹۷۵ء۹۱۲۱

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۹۱ جلد ۱ قبيل فصل فى القراءة)

الجواب: متاخرین علمائې کرام د اشارې د حلال والي او حراموالي په باره کښې مختلف دي. ډېر علماء ورته جائز او سنت وائي او ډېر ورته نا جائز او مکروه وائي د دغې نه مجدد الف ثاني رحمه الله هم شمار کړې شویدې. البته راجح جواز او سنت کیدل معلومیږي ځکه چه د فعلي او قولي مرفوع حدیثونو نه فعل معلومیږي انکار نه معلومیږي نو نسخ به څنګه صحیح شي.

واما احاديث اسكتوا فى الصلوٰة ففيه انكار على رفع اليدين فى الصلاة او عند السلام كما لا يخفىٰ على من راجع الى مسلم وليس فيه انكار على الاشارة، والنسخ لا يثبت بالرائ والقياس وما قيل ان احاديث الاشارة مضطربة فيقال بالمنع ثم بالتوسع كما فى الرفع عند التحريمة على ان الضعيف يثبت به الاستحباب وماقيل ان البخارى لم يروها فيقال الحجه هو الحديث دون البخارى فقط كما يقال فى مسئلة رفع اليدين، وقد صرحوا ان عدم كون الحديث على شرط البخارى لا يقتضى عدم الصحة فليراجع،

دغه رنګې ځمونږ متقدمین امامانو نه په ظاهر الروایت کښې د اشارې متعلق نه نفی شته او نه اثبات او په نادر الروایة کښې اثبات موجود دي.

كما فى الموطأ للامام محمد واما لى ابى يوسف رحمهما الله تعالىٰ، وفى البحر ان المصير الىٰ نادرالرواية واجب عند علم الظاهر، فما قالوا ان ظاهر الرواية هى عدم الاشارة فقد ضلوا واضلوا افهم، لم يفرقوا بين علم الرواية ورواية العدم،

او دغه رنګې چه په متاخرین علماؤ کښې چا اشارې ته ترجیح ورکړې هغه علماء کرام په جامع بین الفقه والحدیث کښې محققین دي.

بخلاف ما قال بعد مها هى ان قولهم مخالف عن الرواية والدراية كما فى فتح القدير واما ما نسب الى الامام الربانى فقال شيخنا ومرشدنا مولانا محمد عبد المالك الصديقى المجددى قدس سره ان هذا المكتوب موضوع نسبه الى شيخه، فقال البعض انه لم يبلغه الاحاديث وفيه مافيه، وقيل تحقيقه مخالف عن تحقيق اهل الفن، وما قالوا انها ما ذكرت فى ظاهر الرواية فلم يميزوا بين عدم الرواية ورواية العدم، وما قالوا انها لم يذكرها صاحب الهداية قلنا قد ذكرها فى مختارات النوازل ولم يذكرها فى الهدايه لعدم ذكرها فى القدورى وجامع الصغير وغيره، وماقالوا ان المسنون هو

افتراش الاصابع الى القبلة، قلنا نعم ذلک مسنون فى اول الوضع خلافا للشوافع فانهم يحلقون الكف من اول الوضع فافهم وتدبر. وهو الموفق

په تشهد کښې د اشارې حکم د خلاصه کیدانی والا د عبارت وضاحت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د تشهد په حالت کښې د شهادت ګوته اوچتول ددې اثبات د احنافو په بعضې کتابونو کښې شته او بعضې د نفی قول کوی. په فتاوی ودودیه (پښتو) کښې ئې دا دمونځ د سنتونه ګرځولې او د خلاصه کیدانی په پنځم باب کښې ئې ,,اشاره بالسبابة کاهل الحدیث،، د محرماتو په بیان کښې ذکر کړې، نو ددې په باره کښې راجح قول څۀ دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: هدایت الله نعیم کندی اکازی تهکال پشاور.....۱۹۷۴ء۹۱۹۱

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم: د اسلام علیکم نه پس دی دا خبره واضحه وی چه راجح او محقق قول دا دې چه اشاره سنت او محکم ده.

لانه ثبت فى الاحاديث المرفوعة فعلها وترغيبها وتقريرها وكذا ثبت فى الآثار فعل الصحابة بعد وفاته ﷺ ولم يرو عن ابى حنيفة رحمه الله فى الظاهر الرواية شئ من النفى او الاثبات وهى ساكتة، نعم فى غير الظاهر ثبت اثباتها كما فى الموطأ واما لى ابى يوسف وقال صاحب البحر اذا لم يثبت الحكم فى الظاهر فوجب المصير الى غير الظاهر، نعم اختلف المتاخرون يعنى علمائنا فقال البعض بانها منسوخة فيكون العمل بها حراما وقال بعض الحنفية وكذا الشوافع والموالك والحنابلة واهل الحديث بعدم النسخ وهو الراجح كما حقق فى مقامه،

خلاصه دا چه د تحقیق موافق اشاره سنت او محکم ده او خلاصي والا وغیره په نزد حرام او منسوخ ده او ده او په خلاصه کښې د اهلِ حدیث ذکر د مثال په طور باندې دې ځکه چه زمونږ محققین احناف علماء هم د اهل حدیثو سره شریک دي. وهو الموفق

د (اللهم انت السلام) په وخت کښې لاس اوچتول

سوال: د فرض مونځ نه پس د اللهم انت السلام...الخ وئیلو په وخت کښې به لاسونه اوچتوو که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: گل فراز نوشهره......محرم الحرام ۱۳۹۵

الجواب: یرفع الایدی عند زیادة الکلمات الدعائیه وعند عدم الزیادة لم یثبت الرفع وکذا لا یقتضیه الاصل ﴿۱﴾ الا ان یقال ان الثناء علی الکریم دعاء ﴿۲﴾ . وهو الموفق

د پټکي د مسنون کیدلو حکم د زمانې په بدلیدو سره نه بدلیږي

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کوم ځائې د پټکي استعمال نه وي نو هغه ځائې کښې په پټکي سره مونځ کول جائز

﴿۱﴾ وفی المنهاج: اعلم انه لم یثبت مواظبة النبی ﷺ علی ذکر خاص وکذا لم یثبت عند رفع الایدی عند مثل هذه الاذکار، واما رفع الایدی عند الدعوات خارج الصلوٰة فقد ثبت باحادیث کثیرة قولیة وفعلیة فی الامهات الست وغیرها منها ما اخرجه ابن ابی حاتم وذکره الحافظ ابن کثیر فی تفسیره ص ۱۷۲ جلد ۳ عن ابی هریره ان رسول الله ﷺ رفع یدیه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللهم اخلص الولید بن الولید الی آخر الدعاء الخ.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۷۱ جلد ۲ باب مایقول اذا سلم)

﴿۲﴾ قال العلامه سید احمد الطحطاوی: قوله والدعاء هذا لا ینا فی الاتیان باللهم انت السلام الخ لانه لیس دعاء بل ثناء الا ان یراد بالدعاء ما یعم الذکر او هو بالنظر الی قوله فحینا الخ دعاء علی مافیه. (الطحطاوی شرح مراقی الفلاح ص ۳۱۳ فصل فی صفة الاذکار)

دي که نه؟ او دا خبره په کوم کتاب کښې لیکلې شویده چه کوم ځائې کښې د پټکي استعمال نه وي هلته په پټکي سره مونځ کول مکروه تحریمي دي. دکتاب حواله اولیکئ ډیره مننه به وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد نثار برطانیه..۱۹ محرم ۱۹۹۵

الجواب: مسنون عمل به ترقیامته پورې مسنون وي د معاشرې په انقلاباتو سره په سنتو کښې انقلاب نه راځي. (کمافی تنقیح الفتاوی ص ۳ جلد ۱) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د غیر مقلدینو رفع الیدین کول ځمونږ د تحقیق مطابق غلط دي. او هغوي د (ایها النبي) په ځائې علي النبي وئیل د احتیاط خلاف دي

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) چه ځمونږ یو ملګرې (رفع الیدین) کوي او نورکسانو ته هم ددې ترغیب کوي نو آیا ده دپاره داسې کول او نورو ته ترغیب کول جائز دي؟ (۲) او دغه شان ځمونږ دا ملګرې په تشهد کښې د السلام علیک ایهاالنبی په ځائې باندې علی النبی وائي او دیته هم ترغیب ورکوي نو آیا داسې کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ایم نثار محمد کوثر پړانګ چارسده......۱۹۲۹ء۵۱۵۱

الجواب: (۱) داسړې څۀ غیر مقلد شان معلومیږي لهذا دې ځمونږ د تحقیق په بنا باندې په غلطئ دي. ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامه محمد امین ابن عابدین: وفی القنیه لیس للمفتی ولا للقاضی ان یحکما علی ظاهر المذهب ویترکا العرف...... واصلها قوله علیه الصلاة والسلام ما رآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن (اقول) لکن صرحوا بان العرف المخالف للنص لا یعتبر بانه لایصح بیع الشرب مقصودا وان تعورف. (تنقیح الفتاویٰ الحامدیه ص ۳ جلد ۱ قبیل کتاب الطهارة (مقدمه))

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: الدلیل الشرعی اقتضی العمل بقول المجتهد وتقلیده فیه فیما احتاج الیه وهو فاسئلوا اهل الذکر والسوال انما یتحقق عند طلب.....(بقیه حاشیه په راروان مخ....)

(۲) دده دا احتیاط د احتیاط خلاف دي ﴿۱﴾ وهو الموفق

د فاتحې او سورت په مینځ کښې بسم الله وئیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د سورت نه مخکښې دامام دپاره هم په قلاره باندې بسم الله وئیل مستحب دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: اکرام الحق راولپنډي.....۱۳۱۱۱۹۷۲

الجواب: د فاتحې او سورت په مینځ کښې بسم الله وئیل جائز غیر مکروه (حسن) دي. (الدر المختار ص۴۵۸ جلد ۱) ﴿۲﴾ وهو الموفق

بغیر پټکي نه د مونځ کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بغیر د پټکي نه د مونځ کولو څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: شفیق الرحمان مندني چارسده..........۱۲۱۱۰۱۱۹۸۲

(بقیه حاشیه) حکم الحادثة المعینة فاذا ثبت عنده قول المجتهد وجب عمله به واما التزامه فلم یثبت من السمع اعتباره ملزما الخ.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۰۹ جلد۳ مطلب فیما اذا رتحل الی غیر مذهبه باب التعزیر)

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: ویقصد بالفاظ التشهد معانیها مرادة له علی وجه الانشاء کانه یحی الله تعالیٰ ویسلم علی نبیه وعلی نفسه واولیاءه لا الاخبار عن ذلک قال ابن عابدین: ای لا یقصد الاخبار والحکایة عما وقع فی المعراج منه ﷺ ومن ربه سبحانه ومن الملائکة علیهم السلام.
(الدر المختار مع ردالمحتار ص۳۷۷ جلد ۱ قبیل مطلب فی جواز الترحم علی النبی ابتداء)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ولا تکره اتفاقا) ولهذا صرح فی الذخیرة والمجتبیٰ بانه ان سمی بین الفاتحة والسورة المقروءة سرا او جهرا کان حسنا عند ابی حنیفة ورجحه المحقق ابن الهمام وتلمیذه الحلبی لشبهة الاختلاف فی کونها اية من کل سورة بحر.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۶۲ جلد ۱ مطلب قرأة البسملة بین الفاتحة والسورة)

الجواب: بغیر د پټکي نه مونځ کول خلاف اولی دي په دې کښې دامام او غیر امام هیڅ فرق نشته. ﴿۱﴾ وهو الموفق

په مونځ کښې سرباندې پټکې یا عمامه ږدل مطلوب اومسنون دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې خلق وائي چه جناب پیغمبر علیه السلام د خارجي عوارضو نه بغیر سر عاری عن العمامه والقلنسوة پریخي دې او وائي چه په سر باندې پټکې یا ټوپۍ نه کیښودل هم سنت دي آیا دا صحیح ده؟ دغه شان دمونځ او غیرمونځ دحالت حکم هم بیان کړئ؟ بینوا توجروا بالدلائل الواضحة المتقرره فی الدین النبوی ﷺ

المستفتي: عبد الرحیم جلبئ صوابی.........۱۲۱جولائي ۱۹۷۳ء

الجواب: په مونځ کښې د سر پټول مطلوب او مسنون دي (کما صرحوا به) ﴿۲﴾ لیکن دمونځ نه بهرئې پټول او د هغې اهتمام کول یو مباح کار او جائز دي، خو په دې شرط چه دا خالي سر ساتل د کافرانو او فاسقانو سره د مشابهت کولو د وجې نه نه وي.

والا فیکون حراماً قال الله تعالیٰ ولا ترکنوا الی اللذین ظلموا ﴿۳﴾ وقال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم ﴿۴﴾ وصرح به الفقهاء فی مواضع کثیرة. فقط

﴿۱﴾ قال الشیخ طاهر بن عبد الرشید: و فی الاصل لا بأس بان یصلی الرجل فی ثوب واحد متوشحاً یؤم کذلک والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلاثة اثواب قمیص وازار وعمامة اما لوصلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کازار المیت یجوز صلوته من غیر کراهة.
(خلاصة الفتاویٰ ص ۷۳ جلد ۱ الفصل السادس فی ستر العورة)

﴿۲﴾ وفی الهندیه: وتکره الصلاة حاسرا رأسه اذا کان یجد العمامه وقد فعل ذلک تکاسلا اوتهاونا بالصلاة ولابأس به اذا فعله تذللا وخشوعا بل هو حسن کذا فی الذخیرة.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۰۶ جلد ۱ الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة وما لا یکره)

﴿۳﴾ (سورة هود: آیت: ۱۱۳ پاره: ۱۲ رکوع: ۱۰)

﴿۴﴾ قال الطیبی: (قوله من تشبه بقوم فهو منهم) هذا عام فی الخلق والخلق والشعار واذا کان الشعار اظهر فی التشبیه ذکر فی هذا الباب. (شرح طیبی ص ۲۱۹ جلد ۸ کتاب اللباس الفصل الثانی)

په تشهد کښې د اشارې ثبوت او د مجدد الف ثاني رحمه الله مسلک

سوال: چه مے فرمایند علماء دین ومفتیان کرام دریں مسئله که اشاره درحالت قعود بوقت شهادتین چه حکم دارد، سنت است یا فرض، وجواب از قول امام ربانی مجدد الف ثانی رحمه الله در باب منع از اشاره چیست؟ بینوا بالدلائل الواضحة توجروا، عند الله الحکیم العلیم

المستفتی: عتیق الله متعلم دار العلوم حقانیه......۱۹۸۴ء/۸/۷

الجواب: اشاره دروقت تشهد سنت زائده ومستحب است درقول راجح، لثبوتها بالاحادیث من غیر نسخ ولثبوتها فی نادر الروایة عن ابی حنیفة رحمه الله وظاهر الروایة ساکتة عنها، وقال صاحب البحر فی مثله یصار الیٰ نادر الروایة ومشائخنا المتاخرون اختلفوا فیها فذهب الامام الربانی وغیره الی منعها وذهب الاکثرون ومن جمعوا بین علم الفقه والحدیث وکذا متبعوا المجدد الی ثبوتها وتمام الکلام فی منهاج السنن شرح جامع السنن للامام الترمذی ص ۱۲۶ جلد ۲ فلیراجع ﴿۱﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾وفی المنهاج: اعلم ان الاشارة بالسبابة من سنن الصلوٰة عن الائمة الثلاثة واما الامام ابو حنیفة فلم یرو عنه فی ظاهر الروایة شئ من النفی او الاثبات کما لا یخفیٰ علی من راجع الی کتب ظاهر الروایة ومن جعل نفی الاشارة ظاهر الروایة فقد اخطأ فی جعل عدم الذکر ذکر العدم نعم روی عنه فی غیر ظاهر الروایة الاثبات کما فی موطأ محمد واما لی ابی یوسف وکذا صرح فی الکفایة والمحیط انه قال بسنیتها ابو حنیفة، وقال صاحب البحر فی باب قضاء الفوائت من البحر المسئلة اذا لم تذکر فی ظاهر الروایة وثبتت فی روایة اخریٰ تعین المصیر الیها، واختلف مشائخنا المتأخرون فی الاشارة قال بعضهم یشیر وقال بعضهم لا یشیر، والراجح الاشارة لان الاحادیث القولیة والفعلیة والتقریریة وردت فی فعلها دون منعها فکیف یصح دعویٰ النسخ، علی ان ادعاء النسخ لا بد فیه من النقل الصریح من اهل الفن کالطحاوی وغیره فان قیل احادیث الاشارة مضطربة، قلنا لم یقل احد من اهل الفن باضطرابه کما لم یقولوا باضطراب حدیث رفع الیدین عند التحریمة وحدیث......(بقیه حاشیه په راروان مخ.....)

د احکاماتو مدار په کتاب او سنت باندې دې په بخارې نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو مقلد حنفي سړې رفع الیدین شروع کړې دی او وائي چه ماته په عدم رفع الیدین باندې دلیل راکړئ او هغه هم صرف د بخاری شریف نه بل کتاب نه منم. ددې وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ افتخار علي شاه خطیب جامع مسجد تقوىٰ نوشهره.. ۱۹۸۴ء/۲۱/۷

الجواب: ددې سړي نه تپوس اوکړه چه ستاسو په نزد بخاري حجت دې که حدیث؟ او دا تپوس ترینه اوکړه چه کله په بخاري شریف کښې متضاد حدیثونه وي لکه د جلسه استراحت حدیثونه نو په هغې کښې ستا طریقه

(بقیه حاشیه) وضع الیدین تحت الصدر او تحت السرة، نعم قالوا ان اختلاف الکیفیات الواردة محمول علی اختلاف الاوقات والتوسع صرح به العینی والنووی ولان اثار الصحابة وردت فی فعلها دون منعها مثل اثر ابن عمر رواه احمد واثر معاذ بن جبل رواه الطبرانی واثر ابی هریره رواه عبد الرزاق واثر عقبة بن عامر رواه الحاکم فی تاریخه واثار الصحابة تکفی لاثبات الاستحباب وکذا هی دالة علی عدم النسخ ولان ظاهر الروایة ساکتة عنها وغیرها ناطقة بها فتعین المصیر الیها، ولان من رجح الاشارة من مشائخنا فهم الذین جمعوا بین الفقه والحدیث بخلاف من رجح نفیها، فان قیل لم یرو البخاری حدیث الاشارة، قلنا لیس هو علی شرط البخاری والحجة عندنا وعند الامام البخاری هو الحدیث الثابت دون ما هو علی شرط البخاری، فان قیل لم یذکر صاحب الهدایة الاشارة قلنا لم یتعرض لها صاحب الهدایة فی الهدایة لا نفیا ولا اثباتا لعدم ذکرها فی ظاهر الروایة نعم ذکرها فی مختارات النوازل فان قیل ذکر فی ظاهر الروایة بسط الاصابع عند القعدة قلنا البسط عند اول القعود لا ینافی القبض عند الشهادة، فان قیل ورد فیه لفظ" وعلیه الفتویٰ" قلنا من قال ان لفظ" وعلیه الفتویٰ" اکد خالف عن قوله وافتیٰ بخلافه، فعلم ان الاعتبار لقوة المدرک والدلیل عند الاختلاف بین الخواص وبه یحصل قطع النزاع وبه وقع عمل السلف والخلف.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۲۶، ۱۲۷ جلد ۱ باب ماجاء فی الاشارة)

څه ده؟ او دده نه تپوس اوکړه چه په بخاري شریف کښې دا کوم ځائې کښې دي چه پیغمبر علیه السلام همیشه ترمرګه پورې رفع الیدین کړي او پریخودلي ئې نه دي.﴿۱﴾

حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما دمتن په لحاظ سره مضطرب دي

سوال: محترم جناب مولانامفتي محمد فرید صاحب دارالعلوم حقانیه! تیرو ورځو کښې ستاسو خواته یو غیر مقلد مولوي د ګکهړ منډۍ نه راغلي وو ستاسو نه ئې د یو حدیث ترجمه کوله. هغه چه دلته راغې د مفتیانو خلاف او خاص کر دحضرت مولانا سرفراز خان صفدر صاحب خلاف ئې پروپیګنډه شروع کړه چه هغوي غلطه ترجمه کوی اوهغه حدیث د رفع الیدین په باره کښې دي وغیره وغیره خیربیاهم دي حدیث کښې درکوع نه پس چه کوم لفظ لا یرفعهما دي ددې تعلق د مخکښې سره دي او که د روستو سره دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاري محمد یوسف ګکهړي منډي ګجرانواله ۱۵جمادي الثاني ۱۴۰۲

الجواب: دابن عمر رضی الله عنه حدیث د متن په لحاظ سره مضطرب دي معارف السنن او مشکل الاثار وغیره کتابونو ته په رجوع کولو سره تر دد(شک شبه) نه پاتې کیږي. په دې سوال والا روایت کښې په ,,ان یرکع،، باندې جمله ختمه شویده،او ,,بعد ما یرفع راسه،، ظرف مقدم دي په خپل عامل لایرفعهما باندې که په قلمي یا پخواني نسخو کښې ددینه مخالف عبارت وي نو په هغې باندې اعتماد کول پکار دي، وهو الموفق

د مونځ نه پس په زوره کلمات وئیل او په لاوډ سپیکر باندې په ښکاره ذکر کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه! (۱) د جمع مونځ نه

﴿۱﴾ عن براء بن عازب قال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا افتتح الصلوٰة رفع یدیه الی قریب من اذنیه ثم لا یعود. (ابوداؤد شریف ص ۱۱٦ جلد ۱ باب من لم یذکر الرفع عند لرکوع)
عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا اصلی بکم صلوٰة رسول الله صلی الله علیه وسلم فصلی ولم یرفع یدیه الامرة واحدة مع تکبیر الافتتاح رواه الترمذی وابوداؤد و النسائی.
(مشکواة المصابیح ص۷۷ جلد ۱ باب صفة الصلوٰة)

پس سمدستي د امام او مقدیانو په زوره زوره سره د لا اله الا انت..الخ، وئیل څنګه دي؟ چه د مسبوقینو په مونځ کښې خلل هم راځي بلکه اکثر پکښې غلط هم شي. (۲) د ماسخوتن د مونځ نه پس امام او پنځه شپږ مقتدیانو په لاوډ سپیکر باندې په زوره زوره باندې، لا اله الا الله، وئیل څنګه دي؟ او چه کله په جوش کښې راشي نو د خلې نه څه نور څه الفاظ هم اوباسي چه هغې ته وجد وغیره وائي او حال دا چه دا عمل د ټولې محلې والا او نورو مونځ ګذارو په مونځ او آرام کښې خلل اچوي نو آیا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد نادرخان ضلع نوښهره....۱۲۵شوال ۱۴۱۰ھ

الجواب:(۱) ذکر بالجهر جائز دي خوچه کله د مسبوق د پاره د ضرر (تکلیف) باعث وي نو بیا مکروه دي. (شامي) (۲) دا هم مکروه دي چه کله مونځ ګزارو وغیره ته تکلیف وي (شامي) ﴿۱﴾ البته چه کومو خلقو ته په لاوډ سپیکر باندې ذکر کولو سره جذ به حاصلیږي او بغیر د لاوډ سپیکر نه ورته مزه نه ورکوي نو دا ذکر کونکي ناجوړه دي﴿۲﴾ کوم اوریدونکي ته چه ضرر رسوي او سندري اوریدل ورته ضرر نه رسوي نو هغه هم ناجوړه دي. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین عن الامام الشعرانی: اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

﴿۲﴾ قال العلامه آلوسی: عن ابن عمر وقد رأی ساقطا من سماع القرآن فقال انا نخشی الله تعالیٰ ومانسقط هؤلاء یدخل الشیطان فی جوف احدهم...... هذا نعت اولیاء الله تعالیٰ قال تقشعر جلودهم تبکی اعینهم وتطمئن قلوبهم الی ذکر الله تعالیٰ ولم ینعتهم الله سبحانه بذهاب عقولهم والغشیان علیهم انما هذا فی اهل البدع وانما هو من الشیطان، واخرج ابن ابی شبیه عن ابن جبیر قال الصعقة من الشیطان وقال ابن سیرین بیننا و بین هؤلاء الذین یصرعون عند قرأة القرآن ان یجعل احدهم علی حائط باسطا رجلیه ثم یقرأ علیهم القرآن کله فان رمی بنفسه فهو صادق.
(تفسیر روح المعانی ص۲۸۴ جلد۱۳ سورة الزمر آیت:۲۳)

په تشهد کښې اشاره بالسبابة د احاديثو نه ثابت ده

سوال: چه میفرمایند علماء دین دریں مسئله که اشارة بالسبابه لطفاً از شما استدعا مینمایم، زیرا که فهم چیز است و در وطن مایان حنفی است، واگر یک ادم میکند اورا بدے وانند، که ایں وهابی شده است و پیش مایان عاجزان نه یک کتاب ونه ایں قدر علمیت که برائے شان قناعت بدهم ونه بخود شان لذا قدر حفظ از علم احادیث است، اگر ایں مسئله اشارت واضح موافق با کمال علمیت و وقوف خود نوشته شود، در هر کتاب که نفی اشارت میشود ومیکند نام این کتاب ومرجوحیت قول این هم لطفاً واضح شود؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفار افغانستان

الجواب: دریں باب بسیار احادیث مرفوعه وارد شده اند (فليراجع الى مشكواة باب التشهد) وبعد از وفات پیغمبر علیه السلام از صحابه اشاره کردن ثابت شده است (فليراجع الى الموطأ للامام محمد) وائمه ما متقدمین در کتب ظاهر الروایه هیچ نه گفته اند، بے شک در غیر ظاهر الروایت به جواز تصریح کرده اند، شیخ ابی یوسف رحمه الله در امالی وامام محمد در موطأ وصاحب بحر در باب قضاء الفوائت گفته است، که در وقت عدم ظاهر الروایت واجب است مصیر به نادر الروایه وعلماء متاخرین در اشارة مختلف اند جمع عظیم بر جواز قائل است، وجمع عظیم بر عدم جواز، لاکن راجح جواز است زیرانکه آن متاخرین که جامع بین الفقه والحدیث اند، مثل صاحب الفتح والبحر والشرح الكبير وردالمحتار قائل بر جواز اند وصاحب الهدایة نیز بر جواز تصریح کرده است در مختار النوازل وسکوت کرده است در هدایه وبحث دریں مسئله بسیار است وفرصت نوشتن کم است لهذا بریں اشارات اکتفاء باید کرد ﴿۱﴾۔ وهو الموفق

﴿۱﴾ (مر التفصيل فى الحاشية المحولة بمنهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۶۶ جلد ۱ باب ماجاء فى الاشارة)

دفرضو او سنتو نه پس اجتماعي دعا د قولي حديث په بنا باندې مسنون او د فعلي حديث په بنا باندې غير معمول ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فرض مونځ نه پس يا د سنتو نه پس د پيغمبر ﷺ نه دعا غوښتل ثابت دي که نه؟ که د فرض مونځ نه پس پيغمبر ﷺ په هيئت اجتماعي سره دُعا غوښتلې وی نو وضاحت اوکړئ. واجركم على الله

المستفتي: محمد لقمان شمس آباد اټک...... ۱۴ صفر ۱۴۰۵

الجواب: پيغمبر ﷺ په هيئت اجتماعي سره د دُعا کولو ترغيب ورکړې کما في الدارمي والفتح وغيره. ﴿۱﴾ او پخپله ئې نه د فرضو نه پس په هيئت اجتماعي سره دعا غوښتلې ده او نه د سنتو نه پس. او نه ئې (اللهم انت السلام) په هيئت اجتماعي سره لوستلې. نو په هيئت اجتماعيه سره دعا غوښتلو کښې د فرضو او سنتو نه پس کښې هيڅ فرق نشته، د قولي حديث په وجه د واړه مسنون دي او د فعلي حديث په وجه باندې دواړه غير معمول دي. فافهم. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحافظ ابن الحجر: واخرج الحاكم عن حبيب بن مسلمة الفهرى سمعت رسول الله ﷺ يقول: لا يجتمع ملأ فيدعو بعضهم ويؤمن بعضهم الا اجابهم الله تعالىٰ. (فتح البارى شرح صحيح البخارى ص ۳۰۸ جلد ۱۴ باب التأمين)

﴿۲﴾ وفى المنهاج: والجواب عن الامر الاول انه معارض بالقرآن والاحاديث الصريحة فى مشروعية الدعاء والذكر على وجه الاجتماع قال الله تبارک وتعالىٰ قد اجيبت دعوتكما، وروى القرطبى عن ابى العاليه ان موسىٰ عليه السلام كان يدعو وهارون عليه السلام يؤمن، وقال النبى ﷺ لا يجتمع ملأ فيدعو بعضهم ويؤمن بعضهم الا اجابهم الله تعالىٰ رواه الحاكم وذكره فى كنز العمال، وقال النبى ﷺ ما اجتمع ثلاثة قط بدعوة الاكان حقا على الله ان لا يرد ايديهم رواه الدارمى وذكره الحافظ فى الفتح...... ماتبين من الجواب الاول انه ثبت باحاديث قولية مندوبية الدعاء على وجه الاجتماع ولم يثبت ما يعارضها لانه لم يثبت عن النبى ﷺ فى راوية ما انه لم يدع على وجه الاجتماع ... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مونځ نه پس په (اللهم انت السلام) کښې د بعضې الفاظو زیاتول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فرض مونځ نه پس په (اللهم انت السلام ومنک السلام) باره کښې د حینا ربنا بالسلام وادخلنا دارالسلام، زیاتوالې کول شرعاً څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالله تور ډهیره صوابي

الجواب: چونکه دا زیاتوالې په مرفوع احادیثو او د صحابه کرامو په آثارو کښې موجود نه دي ﴿۱﴾ البته فقهائې کرامو دا ذکر کړې دې ﴿۲﴾ لهذا په ما ثور باندې اکتفا کول او په زیات باندې اعتراض نه کول اعتدال دې، وهو الموفق

(بقیه حاشیه) بخلاف اذان العید فانه ثبت فیه روایة العدم فی سنن ابی داؤد وغیره فالعجب من هذا القائل فی انه لم یفرق بین عدم الروایة وبین روایة العلم، ولو سلم ان النبی صلی الله علیه وسلم لم یدع بعد الصلوٰة علی وجه الاجتماع والانقل عنه البتة وهو التحقیق ایضاً فیقال ان القول هو الاقویٰ من غیره الخ.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۷۴ جلد ۱ جلد ۲ مبحث الدعاء علی هیئة الاجتماعیة)

﴿۱﴾ عن عائشة رضی الله عنها: قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سلم لم یقعد الا مقدار ما یقول اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام رواه مسلم، وعن ثوبان رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا انصرف من صلوته استغفر ثلثا وقال اللهم انت السلام ومنک السلام تبارک یا ذالجلال والاکرام رواه مسلم.
(مشکواة المصابیح ص ۸۸ جلد ۱ باب الذکر بعد الصلوٰة الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامه شرنبلالی: بعد الفرض القیام الی اداء السنة التی تلی الفرض متصلا بالفرض مسنون غیر انه یستحب الفصل بینهما کما کان علیه السلام اذا سلم یمکث قدر ما یقول اللهم انت السلام ومنک السلام الیک یعود السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام وقال الطحطاوی تحت (قوله والیک یعود السلام) قال فی شرح المشکاة عن الجزری واما ما یزاد بعد قوله ومنک السلام من نحو والیک یرجع السلام فحینا ربنا وادخلنا دارالسلام فلا اصل له بل مختلق بعض القصاص.
(مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۱۷۰ فصل فی صفة الاذکار بعد الصلاة)

د فرضو نه پس دعا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې خلق د فرض مونځ نه پس ماثور دُعا ګاني وئیل مکروه ګنړي او په استدلال کښې د (عقائد السنیه) عبارت پیش کوي، (والمختار عندالحنفیة ان یشغل بعد اداء المکتوبة بالسنة ویکره ان یشتغل بالدعاء والتسبیح قبل اداء السنة) او حال دا چه په احادیثو کښې د فرض مونځ نه پس مختلف ذکرونه راغلي دي. لهذا که د احنافو د تیر شوي قول څه تاویل وي نو اولیکئ؟ بینوا توجروا.

المستفتي: مولوي محمد یعقوب تحت نصرتي بنوں...... ۲۱۴۱۱۹۲۹

الجواب: د جمهور احناف مثلاً د ابن الهمام، ابن عابدین، ابن نجیم، او حلبي وغیره هم دا رائې ده.او د بعضې احنافو رائې دا ده چه د فرضو نه پس دې متصل دعا او کړې شي مثلاً امام بقالي (بحواله شرح شرعة الاسلام) لهذا بهتر داده چه د سنتو نه پس دې دعا اوکړې شي ﴿۱﴾ او د فرضو نه پس متصل دعا کول هم د حنفیت سره متعارض نه دي. اګر چه د جمهورو په نزد مکروه تنزیهي ده. رواه مسلم ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحلبی: واما ما روی من الاحادیث فی الاذکار عقیب الصلوٰة فلادلالة فیها علی الاتیان بها عقیب الفرض قبل السنة بل یحمل علی الاتیان بها بعد السنة ولا یخرجها تخلل السنة بینها وبین الفریضة عن کونها بعدها وعقیبها لان السنةمن لواحق الفریضة وتوابعها ومکملاتها فلم تکن اجنبیة منهما فما یفعل بعدها یطلق علیه انه فعل بعد الفریضة وعقیبها.
(غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۳۳۱ قبیل فصل فی المکروهات)

﴿۲﴾ عن عائشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سلم لم یقعد الا مقدار ما یقول اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام الحدیث، وعلیٰ هامشه: قوله لم یقعد الا الخ...... وعلی هذا فلا وجه للاستدلال به علی ان ماثبت من الادعیة بعد الصلوٰة کان یأتی بها صلی الله علیه وسلم بعد السنة جمعا بینه وبین هذا الحدیث والله اعلم.
(صحیح المسلم ص ۲۱۸ جلد ۱ باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته)

وقال الحصکفی رحمه الله: ویکره تاخیر السنة ال......(بقیه حاسیه په راروان مخ..)

د سنتوپه دریم رکعت کښې به ثنا نه وئیلې کیږي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چې د سنت موکده دریم رکعت به د سبحانک اللهم نه شروع کوي که د بسم الله نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرشید جهلم

الجواب: د بسم الله نه به ئې شروع کوي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په التحیات کښې مسواکئ ګوتې سره د اشارې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه څمونږ ځائي کښې د دوه علمائې کرامو اختلاف دې یو عالم په مسواکې ګوتې سره اشارې ته سنت وائي او دویم د اشارې پریخو دلو ته مستحب وائي نو دې دواړو باره کښې فیصلې والاخبره اولیکئ او څمونږ راهنمائی اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي:مولوي عبدالرحیم قلعه سیف الله بلوچستان.. ۱۰/۱۱/۱۹۹۰

الجواب: څمونږ (د احنافو فقه) ظاهرالروایت د اشارې د جائز او ناجائز کیدلو نه چپ ده البته په (نادرالروایت) کښې جواز لیکلې شوې دې.

کما فی الموطأ والامالی وهی الراجعة لتائیدها بالاحادیث المرفوعه وآثار الصحابة ولان المتأخرین الذین اختاروها جامعون بین

(بقیه حاشیه) ابقدر اللهم انت السلام الخ، قال الحلوانی لا بأس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال قال الحلبی ان ارید بالکراهة التنزیهیة ارتفع الخلاف. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۹۱ جلد ۱ مطلب فیما لو زاد علی العدد الوارد فی التسبیح)

﴿۱﴾ وفی الهندیه: واذا قام یفعل فی الشفع الثانی ما فعل فی الشفع الاول من القیام والرکوع والسجود کذا فی المحیط و یقرأ الفاتحة فقط هکذا فی الکافی وتکره الزیادة علی ذلک کذا فی السراج الوهاج.

(فتاویٰ عالمگیریه ص ۷۶ جلد ۱ سنن الصلاة وآدابها وکیفیتها)

الفقه والحدیث ﴿۱﴾ (والتفصیل فی منهاج السنن) ﴿۲﴾. وهوالموفق

د بسم الله په پریخودلو سره سجده سهو یا د مونځ راګرځول لازم نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) په هر رکعت کښې بسم الله لوستل سنت دي که واجب؟ (۲) او نه لوستلو سره پرې سجده سهو لازمیږي که نه؟ (۳) او نه وئیلو سره به مونځ صحیح وي که راګرځول به ئې واجب وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عالم خان لنډیواه لکي مروت..... ۱۲۲محرم ۱۴۰۱

الجواب: په هررکعت کښې بسم الله وئیل سنت دي د سنتو په پریخو دلو سره قضاء او راګرځول نه لازمیږي. ﴿۳﴾

لما فی شرح التنویر وسمی غیر الموتم بلفظ البسملة سراً فی اول کل رکعة ولو جهریة بحذف یسیر هامش ردالمحتار ص ۴۵۷ جلد ۱ ﴿۴﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: وفی المحیط انها سنة یرفعها عند النفی ویضعها عند الاثبات وهو قول ابی حنیفة ومحمد وکثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولیٰ...... وقال فی الشرح الکبیر قبض الاصابع عند الاشارة هو المروی عن محمد فی کیفیة الاشارة وکذا عن ابی یوسف فی الامالی وهذا فرع تصحیح الاشارة وعن کثیر من المشائخ لا یشیر اصلا وهو خلاف الدرایة والروایة فعن محمد ان ما ذکره فی کیفیة الاشارة قول ابی حنیفة ...... وهذا اما اعتمده المتاخرون لثبوته عن النبی ﷺ بالاحادیث الصحیحة ولصحة نقله عن ائمتنا الثلاثة فلذا قال فی الفتح ان الاول خلاف الدرایة والروایة...... واستضئ بمصباح الحقیق فی هذا المقام فانه من منح الملک العلام.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۷۶ جلد ۱ مطلب مهم فی عقد الاصابع عند التشهد)

﴿۲﴾ (مر التفصیل فی ذیل هذا الباب فلیراجع)

﴿۳﴾ قال الحصکفی: (وسننها) ترک السنة لا یوجب فساداً ولا سهوا بل اساءة لو عامداً غیر مستخف، قال ابن عابدین، ای بخلاف ترک الفرض فانه یوجب الفساد وترک الواجب فانه یوجب سجود السهو. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۳۵۰ جلد ۱ مطلب سنن الصلاة)

﴿۴﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۶۲ جلد ۱ قبیل مطلب لفظة الفتویٰ آکد من لفظة المختار)

د مونځ نه پس (اللهُم انت السلام) څنګه وئیل ګیږي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله امام د مونځ نه پس اللهُم انت السلام وائي نو کوم طرفته به مخ کوي، دارنګې دا دُعا ده که نه؟ بعضې خلق دیته دُعا نه وائي جواب راکړئ مهرباني به وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: شاد محمد کوهاټ......۲۸\۱محرم ۱۴۰۱ھ

الجواب: اللهُم انت السلام الخ یو ذکر دې دعا نه ده، ددې ذکر کولو په وخت کښې لاس اوچتول ثابت نه دي. پیغمبر ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم په هیئت اجتماعي سره دا ذکر (اللهُم انت السلام) نه دې کړې بلکه ځان ځان له ئې کړې دې. لهذا هر سړې دې قبلې ته مخ کړي او کوي دې، ﴿۱﴾وهوالموفق

د دُعا بعدالسنن په مسئله کښې د افراط او تفریط نه مونږ بیزاره یو

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فر مائي چه دعا بعد السنت علي هیئت الاجتما عیه جائز ده یا نه؟ ستاسو حضراتو د فتوې نه خو جواب ښکاره دې خو د خیرالمدارس ملتان مفتي صاحب د عدم جواز قائل دې. ځمو نږ په علاقه کښې خلق د دارالعلوم حقانیه په فتوی باندې عمل کوي لیکن بعضې ترینه انکاریان دی. او دا پوښتنه هم ستاسو په خدمت کښې حاضر دې دواړو طرفته پکښې دلائل او د هغې رد موجود دې اوس مونږ څه اوکړو دچا خبره اومنو؟ مدلل جواب راولیګئ مهرباني به وي؟

بینوا توجروا

المستفتي: ملک جهانزیب افریدي دره بازار دره آدم خیل....۱۲ محرم ۱۴۰۵

الجواب: پیغمبر ﷺ په هیئت اجتماعي سره نه دفرضونه پس دعا کړې ده او

﴿۱﴾وعن ثوبان رضی الله عنه : قال کان رسول الله ﷺ اذا انصرف من صلوته استغفر ثلاثا وقال اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص۸۸ جلد۱ باب الذکر بعد الصلوٰة الفصل الاول)

نه د سنتو نه پس او نه ئې اللهُم انت السلام الخ په هیئت اجتماعي سره وئیلې، البته پیغمبر ﷺ په جمعې سره ددعا ترغیب ورکړې کما في کنزالعمال وغیره، نو په هیئت اجتماعي سره د مونځ نه پس دعا منع نه ده نه د فرضو نه پس او نه د سنتو نه پس ممنوع صرف التزام (لازم ګرځول) دي.

والمختار هو بعد الرواتب عند الجمهور وبعد الفرائض عند البقالی وتمام الکلام فی المقالات.

د اشتهار الجواب: ځمونږ مسلک او د صوبه سرحد د علماؤ مسلک دیوبندي مسلک دې. ددې پوښتنې په مضمون کښې افراط او تفریط موجود دې مونږ د بریلویت او سلفیت دواړو نه بیزاره یو، دعا بعد السنن بهیئة الاجتماعیة پیغمبر علیه السلام نه د فرضونه پس کړې او نه د سنتو نه پس، ومن ادعی فعلیه البیان، البته پیغمبر علیه السلام په جمعې سره ددعا ترغیب ورکړې او د فقهاء اکثریت دعا بعد السنت افضل او بهتر ګرځولې، اختلاف په فضیلت کښې دې په جواز او عدم جواز کښې نه دې، البته التزام د هغه څه چه لازم نه وي په دواړو صورتو نو کښې مکروه دې، کومو علماؤ چه بعد السنن دعا ته بدعت وئیلې مونږ دهغوې سره متفق نه یو اکثرفقهاؤ دُعاد سنتو نه پس افضل ګرځولې، البته امام بقالي رحمه الله علیه بعد الفرائض بهتر ګڼړلې، وهومختار اکثر الاکابر، کوم خلق چه دا وائې چه پیغبر علیه السلام بعد السنن دعا نه ده کړې لهٰذا دا بالاجماع بدعت دې نو د هغوي نه تپوس کول پکار دي چه د حدیثو په کوم کتاب کښې دي چه کړې ئې نه دې، ځکه چه په عدم ذکر او ذکر العدم کښې فرق موجود دې او که دا اومنلې شي چه پیغمبر علیه السلام دا دعا نه دې کړې.

والالنقل عنه البتة وهو التحقیق ایضا فیقال ان القول هو الاقویٰ من غیره انه ثبت باحادیث قولیة مندوبیة الدعاء علی وجه الاجتماع ولم یثبت ما یعارضها لانه لم یثبت عن النبی ﷺ فی روایة ما انه لم یدع علی وجه الاجتماع بخلاف اذان العید فانه ثبت فیه روایة العدم فی سنن ابی داؤد وغیره. وهوالموفق

په جمعې سره دعا کول مندوب دي بدعت نه دي.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د پنځ وخته مونځونونه پس که د فرضونه پس متصل وي او که د سنتونه پس وي اجتماعې دعا صحيح ده که نه؟ بعضې خلق چه د حجاز په زمکه او مکه مکرمه کښې ئې سبق وئيلې وي هغوي د مونځونونه پس اجتماعي دعا نه يعني دفرضو نه پس او خصوصاً دسنتونه پس ته ناجائز او بدعت وائي او مسلمانان د مونځونو نه پس د دعا ګانو نه منع کوي، د شريعت او علمائې احناف د مسلک په رڼا کښې ددې څه حل دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد اقبال ډنډل ټيکشن تربت مکران بلوچستان ۱۷ رمضان ۱۴۰۵

الجواب: پيغمبر عليه السلام د فرضو نه پس ددعا ترغيب ورکړې.

كما فی حديث الترمذی قيل يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ای الدعاء اسمع قال جوف الليل الاخر ودبر الصلوات المكتوبات﴿۱﴾

او د دبر المکتوبات په مراد کښې اختلاف دې بعضې محدثين سمدستي او روستو مراداخلي او بعضې غيرمتصل مراد اخلي او د (دُبُر) اطلاق په دواړو باندې کيږي، ځکه چه دې دواړو کښې يو هم په فرائضو باندې مقدم نه ده، ﴿۲﴾ اودا خبره دې واضحه وي چه ددې د پاره ډير اداب دي چه په دې حديث کښې نشته اوپه نورو حديثونو کښې مذکور دي (مثل. رفع اليدين، التثليث، التحميد، الصلاة، التامين) بعضې ددې ادابونه هيئت اجتماعی دې.

لحديث الحاكم وكنزالعمال لا يجتمع ملا فيدعوا بعضهم ويؤمن بعضهم الا اجابهم الله، ولحديث الدارمی وابی نعيم ما اجتمع ثلاثة قط بدعوة

﴿۱﴾ (سنن الترمذی ص ۱۸۸ جلد ۲ باب ماجاء فی جامع الدعوات)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدين: واما ما ورد من الاحاديث فی الاذكار عقيب الصلاه فلا دلالة فيه على الاتيان بها قبل السنة بل يحمل على الاتيان بها بعدها لان السنة من لواحق الفريضة وتوابعها ومكملاتها فلم تكن اجنبية عنها فما يفعل بعدها يطلق عليه انه عقيب الفريضة. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۹۱ جلد ۱ قبيل مطلب فی ما لو زاد الخ)

الاكان حقا على الله ان لا يرد ايديهم (ذكره الحافظ فی فتح الباری)﴿۱﴾

پس په جمعې سره دعا کول مندوب دي ناجائز او بدعت نه دی، البته لغوي بدعت دې ځکه چه پيغمبر عليه السلام هيئت اجتماعي سره نه د فرضو نه پس دعا غوښتلې او نه د سنتو نه پس ونظيره الازار والسراويل. وهو الموفق

احناف د سنتو نه پس او بقالي دفرضو نه پس دعا افضل ګڼړي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې علماء فرمائي چه د سنتو نه پس په جمعې سره دعا کول حرام او بدعت سيئته دې او بعضې وائي چه مستحب او بدعت حسنه دې قول فيصل ذکر کړئ مهرباني به وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي سيف الرحمان برول بانډه ضلع دير...... ۲۵ ۱۷\۱۹۷۰

الجواب: دا خبره دې واضحه وي چه ددعا بعد السنن په هيئت اجتماعي سره په خير القرون کښې معمول نه وو. نه د فرضونه پس او نه د سنتو نه پس ﴿۲﴾ (ومن ادعى فعليه البيان والدليل ولن ياتوا به ولو كان بعضهم لبعض ظهيراً) البته دقولي حديث نه دعا کول ثابت دي، وهو حديث د برالصلوت المكتوبات ﴿۳﴾ او دا حديث په دواړو باندې صادق دې.

لان الدعاء بعد الرواتب يصدق عليه انه دبر المكتوبات لا انه قبل المكتوبات، وايضاً صرح العلامة الشامی وابن الهمام ان ما يفعل بعد الرواتب يطلق عليه انه دبر المكتوبات فليراجع وصرح فی البحر والخلاصه

﴿۱﴾ (فتح الباری شرح صحيح البخاری ص ۳۰۸ جلد ۱۴ باب التامين)

﴿۲﴾ وليعلم ان الدعاء المعمول فی زماننا من الدعاء بعد الفريضة رافعين ايديهم على الهيئة الكذائية لم تكن المواظبة عليه فی عهده عليه الصلاة والسلام الخ. (العرف الشذی على الترمذی ص ۸٦ جلد ۱ باب ماجاء فی كراهية ان يخص الامام نفسه بالدعاء)

﴿۳﴾ عن ابی امامة قال قيل يا رسول الله ای الدعاء اسمع قال جوف الليل الاخر ودبر الصلوات المكتوبات رواه الترمذی. (مشكواة المصابيح ص ۸۹ جلد ۱ باب الذكر بعد الصلاة الفصل الثانی)

وارشاد الساری وغیره ان الدعاء عند الحنفیة بعد الرواتب نعم قال البقالی المعتزلی انه بعد الفرائض ﴿۱﴾ فعلم ان فی الامر توسعاً والاولیٰ هو الاتیان بعد الرواتب واما الهیئة الاجتماعیه فهی من اداب الدعاء کالحمد والصلوٰة وغیره لحدیث ذکر فی معارف السنن وغیر واحد من کتب الاحادیث ﴿۲﴾. وهو الموفق

دعا بعد السنت او بعدالفرض باندې التزام بدعت او همیشوالې جائز دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه بعضې اهل علم وائې چه دفرض مونځ نه پس په هیئتِ اجتماعي سره دعا کول بهترین او افضل دي، او د سنتو نه پس په هیئت اجتماعي سره ددعا کول هیڅ ثبوت نشته، بعضې اهل علم د سنتو نه پس دعا لازم ګڼري. مهرباني اوکړئ فیصلې والا خبره اوکړې ډیره ښه به وي؟ بینوا توجروا،

المستفتي: ناصر شاه محله سیدان جلبئ صوابي ۱۹۷۲/ ۱۲/ ۵

﴿۱﴾ وفی شرح شرعة الاسلام ویغتنم الدعاء بعد المکتوبة قبل السنة علی ماروی عن البقالی (المعتزلی فی الاصول، الحنفی فی الفروع مثل صاحب الکشاف) من انه قال الافضل ان یشتغل بالدعاء ثم بالسنة وبعد السنن والاوراد علی ماروی عن غیره وهو المشهور المعمول فی زماننا فانه مستجاب بالحدیث.

(تعلیق الکوکب الدری ص ۲۹۱ جلد۲) (وهکذا فی السعایه ص ۲٦۱ جلد ۲ باب صفة الصلاة)

﴿۲﴾ قال الله تبارک وتعالیٰ: قد اجیبت دعوتکما، وروی القرطبی عن ابی العالیة ان موسیٰ علیه السلام کان یدعو وهارون علیه السلام یؤمن، وقال النبی علیه السلام لا یجتمع ملأ فیدعو بعضهم ویؤمن بعضهم الا اجابهم الله تعالیٰ رواه الحاکم وذکره فی کنز العمال وقال النبی ﷺ ما اجتمع ثلاثة قط بدعوة الا کان حقا علی الله ان لا یرد ایدیهم رواه الدارمی وذکره الحافظ فی الفتح...... ثبت باحادیث قولیة مندوبیة الدعاء علی وجه الاجتماع.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۷۴ جلد۲ مبحث الدعاء علی الهیئة الاجتماعیة)

الجواب: واضحه دوي چه دعا په التزام سره بدعت دې برابره خبره ده که د فرضو نه پس وي او که د سنتو نه پس وي، لیکن د التزام په مطلب ډیر خلق نه پوهیږي د التزام مطلب او معنی ده یو څیز لازم او واجب ګڼړل یا د یو څیز په کونکي یا پریخودونکي باندې د واجب پشان انکار کول او بد ګڼړل او صرف همیشوالي او پابندئ ته التزام نه وائي ګیني نو تهجد، اوابین، چاشت وغیره نور مستحبات به ټول بدعات شي. (والامر لیس کذالک لانهم لا یعتقدونها واجبات ولا ینکرون علی تارکها مثل الانکار علی تارک الواجب) او په فقه حنفي کښې دا ذکر دي چه د جمهورو احنافو په نزد د سنتو نه پس دعا کول بهتر ده او د امام بقالي رحمه الله په نزد د فرضو نه پس بهتر ده او هم دې لره د دیو بند اکثر اکابرینو مختار (غوره) ګرځولې. ﴿۱﴾ لهذا دیکښې سختي کول نه دي پکار او په دې ښارونو ښه داده چه د سنتو نه پس دعا اوکړیشي چه د عامو فقهاؤ نه مخالفت رانشي او فتنه جوړه نه شي ګني نو د امام بقالي رحمه الله په قول باندې هم عمل کول جائز دي چه دَې په فروعاتو کښې حنفي دې او په اصولو کښې معتزلي دې. دهغوی په قول باندې عمل کول هم جائز دی.

وان شئت الاطلاع علی دلائل الطرفین فراجع الی المقالات ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ مفتی اعظم حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب فرمائي: د دعا بعد السنن والنوافل حکم دادې چه که څوک ئې څه قسم التزام نه کوي او بهتر او افضل ئې نه ګڼړي او په پریخو دونکي باندې ملامتیا نه کوي او د جمعې اهتمام نه کوي او امام ددې پابند نه کړې شي نو که د سنتو نه پس کوم خلق اتفاقي طور باندې موجود وی که هغوی دعا اوغواړی نو جائزده. (کفایت المفتی ص ۳۴۰ جلد ۳ سنن او نوافلو نه روستو د اجتماعي ثبوت شته که نه، فصل اول) ﴿۲﴾ د مقالاتو نه دا د دعامقاله د فائدې عام کولو دپاره په مخکښې صفحاتو کښې دا نقل کولې شي. (از مرتب)

غنیة الطالب

فی الدعاء بعد المکتوبة والرواتب

د دعا فضیلت: دعا کول عبادت دي پیغمبر علیه السلام فرمائي (الدعاء هو العبادة رواه الترمذی)﴿۱﴾ او الله (ج) دعا عبادت ګرځولي دي. (وقال ربکم ادعوني استجب لکم ان الذین یستکبرون عن عبادتی سیدخلون جهنم داخرین)(سورة المومن)﴿۲﴾ دعا دعبادت مغز دي. پیغمبر علیه السلام فرمائي الدعاء مخ العبادة (رواه الترمذی)﴿۳﴾ دعا د عبدت اصل دي یعني کامل عبادت دي ځکه چه عبادت هغه تنظیم او عاجزئ ته وائي چه د یوذات په غیبي تسلط باندي دلالت کوي او په دعا کښي دا دلالت په واضحه طریقه موجود دي.

دعا او تقدیر: بعضي خلق وائي چه تقدیر نه بدلیږي نو په دي وجه دعا کول بې فائدې دي، لیکن دا یو فاسد خیال دي. ﴿۴﴾ ځکه چه هرکله یوشیز عبادت وي او د الله (ج) د طرفنه مطلوب وي اود پیغمبرانو علیهم السلام معمول وي هغه عبث (بې فائدې) نشي کیدلي، او په عالمِ اسباب (دنیا) کښي چه څنګه د نورو اسبابو او ذریعو استعمال د تقدیر سره متصادم نه دي دغه شان دعا هم یو سبب او ذریعه ده نو د تقدیر سره به متصادم نه وي.

﴿۱﴾ (جامع الترمذی ص ۱۷۳ جلد ۲ ابواب الدعاء باب ماجاء فی فضل الدعاء)

﴿۲﴾ (سورة المومن آیت، ۶۰ رکوع، ۱۱ پاره: ۲۴)

﴿۳﴾ (جامع الترمذی ص ۱۷۳ جلد ۲ باب ماجاء فی فضل الدعاء ابواب الدعوات)

﴿۴﴾ عن سلمان الفارسی قال قال رسول الله ﷺ لا یرد القضاء الا الدعاء ولا یزید فی العمر الا البر رواه الترمذی. (مشکواة المصابیح ص ۱۹۵ جلد ۱ کتاب الدعوات الفصل الثانی)

د دعا آداب

د دعا کولو ډیر آداب دي چه د هغې خپله درجه کښي لحاظ کول ډیر اهم دي.

(الف) دواړه لاسونه اوچتول. کمافی البیهقی یرفع یدیه فی الدعاء ﴿۱﴾ لیکن په مونځ کښي به عام طور سره نه شی اوچتولي.

کما فی مصنف ابن ابی شیبه ان رسول الله ﷺ لم یکن یرفع یدیه حتی یفرغ من صلاته

(ب) د دعا نه مخکښي حمد او ثنا او درود وئیل

لحدیث ابی داؤد اذا صلیت فقعدت فاحمد الله بما هو اهله وصل علی ثم ادعه﴿۲﴾

(ج) ناجائز سوال نه کول. لحدیث مسلم یستجاب لعبدمالم یدع باثم اوقطیعة رحم﴿۳﴾

(د) په توجه سره غوښتل او د قبلیدلو یقین کول. لحدیث الترمذی ادعوالله **وانتم موقنون بالاجابة واعلموا ان الله لا یستجیب دعاء من قلب غافل لاه ﴿۴﴾.**

(ه) په عزم او اصرار سره دعا کول. لحدیث البخاری اذا دعااحدکم فلیعزم المسئلة

﴿۱﴾ عن انس قال کان رسول الله ﷺ یرفع یدیه فی الدعاء حتی یری بیاض ابطیه. (مشکواة المصابیح ص ۱۹۶ جلد ۱ ابواب الدعوات الفصل الثالث)

﴿۲﴾ عن فضالة بن عبید قال بینما رسول الله ﷺ قاعد اذ دخل رجل فصلی فقال اللهم اغفرلی وارحمنی فقال رسول الله ﷺ عجلت ایها المصلی اذاصلیت فقعدت فاحمد الله بما هو اهله وصل علی ثم ادعه قال ثم صلی رجل آخر بعد ذلک فحمد الله وصلی علی النبی ﷺ فقال له النبی ﷺ ایها المصلی ادع تجب رواه الترمذی وروی ابوداؤد والنسائی نحوه. (سنن الترمذی ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ماجاء فی جامع الدعوات)

﴿۳﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ یستجاب للعبد مالم یدع باثم او قطیعه رحم الخ رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۱۹۴ جلد ۱ کتاب الدعوات الفصل الاول)

﴿۴﴾ سنن الترمذی ص ۱۸۶ جلد ۲ باب ماجاء فی جامع الدعوات)

وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ لا یقولن احدکم اللهم اغفرلی ان شئت اللهم ارحمنی ان شئت لیعزم المسئلة فانه لا مکره له﴿۱﴾.

(و) د دعا الفاظ درې ځلې وئیل.

لحدیث مسلم وابی داؤد ان رسول الله ﷺ کان یعجبه ان یدعو ثلاثا﴿۲﴾.

(ز) د قبلیدلو جلتي نه کول حوصله او همت اوچت ساتل.

لحدیث البخاری یستجاب للعبد ما لم یعجل﴿۳﴾.

(ح) په آخره کښې آمین وئیل لحدیث ابی داؤد ختم بآمین فقد اوجب﴿۴﴾

(ط) آخره کښې په مخ لاسونه راښکل.

لحدیث ابی داؤد قال علیه الصلاة والسلام فاذا فرغتم فامسحوا بها جوهکم﴿۵﴾

(ی) د حرامو نه بچ کیدل. لحدیث مسلم مطعمه حرام و مشربه **حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذلک رواه مسلم﴿۶﴾.**

(ک) په جمعې سره دعا کول حضرت موسی علیه السلام او هارون علیه السلام په هیئت اجتماعي سره دعا کړې وه الله (ج) فرمائي:

قد اجیبت دعوتکما، وفی تفسیر القرطبی ص ۳۷۵ جلد ۸ عن ابی العالیه کان موسیٰ علیه السلام یدعو وهارون علیه السلام یؤمن﴿۷﴾

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص ۹۳۸ جلد ۲ باب لیعزم المسئلة فانه لا مکره له کتاب الدعوات)
﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ص ۲۲۰ جلد ۱ باب فی الاستغفار کتاب الصلاة)
﴿۳﴾ (صحیح البخاری ص ۹۳۸ جلد ۲ باب یستجاب للعبد ما لم یعجل کتاب الدعوات)
﴿۴﴾ (سنن ابی داؤد ص ۱۴۲ جلد ۱ باب التأمین وراء الامام)
﴿۵﴾ (سنن ابی داؤد ص ۲۱۶ جلد ۱ باب الدعاء کتاب الصلاة)
﴿۶﴾ (مشکواة المصابیح ص ۲۴۱ جلد ۱ باب الکسب وطلب الحلال الفصل الاول)
﴿۷﴾ (تفسیر قرطبی ص ۳۷۵ جلد ۸ سورة یونس آیت ۸۹ رکوع: ۱۴)

او پیغمبر علیه السلام په جمعې سره د دعا ترغیب ورکړی دی:

کما رواه الحاکم وذکر فی کنز العمال قال النبی ﷺ لا یجتمع ملأ فیدعو بعضهم ویؤمن بعضهم الا اجابهم الله تعالیٰ وکما رواه الدارمی وذکره الحافظ فی الفتح ما اجتمع ثلاثة قط بدعوة الا کان حقا علی الله ان لا یرد ایدیهم﴿۱﴾

او علامه مرغیناني په هدایه کتاب الحج کښې لیکلي دی: والاجابة فی الجمع ارجیٰ﴿۲﴾

(ل) د قبلیدلو په وختونو کښې دعا کول. دغه وختونه ډیر دي خو دلته پنځه ذکر کیږي (۱) داذان وخت (۲) د صحیح جنګ په وخت کښې (۳) د باران په وخت کښې. کما فی حدیث ابی داؤد ثنتان لا تردان الدعاء عندالنداء وعند **البأس حین یلحم بعضهم بعضا وفی روایة وتحت المطر﴿۳﴾**

(۴) د شپې په آخري حصه کښې (۵) د فرض مونځ نه پس،

کما فی حدیث الترمذی قیل یا رسول الله ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الاخر ودبر الصلوات المکتوبات﴿۴﴾.

د ذکر وغیره د پاره ټولګي جوړول: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په هیئت اجتماعي سره ذکرکولو باندې انکار کړی دی. کما رواه الحاکم باسناده﴿۵﴾ نو ددې روایت دا معلومیږي چه ټولګي جوړول ناجائز دي ددې جواب دادې چه پیغمبر علیه السلام په هیئت اجتماعي سره د دعا کولو ترغیب ورکړې او دغه شان ئې په هیئت اجتماعیه سره د ذکر کولو ترغیب هم ورکړې. کما فی حدیث الترمذی **اذا مررتم بریاض الجنة فارتعوا، قالوا وما ریاض الجنة قال حلق الذکر﴿۶﴾**

﴿۱﴾ (فتح الباری شرح صحیح البخاری ص ۳۰۸ جلد ۱۴ باب التأمین)
﴿۲﴾ (هدایه علی صدر فتح القدیر ص ۳۶۹ جلد ۲ باب الاحرام کتاب الحج)
﴿۳﴾ وفی روایة تحت المطر رواه ابوداؤد والدارمی الا انه لم یذکر وتحت المطر. (مشکواة المصابیح ص ۶۶ جلد ۱ باب فضل الاذان واجابة المؤذن الفصل الثانی)
﴿۴﴾ (سنن ترمذی ص ۱۸۸ جلد ۲ باب ماجاء فی جامع الدعوات)
﴿۵﴾ (مسند دارمی ص ۶۸ جلد ۱ باب فی کراهه اخذ الرای)
﴿۶﴾ (سنن ترمذی ص ۱۸۹ جلد ۲ باب ماجاء فی تهد التسبیح بالید)

وکما فی حدیث مسلم، ان رسول الله ﷺ خرج علی حلقة من اصحابه فقال ما اجلسکم ههنا قالوا، ذکر الله فی آخره اتانی جبرائیل علیه السلام فاخبرنی ان الله تعالیٰ یباهی بکم الملائکة ﴿۱﴾ وکما فی حدیث ملائکة سیاحین هم ای الذاکرون قوم لا یشقی بهم جلیسهم ﴿۲﴾.

حدیث د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه موقوف دی او حدیث موقوف د حدیث مرفوع په مقابله کښې مرجوح او متروک وي. ﴿۳﴾ او یا داچه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د نیکو په شمارلو او دګناهونو شمارلو په پریخودلو باندې انکار کړې دې نه د ټولګو په جوړولو باندې،

کما فی سنن الدارمی ص ۶۱ جلد ۱ فقال عبد الله بن مسعود ما هذا الذی اراکم تصنعون قالوا یا عبد الرحمن حصی نعدبه التکبیر والتهلیل والتسبیح قال فعدوا سیأتکم فانا ضامن ان لا یضیع من حسناتکم

اودا ممکنه ده چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ددې فعل نه دخپل حیثیت نه په زیات اهتمام کولو باندې انکار کړې وي.

﴿۱﴾ (رواه مسلم، مشکواة المصابیح ص ۱۹۸ جلد ۱ باب ذکر الله والتقرب الیه الفصل الثالث)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان لله ملائکة یطوفون فی الطرق یلتمسون اهل الذکر فاذا وجدوا قوما یذکرون الله تنادو...... قال هم الجلساء لا یشقی جلیسهم رواه البخاری وفی روایة مسلم قال ان لله ملائکة سیارة فضلا یبتغون مجالس الذکر فاذا وجدوا مجلساً فیه ذکر قعدوا معهم...... فیقول وله غفرت هم القوم لا یشقی بهم جلیسهم. (مشکواة المصابیح ص ۱۹۷ جلد ۱ باب ذکر الله والتقرب الیه)

وعن ابی هریرة او عن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله ﷺ ان لله ملائکة سیاحین والارض فضلا عن کتاب الناس...... فیقول هم القوم لا یشقی لهم جلیس هذا حدیث حسن صحیح وقد روی عن ابی هریرة من غیر هذا الوجه. (سنن الترمذی ص ۱۹۹ جلد ۲ باب ای الکلام احب الی الله)

﴿۳﴾ قال العلامه السید شریف علی الجرجانی: المرفوع هو ما اضیف الی النبی ﷺ خاصة من قول او فعل او تقریر سواء کان متصلا او منقطعاً...... والموقوف وهو مطلقا ما روی عن الصحابی من قول او فعل متصلاً کان او منقطعاً وهو لیس بحجة علی الاصح الخ. (الرسالة فی فن اصول الحدیث للسید شریف علی الجرجانی ص ۲، ۳ الملحقه بالترمذی)

د لفظ دُبر تشریح: د دبر الصلوة په دوه مطلوبونو باندې اطلاق کیږي یو د سلام نه مخکښې باندې، اودا مطلب واضح دې، ځکه چه دُبرشئ د یوڅیز روسته جز ته وئیلې شی، او دویم اطلاق روستو او د مونځ نه بهر باندې هم کیږي لکه چه د مسلم شریف په حدیث کښې راغلی دی. معقبات لا یخیب قائلهن دبر کل صلاة ثلاث وثلثون تحمیدة واربع وثلاثون تکبیرة. ﴿۱﴾.

او دغه شان دا حدیث په ترمذی شریف کښې هم راغلې دې.

فائده: دبر المکتوبات دفرضونه پس ته وائي که متصل وي او که منفصل وي د متصل پورې خاص نه دي ځکه چه پیغمبر علیه السلام د دعا او تسبیحاتو دواړو ترغیب په لفظ د (دبر) سره ورکړې او دا ناممکن ده چه دواړه عملونه په یو وخت کښې فرضونو پسې متصل اوکړې شي. که مخکښې شی دعا اوکړې نو تسبیحات به دبرالفرائض نه شي، او جمع بین التسبیحات والدعاء به دسنتو خلاف شي. او حال دا چه دا دهیچا قول هم نه دې، چه دعا مخکښې اوکړې شی او روسته به تسبیحات اوکړې شي یا ددې په عکس سره، په دیکښې یو هم د سنتو نه خلاف نه دي، نو معلومه شوه چه د فرضو او دعا فصل (جداوالې) په تسبیحاتو سره جائزدې، اودغه شان د فرضواو تسبیحاتو فصل په دُعا سره جائز دې نو لازمه شوه دا خبره چه لفظ دُبر دا تصال تقاضا نه کوي. نو چه کله د فرضو. او دُعا فصل په تسبیحاتو سره د دعا بعد المکتوبات د پاره مُضر نه دې ځکه چه تسبیحات سنن مرغوبه دي نو دغه شان به دفرضو. او دعا فصل په سنت مونځ سره هم ضرر والا نه وي بلکه بالکل به هیڅ ضرر نه ورکوي. ځکه چه د سنت مونځ اتصال د فرضو سره ډیر

﴿۱﴾ **عن کعب بن عجرةُ قال قال رسول الله ﷺ معقبات لا یخیب قائلهن او فاعلهن دبر کل صلوٰة مکتوبة ثلث وثلثون تسبیحة وثلث وثلثون تحمیدة واربع وثلثون تکبیرة رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۸۹ جلد ۱ باب الذکر بعد الصلوات)**

زیات دي په نسبت سره اتصال د تسبیحاتو فرضونو پورې او د قیامت په ورځ به سنت مونځ د فرضو قائم مقام جوړ یږي نه تسبیحات. فقهائې کرامو تصریح کړې ده چه کوم ذکر وغیره د مؤکد سنتو نه وروستو اوشي هغې ته به دبر المکتوبات وئیلي کیږي. علامه شامي په رد المحتار کښې فرمائي:

واما ما ورد من الاحادیث فی الاذکار عقیب الصلاة فلا دلالة فیه علی الاتیان بها قبل السنة بل یحمل علی الاتیان بها بعدها لان السنة من لواحق الفریضة وتوابعها ومکملاتها فلم تکن اجنبیة عنها، فما یفعل بعدها یطلق علیه انه عقیب الفرائض، انتهیٰ (ص ۴۹۴ جلد ۱) ﴿۱﴾

او محقق ابن الهمام فتح القدیر کښې فرمائي ﴿۲﴾

وما ورد انه علیه السلام کان یقول دبر کل صلاة لا اله الا الله وحده...... الی ان قال...... لا یقتضی وصل هذه الاذکار بل کونها عقیب السنة من غیر اشتغال بما لیس هو من توابع الصلاة یصحح کونه دبرها، انتهیٰ (ص ۳۱۳ جلد ۱) ﴿۲﴾.

په هیئت اجتماعي سره دعا کول: په اهل علمو باندې دا خبره څه پټه نه ده چه پیغمبر علیه السلام په بعضې وختونو کښې په هیئت اجتماعي سره د جُمعې مبارکې په خطبه کښې دعا کړې په بخاري شریف (ص ۱۴۰ جلد ۱) کښې روایت دي.

فرفع رسول الله صلی الله علیه وسلم یدیه یدعو ورفع الناس ایدیهم مع رسول الله صلی الله علیه وسلم یدعون ﴿۳﴾

او بعضې وختونو کښې ئې انفرادی طور سره د سحرنه پس دعا کړې ده، یا ئې مخ قبلې طرف ته کړې،

کما روی الحاکم وابن ابی شیبه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رفع یدیه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال، اللهم اخلص الولید الی آخره (وذکر الحافظ ابن کثیر فی تفسیره ص ۱۷۲ جلد ۳) اویا به مخ قوم طرف ته وو، کما روی ابن ابی شیبه فی مصنفه قال ابو الاسود صلیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فلما سلم انحرف ورفع یدیه ودعا ﴿۴﴾.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۹۱ جلد ۱ قبیل مطلب فی ما لو زاد علی العدد الوارد عقب الصلاة)

﴿۲﴾ (فتح القدیر ص ۳۸۳، ۳۸۴ جلد ۱ باب النوافل)

﴿۳﴾ (صحیح البخاری ص ۱۴۰ جلد ۱ باب رفع الناس ایدیهم مع الامام فی الاستسقاء)

﴿۴﴾ وفی منهاج السنن: واما رفع الایدی عند الدعوات خارج الصلوٰة فقد ثبت باحادیث کثیرة قولیة وفعلیة فی الامهات الست وغیرها منها ما اخرجه ابن ابی حاتم وذکره الحافظ ابن کثیر فی تفسیره ص ۱۷۲ جلد ۳ عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رفع یدیه...... (بقیه حاشیه په راروان مخ..)

د فرضو یا سنتو نه پس په هیئتِ اجتماعي سره د دعا کولو متعلق دا حادیثو ذخیره چپ ده. د دعا کولو متعلق هم روایت نشته او د نه کولو متعلق هم نشته. دیته عدم ذکر او عدمِ روایت وائي او که څوک دا دعویٰ اوکړي چه پیغمبر علیه السلام دا دعا نه ده کړې نو هغه په پیغمبر علیه السلام باندې افتراء اوکړه. او دغه شان که څوک دا دعویٰ اوکړي چه پیغمبر علیه السلام دا دعا کړې ده نو هغه هم افتراء اوکړه.

او که څوک دا وائي چه که دا دعا ئې کړې وې نو روایت شوې به وې نو دهغه مخالف به دا اووائي که دا دعا ئې نه وې کړې نو دا نه کول به روایت شوې وو. لکه چه د اختر د مونځ د پاره اذان او اقامت نه دې شوې او دا نه کیدل روایت شوې دي. (کما فی روایة ابی داؤد ص۱۶۹ وغیره) ﴿۱﴾ بهرحال په جَمعې سره د دې دعا متعلق او دغه شان د اللهُم انت السلام متعلق دعا ګانونه دا حادیثو ذخیره چپ ده او د عدمِ ذکر او ذکر دَ عدم په مینځ کښې فرق نه کول غباوت یا غوایت دي. ﴿۲﴾

(بقیه حاشیه) بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللهم اخلص الولید بن الولید الی آخر الدعاء وفی سنده علی بن زید بن جدعان وهو متکلم فیه والراجح انه لا ینزل عن درجة الحسن کیف وقال یعقوب هذا حدیث صحیح وقال العجلی وابن عدی یکتب حدیثه وقال ابن دقیق العید، علی بن زید وان ضعف فقد ذکر بالصدق...... واما اخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه من حدیث الاسود العامری عن ابیه هو عبد الله بن حاجب بن عامر قال صلیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم الفجر فلما سلم انصرف ورفع یدیه. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۷۲ جلد۲ باب ما یقول اذا سلم) (تفسیر ابن کثیر ص ۱۷۰ جلد ۱ سورة النساء آیت: ۹۸)

﴿۱﴾ عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم صلی العید بلااذان ولا اقامة وابابکر وعمر او عثمان شک یحیٰ. (سنن ابی داؤد ص ۱۷۰ جلد ۱ باب ترک الاذان فی العید)

﴿۲﴾ حضرت لعلامه مفتي اعظم کفایت الله دهلوي رحمة الله علیه فرمائ چه که د شیخ (عبد الحق محدث دهلوي) مراد داوي لاس اوچتول او آمین آمین وئیل وئیل ثابت نه دي نو د هغې جواب دادې چه په احادیثو کښې د دې خبرې نه ذکر کیدل چه پیغمبر علیه السلام به دعا کښې لاس اوچتول د دې خبرې دلیل نه دې چه لاس ئې نه اوچتول، دیو شیز په نه ذکر کولو سره د هغې عدم (نیشتوالې) نه لازمیږي. ,,فان عدم الثبوت لا یستلزم ثبوت العدم وهذا ظاهر جداً،، لکه چه د روایتونو نه دا نه دي ثابت شوي چه لاسونه ئې اوچتول نو دغه شان دا هم په یو روایت کښې نشته چه لاسونه ئې نه اوچتول. (کفایت المفتي ص ۳۴۸ جلد ۳ فصل سوم فرائض کے بعد دعا کی مقدار کیاهے)

د پیغمبر علیه السلام په قول فعل او تقریر سره ثابت کار بدعت نه دي

د پیغمبر علیه السلام قول او تقریر ته حدیث وائي ﴿۱﴾ نو یو کار به هله د سنتو نه خلاف او بدعت وي چه نه د پیغمبر علیه السلام د قول نه ثابت وي او نه د فعل یا تقریر نه نو دا دعوی کول چه دا کار بدعت دې ځکه چه پیغمبر علیه سلام نه دي کړي غباوت یا غوایت دي.

د مونځ نه پس په هیئت اجتماعي سره دعا کول: د مونځ نه پس په هیئت اجتماعي سره دعا کولو نه د پیغمبر عله السلام فعل چپ دې البته د پیغمبر علیه السلام قول ثابت دي هغه حدیث د د بر المکتوبات دي رواه الترمذي﴿۲﴾ او په دې حدیث کښې نه د رفع الیدین ذکر شته او نه د حمد وصلوة او نه د آمین او په مخ لاس راښکل شته، او نه پکښې د انفراد او اجتماع ذکر شته لیکن قاعده دا ده چه ,,اذا ثبت الشي ثبت بادابه ولوازمه،، بهر حال په دې دعا کښې به ددې د آدابو لحاظ اوساتلې شي برابره خبره ده که دا دعا د فرضو نه پس وي او که د سنتو نه پس وي.

د دعا بعد السنت باره کښې د فقهاؤ اقوال:

په شرح شرعة الاسلام کښې ئې لیکلي دی:

ویغتنم بعد المکتوبة قبل السنة علی ما روی عن البقالی (المعتزلی فی الاصول، الحنفی فی الفروع مثل صاحب الکشاف) من انه قال الافضل ان یشتغل بالدعاء ثم بالسنة، وبعد السنن والاوراد علی ما روی عن غیره وهو المشهور المعمول فی زماننا فانه مستجاب بالحدیث (تعلیق الکوکب الدری ص ۲۹۱ جلد ۲) قلت ومثل قول البقالی مروی عن الامام

﴿۱﴾ قال الشیخ عبد الحق الدهلوی: اعلم ان الحدیث فی اصطلاح جمهور المحدثین یطلق علی قول النبی صلی الله علیه وسلم وفعله وتقریره ومعنی التقریر انه فعل احد او قال شیأ فی حضرته صلی الله علیه وسلم ولم ینکر ولم ینهه عن ذلک بل سکت وقرر.

(مصطلحات علم الحدیث الملحقه بالمشکواة المصابیح ص ۳ للشیخ عبد الحق الدهلوی)

﴿۲﴾ قیل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ای الدعاء اسمع قال جوف اللیل الاخر و دبر الصلوات المکتوبات. (سنن ترمذی ص ۱۸۸ جلد ۲ باب ماجاء فی جامع الدعوات)

جعفر الصادق فی الطبرانی ﴿۱﴾ پس د امام بقالي رحمه الله په نزد باندې د فرضونه پس دعا کول افضل دي او دیته د اکثر اکابرینو میلان دې او د جمهورو په نزد بعد السنن افضل ده، او فقهائې کرامو دا قول غوره کړې، د علامه ابن الهمام او ابن عابدین رائې مخکښې ذکر شوې ابن نجیم صاحب د بحر الرائق فرمائي:

لکن عندنا السنة مقدمة علی الدعاء الذی هو عقب الفراغ (ص ۳۰۴ جلد ۸).

او صاحب د مراقي الفلاح علامه حسن شرنبلالي فرمائی:

ویستحب للامام بعد سلامه ان یتحول الی جهة یساره لتطوع بعد الفرض ویستحب ان یستقبل بعده ای بعد التطوع وعقب الفرض ان لم یکن بعده نافلة، یستقبل الناس...... ثم یدعون لانفسهم وللمسلمین رافعی ایدیهم ثم یمسحون بها وجوههم انتهیٰ بحذف (الطحطاوی ص ۲۵۳ تا ۲۵۷)

او په (الا شباه والنظائر کښې ابن نجیم او په شرحة اشباه کښې حموی فرمائی: (الاشتغال بالسنة عقیب الفرض افضل من الدعاء، ص ۱۲۷، ۱۲۸)

صاحب د خلاصه الفتاوی علامه طاهربن عبد الرشید البخاري فرمائي (بعد الفریضة الاشتغال بالسنة اولی من الاشتغال بالدعاء ص ۹۵ جلد ۱)

او علامه قسطلاني په ارشاد الساري شرح دبخاري کښې فرمائي:

وعند الحنفیة یکره له المکث قاعداً لیشغل بالدعاء لان القیام الی السنة بعد اداء الفریضة افضل من الدعاء والتسبیح والصلاة (ص ۱۴۴ جلد ۲).

په التزام او دوام کښې فرق: التزام د مالا یلزم او دَ یو څیز د هغې د حیثیت نه زیات اهتمام کول بدعات دي، الله تعالی نه هغې انصارو باندې انکار کړیدې چا چه د احرام پر حالت کښې خپلو کورونوته د شا طرفنه د راتللو اهتمام کړې وو، الله تعالی فرمائی: ولیس البر بان تاتوا البیوت من

﴿۱﴾ وفی السعایة نقلا عن المواهب للقسطلانی نقلا عن الحافظ بن الحجر اخرج الطبرانی من روایة جعفر بن محمد الصادق قال الدعاء بعد المکتوبة افضل من الدعاء بعد النافلة کفضل المکتوبة علی النافلة.

(سعایه شرح هدایه ص ۲۵۸ جلد ۲ باب صفة الصلاة)

ظهورها ولکن البر من اتقی،واتوا البیوت من ابوابها (سورة البقرة) ﴿۱﴾
او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په هغه خلقو باندې انکار کړې وو کومو چه د مونځ نه پس ښي طرفته ګرځیدل لازم ګڼړل،

قال لا یجعل احدکم للشیطان شیأ من صلاته یری ان حقاً علیه ان لا ینصرف الا عن یمینه (بخاری ص ۱۱۸ جلد ۱) ﴿۲﴾

او ملا علي قاري رحمه الله فرمائي:

من اصر علی امر مندوب وجعله عزما ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال (مرقاة ص ۳۵۳ جلد ۲) ﴿۳﴾.

التزام په دوه قسمه دی یو حقیقي دی چه یو څیز واجب نه وي او د لزوم او وجوب عقیده ئي اولری. او دا د نذر په صورت کښې جائز دی او د نذر نه علاوه مکروه او بدعت دی، دویم التزام حکمي دی. چه یو څیز واجب او لازم نه ګڼړي لیکن د خپل حیثیت نه ئي زیات اهتمام کوي لکه په عبدالله بن سلام رضی الله عنه باندې چه ازمائش راغلې وو او الله (ج) د هغې نه انکار اوکړو او دا آیت نازل شو.

یا ایها الذین آمنوا ادخلوا فی السلم کافة ولا تتبعوا خطوات الشیطان (بقرة) ﴿۴﴾

﴿۱﴾ (سورة البقرة پاره: ۲ رکوع: ۷ آیت: ۱۸۹)
﴿۲﴾ (صحیح البخاری ص ۱۱۸ جلد ۱ باب الانفتال والانصراف عن الیمین والشمال)
﴿۳﴾ (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة المصابیح ص ۳۵۳ جلد ۲ باب الدعاء فی التشهد)
﴿۴﴾ قال العلامه حافظ عماد الدین ابن کثیر: یقول الله تعالیٰ امراً عباده المؤمنین به المصدقین برسوله ان یأخذو بجمیع عری الاسلام وشرائعه والعمل بجمیع اوامره وترک جمیع زواجره ما استطاعوا من ذلک...... وزعم عکرمه انها نزلت فی نفر ممن اسلم من الیهود وغیرهم کعبد الله بن سلام واسد بن عبید وثعلبة وطائفه استأذنوا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ان یسبتو وان یقوموا بالتوراة لیلاً فامرهم الله باقامة شعائر الاسلام والاشتغال بها عما عداها، وفی ذکر عبد الله بن سلام مع هؤلاء نظر، اذیعد ان یستأذن فی اقامة السبت وهو مع تمام ایمانه یتحقق نسخه ورفعه وبطلانه والتعویض عنه باعیاد الاسلام.
(تفسیر ابن کثیر ص ۳۲۴ جلد ۱ سورة البقرة آیت: ۲۰۸)

او دغه شان د انصارو آزمائش چه د (لیس البر ان تاتوالبیوت من ظهورها) ﴿۱﴾ سره ئي انکار نازل شو. البته په التزام او دوام کښې فرق کول ضروري دي، التزام بالمستحب ممنوع دی او دوام بالمستحب مطلوب دی.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خیر العمل مادیم علیه وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم احب الاعمال الی الله ادومها وان قل، رواه البخاری ومسلم عن عائشة رضی الله عنها ﴿۲﴾

د التزام او دوام په مینځ کښې د عموم او خصوص من وجه نسبت دی کوم خلق په د فرضو یا سنتو نه پس همیشه دعا کوي او التزام ئي کوي نو هغوي ددوام او التزام دواړو مرتکب شو. او کوم کس چه د فرض یا سنتو نه پس کله کله دعا کوي او التزام کوي نو هغه التزام اوکړو او دوام نه. او کوم کس چه دفرضو یا سنتو نه پس همیشه دعاکوي لیکن نه ورته لازم وائي او په پریخو دونکي باندې انکار هم نه کوي نو هغه دوام اوکړو او التزام نه او د بدعت نه بچ شو البته د عوامو د اصلاح د پاره کله کله د فرضو او سنتو نه پس دعا نه کول مناسب دي چه په التزام کښې مبتلا نه شي.

د سنتو نه روستو درې ځلې دعا کول مباح ده:

حضور صلی الله علیه وسلم د زیارت القبور په وخت کښې درې ځلې دعا کړې.

کما فی مسلم (ص ۳۱۲ جلد ۱) جاء النبی صلی الله علیه وسلم البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات ثم انحرف ﴿۳﴾

او د فرضو یا سنتو نه پس درې ځلې دعا کول نه مطلوب دي او نه ممنوع دي بلکه مباح کار دي او هرهغه مباح چه په هغې باندې د عوامو عقیده سنت جوړه شي هغه مکروه جوړېږي.

کما فی شرح الکبیر کل مباح یودی الیه ای الی اعتقاد الجهلة سنیتها فمکروه (۵۷۳) ﴿۴﴾

﴿۱﴾ (سورة البقرة پاره: ۲ رکوع: ۷ آیت: ۱۸۹)
﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۱۱۰ جلد ۱ باب القصد فی العمل الفصل الاول)
﴿۳﴾ (صحیح مسلم شریف ص ۳۱۳ جلد ۱ فصل فی التسلیم علی اهل القبور والدعاء لهم)
﴿۴﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۵۶۹ فصل فی مسائل شتیٰ)

د مونځ نه پس د څو معمولاتو باره کښې فقهي مسئلې

د کوم مونځ نه پس چه سنت نه وي نو دامام خو ښه ده چه په خپل ځائې کينې او که پاسي ليکن قبلې طرفته به د. اللهم انت السلام (الخ) د مقدار نه زيات نه کينې. (بدائع) او د ترمذي شريف دحديث په بنا باندې د سحر اود ماښام د مونځ د فرضو نه پس د اشهد ان لا اله الا الله...الخ.. لس ځلې وئيلو په مقدار باندې ناسته پکښې داخل نه ده.(مراقي الفلاح وطحاوى ص۲۵۲، ۲۵۳)او چه کله کينې نو د هغه خو ښه ده چه ښې طرفته مخ اړوي او که ګس طرفته او يا خلقو ته مخ کوي ليکن دا هله چه مخا مخ څوک مونځ کونکې نه وي.(بدائع) او د کوم مونځ نه پس چه سنت وي نو امام دې د اللهم انت السلام... الخ په مقدار کيني بيا دې سنت اوکړي. (مراقي الفلاح وطحطاوى ص۲۵۲) سنت دې هغه ځائې کښې نه کوي کوم ځائې کښې چه ئې فرض کړي وي (بدائع ص۱٦۱ جلد۱) البته که څوک مقتدي ئې د فصل (جداوالي او انتظار نه پس دغه ځائې کښې سنت اوکړي نو دا جائز دي (حديث ابوداؤد)﴿۱﴾ (تمت المقالة فى الدعاء)

د فرض اوسنتوپه مينځ کښې کيناستل او اللهم انت السلام دواړه سنت دي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فرضو او سنتو په مينځ کښې صرف دا کيناستل سنت دي او که نه د اللهم انت السلام لوستل هم په سنتو کښې شامل دي؟ بينوا توجروا

المستفتى: لعل مرجان هنګو.........۲۴۱۸۱۱٫۱۹۷۲

﴿۱﴾ عن الازرق بن قيس...... فقال الرجل الذى ادرک معه التكبيرة الاولىٰ من الصلوٰة يشفع فوثبت اليه عمر فاخذ بمنكبيه فهزه ثم قال اجلس فانه لم يهلک اهل الكتاب الا انهم لم يكن بين صلواتهم فصل فرفع النبى ﷺ بصره فقال اصاب الله بک يا ابن الخطاب.
(سنن ابى داؤد ص ۱۵۱ جلد ۱ باب فى الرجل يتطوع فى مكانه الذى صلى فيه المكتوبة)

الجواب: دواړه سنت دي ﴿۱﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله الا بقدر اللهم) لما رواه مسلم والترمذى عن عائشة رضى الله عنها قالت كان رسول الله ﷺ لا يقعد الا بمقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنک السلام تباركت يا ذالجلال والاكرام واما ما ورد من الاحاديث فى الاذكار عقيب الصلاة فلا دلالة فيه على الاتيان بها قبل السنة بل يحمل على الاتيان بها بعدها لان السنة من لواحق الفريضة وتوابعها ومكملاتها فلم تكن اجنبية عنها فما يفعل بعدها يطلق عليه ان عقيب الفريضة وقول عائشة بمقدار لا يفيد انه كان يقول ذلک بعينه بل كان يقعد بقدر ما يسعه ونحوه من القول تقريبا فلا ينا فى ما فى الصحيحين من انه ﷺ كان يقول فى دبر كل صلاة مكتوبة لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله الحمد وهو على كل شئ قدير اللهم لا مانع لما اعطيت ولا معطى لما منعت ولا ينفع ذا الجد من الجد وتمامه فى شرح المنية.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۹۱ جلد ۱ مطلب هل يفارقة الملكان اداب الصلاة)

...

باب آداب الصلوٰة

د فرضو ادا کولو نه پس به امام سنت کوم ځائي کښې کوي؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بعضې خلق وائي د ماسپښین، ماښام او ماسخوتن مونځونو نه پس د امام د پاره په محراب کښې سنت کول مکروه دي، آیا دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا،

المستفتي: ملک جهانزیب آفریدي دره آدم خیل کوهاټ...... ۳۰ اګست ۱۹۸۹ء

الجواب: دکومو فرضونو نه پس چه سنت وي نو د فرض کولو والا امام د پاره مستحب دي چه مخکښې شي یا روستو شي یا ښي طرفته شي یا ګس طرفته شي او یا کور ته لاړ شي ﴿۱﴾ فقط

د پټکي سره مونځ کول د ډیر ثواب ذریعه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د امام دپاره پټکي ضروري دي که نه؟ او دا هم واضحه کړئ چه د پټکي ترلو ثواب او یا درجې زیات دي ایا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا،

المستفتي: فضل کریم صوابي.......۲۷\ذي قعده ۱۳۹۵ھ

الجواب: پټکي وهل د هر مسلمان د پاره د خیر کار دې او مستحب دي، خصوصاً دمونځ په وخت کښې د ډیر ثواب ذریعه ده.

کما فی الفردوس الدیلمی عن جابر رکعتان بعمامة خیر من سبعین رکعة بلا عمامة

﴿۱﴾قال الحصکفی: یستحب للامام التحول لیمین القبلة الخ و قال العلامه ابن عابدین رحمه الله: وان کان بعدها تطوع وقام یصلیه یتقدم او یتأخر او ینحرف یمینا او شمالاً او یذهب الی بیته فیتطوع ثمة. (ردالمحتار ص ۳۹۲ جلد ۱ مطلب فیما لو زاد علی العدد الوارد فی التسبیح عقب الصلاة آداب الصلاة)

وفیه ایضاً الصلوٰة فی العمامه عشر الاف حسنة کما فی کشف الحقائق ص۷۷﴿۱﴾
او د امام سره ددې خاص کول جهالت دي.....وهو الموفق

اللهم انت السلام وئیلو وخت کښې لاس اوچتول

سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د اللهم انت السلام وئیلو وخت کښې لاسونه اوچتول بدعت دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حبیب الله خان ایبټ آباد.............۲۶\۳\۱۹۸۵

الجواب: فعل د رسول ﷺ د اللهم انت السلام وئیلو وخت کښې د لاس اوچتولو نه خاموش دې ددې متعلق نه اثبات روایت شوې او نه نفي او دسکوت (چپوالي) نه نفي جوړول کم فهمي یا بد فهمي ده. وهو الموفق

د فرضو مونځ نه پس جهراً دعا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فرض مونځ نه پس جهراً دعا کول پکاردي که په پټه، او مستحب کومه طریقه ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد سلیمان کراچي.............۱۲\ جمادي الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: دمونځ نه پس دامام په جهر سره دعا کول غوښتل او د مقتدیانو آمین وئیل جائز دي. (لحدیث ورد بذالک کما فی فتح الباری) ﴿۲﴾ لیکن مسبوق وغیره ته د تکلیف په وجه باندې ناجائز دي (حموي) ﴿۱﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾قال القاری: وکذا ما اورده الدیلمی من حدیث ابن عمر مرفوعاً: صلاة بعمامة تعدل خمسا وعشرین...... ومن حدیث انس مرفوعا الصلاة فی العمامة بعشرة آلاف حسنة قلت: مروی ابن عمر نقله السیوطی عن ابن عساکر فی جامعه الصغیر مع التزامه بانه لم یذکر فیه الموضوع. (الموضوعات الکبریٰ للقاری ص۱۴۷ رقم حدیث: ۵۶۳)

﴿۲﴾قال الحافظ ابن حجر العسقلانی: قوله (باب التامین) یعنی قول آمین عقب الدعا ذکر فیه حدیث ابی هریرة اذا امن القاری فأمنوا، والمراد بالقاری...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د پټکي شرعي حیثیت او مقدار

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه پټکې به صرف د مونځ د پاره وهلې کیږي او که په نورو وختونو کښې به هم سنت وی؟ ددې شرعي حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: روح الامین فائنل شعبه نفسیات پشاور یونیورسټي

الجواب: پټکې د مونځ او بغیر د مونځ نه دواړو حالتونو کښې سنت دې﴿۱﴾ د پټکي څه شرعي اندازه نشته البته پیغمبر علیه السلام درې نیم ګزه او شپږ ګزه دوه قسمه (مختلف رنګونو والا) استعمال کړي دي. (سعایه و زرقانی) وهوالموفق

(بقیه حاشیه) هنا الامام اذا قرأ فی الصلاة ویحتمل ان یکون المراد بالقاری اعم من ذلک...... واخرج الحاکم عن حبیب بن مسلمة الفهری سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لا یجتمع ملأ فیدعو بعضهم ویؤمن بعضهم الا اجابهم الله تعالیٰ. (فتح الباری شرح صحیح البخاری ص۲۰۸ جلد۱۳ باب التامین)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قاریٔ. (ردالمحتار ص۴۸۸ جلد۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

﴿۲﴾ پټکي تړل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کښې یو سنت دې د پیغمبرانو او نیکانو خلقو د لباس حصه ده علامه قسطلاني لیکي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو پټکې وو چه هغې ته به ئې سحاب وئیلې او ددې پټکي لاندې به ئې په سر باندې تاؤ شوې ټوپۍ کیښودله. (المواهب مع زرقانی ص۹ جلد۵) او په شرح د مواهب کښې دي چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو پټکې شپږ ګزه او یو دولس ګزه وو او په سعایه کښې دي چه ملاعلی قاری رحمه الله په خپله رساله عمامه کښې ذکر کړې چه څمونږ بعضې حنفي علماؤ ذکر کړې چه پیغمبر علیه السلام به همیشه کوم پټکې استعمالولو د هغې اوږد والې د اوو ګزه او په جُمعه او اخترونو کښې به ئې دولس ګزه پټکې وهلو. او ددې تائید د علامه جزری د قول نه هم کیږي چه هغه په تصحیح المصابیح کښې ذکر کړې دې.

حتی اخبرنی من اثق به انه وقف علی شیئ من کلام الشیخ محی الدین النووی ذکر فیه انه علیه السلام کان له عمامة قصیرة وعمامة طویلة وان القصیرة کانت سبعة اذرع والطویلة اثنی عشر،

(باقی حاشیه په راروانه صفحه)

د فرض د ادا کولو نه پس د اللهم انت السلام په مقدار کیناستل یا دا وئیل دواړه ثابت دي.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د فرضو او سنتو په مینځ کښې د اللهم انت السلام په مقدار کیناستل سنت دي یا هم دا دعا وئیل سنت دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: لعل مرجان کوهاټ............ ۱۲۲رجب۱۳۹۳ھ

(بقیه حاشیه) حافظ ابن القیم په زاد المعاد (ص۷۲ جلد۱) او ملاعلي قاري په مرقاة کښې او مجد الشیرازی وغیره سیر والؤ ذکر کړي دي چه پیغمبر علیه السلام به څنګه ټوپۍ استعمالوله دغه شان به ئې عمامه هم استعمالوله نو پیغمبر علیه السلام پټکې اکثر د ټوپۍ د پاسه وهلو، او کله به ئې بغیر د پټکي نه صرف ټوپۍ هم پسر کوله. او بغیر د ټوپۍ نه به ئې پټکې هم وهلو او که دا اعتراض او کړیشي چه په ترمذي کښې مرفوع روایت دې. (ان فرق ما بیننا وبین المشرکین العمائم علی القلانس) نو د هغې ینو جواب محدثینو دا ذکر کړې دې چه امام ترمذی وئیلې دي. اسناده لیس بالقائم. او په منهاج السنن کښې دي چه دې حدیث کښې د پیغمبر علیه السلام په اعتجار باندې انکار مراد دې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم نه صرف په احرام کښې سرتور سر کیدل ثابت دي عام طور سره به د هغوي صلی الله علیه وسلم په سر باندې پټکې یا ټوپۍ پرته وه. او دا د فرشتو سنت دي په (تفسیر ابن کثیر ص۵۲۳ جلد۱) کښې څو روایتونه ددې متعلق راغلې دي صحابه کرامو به هم خپل سرونه په ټوپۍ یا عمامه سره پټول د عبدالله بن عتیک او عبدالله بن عدي نه د هر یو د عمامې ذکر په بخاري شریف کښې راغلې دې، دغه شان د حدیثو په کتابونو کښې د انس بن مالک عمار بن یاسر او حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه پشان صحابه کرامو د عمامې ذکر راغلې دې دغه شان د نورو صحابو د عمامې او شملې پریخودلو د کیفیت تذکره هم د حدیثو په کتابونو کښې موجود دي. د تابعینو او تبع تابعینو متعلق د عمامې استعمال روایت شوې دې ابن بطال مالکي رحمه الله فرمائي چه امام مالک بیان کړي دي چه هغوي یحيٰ بن سعید، ربیعه او ابن هرمند رحمه الله کښې هر یو پټکې وهونکې موندلې دي او زه د ربیعه په مجلس کښې ووم، په هغې کښې یو دیرش شرکاء وو هر یو پټکې وهونکې وو. حضرت حسن بصري رحمه الله فرمائي چه قوم به په عمامه او ټوپۍ باندې سجده کوله. (بخاري ص۵۶ جلد۱) ازمرتب.

الجواب: دومره اندازه باندې فصل کول هم سنت دي او اللهم انت السلام يا نور ماثور ذکرونه وئيل هم سنت دي (لثبوت کليهما بالحديث)﴿۱﴾ وهوالموفق

د سنتو او فرضو په مينځ کښې خوراک څښاک کول يا خبرې کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د سحر په مونځ کښې د فرضو او سنتو په مينځ کښې د ماسپښين دمونځ د سنتو او فرضو په مينځ کښې خوراک څښاک او خبرې کول جائز دي که نه؟ په دې سره د سنتو راګر ځول لازم دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي نصيب خان حسن خيل شمالي وزيرستان... ۱۰\۱۱نومبر ۱۹۸۹

الجواب: د فرضو او سنتو په مينځ کښې دا کارونه د ثواب کمونکې دي ليکن راګر ځولو باعث نه دي. (شرح التنوير على هامش ردالمحتار ص۴۵۷ جلد۱) ﴿۲﴾ وهوالموفق

په مونځ کښې د خشوع ختميدلو د خطرې د وجې نه سترګې پټول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه که د توجه او خشوع ساتلو دپاره په مونځ کښې سترګې پټې کړې شي نو په دې کښې به څه قباحت وي که نه؟ بنيوا توجروا

المستفتي: عبدالحليم بقلم خود.......... ۱۷\۱۱\۱۹۷۳ء

﴿۱﴾ وعن عائشة رضى الله عنها قالت كان رسول الله ﷺ اذا سلم لم يقعد الا مقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت يا ذا الجلال والاکرام رواه مسلم.

وعن ثوبان رضى الله عنه قال كان رسول الله ﷺ اذا انصرف من صلوته استغفر ثلثا وقال اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت يا ذاالجلال والاکرام رواه مسلم.

(مشکواة المصابيح ص۸۸ جلد۱ باب الذکر بعد الصلوٰة الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ولو تكلم بين السنة والفرض لا يسقطها ولكن ينقص ثوابها، وقيل تسقط. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۵۰۳ جلد۱ مبحث مهم فى الكلام على الضجعة بعد سنن الفجر باب الوتر والنوافل)

الجواب: که د سترګو کهلاؤ ساتلو وخت کښې د خشوع ختميدو خطره وي نو بندول يې جائز دي بلکه بهتر دي. (شامي ص ۲۰۴ جلد۱) ﴿۱﴾ وهوالموفق

امام د پاره د پټکي مقدار

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جمات د امام د پاره د پټکي مقدار کم نه کم څومره پکار دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مثل زاده ترلاندي صوابي: ۱۲\۵\۱۹۶۹ء

الجواب: د پيغمبر عليه السلام پټکې مختلف قسمونه کښې وو ليکن سنت په هريو پټکي سره اداکيږي لکه چه قميص، څادر اولنګ هر څومره چه وي سنت پرې اداکيږي دا ضروري نه ده چه دمنقول په اندازه باندې وي. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وتغميض عينيه للنهى الا لكمال الخشوع. (قوله الا لكمال الخشوع) بان خاف فوت الخشوع بسبب رؤية ما يفرق الخاطر فلا يكره بل قال بعض العلماء انه الاولى وليس ببعيد حلية وبحر. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۴۷۷ جلد۱ مطلب اذا تردد الحكم بين سنة وبدعة كان ترک السنة اولى، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها)

﴿۲﴾ العمامة ما اعتم بالرأس ولا حدلها شرعاً نعم ذكر فى شرح المواهب كانت له ﷺ عمامة قصيرة ستة اذرع وعمامة طويلة اثنا عشر ذراعاً وكما فى الطبرانى ولكن قال ابن حجر لا اصل له (مواهب ص۹۹) وفى السعاية ذكر على القارى فى رسالته فى العمامة ذكر بعض علماءنا الحنفية ان العمامة التى كان يلبس دائما طولها سبعة اذرع والتى تلبس فى الجمعة والعيدين طولها اثنتا عشرة ذراعا ويؤيده ما ذكره الجزرى فى تصحيح المصابيح قد تتبعت الكتب وتطلبت من كتب السير والتواريخ لا قف على قدر عمامته ﷺ فلم اقف على شيئ حتى اخبرنى من اثق به انه وقف على شيئ من كلام الشيخ محى الدين النووى ذكر فيه انه عليه السلام كان له عمامة قصيرة وعمامة طويلة وان القصيرة كانت سبعة اذرع والطويلة اثنى عشر (مواهب) وقال الشيخ احمد عبد الجواد الدومى عن ابن القيم: لم تكن عمامته ﷺ كبيرة يوذى الرأس حملها ولا صغيرة لا تقى الرأس من حر ولا برد بل كانت وسطاً بين ذلک وخير الامور الوسط (اتحافات ص۱۵۵). ......(ازمرتب)

د عمامې د دوۀ شملو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د عمامې دوه شملې پریخودل جائز دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: حامد انور..................۱۹۷۵ء۳۱۱۲۱

الجواب: بین الکتفین دوه عذبه (عذبه شمله عمامه) جائز دی ﴿۱﴾ (اشعة اللمعات شرح مشکوة). وهو الموفق

د عمامې د پاره درومال استعمال او د عمامې مقدار

سوال: ...ائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه نن صبا د رومال کوم رواج د... آیا ددې په سر باندې په تړلو سره د عمامې سنت ادا کیږي؟ او دغه شان د احادیثو په رڼا کښې دعمامې کم مقدار او زیات مقدار څومره ګزه پورې ثابت دې؟ او آیا عمامه صرف د امام د پاره سنت ده یا د مقتدي او منفرد د پاره هم؟ بینوا توجروا

المستفتي. حبیب ګل..............۱۹۷۴ء

الجواب: دا خبره دې واضحه وي چه عمامه پسر ول د هر مسلمان د پاره سنت دي (لثبوتها بالاحادیث القولیة) او فقهائې کرامو دا د مونځ په مستحباتو

﴿۱﴾ وفی المنهاج: وکما ثبت ارسال العذبة بین الکتفین کذلک ثبت ارسالها من الجانب الایمن نحو الاذن فی حدیث امامة، اخرجه الطبرانی فی الکبیر...... وکذلک ثبت ارخاء ها بین یدی المعتم ومن خلفه فی حدیث عبد الرحمن بن عوف رواه ابوداؤد وفی اسناده شیخ مجهول وفی حدیث ثوبان اخرجه الطبرانی فی الاوسط...... اعلم ان سدل الطرف الاسفل یسمی عذبة فی الاصطلاح واما غرز الطرف الاعلی وارساله من خلفه فیسمی عذبة لغة وهو ثابت فی روایة ابی الشیخ من روایة ابن عمر، کان رسول الله ﷺ یدیر کور العمامة علی راسه ویغرزها من وراءه ویرخی لها ذوابة بین کتفیه.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۲ جلد۵ باب سدل العمامة بین الکتفین)

کښې شمار کړې دي (کما في شرح الکبیر ص ۳۲۴﴿۱﴾ په دې کښې د امام او غیر امام حکم یو شان دې صرف د امام پورې خاص کېدل په څه دلیل سره نه دي ثابت ﴿۲﴾ او دا خبره هم ده چه عمامه هرهغې کپړې ته وائي، چه د سر نه تاو کړې شی، کما في التعلیق الممجد. او دا معنی په رومال کښې هم شته دې. لهذا د عربي لغت په رڼا کښې به دا عمامه وي، اګر چه څمونږ په لغت کښې دیته عمامه نه وئیلې کیږي. او دعمامې دپاره څه شرعاً مقدار نه دې مقرر نو د رومال په وړوکوالي باندې څه نقصان نه لازمیږي. البته ملاعلي قاری په مرقاة کښې لیکلې دي. چه د پیغمبر علیه السلام وړه عمامه اووه شرعي ګزه وه، او لویه عمامه دولس شرعي ګزه وه لیکن په دې سره دا نه لازمیږي چه ددې خاص مقدار نه کمه زیاته عمامه به مسنون نه وي. کما في الرداء و الازار. ﴿۳﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه حلبی: المستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة...... ولکن فیه ترک الاستحباب.

(غنیة المستملی ص۳۳۷ فصل فیما یکره فی الصلاة)

﴿۲﴾ قال العلامه عبد الحئی اللکهنوی: وقد ذکروا ان المستحب ان یصلی فی قمیص وازار وعمامة ولا یکره الاکتفاء بالقلنسوة ولا عبرة لما اشتهر بین العوام من کراهة ذلک.

(عمدة الرعایه علی هامش شرح الوقایه ص ۱۹۸ جلد ۱ قبیل باب الوتر والنوافل)

وفی منهاج السنن: ان العمامة سنة ولها فضیلة مثل سائر السنن الزائدة واما روایات فضیلة الصلوٰة فیها خمسا وعشرین صلاة او سبعین صلاة وعشرة الاف حسنة فباطلة وموضوعة صرح به القاری وغیره.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۲ جلد۵ باب سدل العمامة بین الکتفین)

﴿۳﴾ وفی منهاج السنن: والعمامة هی ما اعتم بالرأس ولاحد لها شرعا نعم ذکر فی شرح المواهب کانت له ﷺ عمامة قصیرة ستة اذرع عمامة طویلة اثنا عشر ذراعا وفی السعایة ذکر علی القاری فی رسالته فی العمامة ذکر بعض علماءنا الحنفیة ان العمامة التی کان یلبس دائما طولها سبعة اذرع والتی تلبس فی الجمعة والعیدین ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

سجدې ته تللو وخت کښې به لاسونه په زنګونانو ږدي که زوړند به ئې ساتي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي. چه پيغمبر عليه السلام به کله د قومې نه سجدې ته تللو نو لاسونه به ئې په زنګونانو کيښودل يا زوړند به وو؟ څمونږ دپاره بهتره طريقه کومه ده چه په زنګونانو باندې لاس کيښودلې شي يا زوړند لاسونه وي؟ بينوا توجروا المستفتي: نامعلوم.....۲۳/۸/۱۹۷۳ء

الجواب: د سجدې نه اوچتيدلو وخت کښې په پتونانو يا زنګونانو باندې ځان تينګول د حديث او فقهې نه ثابت دي. ﴿۱﴾ ليکن سجدې ته تللو وخت کښې اعتماد کول ثابت نه دي لهذا د عذرنه بغير داسې نه کول بهتر دي. وهو الموفق

ذکر اذکار د فرضو نه پس بهتر دي يا دسنتو نه پس؟

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د ماښام دمونځ نه پس

(بقيه حاشيه)طولها اثنا عشرة ذراعا ويويده ما ذكر الجزرى فى تصحيح المصابيح قد تتبعت الكتب وتطلبت من كتب السير والتواريخ لا قف على قدر عمامته عليه السلام فلم اقف على شئ حتى اخبرنى من اثق به انه وقف على شئ من كلام الشيخ محى الدين النووى ذكر فيه انه عليه السلام كان له عمامة قصيرة وعمامة طويلة وان القصيرة كانت سبعة اذرع والطويلة اثنى عشر انتهى. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۳۷ جلد ۱ باب مافى المسح على الجوربين والعمامة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: ويكره للنهوض على صدور قدميه بلا اعتماد وقعوده استراحة، قال ابن عابدين: (قوله بلا اعتماد) اى على الارض قال فى الكفاية اشار به الى خلاف الشافعى فى موضعين احدهما يعتمد بيديه على ركبتيه عندنا وعنده على الارض والثانى الجلسة الخفيفة قال شمس الائمة الحلوانى الخلاف فى الافضل حتى لو فعل كما هو مذهبنا لا بأس به عند الشافعى ولو فعل كما هو مذهبه لا بأس به عندنا كذا فى المحيط. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص۳۷۴ جلد ۱ باب آداب الصلاة)

درې ځلور ځلې کلمه شريفه او لوستله او آية الکرسي وغيره بيا دهغې نه پس مې دعا او غوښتله او دهغې نه پس مې سنت ادا کړل نو آيا دا صحيح ده که د فرضو نه پس سمدستي سنت کول ضروري دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: علي شاه.......۱۹مارچ ۱۹۷۵

الجواب: د سنتو نه پس افضل دي ﴿۱﴾ البته فرضو پسې سمدستي لوستل هم جائز دي، وهوالموفق

د امام د پاره (ربنا لک الحمد) وئيل اونه وئيل دواړه جائز دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه امام به د سمع الله لمن حمده نه پس (ربنا لک الحمد) وائی که نه؟ که اووائی نو په مونځ کښې ورسره فرق راځي که نه؟ بينوا توجروا. المستفتي: عزيز الحق پوسټ بکس نمبر ۱۴۲۱ جده سعودي عرب

الجواب: امام د سمع الله لمن حمده نه پس ربنا لک الحمد وئيلې شي. څمونږ مذهب کښې دې مسئلې کښې اختلاف دې دې کښې توسع ده ډيرو فقهاؤ وئيلو ته ترجيح ورکړې ده. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د امام نه د پټکي دو هلو او مونځ ورکولو مطالبه کول صحيح نه ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړې د خلقو په مخکښې دا اووائي چه په سر باندې پټکې کيښودل د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت دې او کوم علماء چه په سر باندې پټکې نه ږدي هغه لعنتيان او خبيثان دي،

﴿۱﴾ قال العلامه حسن بن عمار الشرنبلالى: قال الكمال عن شمس الائمة الحلوانى انه قال لابأس بقراءة الاوراد بين الفريضة والسنة فالاولى تاخير الاوراد عن السنة، فهذا ينفى الكراهة. (مراقى الفلاح شرح نور الايضاح ص۳۱۲ فصل فى صفة الاذكار)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله لغيره) اى لمؤتم ومنفرد لكن سيأتى ان المعتمد ان المنفرد يجمع بين التسميع والتحميد وكذا الامام عندهما وهو رواية عن الامام جزم بها الشرنبلالى فى مقدمته. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۵۳ جلد ۱ باب صفة الصلاة)

ددې ویونکي څه حکم دی؟ ځکه چه ځمونږ په معاشره کښې اکثر علماء پټکي نه وهي بلکه اکثر ټوپۍ یا قراقلي اچوي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرزاق پی او ایف واه کینټ......۱۹۹۱ء/۱۱/۹

الجواب: عمامه تړل سنت رسول ﷺ او سنتِ ملائکه دي. ﴿۲﴾ او ددې تړل د هر مسلمان د پاره سنت زائده او مستحب دي. ﴿۳﴾ د علمائې کرامو یا ائمه کرامو پورې ددې خاص کول غلطي ده ﴿۴﴾ البته د کېږې او ځرمنې ټوپۍ

﴿۱﴾ فی منهاج السنن: ان العمامة سنة ولها فضیلة مثل سائر السنن الزائدة واما روایات فضیلة الصلوٰة فیها خمساً وعشرین صلاة او سبعین صلاة وعشرة آلاف حسنة فباطلة وموضوعة صرح به القاری وغیره، وتمام هذه المسائل فی التحفة الاحوذی.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۲ جلد۵ باب سدل العمامة بین الکتفین)

﴿۲﴾ قال العلامه حافظ ابن کثیر: (قوله من الملائکة مسومین) قال معلمین وکان سیما الملائکة یوم بدر عمائم سود ویوم حنین عمائم حمر وروی من حدیث حصین بن مخارق عن سعید عن الحکم عن مقسم عن ابن عباس قال لم تقاتل الملائکة الا یوم بدر...... عن ابن عباس قال کان سیما الملائکة یوم بدر عمائم بیض قد ارسلوها فی ظهورهم ویوم حنین عمائم حمر ......حدثنا هشام بن عروة عن یحیٰ بن عباد ان الزبیر رضی الله عنه کان علیه یوم بدر عمامة صفراء مقعجرا بها فنزلت الملائکة علیهم عمائم صفر.

(تفسیر ابن کثیر ص ۵۲۳ جلد ۱ سوره آل عمران آیت ۱۲۵)

﴿۳﴾ قال فی شرح الوقایه: السنة ما واظب النبی علیه السلام علیه مع الترک احیانا فان کانت المواظبة المذکورة علی سبیل العبادة فسنن الهدیٰ وان کانت علی سبیل العادة فسنن الزوائد کلبس الثیاب والاکل بالیمین وتقدیم الرجل الیمنیٰ فی الدخول ونحو ذلک.

(شرح الوقایه ص ۶۹ جلد ۱ الولاء والتیامن فی الوضوء کتاب الطهارة)

﴿۴﴾ قال العلامه حسن بن عمار بن علی: والمستحب ان یصلی فی ثلاثة اثواب ازار وقمیص وعمامة وقال الزیلعی والافضل ان یصلی فی ثوبین لقوله علیه السلام اذا کان لاحدکم ثوبان فلیصل فیهما یعنی مع العمامة لانه یکره مکشوف الرأس.

(امداد الفتاح شرح نور الایضاح ص ۲۲۹ باب شروط الصلوٰة وارکانها)

باندې کفایت کول جائز دي. ﴿۱﴾ او کوم سړي چه ئې بالکل پرېږدي یا د سپکوالي او بې پرواهي او ناراستئ په وجه ئې بالکلیه پرېږدي نو هغه د بیهقي د حدیث ,, لعنتهم ولعنهم الله وکل نبی یجاب والتارک لسنتی،، په وجه باندې ملعون دي ﴿۲﴾

نوټ: د ماحول او معاشرې په وجه باندې سنتِ رسول پرېښودل د ضعیف ترین ایمان علامت دي. فقط

﴿۱﴾ وقال فی منهاج السنن: فی الغرائب رجل صلی مع قلنسوة ولیس فوقها عمامة او شئ آخر یکره وما ذکره الفردوس الدیلمی عن جابر رکعتان بعمامة خیر من سبعین رکعة بلا عمامة، وبالجملة ان ترک العمامة ترک الاولیٰ نعم جاز ترک مالایکون مطلوباً شرعا عند مصلحة العوام.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۲۵ جلد۲ باب ماجاء فی الصلوٰة فی الثوب الواحد)

﴿۲﴾ وقال فی منهاج السنن: ذکر العلی القاری ایضا والمجد الشیرازی وغیرهما من ارباب السیر ان النبی ﷺ کان یلبس القلانس تحت العمائم وبغیر العمائم ویلبس العمائم بغیر القلانس انتهیٰ، فان قیل قد روی الترمذی مرفوعا ان فرق ما بیننا وبین المشرکین العمائم علی القلانس قلنا قال الترمذی اسناده لیس بالقائم وقیل قصده ﷺ الانکار علی الاعتجار. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۳۷ جلد ۱ باب ماجاء فی المسح علی الجوربین والعمامة)

قال العلامه عبد الحئی اللکهنوی: وقد ذکروا ان المستحب ان یصلی فی قمیص وازار وعمامة ولایکره الاکتفاء بالقلنسوة ولا عبرة لما اشتهر بین العوام من کراهته ذلک. (عمدة الرعایه علی هامش شرح الوقایه ص ۱۹۸ جلد ۱ قبیل باب الوتر النوافل)

....

....

باب تسوية الصفوف

آیا یو نابالغ به د بالغینو په صف کښې اودریږي؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کله د بالغینو په صف کښې ځائي وي او نابالغ یواځې وي نو د بالغینو په صف کښې او دریدلې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: کرک استاد بهرت بنوں.....۱۹۷۵ء۱۱۱۱۱۰۲

الجواب: دا نابالغه د بالغینو په صف کښې اودریدلې شي (کما في الدر المختار)﴿۱﴾ وهو الموفق

په مخکښې ځائې قبضه کول او قرآن ته د شاکولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) چه یو کس دپاره د جمات په اولني صف کښې رومال یا ټو پۍ کیښنودل د ځائې قبضه کولو د پاره ښځه دي (۲) په مخکښې صف کښې مونځ گزارناست دي او زید روستو صف کښې ناست دې په قرآن مجید کښې تلاوت کوي چه د هغې په وجه دخلقو شاګانې قرآن مجید طرفته کیږي نو آیا د زید دا طریقه جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمان، حمیدْ علي پارک اچره لاهور.....۸۱۹۱۱۹۸۷

جواب (۱) دا منع نه دي البته څوک د خپل ځائي نه پاڅول مکروه دي.﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال الحصكفى ثم الصبيان ظاهره تعددهم فلو واحداً دخل الصف. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۴۲۲ جلد ۱ مطلب فى الكلام على الصف الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين : (قوله وليس له) قال فى القنية له فى المسجد موضع معين يواظب عليه وقد شغله غيره قال الا وزاعى له ان يزعجه وليس له ذلك عندنا، اى لان المسجد ليس ملكا لاحد بحر عن النهاية قلت ......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۲) قران مجید او دینی کتابو نو طرفته ښپې خورول مکروه دي شا کول ورته مکروه نه دي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د سختې ګرمۍ دوجې نه اولنې صف پریخودل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د یوجمات په یو حصه باندې چت دې او جنوبي حصه بغیر د چت نه ده اوس یو مشر عالم دین خلق په زور باندې په ګرمۍ کښې په اولني صف کښې په اودریدو باندې مجبورکوي چه د اولني صف فضیلت زیات دې او حال دا چه ګرمي هم سخته ده نودې صورت کښې به مقتدیان څه کوي؟ بینوا توجرو

المستفتي: فضل حلیم بو نیر.....۲۹۱۷۱۱۹۷۸

الجواب: د سختې ګرمۍ د وجې نه د جماعت پریخو دل هم جائز دي﴿۲﴾ نو اولني صف پریخودل به ولې جائز نه وي؟ البته چه کله ګرمي د برداشت قابله وي نو د اولني صف فضیلت حاصلول پکار دي. (لان من ابتلى ببليتين فليختر اهونهما). فافهم

(بقيه حاشيه) وينبغى تقييده بما اذا لم يقم عنه على نية العود بلا مهلة كما لو قام للوضوء مثلا ولا سيما اذا وضع فيه ثوب لتحقق سبق يده تأمل.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۹۰ جلد ۱ قبيل باب الوتر والنوافل)

﴿۱﴾ وفى الهنديه: مد الرجلين الى جانب المصحف ان لم يكن بحذائه لا يكره وكذا لو كان المصحف معلقا فى الوتد وهو قد مد الرجل الى ذلك الجانب لا يكره كذا فى الغرائب. (فتاوىٰ عالمگیریه ص ۳۲۲ جلد ۵ الباب الخامس فى آداب المسجد والقبلة والمصحف الخ)

﴿۲﴾ قال الحصكفى: ولا (يجب الجماعة) على من حال بينه وبينها مطر وطين وبرد شديد قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وبرد شديد) لم يذكرا الحر الشديد ايضا ولم ارمن ذكره من علمائنا ولعل وجهه ان الحر الشديد انما يحصل غالبا فى صلاة الظهر وقد كفينا مونته بسنية الابراد نعم قد يقال لو ترك الامام هذه السنة وصلى فى اول الوقت كان الحر الشديد عذر تأمل.

(ردالمحتار ص ۴۱۱ جلد ۱ باب الامامة)

قسم کښې حانث کیدلو واله سره په صف کښې مونځ کول جائز دي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې د جمعې د مونځ نه پس په جمات کښې قسم اوخوړولو چه فلانکې کار به کووم. اوس هغه د قسم نه خلاف کوي او هغه کار نه کوي. نو آیا ده سره په یو صف کښې د جمعې مونځ کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: زردار خان حویلیان هزاره..... ۱۴۱۸۱۱۹۷۲

الجواب: داهل سنت والجماعت دا مسلک دې چه دګناه په وجه باندې نیکئ ته نقصان نه رسیږي ﴿۱﴾. او دګناه په وجه باندې څوک د نیک کار نه بندول ګناه ده. لهذا ددې وعدې خلاف کونکې سړې مونځ صحیح دې او دې د جمات نه ویستل او صف نه ویستل لویه ګناه ده ددې نه بچ کیدل ضروري دي. البته د فاسقانو سره تعلقات ختمول پکار دي چه هغوي د خپلو کارونو نه واپس شي او توبه اوباسي. فقط

د جمات په ډکیدلو باندې د سړک بل طرفته صفونه جوړول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه که جمات د خلقو نه

﴿۱﴾ قال الامام نعمان بن ثابت: نقول المسئلة مبينة مفصلة: من عمل حسنة بشرائطها خالية عن العيوب المفسدة والمعانى المبطلة ولم يبطلها حتى خرج من الدنيا فان الله تعالىٰ لا يضيعها بل يقبلها منه ويثيبه عليها وما كان من السيئات دون الشرک والكفر ولم يتب عنها حتى مات مؤمنا فانه فى مشيئة الله تعالىٰ ان شاء عذبه وان شاء عفاعنه ولم يعذبه بالنار ابداً، قال الملا على قارى فى شرحه: وفى اقتصار حكم الامام الاعظم رحمه الله على الرياء والعجب دون سائر الآثام اشعار بان باقى السيئات لا تبطل الحسنات بل قال الله تعالىٰ: ان الحسنات يذهبن السيئات وذلک للحديث القدسى سبقت رحمتى غضبى.
(شرح القارى على الفقه الاكبر ص۷۷، ۷۸ الطاعات بشروطها مقبولة الخ)

ډک شي او دجمات مشرقي طرفته په څوارلس فټه کښې متصل سړک دې خلق دومره فاصله پریږدي او بل طرفته صفونه جوړوي نو ددې خلقو د اقتداء څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد وزیربټګرام هزاره...... ۱۲۳صفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: دې خلقو باندې ضروري ده چه دا فاصله ډکه کړي او مونځ اوکړي ګني نو اقتداء به ئې صحیح نه وي.

لمافى الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۵۴۷ جلد ۱ ويمنع من الاقتداء طريق تجرى فيه عجلة او نهر...... يسع صفين فاكثر الا اذا اتصلت الصفوف فيصح مطلقا ﴿۱﴾
او که په عیدګاه کښې داسې فاصله وي نو اداکیږي (لما في الهندیه ص ۸۷ جلد ۱) ﴿۲﴾ وهو الموفق

په صفونو کښې د بوډاګانو. حوانانو. ماشومانو اوښځو ترتیب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په مونځ کښې به په اولنې صف کښې بوډاګان بیا ځوانان بیا ماشومان او په آخري صف کښې به ښځې اودریږي ددې شرعي څه ثبوت دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: ولي الله تبوک سعودي عرب. ۱۴۰۲

الجواب: دا مسئله صحیح ده په حدیث شریف کښې راغلي دي (ليلنى منكم اولوا الاحلام والنهى ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم، رواه مسلم) ﴿۳﴾ نو اهل

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۴۳۳ جلد ۱ باب الامامة مطلب الكافى للحاكم جمع كلام محمد فى كتبه التى هى ظاهر الرواية)
﴿۲﴾ وفى الهنديه: وفى مصلى العيد الفاصل لا يمنع الاقتداء وان كان يسع فيه الصفين او اكثر. (فتاوىٰ هنديه ص۸۷ جلد ۱ الفصل الرابع فى بيان ما يمنع صحة الاقتداء وما لا يمنع)
﴿۳﴾ (مشكواة المصابيح ص۹۸ جلد ۱ باب تسوية الصف الفصل الاول)

علم او اهل عقل به درجه په درجه صفونه جوړوي مثلاً اول سړي بالغان بيا نابالغه وغيره ﴿۱﴾

په شاتني صف كښې يواځې اودريدل اود مخكښې صف نه سړي راروستو كول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چې كله اولنې صف ډك شي اوروستو يو مونځ گذار راشي د دويم د راتللو اميد نه وي نو دې صورت كښې د اولني صف نه مونځ كونكي شاته راښكل ضروري دي كه نه؟ او كه دغه شان اونه كړي نو ځان له اودريدل مكروه تحريمي دي يا تنزيهي؟ بينوا توجروا

المستفتي: اكرام الحق نشتر آباد راولپنډي..... ۱۲\ذي الحجه ۱۳۸۹ھ

الجواب: په دې زمانه كښې بهتر داده چه يواځې اودريږي. (فليراجع الى الشرح الكبيرى ص۳۱۷﴿۲﴾ وردالمحتار ص۶۰۵ جلد۱، ناقلاً عن القنيه) او بعضې فقهاؤ فرمائيلي دي چه كه په صف كښې څوك پوهه سړې ووهغه دې راروستو كړې گينى يواځې دې اودريږي. (ردالمحتار ص ۵۰۶)﴿۳﴾ او د اصل حكم متعلق تصريح ملاؤ نه شوه. ليكن ظاهري طور سره كراهتِ تنزيهي معلو ميږي ځكه چه د خالي والي موجود كيدلو سره سره هم پيغمبر عليه لسلام د مونځ راگرځولو حكم نه دې كړې نود فُرجې (خالي والي) نه موجوديدلو وخت كښې به حكم اسان وي. فقط

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله : الرجال ثم الصبيان ثم الخناثى ثم النساء. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۴۲۲ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحلبى رحمه الله: والقيام وحده اولى فى زماننا لغلبة الجهل على العوام فاذاجره يفسد صلوته انتهىٰ. (الشرح الكبير ص ۳۴۹ فصل فى بيان ما الذى يكره فعله فى الصلاة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: وقد منا كراهة القيام فى صف فيه فرجة بل يجذب احدامن الصف ذكره ابن الكمال لكن قالوا فى زماننا تركه اولىٰ فلذا قال فى البحر يكره وحده الا اذا لم يجد فرجة (قوله وقد منا) اى فى باب الامامة عند قوله ويصف الرجال حيث قال ولو صلى على رفوف المسجدان وجد فى صحنه مكانا كره كقيامه فى صف خلف صف فيه فرجة، ولعله يشير بذلك الى انه لو لا العذر المذكور كان انفراد المأموم مكروها (قوله لكن قالوا) القائل صاحب القنية فانه......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

امام پسې چه صف پوره شي نو دويم صف كښې يواځې اودريدل

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي جه كه د پيش امام شاته يو صف پوره شي نو مقتدي په دويم صف كښې يواځې اودريدلې شي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد سليم صديقي پوسټ نمبر ۶۳۰ مسقط عمان..... ۵\۱۱\۱۹۷۴

الجواب: په صف كښې يواځې اودريدل مكروه دي ﴿۱﴾ ليكن مونځ صحيح دې. لحديث زادك الله حرصاً ولا تعد ﴿۲﴾ ولم يامره بالاعادة ههنا﴿۳﴾. فافهم. وهوالموفق

(بقيه حاشيه) عزا الى بعض الكتب اتى جماعة ولم يجد فى الصف فرجة قيل يقوم وحده ويعذر وقيل يجذب واحدا من الصف الى نفسه فيقف بجنبه والاصح ماروى هشام عن محمد انه ينتظر الى الركوع فان جاء رجل والاجذب اليه رجلا او دخل فى الصف ثم قال فى القنية والقيام وحده اولىٰ فى زماننا لغلبة الجهل على العوام فاذا جره تفسد صلاته. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۷۸ جلد ۱ باب من يفسد الصلاة ومايكره فيها)

﴿۱﴾ قال العلامه حصكفى: وقد منا كراهة القيام فى صف خلف صف فيه فرجة للنهى وكذا القيام منفرداً وان لم يجد فرجة بل يجذب احداً من الصف ذكره ابن الكمال لكن قالوا فى زماننا تركه اولىٰ. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۴۷۸ جلد ۱ باب مكروهات الصلاة)

﴿۲﴾ وعن ابى بكرة انه انتهىٰ الى النبى ﷺ وهو راكع فركع قبل ان يصل الى الصف ثم مشى الى الصف فذكر ذلك للنبى ﷺ فقال زادك الله حرصا ولا تعد رواه البخارى. (مشكواة المصابيح ص ۹۹ جلد ۱ الفصل الاول باب الموقف)

﴿۳﴾ قال العلامه على بن سلطان محمد: ذهب الجمهور الى ان الانفراد خلف الصف مكروه غير مبطل وقال النخعى وحماد وابن ابى ليلى ووكيع واحمد مبطل والحديث حجة عليهم فانه عليه السلام لم يأمره بالاعادة ولو كان الانفراد مفسداً لم تكن صلاته منعقدة لاقتران المفسد بتحريمتها. (مرقاة المفاتيح شرح مشكواة ص ۱۸۵ جلد ۳ قبيل الفصل الثانى باب الموقف)

په جمات کښې د مونځ ادا کونکي مخې ته
د جمات نه بهر يا دننه د تيريدلو حکم

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړې په جماعت کښې دننه يا په صحن (غولې. انګړ) کښې مونځ کوي او دويم سړې د جماعت نه بهر لرې مخامخ تيريږي آيا هغه به ګناه ګاروي او دغه شان د جمات او غير جمات څه فرق شته دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: حبيب الله.. ۳۰۱۳۱۷۴

الجواب: محقق ابن همام دا غوره کړې چه په جمات او غير جمات کښې فرق نشته يعني په جمات کښې هم لرې لرې تيريدل جائز دي (اى ما لايقع عليه بصر المصلى الخاشع) (کمافى فتح القدير ص۲۸۸ جلد۱) ﴿۱﴾ وهو الموفق

که يو کس په اولني صف کښې سنت شروع کړل
او جماعت اودريدلو نو څه به کوي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چې يو سړې په اولني صف کښې سنت شروع کړي او لږ ساعت پس جماعت اودريږي اوس صف خو يودې نو دا سړې به سنت پوره کړي او جماعت کښې به شريک شي يا سنت پريږدي شا ته لاړ شي سنت اوکړي بيا په فرض جماعت کښې شريک شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الغني.... ۳ جون ۱۹۷۵

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: وفى النهاية الاصح انه ان كان بحال لو صلى صلاة الخاشعين نحو ان يكون بصره فى قيامه فى موضع سجوده وفى موضع قدميه فى ركوعه والى ارنبة انفه فى سجوده فى حجره فى قعوده والى منكبه فى سلامه لا يقع بصره على المار لا يكره ومختار السرخسى مافى الهدايه وما صحح فى النهاية مختار فخر الاسلام رجحه فى النهاية. (فتح القدير ص ۳۵۴ جلد ۱ باب ما يفسد الصلاة ومايكره فيها)

الجواب: سنت دې اوکړي او امام سره دې شريک شي (ردالمحتار) ﴿۱﴾ وهوالموفق

په صفونو کښې د اوګو او ګيټو ملاوهلونه مراد برابرول دي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په مونځ کښې ګيټې او اوګې ملاوهل پکار دي يابغير د ملاوولو نه اودريدل پکار دي؟ او حال دا چه دا دواړه په يو وخت کښې ملاوول ګران دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام حيدر چارسده...

الجواب: صفونه نيغ ساتل مطلوب دي اوکومو روايتونو کښې چه کعب د کعب سره اوګه د اوګې سره او رکبة د رکبة سره د ملاوولو حکم راغلې دې د هغې نه مراد برابرول دي دا نه چه حقيقي معنى ئې مراد ده.

لانها متعذر فى آنٍ واحد، فافهم ﴿۲﴾ وفى البحر ص ۳۵۳ جلد ۱ وينبغى للقوم اذا قاموا الى الصلوٰة ان يتراصوا ويسدوا الخلل ويسووا بين مناكبهم فى الصفوف ﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قال فى شرح المنية والا وجه ان يتمها لانها ان كانت صلاة واحدة فظاهر الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۵۲۸ جلد ۱ قبيل مطلب فى كراهة الخروج من المسجد بعد الاذان باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾ وفى المنهاج: واما الزاق المنكب بالمنكب والركبة بالركبة والكعب بالكعب فالمراد منه المحاذاة دون المعنى الظاهر بدليل ماروا ه ابوداؤد وحاذوا بين المناكب وحاذوا بالاعناق...... واما ما يفعله اهل الظاهر من حمل الا لزاق على الحقيقة فلا سلف لهم فيه على ان الزاق الكعب بالكعب والركبة بالركبة والمنكب بالمنكب حقيقة فى وقت واحد عسير جداً بل محال.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۰۳ جلد۲ باب ماجاء فى اقامة الصفوف)

﴿۳﴾ (البحر الرائق ص ۳۵۳ جلد ۱ باب الامامة)

بغیر د ضرورت نه صفونه پریخودل او د امام نه لرې اودریدل

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو سړې جمات ته راشي او د امام په اقتداء کښې نيت اوتړي خو صف پريږدي او ځان له اودريږي نو ددې کس د مونځ څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالرحيم پيښور ښار

الجواب: که ذا سړې صفونه پريږدي او يوائې د امام اقتداء کوي نو دده مونځ جائز خو خلاف اولی دې.

كما فى الهنديه ص۸۸ جلد۱ ولو اقتدى بالامام فى اقصى المسجد والامام فى المحراب فانه يجوز كذا فى شرح الطحاوى وان قام على سطح داره المتصل بالمسجد لا يصح اقتداءه ﴿۱﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاوىٰ عالمگيريه ص۸۸ جلد۱ الفصل الرابع فى بيان مايمنع صحة الاقتداء وما لا يمنع

....

باب الامامة

فصل فى الجماعة

تارک الجماعت فاسق او منافق دي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په جمات کښې روزانه اذان کيږي او دَ کلي خلق اذان اوري او جمات ته حاضرى نه کوى او دَ اذان دَ مطلب او مقصد نه هم خبر دى. دَ داسې خلقو د پاره شرعى حکم څه دې؟

بينوا توجروا

المستفتي: محمد نذير عباسى ساكن ڈهير آزاد کشمير..... ۲۰/محرم ۱۳۹۲هـ.

الجواب: تارک الجماعت فاسق ﴿۱﴾. او منافق دي. ﴿۲﴾ .وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجيم: وذكر فى غاية البيان معزيا الى الاجناس ان تارک الجماعة يستوجب اساءة ولا تقبل شهادته اذا تركها استخفافا بذلک ومجانة اما اذا تركها سهوا او تركها بتاويل بان يكون الامام من اهل الاهواء او مخالفا لمذهب المقتدى لا يراعى مذهبه فلا يستوجب الاساءة وتقبل شهادته.

(البحر الرائق ص۳۴۵ جلد۱ باب الامامة

﴿۲﴾ عن عبد الله بن مسعود قال لقد رائيتنا وما يتخلف عن الصلاة الا منافق قد علم نفاقه او مريض ان كان المريض ليمشى بين رجلين حتى يأتى الصلاة وقال ان رسول الله ﷺ علمنا سنن الهدىٰ وان من سنن الهدىٰ الصلاة فى المسجد الذى يوذن فيه.

(مشكواة المصابيح ص۹۶ جلد۱ باب الجماعة الفصل الثالث

...

څوک فاسق او فاجر به دجمعې دمونځ نه نشي منع کولي

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی خپلې ښځې ته بدعی طلاق یعنی درې طلاقه ورکړل. چه دهغې متعلق د علاقه کشمیر ټولو علمائي کرامو دښځې او خاوند په مینځ کښې دجدائیځ حکم کړې دې. لیکن هغه دواړه پیښور ته لاړل او هلته کښې دواړه اوسیږی او په زنا کښې اخته دی. ددې ټولو خبرو اقرار دغې سړی پلار هم کړې دې او د ماسپخین د مونځ نه پس ئې دامام صاحب دټپوس په جواب کښې اووئیل چه ورسره په م ښادئ کښې شریک یم او تعلق ورسره ساتم. او هغوی سره تګ راتګ هم کیږی. نو د جماعت امام صاحب مونځ واپس راوګرځولو او دهغه پلار ته ئې اووئیل چه ترڅو پورې تادخپل ځوئ سره تعلق پریخودې نه وی نو دجمعې مونځ ته مه راځه. دغې سړی بل جمات ته دمونځ دپاره تلل شروع کړل دهغه دویم جمات امام ورته اووئیل چه ستا مونځ جائز دې صرف په پلار والی باندې کافر کیږې نه. نو اوس ددې مسئلې حقیقت څه دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: صاحب حق کانګړه شبقدر فورټ پیښور .. ۲۰/جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ.

الجواب: ددې طلاق دورکونکی پلار دجمعې دمونځ یا جمات نه منع کول حرام دی الله تعالی فرمائی.

ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه ﴿۱﴾ وقال ارء یت الذی ینهیٰ عبداً اذاصلیٰ ﴿۲﴾ وایضاً ما منع النبی ﷺ الثلثة الذین خلفوا عن المسجد والجماعة ﴿۳﴾ دغه شان ددې کار اعاده بالکل د ناپوهئ نتیجه ده. او دداسې تعزیر پوره کول ډیر زیات ګران دی. ځکه چه فسق او فجور صرف زنانه ده بلکه جواری کول شراب څکل، سودی کار کول، ډیره خرئیل او مونځ باقاعده نه کول دا ټول

﴿۱﴾ (سورة البقرة پاره: ۱ آیت: ۱۱۴ رکوع: ۱۴)
﴿۲﴾ (سورة العلق پاره: ۳۰ آیت: ۹، ۱۰ رکوع: ۲۱)
﴿۳﴾ (الصحیح البخاری ص ۶۳۵ جلد ۲ باب حدیث کعب بن مالک کتاب المغازی)

کارونه موجب د فسق دی. نو دوی دجمات او مونځ نه ولې نه منع کوی. مختصر دا چه دویم امام په حقه دې او په دې سړی (یعنی پلار) او نورو مسلمانانو باندې ضروری دی چه ددې زناکار سره تعلق ختم کړی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د "من ام قوما وهم له کارهون" او "صلوا خلف کل بر وفاجر" حدیثونو کښې تطبیق

سوال: ما یقول العلماء الراسخون فی هذه المسئلة ان الامام اذا صار فاسقا بعد ما تقلدوه عادلاً هل یستحق العزل، وهل یجوز لاهل الحل والعقد من اهل المحلة ان یعزلوه استدلالا بقوله علیه السلام لا یقبل صلوٰة من ام قوما وهم له کارهون؟ وبعضهم یقولون یجوز الصلوٰة خلفه ولا یستحق العزل استدلالا بقوله علیه السلام صلوا خلف کل بروفاجر، فما التطبیق بین الحدیثین؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید حبیب شاه معرفت شیخ الحدیث مولانا محمد احمد صاحب شیر گڑھ ۱۹۷۳ء/۳/۱۹

جواب: اعلم ان الصلوٰة جائزة خلف الفاسق لقوله علیه السلام صلوا خلف کل بروفاجر (الحدیث) ﴿۲﴾ لکنها مکروهة تحریماً کما فی منحة الخالق علی

﴿۱﴾ قال القاری علی بن سلطان محمد: رخص للمسلم ان یغضب علی اخیه ثلاث لیال لقلته ولا یجوز فوقها الا اذا کان الهجر ان فی حق من حقوق الله تعالیٰ فیجوز فوق ذلک...... واجمع العلماء علی ان من خاف من مکالمة احد وصلته ما یفسد علیه دینه او یدخل مضرة فی دنیاه یجوز له مجانبته وبعده ورب صرم جمیل خیر من مخالطة تؤذیه...... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة علی مر الاوقات ما لم یظهر منه التوبة والرجوع الی الحق، فانه ﷺ لما خاف علی کعب بن مالک واصحابه النفاق حین تخلفوا عن غزوة تبوک امر بهجر انهم خمسین یوماً. (مرقاة المفاتیح شرح مشکوٰة ص ۷۵۹ جلد ۸ باب ماینهی عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

﴿۲﴾ (اخرجه البیهقی کتاب الجنائز باب الصلوٰة علی من قتل نفسه غیر مستحل لقتلها (ص ۱۹ جلد ۴) والدارقطنی باب صفة من تجوز الصلاة......(بقیه حاشیه په بله صفحه)

هامش البحر ص ۳۴۹ جلد ۱، قال الرملی ذکر الحلبی ف شرح منیة المصلی ان کراهة تقدیم الفاسق والمبتدع کراهة التحریم انتهیٰ﴿۱﴾ قلت وهذا عند وجود غیر الفاسق لما فی البحر ص ۳۴۹ جلد ۱ وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة کما لا یخفیٰ﴿۲﴾ وجاز عزله عند عدم الفتنة کما یدل علیه ما فی ردالمحتار ص ۵۰۲ جلد ۱ واذا قلد عدلا ثم جار وفسق لا ینعزل ولکن یستحب العزل ان لم یستلزم فتنة انتهیٰ﴿۳﴾ قلت وجه الدلالة واضحة لان امام الحی ادون حالا من الامام الکبیر وقلت ایضا هذا عند تحقق الامام الغیر الفاسق والا فلا ضیر فیه فافهم. وهو الموفق

په کومو صورتونو کښې دَ جمعې پریخودل جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په لاندینی صورتونو کښې سړې جمات ته لاړشی دَجمعې سره مونځ اوکړی یا په کور کښې پاتې شی اوځان له مونځ اوکړی. (۱). چه ښځې ته دَخاوند په غیرموجودګئ کښې دَ تکلیف رسیدلو غالب ګمان وی. (۲). ښځې ته دَخاوند په غیرموجودګئ کښې دَتکلیف رسیدلو شک وی. (۳). ښځې ته دَخاوند په غیرموجودګئ کښې صرف دَطبیعت دَخرابیدلو خطره وی. (۴). چا سره دَوعدې پوره کولو وخت وی.

(بقیه حاشیه) معه والصلاة علیه ص۵۷ جلد ۲ وبنحوه اخرجه الطبرانی فی الکبیر رقم: ۱۳۶۲۲ (حاشیه امداد الفتاح ص ۲۴۴ بیان من تکره امامتهم) وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ الجهاد واجب علیکم مع کل امیر برا کان اوفاجرا وان عمل الکبائر والصلاة واجبة علیکم خلف کل مسلم برا کان او فاجرا وان عمل الکبائر ...... رواه ابوداؤد. (مشکواة المصابیح ص ۱۰۰ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۱﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۵ جلد ۱ باب الامامة)

(۵). سخت معذوره دې په جمات کښې ستر"وغیره ښکاره کیږی. تفصیلی جواب راولیګئ، ډیره مهربانی به وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالحمید ایس وی درازنده ډیره اسماعیل خان ۲۵/۲/۱۹۷۲ء

الجواب: په اولنی اوآخرنی صورت کښې دَجمعې پریخودل جائز دی ﴿۱﴾ فقط.

دَ"اقتداء" دَصحیح والی دپاره دَ امام رضامندی شرط نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو امام دَخپلو مقتدیانو نه دَتنخواه مطالبه اوکړی او اووائی چه څوک دَتنخواه ورکولو نه انکاریان وی هغوی دې ماپسې مونځ نه کوی. دَشریعت په رنړا کښې ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: غنی الرحمن ارمړپایان نوشهره.

الجواب: دَامامت په عوض کښې اجرت (تنخواه) اخستل او ورکول جائز دی ﴿۲﴾. البته امام پسې دَاقتداء دَصحیح والی دپاره ددغې امام رضامندی شرط نه ده. ﴿۳﴾. وهو الموفق.

که ځان له ئې دَ مازیګر مونځ کړې وی نو
په دویم ځل به ئې دَ جمعې سره نه کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو سړې ځان له دَ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا علی من حال بینه وبینها مطر وطین وبرد شدید وظلمة کذلک وریح لیلا لا نهارا وخوف علی ماله او من غریم او ظالم او مدافعة احد الاخبثین، قال ابن عابدین (قوله او ظالم) یخافه علی نفسه او ماله. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۱۱۴ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویفتی الیوم بصحتها لتعلیم القرآن والفقة والامامة والاذان. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۸ جلد ۵ باب الاجارة الفاسدة)

﴿۳﴾ قال الحصکفی: والامام ینوی صلاته فقط ولا یشترط لصحة الاقتداء نیة امامة المقتدی بل لنیل الثواب عند اقتداء احد به قبله کما بحثه فی الاشباه. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۱۲ جلد ۱ مبحث النیة باب شروط الصلاة)

مـازيګر مونځ اوکړي،اوهغـه تـه دَجمعې کيـدلو يانـه کيـدلو تعلق هيڅ معلومات نه وي اوس دا سړي په يوجمات تيريږي چه هغوی دَمازيګرمونځ کوی نودې ورسره په دويم ځل باندې مونځ کولې شي يا نه ؟ بينوا توجروا

المستفتي:سعدالله خان فيروزسنزلبيارتريزنوشهره......۲۳/ربيع الثاني ۱۴۰۳ھ

الجواب: کوم کس چه دَمازيګرمونځ يوځل اوکړي که څان لـه وی اوکه جمعي سرہ وی په دويم ځل دَمازيګرمونځ نشي کولې. ﴿۱﴾ (شامی). وهوالموفق

په مسجدحرام او مسجدنبوی کښې دَ حنفيانو شوافعو پسې اقتداء

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږخلق په خپل کلی کښې دَيوې نوې خبرې ښکارشوې يو ،دلته يو مشردې هغه فرمائی چه زمونږ حنفی المسلک مسلمانانو مونځ په بيت الله شريف اوحرم نبوی ﷺ کښې دَهغې امام پسې چه شافعی المسلک وی نه کيږي.اوحال داچه مونږ ټولو هغوی پسې مونځونه کړې دی.سره دَ سند نه زر ته زره فتوی غوښتونکی يم؟ بينوا توجروا.

المستفتي:الحاج حافظ محمد اسماعيل.......۱۵/۲/۱۹۷۳ء.

الجواب: که دَامام نه(چه په فروعو کښې مخالف وی) دَمونځ فساد متحقق شوې نه وی.نودَهغه پسې مونځ مکروه نه دې.

يدل عليه ما فی ردالمحتار ص ۵۲۶ جلد ۱ وفی حاشية الاشباه للخير الرملي الذی يميل اليه خاطری القول بعدم الكراهة اذا لم يتحقق منه مفسد انتهیٰ﴿۲﴾ يقول العبد الضعيف ان قول الرملی يؤيده ما تعامله السلف لا نهم اقتدوا

﴿۱﴾ قال الحصكفی: وان صلی ثلاثا منها ای الرباعية اتم منفرداً ثم اقتدیٰ بالامام متنفلاً ويدرک بذلک فضيلة الجماعة حاوی الا فی العصر فلايقتدی لكراهة النفل بعده. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۲۷ جلد ۱ باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۴۱۶ جلد ۱ مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه هل يكره ام لا، باب الامامة)

بعضهم ببعض مع الاختلاف فی الفروع﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ ملازمت دَ خطرې په وجه حنفيت پريخودل اودَ نورو مذهبونو په طريقې سره مونځ کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه امام حنفی المسلک دَملازمت په وجه باندې خپل دَحنفی مونځ طريقه پريږدی اودَنورمذهبونو په طريقه باندې مونځ ورکوی.ترڅو چه وتر"هم په دوه سلامونوباندې کوی آيا چرته يوحنفی دپاره په دې طريقې سره امامت کول جائز دی که نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتي:جهان نثاربشام سوات..............ز ۱۹۹۰ء/۸/۵

الجواب: که دا امام ډير مجبور نه وی نو دا ضميرفروشی جائز نه ده.﴿۲﴾ ګنې نودَمجبورئ په حالت کښې سخت منکرات هم جائزکيږي.﴿۳﴾ .وهوالموفق.

دَ شراوفتنې نه بچ کيدلو دَ پاره دويم جماعت "اهون البليتين" دې.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱).زمونږ دَجمات چه کوم امام تير شوې دې هغه دَموجوده امام استاد دې.او اوس هغه استاد دده نه ناراضه دې.(۲).امام صاحب دَمولانايوسف قريشی صاحب هم شاګرد دې.

﴿۱﴾ قال العلامه ابراهيم الحلبی: ولهذا ذكر فی المحيط انه لو صلی خلف فاسق او مبتدع احرز ثواب الجماعة لكن لا يحرز ثواب المصلی خلف تقی كيف وقد صلی الصحابة والتابعون خلف الحجاج وفسقه ما لا يخفی...... وعليه يحمل عمل الصحابة والتابعين فی الاقتداء بالحجاج. (غنية المستملی شرح منية المصلی ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۲﴾ فی الهنديه: حنفی ارتحل الی مذهب الشافعی رحمه الله تعالیٰ يعزر كذا فی جواهر الاخلاطی، قال الصحيح قوله ارتحل الی مذهب الشافعی يعزر ای اذا كان ارتحاله لالغرض محمود شرعا . (فتاویٰ عالمگيريه ص ۱۶۹ جلد۲ فصل فی التعزير)

﴿۳﴾ قال الله تعالیٰ: انما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما اهل به لغير الله فمن اضطر غير باغ ولا عاد فلا اثم عليه ان الله غفور رحيم .
(سورة البقرة آيت: ۱۷۳ پاره: ۲ ركوع: ۵)

هغه ترینه هم ناراضه دي.(۳).ددي امام نه ټولي محلې والا هم خفه دی آیا دده اقتدا صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی:گل جنان ولد حاکم خان..........۲۸/جنوری ۱۹۷۵ء.

الجواب: چه په کومو وجوهاتو باندې دا ټول خلق خفه دی دهغې دوضاحت نه مخکښې مونږ دجواب ورکولو نه معذور یو.وهوالموفق.

په دویم ځل ټپوس

سوال: تفصیل او وجوهات داسې دی چه زمونږ په محله کښې د دریو رونړو بچی دی.د دوه رونړو بچی وائی چه دجمات دپاره متفقه طور امام ساتل پکار دی.لیکن د دریم رور اولاد وائی چه داموجوده امام به ساتلې کیږی.لیکن دخلقو اکثریت په دې باندې متفق دی چه موجوده امام دامامت نه لرې کړیشی اوبل امام په متفقه طور سره مقرر کړیشی او دا دویم امام ددغې کلی دې اوهمیشه دتره ځامنو سره په زمکه وغیره جهګړې کوی.لیکن موجوده امام هم دخپل امامت نه نه لرې کیږی.او وائی چه هرڅنګه وی څه به امامت کوم،نوددې وجې نه په یو جمات کښې په یو وخت باندې دوه امامان مونځ ادا کوی. آیا دا جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:گل جنان ضلع بنوں.........۲۴/فروری ۱۹۷۵ء.

الجواب: محترم بغیر څه وجې نه امام معزول کول جائز نه دی.اوپه یو وخت کښې دوه جماعتونه کول مکروه دی.《۱》 .البته دجنګ جهګړې او شراو فتنې په نسبت سره اهون البلیتین دی.《۲》 .نو تکرار او تعدد خه دې.خو تلوار او تعصب شر دې.وهوالموفق.

《۱》قال العلامه حصکفی: ویکره تکرار الجماعة باذان و اقامة فی مسجد محلة لا فی مسجد طریق او مسجد لا امام له ولا مؤذن. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۴۰۸ جلد ا مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد)

《۲》قال العلامه عبد القادر الرافعی: (قوله الا لفتنة) ای الا اذا خیف حصول فتنة من عزله بسبب فسقه فلا یسعی فی عزله لان ضرر الفتنة فوق ضرر خلعه.
(تقریرات الرافعی حاشیه ابن عابدین ص ۶۹ جلد۷ باب الامامة)

په سټیټ بینک کښې امامت کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په سټیټ بینک کښې ملازمت یا امامت کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی:سراج الاسلام جامع مسجد کوچی بازارمحمدعلی جوهرپیبنور۳/صفر۱۴۰۴ھ

الجواب: دبینک ملازمت تعاؤن علی المعصیت دې چه دا ممنوع دی.《۱》.او دا امامت بذات خود جائز دې البته دسود منافع یو امام یا ملازم ته دعوض(بدلې) په طور ورکول جائز نه دی.《۲》 .وهوالموفق.

په سر تور سر د امامت کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا امام په سرتور سر باندې امامت کولې شی؟او حال دا چه امام سره کپړه هم شته خو هغه کیږدی

《۱》عن جابر قال لعن رسول اللهﷺ اکل الربوا و موکله و کاتبه و شاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۲۴۴ جلد ا الفصل الاول باب الربوا)

《۲》وفی المنهاج: ان التصدق من الحرام کفران کان علی رجاء الثواب لان فیه استحلال المعصیة وهو کفر اذا ثبت کونها معصیة بدلیل قطعی سواء کان حراماً لعینه او لغیره وهو الراجح فالاصل فیه ان یرد الی المالک او ورثته فان لم یمکن الرد فسبیله التصدق علی الفقراء کما فی الهدایة وغیرها ولکن لا علی وجه رجاء الثواب من هذا المال نفسه بل ینوی فراغ الذمة او ایصال الثواب الی المالک فیثیبه الله تعالیٰ بامتثال امر الشریعة کما صرح به ابن القیم وفی شرح الاشباه انه جاز اخذ الحرام کالربا للفقیر، ویدل علی جواز التصدق علی الفقراء وعلی جواز اخذهم حدیث عاصم بن کلیب اخرجه ابوداؤد فی سننه فی باب اجتناب الشبهات من کتاب البیوع من حدیث اجابة النبیﷺ داعی امرأة وفی آخره اطعمیه الاساریٰ.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۳۴ جلد ا مبحث التصدق من الحرام)

....

وائی چه داهم سنتِ رسول دی نو آیا په سرتور سر مونځ ورکول جائز دی؟

بینوا توجروا

المستفتی: صوفی گل رحمن پیپلز کالونی فیصل آباد.....۷/رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دَ احرام په حالت کښې او دتواضع (عاجزئ) په صورت کښې سرتور سر مونځ کول جائز دی البته په تواضع او تصنع (ځان ښودلو) کښې فرق کول ضروری دی. او دنوې تهذیب والو دپاره دَ دلیل نیولو محل جوړیدل لویه فتنه ده. ﴿۱﴾. وهو الموفق

دَ زنانو د پاره جمات ته مونځ دپاره تلل صحیح نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی! ﴿۱﴾. آیا زنانه او سړی (غیر محرم) په جمات کښې دَجمعې مونځ کولې شی چه په جمات کښې دَپردې انتظام هم نه وی. او یو بل ښه وینی او حال دا چه مونږ ورته خوشحالې وئیلې دی چه زنانه دې په کورونو کښې مونځونه کوی ځکه چه مکه مکرمه کښې هم داسې کیږی. دَمسئلې وضاحت او کړئ؟ ﴿۲﴾. په دې ښځو کښې څو زنانه په نیم بربنډ لباس کښې هم جمات ته راځی او دَجمات په احاطه (حدود) کښې یوه کمره (کوټه) ده چه په هغې کښې جامې بدلې کړی او مونځ کوی او داجامې هم داسې وی چه مونږ ورته په پاکستان کښې تیټدی جامې وایو نو آیا دَدوی په دې کښې مونځ کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد اسحاق هانگ کانگ ۱۹۷۴ء/۱۱/۲

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم، دَ"السلام علیکم" نه پس دې داخبره واضحه وی چه کله سړی او زنانه یو امام پسې مونځ کوی نو دَبرابر والی

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وصلاته حاسرا ای کاشفا رأسه للتکاسل ولابأس به للتذلل اما للاهانة بها فکفر فی ردالمحتار قال فیه اشارة الی ان الاولیٰ ان لا یفعله وان یتذلل ویخشع بقلبه فانهما من افعال القلب. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۷۴ جلد ۱ مطلب فی الخشوع باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

په صورت کښې دَسړی مونځ فاسدیږی، دَمحاذات نه مراد دا دی چه زنانه ښی یا کس طرفته دَسړی سره بغیر دَڅه رکاوټ نه اودریږی یا دَسړی نه مخکښې اودریږی اگر که سړې ترینه لرې وی. ﴿۱﴾ په حرم شریف کښې دَ محاذات نه دَ حفاظت دپر اهتمام کولې شی لیکن دَعوامو دَبدنظمئ په وجه باندې انتظام کونکی عاجزه شی. ﴿۲﴾. دَښځې دپاره نیم بربنډ کیدل حرام دی لیکن دَعورت، پټولو په صورت کښې که تیټدی لباس هم وی مونځ ئې صحیح دې ﴿۳﴾. وهو الموفق

بغیر پټکی او بغیر توپئ نه مونځ ورکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په سعودی عرب کښې اکثر امامان بغیر پټکی او بغیر توپئ نه اودریږی او مونځ ورکوی او مونږ دَمجبورئ نه هغوی پسې خامخا مونځ کوؤ نو آیا دې خلقو پسې مونځ کیږی؟

بینوا توجروا.

المستفتی: محمد اسماعیل وزارة الدفاع والطیران ریاض سعودیه.....۱۹۸۸ء/۴/۱۸

الجواب: بغیر پټکی یا بغیر توپئ نه مونځ کول یا ورکول دَسنتو نه خلاف دی ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: وقد صرحوا بان المرأة الواحدة تفسد صلاة ثلاثة اذا وقفت فی الصف من عن یمینها ومن عن یسارها ومن خلفها فالتفسیر الصحیح للمحاذاة ما فی المجتبیٰ المحاذاة المفسدة ان تقوم بجنب الرجل من غیر حائل او قدامه واجاب فی النهر بان المرأة انما تفسد صلاة من خلفها اذا کان محاذیالها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۲۳ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ وفی فتاویٰ الهندیه: بدن الحرة عورة الا وجهها وکفیها وقدمیها کذا فی المتون.

(فتاویٰ عالمگیریه ص ۵۸ جلد ۱ الفصل الاول فی الطهارة وستر العورة)

﴿۳﴾ فی منهاج السنن: اعلم انه تستحب الصلوٰة فی ثلاثة اثواب الرداء والازار والعمامة او القمیص والسراویل والعمامة صرح به فی البحر وغیره، ولا تکره فی ثوب واحد اذا اشتمل به جمیع بدنه کازار المیت کما صرح به فی الشرح الکبیر، ولعل مراده نفی کراهة التحریم فلایرد ما ذکر فی الغرائب رجل صلی مع قلنسوة ولیس فوقها عمامة او شئ آخر یکره وماذکره الفردوس الدیلمی عن جابر رکعتان بعمامة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لیکن د داسې مونځ راګرځول شرعی مطلوب نه دی دغه شان د بیرې خریونکی پسې مونځ کول مکروهِ تحریمی دی لیکن واجب الاعاده نه دې لان السلف الصالحين قد صلوا خلف ائمة الجور ولم تروعنهم الاعادة ﴿۱﴾ ولان الاقتداء خلف الفاسق اولیٰ من الانفراد ولان هذه الكراهة لامر خارج عن ماهية الصلاة ﴿۲﴾ فافهم . وهوالموفق

که امام په جمات کښې وی اوبعضې مقتديان په تهه خانه کښې وی نو اقتداء صحيح ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه داسې جمات وی چه لاندې ترینه تهه خانه هم وی امام په جمات کښې اودریږی او د باران یابل څه

(بقیه حاشیه) خیر من سبعین رکعة بلا عمامة، وبالجملة ان ترک العمامة ترک الاولیٰ نعم جاز ترک ما لایکون مطلوبا شرعا عند مصلحة العوام. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۲۵ جلد ۲ باب ماجاء فی الصلوٰة فی الثوب الواحد)

﴿۱﴾ قال العلامه حلبی: ولهذا ذكر فی المحيط انه لو صلى خلف فاسق او مبتدع احرز ثواب الجماعة لكن لا يحرز ثواب المصلى خلف تقى كيف وقد صلى الصحابة والتابعون خلف الحجاج وفسقه ما لا يخفى...... وعليه ما يحمل عمل الصحابة والتابعين فی الاقتداء بالحجاج. (غنية المستملى شرح المنية المصلى ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۲﴾ وفی منهاج السنن: (قوله رجل ام قوما وهم له كارهون) قال ابن الملك لبدعته او فسقه او جهله اما اذا كان بينه وبينهم كراهة عداوة بسبب امر دنيوى فلا يكون له هذا الحكم، وقال القطب الجنجوهی جملة الامر انه لو كان فيه ما يوجب كراهته شرعا اعتبرت كراهة وان لم يكرهه احد، وان لم يكن فيه ذلک شرعا لم يعتبر فيه كراهة من كرهه وان كرهه الكل واما اذا لم يكن امره ظاهراً شرعا فالمعتبر رائ غالب من خلفه، قال القارى اما اذا كره البعض فالعبرة بالعالم ولو انفرد، وقيل العبرة بالاكثر ورجحه ابن حجر ولعله محمول على اكثر العلماء اذا وجدوا والافلا عبرة بكثرة الجاهلين وجزم صاحب الحلية بكون هذه الكراهة كراهة تحريم كما قاله ابن عابدين وذكر ارباب الفتاوىٰ ان كراهة الاقتداء بمثل هذا الامام اذا كان فی القوم افضل منه والافلا كراهة وذكروا ايضا ان الاقتداء بمثله اولیٰ من الانفراد. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۴۰ جلد ۲ باب ماجاء من ام قوما وهم له كارهون)

اجتماع په وجه ځائې نه وی او مقتدیان په تهه خانه" کښې اودریږی نو آیا لاندې مونځ کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالمنان............ ۱۹۷۴ء/۳/۱۹.

الجواب: دا اقتداء یعنی چه کله امام اوچت وی او قوم په تهه خانه کښې وی جائز ده خو چه څه اشتباه پکښې نه وی. كماصرح به فی الهنديه وردالمحتارفی باب الامامة ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ دویمې جمعې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره څه فرمائی دې چه په جمات کښې دویم جماعت کول څنګه دی جائز دی که ناجائز؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی گل عظیم خان احسان کارپوریشن بټ خیله سوات..... ۱۹۷۹ء/۹/۱۷.

الجواب: دویم جمات نه مطلقاً مکروه دې او نه مطلقاً مشروع، كمالايخفى على من راجع الى باب امامة ردالمحتار وبوادرالنوادر، دَ اذان او اقامت نه کولو او ځائې بدلولو په صورت کښې انکار کول پخپله یوناجائز کار دې.

كما فی ردالمحتار ص ۵۵۳ جلد ۱ ولو كرراهله بدونهما او كان مسجد طريق جاز اجماعاً (وقال بعده) عن ابى يوسف انه اذا لم تكن الجماعة على الهيئة الاولیٰ لا تكره والاتكره وهوالصحيح ﴿۲﴾. وفی الهنديه ص ۷۳ جلد ۱ وفی الاصل للصدر الشهيد اما اذا صلوا الجماعة بغير اذان واقامة فی

﴿۱﴾ وفی الهنديه: ولو قام على سطح المسجد واقتدى بامام فی المسجد ان كان للسطح باب فی المسجد ولا يشتبه عليه حال الامام يصح الاقتداء. (فتاویٰ عالمگيريه ص ۸۸ جلد ۱ الفصل الرابع فی بيان ما يمنع صحة الاقتداء وما لا يمنع) (وهكذا فی ردالمحتار ص ۴۳۵ جلد ۱ قبيل مطلب فی رفع المبلغ صوته زيادة على الحاجة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۴۰۸، ۴۰۹ جلد ۱ مطلب فی تكرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

ناحیة المسجد لا یکره ﴿۱﴾ وفی المقام تفصیل ﴿۲﴾. وهو الموفق

چه کسان دَ څلورو نه زیات نه وی نو دَ جمات په یو طرف کښې دویم جمات کولې شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ دَ کلی په جمات کښې امام شته دې اومونځ اوکړې لیکن څه کسان پاتې شی اودویم جمات اوکړی نوآیا داهغوی داجماعت یعنی دویم جماعت صحیح دې؟ بینوا توجروا
المستفتی: حبیب الله خان گمبیلالکی مروت.................۱۴۰۱/۷/۴هـ

الجواب: دَجمات په یوطرف کښې دَ اذان اواقامت نه بغیر دویم جمات کول جائز دی. اوخاص کرچه کله داکسان دَڅلورونه زیات نه وی.
کما فی الهندیه ص ۸۳ جلد ۱ وفی الاصل للصدر الشهید اما اذا صلوا بجماعة بغیر اذان واقامة فی ناحیة المسجد لایکره، وقال شمس الائمة الحلوانی ان کان سوی الامام ثلاثة لا یکره بالاتفاق ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۸۳ جلد ۱ الفصل الاول فی الجماعة)
﴿۲﴾ **اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی**: دَفقهی روایتونو نه څه صورتونه اودَهغې احکامات معلومیږی. اولنې صورت: دَمحلې په جمات کښې غیراهل مونځ کړې وی. دویم صورت دَمحلې په جمات کښې اهل کس بغیردَاعلان اذان نه یابغیردَاذان نه په درجه اولی سره مونځ کړې وی. دریم صورت: دغه جمات په لاَره باندې وی. څلورم صورت: په دې جمات کښې امام اومؤذن معین نه وی. پنځم صورت: دَمحلې جمات وی یعنی دَهغه جمات مونځ کونکی اوامام معین وی اوهغوی پکښې دَ اذان دَاعلان په صورت کښې مونځ کړې وی. پس څلورم او اولنې صورت کښې بالاتفاق جماعت ثانیه جائز بلکه افضل دې لکه څنگه چه د افضلیت تصریح موجود ده. نوپه پنځم صورت کښې که دویم جمات بهیئت الاولي وی بیاخوبالاتفاق مکروه تحریمی دې لکه چه په "ردالمحتار" کښې دَتحریمی کیدلو تصریح ده. اوکه په هیئت اولي نه وی نودا دَکلام محل دې دَ امام ابویوسف په نزد مکروه نه دې او دَ امام صاحب په نزدمکروه دې لکه چه په "ظهیریه" کښې دَدې ظاهرالروایة کیدل ښکاره دی. البته یو روایت دَامام صاحب نه دا دې چه که دریو.نه زیات وی نومکروه دې.کنې مکروه نه دې دا دَ روایتونو دَظاهری مدلول خلاصه شوه الخ. (امدادالفتاوی ص ۲۴۲ جلد ۱ باب الامامة والجماعة).
﴿۳﴾ (فتاویٰ هندیه ص ۸۳ جلد ۱ الفصل الاول فی الجماعة الباب الخامس فی الامامة)

دَ بانډو په جماتونو کښې دَ دویم جماعت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَبانډو په جماتونو کښې دَحنفی مذهب په بناءباندې دویم جماعت جائز دې که نه؟ بینوا توجروا
المستفتی: محمد عمران نوشهره.

الجواب: دویم جماعت نه مطلقاً ممنوع دې اونه مطلقاً مشروع دې. دَامام ابویوسف قول" اوسع المذاهب" دې. وهوانه اذالم تکن الجماعة علی الهیئة الاولی لاتکره والاتکره وهوالصحیح کمافی ردالمحتارص ۵۵۲ جلد ۱ ﴿۱﴾. وهوالموفق.

په ائیرپورټ (دَجهازونو میدان) کښې دویم جماعت مکروه نه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ"عرب امارات" په ائیرپورټ کښې یوجمات دې پنځه وخته مونځونو دپاره ئې امام هم مقرر دې چه باقاعده امامت کوی لیکن مسئله داده چه په ماسپښین کښې دوه جمعې کیږی چه په یوشان باندې کیږی هم په هغه مصلی او دَ اقامت سره او دواړو جماعتونو دپاره باقاعده وختونه هم لیکلې شی آیا داجائز دی؟ بینوا توجروا
المستفتی: عبدالرشید اندرون هشتنگری گیټ پېښور.....۲۰/ربیع الاول ۱۴۰۲هـ.

الجواب: ظاهری طورسره دَجماعتونو په دې تکرار کښې څه کراهت نشته ځکه چه دَائیرپورټ او سټیشن وغیره جماتونه محلې نه لری.
(ماخوذا ز ردالمحتارص ۵۱۶ جلد ۱ باب الامامة) ﴿۲﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۹ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد)
﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: او کان مسجد طریق جاز اجماعا کما فی مسجد لیس له امام ولاموذن ویصلی الناس فیه فوجا فوجا فان الافضل ان یصلی کل فریق باذان واقامة علی حدة کما فی امالی قاضیخان ......واما مسجد الشارع فالناس فیه سواء لا اختصاص له بفریق دون طریق. (ردالمحتار ص ۴۰۸ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

دَ سود خور امام دَ وجې نه بل جمات ته تلل بهتر دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا سود خور امام پسې مونځ کول جائز دی؟ چه خواته بل جمات کښې هم دَجمعې مونځ کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: میاں احسان الله اسماعیل نوشهره.........۳۰/جولائی ۱۹۷۳ء.

الجواب: په دې صورت کښې بل جمات ته تلل جائز دی بلکه بهتر دی. فی الشرح الکبیر ص۵۶۹ وفی فتاوی قاضی خان اذا کان امام الحی زانیا او آکل ربواً له ان یتحول الی مسجد آخر. ﴿۱﴾. وهو الموفق.

دَ فرض مونځ راګرځونکی پسې دَ نوی فرض والا دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دکراهت تحریمی په وجه باندې دَفرض مونځ راګرځونکی امام پسې دَنوی فرض کونکی اقتداء صحیح ده یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شیخ الحدیث مولانافضل الهی شاه منصوری دار العلوم حقانیه ۱۴/۱۰/۱۹۹۰

الجواب: دَدې اقتداء دَصحت یا عدم صحت متعلق په صراحت سره څه جزئیه ملاؤ نه شوه او اکابرین په دې کښې مختلف دی. مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله صحت طرفته مائل دی او مفتی عزیز الرحمن صاحب رحمه الله دَعدم صحت قائل دی. چه راجح قول دَحضرت حکیم الامت رحمه الله دی ان شاء الله. ځکه چه دَاعادې "تعریف دا دی.

هی فعل ما فعل او لا مع ضرب من الخلل ثانیا وقیل هو اتیان المثل الاول علی وجه الکمال کما فی منحة الخالق علی هامش البحر ص ۷۸ جلد ۲ ﴿۲﴾، وفی ردالمحتار ص۶۷۷ جلد ۱ عن المیزان یوخذ من لفظ الاعادة ومن تعریفها بما مر انه ینوی بالثانیة الفرض

﴿۱﴾ (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۵۲۵ فصل فی احکام المسجد)
﴿۲﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ص ۷۸ جلد ۲ باب قضاء الفوائت)

لان ما فعل او لا هو الفرض فاعادته فعله ثانیا اما علی القول بان الفرض یسقط بالثانیة فظاهر، واما علی القول الاخر فلان المقصود من تکرارها ثانیا جبر نقصان الاولیٰ فالاول فرض ناقص والثانیة فرض کامل، انتهیٰ مافی ردالمحتار ﴿۱﴾، وفی جنائز ردالمحتار ص ۸۲۶ جلد ۱ فاذا اعادها وقعت فرضاً مکملا للفرض الاول نظیر اعادة الصلوٰة المؤداة بکراهة فان کلا منهما فرض کما حققناه فی محله انتهیٰ ما فی ردالمحتار ﴿۲﴾

خلاصه دا چه صلاة معاده فرض دی او د ابن الهمام رحمه الله کلام هم دې طرف ته اشاره کوی.

کما فی ردالمحتار ص ۴۲۶ جلد ۱ قوله والمختار انه جابر للاول لان الفرض لا یتکرر ای الفعل الثانی جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهو وبالاول یخرج عن العهدة...... ومقابله ما نقلوه عن ابی الیسر من ان الفرض هو الثانی، واختار ابن الهمام الاول کما قال لان الفرض لا یتکرر وجعله الثانی یقتضی عدم سقوطه بالاول اذهو لازم ترک الرکن لا الواجب الا ان یقال المراد ان ذلک امتنان من الله تعالیٰ اذ یحتسب الکامل وان تاخر عن الفرض لما علم سبحانه انه سیوقعه، انتهیٰ ﴿۳﴾

خلاصه دا چه دَاعادې په صورت کښې معلومه شی چه دا راګرځولې شوې مونځ فرض دې نو دَدې نوی راتلونکی اقتداء به صحیح وی. وهو الموفق.

دَ محلې والو دَ پاره په جمات کښې دویم جماعت کول مکروه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که په یو جمات کښې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۳۶ جلد ۱ باب قضاء الفوائت)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۶۵۲ جلد ۱ مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد باب صلاة الجنائز)
﴿۳﴾ (ردالمحتار مع الدر المختار ص ۳۳۷ جلد ۱ مطلب کل صلاة ادیت مع کراهة تحریم تجب اعادتها)

مونځ شوې وی اودَهغې نه پس دَدَغې محلې نورخلق بیاپه دویم ځل جماعت کوی، نوآیاشرعی دا دویم جماعت جائز دې که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالولی افغانی متعلم دارالعلوم حقانیه.... ۳۱/۱۲/۱۹۸۲ء.

الجواب: دَ کومې محلې دَجمات امام چه مقرر وی اوهغه باقاعده په جماعت سره مونځ کړې وی. نودَهغې نه پس دویم جماعت مکروه دې.

اما اذاصلوا بجماعة بغير اذان واقامة فى ناحية المسجد لا يكره وقال شمس الائمة الحلوانى ان كان سوى الامام ثلاثة لا يكره اتفاقا كذا فى الاصل لصدر الشهيد (عالمگيرى ص ۸۲ جلد ۱ باب الامامة ﴿۱﴾. وهو الموفق

بدعتی پسې مونځ کول ښکار دی که ځان له؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَبدعتی په اقتداء کښې مونځ کول څنګه دی اوکه اقتداء ورپسې ا ونکړې نوبیاځان له مونځ څنګه دې ؟ حکم ئې بیان کړئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم...... ۲۹/شوال ۱۴۰۳ھ.

الجواب: دَځان له مونځ نه اوویشت درجې افضل دې. ﴿۲﴾ . (بحر، شامی، فتح القدير، هنديه وغيره). ﴿۳﴾ . وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۸۳ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ صلوٰة الجماعة تفضل على صلوٰة الرجل وحده بسبع وعشرين درجة. (سنن الترمذى ص ۳۰ جلد ۱ باب ماجاء فى فضل الجماعة)

﴿۳﴾ وفى الهنديه: تجوز الصلاة خلف صاحب هوى وبدعة...... ولو صلى خلف مبتدع او فاسق فهو محرز ثواب الجماعة لكن لا ينال مثل ما ينال خلف تقى كذا فى الخلاصه. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره)

امام نه دَ تنخواه ورکولو دَ ویرې نه دَ جماعت پریخودونکی حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم مقتدی امام نه دَ فطرانې او تنخواه ورکولو دَویرې نه مونځ کول پریږدی دَهغه څه حکم دې ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........ ۲۳/ذی قعده ۱۳۹۲ھ.

الجواب: دَجماعت پریخودونکې فاسق دې ﴿۱﴾ اګر که په امام کښې فسق، بدعت، حرام خوری وغیره عیبونه ولې موجود نه وی. ﴿۲﴾ . (ماخوذمن ردالمحتار والبحروالهندیه). وهوالموفق.

چه دَ محلې والا نه وی دَ هغوی دویم جماعت او اذان او اقامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که په یو جمات کښې مونځ شوې وی اوملیمانه دویم جماعت کوی نوداجائز دی که نه ؟ دغه شان دَ اذان او اقامت به څه حکم وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نورالحق باړه پیښور....... ۲/صفر ۱۴۰۳ھ.

الجواب: کوم جمات سره چه محله وی او امام او مؤذن ئې مقرر وی نودَ محلې والا دَ جماعت نه پس بل جماعت مکروه دې البته که درې څلور کسان دَجمات په یو ګوټ کښې بغیر دَاقامت نه دویم جماعت اوکړی نوڅه دَ

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدين رحمه الله: (قوله قال فى البحر الخ) وقال فى النهر هو اعدل الاقوال واقواها ولذا قال فى الاجناس لا تقبل شهادته اذا تركها استخفافا ومجانة اما سهوا او بتاويل ككون الامام من اهل الاهواء او لا يراعى مذهب المقتدى فتقبل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۰ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجيم رحمه الله: (قوله وكره امامة العبد والاعرابى والفاسق والمبتدع والاعمى وولد الزنا) بيان للشيئين الصحة والكراهة اما الصحة فمبينة على وجود الاهلية للصلاة مع اداء الاركان وهما موجودان من غير نقص فى الشرائط والاركان ومن السنة حديث صلوا خلف كل بر وفاجر وفى صحيح البخارى ان ابن عمر كان يصلى خلف الحجاج وكفى به فاسقا كما قال الشافعى وقال المصنف انه افسق اهل زمانه. (البحر الرائق ص ۳۵۸ جلد ۱ باب الامامة)

اعتراض خبره نه ده. خودعام سړی دَجماعت په داحکم نه وی. فلیراجع الی البدائع والشرح الکبیر. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ محلې والا دَجماعت نه مخکښې دَمسافرو جماعت کول جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَمحلې والو دَجماعت نه مخکښې دَمسافرو دپاره دَهغوی په جمات کښې ځان له جماعت کول صحیح دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: زاهد حسین بټ خیله سوات

الجواب: مسافرخلق دَمحلې والو نه مخکښې جماعت کولې شی په دې کښې هیڅ کراهت نشته دې. (عینی شرح هدایه، شامی ص ۳۷۱ جلد ۱. ﴿۲﴾. وهوالموفق.

دَ حنفی امام شوافعو د پاره دَ شوافعو په طریقه مونځ ورکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه امام حنفی دې او

﴿۱﴾ قال الحلبی: واذا لم یکن للمسجد امام وموذن راتب فلا یکره تکرار الجماعة فیه باذان واقامة بل هو الافضل ذکره قاضی خان اما لو کان له امام وموذن معلوم فیکره تکرار الجماعة فیه باذان واقامة عندنا وعن ابی حنیفة رحمه الله لو کانت الجماعة الثانیة اکثر من ثلثة یکره التکرار والافلا وعن ابی یوسف رحمه الله اذا لم تکن علی هیئة الاولیٰ لا یکره والا یکره وهو الصحیح وبالعدول عن المحراب تختلف الهیئة کذا فی فتاوی البزازی. (غنیة المستملی ص ۵۶۶،۵۶۷ فصل فی احکام المسجد)

(ومثله فی بدائع الصنائع ص ۳۷۸ جلد ۱ تکرار الجماعة فی المسجد)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: وکره ترکهما معا لمسافر ولو منفرداً وکذا ترکها لا ترکه لحضور الرفقة بخلاف مصل ولو بجماعة فی بیته بمصر او قریة لها مسجد ای فیه اذان واقامة والا فحکمه کالمسافر فلا یکره ترکهما اذا اذان الحی یکفیه او مصل فی مسجد بعده صلاة جماعة فیه بل یکره فعلهما. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۲۹۱ جلد ۱ مطلب فی کراهة تکرار الجماعة فی المسجد)

مقتدیان دَبل امام تابعې دی شوافع دی یا مالکیان وغیره. آیا دا حنفی امام دَبل مذهب مقتدیانو دپاره دَهغوی په طریقه مونځ ورکولې شی؟ لکه قنوت فی الفجر "تسمیه بالجهروغیره؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل اکبرحقانی حالاًمقیم متحده عرب امارات... ۱۴۰۱/۷/۹ھ.

الجواب: امام به متبوع وی دَهغه په تابع کیدلو کښې دَتوهین اوبدنظمی پیداکیدلو پشان مصیبتونه موجود دی. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ غلا دَ خطرې دَ وجې نه جماعت پریخودل جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څه په زرعی تربیتی اداره پیښور کښې دَ"انسټریکټر" په حیثیت متعین یم طالب علمانو ته دَخودنې نه علاوه دَڅوکیدارانو نګرانی هم زماپه ذمه ده مسئله داده چه زمونږ اکثر څوکیداران دَډیوټۍ په وخت کښې جمات دَجمعې د مونځ دپاره ځی اوس (خدائې دې نه کړی) که دې دوران کښې څه غلا وغیره اوشی نومتعلقه څوکیدار او ورسره به زه هم دَنګران په حیثیت سره ذمه واریم، نوسوال دا دې چه آیا څوکیدار دپاره دَډیوټۍ په دوران کښې دَجمعې مونځ کول ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: کشمیرخان پیښور یونیورسټی... ۲۲/شوال ۱۴۰۴ھ.

الجواب: مناسب داده چه دا څوکیداران حضرات وغیره دَډیوټۍ په دوران کښې په یومناسب ځائې کښې جماعت سره مونځ اداکړی اګرچه د غلا د خطرې په وجه ترک جماعت هم جائزدی. (کمافی ردالمحتارص ۵۱۹ جلد ۱) ﴿۲﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: لو ان رجلاً برئ من مذهبه باجتهاد وضح له کان محموداً ماجوراً اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من غرض الدنیا وشهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتادیب والتعزیر لارتکابه المنکر فی الدین واستخفافه بدینه ومذهبه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۰۹ جلد ۳ مطلب فیما اذا ارتحل الی غیر مذهبه باب التعزیر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا علی من حال بینه وبینها.... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ محاذات نه موجودیدلو په صورت کښې ښځه خاوند جماعت کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَخپلې ښځې سره په امریکه کښې اوسیږی هغه وائی چه دلته دَاخترنه علاوه دَجمعې دَمونځ نه هیڅ څه بندوبست نشته که داسړې خپلې ښځې سره په خپل کور کښې دَجمعې مونځ ادا کړی نو جائز دی که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل مولی عرف تنګی استادپړانګ چارسده ۱۲ صفر ۱۳۹۲ھ.

الجواب: دا جماعت بغیرشک شبهې نه جائز دې البته ښځه به خامخا (وجوباً) شاته اودروی.

لان المحاذاة مفسد عندنا ﴿۱﴾ وروی الطبرانی فی الکبیر والاوسط ان رسول اللهﷺ اقبل من نواحی المدینة یرید الصلوة فوجد الناس قد صلوا فمال الی منزله فجمع اهله فصلی بهم (بحواله بوادر ص ۱۳۱ جلد۱) ﴿۲﴾. وهوالموفق

دَ امام دپاره دَ مقتدیانو نه ځان له دَجمات د هال په دروازه کښې اودریدل مکروه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَجمات امام صاحب

(بقیه حاشیه) مطر وطین وبرد شدید وظلمة کذلک وریح لیلالا نهاراً وخوف علی ماله، قال ابن عابدین ای من لص ونحوه اذا لم یمکنه غلق الدکان او البیت مثلاً ومنه خوفه علی تلف طعام فی قدر...... والظاهر علمه لان له قطع الصلاة له ولاسیما ان کان امانة عنده کودیعة او عاریة او رهن مما یجب علیه حفظه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۱ جلد۱ قبیل مطلب البدعة خمسة قسام باب الامامة)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: واذا حاذته ولو بعضو واحد ......امرأة...... ولاحائل بینهما فی صلاة...... فسدت صلاته. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۲۳ جلد۱ قبیل مطلب الواجب کفایة هل یسقط بفعل الصبی)

﴿۲﴾ (بوادر النوادر ص ۱۳۱ جلد۱ تفصیل کراهت جماعة ثانیه)

همیشه دَهال (کمرې) په دروازه کښې اودریږی اومقتدیان دَجمات په صحن کښې وی نوآیا دا اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم...... ۸/۲/۱۹۹۰ء

الجواب: دا اقتداء صحیح ده لیکن مکروه ده.

اما الاول لکون المسجد مکانا واحداً واما الثانی فلتخصیص الامام بالمکان ولقیامه بین الاسطوانتین (ماخوذ از ردالمحتار ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ زنانو دَ جماعت شرعی ثبوت شته دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَبنده کور والا (ښځه) په نفلو کښې کلام پاک اوروی او دَزنانو امامت کوی اوس بعضې خلق وائی چه دَښځو دَجماعت څه ثبوت دې؟ نوآیا واقعی دَښځو دَجماعت څه شرعی ثبوت نشته؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل الهی خطیب جامع مسجد فاروقیه اسلام آباد ۲۴/۹/۱۹۷۲ء

الجواب: دَتحقیق مطابق دَښځو جماعت مشروع دې نه منسوخ دې او نه مخصوص دې.

لان النبیﷺ جعل لام ورقة مؤذنا وامرها ان تؤم اهل دارها (رواه ابوداؤد ص ۹۵ جلد۱) ﴿۲﴾ ولا وجه لنسخه ولا دلیل علی الخصوصیة کیف وقدروی ابن ابی شیبه ان ام سلمة وعائشة رضی الله عنهما امتا فی التراویح والفرض ﴿۳﴾ قال العلامة اللکهنوی فی عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایه ص ۱۷۶ جلد۱ قوله کجماعة

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: تنبیه فی معراج الدرایة من باب الامامة الاصح ماروی عن ابی حنیفة انه قال کره للامام ان یقوم بین الساریتین او زاویة او ناحیة المسجد او الی ساریة لانه بخلاف عمل الامة.

(ردالمحتا هامش الدر المختار ص ۴۷۸ جلد۱ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ص ۹۵ جلد۱ باب امامة النساء)

﴿۳﴾ (مصنف ابن ابی شیبه ص ۵۳۶ جلد۱ باب المرأة تؤم النساء)

النساء وحدهن عللوه بانها لا تخلو عن ارتکاب ممنوع وهو قیام الامام وسط الصف ولا یخفیٰ ضعفه بل ضعف جمیع ماوجهوا به الکراهة کما حققناه فی تحفة النبلاء فی مسألة جماعة النساء وذکرنا هناک ان الحق عدم الکراهة کیف لا وقدامت بهن ام سلمة وعائشة رضی الله عنهما فی التراویح وفی الفرض کمااخرجه ابن ابی شیبة وغیره وامت ام ورقة فی عهد النبی ﷺ بامره کما اخرجه ابو داؤد ، انتهیٰ ﴿۱﴾ قلت وقال الامام الائمة اذاصح الحدیث فهو مذهبی ﴿۲﴾ اولعل المراد من الکراهة تنزیهة کما یشیر الیه کلام صاحب الخلاصة وصلوتهن فرادی افضل ﴿۳﴾ نعم صرح فی شرح التنویر بالتحریم لا کن لا وجه له ﴿۴﴾ فافهم. وهو الموفق

د زنانو جماعت د بعضي فقهاؤ په نزد جائز او د بعضو په نزد مکروه دي

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائی چه (۱) يوه حافظه په

﴿۱﴾ (عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایة ص ۱۷۶ جلد ۱ فصل فی الجماعة)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: ونظیره هذا ما نقله العلامه بیری فی اول شرحه علی الاشباه عن شرح الهدایة لابن الشحنة ونصه اذا صح الحدیث وکان علی خلاف المذهب عمل بالحدیث ویکون ذلک مذهبه ولا یخرج مقلده عن کونه حنفیا بالعمل به فقد صح عنه انه قال اذا صح الحدیث فهو مذهبی وقد حکی ذلک ابن عبد البر عن ابی حنیفة وغیره من الائمة. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۵۰ جلد ۱ مطلب صح عن الامام انه اذا صح الحدیث فهو مذهبی)

﴿۳﴾ قال العلامه طاهر بن عبد الرشید البخاری: وامامة المرأة للنساء جائزة الا ان صلوتهن فرادی افضل. (خلاصة الفتاویٰ ص ۱۴۷ جلد ۱ فصل فی الامامة والاقتداء)

﴿۴﴾ قال العلامه حصکفی: ویکره تحریما جماعة النساء ولو فی التراویح...... فان فعلن تقف الامام وسطهن...... کالعراة فیتوسطهم امامهم ویکره جماعتهم تحریما فتح.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۸ جلد ۱ قبیل مطلب هل الاساءة دون الکراهة الخ)

تراويح کښي ښځوته امامت کوی چه دَهغې دپاره نورښځوته دعوت هم ورکولي کيږي. آيا په دي کښي څه کراهت شته؟ ﴿۲﴾. يوه مشره ښځه په چارسده کښي دَجُمعې په ورځ نورې ښځې راجمع کوی اودَجمعې مونځ ورته کوی نوآيا دَدې ښځودَذمې نه دَ ماسپښين مونځ ساقط کيږي؟ بينوا توجروا.

المستفتی: مفتی عبدالله شاه محله عزيزخيل چارسده...... ۱۹۹۱ء/۴/۱

الجواب: (۱) فقهائي کرامودَښځوجماعت ته اودَجماعت دپاره دکورونو نه وتلو ته مکروه ليکلی دی. کمافی امامة الدرالمختارمع ردالمحتار. ﴿۱﴾ او مولانا عبدالحئ په "عمدة الرعايه علی شرح الوقايه ص۱۷۲ جلد ۱ کښي جواز ته راجح وئيلي دی. ﴿۲﴾ . ځکه چه پيغمبر عليه السلام "ام ورقه رضی الله عنها ته دَامامت کولو اجازت ورکړې وو. کمافی سنن ابی داؤد ص۹۵ جلد ۱ باب امامة النساء ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی: ویکره تحریما جماعة النساء ولو فی التراویح فی غیر صلاة جنازة فان فعلن تقف الامام وسطهن...... ویکره جماعتهم تحریما فتح ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ مطلقاً ولو عجوز الیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۸ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامه عبد الحئی اللکهنوی: قوله کجماعة ای کما یکره جماعة النساء وحدهن سواء کان فی الفرض او النفل وعللوه بانها لا یخلو عن ارتکاب ممنوع وهو قیام الامام وسط الصف ولا یخفی ضعفه بل ضعف جمیع ما وجهوا به الکراهة کما حققناه فی تحفة النبلاء الفناها فی مسئلة جماعة النساء وذکرنا هناک ان الحق عدم الکراهة کیف لا وقد امت بهن ام سلمة وعائشة فی التراویح وفی الفرض کما اخرجه ابن ابی شیبه وغیره امت ام ورقة فی عهد النبی ﷺ بامره کما اخرجه ابوداؤد.
(عمدة الرعایه علی هامش شرح الوقایة ص ۱۷۶ جلد ۱ فصل فی الجماعة)

﴿۳﴾ عن ام ورقة بنت عبد الله بن الحارث بهذا الحدیث والاول اتم وکان رسول الله ﷺ یزورها فی بیتها وجعل لها مؤذنا یؤذن لها وامرها ان یؤم اهل دارها قال عبد الرحمن فانا رأیت مؤذنها شیخا کبیراً. (سنن ابی داؤد ص ۹۵ جلد ۱ باب امامة النساء)

اودَپیغمبر علیه السلام دَوفات نه پس حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها او ام سلمه رضی الله عنها هم په تراویح کښې امامت کړې وو. کمافی مصنف ابن ابی شیبه وغیره ﴿۱﴾ نو معلومه شوه چه دَام ورقه رضی الله عنها امامت نه مخصوص دې اونه منسوخ دې. بهرحال دَفقهائې کرامو حکم اوفتوی دَفتنې په مخ نیوی باندې محمول ده.

(۲) چه کله ذکورت دَ وجوب دپاره شرط دې نوښځه ښځوته دَ جمعې امام کیدلې شی لیکن بهرحال دَمکروهاتو نه داجماعت ډک دې اودَ انفراس نه ډیر مفضول دې. وهوالموفق.

په دنیاوی معاملاتو کښې دَ امام او مقتدی په اختلاف سره دَ مقتدی په مونځ څه اثر نه پریوځی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَامام اومقتدی په مینځ کښې په دنیاوی معاملاتو کښې اختلاف پیداشو امام مقتدی ته اووئیل چه ماپسې ستا مونځونه مخکښې هم نه دی شوې اونه اوس کیږی. نوآیا دَامام په دې قول سره دَمقتدی دامونځونه شوې دی که نه؟ اومونځ کول ورپسې جائز دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.....۱۹۷۴ء/۴/۱۰.

الجواب: دَامام دا دواړه خبرې چه ستامونځونه نه دی شوې او ماپسې اقتداء مه کوه دا دَپښتوخبرې دی کتابی اوشرعی خبرې نه دی. وهوالموفق.

دَ ښیوشن دپاره لرې تللو وخت کښې دَ جمات په ځائې حجره کښې مونځ ورکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید دَخپل کور نه یو یانیم میل فاصله باندې دَعمرو "کورته ځی اوهلته ماشومانوته دَدینی سبق ښیوشن کوی او امامت هم کوی لیکن هلته جمات نشته دَعمرو په کور یاحجره کښې مونځ ورکوی نوآیا دَ زید داسې کار کول شرعاً جائز دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل احمد ضلع کوهاټ.

﴿۱﴾ ان ام سلمة وعائشة رضی الله عنهما امتا فی التراویح والفرض. (مصنف ابن ابی شیبه ص ۵۳۶ جلد ۱ باب المرأة تؤم النساء)

الجواب: داسړې تارک الجماعت نه دې خو تارک المسجد" والاخره بیاهم دَغور قابله ده. وهوالموفق.

په کوم جمات کښې چه مقتدیان وی دَ هغوی عارضی امام په کوم ځائې مونځ کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو ښارکښې څو جماتونه دی اوپه هر جمات کښې دَجمعې مونځ کیږی. دَښارنه بهر مختلف سرکاری د اوسیدلو کورونه دی دَهغوی مشترکه یو ورکوټې جمات دې دَهغې دخاص امام اومؤذن مقررنه دی. بلکه یو ملازم (نوکر) هلته کښې مونځ ورکوی. اوس که څوورځې داجمات غیرآباد پاتې شی اوخوک ورته رانشی نوداعارضی امام به په دغه ورځو کښې دَښار چرته بل جمات ته دَمونځ دپاره ځی که په خپل جمات کښې به مونځ کوی. اوچه دَښار جمات ته لاړشی نودَ مقتدی په حیثیت باندې مونځ کول به دَثواب ذریعه وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید ایس وی درازنده ایف آرډی آئی خان ۱۹۷۲ء/۱۱/۲۶.

الجواب: که په دې جمات کښې نور مونځ گذارنه وی نو دې عارضی امام دپاره بهتر داده چه دې محلې والا جمات کښې اذان اومونځ کوی. (فلیراجع الی ردالمحتار ۵۱۹ جلد ۱). وهوالموفق.

دَ جمات امام صاحب باندې لعنت کولو والا پخپله ملعون دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې خپل دَجمات امام ته بدرې ردې وائی اوبیا بیا ورته وائی چه په تادې دَخدائې لعنت وی نو ددې سړی څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی فیض محمد... ۱۹۷۴ء/۱۱/۲۳.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قلت لکن فی الخانیة وان لم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی وان کان واحدا لان المسجد منزله حقا علیه فیودی حقه موذن مسجد لا یحضر مسجده احد قالوا هو یوذن ویقیم ویصلی وحده وذاک احب من یصلی فی مسجد آخر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۰ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام)

الجواب: که دا دَکلي امام صاحب دَلعنت مستحق نه وي نو دالعنت کونکي به ملعون وي او دَتعزيرلائق به وي.

لقول النبي ﷺ ان العبد اذا لعن شيئاً صعدت اللعنة الى السماء فتغلق ابواب السماء دونها ثم تهبط الى الارض فتغلق ابوابها دونها ثم تاخذ يمينا وشمالا فاذا لم تجد مساغا رجعت الى الذى لعن فان كان لذلک اهلاً والا رجعت الى قائلها (رواه ابو داؤد بحواله مشکواة ص ۴۱۳ جلد ۱) ﴿۱﴾. وهو الموفق

دَ جمات امام پسې اقتداء نه کول دَ نافرمان کيدلو باعث نه دی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو هسې په نوم امام دې علم وغيره ئې نه دې حاصل کړې او په اخلاقی جرمونو کښې هم اخته دې نو په وجه يو مقتدی هغه پسې مونځ نه کوی حال دا چه استاد ورته نه دی وئيلي چه ماپسې مونځ مه کوه اونه يې داوئيلي دی چه ته زما نه عاق ئې او مقتدی ورسره هم کينه نه ساتی. نو آيا دامقتدی دَاقتداء نه کولو په وجه باندې "عاق" دې؟ بينوا توجروا.

المستفتی: راضی الرحمن ارمړ پايان پيښور.... ۵/۱۱/۱۹۷۴ء

الجواب: دَامام پسې اقتداء نه کول دَ"عاق" کيدلو باعث نه دی البته په ټولو فتاوؤ کښې داليکلي شوې دی چه دَځان له مونځ نه فاسق پسې اقتداء کول افضل دی. ﴿۲﴾. وهو الموفق.

دَ شهوانی وسوسو په وجه باندې به جماعت نه پريخودلې کيږي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه کله دَجمعې په مونځ

﴿۱﴾ (مشکواة المصابيح ص ۴۱۳ جلد ۲ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: وفى النهر عن المحيط صلى خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله نال فضل الجماعة) افاد ان الصلاة خلفهما اولى من الانفراد.

(ردالمحتار مع الدر المختار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فى امامة الامرد باب الامامة)

کښې شريک شم نو دَ نورو مونځ گزارو په باره کښې شهوانی وسوسې پيدا کيدل شروع شی يعنی په شهوانی قوت کښې تحريک پيداشی برابره خبره ده چه هغه بوډا ولې نه وی دې مرض دَماليخوليا" يامکمل شيطانی او فاسدو خيالونو صورت اختيارکړې دی. نو په دې صورت حال کښې دَجمعې مونځ کووم که جماعت پريږدم؟ بينوا توجروا.

المستفتی: شيرين جان شهبازخيل بنون.... ۴/۱۰/۱۹۷۲ء

الجواب: خبرشه چه ستادَمرض جائزعلاج شته نودَ ناجائزعلاج (جماعت پريخودلو) څه ضرورت دې؟ جائز علاج دادې چه ته په مونځ کښې دا خيال کوه چه الله تعالى ماوينی اوزمادَزړه خبرې هم پيژنی نو په قلاره به ستادا فاسد خيالونه ختم شی. ﴿۱﴾. وهو الموفق.

دَ دويمې جمعې حکم؟ او قصداً دَ دويمې جمعې د پاره دَ اولنی جماعت پريخودلو حکم

سوال: (۱) دَدويم جماعت څه حکم دې چه جمات دَسړک په غاړه باندې واقع دې؟ (۲) که يو سړې يو يا دوه رکعتونه دَامام سره کولې شی خوقصداً نور خلقو ته دَدويم جماعت کولو دپاره اولنی جماعت پريږدی ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد نظيف وزيرستانی

الجواب: چونکه ظاهری طورسره داجمات دَلارې جمات دې نو په دې کښې

﴿۱﴾ عن عثمان بن ابى العاص قال قلت يا رسول الله ان الشيطان قد حال بينى وبين صلوتى وبين قراءتى يلتبسها على فقال رسول الله ﷺ ذاک شيطان يقال له خنزب فاذا احسته فتعوذ بالله منه واتفل على يسارک ثلثا ففعلت ذاک فاذهبه الله عنه رواه مسلم. وعن القاسم بن محمد ان رجل ساله فقال انى اهم فى صلوتى فيكثر ذلک على فقال له امض فى صلوتک فانه لن يذهب ذلک عنک حتى تنصرف وانت تقول مااتممت صلوتى رواه مالک. (مشکواة المصابيح ص ۱۹ جلد ۱ باب فى الوسوسة الفصل الثالث)

دویم جماعت جائز دي. خاص طور سره چه اذان او اقامت دَدویم جماعت دپاره پریږدی او محراب هم پریږدی.(یدل علیه مافی الـدر المختار وردالمحتـار ص ۵۱۶ جلـد ۱).﴿۱﴾.(۲).داسې په غلطئ دي ځکه چه اولني جماعت بغیرڅه شک شبهې نه جائز دي او په دویم جماعت کښې اختلاف دې نو دَ مشکوک دپاره یقیني څیز پریخودل نه دی پکار. وهو الموفق.

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويكره تكرار الجماعة باذان واقامة في مسجد محلة لا في مسجد طريق وقال ابن عابدين: اجمع ماهنا ونصبها يكره تكرار الجماعة في مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلى بهما فيه او لا غير اهله لكن بمخافتة الاذان ولو كرر اهله بدون هما او كان مسجد طريق جاز اجماعا الخ. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۴۰۸ جلد ۱ مطلب في تكرار الجماعة في المسجد باب الامامة)

...

فصل فی الاحق بالامامة

دَ عالم په موجودګئ کښې دَ غیر عالم امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یوه محله کښې فارغ التحصیل عالم دین موجود دې او دَجمعې مونځ ته هم حاضریږی. لیکن دکورنی معاملاتو په وجه باندې دَدې عالم والده صاحبه دَه ته دَامامت اجازت نه ورکوی. اونه دې پخپله امامت کوی او یو ورکوټې رور ئې دې چه په اتم جماعت کښې سبق وائی هغه ئې امام جوړ کړې دې نو آیا دَدې عالم مونځ په خپل ورکوټی ورور پسې کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ملک عزیزخان لندا.

الجواب: دَدې عالم داطریقه خلافِ اولی ده. کمافی شرح التنویر والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا مجمع الانهر، الاعلم باحکام الصلوة الخ (هامش ردالمحتار ص ۵۲۰ جلد ۱).﴿۱﴾. وهو الموفق.

عالم او صحیح ویونکی امام جوړول پکار دی صرف ښائسته آواز والا نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو عالم دین په یو جمات کښې پخوانې امام دې لیکن آواز ئې ښکلې نه دی او بعضې خلق صرف په دې وجه چه دې خوش آوازه نه دې دَامامت نه لرې کول غواړی او دده په ځائې بل کس چه عالم نه دې صرف خوش آوازه دې امام جوړول غواړی آیا دَشریعت په رڼا کښې دَدوی داموقف صحیح دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالقدوس ساهیوال.

﴿۱﴾(الدر المختار هامش ردالمحتار ص ۴۱۲ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: دَجمات مقرره امام دي مونځ کوی اګرکه دویم ترینه ډیرغټ عالم وی.
دخل المسجد من هو اولیٰ بـا لامامة من امام المحلة فامام المحلة اولیٰ، فتاویٰ عالمګیری ص ۸۲ جلد ۱ ﴿۱﴾ وامام المسجد احق بالامامة من غیره وان کان الغیر افقه واقرء واورع وافضل الخ ص ۱۷۸ جلد ۱ مراقی الفلاح ﴿۲﴾
خوش آوازی بنه څیز دي خوداحقرپه نزد خوش آوازه امام جوړول بهتر نه دی بلکه صحیح ویونکی امام جوړول پکار دی. لکه په فتاوی عالمګیری ص ۱۱۵ جلد ۱ یوولسمه (۱۱) کرښه کښې دی. لاینبغی للقوم ان یقدموافی التراویح الخوشخوان. ﴿۳﴾ .

المجیب: فضل الٰهی خالق داد ضلع ساهیوال.

دا جواب صحیح دي	دا جواب درست دي
مفتی جامعه اسلامیه	محمد فرید عفی عنه
عربیه رشیدیه ساهی وال	

فاسق امام به باقاعده طور معزول کولې شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په امام کښې یو څو حبرې دی چه دَهغې په وجه باندې دَهغه شخصیت دَامامت قابل نه دې. هغه سنیماکښې دَبې هوده فلمونو کتلو شوقین دې. بلکه باقاعده کتلو دپاره ځی. غیرشادی شده وو اوس ئې واده شوې دی. په سنیماکښې لیدلو باندې په سترګو لیدونکی ګواهان موجود دی. جمات کښې دَخلقوپه مینځ کښې منافقت کوی، ږیره ئې دَیوانچ نه هم کمه ده، اکثرمقتدیان ترینه خفه دی. نو داسې کس دَامامت نه معزول کول څنګه دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مسعودصدیقی محله موچی پوره علاقه کابلی ګیټ پیښور۔ یکم شعبان ۱۴۱۱ھ

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ص ۸۳ جلد ۱ الفصل الثانی فی بیان من هو احق بالامامة)
﴿۲﴾ حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۹۹ جلد ۱ فصل فی بیان الاحق بالامامة)
﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ص ۱۱۶ جلد ۱ فصل فی التراویح)

الجواب: بشرط صدق وثبوت که دې امام کښې داعیبونه وی نوپه هغه باندې ضروری ده چه دَدې ازاله اوکړی اوکه هغه "ضد" کوی نوده پسې دَنیکانو خلقو مونځ مکروه تحریمی دی. ﴿۱﴾ دَعوامونه. په ړندوکښې یوې سترګې والا بادشاه وی. ﴿۲﴾ . اوچه کوم امام فاسق وی هغه پخپله نه معزوله کیږی بلکه هغه باقاعده دَمعزوله کولو لائق وی. (شامی. بحر) ﴿۳﴾. وهوالموفق.

دَ امام په موجودګئ کښې دَ بل کس امامت مکروه دي.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو جمات امام ژوندې دې اودَخلوینښتو پنځوسو کالو راسې امام را روان دې لیکن دَجمعې په ورځ یوبل کس دَامام دَاجازت نه بغیر دَخپل ځان دَامام کیدلو اعلان اوکړو حال داچه هغه ته چاهم اجازت نه وو کړې. آیا بل څوک داسې امام مقررکیدلې شی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: رسول شاه عمرزئی چارسده........ ۱۹۷۳ء/۲/۱۴.

الجواب: که دغه مخکښې امام معزول شوې نه وی یا دَمونځ په وخت کښې غائب نه وی نوبغیردَاجازت نه دَبل امام امامت مکروه دي.
قال رسول الله ﷺ لا یؤمن الرجل فی سلطانه ﴿٤﴾ وفی الدرالمختار فی هامش

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: (ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی وآکل الربا ونحو ذلک. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)
﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجیم: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة کما لا یخفیٰ. (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)
﴿۳﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ویعزل به) ای بالفسق لو طرأ علیه والمراد انه یستحق العزل کما علمت آنفا. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۵ جلد ۱ باب الامامة)
﴿۴﴾ (مشکواة المصابیح ص ۱۰۰ جلد ۱ باب الامامة الفصل الاول)

ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد۱ اعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقاً ﴿۱﴾. وهو الموفق.

امام دپاره کم نه کم دَ اودس اودَ مونځ دَمسئلو علم ضروری دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه امام دپاره څومره علم ضروری دې او دَڅومره صفاتو ورته ضرورت دې؟ او دَکوم علم سند دَهغه سره کیدل پکاردی؟ او دَامام دپاره زکوة، فدیه، صدقه او دَقربانئ څرمنې اخستل جائز دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم......... ۱۹۷۳ء/۲/۱۲.

الجواب: امام دپاره کم نه کم دَاودس اودَ مونځ مسئلو نه خبریدل ضروری دی ﴿۲﴾ او چه کله امام غریب وی نو هغه ته زکوة، فدیه، فطرانه وغیره ورکول جائزدی. خو چه دَاجرت (تنخواه) نیت پکښې نه وی ﴿۳﴾ او دَقربانئ څرمنې مالدار امام ته هم ورکول جائزدی خو چه دَاجرت نیت پکښې نه وی. ﴿۴﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله: والاحق بالامامة تقديما بل نصبا مجمع الانهر الاعلم باحکام الصلاة. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۲ جلد ۱ قبیل مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

﴿۳﴾ وفی الهندیه ولو نوی الزکاة بما یدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستاجره ان کان الخلیفة بحال لو لم یدفعه یعلم الصبیان ایضا اجزأه والا فلا وکذا ما یدفعه الی الخدم من الرجال والنساء فی الاعیاد وغیرها بنیة الزکاة کذا فی معراج الدرایة. (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۹۰ جلد ۱ الفصل السابع فی المصارف)

﴿۴﴾ وفی الهندیه: ولو ادخل جلد الاضحیه فی قرطالة او جعله جرابا ان استعمل الجراب فی اعمال منزله جاز ولو اجر لا یجوز وعلیه ان یتصدق بالاجر واما القرطالة ان استعملها فی منزله او اعار جاز الخ. (فتاویٰ هندیه ص ۳۰۱ جلد۵ الباب السادس فی ما یستحب فی الاضحیة والانتفاع بها)

دَ جمات امام ته کنځلې کول او دَ "یوم ندعوا کل اناس بامامهم" مطلب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَپلارنیکه دَختونه په یو جمات کښې امام راروان دې او یو کس ورپسې مونځ کوی او ډیر خراب خراب کنځل ورته هم کوی. نو ددې سړی په شریعت کښې څه حکم دې؟ حال دا چه پیش امام صاحب دَرسول الله ﷺ دَمصلې وارث وی. دغه شان "یوم ندعوا کل اناس بامامهم" دَقیامت په ورځ به الله تعالی دَهر قوم امام او سردار راوغواړی. ددې آیت په رڼا کښې ددې سړی څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالرؤف.

الجواب: واضحه دې وې چه دَ صحیح احادیثو په بناء باندې دَمسلمان اکرام ضروری دې. ﴿۱﴾. او خاص طور سره چه امام وی. دَامام په بې احترامئ سره فساد او بدنظمی پیدا کیږی. او په قرآن مجید کښې دَ "بامامهم" نه دَ کلی امام مراد نه دې. ﴿۲﴾.

﴿۱﴾ عن ابن عمر ان رسول الله ﷺ قال المسلم اخو المسلم لا یظلمه ولا یسلمه ومن کان فی حاجة اخیه کان الله فی حاجته ومن فرج عن مسلم کربة فرج الله عنه کربة من کربات یوم القیٰمة ومن ستر مسلماً ستره الله یوم القیامة متفق علیه.
(مشکواة المصابیح ص ۴۲۲ جلد ۱ باب الشفقة والرحمة علی الخلق)

عن ابی هریرة ان النبی ﷺ قال اذا عاد المسلم اخاه او زاره قال الله تعالیٰ طبت وطاب ممشاک وتبوأت من الجنة منزلا رواه الترمذی.
(مشکواة المصابیح ص ۴۲۶ جلد ۱ باب الحب فی الله ومن الله)

﴿۲﴾ قال الحافظ عماد الدین ابن کثیر: یخبر تبارک وتعالیٰ عن یوم القیامة انه یحاسب کل امة بامامهم وقد اختلفوا فی ذلک فقال مجاهد وقتاده بنبیهم وهذا کقوله تعالیٰ (ولکل امة رسول فاذا جاء رسولهم قضی بینهم بالقسط الایة) وقال بعض السلف هذا اکبر شرف لاصحاب الحدیث لان امامهم النبی ﷺ وقال ابن زید لکتابهم الذی انزل علی نبیهم من التشریع واختاره ابن جریر وروی عن ابن ابی نجیح عن......

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَيو جاهل امام دپاره تعبير كول كفر ته دعوت وركول دى.《۳》.وهو الموفق.

په اجرت باندې دَ مونځ كولو والا امام او مقتديانو مونځ صحيح دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه متاخرين فقهاؤ دَموذن يا امام دَوخت دَپابندئ او مستقل تللو راتللو دپاره څه معاوضه جائز كړې ده.چه دَاجرت دَجواز دپاره يو سبب دې.كه دَيو موذن يا امام په نيت كښې دا دَجواز سبب نه وى او معاوضه دَ اذان او امامت معاوضه ګڼړى نو آيا دَهغوى اذان،مونځ دغه شان دَمقتديانو مونځ به صحيح وى كه نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتى:اكرام الحق راولپنډى.......۲/محرم ۱۳۹۲هـ.

الجواب: مونځ دَمتقدمينو او متاخرينو په نزد صحيح دې.اختلاف دَاجرت په جائز كيدلو او ناجائز كيدلو كښې دې.نعم هو محروم من الثواب عند عدم الاحتساب.《۲》.فقط.

(بقيه حاشيه) مجاهد انه قال: بكتبهم فيحتمل ان يكون اراد هذا وان يكون اراد ما رواه العوفى عن ابن عباس فى قوله (يوم ندعوا كل اناس بامامهم) اى بكتاب اعمالهم وكذا قال ابو العالية والحسن والضحاك وهذا القول هو الارجح لقوله تعالىٰ وكل شئ احصيناه فى امام مبين الخ. (تفسير ابن كثير ص ۴۷ جلد ۳ سورة بنى اسرائيل آيت ۷۱)

《۱》عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قال فى القرآن برأيه فليتبوأ مقعده من النار وفى رواية من قال فى القرآن بغير علم فليتبوأ مقعده من النار رواه الترمذى وعن جندب قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قال فى القرآن برأيه فاصاب فقد اخطأ رواه الترمذى وابوداؤد. (مشكواة المصابيح ص ۳۵ جلد ۱ كتاب العلم الفصل الثانى)

《۲》قال العلامه ابن عابدين: (قوله ولا لاجل الطاعات) الاصل ان كل طاعة يختص بها المسلم لا يجوز الاستئجار عليها عندنا لقوله عليه السلام اقرؤا القرآن ولا تاكلوا به وفى آخر ما عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم الى عمرو بن العاص وان اتخذت موذنا فلا تأخذ على الاذان اجرا ولان القربة متى حصلت وقعت عن العامل وهذا تعين اهليته فلا يجوز له اخذا لاجرة من غيره كما فى الصوم والصلاة هداية، (قوله ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن)......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

چه امام موجود نه وى نو بل كس دې دَ امام دَ اجازت نه بغير امامت اوكړى

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه دجمعې وخت برابر شوې دې او امام صاحب موجود نه دې نو دَامام صاحب دَ اجازت نه بغير مونږ خلق جماعت كولې شو كه نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتى:على اكبر پټن كلان آزاد كشمير.

الجواب: چه كله امام موجود نه وى نو بل سړې دې امامت اوكړى.《۱》.اګر كه دَ امام دَاجازت نه بغير وى.په حديث او فقه دواړو كښې دا حكم راغلې دې.وهو الموفق.

(بقيه حاشيه) قال فى الهداية وبعض مشايخنا رحمهم الله تعالىٰ استحسنوا الاستئجار على تعليم القرآن لظهور التوانى فى الامور الدينية ففى الامتناع تضيع حفظ القرآن وعليه الفتوىٰ، وقد اقتصر على استثناء تعليم القرآن ايضا فى متن الكنز ومتن مواهب الرحمن وكثير من الكتب وزاد فى مختصر الوقاية ومتن الاصلاح تعليم الفقه وزاد فى متن المجمع الامامة ومثله فى متن الملتقى ودرر البحار وزاد بعضهم الاذان والاقامة والوعظ وذكر المصنف معظمها ولكن الذى فى اكثر الكتب الاقتصار على ما فى الهداية فهذا مجموع ما افتى به المتاخرون من مشايخنا وهم البلخيون على خلاف فى بعضه مخالفين ما ذهب اليه الامام وصاحباه وقد اتفقت كلمتهم جميعا فى الشروح والفتاوىٰ على التعليل بالضرورة وهى خشية ضياع القرآن كما فى الهداية وقد نقلت لك ما فى مشاهير متون المذهب الموضوعة للفتوىٰ فلا حاجة الى نقل ما فى الشروح والفتاوىٰ وقد اتفقت كلمتهم جميعا على التصريح باصل المذهب من عدم الجواز ثم استثنوا بعده ما علمته فهذا قاطع وبرهان ساطع على ان المفتى به ليس هو جواز الاستئجار على كل طاعة بل على ماذكره فقط.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۸ جلد ۱ مطلب فى الاستئجار على الطاعات كتاب الاجارة)

《۱》قال الحصكفى واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولىٰ بالامامة من غيره مطلقا وقال ابن عابدين اى وان كان غيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه وفى التتارخانية جماعة اضياف فى دار يريد ان يتقدم احدهم ينبغى ان يتقدم المالک فان قدم واحدا منهم لعلمه وكبره فهو افضل واذا تقدم احدهم جاز لان الظاهر ان المالک ياذن لضيفه اكراماله. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ باب الامامة)

چه د جماعت مشر امام مقرر شوی وی نو بل کس د امامت څه حکم دی؟

الجواب علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه يو قوم ښه په رضا سره د جماعت مشر امام مقرر کړو او څه وخت ئي اوشو اوس د امام د معزز کيدلو په وجه باندي ور سره بعضي مقتديانو حسد شروع کړو حال دا چه په هغه کښي داسي څه عيب نشته چه د اقتداء نه مانع وي او اوس قوم د حسد په وجه بل کس پسي اقتداء کوی نو آيا د دي بل امام پسي اقتداء صحيح ده؟

بينوا توجروا.

المستفتي: خليل الرحمن انور اډينه ضلع صوابی ۱۲/۷/۱۹۷۴

الجواب د قوم په نسبت سره د جماعت مشر او جوړونکي زيات لائق په امامت او مشرئ باندي دي

كما في الشرح الكبير ص ۵۴۱ رجل بنى مسجداً وجعله لله تعالىٰ فهو احق بمرمته وعمارته ..... والامامة فيه ان كان اهلا لذالک ..... وكذا ولد الباني النهي: بحذف يسير ﴿۱﴾ وبمعناه في خلاصة الفتاوى ص ۳۲۱ جلد ۴ ﴿۲﴾
لهذا د اولني امام په موجودګئ کښي د بل امام امامت ظلم دي وهو الموفق

په جماعة النساء کښي د تحقيق نه جواز بلاكراهيت معلوميږي

سوال علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه مستورات نماز تراويح په جماعت سره کولي شي؟ چه يوه حافظه ښځه ورته امامت کوی او دوه څلور ښځکي ئي مقتديانې شي آيا دا جائز دي؟ بينوا توجروا.

المستفتي عبد الصبور صاحب بنوں ۱۱/۱۰/۱۹۷۴

﴿۱﴾ (غنية المستملي شرح منية المصلي ص ۵۶۷ فصل في احكام المسجد)

﴿۲﴾ قال العلامه طاهر بن عبد الرشيد رجل بنى مسجداً في سکه فنازعه بعض اهل السكة في عمارته او نصب المؤذن والامام فالمختار ان الباني اولىٰ وفي العمارة اولىٰ بالاتفاق. (خلاصة الفتاوى ص ۳۲۱ جلد ۴ الفصل الرابع في المسجد واوقافه ومسائله)

الجواب فقهائي كرامو "جماعة النساء" ته مكروه تحريمي ويلي دي

كما في الدر المختار ويكره تحريما جماعة النساء ولو في التراويح ﴿۱﴾ (هامش رد المحتار ص ۳۸۰ جلد ۱) وفي الهنديه ص ۸۹ جلد ۱ ويكره امامة المرأة للنساء في الصلوات كلها من الفرائض والنوافل الا في صلوة ... وة هكذا في النهاية ﴿۲﴾

ليكن د تحقيق نه جواز بلاكراهيت معلوميږي

كما قال العلامة اللكهنوي في عمدة الرعاية على هامش شرح الوقايه (۱۴۲ جلد ۱) ان الحق عدم الكراهة وقد امت بهن ام سلمة وعائشة في التراويح وفي الفرض كما اخرجه ابن ابي شيبة وغيره. وامت ام ورقة في عهد النبي ﷺ بامره كما اخرجه ابو داؤد النهي ما في العمدة ﴿۳﴾ قلت ما قالوا انها منسوخة فضعيف من وجهين عدم تحقيق الناسخ وكذا فعل امهات المؤمنين اياها بلا نكير كما مر في كلام المحقق وكذا الكر ابن الهمام لتحقق الناسخ، ولو قالوا انها مخصوصة بام ورقة قلنا لا يصح دعوى الخصوصية ايضا لانها فعلتها امهات المؤمنين رضي الله عنهم بعد وفاته قلت والاوجه عندي ان يحمل الكراهة على الخروج الى المسجد للجماعة. وهو الموفق

چه د ښځه تختولي شوي وي د داسي مظلوم اقتداء او امامت صحيح دی

سوال علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه د زيد منكوحه ښځه او تختوله اوس د زيد امامت او هغه پسي اقتداء صحيح ده که نه؟

بينوا توجروا

المستفتي ډهيران گل مندو خيل خوږه نظام پور پېښور ۵/۹/۱۹۷۷

﴿۱﴾ (الدر المختار على هامش رد المحتار ص ۴۱۸ جلد ۱ مطلب هل الاساءة دون الكراهة او افحش منها باب الامامة)

﴿۲﴾ (فتاوى عالمگيريه ص ۸۵ جلد ۱ الفصل الثالث في بيان من يصلح اماما لغيره)

﴿۳﴾ (عمدة الرعاية هامش شرح الوقاية ص ۱۴۲ جلد ۱ فصل في الجماعة)

الجواب: مظلوم پسې اقتداء کول مکروه نه دی البته ظالم پسې اقتداء کول مکروه دی.﴿۱﴾ لکونه فاسقافاجراً ﴿۲﴾.بـل یکفـر عندالاسـتحلال.﴿۳﴾.

وهوالموفق.

په جمات او امامت کښې دَ غلط قرات والا دعوی کونکی امامت

سوال: دَیو جمات امام دې چه دَحروفو مخارج اوصفات بالکل نه پیژنی حال داچه په دې جمات کښې ئې مخکښې پلار امام وو.چه کله ئې پلار مړشو نوده په مصلې قبضه اوکړه.اومحلې والو باقاعده امام نه دې جوړکړې لیکن دَمحلې اکثریت ده پسې مونځ کوی.لیکن بعضې خلق ئې مخالفت کوی امام صاحب وائی دامصلی او امامت زمونږ وارثت دې اوسیرئ (زمکه) هم زمونږ ده چونکه داجمات دَهغوی په جائیداد کښې جوړشوې دې اودَسوونو(۱۰۰) کالونه مخکښې موجود دې لهذا ددې امام څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی:نامعلوم.........۳/ربیع الاول ۱۴۰۳ هـ.

﴿۱﴾عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ المسلم اخو المسلم لا یظلمه ولا یخذله ولا یحقره...... کل المسلم علی المسلم حرام دمه وماله وعرضه رواه مسلم.

(مشکواة المصابیح ص ۴۲۲ جلد۲ باب الشفقة والرحمة علی الخلق)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویکره امامة عبد وفاسق قال ابن عابدین: تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: لکن فی شرح العقائد النسفیة استحلال المعصیة کفر اذا ثبت کونها معصیة بدلیل قطعی وعلی هذا تفرع ما ذکر فی الفتاویٰ من انه اذا اعتقد الحرام حلالا فان کان حرمته لعینه وقد ثبت بدلیل قطعی یکفر والا فلا بان تکون حرمته لغیره او ثبت بدلیل ظنی وبعضهم لم یفرق بین الحرام لعینه ولغیره وقال من استحل حراما قد علم فی دین النبی علیه السلام تحریمه کنکاح المحارم فکافر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۹ جلد۲ مطلب استحلال المعصیة القطعیة کفر)

الجواب: په جمات او امامت کښې دَمیراث حصې نه جاری کیږی البته که دَمخکښې دامام ځوئې غلط خوان نه وی نو دَمصلحت اوحوصله افزائی دپاره دې هغه امام جوړکړیشی.﴿۱﴾ .اودَغلط خوان کیدلو په صورت کښې ددې تعمیرکونکی یاوقف کونکی دَځوئی په رائې سره دې بل امام مقررکړې شی.﴿۲﴾. (ماخوذاز کبیری. خلاصه الفتاوی والشامیة).وهوالموفق.

په خطابت او امامت کښې میراث نه جاری کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو جامع مسجد دَ اوقاف بورډ په قبضه کښې دې هغوی پکښې زید په تنخواه سره خطیب مقرر کړو څوکاله پس زید مړشو نودې بورډ پکښې بل خطیب عمرصاحب مقررکړو چه هغه دَدیوبند اوډابهیل نه فاضل دې او دَ دې اسلامی مدرسو مهتمم دې اودغه شان پوخ عمر والا مقرر او مدرس عالم دې.اوس دَزید ځوان ځوئې دې "بکر" چه عالم نه دې بلکه په یوه مقامی مدرسه کښې ناظم وو.هغه وائی چه دې جامع مسجد کښې زماپلار خطیب وو نو په دې وجه دا زما حق دې اوماته دې په میراث کښې راکړیشی اوزما په ژوند کښې دَاوقافو بورډ بل څوک خطیب نشی مقررکولې.آیا واقعی په امامت اوخطابت کښې وراثت جاری کیدیشی؟اوبکر او عمر کښې څوک ډیر مستحق دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سیداحمدشاه چارسده.........۲۸/۱۱/۱۹۷۲ء.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: واذ مات احد من اهلها توجه علی ولده فان لم یخرج علی طریقة والده یعزل وتوجه للاهل.

(ردالمحتار ۳۰۸ جلد۳ مطلب تحقیق مهم فی توجیه الوظائف للابن فصل فی الجزیة)

﴿۲﴾قال العلامه الحلبی: رجل بنیٰ مسجدا وجعله لله فهو احق بمرمته وعمارته وبسط البواری والحصیر والقنادیل والاذان والاقامة والامامة فیه ان کان اهلا لذلک وان لم یکن فالرایٔ فی ذلک الیه وکذا ولد البانی وعشیرته من بعده اولیٰ من غیرهم.

(غنیة المستملی شرح الکبیر ص۵۶۷ فصلی فی احکام المسجد)

(ومثله فی خلاصة الفتاویٰ ص ۴۲۱ جلد۴ الفصل الرابع فی المسجد واوقافه ومسائله)

الجواب: که دَخطیب ځوئې ددې منصب دَ ادا کولو اهل (حقدار) وی ﴿۱﴾ او دده په نائب جوړولو کښې دَدِین دَخدمت امید وی نو دَتعاون او حوصله افزایئ په طوربه دې نائب جوړولې شی او که دا ځوئې ئې ناأهله وی او دده دَ ذات نه دَ دینی خدمت امید نه وی نو دې به نائب نه شی جوړولې. (فلیراجع الی ردالمحتار ص ۳۸۸ جلد۳). وهوالموفق.

امام ته کنځلې کول او په سپک نظر سره دَ کتلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام دې او قوم ورته په سپک نظر سره ګوری بلکه کله کله ورته کنځلې او سختې سپورې ستغې خبرې هم کوی. او پیش امام ته ددې ټولو څیزونو معلومات شته لیکن هغه دَدنیاوی مفادو دپاره چشم پوشی کوی. او ښېې ئې ښخې کړې دی. مصلې پریخودلو ته تیار نه دې. نو سوال دادې چه دَداسې قوم مونځونه دې امام پسې چه په سپک نظر ورته هم ګوری شرعاً صحیح دی که نه ؟ او دَداسې امام دپاره امامت نه پریخودل صحیح دی که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی عبدالجبار لاهور خورد......... ۱۳۹۲/۱۲ هـ.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: نعم قال الحموی فی رسالته وقد ذکر علماء نا انه یفرض لاولادهم تبعاً ولا یسقط بموت الاصل ترغیبا وذکر العلامة المقدسی ان اعطاء هم بالاولیٰ لشدة احتیاجهم سیما اذا کانوا یجتهدون فی سلوک طریق آبائهم...... اذا مات من له وظیفة فی بیت المال لحق الشرع واعزاز الاسلام کاجر الامامة والتأذین وغیر ذلک ممافیه صلاح الاسلام والمسلمین وللمیت ابناء یراعون ویقیمون حق الشرع واعزاز الاسلام کما یراعی ویقیم الاب فللامام ان یعطی وظیفة الاب لابناء المیت لا لغیرهم لحصول مقصود الشرع وانجبار کسر قلوبهم...... واذا مات احد من اهلها توجه علی ولده فان لم یخرج علی طریقة والده یعزل عنها وتوجه للاهل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۰۷، ۳۰۸ جلد۳ مطلب من له وظیفة توجه لولد من بعده فصل فی الجزیة)

الجواب: مسلمان او بالخصوص پیش امام ته کنځل کول فسق او فجور دې. لحدیث رواه مسلم سباب المسلم فسوق ﴿۱﴾ دغه شان په عُرف کښې هم ناجائز او دَ ملامتیا باعث دی لیکن ددې سره سره ددې قوم اقتداء په دې امام پسې صحیح ده. لوجود شرائط الاقتداء وعدم الموانع ﴿۲﴾. او که دا امام مجبور او محتاج نه وی نو دده دپاره دا امامت پریخودل بهتر دی. ځکه چه خپل ځان ذلیل کول او ذلت ته ورکول شرعی طور سره مذموم دی. وهوالموفق.

په سوال کښې لیکلې شوی صفتونو والا سړی امام مقرر کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې داقسم صفتونه او عقیده لری. مثلاً ﴿۱﴾. وائی چه څوک دَامام په اقتداء کښې فاتحه نه وائی هغه ګمراه (بې لارې) دې. دَهغه مونځ صحیح نه دې. ﴿۲﴾. دَزکوة اخستو والا دپاره تقوی او دَیو کلی نمبردار کیدل ضروری دی. ﴿۳﴾. ځوئې چه دَخپل پلار نه جدا شی نو زکوة ورکولې شی. ﴿۴﴾ دَخپلې محلې دَجمات متعلق وائی چه دا محراب او جمات زما دَ پلار ذاتی ملکیت دې. ﴿۵﴾. سود او دګانړې نه فائده اخستل جائز ګڼړی.

آیا داسې کس امام مقرر کول جائز دی ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالعزیز اوګی مانسهره.

﴿۱﴾ (الصیح المسلم ص۵۸ جلد۱ باب بیان قول النبی ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر کتاب الایمان)

﴿۲﴾ وفی منهاج: (قوله رجل ام قوما وهم له کارهون) قال ابن الملک لبدعته او فسقه اوجهله اما اذا کان بینه وبینهم کراهة عداوة بسبب امر دنیوی فلا یکون له هذا الحکم، وقال القطب الجنجوهی جملة الامرانه لو کان فیه مایوجب کراهة شرعا اعتبرت کراهة وان لم یکرهه احد، وان لم یکن فیه ذلک شرعا لم یعتبر فیه کراهة من کرهه وان کرهه الکل. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۴۰ جلد۲ باب ماجاء من ام قوماً وهم له کارهون)

الجواب: داسې دَسلفیانو دَلې نه معلومیږي دې دَاحنافو امام مقرر کول دَفساد او فتنې باعث دی. داسې کس دپاره ضروري ده چه دَسلفیانو امام جوړ شي (۱) وهو الموفق.

دَ اوقافو محکمه دې دَ پیوټن نه معذورو ملازمینو ته دَ وخت تیرولو دَ پاره مراعات ورکړي

سوال: علمائې دین دې مَسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږدَمحلې دَجمات پیش امام او خطیب صاحب ډیر بوډا شوې دې چه دَ څو میاشتو نه په بستره پروت دې او جمعه دَهغه ځوئې ورکوی او بعضې مونځونه هم کوی آیا دې امام دپاره چه دَپیوټې نه غیر حاضر دې دَمحکمه اوقاف نه تنخواه اخستل جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتي: محمد علی نوشهره صدر ..۱۲/نومبر ۱۹۸۷ء.

الجواب: دَمحکمه اوقاف دپاره ضروري ده چه مذکوره زوړ امام ته مراعات ورکړي او دَداسې امام په اهل اولاد کښې یو نوې امام منتخب کړي چه دَقوم ذریعه معاد (باجماعت مونځ) ته دَ چا دَ ذریعه معاش دَخطرې په وجه نقصان اونه رسیږی. (۲) وهو الموفق.

---

(۱) قال ابن عابدين: ومما يزيد ذلک وضوحا ما صرحوا به فی كتبهم متونا وشروحا من قولهم ولاتقبل شهادة من يظهر سب السلف...... وقال ابن ملک فی شرح المجمع وترد شهادة من يظهر سب السلف لانه يكون ظاهر الفسق...... وقال الزيلعی او يظهر سب السلف يعنی الصالحين منهم وهم الصحابة والتابعون لان هذه الاشياء تدل على قصور عقله وقلة مروائه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۲۱ جلد ۲ مطلب مهم فی حكم سب الشيخين)

(۲) قال ابن عابدين: اذا مات من له وظيفة فی بيت المال لحق الشرع واعزاز الاسلام كاجر الامامة والتأذين وغير ذلک مما فيه صلاح الاسلام والمسلمين وللميت ابناء يراعون ويقيمون حق الشرع واعزاز الاسلام كما يراعی ويقيم الاب فللامام ان يعطی وظيفة الاب لابناء الميت لا لغيرهم لحصول مقصود الشرع وانجبار كسر قلوبهم...... واذا مات احد من اهلها توجه على ولده فان لم تخرج على طريقة والده يعزل عنها وتوجه للاهل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۰۷، ۳۰۸ جلد ۳ فصل فی الجزية)

دَ امامت په حاصلاتو کښې دَ حصې غوختلو په وجه باندې دَ مور خوئې لره عاق کول دَ امامت دپاره ضرر رسان نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو سړی والدصاحب مړشوې دې او مور دوه خویندې او درې خوریینه دده په ذمه کښې پاتې شوې دی. دې سړی مور او خویندوته په جائیداد کښې خصه هم ورکړې ده او چه دَامامت کوم حاصلات دی په هغې کښې ئې څه حصه جوړیږی که نه؟ سره ددینه چه دَکلی معززینو او ممبرانو په دې سړی باندې درې نیم زره روپې ایخې دی چه خپلې مورته به ورکوې اوس ددې سړی خور او خوریینه مور رااوچتوی چه خپل ځوئې عاق کړه. اوداهم ورته اووایه چه څه تاته پئ نه بخم. نوآیا په دې الفاظو سره داسړی عاق کیږی یا نه؟ اوس عوام هم خراب شوې دی چه دې مور عاق کړې دې لهذا ده پسې اقتداء صحیح نه ده آیا واقعی دده اقتداء صحیح نه ده؟ بینوا توجروا.

المستفتي: سید روخان شکرپوره پیښور.....۲۹/ذی الحجه ۱۴۰۹ھ.

الجواب: دَامامت منصب څه جائیداد نه دې او نه میراث دې چه دَمور حصه پکښې وی داخو صرف خلافت دې البته ددې سړی پلار ته څه ملکانه دَملکیت په طور ورکړې شوې وی نو په هغې کښې به دَ وارثانو حصه وی. او که دا ملکانه کښې ئې ورته دَملکیت په طورنه وی ورکړې او دَاوقافو دَجمات وی نو په دې دَامام نه علاوه دَنورو خلقو (دَامام مور او خویندو) هیڅ حق نشته.

ملاحظه: دَ اولنی صورت په تقدیر باندې دَمور خفګان په ځائې دې او په دویم صورت کښې بې ځایه دې. او داځوئ عاق نه دې وهو الموفق.

---

(۱) قال العلامه ملا علی قاری: (قوله عقوق الوالدين) ای قطع صلتهما ما خوذ من العق وهو الشق والقطع والمراد عقوق احدهما قيل هو ايذاء لا يتحمل مثله من الولدعادة وقيل عقوقهما مخالفة امرهما فيما لم يكن معصية.

(هامش مرقاة على المشكواة المصابيح ص ۱۷ جلد ۱ باب الكبائر وعلامات النفاق)

و فی منهاج السنن: (قوله عقوق الوالدين) ای قطع صلتهما...... (بقيه حاشيه په بله صفحه)

دَ مفقود الزوجه امام پسې مونځ کول صحیح دی

سوال: داسې امام چه مفقودالزوجه وی هغه پسې مونځ کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم......... ۲۷/۲/۱۹۷۶ء.

الجواب: دَمفقودالزوجه امام پسې مونځ کول (یعنی اقتداء کول) دَ یوامام په نزد هم ممنوع نه دی. ﴿۱﴾ .وهوالموفق.

په واده کښې غیر شرعی رسمونه او عهد شکنۍ والا امام معزول کول مناسب دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په پټیال علاقه کښې ټولو خلقو یوبل نه قسمونه اخستې دی چه په واده به غیرشرعی رسمونه مثلاً ډهول غړول سندرې وغیره او ګډیدل دابه نه کیږی. او که څوک ددې وعدې خلاف ورزی اوکړی دَهغه سره به ناسته پاسته او خوراک څښاک پریخودلې کیږی. تقریباً پنځه کالو پورې ټول خلق په دې وعدې باندې پابندو ولیکن زمونږ دَجمات امام صاحب دا وعده ماته کړه او سندرې ئې پکښې اوکړی. چه دائې اولیدل نو په یو بل واده کښې هم داسې اوشو او دَ ډهول وغیره سره ئې سندرې والا ښځې هم را اوغوښتلې او دَټولو په مخکښې ګډولې شوې. او دې

(بقیه حاشیه) وایذاء هما وملخصه ارتکاب امر یوذیهما ولا یتحمل مثله من الولد، والعقوق حرام الا اذا کان فی طاعتهما معصیة الخالق او کان فیها تغیر الشرع، والعاق فاسق فیجری علیه ما یجری علی الفاسق.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۳ جلد ۲ باب ماجاء فی التغلیظ فی الکذب والزور)

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن: (قوله رجل ام قوما وهم له کارهون) قال ابن الملک لبدعته او فسقه او جهله اما اذا کان بینه وبینهم کراهة عداوة بسبب امر دنیوی فلا یکون له هذا الحکم وقال القطب الجنجوهی جملة الامر انه لو کان فیه مایوجب کراهته شرعا اعتبرت کراهة وان لم یکن یکرهه احد، وان لم یکن فیه ذلک شرعا لم یعتبر فیه کراهة من کرهه وان کرهه الکل.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۴۰ جلد ۲ باب ماجاء من ام قوما وهم له کارهون)

امام صاحب دَهغه بائیکاټ هم اونکړو. او نکاح دپاره ورله لاړلو او س ددې امام څه حکم دې. چه دده امامت جائز دې که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.....مانسهره.

الجواب: که عام خلق دَ امام تعاون کونکی او دَ امام مدافعت کونکی نه وی او امام یواځې پریخودونکې وی نو داسې بې غیرته او عهد شکن امام معزول کول مناسب دی. ﴿۱﴾ .وهوالموفق.

دَ مودودی ګروپ والو دَ امامت په لحاظ سره قسمونه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه دَمودودی عقیدې والا پسې مونځ جائز دې که نه؟ که یو سړې دَجماعت اسلامی او مودودی صاحب کتابونو اورسالې تقسیموی او خلقوته دعوت ورکوی چه په دې پارټۍ کښې شامل شئ لیکن هغه داکارصرف دَضدنه کوی اودَمودودی عقیدې نه منی نو دَهغه څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شیرعلی خان پیبنور...... ۱۴/۱۰/۱۹۸۴ء.

الجواب: دَجماعت اسلامی (مودودی ګروپ) کسان په درې قسمه دی. اول هغه خلق چه دَمودودی صاحب تفرداتو ته حق وائی دویم هغه دی چه دې تفرداتو ته حق نه وائی لیکن ددوی طرف ته د غلط نسبت کونکو مدافعت کوی. دریم هغه چه صرف په سیاسی کارونو کښې ورسره شریک وی دَمدافعت اومُداهنت نه پاک دی. دَاولنی قسم پسې مونځ نه کیږی. دویم قسم پسې اقتداء مکروه ده. اودریم قسم پسې اقتداء دَ نورو غیراسلامی (سیکولر) پارټو پشان (لکه مسلم لیګ، نیشل وغیره) حکم لری. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: وعند الحنفیة لیست العدالة شرطا للصحة فیصح تقلید الفاسق الامامة مع الکراهة واذا قلد عدلا ثم جار وفسق لا ینعزل ولکن یستحب العزل ان لم یستلزم فتنه...... ویعزل به ای بالفسق لو طرأ علیه والمراد انه یستحق العزل کما علمت آنفا ولذا لم یقل ینعزل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۵ جلد ۱ باب الامامة)

دَ جماعت امام بغیر څه وجې نه معزول کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید په یو کلی کښې اته(۸) انه(۹) کالونه پیش امام وو، دَعذرشرعی نه بغیر دکلی خلقو په زور معزول کړو او دده په ځائې ئې عمرو چه دکلی دَ مَلَک صاحب رشته دار دې پیش امام جوړ کړو. نوسوال دادې چه په دې صورت کښې دَ "عمرو" امامت جائز دې که نه؟ اوددې کال فصل به دَ "عمرو" وی که دَ "زید"؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل رحمن پیش امام باجوړ

الجواب: (الف). امام بغیر دَڅه وجې نه معزول کول اګرچه ګناه ده لیکن نافذبه وی چه دَ اهل حِل وعقد دَطرفنه وی. نظیره العزل عن الامامة الکبری بالتغلیب (من الاشباه والنظائر ص۴۰۲) ان الامام لیس له ان یخرج شیأ من یدالابحق ثابت معروف. فافهم.

(ب): دکوم امام چه سالانه(کلنې) اجرت مقرر کړې شوې وی نو دَ کال په دوران کښې دَ معزول کولو په صورت کښې به دَعمل مطابق دَاجرت مستحق وی نظیره مافی ردالمحتارص۵۷۷جلد۳ان المدرس لومات اوعزل فی اثناء السنة قبل مجیئی الغلة وظهورهامن الارض یعطی بقدر ماباشرویصیرمیراثاعنه کالاجیراذامات فی اثناالمدة. ﴿۱﴾ .وهوالموفق.

دَ تنسیخ نکاح" دَ مسئلې نه دَ منکرامامت جائز دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی خپله ښځه دَعدالت په بیابیا تنبیهاتوباندې آباده نه کړه او کیس له هم نه راځی آخر کار عدالت دَتنسیخ نکاح" ډګری جاری کړه. بنده دَ "دیوبند، سهارنپور، دهلی،

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۵۷ جلد۳ مطلب فیما لومات المدرس او عزل قبل مجئی الغلة کتاب الوقف)

کراچئ ملتان، اکوړه خټک وغیره نه فتوې اوغوښتلې چه په دې صورت کښې شرعاً طلاق شوې که نه نوټولو لیکلې دی چه طلاق شوې دې اودَعدت نه پس ورته بل ځائې کښې نکاح جائز ده نوبنده په دویم ځائې کښې په نکاح ورکړه اوس زمونږدَجمات امام صاحب وائی چه تنسیخ نکاح" زمونږ په مذهب کښې نشته لهذا دادویمه نکاح حرامه ده. نو اوس تپوس دادې چه کله مفتیانو فتوی ورکړه او دَعدت نه پس چه ئې جائز اوګنړله نونکاح ئې اوکړه نودیته حرام ویونکې پسې شرعاً مونځ مکروه دې یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم........

الجواب: که دَډیر سخت ضرورت(مثلاً دَعزت ویره یا دَخرچې انتظام نه وی) په بناء باندې دافسخ شوې وی نودافسخ اودَحاکم طلاق ورکول صحیح دی اودَعدت نه پس نکاح جائز ده. ﴿۱﴾ . اودیته غلط ویونکې مولوی صاحب په غلطئ باندې دې. هغه پسې په اقتداء کولو کښې هیڅ نقصان نشته ځکه چه دامولوی صاحب دَاصلی مذهب په بناء باندې په حقه دې. اګرچه دَیولوئې جماعت په فتوی باندې دَبې اعتمادئ په وجه په غلطئ دې. وهوالموفق.

په شریعت کښې دَامام اوخطیب د پاره د ریټائرمنټ یعنی دَ معزولئ تعین

علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیوامام دین دپاره دَدرس وتدریس" امامت اوخطابت په سلسله کښې شرعاً دَعمرقید څومره دې؟ آیا شریعت څه قید مقرر کړې دې چه دَفلانکی عمرپورې دَدینې فرائضوپوره کولو نه پس دې ورته ریټائرمنټ ورکړې شی. مثلاً داسې علمائې کرام چه دَ اوقافو ملازمین دی شرعاً دَڅومره عمرپورې دکارلائق پاتې کیږی که شرعاً دَعمرڅه قیدوی هغه واضح کړئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حمیدالرحمن عابدقادری انورالاسلام بهګوان بازار لاهور_ ۱۲/صفر۱۳۹۲ھ

الجواب: دَقواعدو په بنیاد دَخطیبانو او امامانو معزول کول صحیح نه دی ترڅو

﴿۱﴾ (حیلـه ناجزه للشیخ اشرف علی التهانوی ص ۲۹ جز دوم تفریق الزوجین بحکم حاکم)

پورې چه فرائض پورې کولې شی لیکن دَعجز او شرطونو وخت کښې معزول کول صحیح دی. لعموم الحدیث المسلمون عندشروطهم او کماقال(الحـــدیث). ﴿١﴾. وهوالموفق.

دَ جمات امام ته کنځل کول فسق دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی دَشپږو کالو پورې یو امام پسې مونځ اوکړو. بیاپه پارټئ کښې دَشامل کیدلو په وجه باندې ئې دَشپږو کالونه مونځ پریخې دې او ښکاره په ښکاره دَامام متعلق وئی چه ددې امام پسې مونځ کول داسې دی لکه یو خرپسې مونځ کول بلکه دې نه هم خراب دی. ددې سړی دپاره دَشریعتِ محمدی ﷺ په رڼړا کښې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی امیرزمان قلندرآباد هزاره............١٩٧٢ء/١١/١٦.

الجواب: که تپوس والا رښتینی وی نو دا سړې فاسق او دَتعزیر لائق دې. قـال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق.(٢).(رواه مسلم) (والتفصیل فی ردالمحتار ص٢٠٢ جلد٣) (٣). وهوالموفق.

﴿١﴾ قـال ابـن سیرین اذا قال بعه بکذا و کذا فما کان من ربح فهو لک او بینی وبینک فلا بأس به وقال النبیﷺ المسلمون عند شروطهم.
(الجامع الصحیح للبخاری ص٣٠٣ جلد ١ باب اجرا لسمسرة کتاب الاجارة)

﴿٢﴾ (الصحیح المسلم ص٥٨ جلد١ باب بیان قول النبیﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر کتاب الایمان)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لا یعذر بیاحمار یا خنزیر یا کلب یاتیس یا قرد یا ثور یا بقر یا حیة واستحسن فی الهدایة التعزیر لو المخاطب من الاشراف وتبعه الزیلعی وغیره. (الدر المختار هامش ردالمحتار ص ٢٠٢ جلد٣ مطلب فی الجرح المجرد باب التعزیر)

دَ غلط قرات کولو والا امامت مکروه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام صاحب په قرات کښې لاندینئ غلطیانې کوی. دَهغه اقتداء مکروه ده که نه؟ (١). صراط المستقیم" په صادزبر وائی. (٢). په "غیرالمغضوب" کښې په راء باندې دَ زیر په ځائې زبروائی. (٣). دَ سمع الله په ځائې "سمق الله" وائی. (۴). په سورة الملک کښې دَ"فمن یاتیکم" په ځائې "یـاتکم" یعنی بغیر یاء نه ئې وائی. (۵). په سورة الفلق او سورة الناس کښې "برب فلق" یعنی بغیر لام نه او په سورة الناس کښې "اعوذبرب ناس" یعنی شَد" پکښې پریږدی. (٦). او "فی تضلیل "په ځائې فی تضلٍ" وائی. ﴿٨﴾ .فویل للذین" په ځائې فویـل ایلـذین" یعنی په لام باندې زیر وائی. او للذین" ته ایلذین" وائی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اهالیان موضع صریح چارسده.......١٩٧٢ء/٩/١٩.

الجواب: که داخبره او تپوس رښتیا وی نو داسې امام پسې مونځ کول مکروه دی. ﴿١﴾ .دې باقاعده امام جوړول او امام ساتل، دَمونځ ضائع کول. دې امام باندې ضروری ده چه په مشق سره ددې غلطیانو ازاله اوکړی ګنې نو استعفیٰ دې ورکړی .وهوالموفق.

﴿١﴾ قـال العـلامة الـحصکفی رحمه الله: ولا غیر الا لثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبیٰ وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما کالامی فلایؤم الامثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه او ترک جهده او وجد قدرالفرض مما لالثغ فیه هـذا هو الصحیح المختار فی حکم الالثغ وکذا من لا یقدر علی التلفظ بحرف من الحروف اولا یقـدر علی اخراج الفا الا بتکرار واعلم انه اذا فسد الاقتداء بای وجه کان لا یصح شروعه فی صلاة نفسه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ٤٣٠ جلد ١ مطلب فی الالثغ باب الامامة)

بې ږيرې هلک پسې اقتداء کول مکروه تنزيهی دی.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم هلک بالغ ښکلې مخ والا او مشتهی هم وی او په مخ اوځنې باندې ئې دږيرې دَيو ويښته اثرهم نه وی مخ ئې دَشيشې پشان صفا او مزيدار وی او ډيرښائسته وی نو آيا داسې هلک پسې مونځ صحيح دې؟

بعضې خلق وائی چه دا امامت مکروه تنزيهی دې نو که دکراهيت تنزيهی هروخت څوک ارتکاب کوی نو دَ"الاصرار علی الصغيرة کبيرة" په بناء باندې به داتحريمی جوړيږی که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتی: محمدایاز بنوں

الجواب: بې ږيرې (اَمرَد) هلک چه ښکلې مخ والا وی اقتداء ورپسې صحيح ده ليکن مکروه تنزيهی ده.

فی ردالمحتار ص ۵۲۵ جلد ۱ ﴿۱﴾ قوله وکذا تکره خلف امرد الظاهر انها تنزيهية والظاهر ايضا کما قال الرحمتی ان المراد به صبيح الوجه لانه محل الفتنة،

مکروهِ تنزيهی نه په ګناهِ صغيره کښې داخل دې اونه په کبيره کښې. بدليل صدوره عن الانبياء عليهم السلام ﴿۲﴾. لهذا په دې باندې اصرار کول به نه ګناه وی اونه به ګناهِ کبيره وی. لهذا داسې کس امام جوړول بهتر نه دی. ګڼې نو دَکراهيت تحريمی نه بغير ورپسې اقتداء صحيح ده. وهو الموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

﴿۲﴾ قال الامام ابو حنيفة رحمه الله: والانبياء عليهم الصلوٰة والسلام کلهم منزهون عن الصغائر والکبائر والکفر والقبائح وقد کانت منهم زلات وخطيئات، قال الملا علی قاری فی شرحه عن ابن الهمام والمختار ای عند جمهور اهل السنة العصمة عنها ای عن الکبائر لا الصغائر غير المنفردة خطأ او سهواً ومن اهل السنة من منع السهو عليه، والاصح جواز السهو فی الافعال، والحال ان احداً من اهل السنة لم يجوز ارتکاب المنهی منهم عن قصد ولکن بطريق السهو والنسيان ويسمی ذلک زلة.

(شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص ۵۶،۵۹ الانبياء منزهون عن الکبائر والصغائر)

چه پيدائشی شل لاس دَتکبير په وخت کښې دَ سر نه اوچت ځی دداسې امام دَ امامت حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَيو کس لاس پيدائشی وړکوټې اوشل دې دَتکبيرتحريمه يعنی لاس اوچتولو وخت کښې دَسرنه اوچت ځی نوآيا داسې کس امامت کولې شی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حضرت الله چونګی نمبر۵مردان ملاکنډ روډ ـ ۱۲/جمادی الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: که خلق ورته دَنفرت په نظر ګوری نودده امامت بهتر نه دې. ﴿۱﴾. خوداهم هله چه په قوم کښې دده نه ښه سړې موجود وی اوکه نه وی نو هيڅ کراهت نشته. ويدل علی المسطورمافی البحرص ۳٤۹ جلد ۱ يعنی وينبغی ان يکون محل کراهة الاقتداء بهم عندوجود غيرهم. ﴿۲﴾. وهوالموفق.

دَ ږيره خريونکی شافعی، مالکی حنبلی، شيعه جعفری اوغيرجعفری دَ امامت حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که چرته شافعی يا حنبلی او يامالکی امام وی اوږيره خرئی لکه عربوملکونوکښې اکثرددې مذهبونو امامان ږيرې خرئی. نوهغوی پسې دَاقتداء څه حکم دې؟

دغه شان شيعه ګان هم په دوه قسمه دی جعفری اوغيرجعفری. آيا جعفری شيعه ګانو پسې مونځ جائز دې؟ بينوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم........ ۱۴/شوال ۱۴۰۳ھ.

الجواب: که دَيو حنفی متشرع کس پسې دَاقتداء نه ته عاجزه ئې نو دَشافعی،

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدين الشامی: (قوله ومفلوج وابرص شاع برصه) وکذلک اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولیٰ...... وکذا من له يد واحدة فتاویٰ صوفيه عن التحفه والظاهر ان العلة النفرة. (ردالمحتا رهامش الدرالمختار ص ۴۱۶ جلد ۱ قبيل مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه باب الامامة)

﴿۲﴾ (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

مالكي او حنبلي امام پسې اقتداء اوكړه خيردې كه ږيره خرئي څكه چه دَځان له مونځ نه فاسق امام پسې اقتداء كول افضل دى«۱» (بحر . شامي . هنديه) البته دَشيعه جعفرى او غير جعفرى دواړو پسې اقتداء باطل او كالعدم ده.«۲» وهو الموفق

دَ كوم كس پيشه چه دَ نفرت او دَ جماعت دَ كم والي باعث وى دَهغه اقتداء مكروه ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په يو امام باندې دخپلو مقتديانو مړوته غُسل وركول لازم دى. دغه شان دَغټ اختر په ورځ امام دَټولو مقتديانو قربانۍ هم ذبح كوى او داپرې هم لازم شوې دى. يعنى دَامام نه دَغاسِل او قصاب كاراخستلې كيږى آيا داسې امام پسې مونځ كول جائزدى؟ بينوا توجروا.

المستفتى: بنده رحيم الله باچا اضاخيل بالانوشهره

الجواب: فقهائې كرامو دَداسې امام متعلق څه تصريح نه ده كړې ددې وجې نه دَكلياتو په بناء باندې جواب ليكلې كيږى صاحب هدايه په ص ۴۴ باب الامامة كښې دَفاسق، اعمى او ولد الزنا وغيره دَ اقتداء كراهت په تنفير سره معلل كړې دې فرمائى: ولان فى تقديم هؤلاء تنفير الجماعة فيكره انتهى.«۳» او كوم امام چه دَغسل پيشه اختياروى نو دَخلقو په نظر كښې سپک راځى لهذا دَداسې امام په امامت كښې تنفير حامخا موجود وى.«۴» نو كراهت به هم وى. او په ذبحه كولو كښې چه سپكوالې نشته نو داعمل دكراهت باعث نه دې او لازم كول بغير دَاجرت (مزدورۍ) نه دا بيشكه ظلم دې. وهو الموفق

«۱» قال العلامه الحصكفى رحمه الله: ويكره امامة عبد وفاسق واعمىٰ ومبتدع، قال ابن عابدين: افاد ان الصلاة خلفهما اولىٰ من الانفراد.
(ردالمحتار مع الدرالمختار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

«۲» قال فى الهنديه: ولا تجوز خلف الرافضى والجهمى والقدرى والمشبة ومن يقول بخلق القرآن. (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره)

«۳» (هدايه ص ۱۱۰ جلد ۱ باب الامامة كتاب الصلاة)

«۴» قال العلامه ابن عابدين: علل الكراهة بغلبة الجهل فيهم وبان فى تقديمهم تنفير ماعة. (ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام)

دَ امام مسجد توهين وغيره مختلفې مسئلې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه (۱) دَامام مسجد دَ توهين څه حكم دې؟ (۲) مسجد پريخودل او كوركښې دَمونځ كولو څه حكم دې؟ (۳) بعضې خلقو قسم او خوړلو چه مونږ ددې امام پسې اقتداء نه كوو په دويم ځل اقتداء اوكړئ او مونځ اوكړئ نو څه حكم دې؟ (۴) ددې امام مذبوحه ددې خلقو دپاره څنګه ده؟ (۵) دَقسم خوړلو باوجود ددې امام په اقتداء كښې به دَ جنازې دَمونځ كولو څه حكم وى؟ بينوا توجروا.

المستفتى: سيد غلام نبى شاه

پيش امام وخطيب مركزى مسجد هزاره ۲۰ ذى قعده ۱۳۹۷ هـ

الجواب: (۱) دَامام توهين حرام او دَ جماعت او مسجد (جمات) پريخودلو باعث دې ددينه بچ كيدل ضرورى دى قال رسول الله ﷺ بحسب امرء من الشران يحقر اخاه المسلم كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه (مسلم)«۱»
(۱) دَمونځ صحيح كيدلو دپاره جمات شرط نه دې البته جمات (بهترينه زمكه) ده په دې كښې چه كوم فضيلت دې هغه بل ځائې كښې نشته.«۲»
(۳) داخلق به كفاره وركوى «۳» (۴) كه دا امام مسلمان وى نو دَهغه ذبيحه دَهر مسلم او غير مسلم دپاره جائز ده.«۴» (۵) كه دقسم كونكو مراد صرف پنځه مونځونه وى نو هيڅ خبره نه ده. وهو الموفق

«۱» (الصحيح المسلم ص ۳۱۷ جلد ۲ باب تحريم ظلم المسلم وخذله واحتقاره ودمه وعرضه وماله)

«۲» عن ابى امامة..... فقال شر البقاع اسواقها وخير البقاع مساجدها رواه ابن حبان فى صحيحه عن ابن عمر. (مشكواة المصابيح ص ۶۷ جلد ۱ الفصل الثانى باب المساجد ومواضع الصلوٰة)

«۳» قال العلامة الحصكفى رحمه الله: وكفارته او اطعام عشرة مساكين او كسوتهم...... وان عجز عنها كلها صام ثلاثة ايام ولاء.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۲۶ جلد ۳ مطلب كفارة اليمين كتاب الايمان)

«۴» قال الحصكفى: وشرط كون الذابح مسلما حلالا خارج الحرم ان كان صيداً الخ.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۲۰۸ جلد ۵ كتاب الذبائح)

دَ محتاط نابینا حافظ قران امامت جائز غیرمکروه دي

سوال: محترم جناب حضرت شیخ الحدیث مولاناعبدالحق صاحب رحمه الله اکوړه ختټک. دَمسنون سلام نه پس عرض دا دي چه زمونږ په علاقه کښې دکافی بحث مباحثې نه پس بعضې علماء وائی چه نابینا انسان پسې مونځ کول مکروه دی. اوبعضې ورته غیرمکروه وائی. اوس سوال دادي چه داسې نابیناچه قاری هم وی او حافظِ قران هم وی او تریو حده پورې تفسیراوترجمه قرآن باندې هم پوهیږی. اودوه خادمان ئې هم وی او طالبانو ته دکنزالدقائق " پورې په یادو باندې فقه هم ښائی اومشکوة ئې وئیلې دي. اوڅلورجوړې جامې ورسره هم وی چه وخت په وخت ئې بدلوی نوآیا داسې نابیناپسې مونځ مکروه دي؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حافظ گل سعادت خان

مدرسه عربیه معراج العلوم بنوں ۷ / ذی قعده ۱۳۸۹ھ

الجواب: دَداسې محتاط حافظ، ړوند کس امامت دَعوام الناس دپاره بغیرشک شبهې نه جائزغیرمکروه دي. لیکن که په روغو (سترګووالا خلقو کښې ددنه بهتر یعنی زیات پوهه) کس موجود وی نو بیا دَده امامت مکروه (تنزیهی) دي.

في الشرح الكبير ص ۴۳۹ وذكر في المحيط لا بأس بان يؤم الاعمى والبصيراولىٰ وفى الانفع ذكر الامام المعروف بخواهر زاده فى مبسوطه انما يكره تقديم الاعمىٰ اذا كان غيره افضل منه وقد ثبت ان النبى عليه السلام استخلف ابن ام مكتوم يؤم الناس وهو اعمىٰ رواه ابوداؤد انتهىٰ ما فى شرح الكبير ﴿۱﴾. وهو الموفق

شیخ الحدیث مفتی اعظم مولانامفتی (محمد فرید عفی عنه) مدظله

جامعه دارالعلوم حقاینه اکوړه ختټک.

دَ امام حقوق دَ امامت په اجرت سره نه ختمیږی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیوجمات امام ته

﴿۱﴾ (غنية المستملى شرح منية المصلى ص ۴۷۶ فصل فى الامامة)

مقتدیان وائی چه مونږ تاته دَامامت په عوض کښې غله یا تنخواه درکوو. لهذا ستاپه مونږ باندې هیڅ حق نشته. نوآیا ددې نه علاوه دَامام نور څه حقوق شته که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: احسان الله هزاره ......۱۸/دسمبر ۱۹۷۴ء.

الجواب: په امامت باندې اجرت اخستل جائز دی. ﴿۱﴾. اودا اجرت دَوخت دَ پابندئ په عوض کښې دي دَ امامت نه دي. لهذا دَامام حقوق په دې سره نه زائل کیږی. وهو الموفق.

دَ حرام خور او سود خور اقتداء او په مونځ کښې د شریک کیدلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی ﴿۱﴾. چه دَحرام خور اوسود خور دَاقتداء څه حکم دې؟ دارنګې دَهغه عبادتونه صحیح دی که نه؟ ﴿۲﴾ دَسود خور سره یوځائې مونځ کول جائز دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مثل خان خلیل تهکال پشاور...........۱۳۹۱/۷/۷ھ.

الجواب: (۱) دَحرام خورعبادت صحیح دې ګناه نیکئ ته نقصان نه رسوی. ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والامامة والاذان. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۳۸ جلد ۵ باب الاجارة الفاسدة مطلب فى الاستئجار على الطاعات)

﴿۲﴾ قال الامام اعظم ابو حنيفة: من عمل حسنة بشرائطها خالية عن العيوب المفسدة والمعانى المبطلة ولم يبطلها حتى خرج من الدنيا فان الله تعالىٰ لا يضيعها بل يقبلها منه ويثيبه عليها، قال الملا على قارى: وذلک لقوله تعالىٰ ان الله لا يضيع اجر المحسنين وفى آية اخرى ان لله لا يضيع اجر المؤمنين بل يقبلها منه اى بفضله و كرمه الخ.

(شرح فقه الاكبر لملا على قارى ص ۷۸ الطاعات بشروطها مقبولة.

وقال الحافظ عماد الدين ابن كثير: يقول تعالىٰ مخبراً: انه لا يظلم احدا من خلقه يوم القيامة مثقال حبة خردل ولا مثقال ذرة بل يو فيها له ويضاعفها له ان كانت حسنة، ان الله لا يظلم مثقال ذرة وان تک حسنة يضاعفها ويؤت من لدنه اجراً عظيماً.

(تفسير ابن كثير ص ۴۵۰ جلد ۱ سورة النساء آيت: ۴۰)

البته اقتداء ورپسې کول مکروه دی. ﴿۱﴾ .(۲). جائز دی. وهو الموفق.

درې امامانو کیدلوپه صورت کښې لس لس ورځې تراویح اوپه لاؤډسپیکر دَ مونځ مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱).چه په یو جمات کښې درې امامان وی نوآیاشرعاً هریو امام لس لس ورځې تراویح کولې شي. (۲).دَ مونځ گزارو شمیر دَشلو خواؤشاوی نوآیا امام په لاؤډسپیکر کښې مونځ ورکولې شي.(۳).په بانډو کښې په دوه نزدې نزدې جماتونو کښې دَ لاؤډسپیکر څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: علی اکبر ازاد کشمیر.

الجواب: (۱) بالکل کولې شي.(۲).په لاؤډسپیکر کښې مونځ کول ممنوع نه دی خوبغیر ضرورت نه نه کول بهتردی.(۳).نه ممنوع دی اونه مطلوب البته دَ آواز دَ ټکراؤ او اشتباه په صورت کښې ممنوع دی.وهو الموفق.

دَ ږیره خرئیلی دَ امامت او اذان کیدلو یا نه کیدلو نه دَ بې علمئ په صورت کښې مونځ

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱).چه دَپېښور یونیورسټئ په جمات کښې طالبان(سټوډنټان) په امامتئ سره مونځ کوی. دلته څوک امام نشته عام طور سره ږیرې والا طالب علم مونځ ورکوی،خوچه کله هغه نه وی نو ږیره خرئیلې امامت کوی.دغه شان که دَږیرې والا په نسبت

﴿۱﴾ قال ابن نجیم رحمه الله: (قوله وکره امامة العبد والاعرابی والفاسق والمبتدع والاعمیٰ وولدالزنا) بیان للشیئین الصحة والکراهة اما الصحة فمبینة علی وجود الاهلیة للصلاة مع اداء الارکان وهما موجودان من غیر نقص فی الشرائط والارکان ومن السنة حدیث صلوا خلف کل بر وفاجر وفی صحیح البخاری ان ابن عمر کان یصلی خلف الحجاج وکفی به فاسقا کما قال الشافعی وقال المصنف ان افسق اهل زمانه.
(البحر الرائق ص۳۴۸ جلد۱ باب الامامة)

سره بې ږیرې ډیرپوهه وی او ډیرې مسئلې ورته یادې وی او ږیرې والا کم علمه وی نو زیات حقدار دَامامت څوک دې؟ (۲).که دې صورت کښې مونځ شروع وی او یو عالم دین په مینځ کښې راشي نوهغه به څه کوی؟ دَهغوی سره به مونځ کوی که ځان له به کوی؟ (۳).که دَ اذان علم نه وی چه شوی یا نه او جماعت اوشی نو ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: شفیق الرحمن پشاور یونیورسټی ....۵/اگست ۱۹۷۹ء.

الجواب: (۱).که ږیره خریونکې دَږیرې والا نه ډیرپوهه وی دَمونځ په مسئلو باندې نوهم هغه دَامامت حقدار دې ﴿۱﴾.(الدر المختارمع ردالمحتار).(۲).دَځان له مونځ نه اقتداء بالفاسق افضل ده.﴿۲﴾.(البحر،هندیه،ردالمحتار).(۳).دامونځ دَخلاف سنت کیدلو باوجودهم صحیح دې﴿۳﴾.فقط.

امامت نه ذلیله پیشه" وئیلو والا امامت

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید وائی امامت ذلیله پیشه ده،اوډیرذلت دې اوبیاروستودغه زید امامت هم کولو.نوآیا دده امامت صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتي:قاری محمد فرید مدرسه معارف القرآن حنفیه مرکزی جامع مسجد مانسهره

﴿۱﴾ قال الحصکفی: والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلاة فقط صحة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة، قال ابن عابدین: وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولیٰ الا ان یطعن علیه فی دینه لان الناس لا یرغبون فی الاقتداء به. (الدر المختار مع ردالمحتار ص۴۱۲ جلد۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، قال العلامه ابن عابدین: افاد ان الصلاة خلفهما اولیٰ من الانفراد.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۴۱۵ جلد۱ قبیل مطلب البدعة فی امامة الامرد)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: اذا صلیٰ فی مسجد المحلة جماعة بغیر اذان حیث یباح اجماعا. (ردالمحتار علی الدر المختار ص۴۰۸ جلد۱ باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد)

الجواب: دَ زید دا دی عبارت دوه مطلبه کیدې شی (۱) چه عوام دَ امامت پیشه ذلیله گنړی ددې مهره په وجه باندې هیڅ اعتراض نشته ځکه چه دې زمانه کښې خلق دَ جهالت په وجه باندې دَ امامت پیشې ته دَ حقارت (سپکاوی) په نظر گوری چه دَ هغې گناه به په خلقو وی (۱) (۲) او که پخپله دَ زید هم دا رائې وی نو دا ډیره خطرناکه خبره ده (۲) ددی نه دې زید توبه گارشی نو امامت کولې شی وهو الموفق

اولنی امام دَ استعفیٰ ورکولو نه بغیر دَ بل چا په زور قبضه کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام استعفیٰ نه وی ورکړې او دَ هغه په ځائې باندې بل امام په زور قبضه کول غواړی او خلق دَ مخکښې امام خلاف راوچتوی نو آیا دې دویم امام پسې اقتداء کول شرعاً صحیح دی ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم......... ۱۲/۱/۱۹۷۲ء

الجواب: دَ امام الحی په موجودگئ کښې دَ بل کس امامت مکروه دې چه بلا اذن وی

قال رسول اللهﷺ لا یؤمن الرجل الرجل فی سلطانه ﴿۳﴾ وفی الدرالمختار ، واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولیٰ بالامامة من غیره مطلقا الخ ﴿۴﴾ . وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الحصکفی: وثوتها بار کعوا مع الراکعین ومن حکمها نظام الالفة وتعلم الجاهل من العالم هی افضل من الاذان عندنا...... فاخرت الامامة ، قال ابن عابدین ، قلت ومفاده انها افضل من الاقتداء. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۳۰۸ جلد ۱ قبیل مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامه ملا علی قاری: من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما یعظم فی الشرع کفر. (شرح فقه الاکبر لملا علی قاری ص۱٦۷ فصل فی القرأة والصلاة)

﴿۳﴾ عن ابی مسعود رواه مسلم وفی روایة له ولا یؤمن الرجل الرجل فی اهله. (مشکواة المصابیح ص ۱۰۰ جلد ۱ باب الامامة الفصل الاول)

﴿۴﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۱۳ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

دَ نابینا عالم دین حافظ او قاری امامت بغیر دَ کراهت نه صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په کلی کښې یو نابینا حافظ او قاری دې او دیوبند نه فاضل عالم دین هم دې او حق ویونکې او متقی هم دې دا عالم په رمضان شریف کښې تراویح ورکوی او کله کله دَ سحر او ماسخوتن مونځونو کښې هم امامت کوی نو آیا دَ نابینا امامت جائز دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: قاری محمد ابراهیم شاه حسن خیل بنوں...... ۱۴/۱/۱۹۹۱ء

الجواب: داسې نابینا پسې اقتداء بغیر کراهت نه صحیح ده په فرضو کښې وی او که په تراویح کښې

کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۹۳ جلد ۱ باب الامامة) ویکره تنزیهاً امامة عبد وفاسق واعمی ونحوه الاعشی نهر الا ان یکون غیر الفاسق اعلم القوم فهو اولیٰ (وفی ردالمحتار ص۳۹۳ جلد ۱ باب الامامة) تبع فی ذلک صاحب البحر حیث قال قید کراهة الاعمیٰ فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولیٰ ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ امام په ټاکلو کښې به دَ اکثریت رائې معتبر وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ ځائې کښې عام طور سره دَ جماتونو امامان دَ تنخواه نه بغیر دَ امامت فرائض (ذمه وارئې) پوره کوی دَ امام په معزول کولو او ټاکلو کښې دَ محلې والا رائې معتبر وی او س زمونږ امام پخپله باندې دَ امامت نه مجبوری ښکاره کړه نو په دې وجه محلې والو بل امام مقرر کړو چه په هغې سره دوه ډلې جوړې شوې یوې ډلې په دې تقررئ باندې اعتراض اوکړو نو او س یو امام هم مقرر نه دې یوه فرقه (ډله) اکثریت لری او بله ډله په اقلیت کښې ده دَ چا رائې به معتبر وی ؟ بینوا توجروا.

المستفتی غلام حسین افضل فلور ملز شینه باغ خورد کیملپور ۱۲/۲/۱۹۷۲ء

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ص۴۱۲ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: دَاکثرو فیصله به منظورکولې شی فی الدرالمختاراوالخیارالی القوم فان اختلفوا اعتبراکثرهم(هامش الدرص ۵۲۲جلد۱).﴿۱﴾.وهوالموفق.

دَ شرعی ثبوت نه بغیرصرف دَالزام په وجه دَ "کراهتِ اقتداء" حکم نه شی ورکولې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ دَشرعی فیصلې دپاره مسمی فلان او فلانکې مولوی صاحب سکنه بیګوخیل شرعی ثالثان (دریم ګړی) مقررکړل دَ دواړو ډلونه بیان اخستلو نه پس ئې فیصله واوروله نو یوې ډلې ته دافیصله ناجائزه معلومه شوه نو ثالثانو ته ئې اووئیل اوفیصله ئې واپس کړه.لیکن ثالثانو اووئیل که زمونږ دفیصلې خلاف تاسو دغلطۍ څه ثبوت پیش کړو نومونږ به ئې اومنو ، بیا مونږ دَ اکوړه خټک نه فتوی نمبر ۵۹۹۲ اوغوښتله نوپه هغې کښې دَهغوی دَفیصلې خلاف ثبوت پیش شو مونږ هغه فتوې پیش کړې نوهغوی انکار اوکړو اوپه خپله غلطه فیصله باندې کلک شول لیکن مونږ ته یقین دې چه دوی په دې فیصله کښې رشوت اخستې دې.اوکوم کس چه به زمونږ مینځ کښې ګرځیدلو هغه مونږ ته په یقین سره اووئیل چه دوی رشوت اخستلې دې آیا داسې ثالثانو پسې اقتداء جائز ده ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:اجمل خان سکنه بیګوخیل لکی مروت..........۱۹۷۲ء/۲/۲.

الجواب: محترم! خبرشه چه دَشرعی ثبوت نه بغیرمونږصرف ددې الزام په وجه دَ کراهتِ اقتداء" فتوی نه شو ورکولې.

قال الله تعالیٰ یا ایها اللذین آمنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم (الایة)﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۲﴾(سورة الحجرات پاره: ۲٦ آیت: ۱۲ رکوع ۱۴)

دَ غلط ویونکی پسې دَصحیح ویونکی اقتداء صحیح نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم کس صحیح طریقې سره قرآن شریف نه شی لوستلې مثلاً دَ"الفراش المبثوث" په ځائې "الفراخ المبثوت" وائی.ده پسې مونځ جائز دې یا نه؟ ده ته د امامت حق شته یا نه؟ باوجود ددې چه نور جید عالمان هم موجود وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم..........

الجواب: دَ "الفراش" په ځائې "الفـراخ" ویونکی پسې دَصحیح لوستلو والا اقتداء صحیح نه ده.

کما فی الدرالمختار ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح و کذا من لا یقدر علی التلفظ بحرف من الحروف (هامش الرد ص ۵۴۴،۵۴۵ جلد ۱)﴿۱﴾ . وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۳۰ جلد ۱ مطلب فی الالثغ باب الامامة)

....

فصل فی من تصح امامته ومن لا تصح

یورکعت وتر کولو والا او دَ مصحف نه لوستلو والا پسې مونځ

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ وترو يو رکعت کولو والا دَاقتداء څه حکم دې ؟ دغه شان دَمصحف نه ويونکی امام اقتداء کول جائز دی که نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتی: تخته خان سعودی عرب .... ۲/ذیقعده ۱۴۰۲ هـ.

الجواب: وتر يو رکعت کولو والا امامانو پسې اقتداء مه کوئ.﴿۱﴾ او دَمصحف نه ويونکی امام پسې اقتداء کول هم دَاحتياط نه خلاف دی.﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجيم: وصحح الشارح الزيلعی انه لا يجوز اقتدا الحنفی بمن يسلم من الركعتين فی الوتر وجوزه ابوبكر الرازی ويصلی معه بقية الوتر...... ويخالفه ما ذكر فی الارشاد من انه لا يجوز الاقتدا فی الوتر بالشافعی باجماع اصحابنا لانه اقتداء المفترض بالمتنفل فانه يفيد عدم الصحة فصل او وصل...... فی فتح القدير بما ذكره فی التجنيس وغيره من ان الفرض لايتأدى بنية النفل ويجوز عكسه فعلى هذا ينبغی ان لايجوز وتر الحنفی اقتداء بوتر الشافعی بناء على انه لم يصح شروعه فی الوتر لانه بنيته اياه انما نوى النفل الذی هو الوتر فلا يتأدى الواجب بنية الواجب الخ.
(البحر الرائق ص ۳۹ جلد۲ باب الوتر والنوافل)

﴿۲﴾ وفی الهنديه: ويفسدها قراءته من مصحف عند ابی حنيفة رحمه الله تعالىٰ وقالا يفسدله ان حمل المصحف وتقليب الاوراق والنظر فيه عمل كثير وللصلاة عنه بدو على هذا لو كان موضوعا بين يديه على رحل وهو لا يحمل ولا يقلب اوقرأ المكتوب فی المحراب لا تفسد ولان التلقن من المصحف تعلم ليس من اعمال الصلاة وهذا يوجب التسوية بين المحمول وغيره فتفسد بكل حال وهو الصحيح هكذا فی الكافی. (فتاویٰ عالمگيريه ص ۱۰۱ جلد۱ الفصل الاول فيما يفسدها الباب السابع فيما يفسد الصلاة ومايكره فيها)

دَ چيلم او سيګريټ څکلو والا دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم امام چيلم يا سيګريټ څکی نو دَهغه امامت صحيح دې که نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتی: عابد محمود حميدی اټک........ ۱۹۸۴ء/۱۰/۳۰.

الجواب: دَپیازو، اوګې او تمباکو نو خوړلو والا يو شان حکم دې دَدې ځيزونو خوړلو والا پسې اقتداء کولو کښې څه کراهت نشته دې، خو دومره ده چه دَبدبويئ په حالت کښې مونځ کول مکروه تحريمی دی لکه چه بدبويئ والا سړی دپاره جمات ته تلل مکروه تحريمی دی.﴿۱﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله واكل نحو ثوم) ای كبصل ونحوه مماله رائحة كريهة للحديث الصحيح فی النهی عن قربان آكل الثوم والبصل المسجد قال الامام العينی فی شرحه على صحيح البخاری قلت علت النهی اذى الملائكة واذى المسلمين ولا يختص بمسجده عليه الصلاة والسلام بل الكل سواء لرواية مساجدنا بالجمع خلافا لمن شذ ويلحق بما نص عليه فی الحديث كل ماله رائحة كريهة ماكولا وغيره وانما خص الثوم هنا بالذكر وفی غيره ايضا بالبصل والكراث لكثرة اكلهم لها وكذلك الحق بعضهم بذلك من بفيه بخر اوبه جرح له رائحة وكذلك القصاب والسماك والمجذوم والابرص اولى بالالحاق وقال سحنون لا ارى الجمعة عليهما واحتج بالحديث والحق بالحديث كل من اذى الناس بلسانه وبه افتى ابن عمر وهو اصل فی نفی كل من يتاذى به ولا يبعد ان يعذر المعذور باكل ماله ريح كريهة لما فی صحيح ابن حبان عن المغيرة بن شعبة قال انتهيت الى رسول الله ﷺ فوجد منی ريح الثوم فقال من اكل الثوم فاخذت يده فادخلتها فوجد صدری معصوبا فقال ان لك عذرا وفی رواية الطبرانی فی الاوسط اشتكيت صدری فاكلته وفيه فلم يعنفه ﷺ وقوله ﷺ وليقعد فی بيته صريح فی ان اكل هذه الاشياء عذر فی التخلف عن الجماعة وايضا هنا علتان اذى المسلمين واذى الملائكة فبالنظر الى الاولى يعذر فی ترك الجماعة وحضور المسجد وبالنظر الى الثانية يعذر......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دَ جمات ديوال نه دَ "يامحمد" ورانونکی امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَجمات په ديوال باندې دَمونځ دَوختونو بورډ لګيدلې دې چه دَهغې په ښی طرف باندې ئې "يالله" اوپه ګس طرف باندې "يامحمد" ليکلې شوې دی يو سړی دَګس طرف "يامحمد" اوسوزولو او وران ئې کړو آيا داسړې دَسپکوالی مرتکب خونه شو؟آيا داسې سړې امامت کولې شی؟آيا ده سره په صف کښې اودريدل جائز دی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حبيب الرحمن.....۱۹۷۵ء/۱۱/۲

الجواب: دَپيغمبر عليه السلام نوم دَبيرزيات قابل احترام او واجب الاحترام دې.ولهذا لايجوز لف شئ فی الکواغذ التی فيها اسم الله تعالی اواسم النبی ﷺ (کمافی الهنديه ص۳۵۷جلد۵).﴿۱﴾.اودَ اهل بدعاتوخاص نښې ورانول جهاد موجب دثواب دې،ولهذا قطع الصحابة رضی الله عنهم بعض الاشجار﴿۲﴾ پس که هغه دا لفظ مبارک په دې وجه سوزولې وی چه

(بقيه حاشيه) فی ترک حضور المسجد ولو کان وحده، ملخصا اقول کونه يعذر بذلک ينبغی تقييد بما اذا اکل ذلک بعذر او اکل ناسيا قرب دخول وقت الصلاة لئلا يکون مباشرا لما يقطعه عن الجماعة بصنعه. (ردالمحتارهامش الدرالمختار ص۴۸۹ جلد۱ قبيل باب الوتر والنوافل)

﴿۱﴾ وفی الهنديه : ولا يجوز لف شئ فی کاغذ فيه مکتوب من الفقه وفی الکلام الاولی ان لا يفعل وفی کتب الطب يجوز ولو کان فيه اسم الله تعالیٰ او اسم النبی ﷺ يجوز محوه ليلف فيه شئ کذافی القنية. (فتاویٰ عالمگيريه ص۳۲۲ جلد۵ الباب الخامس فی اداب المسجد والقبلة والمصحف وماکتب الخ)

﴿۲﴾.حضرت علامه محمد ادريس کاندهلوی فرمائی!دَبعضې روايتونو اوتاريخی نقولونه دابښکاريږی چه خلقو دَدغې اونې(اذيباعون تحت الشجرة) تعظيم اوتکريم کولو،هلته به راتلل اونفلونه به ئې کول،حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته چه کله داخبره معلومه شوه نوهغه دَدې اونې دَپريکولو حکم اوکړو(تفسيرمعارف القران ص۴۶۹جلد۷سورة الفتح ايت ۱۸).

عوام دَعقيدې دَخرابوالی نه بچ شی نو دَ ده دا جذبه صحيح ده ليکن داعمل ئې غلط او بی ادبی ده،دا دَ نجديت کار دې.دَحنفيت کارنه دې.بهرحال داسړې بې ادبه باايمان دې که پښيمانه نه وی نو اقتداء ورپسې مه کوئ البته دَمونځ اوجماعت نه به نشی منع کولې.وهوالموفق.

دَ اغواکار، زناکار او په دروغه قسمونو خوړلو والا امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په جمات کښې دوه کسان دی په هغوی کښې يوکس دَمونځ روژې پابند دې خوپه بل کس داخرابئ موندلې کيږی.﴿۱﴾.خلق تختول او په بل چاتختول،﴿۲﴾.زناکول او نورو ته په کولو کښې مدد ورکول﴿۳﴾.دَنکاح دپاسه نکاح تړل،﴿۴﴾.په دروغه ګواهی کول،﴿۵﴾.په دروغه قسمونه خوړل،﴿۶﴾.کبارٍ يعنی زياتی څيزونه دَجمات نه غائب کول،چه کله رمضان شروع شی نوجمات ته راځی باقی ټول کال مونځ نه کوی.په رمضان کښې راشی په جمات قبضه کوی خلق ورته وائی چه زمونږ تاپسې مونځ نه کيږی ليکن په ضد کښې دې نونتيجه داچه خلق دَمجبورئ نه په کورونو کښې مونځونه کوی نوآيا دې امام پسې مونځ کيږی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: جاويداقبال کوټ دهميک جهلم

الجواب: که داخبره رښتيا وی اوثابت وی نودې خراب امام پسې اقتداء مکروه تحريمی ده،کمافی شرح الکبير(ص۴۳۸) ان کراهة تقديمه کراهة تحريم،(۱).البته دَځان له مونځ نه فاسق پسې اقتداء کول بهتردی.کمافی ردالمحتارص ۵۲۵ جلد۱قوله فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهمااولی من الانفراد﴿۲﴾.وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه الحلبی: کذافی فتاویٰ الحجة وفيه اشارة الی انهم قدموا فاسقا يأثمون بناء علی ان کراهة تقديمه کراهة تحريم. (الشرح الکبير ص۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۱۵ جلد۱ باب الامامة قبيل مطلب فی امامة الامرد)

دَ نكاح دَ پاسه دَ نكاح ترلو والا كس امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه زيد دَجماعت امام او خطيب دې دَنكاح دپاسه ئې نكاح ترلې. دده دَامامت څه حكم دې؟ بينوا توجروا.

المستفتي: محمديوسف خان.......... ١٩٧٤ء/١١/٣٠.

الجواب: كه رښتياوى او دې خطيب قصداً داسې كاركړې وې نو دې به دَ تعاون على المعصية" په وجه سخت گنهگار وى او دَ نيكانو خلقو دَ اقتداء لائق به نه وى.﴿٢﴾. وهوالموفق.

دَ مونځ دَ صحت او فساد دَمسئلو نه دَ ناخبره كس امامت او نورې مسئلې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه يو داسې امام چه دَمونځ دَصحت اوفساد دَمسئلو نه بې خبره وى او دَهغه ښځه او ځوانې لونړه بې پرده په ښتو كښې دَكيا گانو دپاره گرځى اولونړه بغيرنكاح نه په كور كښې ساتى چه لكه ځناور خرخولو پشان ترينه په نكاح كښې ډيرې پيسې حاصلې كړې. آيا دَدې امام امامت جائز دې؟ بينوا توجروا.

المستفتى: حسين احمد.

الجواب: كه دَدې امام مقتديان هم په دې جرمونو كښې مبتلا وى نو بيادَمونځ كراهيت نشته او كه په مقتديانو كښې دده نه بهتر كس موجود وى نو بيادده پسې اقتداء مكروه دى.

يدل عليه مافى البحر ص ٣٤٩ جلد ١ فالحاصل انه يكره لهؤلاء التقدم ويكره الاقتداء بهم كراهة تنزيه (الى ان قال) وينبغى ان يكون محل كراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم والا فلا كراهة﴿٣﴾. فقط

﴿١﴾ قال الله تعالىٰ، ولا تعاونوا على الاثم والعدوان. (سورة المائدة پاره: ٦ ركوع ١ آيت: ٢)

﴿٢﴾ قال الحصكفى رحمه الله: ويكره امامة عبد وفاسق. (درمختار ص ٤١٤ باب الامامة)

﴿٣﴾ (البحر الرائق ص ٣٤٩ جلد ١ باب الامامة)

دَ بدكرداره او مفعول دَ امامت حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه يو سړې دَجماعت امام جوړشوې دې چه ظاهرى طورسره يعنى ښكاره په ښكاره مفعول دې او په دې بدكردارئ كښې مشهور دې. او په حديث شريف كښې راغلې دى چه دَ اووه كسانو مونځ نه قبليږى په هغوى كښې يوفاعل او بل مفعول هم دى داحديث شريف دَ تنبيه الغافلين" په "باب حق الجار" كښې موجود دې نو آيا دَ داسې كس امامت جائز دې؟ بينوا توجروا.

المستفتي: عزيزالرحمن بازارگئ صوابى.......... ١٩٨٧ء/٩/١٠٦.

الجواب: كه داخبره رښتيا وى او ثابت وى نو دې امام پسې اقتداء كول مكروه تحريمى دى.﴿١﴾. لكونه فاسقا ولاتجب الاعادة.﴿٢﴾. خوبهرحال دَ"التائب من الذنب كمن لا ذنب له.﴿٣﴾ خيال ساتل هم ضرورى دى. وهوالموفق.

په مرهونه (گانړه شوې ځيز) باندې فائدې اخستلو والا اقتداء

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه كوم امام دَگانړه شوې ځيز نه فائده اخلى دَهغه اقتداء جائز ده كه نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: محمدجان مقام مسجهورمانسهره.

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: ويكره امامة عبد واعرابى وفاسق واعمى ومبتدع. قال ابن عابلين: (قوله اى غير الفاسق) ...... تكره امامته بكل حال بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم. (ردالمحتار مع الدرالمختار ص ٤١٤ جلد ١ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿٢﴾ قال فى ردالمحتار فيكره لهم التقدم ويكره الاقتداء بهم تنزيهاً فان امكن الصلاة خلف غيرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولىٰ من الانفراد.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٤١٣ جلد ١ قبيل مطب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿٣﴾ عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب كمن لا ذنب له رواه ابن ماجه والبيهقى فى شعب الايمان الخ. (مشكواة المصابيح ص ٢٠٦ جلد ١ باب الاستغفار والتوبة)

الجواب: دَمرهوني نه فائده اخستل ناجائز اوسود دي. لان کل قرض جرنفعا فهو ربوا، هولفظ الحديث، وکذاحاصل الحديث، ﴿۱﴾. لهذا دَداسي امام اقتداء کول په جنازه وغيره کښې، مکروه تحريمی ده. ﴿۲﴾. خوپه دې شرط چه دَقوم حال دَده نه زيات خراب وی ګني نوپه ړندو کښې يوسترګي والا بادشاه وی.

يشيراليه کلام البحروينبغی ان يكون محل كراهة الاقتداءهم عندوجود غيرهم (ص۳۴۹ جلد۱). وهو الموفق

﴿۱﴾ عن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا رواه الحارث بن ابی اسامة واسناده ساقط وله شاهد ضعيف عن فضالة بن عبيد عند البيهقی وآخر موقوف عن عبد الله بن سلام عند البخاری.

(بلوغ المرام من ادلة الاحكام ص ۲۸۲ رقم حديث: ۸۱۲)

ورواه ابن ابی شيبة فی مصنفه حدثنا خالد الاحمر عن حجاج عن عطاء قال كانوا يكرهون كل قرض جر منفعة. (فتح القدير ص ۳۵۶ جلد۶ قبيل كتاب ادب القاضی)

وفی امداد الفتاویٰ رساله كشف الدجیٰ: ومما يدل علی عدم حل القرض الذی يجر الی المقرض نفعا ما اخرجه البيهقی فی المعرفة عن فضالة بن عبيد موقوفا بلفظ كل قرض جر منفعة فهو وجه من وجوه الربا ورواه فی السنن الكبریٰ عن ابن مسعود وابی بن كعب وعبد الله بن سلام وابن عباس موقوفاً عليهم (ص ۹۹) وايضا قال فی (ص ۲۱۵) وقال ﷺ كل قرض جر منفعة فهو ربا وهو حديث حسن لغيره صرح به العزيزی فی شرح الجامع الصغير (ص ۲۸۴ جلد۳).

(امداد الفتاویٰ ص ۲۱۵، ۲۷۰ جلد۳ كشف الدجیٰ عن وجه الربوا)

﴿۲﴾ قال الشامی: قوله (ويكره امامة عبد ...... وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامه ولعل المرادبه من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانی وآكل الربا ونحو ذلك كذافی البرجندی.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام)

﴿۳﴾ (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

دَ موټی نه کمه ږیره ساتلو والا سړی امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَږيرې خرئيلو څه حکم دې؟ اويوموټی ساتل واجب دی که سنت؟ اوڅوک چه دَموټی نه کمه ږيره ساتی دَهغه اقتداء جائز ده که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حافظ عبدالرشيد جهنګ.......... ۱۳۹۷/۲/۳۱ھ.

الجواب: يوموټې ږيره ساتل واجب دی البته دَدې واجب کيدل په سنت او حديث سره ثابت دی. کماصرح به شيخ عبدالحق محدث الدهلوی ﴿۱﴾.

دَدې خرئيلو والا فاسق دې اوکمولو يعنی کټ کولو والائې هم فاسق دې چه هميشه داسې کوی. کمافی تنقيح الفتاوی ﴿۲﴾. اودَفاسق اقتداء کول مکروه دی خودومره ده چه دَځان له مونځ نه افضل ده. وهو الموفق.

﴿۱﴾ (اشعة للمعات شرح مشكوة باب الترجل الفصل الاول)

وقال الملا علی قاری: وقد اختلفوا فيما طال من اللحية فقيل ان قبض الرجل علی لحيته واخذ ماتحت القبضة ولابأس به وقد فعله ابن عمر رضی الله عنه وجماعة من التابعين واستحسنه الشعبی وابن سيرين وكره الحسن وقتادة ومن تبعها وقالوا تركها عافية احب منه لكن الظاهر هوالاول. (نفع قوت المغتذی علی هامش سنن ترمذی ص ۱۰۰ جلد۲) (وهكذا فی مرقاة المفاتيح ص ۲۹۸ جلد۸ باب الترجل الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامه محمدامين: ان الاخذ من اللحية وهی دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه احد واخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الاعاجم.

(تنقيح الفتاویٰ الحامديه ص ۳۵۱ جلد ۱ لايباح الاخذ من اللحية وهی دون القبضة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فان امكن الصلاة خلف غيرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۳ جلد ۱ قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

دَ لس کلنی ماشوم امامت باطل دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو لس کلنې هلک دې پنځه سيپاروپورې ئې قران شريف لوستلې دي هغه پسې دَاقتداء څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

المستفتی: رئيس خان شاه کوټ پبی نوشهره......يکم ذی قعده ۱۴۰۲ه.

الجواب: ټولو فقهاؤ تصريح کړې ده چه نابالغ امام پسې دَبالغ اقتدا باطل ده﴿۱﴾ لحديث امام ضامن﴿۲﴾ ولحديث انما جعل الامام ليوتم به.﴿۳﴾.وهو الموفق.

دَ ږيرې خريونکی حافظِ قرآن دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يوّ حافظِ قرآن ږيره خرئی يائې وړه کوی او مسنون ږيره نه ساتی هغه پسې دَاقتداء څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم........۱۹۷۷ء/۲۳/۹.

﴿۱﴾ قال العلامه حصکفی: ولا يصح اقتداء رجل بامرأة وخنثی وصبيی مطلقا ولو فی جنازة ونفل علی الاصح. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۲۷ جلد ۱ مطلب الواجب کفاية هل يسقط بفعل الصبی)

﴿۲﴾ عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ الامام ضامن والمؤذن مؤتمن اللهم ارشد الائمة واغفر للمؤذنين.

(جامع ترمذی ص ۲۹ جلد ۱ باب ماجاء ان الامام ضامن والمؤذن مؤتمن)

﴿۳﴾ عن عائشة ام المومنين انها قالت صلی رسول الله ﷺ فی بيته وهو شاک فصلی جالساً وصلی ورآءه قوم قياما فاشار اليهم ان اجلسوا فلما انصرف قال انما جعل الامام ليؤتم به فاذا رکع فارکعوا الخ.

(الصحيح البخاری ص ۹۵ جلد ۱ باب انما جعل الامام ليؤتم به الخ، کتاب الاذان)

الجواب: مسنون ږيره نه ساتونکی امام پسې دَنيکو خلقو په موجودګئ کښې اقتداء مکروه تحريمی ده.

لکونه فاسقا کما فی تنقيح الفتاویٰ ص ۳۵۱ جلد ۱ ان الاخذ من اللحية وهی دون القبضة کما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه احد واخذ کلها فعل اليهود والهنود ومجوس الاعاجم اه فحيث ادمن علی فعل هذا المحرم يفسق﴿۱﴾ وفی شرح الکبير ص ۴۷۹ کراهة تقديمه کراهة تحريم﴿۲﴾ وفی البحر ص ۳۴۹ جلد ۱ وينبغی ان يکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم والا فلا کراهة﴿۳﴾

مختصرداچه داسې حافظ دې امام جوړنکړې شی داسې اقتداء دَختم القرآن نه کولو نه هم بدتره ده. وهو الموفق.

ږيره دَ موټی نه کمولو والا کس امامت مکروه تحريمی دې.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ ببوتری، هری پور، نومې کلی پيش امام صاحب ږيره ساتلې ده ليکن دومره ئې وړه کوی چه هسې دَنوم ږيره ده لکه چه شپږ(۶) اووه(۷) ورځې ئې حجامت نه وی کړې. نو آيا داسې امام چه دَږيرې تقدس او دَسنتِ رسول ﷺ احترام ورسره نه وی نو آيا دَداسې امام پسې مونځ کيږی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: قاضی ميراکبر هری پور.....۱۸/ شوال ۱۴۰۱ هجری

الجواب: داسې امام پسې اقتداء کول مکروه تحريمی دی.

لان الاخذ مادون القبضة حرام ومفسق کما فی تنقيح الفتاویٰ الحامديه ص ۳۵۱ جلد ۱ ان الاخذ من اللحية وهی دون القبضة کما يفعله البعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه

﴿۱﴾ تنقيح الفتاویٰ الحامديه ص ۲۵۱ جلد ۱ لا يباح الاخذ من اللحية وهی دون القبضة)

﴿۲﴾ غنية المستملی شرح منية المصلی ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۳﴾ (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

احد واخذ کلها فعل یهود الهنود ومجوس الاعاجهم فحیث اد من علی فعل هذا المحرم یفسق﴿۱﴾. وهوالموفق

سنت ږیره نه ساتلو والاو د عیسایانو په مشنرئ کښې ملازمت کولو والاامامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام دَمدرسه فتح پوری دهلی نه فارغ التحصیل دې لیکن دَهغه ږیره دَسنت موافق نه ده اودَ ۴۵ کالو نه په عیسائی مشنرئ کښې دَتنخواه دارملازم (نوکر) په حیثیت سره کار کوی او مقتدیانو سره بداخلاقی هم کوی دَدینی شعائرو خیال نه ساتی.داسې امام پسې اقتداء کول جائز دی یا نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:عبدالرحیم حمام گلی صدر روډپیښور...۱۲/ذی قعده ۱۴۰۲ھ.

الجواب: که داخبره رښتیاوی اوثابته وی نوداسې امام پسې اقتداء کول مکروه تحریمی دی.لفسقه کمافی شهادات تنقیح الفتاوی الحامدیه،﴿۲﴾.خوکه چرته دَقوم حالات دده نه هم خراب وی نو بیا دا امام په رندو کښې بادشاه دې نوهیڅ کراهت نشته.کمافی البحرص۳۴۹جلد۱وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والافلاکراهة ﴿۳﴾.وهوالموفق.

په جمات کښې دَ تصویرونو جوړولو نه دَ نه منع کونکی امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جمات کښې دَنکاح په وخت تصویراخستل څنګه دی؟دغه شان دَدې امام دَامامت به څه حکم وی چه په مجلس کښې دَحاضریدلو باوجودهم منع نه کوی نوآیا دَده امامت صحیح دې ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سراج الدین حقانی خطیب ډومیل ضلع جهلم..۱۹۸۲ء/۸/۱۰.

﴿۱﴾(تنقیح الفتاویٰ الحامدیه ص ۳۵۱ جلد ۱ لا یباح الاخذ من اللحیة وهی دون القبضة)

﴿۲﴾قال العلامه محمد امین: ان الاخذ من اللحیة وهی دون القبضة کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم یبحه احد واخذ کلها فعل الیهود الهنود ومجوس الاعاجم. (تنقیح الفتاویٰ الحامدیه ص ۳۵۱ جلد ۱ لا یباح الاخذ من اللحیة وهی دون القبضة)

﴿۳﴾(البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ با ب الامامة)

الجواب: جماتونه او بازارونه دَمنکراتونه ډک شوې دی اوداخلق په تقوی داروباندې غالب دی لهذا امام به مجبور وی خوبیاهم دَنهی عن المنکر فریضه په خپل ځائې لازم ده.دَتصویرحراموالې عامومسلمانانوته هم معلوم دې.﴿۱﴾.اودَدې امام اقتداء صحیح ده.(بحرالرائق).﴿۲﴾.وهوالموفق.

دَلالچ دَ وجې نه دَ غلطې فیصلې کولو والا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ دکلی "بلندپوره" خطیب صاحب دَ دوه ډلو په مینځ کښې فیصلې والا مقررشو دَلالچ په وجه ئې دَشرعی فیصلې په ځائې غیرشرعی فیصله اوکړه اوخلقو ته ئې خودل چه داشرعی فیصله ده.اوحال داهغه دوکه او فراډ وو.چه کله دا فیصله قاضی غلام سرور صاحب دَبډنئ ته پیش کړې شوه نو دا دریم ګړې دَخپلې دوکې او فراډ دَوجې نه دَحاضریدلو نه انکاری شو او حاضری ئې اونکړه آیا داسې امام پسې مونځ کول جائز دی ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی سفید گل سربلندپوره پیښور.....۲۱/ذی الحجه ۱۴۰۲ھ.

الجواب: دې متنازع فیها(جهګړې والا) مسئلې کښې شرعی حصې معلومې او یقینی دی.اوپه فائل کښې لیکلې شوې دی نوکه دې خطیب صاحب دَ دواړو ډلو دَرضامندئ نه بغیر دافیصله کړې وی نودافیصله نامنظوره اودَنشت برابر (کالعدم) ده.اودَفراډ کولو په صورت کښې ورپسې دَنیکو خلقو مونځ کول مکروه تحریمی دې.﴿۳﴾.وهوالموفق.

﴿۱﴾عن عبد الله بن مسعود قال سمعت رسول الله ﷺ یقول اشد الناس عذابا عند الله المصورون. (مشکواة المصابیح ص ۳۸۵ جلد ۲ باب التصاویر الفصل الاول)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة کما لا یخفیٰ.
(البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۳﴾قال العلامة الحلبی : کذا فی فتاویٰ الحجة وفیه اشارة الی انهم قلموا فاسقا یاثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (الشرح الکبیر ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

دَ غصب زمکه په زمیندارئ اخستلو والا د کس امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په کلی کښې یو دَ جائیداد خاوند دَډیرې زمانې نه فالج وهلې دې کلې ئې پریخې او دَ کور والا (ښځې، ټبر) دَرشته دارانو سره اوسیږی دَهغه په جائیداد باندې مشری ځوئی قبضه کړې. پلار په دې سخت خفه دې او وائی چه دده ځوئې او ټول زمینداران به دَ ده (ځوی) په نګرانئ کښې زما په زمکه کښې هیڅ تصرف نه کوئ پلار ئې احتجاجاً دَډیرې مودې نه دَزمکې پیداوارا اخستلو نه هم انکار کړې دې او سرکار سره ئې مقدمه هم اچولې ده. په دې زمیندارانو کښې یو مولوی صاحب هم زمکه په زمیندارئ اخستلې ده. په هغه باندې یو مقتدی اعتراض کوی چه دې دَخان صاحب دَمرضئ نه بغیر دَقابض ځوئ په نګرانئ کښې چه کوم کرونده کیږی دا دَشریعت په رڼا کښې ناجائز ده. او دَدې جرم مرتکب دَمونځ ورکولو اهل نه دې. نو سوال دا دې چه آیا واقعی دې امام صاحب پسې مونځ کول صحیح نه دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد شفیق حقانی لیکچرر فیډرل ګورنمنټ بوائز کالج پیښور ۳۱/۷/۱۹۸۴ء

الجواب: که دا خبره رښتیا او ثابته وی نو په دې زمکه کښې بغیر اجازت نه تصرف کولو والا دَغصب او ظلم مرتکب دی. قال رسول الله ﷺ لایحل مال امرئ الا بطیب نفس منه رواه البیهقی فی شعب الایمان ﴿۱﴾. وفی شرح المجله ص ۶۱ جلد ۶ لایجوز لا حدان یتصرف فی ملک غیره الاباذنه، یاد ساتئ چه دکوم امام دینی حالت دَمقتدیانو نه خراب وی نو هغه پسې مونځ کول مکروه دی ګنې په ړندو کښې یو سترګې والا بادشاه وی. یدل علیه مافی امامة البحر، ﴿۲﴾. وهو الموفق.

﴿۱﴾ (مشکواة المصابیح ص ۲۵۵ جلد ۱ باب الغصب و العاریة الفصل الثانی)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند [و]جود غیرهم والافلا کراهة کما لا یخفیٰ.

[ال]بحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة

په حضرت تهانوی صاحب باندې دَبهتان لګونکی دې اقتداء اونکړیشی

سوال: محترم مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک السلام علیکم عرض دادې چه زمونږ په کلی کښې یو نوې امام صاحب راغلې دې چه خبرو خبرو کښې هغه اووئیل چه دَ (مولانا) اشرف علی (تهانوی رحمه الله) یو کتاب دې "ملفوظات یومیه" په هغې کښې ئې لیکلې دی چه یو سړی تپوس اوکړو چه دَمور سره زنا کول څنګه دی؟ نو هغه په جواب کښې اووئیل، چه سړې خو ټول په مور کښې دننه وی نو که دَهغه لږه غوندې حصه ور دننه شی نو څه خبره ده" نو ما دَمولوی صاحب نه په دې خبره باندې احتجاج اوکړو نو مولوی صاحب اووئیل چه دې کنجر خو دَحضور ﷺ هم توهین کړې دې" نو دَهغه په کنجر "وئیلو سره ما ته غصه راغله او ماورته اووئیل چه تا مولانا اشرف علی صاحب ته کنجر اووې نو ته پخپله هم داسې ئې. مولوی صاحب وائی چه څه به کتاب اولیکل تا ته اوښایم خو تر اوسه ئې نه دې خودلې نو آیا دې مولوی صاحب پسې زما مونځ کیږی او آیا دې امام ساتل جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فیض بیروټ راولپنډی.........رمضان المبارک ۱۳۸۹ھ.

الجواب: مونږ به د مولوی صاحب ډیر شکر ګزار شو که هغه دا کتاب او حواله اوښودله. او دَهغې نه پس به مونږ په تحقیقی جواب لیکلو باندې وس اولرو ددې نه مخکښې مونږ صرف دومره وئیلې شو چه "سبحانک هذابهتان عظیم" ﴿۱﴾. او یا به دا اووایو چه دَحضرت ملفوظاتو او مواعظو کښې داسې مضمونونه چه به هغې کښې دَ "عقل دعوی کوبکو نا آشنا واقعې او دَهغې تردید شوې وی. نو کیدیشی چه مولوی صاحب تحریف کړې وی او خپل ځان ئې په خطره کښې اچولې دې ددې مثال داسې دې لکه یو سړې اووائی چه الله تعالی فرمائی "لاتسمعوا لهذا القرآن والغوافیه ﴿۲﴾. او دغه شان نور هم. نو دا صحیح ده چه دَالله

﴿۱﴾ (سورة النور پاره: ۱۸ رکوع: ۸ آیت: ۱۶)

﴿۲﴾ (سورة حٰم سجده پاره: ۲۴ رکوع ۱۸ آیت ۲۶)

تعالی کلام دي لیکن دَالله تعالی مقصد دانه دي بهرحال داسي خبیث پسي اقتداء مه کوئ،《۱》یو صحیح العقیده امام پسي اقتداء اوکړئ او تاچه کوم جواب ورکړي دي دا دَ"بغض فی الله" دَوجې نه دي بلکه که معامله هم داسي وی نو بیا داسي امام دَلرې کولو او دَبې عزته کولو قابل دي.《۲》وهو الموفق

چه دَ کوم امام بالغې لونړه په کوڅو کښې ګرځی دَ هغه دَ امامت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو امام دوه بالغې لونړه دی چه په لسم او شپږم کښې تعلیم حاصلوی په کوڅو کښې ګرځی او دَ شریعت مسئله ده چه دَجینکو دپاره دَنکاح پیغام راشی نو په نکاح ئې ورکوئ لیکن دي امام یو پیغام واپس هم کړلو آیا دَداسي امام اقتداء به کولې شی که څان څان ته به مونځ کوی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حسین احمد سرگودها........۳۰/۷/۱۹۷۸ء.

الجواب: دَڅان له مونځ کولو نه فاسق پسې اقتداء کول افضل دی خاص طورسره چه دَامام دینی حالت دَقوم نه ښه وی.

كما فی شرح التنویر صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة وفی ردالمحتار ص ۲۵۲ جلد ۱ افاد ان الصلوٰة خلفها اولیٰ من الانفراد ولکن لا ینال كما ینال خلف تقی《۳》. وهو الموفق

《۱》عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سباب المسلم فسوق وقتاله كفر. (الجامع الصحیح للمسلم ص ۵۸ جلد ۱ کتاب الایمان)

《۲》قال العلامه ابن عابدین: واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لا يهتم لامر دينيه وبان فی تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعاً ولا يخفیٰ انه اذا كان اعلم من غيره لا تزول العلة فانه لا يؤمن ان يصلی بهم بغير طهارة فهو كالمبتدع تكره امامته بكل حال بل مشی فی شرح المنية علی ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لما ذكرنا قال ولذا لم تجز الصلاة خلفه اصلا عند مالك ورواية عن احمد. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

《۳》(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

دَ حیات النبی صلی الله علیه وسلم نه منلو والا او دَ درود والا روایتونوته ضعیف وئیلو والا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم امام دَحیات النبی صلی الله علیه وسلم په مسئله کښې اختلاف کوی او دَرود شریف والا روایتونوته ضعیف وائی هغه روایتونه چه په هغې کښې پیغمبر علیه السلام پورې دَ"صلوة اوسلام" رسیدلو ذکر دي داسي امام مقرر کول دَشریعت په رنړا کښې څه حکم لری؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی عبدالمنان چیف کمیسټ منګوره سوات.

الجواب: ظاهری طورسره داسړې سلفی اونجدی معلومیږی نو که دا حقیقت وی بیا داسي کس باقاعده امام مقررول مکروه دی.《۱》.

لكونه مبتدعا خارجيا شديداً علی المسلمين رحيماً علی الكفار مبيحا لقتل اهل الاسلام وتاركاً لقتل اهل الاوثان وفق قول الصادق المصدوق صلی الله علیه وسلم (رواه البخاری) وهو الموفق

عاق شوې پسې مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مولوی صاحب دي زمونږ امام دي دَخپل پلار سره ئې جګړه اوکړه پلارئې په یو وخت درې طلاقه اوغورځول چه داځوې زمانه عاق دي نو آیا اوس دَعاق شوی امام صاحب پسې مونځ کول صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ډاکټر ظهور محمد واړی ضلع دیر........۳۱/۸/۱۹۸۳ء.

《۱》ويكره امامة...... مبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة وكل من كان من قبلتنا لا يكفر بها حتی الخوارج الذين يستحلون دماء نا واموالنا الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

الجواب: عاق پسې اقتداء مکروه ده.﴿۱﴾ .لیکن هغه پسې اقتداء کول دَځان له مونځ نه افضل دی.(شامی وغیره).﴿۲﴾ .وهو الموفق.

بریلیانو پسې دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څه په کومه علاقه کښې او سیږم هلته دَبریلیانو جمات دې سره دکوشش نه بعضې دَجماعت مونځونه پاتې کیږی.ځکه چه زمونږ دَخپل مسلک جمات لرې لرې دې دَ بریلیانو غلطې عقیدې دَچانه پټې نه دی آیا مونږ هغوی پسې اقتداء کولې شو؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مجید الحسن اسلام آباد.......... ۱۹۹۰ء/۹/۲.

الجواب: دَځان له مونځ نه دَفاسق اوبدعتی په اقتداء کښې مونځ کول بهتر دی.(ردالمحتار).﴿۳﴾ .وهو الموفق.

دَ بریلوی فرقې په اقتداء کښې بل سوال

سوال: جواب ملاؤ شو خویوه خدشه بیاهم پاتې شوه هغه داچه که عقیدې مشرکانه وی مثلاً غیر الله عالم الغیب ،حاضرناظر ،حاجتونه پوره کولو والا

﴿۱﴾ لان العقوق من الکبائر وفی الحدیث عن عبد الله بن عمر و قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین الخ.
(مشکواة المصابیح ص۱۷ جلد ۱ باب الکبائر الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة قال ابن عابدین (قوله نال فضل الجماعة) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: افاد ان الصلاة خلفهما اولیٰ من الانفراد.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد)

او مشکلاتو ختمولو والا گڼړی نوبیا به څه کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مجید الحسن اسلام آباد

الجواب: ددې خاص فرقې واعظین اومقررین په شرک کښې اخته کیږی اوعوام په شرک کښې اخته کوی لیکن ددې فرقې علماء غالب طورسره تاویل کونکی وی مثلا دامنی چه پیغمبر علیه السلام بشردې لیکن هغه ته بشرنه وائی بلکه نور دې او وائی چه دَعلم کلی نه کله استغراقِ حقیقی وی نو هغه دَالله تعالی سره خاص دې اودَپیغمبر علیه السلام دپاره هغه علم کلی ثابت دې چه په هغې کښې استغراقِ عرفی موجود دې.کما فی قوله تعالی اوتیت من کل شئ ﴿۱﴾ واتینٰه من کل شئ سببا﴿۲﴾ وفی قوله علیه السلام فتجلی لی کل شئ ای قدر یلیق بالملك والرسول.اوحاضر ناظر مهمل گرځوی نه محصوره للاحتیاط والتنزه.وهوالموفق

دَ کنځلو کولو او بدو ردو وئیلو والا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام دې غریب هم دې او ناواده کړې هم دې کنځلې اوبدو ردو وئیلو والا هم دې،هغه پسې مونځ کول جائز دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: غلام محی الدین مانسهره............ ۱۹۷۸ء/۱۰/۱۲.

الجواب: چه کله دَامام حالت دَقوم په نسبت سره ښه وی نو دَهغه په امامت کښې کراهت نشته ځکه چه په ړندو کښې یوسترګې والا راجا وی.کما یشیر الیه کلام البحرص۳۴۹جلد۱ وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم﴿۳﴾.وهوالموفق

﴿۱﴾ (پاره۱۹ سورةالنمل: آیت:۲۳)
﴿۲﴾ (پاره:۱۶ سورة الکهف آیت: ۸۴)
﴿۳﴾ (البحر الرائق ص۳۴۹جلد ۱ باب الامامة)

دَ نشو عادت سړی اقتداء کول مکروه تحریمی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَنشو عادت دې دَچرسو وغیره نشه کوی او دا سړې دَسنت عملونو نه هم لرې دې نو دَداسې کس دَاقتداء څه حکم دې ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد یعقوب......۳/۳/۱۹۷۴ء.

الجواب: دَداسې امام اقتداء کول مکروهِ تحریمی ده اګرچه دَځان له مونځ نه داسې پسې مونځ کول افضل دی.﴿۱﴾.

کما فی منحة الخالق ذکر الحلبی فی شرح منیة المصلی ان کراهة تقدیم الفاسق والمبتدع کراهة التحریم (هامش البحر ص ۳۴۶ جلد ۱)﴿۲﴾. وهو الموفق

دَ زوجیت حقوق نه ادا کونکی او مقتدیانوکښې دَ انتشار خورونکی والا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو سړی په نکاح کښې دوه ښځې دی یوه زړه دویمه نوې یعنی اوسنئ. حال دا دې چه دا نوې ښځه ورسره خوشحاله ده او دَهغې حقوق دَزوجیت هم ټول اداکوی او پخوانئ ښځه ئې پلارکره تلې ده اودَزوجیت حقوق ئې هم نه اداکوی او په مینځ کښې آویزان ده.ددې نه علاوه دا امام صاحب په مقتدیانو کښې انتشارهم پیداکوی چه دَهغې په وجه ډیرو کسانوهغه پسې مونځ کول هم پریخودلو. نودَتپوس والا مسئله داده چه کوم سړې حقوق العباد" باندې خپې ږدی اودَاتفاق او اتحاد په ځائې انتشار پیدا کوی ده پسې مونځ کول جائز دی که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: غلام محمد ،تاج محمد متی آباد راولپنډی...۲۲/شوال ۱۳۸۹ھ.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: فان امکن الصلوة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد.
(ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۲﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: که پخوانئ ښځه پلارکره په خپله خوښه تلې وی او دا انتشاردَحق بیانولو په وجه باندې وی نو دَدې امام په اقتداء کښې هیڅ کراهت نشته اوکه دا پخوانئ ښځه ده په ظالمانه انداز کښې دکورنه ویستلې وی اودغه شان دا انتشارهم دَخپلې خوښې قائمولو باندې وی نو په دې صورت کښې دَنیکانو اقتداء مکروه ده. بیاهم دَځان له مونځ نه ورپسې بهتر ده.

یدل علی جمیع ما ذکرت قوله تعالیٰ فان خفتم الا تعدلوا فواحدة﴿۱﴾ وقال رسول الله ﷺ اذا کانت عند الرجل امراء تان فلم یعدل بینهما جاء یوم القیامة وشقه ساقط اخرجه اصحاب السنن الاربع عن ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعاً﴿۲﴾ وفی الهدایه وغیرها واذا کان لرجل امرء تان حرتان فعلیه ان یعدل بینهما فی القسم﴿۳﴾، وفی الدرالمختار ولو ام قوما وهم له کارهون ان کانت الکراهیة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره ذلک تحریماً لحدیث ابوداؤد لا یقبل الله صلاة من تقدم قوما وهم له کارهون وان هو احق لا والکراهیة علیهم، انتهیٰ ما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد ۱﴿۴﴾ وفی الشرح الصغیر علی هامش الکبیر ص ۴۳۸ ویکره تقدیم الفاسق کراهة تحریم﴿۵﴾، فقط. وهوالموفق

په ناسته باندې رکوع سجده کونکی امام پسې اقتداء کول جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو مستند حافظ قران عالم دین دَایکسیډنټ په وجه ښی پنډئ (کونډئ) ماته شوه نوهسپتال والو

﴿۱﴾ (سورة النساء پاره: ۴ رکوع: ۱۲ آیت: ۳)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۲۷۹ جلد ۱ باب القسم الفصل الثانی)

﴿۳﴾ (هدایة ص ۳۲۸ جلد ۲ باب القسم کتاب النکاح)

﴿۴﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

﴿۵﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۲۷۵ فصل فی الامامة)

دټولې ښځې نه پلستر(پټئ) تاؤکړي چه په رمضان کښې قبلې طرفته نیغه
خپه کیږدی نوپه ناسته پاندې دتراویح مونځ ورکولې شی که نه ؟ اودفرض
مونځ متعلق هم اولیکئ چه زمونږ دپاره ورپسې په ولاړه باندې اقتداء جائز
ده که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی:حافظ شیرمحمد کوئټه..............۳/۷/۱۹۷۸ء

الجواب: که دا امام په ناستې سره رکوع او سجدې باندې قادر وی نوده پسې په
فرضو او غیر فرضوکښې اقتداء جائز ده. کمافی شرح التنویروقائم بقاعد یرکع
ویسجدلانه علیه السلام آخر صلاته قاعداً وهم قیام وابوبکر یبلغهم تکبیره(۱). وهوالموفق

دَ تقلیدِ شخصی نه دَمنکر امامت جائز نه دې

سوال: یک ملاازوهابیه میگوید ودر کتاب خود نیز تحریر میکند که تقلید یکې
ازچهارمذاهب وعمل بران کردن شرک است،وصاحبان مذاهب اربعه را
مشرکان میگوید،پس به معامله دنیاوی ودیگرکاروباروغیره در او جائز
است مرمسلمان رایانه،ونیزامامت کردن این قسم وهابیه مرمسلمان را جائز
است یا نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:مولوی فضل صمدانی بانډه ضلع چارسده...۲۹/صفر۱۴۰۲ھ.

الجواب: تقلیدشخصی مشروع است ومشروعیت اوازقرآن واحادیث وتعامل
سلف و خلف ثابت است.(۲) البته تقلید شرکی حرام وشرک است (۳).چنانچه
درقرآن مجید مصرح است ،پس کدام شخص که تلقید شخصی راشرک قرارکند

---

(۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۳۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی رفع المبلغ صوته زیادة علی الحاجة باب الامامة

(۲) قال الله تعالیٰ: فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون (النحل) وقال الله تعالیٰ: ولو ردوه الی الرسول والیٰ اولی الامر منهم لعلمه الذین یستنبطونه منهم (النساء) وقال رسول الله ﷺ اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم ، بیهقی، وقال البیقی حدیث مسلم یؤدی بعض معناه وقال ابن حجر صدق البیهقی (مرقات ص۲۸ جلد ۱ ۲،۱۱) وهکذا قلدوا اهل المدینة لزید بن ثابت کما فی البخاری حیث سأل اهل المدینة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

و مقلدین رامشرکین قرارمے گرداند محرف قرآن ومنحرف ازسبیل مؤمنین
است،اقتدائے اودرنمازناجائزاست،(۱).وترک موالات بااوواجب
هست.وهوالموفق.

دَ خیانت کونکی امام اقتداء مکروهِ تحریمی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیوامام صاحب خواته
پیسې امانت راځی اوهغه دغه امانت ادا نه کړو بلکه پخپله ئې خوړلو
څکلو.چه په هغې مکمل ثبوت شته دې چه دا امام خیانت کړدې نودې امام
پسې مونځ کیږی که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:عبدالحمید،عبدالرحمن مین بازارهری پور هزاره..۷/۲/۱۹۷۷ء

الجواب: دَخیانت ثابتیدلو په شرط ده پسې اقتداء مکروه تحریمی ده(۲)

(بقیه حاشیه) عن ابن عباس فی حق حائضة اذا صارت حائضة بعد طواف الزیارة فتنظر او ترجع الیٰ وطنها؟ فقال ابن عباس ترجع الی وطنها فقال اهل المدینة لا نأخذ بقولک وندع قول زید بن ثابت کما فی البخاری باب اذا حاضت المرءة بعد ما افاضت، وهکذا التعامل علی تقلید الشخصی سلفاً خلفاً الی الآن ثابت وذاک حسن لحدیث ماراه المؤمنون حسناً فهو عند الله حسن رواه المحدثون موقوفا علی ابن مسعود وجعله الامام محمد مرفوعا فی بلاغاته. (ازمرتب)

(۳) قال الله تعالیٰ: واذا قیل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع ما الفینا علیه اباءنا او لوکان آباء هم لا یعقلون شیئاً ولا یهتدون. (البقره پاره:۲رکوع:۵آیت:۱۷۰)

(۱) قال الحصکفی:ویکره امامة...... مبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة وکل من کان من قبلتنا لا یکفر بها. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام

(۲) قال الحلبی :وفیه اشارة الی انهم قدموا فاسقا یاثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (الشرح الکبیر ص ۴۸۵ فصل فی الامامة

......

لان الخيانة حرام ﴿۱﴾ والاقتداء بالفاسق مكروه تحريما صرح به الامام الحلبى فى الشرح الكبير، البته د انفراد نه اقتدا بهتره ده. ﴿۲﴾ وهو الموفق

دَ خنثى مشكل دَ امامت حكم

سوال: علمائي دين دې مسئلي باره كښې څه فرمائى چه خنثى مشكل پسې اقتداء اوهغه امام جوړول صحيح دى يا نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: ارشاد الله زيارت كاكاصاحب........ ۴/رمضان ۱۴۰۵هـ

الجواب: كه دَخنثى نه مراد عنين يعنى نامرده كس وى نو دَهغه امامت صحيح دې او كه دَخنثى نه مراد هغه كس وى چه دَهغه سړو والا او زنانو والا دواړه اندامونه وى او په دواړو باندې په يو وخت متيازې كوى نو دَهغه امامت د سړو دپاره صحيح نه دى. كمافى الهنديه ص ۸۵ جلد ۱ وامامة الخنثى المشكل للنساء جائزة........ وللرجل والخنثى مثله لا يجوز. ﴿۳﴾. وهو الموفق.

په تراويح كښې دَ نابالغه دَ امامت مسئله.

سوال: علمائي دين دې مسئلي باره كښې څه فرمائى چه په رمضان شريف كښې نابالغه حافظ پسې دَتراويح كولو څه حكم دې؟ او په كلى كښې غيرحافظ بل امام هم شته دې؟ بينوا توجروا.

المستفتي: عبدالرؤف ريام لوره ايبټ آباد.

﴿۱﴾ عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ اربع من كن فيه كان منافقا خالصاً ومن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النفاق حتى يدعها اذا اؤتمن خان واذا حدث كذب واذا عاهد غدر واذا خاصم فجر. متفق عليه.
(مشكوٰة المصابيح ص۱۷ جلد ۱ باب الكبائر وعلامات النفاق)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: افاد ان الصلاة خلفهما اولىٰ من الانفراد.
(ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فى امامة الامرد باب الامامة)

﴿۳﴾ (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۸۵ جلد ۱ الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره)

الجواب: نابالغه پسې د تراويح مونځ كولو سره ذمه نه فارغ كيږى كمافى الدرالمختار ص ۵۴۱ جلد ۱، ﴿۱﴾. لهذا بالغ امام پسې به اقتداء كولې شى او په "اهون البليتين" باندې به عمل كيږى. وهو الموفق.

دَ بيعې مؤجل كولو والا امام صاحب امامت

سوال: علمائي دين دې مسئلي باره كښې څه فرمائى چه زمونږ امام صاحب دَ غلې موجوده قيمت مثلاً په شل روپې يومَن غنم دى اودغه امام صاحب ئې خلقو ته په ديرش (۳۰) يا پنځه ديرش (۳۵) روپې يومَن غنم په قرضو وركوى او خلق ئې اخلى كال پس ورته پيسې وركوى امام صاحب ورته بيع سَلَم وائى او حال دا چه داخو سود دې، نودې امام پسې مونځ كول جائز دى؟ بينوا توجروا

المستفتي: بنده محمد عبدالحميد عفى عنه........ ۱۹۷۳ء/۱۱/۲۵

الجواب: دابيع سلم نه ده بلكه بيع مؤجل ده. اودازياتوالي دَقرض په وجې سره دې دَقرض په عوض كښې نه دې نودابيع جائزه ده. صرح به مولانااللكهنوى فى مجموعة الفتاوى ناقلا عن شرح النقايه والبحر والنهرفليراجع. ﴿۲﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: ولا يصح اقتداء رجل بامرأة وخنثى وصبى مطلقا ولو فى جنازة ونفل على الاصح. (الدرالمختار على هامش ردلمحتار ص ۴۲۷ جلد ۱ مطلب الواجب كفاية هل يسقط بفعل الصبى وحده باب الامامة)

﴿۲﴾ **علامه عبدالحئ الكهنوى صاحب فرمائى:** دَثمن زياتوالي دَنيټې دپاره بغيرشبهې نه صحيح دى. ددې ثبوت دَهدايه "دكتاب المرابحه" دَعبارت نه نه معلوميږى په هدايه كښې دى. لاترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل "آيا تاته دامعلومه نه ده چه دَمودې په وجې سره قيمت كښې زياتوالي كولې شى. اودغه شان عبارتونه نورو ډيروكتابونو كښې هم موجوددى. فصيح الدين هروى ح دَشرح وقايه په كتاب المرابحه كښې ليكلى "فى النسيئة يزادالثمن لاجل الاجل نسيه كښې دَمودې په وجې سره په قيمت كښې زياتې كيدې شى. او په "نهر الفائق شرح كنزالدقائق كښې دى الاترى انه يزاد فى الثمن لاجله. آيا تاته دانه ده معلومه چه دَمعلومې مودې په وجې سره په قيمت كښې زياتوالي كولې شى. اوپه "بحر الرائق شرح كنز الدقائق "كښې دى......

(باقى حاشيه په بل مخ)

دَبې مروته او بې غیرته سړی امامت مکروه دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو کلی خلقو تحریراً (کاغذ کښې لیکلو سره) داوعده او اقرار اوکړوچه ودونو کښې به حرام رسمونه، ډول ګډېدل، باجې وغیره هیچرې نه استعمالوی. که چا داسې اوکړل نو سل (۱۰۰) روپې به جرمانه وی. په دې تقریباً ۲۵ کالونه عمل راروان وو، اتفاقاً په کلی کښې یو سړی دَځوی په واده کښې ډول اووهلو او بدکارې بازاری ښځې ئې راوستلې او دَګډا پروګرام ئې جوړ کړو. او دکلی څو کسان ورسره هم ملاؤ شول دَجمات امام صاحب دَدوی په دې خلاف ورزئ کولو باندې دَتنبیه په طور

(بقیه حاشیه) لان للاجل شبهابالمبیع الاتری انه یزادفی الثمن لاجل الاجل ځکه چه دَاَجَل دَبیع سره مشابهت وی آیاتاته دانه معلومه چه دَمودې په وجې سره په قیمت کښې زیاتوالې کولې شی. او په دې کتاب کښې ئې یو کرښې پس لیکلې دی "الاجل فی نفسه لیس بمال ولایقابله شئ من الثمن حقیقة اذالم یشترط زیادة الثمن بمقابله قصدا ویزادفی الثمن لاجله اذاذکر الاجل بمقابلة زیادة الثمن قصدا" پخپله موده خوځه مال نه دې اونه ددې په مقابله کښې څه ثمن شته. چه قصداً ئې ددې په مقابله کښې دَقیمت زیاتولو تصریح نه وی کړې. البته ددې په وجه په ثمن کښې زیاتوالې کیدیشی. چه کله دَزیاتوالی په مقابله کښې موده ذکر کړیشی. دې عبارتونو سره دَ معلول په معاملې جواز ښه طریقې سره معلوم شو. او داسې دَفقهې په ډیرو کتابونو کښې دی. او دَهدایه "عبارت هم دَمخکښې عبارت سره مخالف نه دې. دَهدایې" پوره عبارت دا دې "لوکانت له الف مؤجلة فصالحه علی خمس مائة حالة لم یجزلان المعجل خیرمن المؤجل وهوغیرمستحق بالعقد فیکون بازاءماحطه عنه وذلک اعتیاض عن الاجل وهو حرام، که دَیو څیز قیمت زر (۱۰۰۰) درهمه وی او قیمت په قلاره ورکوی او مشتری په پنځه سوه باندې روغه اوکړه چه اوس به درکړم نو دا به جائز نه وی، ځکه چه تادی دَتاخیر نه بهتر دی. لیکن دَبیع منعقد کیدو پورې ددې کمی حق حاصل نه وونو اوس به دَقیمت کمیدل دَتادئ په بدله کښې وی. او دادَمودې نه فائده اخستل شول کوم چه حرام دی. ځکه چه دَمودې نه فائده اخستل یو څیز دې او دَمودې حق ثابت وو او په پنځه سوه باندې صلح کول اوس واقع شو، نو دَمودې نه فائده اخستل لازم شو چه هغه مال نه دې. نو په دې وجه دَحرمت حکم اوکړې شو. او دَقیمت زیاتوالی په صورت کښې دَمودې دپاره حقِ اجل" دَمخکښې نه ثابت نه دې بلکه دَ اول نه دَنیتې هومره قیمت زیات شو. نو ددې په جائز کیدلو. هیڅ کلام نه وی. (مجموعة الفتاوی ص ۱۲۴ جلد ۲ کتاب البیع)

دَمصلحت په امید دَدوی نه جداوالې اختیار کړو، دغې کسانو یو جاهل هم خیال سړې امام مقرر کړو. چه دَهغه په وجې سره په کلی کښې ډیر پریشانی جوړه شوه. اوس سوال دادې چه ددې کسانو داکار دَشریعت په رڼا کښې جائز دې که نه؟ او کوم کس چه دَاولنی امام دَاجازت نه بغیر مقرر شوې دې نو دَ داسې بدعت غوښتونکی او بې تعلیمه امام اقتدا صحیح ده که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: پیر سکندر شاه سوهلن هزاره...... ۱۹۷۴ء/۱۲/۹.

الجواب: دَدې کسانو داحرکت بالکل حرام دې. ﴿۱﴾. لانهم خالفوا الشرع واخلفوا الوعد نعم التعزیر باخذ المال منسوخ. ﴿۲﴾. او دې بې مروته او بې غیرته امام پسې اقتداء کول مکروه دی. ﴿۳﴾. وهو الموفق

....

﴿۱﴾ قال العلامه ابن البزار الکردری: استماع صوت الملاهی کالضرب بالقضیب ونحوه حرام لقوله علیه السلام استماع الملاهی معصیة والجلوس علیها فسق و التلذذ بها کفر ای بالنعمة. (فتاویٰ بزازیه علی هامش الهندیه ص ۳۵۹ جلد ۶ الباب الثالث فیما یتعلق بالمناهی)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: وفی المجتبیٰ لم یذکر کیفیة الاخذ واری ان یاخذها فیمسکها فان أیس من توبته یصرفها الی ما یری وفی شرح الآثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ و الحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۱۹۶ جلد ۳ مطلب فی التعزیر باخذا المال)

﴿۳﴾ قال العلامه الحصکفی رحمه الله: ویکره امامة عبد وفاسق. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۳، ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

دَ منکراتو نه ډک "دعوتِ ولمیه" کښې دَشریک کیدونکی امام اقتداء

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوځل دَجمعې مونځ نه پس د کلی والو خلقو اتفاق اوکړو چه کوم سړې په واده کښې ځانې بجانې راولی بدکارې ښځې ډانس دپاره راولی نودَهغه په دعوتِ ولیمه کښې به شرکت نشی کولې.بیاروستو یوسړی داسې اوکړل چه په هغې کښې ډیرخلق شریک نه شول لیکن بعضې خلق پکښې شامل شول اودَهغوی په وجه امام صاحب هم دعوتِ ولیمه کښې شریک شو،اوس خلق دې امام پسې مونځ نه کوی نو دَداسې کس دَامامت څه حکم دې ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:مولوی گل زمان راولپنډی ......۱۹۷۸ء.

الجواب:دې امام کښې دینی حمیت اوغیرت نشته اوچاچه شرکت نه دې کړې په هغوی کښې دینی حمیت اوغیرت شته دې ﴿۱﴾.که دا امام په دې خپل کار باندې پښیمانه وی﴿۲﴾ نو خلقو باندې ضروری ده چه مونځ ورپسې کوی اوخپل ځان دې دَامامت اوجماعت دَثواب نه نۀ محرومه کوی.﴿۳﴾

وهوالموفق

﴿۱﴾قال العلامه حصكفى: دعى الى وليمة وثمة لعب او غناء قعدو اكل لو المنكر فى المنزل فلو على المائدة لا ينبغى ان يقعد بل يخرج معرضا لقوله تعالىٰ فلا تقعد بعد الذكرىٰ مع القوم الظالمين فان قدر على المنع فعل والا يقدر صبر ان لم يكن ممن يقتدى به فان كان مقتدى ولم يقدر على المنع خرج ولم يقعد لانه فيه شين الدين الخ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۲۴۵ جلد۵ كتاب الحظر والاباحة)

﴿۲﴾عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول اللهﷺ التائب من الذنب كمن لا ذنب له رواه ابن ماجه والبيهقى فى شعب الايمان...... وفى شرح السنة روى عنه موقوفا قال الندم توبة والتائب كمن لا ذنب له.

(مشكواة المصابيح ص۲۰۶ جلد۱ باب الاستغفار)

﴿۳﴾عن ابن عمر قال قال رسول اللهﷺ صلوٰة الجماعة تفضل صلوٰة الفذ بسبع وعشرين درجة متفق عليه. (مشكواة المصابيح ص۹۵ جلد۱ باب الجماعة وفضلها)

دَ ساحر جادوګر او شرکی عقیدو ساتلو والا دَ امامت حکم

سوال: علمائې دین لاندینو مسئلوباره کښې څه فرمائی:(۱).دکوم سړی چه عقیده صحیح نه وی جادوګروی په بعضې کارونوکښې دَالله تعالیٰ سره شریک هم جوړوی دَهغه دَامامت څه حکم دې؟ (۲).که یو مولوی صاحب دَ ستورو په ذریعې سره دَغیبوخبرې کوی جادوهم کوی نوآیادَهغه امامت صحیح دې؟ (۳).یوامام صاحب دَیوخاندان دَماشومانو جنازه اوکړه خوچه کله ددغې جینکو نیکه مړشو نودَپارټی بازئ په غصه کښې راغې اوجنازه ئې اونکړه.آیادَهغه دَ متعصبانه رویئے په وجه دده امامت صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:لیاقت علی راوالپنډی.

الجواب:(۱) دَمشرک اوجادوګرامام پسې اقتداء کول باطل او کالعدم ده.﴿۱﴾. البته صرف تهمت چه ثابت نه وی دَاوریدلو قابل نه دې.(قواعدفقه). (۲).سحر او جادو چه ترڅوپورې کفرته نه وی رسیدلې نودَهغې حکم په اولنی جواب کښې لیکلې شوې دې.﴿۲﴾ اوچه کوم جادود کفرحدته رسیدلې وی نوددې عامل امام پسې اقتداء کول مکروه تحریمی دی (کبیری)﴿۳﴾ (۳) مولوی صاحب دَکومو وجوهاتوپه بناباندې دَجنازې مونځ نه دې کړې دَهغې وضاحت ضروری

﴿۱﴾قال العلامه حصكفى : وان انكر بعض ما علم من الدين ضرورة كفر بها كقوله ان الله تعالىٰ جسم كالاجسام وانكاره صحبة الصديق فلا يصح الاقتداء به اصلا فليحفظ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۴۱۵ جلد۱ قبيل مطلب فى امامة الامرد)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدين: فهذه انواع السحر الثلاثه قد تقع بما هو كفر من لفظ او اعتقاد او فعل وقد تقع بغيره كوضع الاحجار وللسحر فصول كثيرة فى كتبهم فليس كل ما يسمى سحرا كفراً اذ ليس التكفير به لما يترتب عليه من الضرر بل لما يقع به مما هو كفر كاعتقاد انفراد الكواكب بالربوبية او اهانة قرآن او كلام مكفر ونحو ذلک ملخصا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۴ جلد۱ مطلب السحر انواع)

﴿۳﴾قال العلامة الحلبى: كذا فى فتاوىٰ الحجة وفيه اشارة الى انهم قدموا فاسقا يأثمون بناء على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم. (الشرح الكبير ص۴۷۵ فصل فى الامامة)

دي چه مونږ په فتوی ورکولو باندي قادر شو. وهو الموفق.

دَتوبې کولو نه پس دَفاسق په اقتداء کښې څه حرج نشته

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دروغه قسم خوړلو والا پسې مونځ کیږی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: رحمت دین سنگ جانی راولپنډی........ ۱۹۷۲ء/۹/۱۸

الجواب: په دروغه قسم خوړلو والا سخت گناهگار دي. (۱) لیکن دَتوبې کولو نه پس ورپسې اقتداء کولو کښې څه حرج نشته. وهو الموفق.

په دروغه قسم کولو نه توبه ویستلو نه پس امامت مکروه نه دي

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړي په دروغه قسم اوخوړلو بیاهغه سړی توبه هم اوکړه او کفاره ئې هم ادا کړه نو دَتوبې او کفارې نه پس ئې امامت جائز دي که مکروه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سید غلام حیدر شاه سورجال راولپنډی......... ۱۹۶۹ء/۱۱/۲۷

الجواب: یمین غموس گناه کبیره ده. (۳) داسړي چه کله توبه اوکړی نو اقتداء

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص۱۷ جلد۱ باب الکبائر وعلامات النفاق)

(۲) وعن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لا ذنب له. (مشکواة المصابیح ص۲۰۶ جلد۱ باب الاستغفار والتوبة الفصل الثالث)

(۳) عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس، متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص۱۷ جلد۱ باب الکبائر وعلامات النفاق)

ورپسې مکروه نه ده (۱) په دې شرط چه دَفسق نور کارونه پکښې نه وی. وهو الموفق

دَ مودودی جماعت سره تعلق ساتلو والا پسې دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړې یا مولوی صاحب دَ مودودی جماعت حمایت کونکې وی هغه پسې اقتداء جائز ده که نه نه؟ اولې کول ئې پکار دی که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فیض محمد جامعه اسلامیه اکوړه ختک..... ۱۰/جون ۱۹۷۰ء.

الجواب: (۱) چونکه د مودودی صاحب په نزد په گنده معاشره کښې حدود جاری کول ظلم دې او مودودی صاحب دَقرآن دَاطلاق مقید کول په خپلې رائې سره کړې دی. اوپه کومو امورو سره چه دَظلم انسداد کیږی هغې ته ئې ظلم وئیلې (۲). دغه شان دَبعضې پیغمبرانو علیهم السلام او بعضې صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین او اکثرو علمائې کرامو متعلق ئې گستاخانه خبرې کړې دی. (۳). خصوصاً دَخلافت وملوکیت" په بعضې بابونو کښې ئې بې سنده تاریخی واقعاتو ته داسې ترتیب ورکړې چه دَهغې تاثرپه صحابه کرام باندې بدگمانه کیدل دی.

لطیفه: مودودی صاحب دگنده معاشرې دَوجې نه اصلاحی عمل یعنی حدود جاری کولو ته ظلم وئیل جائز وائی او دَخلافت و ملوکیت دَ گنده ترتیب کنده تاثر په وجه ددې کتاب مطالعې اوخورولو ته ظلم نه وائی په دې بې انصافی باندې تعجب دې؟

(۴). ترا وسه پورې دَمودودی صاحب مسلک هم متعین نه دې او نه دَهغه په نزد دَ کفر مدار متعین دې ددې وجه نه کله هغه کفاروته چه دَدین دَضروریاتو نه منکروی دکفراو اسلام په مینځ معلق وائی. او کله لکه دَ خوارجو پشان دَحج پریخودونکی باره کښې دکافر کیدلو عقیده ساتی.

---

(۱) عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لا ذنب له رواه ابن ماجة والبیهقی فی شعب الایمان...... وفی شرح السنة روی عنه موقوفا قال الندم توبة والتائب کمن لا ذنب له. (مشکواة المصابیح ص۲۰۶ جلد۱ باب الاستغفار والتوبة)

ددې وجوهاتو په بناء په مودودی باندې دکفرخطره ده لهذا هغه پسې اقتداء نه کول ضروری دی اودَجماعتِ اسلامی په افرادو کښې چه څوک دَ مودودی په رنګ کښې رنګ دی دَهغوی هم داحکم دې.اوکوم کسان چه مودودی صاحب سره په سیاسی امورو کښې شریک وی اوپه مداهنت کښې مبتلا وی یعنی نه دمَودودی صاحب نه انکار کوی اونه ترنه جداکیږی.بلکه مودودی صاحب پسې خبرې کونکی سره په جنګ کیږی نوهغوی پسې اقتداء نه کول ضرورډی دی.اوچه کوم افراد داسې نه دی نودَهغوی حکم آسان دې خوداسې کسان تراوسه زماپه علم کښې نه دی راغلي.

قال رسول الله ﷺ من قال فی القرآن برأیه فلیتبوأ مقعده من النار، رواه الترمذی ﴿۱﴾،وقال رسول الله ﷺ من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام رواه البیهقی ﴿۲﴾ وقال رسول الله ﷺ لتتبعن سنن من قبلکم شبراً بشبر وذراعاً بذراع ﴿۳﴾قلت ومن سننهم علم اجراء الحدود لمصالح دنیویة، وقال الله تعالیٰ ولا ترکنوا الی الذین ظلموا ﴿۴﴾ وقال علیه السلام من تشبه بقوم فهو منهم﴿۵﴾وقال الله تعالیٰ ودوا لو تدهن فیدهنون﴿۶﴾ وقال علیه الصلاة والسلام مثل المدهن فی حدود الله والواقع فیها مثل قوم استهموا سفینة الحدیث رواه البخاری ﴿۷﴾ وقال الفقهاء والمتکلمون ویعزل به (الفسق) الا لفتنة﴿۸﴾ قلت فامام الحیی یعزل باولیٰ فافهم وللتفصیل موضع آخر. وهو الموفق

﴿۱﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۵ جلد ۱ کتاب العلم الفصل الثانی)
﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۱ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة الفصل الثالث)
﴿۳﴾ (مشکواة المصابیح ص ۴۵۸ جلد ۲ باب تغیر الناس الفصل الاول)
﴿۴﴾ (سورة هود پاره: ۱۲ رکوع: ۱۰ آیت ۱۱۳)
﴿۵﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۷۵ جلد ۲ کتاب اللباس الفصل الثانی)
﴿۶﴾ (سورة القلم پاره: ۲۹ رکوع: ۳ آیت: ۹)
﴿۷﴾ (الجامع الصحیح للبخاری ص ۳۶۹ جلد ۱ باب القرعة فی المشکلات کتاب الشهادات)
﴿۸﴾ (الدر المختار علی هامش ردلمحتار ص ۴۰۵ جلد ۱ باب الامامة)

دَ درود شریف په خوشی آوازئ سره دَ وئیلو تشبیه راګ سره دَورکونکی سړی امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مولوی صاحب وائی چه "صلوة وسلام دَراګ په شکل کښې وئیل حرام دی"راګ خوپه ډول وغیره سره کیږی اوصلوة وسلام خوپه ولاړه یا ناسته په سریلی آواز کښې وئیلې کیږی.نوداسې الفاظ ویونکی مولوی صاحب دپاره څه حکم دې ؟آیا هغه پسې مونځ کول صحیح دی ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: صوفی محمدفیروزخان کوه مری بودریا.....۱۵/دسمبر۱۹۷۹ء.

الجواب: دَدې مولوی صاحب الفاظ صحیح دی البته دکومې مادې اومثال متعلق چه ئې دا الفاظ وئیلی دی په هغې باندې دا الفاظ منطبق نه دی.نو دا مولوی صاحب دَامامت لائق دې اودَ ملامت لائق دې خولائق دَعزل عن الامامت" نه دې .وهو الموفق.

دَ فاسق دَ کور نه دَ خوراک والا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام صاحب دَداسې سړی دَ کورنه خوراک کوی چه همیشه مونځ نه کوی ،بدمعاش اوظالم دې په هرناجائز کارکښې مخکښې وی نو دَدې خوړونکی امام امامت صحیح دې یا نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:یومسلمان رور دَ کوهاټ ....۱۹۷۸ء/۷/۲۹.

الجواب: حرام خوراک دَفسق باعث دې.﴿۱﴾ لیکن دکافریافاسق دکورنه

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی وآکل الربا ونحو ذلک.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام)

خوراک کول فاسق کونکې نه دې. لان النبی علیه السلام اجاب دعوة یهــود خیبر ﴿۱﴾. وکان یوسف علیه السلام یاکل من بیت العزیز ﴿۲﴾. وهوالموفق.

(۲)..... **الجواب**: دَامامت صحیح والی دپاره دَمونځ پابندی کونکی سړی خوراک شرط نه دې. هیڅ یو امام هم داشرط نه دې مقرر کړې. وهوالموفق.

۱۹/۷/۱۹۷۸ء

دَ غل سړی دَ امامت مسئله.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو جمات امام صاحب دَغلا کولو عادی دې او دَدې خپل خراب کارنه منع کیږی هم نه، ډیر پوهه کړې شو لیکن سمیږی نه، دغه شان خپلې جامې هم نه وینځی خپې ابله خپوسره ګرځی، اودغه شان جمات ته داخل شی او مونځ ورکوی، چه دَهغې په وجه دَمقتدیانو نفرت کیږی، آیا داسې کس دَامامت نه معزول کول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: وحید هیئر کټنګ........ ۷/۵/۱۹۷۳ء.

الجواب: که دا امام صاحب توبه ګار کیږی نه او دَده نه بهتر امام موندلې کیږی، نو دَقوم مشرانو دپاره دَده معزول کول جائز دی. ونظیره الامام الا کبر ﴿۳﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ عن جابر ان یهودیة من اهل خیبر سمت شاة مصلیة ثم اهدتها لرسول الله ﷺ فاخذ رسول الله ﷺ الذراع فاکل منها واکل رهط من اصحابه معه فقال رسول الله ﷺ ارفعوا ایدیکم وارسل الی الیهودیة فدعاها فقال سممت هذه الشاة الخ رواه ابوداؤد والدارمی. (مشکواة المصابیح ص ۵۴۱ جلد ۲ باب فی المعجزات)

﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ: وقال الذی اشتره من مصر لا امرأته اکرمی مثواه عسی ان ینفعنا او نتخذه ولداً، وکذلک مکنا لیوسف فی الارض ولنعلمه من تأویل الاحادیث والله غالب علی امره ولکن اکثر الناس لا یعلمون. (سورة یوسف پاره ۱۲، رکوع ۱۳ آیت: ۲۱)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین الشامی: وعند الحنفیة لیست العدالة شرطا للصحة فیصح تقلید الفاسق الامامة مع الکراهة واذا قلد عدلا ثم جار وفسق ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د علماؤ خلاف چغل خوری کولو والا کس امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ځمونږ ځائې کښې یو امام صاحب دې هغه د پیپلزپارټئ یو وزیر ته خط اولیکلو چه څه ستاسو حمایت کونکې یم او دلته دوه مولوی صاحبان دی هغوی د بې نظیر بهټو خلاف تقریرونه کوی دوی ضلع بدر کړه. او حال دادې چه دې دواړو مولوی صاحبانو دا کار بالکل نه دې کړې آیا دې چغل خور مولوی صاحب پسې اقتداء کول جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رحمان معرفت عثمان ټریډنګ کمپنی بټ خیله

الجواب: صرف دخط په وجه باندې څوک مُتهَم کول دقانون نه خلاف قاعده قدم اوچتول دی﴿۱﴾، الا عند البینة اوالاعتــراف، یا کوم مولوی یاخلق چه ښکاره په ښکاره د پیپلزپارټئ او نیشنل پارټئ وغیره حمایت کونکې دی نوهغوی ته کومه سزا ورکړې شوه؟ فافهم. وهوالموفق

د سوشلسټ امام د اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د سوشلزم عقیدې ساتلو والا امام پسې د مونځ څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اقبال تاروتنګی چارسده

الجواب: چاچه سره د پوهې نه ددې نظریې امداد کړې وی نوهغه

(بقیه حاشیه) لا ینعزل ولکن یستحب العزل ان لم یستلزم فتنة......(قوله ویعزل به) ای بالفسق لو طرأ علیه والمراد انه یستحق العزل کما علمت آنفا ولذا لم یقل ینعزل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۵ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۱﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث الخ. (مشکواة المصابیح ف ۴۲۷ جلد ۲ باب ما ینهی عنه من التهاجر والتقاطع)

مسلمان گرزل یه غلط فهمي یا بدفهمي دی ﴿۱﴾ وهو الموفق

(۲) الجواب: په سو شلزم باندې ایمان اویقین ساتلو والا پسې اقتداء جائز نه ده ﴿۲﴾ وهو الموفق

وعده خلافي کوونکي والا سړي پسې د اقتداء حکم

سوال: علماني دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړی د خپل پیش امام صاحب په مسجد کښې خوړ ډهانه کوي، نه څه خیز واخستلو او زیاتي بیع ئې اوکړه او وعده ئې اوکړه چه صبانه به تاته رقم اوکړم ښي او مبیعه ئې هم ترې قبضه کړي نه ده لیکن موصوف څه خبره بل طرح کړه نو د امام کېدلو باوجود دې وعده خلاف پسې اقتداء جائز ده که نه؟

بینوا توجروا

المستفتي محمد نمازخان کهن کلان بهیگوال هزاره ۲۷،۲،۱۹۷۲

الجواب: فقهائي کرامو لیکلي دي چه وعده خلافي د مروت نه خلاف کار دي لهذا دا معامله موجب د فسق او موجب د کراهت اقتداء نه ده ﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ قال العلامة علي قاري: وكذا لو قال هذا زمان الكفر لا زمان كسب الاسلام اي كفر ان اراد انه ينبغي في هذا الزمان كسب الكفر لا كسب الاسلام، بخلاف ما اذا اراد ان هذا زمان غلبة اهل الكفر والجهل وضعف كسب الاسلام والعلم. (شرح فقه الاكبر للقاري ص ۱۸۱ فصل في الكفر صريحاً وكناية)

﴿۲﴾ قال الحصكفي: وان انكر بعض ما علم من الدين ضرورة كفر بها ... فلا يصح الاقتداء به اصلا. (الدر المختار على هامش رد المحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبيل امامة الامرد)

﴿۳﴾ قال في هامش المشكوٰة (قوله فلا اثم عليه) قيل فيه دليل على ان الوفاء بالوعد ليس بواجب شرعي بل هو من مكارم الاخلاق بعد ان كان بنية الوفاء وانما جعل الخلف في الوعد من علامات النفاق كما مر معناه الوعد على نية الخلف. لمعات.

(هامش مشكوٰة المصابيح ص ۴۱۶ جلد ۲ باب الوعد)

د شیعانو پارټۍ والو د اقتداء حکم

سوال: علماني دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه خمیني ځاني کښې شیعاني پارټۍ والا یعني حزب الله والا اقرباء لس کسان دي عقیدوي زموږ په جماعت کښې نه شریکیږي بلکه د سیوټل جماعت کوي که چرته زموږ بعضې کسان د دوی په شا د اوږي ښي نو ایا موږ د دوی اقتداء کولی شو؟ بینوا توجروا

المستفتي عزیزالحق ایس ایے سي سي جده سعودي عرب ۱۴ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: چه کله د اهل سنت والجماعت امامت متوقع دي نو د شیعه حزب الله وغیره پسې اقتداء نه کوي ﴿۱﴾ وهو الموفق

بریلویانو پسې د اقتداء حکم

سوال: علماني دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه بریلویانو پسې موږ لمونځ کول صحیح دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي مولوي محمد اسماعیل علوي

شمالي وزیرستان ۱۸ جمادی الثاني ۱۴۰۲ھ

الجواب: کوم بریلویان چه د کفر درجې ته رسیدلي دي د دوی پسې اقتداء کول باطل او د نشت برابر ده او چه کوم د کفر درجې ته نه وي رسیدلي نو د دوی پسې اقتداء مکروه تحریمي ده. ماخوذ از هندیه ورد المحتار.

کما في الهندیه ص ۸۴ جلد ۱ حاصله ان كان هوى لا يكفر به صاحبه تجوز الصلوٰة خلفه مع الكراهة والا فلا هكذا في التبيين ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويكره امامة عبد وفاسق واعمى ومبتدع اي صاحب بدعة وهي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة. (الدر المختار على هامش رد المحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۲﴾ (فتاوی عالمگیریه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث في بيان من يصلح اماما لغيره)

دچا په قسم د اعتمادنه کونکی اوهغه ته کنځلې کونکی سړی امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه يو ديندار او په شرع برابر سړی د قرآن شريف تلاوت کولو چه د جمات امام صاحب راغې اوهغه ته ئې څه اووئيل نوهغه سړی قرآن شريف بند کړو اوجواب ئې ورکړو چه ګوره ځما په لاسونو کښې کلام الله شريف دې څه قسم خورم چه نه ما داخبره کړې اونه ما داکار کړې دې.نوامام ورته جواب کښې اووې چه ته کافرئې، منافق ئې، ابليس ئې،ستاپه دې خبره هم ځما اعتماد نشته،نودې امام مذکوره څه حکم دې؟د امامت قابل دې يا نه؟د اسلام د کړښې نه بهر دې يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالمنان چميالی هزاره.....۱۳ نومر ۱۹۷۴ھ

الجواب: ددې امام د مخکنی سړی په قسم اعتماد نشته اوپه کلام الله شريف باندې باقاعده اعتماد لری لهذا داامام کافرشوې نه دې البته د کنځلو په وجه فاسق شوې دې.قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق (رواه مسلم) ﴿۱﴾ ده پسې د نيکانو خلقو اقتداء مکروه ده.کما صرح به فی امامة البحر ﴿۲﴾
وهوالصواب

د والی بال او کبډی کولو والا امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د يو امام ځوئې د نورلسو (۱۹) کالودې،د مونځ روژې پابند دې صورت اوسيرت ئې د شريعت اوسنت موافق دې.کله کله امامت هم کوی ليکن دې هلک کښې دا عيب دې چه همزولو سره والی بال اوکبډی کوی او هغوی سره د مهيانو ښکارهم کوی.

﴿۱﴾(الصحيح المسلم ص ۵۸ جلد ۱ باب قول النبی ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر)

﴿۲﴾قال العلامه ابن نجيم: فالحاصل انه يکره لهؤلاء التقدم ويکره الاقتداء بهم کراهة تنزيهية فان امکن الصلاة خلف غيرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد.
(البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

اوس بعضې شرپسند او غيرمتشرع کسان دې دريو وارو لوبو ته ناجائز او حرام وائی نو آيا ددې هلک امامت جائزدې؟ دغه شان کله کله دغه خلق ددې هلک بې عزتی او توهين هم کوی نو آيا ددې هلک بې عزتی او توهين د امام بې عزتی اوتوهين نه دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالعظيم......۱۰/۱۴/۱۹۷۴ء

الجواب: (۱) داخبره دې واضحه وی چه ښکارکول مباح دی.کما يدل عليه القرآن﴿۱﴾ والاحاديث ﴿۲﴾ وصرح به الفقهاء الکرام ﴿۳﴾ اوپه کبډی کولو کښې هم څه باک نشته کله چه د کشف عورت نه خالی وی.البته والی بال لوبه کول مکروه ده ځکه چه دا دانګريزانو ايجاد شوې لوبه ده.اوپه دې کښې چه کوم منفعت دې هغه په نوروذريعوسره هم حاصليږی،اوکشف عورت وغيره ددې دعام لوازماتو نه دی.لهذا ددې نه اجتناب ښه دې.بهرحال د اقتداء د صحت نه مانع نه دې.(۲) د هرمسلمان بې عزتی اوتوهين ناجائزدی خصوصاً چه کله حقدار وی يا دحقدار اولاد وی.

لحديث: المسلم اخو المسلم لا يظلمه ولا يخذله ولا يحقره بحسب امرأ من الشر ان يحقر اخاه المسلم، وکل المسلم علی المسلم حرام دمه وماله وعرضه رواه مسلم ﴿۴﴾. وهوالموفق

بغير اجرت نه مړو ته غسل ورکولو والا امامت

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ديو لوئې جمات پيش امام دې نيک اومتقی انسان دې ليکن داامامت سره سره دښار مړوته غسل

﴿۱﴾قال الله تعالیٰ: احل لکم صيد البحر وطعامه متعا لکم وللسيارة وحرم عليکم صيد البر ما دمتم حرما واتقوا الله الذی اليه تحشرون. (سورة المائدة پاره: ۷ آيت: ۹۶ رکوع: ۳)

﴿۲﴾(مشکواة المصابيح ص ۳۵۷ جلد ۲ کتاب الصيد والذبائح)

﴿۳﴾قال الحصکفی الصيد هو مباح...... الا لمحرم فی غير الحرم او للتلهی الخ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲۸ جلد ۵ کتاب الصيد)

﴿۴﴾ (الصحيح المسلم ص ۳۱۷ جلد ۲ باب تحريم ظلم المسلم الخ)

هم ورکوی لیکن داکار د پیشي په طور په اجرت او مزدورئ باندي نه کوی آیا دده په اقتداء کښې کراهت شته؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی نواب خان باړه مارکیټ نوشهره.....۱۹۸۷ء/۱۰/۱۱/۲

الجواب: کوم امام چه د مړو لامبول د معاش ذریعه جوړه کړی نو هغه پسې اقتداء بغیر دڅه کراهت نه جائزده، ځکه چه دې امام کښې اګرچه خلاف مُروت یو کار موجود دې لیکن قوم اکثر طور سره په فسق او فجور و کښې مبتلاوی او امام هغه دمعاش ذریعه نه جوړوی نو ده پسې به اقتداء په طریقه اولی مکروه نه وی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

نسواری امام پسې اقتداء

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم امام د نسوارو عادتی وی آیا هغه پسې اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: شاه مست دره آدم خیل ۱۹/مارچ ۱۹۷۵ء

الجواب: د تمباکو استعمال مباح دې نو د هغې استعمال د امامت سره ټکراؤ نه خوری.

کما فی ردالمحتار ص ۲۰۶ جلد ۵ فانه لم یثبت اسکاره ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشیاء الاباحة ﴿۲﴾. وهو الموفق

د حرامی امامت خلاف اولی دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم کس د بل چا په ښځې قبضه او کړی او ناجائز تعلقات ورسره اوساتی او بیا ترینه بچې پیدا

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم رحمه الله: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتدا بهم عند وجود غیرهم والافلا کراهة کما لا یخفیٰ.
(البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۳۲۶ جلد ۵ کتاب الاشربة)

شی او هغه غټ شی او امام جوړ کړې شی نو آیا ده هغه اقتداء جائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل معبود پنج پیر صوابی......۱۹۷۲ء/۱/۱۷/۹

الجواب: که دا امام دقوم په نسبت سره پوهه وو نو دده په امام جوړولو کښې هیڅ حرج نشته ګنې نو خلاف اولی دې.

فی الدر المختار ویکره تنزیهاً امامة عبد وولد الزنا هذا ان وجد غیرهم (ای من هو احق بالامامة منهم شامی) والافلا کراهة (هامش ردالمحتار ص ۵۲۵ جلد ۱) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د ضروریات دین نه د منکر امامت صحیح نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی عقیده ده چه نبی کریم ﷺ حاضر او ناظر دې، مختار کل او غیب دان دې، بشر نه دې بلکه نور دې، او اولیاء الله نفع او نقصان رسولې شی، دهغوی په نوم نذر او منختې، دهغوی نه مدد غوښتل، او دڅه حاجت د پاره ئې په مزار باندې دیګ پخول صحیح دی. آیا دا سې کس پسې مونځ کول صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفور غورغشتی کیملپور.....۱۹۷۲ء/۸/۱۷/۱

الجواب: بشرط صدق مستفتی دا سړې د ضروریات دین نه د انکار په وجه کافر دې په ده پسې اقتداء صحیح نه ده. ﴿۲﴾ وللتفصیل موضع آخر. وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار مع الدر المختار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وان انکر بعض ما علم من الدین ضرورة کفر بها کقوله ان الله تعالیٰ جسم کالاجسام وانکاره صحبة الصدیق فلا یصح الاقتدا به اصلا.
(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

....

هغه شافعی امام چه د وینې وتلو نه اودس کوی د هغه پسې د حنفی مقتدی مونځ صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم شافعی المسلک امام د وینې وتلو نه اودس نه کوی آیا دحنفی کس هغه پسې مونځ صحیح دې ځکه چه دهغوی په وینې وتلو سره اودس نه ماتیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حمید گل مهمندی فاضل حقانیه... ۱۲\۱جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: کوم شافعی المذهب امام چه د فرضو خیال ساتی مثلاً د پوزې نه وینې وتلو نه پس اودس کوی﴿۱﴾ نوهغه پسې اقتداء صحیح ده.

مافی ردالمحتار ص۵۲۷ جلد۱ والذی یمیل الیه القلب عدم کراهة الاقتداء بالمخالف مالم یکن غیر مراع فی الفرائض لان کثیراً من الصحابة والتابعین کانوا ائمة مجتهدین وهم یصلون خلف امام واحد مع تبائن مذاهبهم انتهیٰ﴿۲﴾. قلت فعلی التفحص والتجسس لا نهم تعاملوا به. وهوالموفق

د خونی بواسیرو بیمارئ والا د امامت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د خونی بواسیرو ناجوړه دې د علاج نه پس ئې وینه راتلل بندشو لیکن کله کله اوبه شان راځی خو داسې نه چه په جامو باندې اولګی، نوداسې کس امامت کولې شی که نه؟ آیا دده اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمدعمر چهوتی روډ کیملپور ۱۷\۱جمادی الثانی ۱۳۸۹ء

الجواب: چه کله د مونځ د ابتداء نه دمونځ ختمیدلو پورې څه پلیتی وینه،

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: والمعنی انه یجوز فی المراعی بلا کراهة وفی غیره معها ثم المواضع المهمة للمراعاة ان یتوضأ من الفصد والحجامة والقئی والرعاف ونحو ذلک. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۱۶ جلد۱ مطلب فی الاقتداء بشافعی......)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۱۷ جلد۱ مطلب اذا صلی الشافعی قبل الحنفی هل الافضل الصلاة مع الشافعی ام لا باب الامامة)

اوبه بهرشوې نه وی نودې سړی دپاره امامت صحیح دې (یدل علیه مافی الدرالمختار ص۲۷۲ جلد۱) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د ,,صراط،، په ځائې ,,سراط،، وئیلو او د جینئ په وادهٔ باندې د پیسو اخستووالا امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) د ,,صراط المستقیم،، په ځائې د ,,سراط المستقیم،، وئیلو والا د اقتداء څه حکم دې؟ (۲) کوم امام چه د خپلې لورپه وادهٔ باندې د خاوند دکوروالا نه پیسې اخلی دهغه د اقتداء څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله پبی ....۱۳۹۸\۲\۱۳ھ

الجواب: (۱) په دې صورت کښې اقتداء صحیح ده خومشق ورته ضروری دې﴿۲﴾ (۲) چونکه امام د قوم په نسبت سره بهتردې لهذا په ړندوکښې یو سترګې والا بادشاه کیدو په وجې سره ده پسې اقتداء صحیح ده.﴿۳﴾ وهو الموفق

د قاتل د امامت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پلار خپل ځوئې په ګولئ سره زخمی کړو په زخمی حالت کښې ځوئی بیان ورکړو چه څه خپل

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا طاهر بمعذور هذا ان قارن الوضوء الحدث او طرأ علیه بعده وصح لو توضا علی الانقطاع وصلی کذلک کاقتداء بمفتصد امن خروج الدم. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص۴۲۸ جلد۱ قبیل مطلب فی الالثغ باب الامامة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله الا ما یشق) قال فی الخانیة والخلاصة الاصل فیما اذا ذکر حرفا مکان حرف وغیر المعنی ان امکن الفصل بینهما بلا مشقة تفسد والا یمکن الا بمشقة کالظاء مع الضاد المعجمتین والصاد مع السین المهملتین والطاء مع التاء قال اکثرهم لا تفسد. (ردالمحتار ص۴۶۸ جلد۱ مطلب اذا قرأ تعالیٰ جد بدون الف لا تفسد باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن نجیم: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة. (البحر الرائق ص۳۴۹ جلد۱ باب الامامة)

خپل پلار زخمی کړی یم لیکن د قتل دعوی پرې نه کوم، خوارلس ورځې پس هلک مړشو، دهلک مور دغه ملزم پلار په عدالت کښې اوبخلو، اوس دغه سړې د جمات امام جوړشو نو آیا د قاتل امامت جائزدې؟ بینوا توجروا

المستفتی: احمد خان تحصیل بازارچارسده.....۱۹۸۴ء/۵/۲۱

الجواب: په ناجائز قتل کولو والا باقاعده امام جوړول مکروه تحریمی دی. (۱) خو که یو قوم کښې دده نسبت په ړندو کښې د یو سترګې والا وی یعنی د قوم نه پوهه دې نوخه کراهت نشته.(بحر) (۲) وهوالموفق

د پیغمبر علیه السلام حاضر ناظر، نذر لغیرالله او د عبدالقادر جیلانی د امداد ګویانه سړی امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د کوم سړی دا عقیده وی چه پیغمبر علیه السلام حاضر ناظر او عالم الغیب دې د نذر لغیرالله عقیده ساتی، او د عبدالقادر جیلانی د امداد قائل وی.او دداسې عقیدو تشهیر کوی نو آیا ده پسې اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالرحمن تجوړی لکی مروت ۱۹۷۲ء/۱۱/۲۱

الجواب: بشرط صدق مستفتی دا سړې د کفر په وجه ناقابل امامت دې. يدل عليه ما فى البزازيه من قال ارواح المشائخ حاضرة يعلم الغيب تعلم يكفر (۴) وفى شرح الفقه الاكبر ذكر الحنفية تصريحاً بالتكفير باعتقاد ان النبى صلى الله عليه وسلم يعلم

---

(۱) عن ابى هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اجتنبوا السبع الموبقات قالوا يا رسول الله وماهن قال الشرك بالله والسحر وقتل النفس التى حرم الله الابالحق...... متفق عليه. (مشكواة المصابيح ص ۱۷ جلد ۱ باب الكبائر وعلامات النفاق)

(۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: وينبغى ان يكون محل كراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم والافلا كراهة كما لا يخفى. البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

(۳) قال الحصكفى: وان انكر بعض ما علم من الدين ضرورة كفر بها...... فلا يصح الاقتداء به اصلا فليحفظ. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبيل مطلب فى امامة الامرد)

(۴) (فتاوىٰ بزازيه على هامش الهنديه ص ۳۲۶ جلد ۶ الباب الثانى فيما يتعلق بالله تعالىٰ)

الغيب لمعارضة قوله تعالىٰ قل لا يعلم من فى السموات والارض الغيب الا الله (۱) وفى الخانية تصريح بكفر من تزوج امرءة بشهادة الله ورسوله (۲). وهوالموفق

سره د پوهې نه د جوارئ د مال اخستلو والا اقتداء مکروه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ کلی کښې یو مولوی پیش امام دې دهغه رور په بمبئ کښې اوسیږی اوهغه جواری کوی، او ټول کاروبار ئې په جوارئ باندې روان دې او دا جوارګر دې مولوی صاحب ته پیسې رالیږی، اوس څمونږ په کلی کښې دا مولوی صاحب مالدار ترین سړې دې او رورئې کروړ پتی دې اودا مولوی صاحب لاکه پتی دې اوپخپله هم اقرار کوی چه د پردی مال څوکیدار یم، او د جوارئ هم اقرار کوی نو دې امام پسې د جمعې مونځ کول جائز دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حیات خان ستینو دفتر ډویژنل انسپکټر آف سکولز پشاور ۱۱۹ جمادی الثانی ۱۳۸۹ء

الجواب: د مولوی صاحب رور فاسق دې (د جوارئ په وجه) او دې مولوی صاحب دپاره سره د پوهې نه داسې مال اخستل جائزنه دی، ځکه چه دې غنی دې (۳) اوپه داسې امام پسې (چه سره د مالدارئ نه د جوارئ مال خوری

---

(۱) (شرح فقه الاكبر ص ۱۵۱ حكم تصديق الكاهن بما يخبر به من الغيب)

(۲) قال العلامه فخر الدين حسن بن منصور المعروف بقاضى خان: رجل تزوج امرأة بغير شهود فقال الرجل والمرأة خدائے راوپيغامبر مراگواه كرديم قالوا يكون كفرا لانه اعتقد ان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب وهو ماكان يعلم الغيب حين كان فى الاحياء فكيف بعدالموت. (فتاوىٰ قاضى خان موضوع على هامش الهنديه ص ۵۷۶ جلد ۳ مايكون كفرا من المسلم ومالايكون)

(۳) علامه عبدالحی لکهنوی فرمائی چه: دچا سره حرام مال دې، حلال هم ورسره دې اوهغه د حرامو په نسبت ډیر دې نو دهغه نذر قبلول او دهغه دعوت خوړل دهغه صدقه او تحفه اخستل، اود کور کرایه یا د علاج اجرت اخستل صحیح دی.

(باقی حاشیه په راروان مخ)

اقتداء مکروه ده لیکن دځان له مونځ نه افضل ده.﴿۱﴾ (منقول از فتاوی مولانا لکهنوی وغیره) وهو الموفق

د دووث امامت مکروه تحریمی دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو وادهٔ کړی سړی د ملازمت په سلسله کښې چرته بدلی اوشوه هلته ئې د یو سړی سره ملاقات اوشو او دوستانه تعلقات ئې قائم کړل، دهغې نه روستو ئې کورته راوستلو او ښځې ته ئې اوویل چه دا ددې کورسړې دې، دده نه به پرده نه کوې، هروخت راتللې شی، څه موده پس ئې ددغه سړی واده دخپل ښینې سره اوکړو لیکن د ناکامئ په بنیاد باندې ئې څه موده پس طلاق ورکړو، د طلاق نه پس هم دا سړې په کورکښې اوسیږی، اوهغه پخپله دیوټئ ته ځی، دده ښځه هم ددغې سړی تابع ده، آیا ددې بې غیرته سړی امامت صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نیو اتحاد هارډ وئیر ستور ډی آئی خان..... ۱۹۸۲ء/۱۸/۶

الجواب: بشرط صدق وثبوت دا سړې بې غیرته دې ﴿۲﴾ ده پسې اقتداء کول

﴿بقیه حاشیه﴾ په دې شرط چه دا معلومه نه وی چه کوم مال ده راکړو داعین حرام مال دې اوکه دا معلومه وی یا داچه حرام مال غالب وی نو بیا هیڅ هم صحیح نه دی. په اشباه والنظائر کښې دی.

اذا کان غالب مال المهدی حلالا فلا بأس لقبول هدیته واکل ماله مالم یتبین انه من حرام وان کان غالب ماله الحرام لا یقبلها ولا یأکل الا اذا قال انه حلال ورثه او استقرضه. (مجموعة الفتاویٰ ص ۱۹۴ جلد۲ کتاب الحظر والاباحة)

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: فان امکن الصلوٰة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۳ جلد ۱ قبیل مطلب امامة الامرد)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: (قوله دیوث) هو من لا یغار علی امرأته او محرمه (یا قرطبان) مرادف دیوث، قال ابن عابدین: هو الذی یری مع امرأته او محرمه رجلا فیدعه خالیا بها وقیل هو المتسبب للجمع بین اثنین لمعنی غیر ممدوح وقیل هو الذی یبعث امرأته مع غلام بالغ او مع مزارعه الی الضیعة او یأذن لهما بالدخول علیها فی غیبته. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۰۲ جلد۳ قبیل مطلب فیما لو شتم رجلاً بالفاظ متعددة باب التعزیر)

مکروه تحریمی ده خو په عوامو کښې د امام په نسبت سره زیات فسقونه موجود وی لهذا د عوامو اقتداء دې امام پسې مکروه نه ده. کما یشیر الیه کلام البحر فی الامامة ﴿۱﴾.

نوټ: پردې، لیور، او د نورو محرموکسانو حکم یوشان دې او د بې غیرتوب نه ډیرکم خلق محفوظ دی. وهو الموفق

د چرس څکلو والا امام اقتداء مکروه تحریمی ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې باقاعده طریقې سره په ورځ کښې دوه ځلې چرس څکی. کله کله د هیروئن کش هم راکاړی، په داسې امام پسې اقتداء صحیح ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورالحق صاحب باړه بازار خیبرایجنسی...۱۹۸۸/۱۱/۵

الجواب: چرس او هیروئن څکل مکروه تحریمی دی. لحدیث کل مسکر حرام﴿۲﴾ و فی شرح التنویر ص ۴۰۴ ج۵ یحرم اکل البنج والحشیشة هی ورق العنب والافیون﴿۳﴾ انتهی قلت والشرب فی حکم الاکل، پس په داسې امام پسې اقتداء کول مکروه تحریمی دی. وهو فی حکم الفاسق کما فی شرح الکبیر﴿۴﴾ البته واجب الاعاده نه دې، وهو حکم الاقتداء بکل فاسق کما صرحوا به﴿۵﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة کما لا یخفیٰ. (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ عن بریدة ان رسول الله ﷺ قال نهیتکم عن الظروف فان ظرفا لا یحل شیئا ولا یحرمه وکل مسکر حرام...... رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ص ۳۷۲ جلد۲ باب النقیع والانبذة)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲۵ جلد۵ کتاب الاشربة)

﴿۴﴾ فی فتاویٰ الحجة وفیه اشارة الی انهم قدموا فاسقا یأثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (الشرح الکبیر ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۵﴾ قال العلامه ابن عابدین: فان امکن الصلوٰة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد وفی الدرالمختار هذاان وجد غیرهم والا فلا کراهة بحر بحثا وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۳، ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

د بد اخلاق او غيبت كولو والا امام اقتداء

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه د بد اخلاق او غيبت كولو امام په اقتداء كښې مونځ كول جائز دى يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: محمد فاضل فاروقى واه كينټ.... ۱۳۰ ذى قعده ۱۴۰۴ھ

الجواب: په داسې امام پسې د نيكانو خلقو مونځ مكروه دې.《۱》كښې نو په رندو كښې يو سترګې والا بادشاه وى. (بحر الرائق)《۲》وهو الموفق

د "سلس البول" د مريض اقتداء باطل ده

سوال: (۱) د سلس البول تعريف څه دې؟ (۲) كه په يو كلى كښې مستند عالم موجود وى او په دې كلى كښې بل څوک عالم نه وى او دغه اولنې عالم په سلسل البول بيمارئ كښې اخته دې نو آيا په دې سلسل البول مريض عالم پسې اقتداء صحيح ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: محمد ابراهيم ضميئه تيمرګره ملاكنډ ډويژن...۱۲۵ شوال ۱۳۸۹ھ

《۱》قال العلامه شرنبلالى: وروى محمد عن ابى حنيفة وابى يوسف ان الصلاة خلف اهل الاهواء لا تجوز والصحيح انها تجوز على الحكم الذى ذكرنا مع الكراهة خلف من لا تكفره بدعته لقوله ﷺ صلوا خلف كل بر وفاجر، وصلوا على كل بر وفاجر وجاهدوا مع كل بر وفاجر رواه الدار قطنى كما فى البرهان واذا صلى خلف فاسق او مبتدع يكون محرزا ثواب الجماعة لكن لا ينال ثواب من يصلى خلف تقى، قال ﷺ من صلى خلف عالم تقى فكانما صلى خلف نبى كذا فى مجمع الروايات والحديث الضعيف يعمل به فى فضائل الاعمال. (امداد الفتاح شرح نور الايضاح ص ۳۴۴ بيان من تكره امامتهم)

《۲》قال ابن نجيم: وينبغى ان يكون محل كراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم والا فلا كراهة كما لا يخفى. (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: (۱) دا لفظ سلس البول دې "سلسل البول" غلط دې او د سلس البول تعريف دادې (من به سلسل البول هو من لا يقدر على امساكه) يعنى هغه مرض چه په هغې كښې بې اختياره متيازې اوځى. هدايه مع العينى ص۵ ج۱《۱》، (۲) كه دا عالم معذور نه وى يعنى دومره وقفه موندلې شى چه په هغې كښې اودس اوكړى او مونځ اوكړى نو دده اقتداء صحيح ده. 《۲》. او كه دومره وقفه هم نه مومى نو بيا ورپسې اقتداء باطل ده.《۳》 (معتبرات الفقه). وهو الموفق

د استاذ نه د "عاق" امامت او مونځ

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه كوم سړې دخپل استاذ او پيش امام چه د پلار نيكه راسې پرله پسې د علم دين تعليم وركوى دې سړى هم مونځ او قرآن شريف ددې استاذ نه زده كړې دې، او استاذ د امامت پوره حقوق اداكوى، او د علم دين نه باخبره هم دې. نو بغير دڅه شرعى قصورنه استاذ ته كنځل كول، ناجائز بكواس كول، په سپک نظر سره كتل، او دهغه خلاف پروپيګنډه كول وغيره، نو عند الشرع ددې سړى څه حكم دې؟ استاذ دې عاق كړې دې، آيا دده مونځ وغيره عبادتونه قبول دى يانه؟ دده دامامت كولو څۀ حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى: نامعلوم ....

《۱》قال العلامه اكمل الدين البابرتى: ومن به سلس البول وهو من لا يقدر على امساكه. (عنايه على هامش فتح القدير ص ۱۵۹ جلد ۱ فصل فى الاستحاضة)

《۲》وفى الهنديه: او مما يتصل بذلک احكام المعذور شرط ثبوت العذر ابتداء ان يستوعب استمراره وقت الصلوٰة كاملا وهو الاظهر الخ. (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۴۰ جلد ۱)

《۳》وفى الهنديه: ولا يصلى الطاهر خلف من به سلس البول ولا الطاهرات خلف المستحاضة وهذا اذا قارن الوضوء الحدث او طرأ عليه هكذا فى الذاهدى. (فتاوىٰ عالمگيريه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث فى بيان من يصلح اماما لغيره)

الجواب: بعضې فتاوې مثلاً د فتاوی نورالهدی په صفحه ۳۸۲ کښې لیکلې شوې دی چه د استاذ نه دعاق امامت او عبادت نامنظوره دې او د دنیا نه به بې ایمانه ځی.

حیث قال وینبغی للمتعلم ان یعظم استاذه لان فی تعظیمه برکة ومن لم یعظم او شتم فهو عاق ولا تقبل صلوته ولا امامته ویعزر ویشهر وعلیه الفتویٰ فی زماننا ثم قال بعد احرف وتسقط عدالته ولا یعتبر قوله ولا یعمل بفتواه لو کان مفتیا (وقال ایضا) لا یحل ذبیحة العاق ولا امامته لانه یصیر مرتداً فی الحال ومثواه فی النار، انتهیٰ

لیکن دا احکامات نه دځه دلیل شرعی نه ثابت دی او نه چرته د معتبر کتاب نه منقول دی، لهذا داسې احکامات (علی تقدیر الثبوت) په سد باب او تعزیر باندې محمول کولې شی. او حقیقت دادې چه عاق فاسق دې، په هغه پسې اقتداء مکروه ده. ﴿۱﴾ واجب التعزیر دې او په عاق باندې ضروری ده چه استاذ راضی کړی او د الله تعالی نه دې هم معافی اوغواړی.

والدلیل علی التعزیر مافی الدرالمختار وللشاب العالم ان یتقدم الشیخ الجاهل وقال الرملی فالمتقدم ارتکب معصیة فیعزر (ردالمحتار ص ۴۹۸ جلد ۵) ﴿۲﴾

خلاصه داده چه بشرط صدق وثبوت دا سړې فاسق او واجب التعزیر دې. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لا مردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فانه لا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا قال ولذا لم تجز الصلاة خلفه اصلا عند مالک وروایة عن احمد فلذا حاول الشارح فی عبارة المصنف وحمل الاستثناء علی غیر الفاسق والله اعلم

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله وللشاب العالم ان یتقدم) لانه افضل منه ولهذا یقدم فی الصلاة وهی احد ارکان الاسلام وهی تالیة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د اسقاط اخستونکی مالدار امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو پیش امام آمدنی د فصلونو د عُشر نه علاوه د امامت تنخواه هم ده، او سالانه آمدنی ئې د ګذارې نه زیاته شی او غله دانې خرخوی هم. دغه شان ټیلر ماسټر هم دې. آیا داسې امام د پاره د حیلهٔ اسقاط په دائره کښې کیناستل جائز دی؟ که نه وی نو آیا ده پسې مونځ کول ښه دی او که ځان له ښه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شفیع سورجال راولپنډی.... ۱۹۲۹ء ۱۷۱۳۱

الجواب: که امام غَنی وی نو هغه د پاره په دائره اسقاط کښې کیناستل جائز نه دی ﴿۱﴾ او د حیلې نه پس ورته اسقاط اخستل جائز دی. او که سره د مالدارئ نه فدیه اخلی، او په دائرهٔ اسقاط کښې کینی نو په هغه پسې اقتداء مکروه تحریمی ده لیکن اقتداء د انفراد نه ډیره افضل ده. ﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الایمان زیلعی وصرح الرملی فی فتاواه بحرمة تقدم الجاهل علی العالم حیث اشعر نزول درجته عند العامة لمخالفة لقوله تعالیٰ یرفع الله الذین آمنوا منکم والذین اوتو العلم درجات الی ان قال وهذا مجمع علیه فالمتقدم ارتکب معصیة فیعزر.

(ردالمحتار ص ۵۳۳ جلد ۵ مسائل شتیٰ قبیل کتاب الفرائض)

﴿۱﴾ قال العلامه مرغینانی: ولا تدفع الیٰ غنی لقوله ﷺ لا یحل الصدقة لغنی وهو باطلاقه حجة علی الشافعی رحمه الله فی غنی الغزاة وکذا حدیث معاذ رضی الله عنه علی ما روینا، قال العلامه ابن الهمام: اخرج ابوداؤد والترمذی عن ابن عمر عنه علیه السلام لا تحل الصدقة لغنی ولا لذی مرة سوی حسنه الترمذی.

(هدایه مع فتح القدیر ص ۲۰۸ جلد ۲ باب من یجوز دفع الصدقة الیه ومن لا یجوز)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة قال ابن عابدین افاد ان الصلاة خلفهما اولیٰ من الانفراد.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ باب الامامة)

د مودودی جماعت والو د اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مودودی د جماعت سره تعلق ساتلو والا د اقتداء څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: روح الامین ایم ایس سی نفسیات پشاور یونیورسټی ۳۰ ذی الحجه ۱۴۰۲ھ

الجواب: ددې جماعت دکوم کس چه هغه عقیده وی کومه چه د مودودی صاحب عقیده وه ﴿۱﴾ نو داسې کسانو پسې اقتداء مکروه ده ﴿۲﴾ وهو الموفق

په ګیره خرئیلی پسې د ګیرې والا مونځ

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددین ددې مسئلې باره کښې چه ګیره خرئیلی دپاره مونځ ورکول جائزدی یا نه؟ اوهغه پسې دیو بې علمه ګیرې والا مونځ کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټرخالدحسین انچارج سکاؤټ هسپتال شمالی وزیرستان ۱۴ اربیع الثانی ۱۳۹۲ھ

الجواب: فاسق پسې اقتداء کول مکروه ده ﴿۳﴾ یعنی په موجودګۍ د صالحانو

﴿۱﴾ علامه مفتی کفایت الله صاحب فرمائی: د مودودی جماعت افسر مولوی ابوالاعلی څه پیژنم هغه چرته د معتبر اومعتمد علیه عالم شاګرد اوفیض یافته نه دې، اګرچه دهغه نظر دخپلې مطالعې د وسعت په لحاظ سره ډیر لوئې دې، لیکن دینی رجحان ئې ضعیف او کمزوری دې، او اجتهادی شان ئې ښکاره دې. هم ددې وجې نه دهغه په مضمونونو کښې په لوئې لوئې علماء کرامو بلکه په صحابه کرامو باندې اعتراضونه دی. نو په دې وجه مسلمانانو له ددې تحریک نه ځانته کیدل پکاردی، او ددوی سره میل جول او تعلق او اتحاد ساتل نه دی پکار.....الخ. (کفایت المفتی ص۳۲۹ ج۱ فصل پنجم فرقه مودودی)

﴿۲﴾ وفی شرح التنویر: ویکره امامة عبد ......وفاسق...... ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام)

﴿۳﴾ وفی الهندیه: وتجوز امامة الاعرابی والاعمی والعبد وولد الزنا والفاسق الا انها تکره هکذا فی المتون. (فتاوی عالمگیریه ص ۸۵ جلد ۱ الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماما لغیره)

کښې، لیکن د انفراد نه دا اقتداء بهتره ده. ﴿۱﴾ . وهوالموفق

د ضروریات دین نه دَ منکراوبدعتی سړی اقتداء!

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په غورغشتر کښې دَمذهبی او دینی جماعتونو واړه واړه شاخونه موجود دی. مثلاً مفتی ګروپ، هزاروی ګروپ، نورانی ګروپ، مودودی جماعت، تبلیغی جماعت، توحیدی جماعت وغیره وغیره، په دې جماعتونو کښې ډیر کرته داسې واقعه مخې ته راشی چه یوبل پسې مونځ نه کوی آیا په دوی کښې څه داسې جماعت شته چه هغوی پسې زمونږ مونځ نه کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عزیزالبشرغورغشتی اټک ۱۵جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: دَدې جماعتونوهغه افراد چه دَضروریات دین نه منکردی هغوی پسې اقتداکول صحیح نه دی، اګرکه هغه تاویل کونکی وی. ﴿۲﴾ اوچه کوم کسان دَڅه استحسان په وجه په بدعات سیئه کښې ملوث وی نودَهغوی پسې اقتداء کول مکروی دی البته دَانفرادنه اقتداء افضل ده. ﴿۳﴾ (ماخوذ ازشامی، بحر، هندیه) وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، قال ابن عابدین: افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد.
(الدرالمختار مع هامش ردلمحتار ص۴۱۵ جلد ۱ باب الامامة قبیل مطلب فی امامة الامرد)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: وان انکر بعض ما علم من الدین ضرورة کفربها کقوله ان الله تعالیٰ جسم کالاجسام وانکاره صحبة الصدیق فلا یصح الاقتداء به اصلا.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی امامة الامرد)

﴿۳﴾ قال ابن نجیم رحمه الله: فان قلت فما الافضلیة ان یصلی خلف هؤلاء او الانفراد قیل اما فی حق الفاسق فالصلاة خلفه اولی لما ذکر فی الفتاویٰ قدمناه واما الآخرون فیمکن ان یکون الانفراد اولی لجهلهم بشروط الصلاة ویمکن ان یکون علی قیاس الصلاة خلف الفاسق والافضل ان یصلی خلف غیرهم فالحاصل انه یکره لهؤلاء التقدم ویکره الاقتداء بهم کراهة تنزیهیة فان امکن الصلاة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولی من الانفراد. (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة

دَ بدعتی دَ اقتداء حکم!

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آيادَبدعتی امامت جائزدي يانه؟ بينوا توجروا.

المستفتی: صوفی لعل خان.........۱۹۷۰ء/۵/۲

الجواب: که بدعتی کافروی لکه مرزائی اواکثرشيعه گان نوهغوی پسې اقتداء باطل اوکالعدم ده اوکه کافرنه وی نومکروه تحريمی ده(۱) وهوالموفق

دَ مودوديت اعتراف او پرچار نه کولو والا امامت ممنوع نه دي

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يوسړې په ظاهره دَ مونځ پابند اوپرهيزگار دې اوزمونږه پيش امام دې،ليکن په هغه کښې دوه غلطئ دی،يوداچه دَمودودی دَتفسيراولنې جلدورسره موجوددې،او دويم داچه دَمودودی د رسالو وغيره مطالعه کوی،نوپه دې وجه ورپسې مونږه مونځ کول پريخې دې،امام وائی چه مونځ کوئ ځکه چه دَمودودی عقيده خرابه نه ده، دغه شان ما مودودی ليدلې هم نه دې اونه دَهغه شاگرديم مونږ پښتنو ځانته بيل جماعت شروع کړې دې،تفصيلی جواب راؤليږئ ډيره مهربانی به وی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حاجی عزيزالرحمن(دوبئ)......۱۹۷۲ء/۱۰/۱۳

الجواب: چونکه دا امام نه دَمودوديت اعتراف کوی اونه ئې پرچارکوی بلکه

(۱) وفی الهنديه: تجوز الصلاة خلف صاحب هوی وبدعة ولا تجوز خلف الرافضی والجهمی والقدری والمشبهة ومن يقول بخلق القرآن و حاصله ان كان هوی لايكفربه صاحبه تجوز الصلاة خلفه مع الكراهة والا فلا هكذا فی التبيين والخلاصه.
(فتاویٰ عالمگيريه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث فی بيان من يصلح اماما لغيره)

بيزاری ښکاره کوی،لهذا ده پسې اقتداء ممنوع نه ده،البته دده دَوينانه بيدار اوسيدل ضروری دی.وهوالموفق.

دَ ګُډ اقتداء مکروه تنزيهی ده.

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دګډ دَاقتداء څه حکم دي هغه پسې مونځ کيږی يانه؟ اوآياهغه دَامامت نه لرې کولې شی يانه؟ بينوا توجروا.

المستفتی: محمددانش منډی بالاپشاور.......۱۹۷۸ء/۱۱/۱

الجواب: ګډ پسې اقتداء مکروه تنزيهی ده کمافی الهنديه ص۸۹ جلد۱ ولوكان لقدم الامام عوج وقام على بعضها يجوزوغيره اولی.(۱) نودَي عيب په وجه دَهغه لرې کول يوبې قانونه کاردې البته دَهغه دپاره پخپله مستعفی کيدل بهتردی.وهوالموفق

دَ سود خور امام اقتداء مکروه تحريمی ده.

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ديوجمات امام مشهور سودخوردې اويوځائې کښې نه مختلفوځايونو کښې ښکاره په ښکاره سودکوی دَداسې امام اقتداء ياپه جمات کښې دده امام جوړول څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتی: حجاب شاه مياں خان مردان.......۱۹۷۲ء/۲/۲

الجواب: مکروه تحريمی دی.(۲) وهوالموفق.

دَ کوم امام نسب چه معلوم نه وی دَهغه دَاقتداء حکم.

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی،بعضې خلق وائی چه دَ

(۱) (فتاویٰ عالمگيريه ص ۸۵ جلد ۱ الفصل الثالث فی بيان من يصلح اماما لغيره)
(۲) قال العلامة الحصكفی رحمه الله: وكذا تكره خلف امرد...... وشارب الخمر وآكل الربا. (الدرمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد)

کوم امام نسب معلوم نه وی هغه پسې اقتداء صحیح نه ده. آیا دا صحیح خبره ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: بادشاه گل ډهیری شبقدر چارسده......۱۰۲۹ ،۱۴/۱/

الجواب: په اسلام کښې علم او تقوی لوئې څیز دي﴿۱﴾ نسب صرف په انتظامی کارونو کښې معتبر دي، په دې وجه دا مسئله بالکل صحیح نه ده.﴿۲﴾ وهو الموفق

په یوې خپې سره دمعذور کس امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که امام چه دسجدې او قعدې (التحیات) په حالت کښې یوه خپه په سنت طریقه نشی کینبولې، او په دغه کلی کښې صحیح وجود والا سړی هم موجود دی. دهغوی په موجودګئ کښې ددې که امامت صحیح دې یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی حاجی ایوب گلگت......۸/ربیع الاول ۱۴۰۱هـ

﴿۱﴾ قال العلامه عماد الدین ابن کثیر: (وقوله تعالیٰ: ان اکرمکم عند الله اتقاکم) ای انما تتفاضلون عند الله تعالیٰ بالتقویٰ لا بالاحساب وقد وردت الاحادیث بذلک عن رسول الله ﷺ قال البخاری: ...... عن ابی هریرة قال: سئل رسول الله ﷺ ای الناس اکرم؟ قال: اکرمهم عند الله اتقاهم قالوا: لیس عن هذا نسألک قال: فاکرم الناس یوسف نبی الله، ابن نبی الله، ابن نبی الله ابن خلیل الله، قالوا: لیس عن هذا نسئلک قال: فعن معادن العرب تسألونی؟ قالوا: نعم قال، فخیارکم فی الجاهلیة خیارکم فی الاسلام اذا فقهوا.

(تفسیر ابن کثیر ص ۲۷۵ جلد۴ سورة الحجرات آیت:۱۳)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلاة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۱۲ جلد ۱ باب الامامة)

وقال العلامه طاهر بن عبد الرشید: وفی الاصل لا یجوز للسید الجاهل ان یتقدم علی الفقیه لان شرف العلم فوق النسب.

(خلاصة الفتاویٰ ص ۳۲۳ جلد۴ کتاب الکراهیة جنس آخر)

الجواب: که دا ګډ اعلم القوم نه وی نو ده پسې اقتداء افضل نه ده کمافی ردالمحتار ص ۵۲۵ جلد ۱ و کذلک اعرج یقوم ببعض قدمه﴿۱﴾ البته ددې عیب په وجه باندې واجب العزل نه دې. وهو الموفق

والدین سره د ګستاخی کونکی کس امامت مکروه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید دیوې محلې امام دې دمور پلار ګستاخی کوی. آیا دده امامت صحیح دې؟ خلقو ته دده تبلیغ او تعلیم ورکول څه حکم لری؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم..........۵/جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: که دزید مور پلار په حقه وی نو دعقوق (نافرمانئ) په وجه زید پسې اقتداء (دنیکو خلقو په موجودګئ کښې) مکروه تحریمی ده.

لان العقوق من الکبائر کما فی حدیث متفق علیه﴿۲﴾ والاقتداء خلف الفاسق مکروه تحریماً کما صرح به فی شرح الکبیر ص ۴۷۹ باب الامامة﴿۳﴾ واما التقید المذکور فلما فی البحر ص ۳۴۹ جلد ۱ وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا کراهة﴿۴﴾

﴿۱﴾ قال العلامه الشامی: وکذلک اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولیٰ تاتارخانیة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار قبیل مطلب فی الاقتداء بشافعی الخ باب الامامة ص ۴۱۶ جلد ۱)

﴿۲﴾ عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس متفق علیه.

(مشکواة المصابیح ص ۱۷ جلد ۱ باب الکبائر وعلامات النفاق)

﴿۳﴾ قال الحلبی: کذا فی فتاویٰ الحجة وفیه اشارة الی انهم قدموا فاسقا یاثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (الشرح الکبیر ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۴﴾ (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

لیکن دَ کراهت باوجود دَځانله مونځ نه اقتداء بهتر ده.﴿۱﴾ :صرح به فی امامة البحر والفتح والهندیه وردالمختار. اودَداسې کس دپاره په تعلیم ورکولو اوتبلیغ کولو کښې هیڅ ګناه نشته. لان المنکر فی قوله تعالی اتامرون الناس بالبروتنسون انفسکم هو المعطوف.﴿۲﴾ :فقط. وهوالموفق.

دَ امورشرعیه پابندی نه کونکی اود دروغ ویونکی کس امامت!

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په امام کښې لاندینۍ کمزورۍ دی.(۱).په رمضان کښې ئې صرف درې روژې اونیولې. (۲) دَمتیازونه روستو اودس نه اوچوی.(۳).دَمونځ هیڅ پابندی نه کوی. (۴).بغیر دَ عذر نه هم کله کله مونځ نه کوی.(۵) قرآن مجید کله دَیوځائې نه کله دَبل ځائې نه وائی.﴿۶﴾ .دَدروغو نه ځان نه ساتی. آیا داسې کس پسې اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.........۱۹۷۴ء/۲۱/۱۱.

الجواب: بشرط صدق وثبوت داسې کس پسې دَنیکانو خلقو اقتداء مکروه ده. یدل علیه مافی البحرص۳۴۹جلد۱وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم الفاسق والعبدوغیره عندوجودغیرهم والافلا کراهة.﴿۳﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: فالحاصل انه یکره لهؤلاء التقدم ویکره الاقتداء بهم کراهة تنزیهیة فان امکن الصلاة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولیٰ من الانفراد.

(البحر الرائق ص۳۴۹ جلد۱ باب الامامة)

﴿۲﴾ علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی اودایت نه مقصود دادې چه واعظ ته پخپل وعظ باندې ضرورعمل کول پکاردی دامطلب نه دې چه فاسق دې چاته نصیحت نه کوی.(تفسیرعثمانی پاره: اول سورة البقره آیت: ۴۴ رکوع ۵)

﴿۳﴾ (البحرالرائق ص۳۴۹ جلد۱ باب الامامة)

دَ خپل استاد عالم دین بې عزتی اوتوهین کونکی کس امامت!

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوسړې دَخپل استاد چه عالم دین هم دې، دَدنیاوی لالچ په وجه بې عزتی اوتوهین کوی، آیا داسړې دَدې فقهی جزئیه لاندې داخل نه دې؟ چه من اهان عالما بغیرسبب خیف علیه الکفر، او په دې سلسله کښې داشاګرد عاق دې اوکه نه؟ اودَده امامت به جائز وی یانه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حافظ هدایت الرحمن مانکی صوابی ۱۲/محرم الحرام ۱۴۰۳ھ

الجواب: دَعالم سره دَعلم دین په وجه عداوت کول دَ کفرباعث دې، دَذاتیاتو په وجه سره عداوت کفرنه دې.﴿۱﴾ :البته دَسباب المسلم فسوق﴿۲﴾:په بناباندې دا سړې فاسق دې، اوداسې کس پسې اقتداء مکروه تحریمی ده.﴿۳﴾ .چه کله په قوم کښې دَدې سړې نه نیک خلق موجود وی، دَعاق هم داحکم دې.

(ماخوذ از شرح فقه الاکبروبحرالرائق). وهوالموفق.

﴿۱﴾ قاله الملا علی قاری: من ابغض عالما من غیر سبب ظاهر خیف علیه الکفر قلت الظاهر انه یکفر لانه اذا ابغض العالم من غیرسبب دنیوی او اخروی فیکون بغضه لعلم الشریعة ولا شک فی کفر من انکره فضلاً عمن ابغضه.

(شرح فقه الاکبرلملا علی قاری ص۱۷۳ فصل فی العلم والعلماء)

﴿۲﴾ عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر.

(الصحیح المسلم ص۵۸ جلد۱ کتاب الایمان)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویکره امامة عبد وفاسق واعمی، قال ابن عابدین: (قوله ای غیر الفاسق) واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ولا یخفیٰ انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فانه لا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص۴۱۴ جلد۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

دَ پردو خلقو کور ته بغیر پردې نه دَ تللو راتللو والا کس امامت.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو سړې بالکل پردې اودَعلاقه غیراوسیدونکې وی اودلته ئې څوک رشته دار نه وی اونه ئې څوک پیژني. اوداسړې یوداسې کورته بې پردې ځی راځی چه په هغې کښې ډیرې پیغلې جینکۍ وی اوځه واده کړې شوې اوځه کونډې وی چه په دغه کور کښې اوسیږی یعنی ټولې غیرمحرم وی اودې په دغه کورکښې خوری څکی هم. په شریعت کښې دَداسې سړی دَامامت څه حکم دې. جائز دې یا ناجائز؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عطاء الله جان مانکی صوابی...... ۲۳/۱۲/۱۹۷۱ء

الجواب: چونکه عوام هم په دې خراب کارکښې اخته دی لهذا ددې امام پسې دَعوامو اقتداء مکروه نه ده که په مقتدیانو کښې غیرفاسق موجود وی نوبیا به ده پسې اقتداء مکروه وی. یدل علیه مافی البحرص ۳۴۹ جلد ۱ وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عندوجودغیرهم والافلاکراهة لمالایخفی(۱). وهوالموفق

زنا کار امام جوړول مکروه تحریمی دی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَزناکارامام جوړول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: هیډ ماسټرپرائمری سکول...... ۱۶/۱/۱۹۷۲ء

الجواب: زناکارپسې مونځ کول یاهغه باقاعده امام جوړول مکروه تحریمی دی(۲)

(۱) (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

(۲) قال العلامه محمد امین ابن عابدین: (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المرادبه من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی وآکل الرباء ونحو ذلک. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۱۴ جلد ۱ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام)

کمافی شرح الکبیر کراهة تقدیمه کراهة تحریم ص۴۷۹(۱) لیکن ځانله مونځ نه فاسق پسې اقتداء کول افضل دی.

کما فی شرح التنویر صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، وفی ردالمحتار ص ۵۲۵ جلد ۱ افاد ان الصلاة خلفهما اولیٰ من الانفراد لاکن لا ینال کما ینال خلف تقی وورع(۲). وهو الموفق

دَ پلار او استاذ اهانت کونکی امامت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید، عمراوبکردرې رونړه دی، په دوی کښې زیدمستند عالم دین دې او واده شوې هم دې او بکر اوعمرپه کورکښې نه وی بلکه دکاروبارپه سلسله کښې په سفربانديې وی، بکر اوعمردَزیدسره دافیصله کړې وه چه دَمورپلار خرچه به په شریکه ادا کوو. لیکن دَزید اخلاق دَمورپلارسره ډیردَسپکاوی ده اوزیددَخپل پلار شاګردهم دې. زیدضعیف عمروالا مورپلار دکورنه اوویستل ګوزارونه ئې ورته ورکړل اودَچائې پیاله ئې هم پرې په زور سره واړوله. زیدمورپلار ته په کورکښې عزت سره روټۍ هم نه ورکوی، خپل پلار په هره خبره باندې زوری. اوبدې ردې ورته وائی. نوسوال دادې چه دَداسې سړی دَاقتداء څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولاناغلام حیدرلنډا احمدخیل بنوں...... ۱۲/صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: بشرط صدق مستفتي زیدعاق اوفاجردې. ده پسې اقتداء مکروه تحریمی ده. لحدیث الکبائرومنها عقوق الوالدین(۳). وفی منحة الخالق

(۱) (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

(۲) (ردالمحتار مع الدر المختار ص ۴۱۵ جلد ۱ قبیل مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)

(۳) عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس متفق علیه. (مشکواة المصابیح ص ۱۷ جلد ۱ باب الکبائر وعلامات النفاق الفصل الاول)

قال الرملی ذکرالحلبی ان تقدیم الفاسق والمبتدع کراهة التحریم(هامش البحر ص۳۴۹جلد۱).﴿۱﴾

نوټ: که قوم دَده نه هم خراب وی نواقتداء مکروه نه ده،(بحر)﴿۲﴾ .وهو الموفق

مشرک پسې اقتداء باطل ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مشرک پسې دَ اقتداء څه حکم دې.جائز ده که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی:احمد خان راولپنډی.......۱۹۸۳ء/۱۲/۱۹

الجواب: مشرک پسې اقتداء باطل ده که دَهرمکتبِ فکرسره تعلق ساتی.﴿۳﴾ وهوالموفق

دَ بینک دَ ملازم دَامامت حکم.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید دَیوزمینداره بینک سیکرټری دې چه دا بینک دَ کواپریټوبینک یو شاخ دې،دابینک لس فیصده یازیات په سالانه شرح سره قرضه ورکوی دَاصل رقم نه علاوه چه کوم زیاتی رقم شرح جوړېږی بینک دَزید دپاره تنخواه دَدغې شرح دَرقم نه مقرر کړې.اودَبینک داټول کاروبار زید کوی.اوس دلته زید دجماعت امام مقرر کولې شی خوبعضې کسان دَزید امامت اواقتداء صحیح نه ګڼړی.دَشریعت

﴿۱﴾(منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۲﴾قال العلامه ابن نجیم: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والافلا کراهة لما لا یخفیٰ.
(البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۳﴾وفی الهندیه: ولا تجوز خلف الرافضی والجهمی والقدری والمشبهة ومن یقول بخلق القرآن وحاصله ان کان هوی لا یکفر به صاحبه تجوز الصلوٰة خلفه مع الکراهة والا فلا.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۸۴ جلد ۱ الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماما لغیره)

رنړا کښې دده دَ امامت څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمداکرم قریشی واه کینټ.........شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: زید دَتعاون فی المعصیت په وجه باندې دَامامت لائق نه دې،چرته یو نیک سړې دې امام جوړ کړې شی،قال الله تعالی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان﴿۱﴾ وایضالعن رسول الله ﷺ کاتب الربوافتکون ذنبا کثیرة﴿۲﴾ واضحه دې وی چه ربوا، سود او منافع یوشیزدې په صحیح احادیثوسره ثابت دی چه په قرضې باندې منافع اخستل سود او حرام دی.﴿۳﴾.وهوالموفق

دَ بادی بواسیرو والا امامت.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوامام دَبادی بواسیرو مریض دې دَهغه دَاقتداء څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی:میاں محمدیاسین فضل آبادملاکنډایجنسی

الجواب: که دا امام شرعی معذورنه وی نوامامت کولې شی(شامی)﴿۴﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾(سورة مائده پاره: ۶ آیت:۲ رکوع ۱)

﴿۲﴾عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم. (مشکوٰة المصابیح ص ۲۴۴ جلد ۱ باب الربوا الفصل الاول)

﴿۳﴾وعن علی قال: قال رسول الله ﷺ کل قرض جر منفعة فهو ربا، رواه الحارث بن ابی اسامة واسناده ساقط وله شاهد ضعیف عن فضالة بن عبید عند البیهقی وآخر موقوف عن عبدالله بن سلام عند البخاری. (بلوغ المرام للعسقلانی ص ۲۸۲ رقم حدیث: ۸۱۲ قبیل باب التفلیس والحجر)
وقال الشیخ اشرف علی التهانوی: اخرجه البیهقی فی المعرفة عن فضالة بن عبید موقوفا بلفظ کل قرض جر منفعة فهو وجه من وجوه الربا ورواه فی السنن الکبریٰ عن ابن مسعود وابی ابن کعب وعبدالله بن سلام وابن عباس موقوفا علیهم.
(امداد الفتاویٰ ص ۲۱۵ جلد۳ رساله کشف الدجیٰ عن وجه الربوا)

﴿۴﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا طاهر بمعذور هذا...... (بقیه حاشیه په بل مخ)

د کنځلو والا او ځلو ښکاوي کونکي کس امامت

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښې څه فرمائي چه دَجمات يو امام چه دقوم سره دمخالفت کيدلو په وجه جمات او امامت ته کنځل او کړل، داجاهل امام دي دَعلماؤتوهين هم کوی. قرأت هم غلط کوی، دَداسي کس دَامامت څه حکم دي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: مولوی عبدالاکبرمسجد خانان.

الجواب: که دا الزام مسلم يا مبرهن وی نو دي امام پسي اقتداء مکروه ده. ﴿۱﴾ البته دَانفرادنه اقتداء افضل ده. (شامی بحر، هنديه). وهوالموفق.

ښځه دَخرڅي نه محرومه کونکي په کوژدن کښې دول وهونکي او دَغيرمحرم د مونکي کس امامت

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښې څه فرمائي چه يو کس په آخری عمر کښې دويم واده اوکړی. او اولنئ ښځه دَشرعی حقوقو او خرڅي وغيره نه محرومه کړی، اوبچی هم محروم کړی، په دويم واده کښې په کوژدن کښې ډمان رااوغواړی او ډولونه اووهی، اوپردي ښځي ګډوی، اوسندرې پکښې اووئيلې شوې، دغه شان غيرمحرم ښځې په ښکاره مخ دموی وغيره وغيره. آيا دَده امامت جائز دي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: فقيراحمدشاه ډيره اسماعيل خان.

(بقيه حاشيه) ان قارن الوضوء الحدث او طرأ عليه بعده وصح لو توضأ على الانقطاع وصلى كذلک كاقتداء بمفتصد امن خروج الدم.

(الدرالمختار ص ٤٢٨ جلد ١ باب الامامة قبيل مطلب فى الالثغ)

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفى: وفى النهر عن المحيط صلى خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة، قال ابن عابدين: افاد ان الصلاة خلفهما اولى من الانفراد. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ٤١٥ جلد ١ قبيل مطلب فى امامة الامرد باب الامامة)

الجواب: دَصدق او ثبوت په شرط مذکورة الاوصاف کس فاسق دي ﴿۱﴾ چه دَهغه اقتداء مکروه تحريمی ده. ﴿۲﴾ دَمحلي دَصاحبان انتظام ارباب حل وعقد فريضه ده چه هغوی دا امام لري کړی. ﴿۳﴾ ليکن که په څه وجه امام برقرار پاتي شی نو بيا دَانفراد نه اقتداء افضل ده. په درمختار کښې دی. من صلى خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة﴿۴﴾. وهوالموفق.

دَ افيمو نشه کونکي مړو ته دَپيښي په طور غسل ورکونکي او دَ جادوګرامام اقتداء

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښې څه فرمائي چه کوم کس هميشه دَافيمو په نشه کښې مست وی او مړوته دَپيښي په طور مستقل غسل ورکوی. سحر. جادو منتر او غلط تعويذونه کوی. دَده امامت صحيح دي يانه؟ بينوا توجروا

المستفتي: شمس الرحمن کالټکس ضلع دير.........١٩٧٣ء ٥/٤/

﴿١﴾ قال العلامه محمد بن البزاز الكردرى: استماع صوت الملاهى كالضرب بالقضيب ونحوه حرام لقوله عليه السلام استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر اى بالنعمة.

(فتاوىٰ بزازيه على هامش الهنديه ص ٣٥٩ جلد ٦ الباب الثالث فيما يتعلق بالمناهى)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: ويكره امامة عبد وفاسق واعمى ومبتدع، قال ابن عابدين: تكره امامته بكل حال بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ص ٤١٤ جلد ١ قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿٣﴾ قال الحصكفى: ويكره تقليد الفاسق ويعزل به الا لفتنة، قال ابن عابدين: اى بالفسق لو طرأ عليه والمراد انه يستحق العزل كما علمت آنفا ولذا لم يقل ينعزل.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ٤٠٥ جلد ١ باب الامامة)

﴿٤﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ٤١٥ جلد ١ قبيل مطلب فى امامة الامرد باب الامامة)

الجواب: واضحه دی وی چه افیم څکل حرام دی لمافی الدرالمختار ویحرم اکل البنج والحشیشه هی ورق القنب والافیون،الخ ﴿۱﴾ وبمعناه فی سائر کتب الفتاوی،اوحرام کارکونکي فاسق دي،خاصکرچه علی الدوام،وی او فاسق پسي اقتداء مکروه تحریمی ده،صرح به فی الکبیری.﴿۲﴾.دغه شان پیشه ورمړی لامبونکي دخلقو په نظرکښي سپک وی،چه د کراهیت اقتداء باعث دي، کمایدل علیـه تعلیـل الهدایة حیث قال ولان فی تقـدیم هـؤلاء تنفیرالجماعـة ص ۱۱۰ جلـد۱﴿۳﴾.او جادوگرتوب دفسق یا کفر نه خالی نه وی،لهذا داسي امام پسي اقتداءنه دی کول پکار.﴿۴﴾.وهوالموفق.

په ناجائزه معامله کښي دَ مور پلار نه دَخفه څوئی اقتداء جائز ده.

سوال: علمائي دین دي مسئلي باره کښي څه فرمائی چه یو پیش امام دَخپلي مورنه خفه دي هغه ته قوم وائی چه دمورنه راضی نامه واخله یاترینه معافی اوغواړه لیکن هغه نه راضی نامه اخلی او نه معافی غواړی او دَموربیان ئي دادي ،خبره داسي ده چه زماڅوئ فلانکی څوئ دَفلانکی .....قوم..... کلي..... خفه شوي اودَچاکورته تلي دي اوزمادَخاوند اته(۸) کاله اوشوچه مړشوي په دي اته(۸) کالوکښي هغه زماهیڅ مدد نه دي کړي،پروسکال هغه کورته راغي

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۲۵ جلد۵ کتاب الاشربة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحلبی فی شرح المنیة: فی فتاویٰ الحجة وفیه اشارة الی انهم قدموا فاسقا یأثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (الشرح الکبیر ص ۴۷۵ فصل فی الامامة)

﴿۳﴾ (هدایه ص ۱۱۰ جلد ۱ باب الامامة کتاب الصلوٰة)

﴿۴﴾ قال الحصکفی : وحرام ونحو علم الفلسفه والشعبذة والتنجیم والرمل وعلوم الطبائعین والسحر، قال العلامه ابن عابدین: فهذه انواع السحر الثلاثة قد تقع بما هو کفر من لفظ او اعتقاد او فعل وقد تقع بغیره کوضع الاحجار وللسحر فصول کثیرة فی کتبهم فلیس کل مایسمی سحرا کفراً اذ لیس التکفیر به لما یترتب علیه من الضرر بل لما یقع به مما هو کفر کاعتقاد انفراد الکواکب بالربوبیة واهانة قرآن او کلام مکفر ونحو ذلک. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۳ جلد ۱ مطلب السحر انواع)

مونږجرگه کینوله هغه ته مو اووئیل نودي خفه شو دَبل چاکورته لاړلو،اوس وائی چه څه به دمورنه خفه اوسیږم او که تاسوزمادمور راضی نامه گوال غواړئ نوزماغوښه پریکړئ اوپه بوجئ کښي ئي واچوئ یوسي اوڅه به دَدي جولاگئړي نه معافی اونه غواړم،په دي صورت کښي دَداسي څوئی امامت جائز دي یانه؟ بینوا توجروا.

المستفتی:مولوی محمدغنی راولپنډی ۱۹۶۹ء/۱۱/۲۲.

الجواب: تاڅه تفصیل نه دي ښودلي چه دَخفگان وجه څه ده.لهذاتعلیقی جواب درکولي شی،یعنی که چرته دَمور دَجائزمعاملي په وجه داخفگان وی نودَفسق په وجه ده پسي اقتداء مکروه تحریمی ده.﴿۱﴾.اوکه دَمور په څه ناجائزه معامله باندي داخفگان وی نوپه ده باندي هیڅ خبره نشته.لحدیث لاطاعة للمخلوق فی معصیة الخالق.﴿ ۲﴾ .وهوالموفق.

دَحضور ﷺ په باره کښي دَ نازیبا کلماتو ویونکی دَ توبي نه پس دَامامت حکم

سوال: علمائي دین دي مسئلي باره کښي څه فرمائی چه زماپه پلار مولاناامین الحق صاحب باندي بعضي مخالفینو دَذاتی عنادپه وجه دا الزام لگولي دي چه ده دَنن نه څلویښت(۴۰) کاله مخکښي دَآنحضرت فداه ابی وامـی په باره کښي نازیباکلمات استعمال کړی وو،چه دَهغي په وجه دَهغي وخت علماؤ دي دَامامت نه لري کړي وو،حال داچه زماوالد صاحب په خپل ټول عمرکښي چرته داقسم الفاظ نه دی وئیلي،زماوالدصاحب دَسلسله عالیه قادریه سره منسلک دي،دَاولیاء الله منلووالا اومعتقددي،اودَحضور ﷺ په ادنی امتی

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق واعمی ومبتدع، قال ابن عابدین: تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیم کراهة تحریم. (ردالمحتار مع الدر المختار ص ۴۱۴ جلد ۱ مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۲۱ جلد ۱ الفصل الثانی کتاب الامارة)

کیدلو باندې فخر کوی. خدائ دې نکړی که چرته دَبشریت په مقتضاء داقسم الفاظ وئیلي وی او وده توبه ویستلې وی او انابت الی الله شوې وی. نوآیا ده پسې اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سیدالابرار منشی فاضل نوشهره.......۱۹۲۹ء/۶/۴.

الجواب: په شرعی ثبوت سره پیغمبرته کنځل کولو دَثابتیدلو نه پس دکنځل کونکی توبه دَقرآن، حدیث او فقهې په بنیاد صحیح ده، او امامت ئې هم صحیح دې.

قال الله تعالیٰ فی شان المنافقین، ولقد قالوا کلمة الکفر وکفروا بعد اسلامهم وهموا بما لم ینالوا الی ان قال فان یتوبوا یک خیرالهم (الایة)﴿۱﴾ وجه الاستدلال ان المنافقین کانوا مسلمین ظاهرا، ویجری علیهم احکام المسلمین وقال الله تعالیٰ غافر الذنب وقابل التوب﴿۲﴾ من غیر تقید وتخصیص، وقال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لا ذنب له﴿۳﴾ وقال العلامة الشامی فی ردالمحتار ص ۴۰۲ جلد۳ فهذا صریح کلام القاضی عیاض فی الشفاء والسبکی وابن تیمیه وائمه مذاهب علی ان مذهب الحنفیة قبول التوبة بلا حکایة قول آخر عنهم وانما حکوا الخلاف فی بقیه المذاهب الخ﴿۴﴾. وهو الموفق

په ګانړه باندې د نفع اخستونکی اوَ پیشه وراِمام دَاقتداء حکم.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه﴿۱﴾ یو پیش امام چاته درې زره(۳۰۰۰) روپې ورکړې او زمکه ئې ترګانړه جوړه کړه. اودَزمکې دَپیداوارنه مالک ته هیڅ هم نه ورکوی او ورکړې شوې رقم په دستور سره ساتی. آیا دَداسې قسم معامله کونکی اقتداء جائز ده ؟﴿۲﴾. داسې کس چه

﴿۱﴾ (سورة التوبة پاره: ۱۰ رکوع: ۱۶ آیت: ۷۴)
﴿۲﴾ (سورة المؤمن پاره: ۲۴ رکوع: ۱ آیت: ۳)
﴿۳﴾ (مشکواة المصابیح ص ۲۰۶ جلد ۱ باب الاستغفار والتوبة)
﴿۴﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۱۹ جلد ۳ مطلب مهم فی حکم ساب الانبیاء باب المرتد)

همیشه دپاره دَامامت پیشه اختیار کړی. هغه پسې همیشه دپاره مونځ کول څنګه دی.﴿۳﴾ که داسې پیشه ور امام پسې اقتداء صحیح نه وی نودې به څنګه په صحیح لاره راوستلې شی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شوکت علی ولد تاج ملوک خان طورومردان......۱۹۲۹ء/۸/۴.

الجواب:﴿۱﴾ په مرهونه باندې نفع اخستل جائز نه ده. که مشروط وی او که معروف وی. او زمونږ په علاقو کښې معروف ده لهذا حرام ده. او دَدې مرتکب فاسق دې، ده پسې مونځ کول مکروه تحریمی دی.﴿۱﴾ لیکن دَانفراد نه اقتداء افضل ده.

عن ابی برده بن ابی موسیٰ قال قدمت المدینة فلقیت عبد الله بن سلام فقال انک بارض فیها الربوا فاش فاذا کان لک علی رجل حق فاهدیٰ الیک تبن او حمل شعیر او حبل قت فلا تاخذه فانه ربوا، رواه البخاری، وقال ابن عابدین: قلت والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف بمنزلته کالمشروط وهذا مما یعین المنع﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۴۲۷ جلد۵) وفی منحة الخالق قال الرملی ذکر الحلبی فی شرح المنية ان کراهة تقدیم الفاسق والمبتدع کراهة تحریم وفی البحر بعد عبارة والا فالاقتداء بهم اولیٰ من الانفراد (بحر ص ۳۴۹ جلد ۱)﴿۳﴾.

(۲، ۳)، دَامامت پیشه خوپخپله باندې یو مستحسن کار دې بیشکه چه کله په اجرت کښې فرائض او واجبات اخلی یا دَشرعی مالدارتوب باوجود زکوة او فطرانې اخلی نو دا کار ډیر قبیح دې په محلې والو باندې ضروری ده چه دَده دپاره تنخواه مقرر کړی او زکوة وغیره ورله په اجرت یعنی تنخواه کښې نه ورکوی. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة وکذا تکره خلف امرد، قال ابن عابدین: افاد ان الصلاة خلفهما اولیٰ من الانفراد. (الدرالمختار مع ردالحتار ص ۴۱۵ جلد ۱ مطلب فی امامة الامرد باب الامامة)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۴۳ جلد۵ کتاب الرهن)
﴿۳﴾ (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

ریډیو ټی وی وغیره مرمت کونکی مستری پسې دَ اقتداء حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیومولوی صاحب خوئ دَریډیو او ټی وی مستری دې نوآیا دې مستری خوئی پسې مونځ اداکول جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: هدایت الله کانګړه چارسده......٢١/شعبان ١٤٠٩هـ

الجواب: فاسق پسې دَفاسقانو اقتداء بغیردَڅه کراهت نه جائزده.﴿١﴾ . (ماخوذ از بحرهندیه باب الامامة). وهوالموفق.

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عندوجود غیرهم والا فلا کراهة کما لا یخفیٰ.
(البحر الرائق ص ٣٤٩ جلد ١ باب الامامة)

....

باب القراءة فی الصلوة

په لااله باندې وقف کول مونځ فاسدونکې نه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دکلمه توحید دَذکرپه دوران کښې یادَمونځ په دوران کښې په لااله، باندې وقف اوکړی، اودَ وقف نه پس الا الله، اووائی اوداوقف کول قصدا یا په هیره اویا د ناپوهئ په وجې سره وی نو دَدې څه حکم دې؟ مونځ به فاسدوی یانه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولاناغلام جلیل صاحب مدرس مدرسه مفتاح العلوم هنګو. ٧/١٠/١٩٨٢ء

الجواب: دَمفتی به قول مطابق داوقف دَمونځ فاسدونکې نه دې. (فلیراجع الی الهندیه ص٨٥ جلد ١ الفصل الخامس زلة القاری﴿١﴾. وهوالموفق.

دَ دوو(٢) سورتونو په مینځ کښې ورکوټې سورت پریخودل مکروه دی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو امام دوه(٢) سورتونه مثلاً اولنی رکعت کښې سورة الفیل اولولی، اودویم رکعت کښې سورة الماعون اووائی یاپه اولنی رکعت کښې سورة العصر اووائی او په دویم رکعت کښې الم ترکیف اووائی نو دامکروه دی یانه؟ ددې دواړو صورتونو څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.......١٤/٩/١٩٨٢ء

﴿١﴾ قال فی الهندیه: وان تغیر به المعنی تغیرا فاحشا نحو ان یقرأ شهد الله انه لا اله ووقف ثم قال الا هو لا تفسد صلاته عند عامة علمائنا وعند البعض تفسد صلاته والفتویٰ علی علم الفساد بکل حال هکذافی المحیط. (فتاویٰ عالمگیریه ص ٨١ جلد ١ فصل الخامس فی زلة القاری)

الجواب: چه کله یو امام په اولنی رکعت کښې الم ترکیف اووائی او په دویم رکعت کښې ارایت الذی اووائی نو دامکروه دی، اوچه کله په اولنی رکعت کښې والعصر اووائی اوپه دویم رکعت کښې الم ترکیف ....الخ، اووائی نو دامکروه نه دی.

کمافی شرح التنویر مع ردالمحتار قبیل باب الامامة ویکره الفصل بسورة قصیرة اما بسورة طویلة بحیث یلزمه منه اطالة الرکعة الثانیه اطالة کثیرة فلا یکره ، شرح المنیة ﴿١﴾. وهوالموفق

په مونځ کښې دوه سورتونوسره فصل کول جائز دی اوپه یو ورکوټی سورت سره فصل کول مکروه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په اولنی رکعت کښې سورة الکافرون اوپه دویم رکعت کښې سورة الاخلاص اووائی یا په اولنی رکعت کښې سورة التین اوپه دویم کښې سورة القدر اووائی نو آیا دا طریقه مکروه یاغیرمکروه ده؟ مدلل اومبرهن جواب راؤلیږئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: حکیم عبدالرؤف صاحب پابینی صوابی......١٩٨٩ء/١/٩

الجواب: که په دوه سورتونو سره فصل (جدا والې) وی نو مکروه نه دې او که په یو سورت سره وی نو مکروه دی خو چه دافصل راوستونکې سورت ورکوټې وی، او که ښکاره اوږد سورت وی نو مکروه نه دی.

کمافی شرح التنویر ص ٥١٠ جلد١ ویکره الفصل بسورة قصیره، امابسورة طویلة بحیث یلزم منه اطالة الرکعة الثانیه اطالةً کثیرة فلا یکره (شرح المنیة) کما اذا کانت سورة قصیرتان ﴿٢﴾. وهوالموفق

یولوئ آیت په دوه رکعتونو باندې تقسیم سره لوستل جائز دی خو دَ سنتونه خلاف دی

الجواب: محترمی ومکرمی جناب صدر دارالافتاء مفتی صاحب دارالعلوم حقانیه

﴿١﴾ (ردالمحتارهامش الدر المختار ص ٤٠٤ جلد ١ قبیل باب الامامة)

﴿٢﴾ (ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ٤٠٤ جلد ١ قبیل باب الامامة)

یوه استفتاء خدمت کښې وړاندې کوم، چه په خواجزاؤباندې مشتمله ده جواب ئې راکړئ. (الف)---- په فرض جهری مونځ کښې امام دپاره په یو رکعت کښې دَیو آیت کم نه کم څومره حصه لوستل ضروری ده؟ (ب)----یو آیت څومره لوئ وی (دَقرآن کریم دَبعضې لویو آیتونو حوالې راکړئ). چه دَهغې دَیو جزء حصه لوستلو سره رکعت صحیح کیږی، اوقرأت اداکیږی. (ج)- یو امام صاحب دَفجرپه دوه رکعتونو کښې یو رکعت کښې سورة الفتح دَآخری آیت نمبر ٢٩ صرف آخرنۍ حصه یعنی سیماهم فی وجوههم نه اجراً عظیماً پورې اولوستله اورکوع ئې اوکړه آیا دامونځ به صحیح وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الله چوک ابریشم گران پشاور......١٩٨٨ء/٢/٧

﴿۱﴾ وفی الهندیه: الصعود علی سطح کل مسجد مکروه ولهذا اذا اشتد الحر یکره ان یصلوا بالجماعة فوقه الا اذا ضاق المسجد فحینئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب.
(فتاویٰ عالمگیریه الباب الخامس فی اداب المسجد والقبلة والمصحف)
وقال ابن عابدین ثم رئیت القهستانی نقل عن المفیده کراهة الصعود علی سطح المسجد اه ویلزمه کراهة الصلوٰة ایضاً فوقه (شامیه ص ۶۱۲ جلد۱)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۲۲ جلد۱ باب صلاة المریض)

دَ جمات په محراب کښې اودَ امام دَ جمات په مینځ کښې دَ اودریدلو تحقیق

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَسختې ګرمئ یا یخنئ دَوجې نه که یو قوم دَجمات په انګنړ(غولی ،صحن) کښې راجمع شی او باجماعت مونځ ادا کړی نو دَهغوی مونځ به مکمل وی یا مکروه؟ ځکه چه عام طورسره دَجمات په صحن کښې محراب نه وی.دغه شان دَمحراب نه علاوه باجمات مونځ کول څنګه دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی فضل معبود مسجدزیارت شیخ جنید بابا پشاور_ ۱۹۷۲ء/۲۸/۲

الجواب: دَپیغمبر ﷺ او خلفائې راشدینوپه زمانه کښې په جماتونوکښې محرابونه نه وو.دَمحرابونو ابتداء دَعمربن عبد العزیز رحمه الله دَزمانې نه شوې.

قال الامام السیوطی فی کتاب الوسائل لمعرفة الاوائل اول من احدث المحراب المجوف عمر بن عبد العزیز حین بنی المسجد النبوی ذکره الواقدی عن محمد بن هلال (مجموعة الفتاویٰ ص ۲۲۰ جلد ۱) وقال ایضا فی رسالة اعلام الاریب بحدوث بدعة المحاریب ان قوماً خفی علیهم کون المحراب فی المساجد بدعة وظنوا انه کان فی مسجد النبی ﷺ فی زمنه ولم یکن قط فی زمانه ولا فی زمان الخلفاء فمن بعدهم الی المأته الاولیٰ وانما حدث فی اول المأته الثانیه مع ورود الحدیث بالنهی عن اتخاذه وانه من شان الکنائس وان اتخاذه فی المسجد من اشراط الساعة (مجموعة الفتاویٰ ص ۲۲۰ جلد ۱)﴿۱﴾ قلت وما فی الفتح انها بنیت من لدن زمان رسول الله ﷺ فمعناه القرب فافهم،

البته پیغمبر ﷺ فرمائیلی: وسطوا الامام الحدیث.﴿۲﴾ .نوسنت په حقیقت کښې توسط دې اومحراب غالباً دَجمات په مینځ کښې وی.نوپه هغې کښې به دَ امام اودریدل مسنون لذاته نه وی بلکه لغیره به وی.ویشیر الیه فی ردالمحتار

﴿۱﴾ (مجموعة الفتاویٰ ص ۲۲۰ جلد ۱ (محراب کی د امام اودریدل.. الخ کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ توسطوا الامام وسدوا الخلل رواه ابوداؤد.
(مشکواة المصابیح ص ۹۹ جلد ۱ باب تسویة الصف الفصل الثالث)

ص ۵۳۱ جلد ۱.ولو کان المسجدالصیفی بجنب الشتوی وامتلا المسجد یقوم الامام فی جنب الحائط لیستوی القوم من جانبیه﴿۱﴾.وفی المقام تفصیل لایلیق ذکره فی مقام الافتاء.فقط.

په محراب کښې مونځ اودَ جمات په صحن کښې دَ محراب جوړولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی ﴿۱﴾.دَجمات په صحن کښې محراب جوړول څنګه دی؟ ﴿۲﴾ آیا دَمحراب نه بغیرمونځ کول جائز دی؟ یوصاحب محراب جوړول فرض وائی اوپه هغې کښې مونځ کول سنت او محراب ته مخامخ دَامام اودریدلوته واجب وائی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالخلیل اباخیل نوشهره...... ۱۹۷۲ء/۹/۵

الجواب: ﴿۱﴾ .تعدد دمحراب نه مطلوب دی نه ممنوع دی.البته په صحن کښې محراب جوړول دَمعمول نه خلاف دی.﴿۲﴾ .دَپیغمبر علیه السلام اوخلفائې راشدینو په زمانه کښې محرابونه په جماتونوکښې داخل کړې شوې نه وو.دَحضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په زمانه کښې محرابونه په جماتونوکښې داخل کړې شوې دی.

کمافی مجموعة الفتاوی﴿۲﴾ واما ما فی فتح القدیر شرح الهدایه ﴿۳﴾لانها بنیت من لدن رسول الله ﷺ (بالمعنی) فمعناه القرب الیه کما لا یخفیٰ نعم التوسط مسنون

﴿۱﴾ (ردالمحتار ص ۴۲۰ جلد ۱ مطلب فی کراهة قیام الامام فی غیر المحراب باب الامامة)

﴿۲﴾ (اول من احدث المحراب المجوف عمر بن عبد العزیز حین بنی المسجد النبوی ذکره الواقدی عن محمد بن هلال. (مجموعة الفتاویٰ ص ۲۲۰ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن الهمام: بنی فی المساجد المحاریب من لدن رسول الله ﷺ ولو لم تبن کانت السنة ان یتقدم فی محاذاة ذلک المکان لانه یحاذی وسط الصف وهو المطلوب اذ قیامه فی غیر محاذاته مکروه وغایته اتفاق الملتین فی بعض الاحکام ولا بدع فیه علی ان اهل الکتاب انما یخصون الامام بالمکان المرتفع علی ماقیل فلا تشبه.
(فتح القدیر ص ۳۶۰ جلد ۱ فصل ویکره للمصلی)

لحدیث ابی داؤد توسطوا الامام﴿۱﴾ فالمحاریب هی الوسائل لتحصیل سنة التوسط ولیست بمقاصد،
نو کوم فقهاؤ چه قیام فی المحراب ته سنت وئیلي دی نو هغه درحقیقت توسط دی په معنی ظاهری سره نه لعدم صحته.

په لوئې جمات کښې دَمونځ کونکی مخې ته تیریدل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په لوئې جمات کښې کله دَمونځ گزار دپاره سُترد نه وی نو په جمات کښې دننه څومره فاصلې سره دَهغه مخې ته تیریدل جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل رازق سارجنټ مین پی اي ایف کوهاټ

الجواب: په داسې جمات کښې (علی الاظهر) مخې ته دَتیریدلو اجازت نشته ﴿۲﴾. وهو الموفق.

دَ جمات دَ زائد څیزونو اخستل خرڅول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَجمات جائې نماز (مصلی) یابل څیز اخستل یاخرڅول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد عمر پیش امام وزیرآباد مردان..... ۴/رمضان ۱۴۰۹ھ.

الجواب: کوم جائې نماز وغیره چه دَجمات دَحاجت نه زیاتی وی او دَ ضائع

﴿۱﴾ عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم وسطوا الامام وسدوا الخلل.

(سنن ابی داؤد ص ۱۰۶ جلد ۱ باب مقام الامام من الصف)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن الهمام: فاما فی المسجد فالحد هو المسجد الا ان یکون بینه وبین المار اسطوانة او غیرها یعنی انه مالم یکن بینهما حائل فالکراهة ثابتة الا ان یخرج من حد المسجد فیمر فیما لیس بمسجد وفی جوامع الفقه فی المسجد یکره وان کان بعیداً وفی الخلاصة وان کان فی المسجد لا ینبغی لاحد ان یمر بینه وبین حائط القبلة الخ.

(فتح القدیر شرح الهدایه ص ۳۵۴ جلد ۱ قبیل فصل ویکره للمصلی الخ)

کیدلو خطره ئې دی نو دَهغې اخستل خرڅول جائز دی. هله چه دا رقم دَجمات په فنډ کښې جمع شی. ﴿۱﴾ وهو الموفق.

په جماتونو کښې دَ"براق، اوښ" وغیره تصویرونه آویزان کول حرام دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نن صبا بازارونو کښې دَ بُراق وغیره تصویرونه خرڅیږی. چه دَهغې سر دَښځو او باقی بدن دَ اسپو وی دغه شان دَمکه مکرمه یا مدینه منوره په نقشو کښې دَ اوښ وغیره تصویرونه وی، ددې نقشو په جماتونو کښې کیښودل ممنوع دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: معتبرشاه کوټکی...... ۱۴/۲/۱۹۷۳ء.

الجواب: حرام دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق.

﴿۱﴾ وفی الهندیه: وذکر ابو اللیث فی نوازله حصیر المسجد اذا صار خلقا واستغنی اهل المسجد عنه وقد طرحه انسان ان کان الطارح حیا فهو له وان کان میتا ولم یدع له وارثا ارجو ان لا بأس بان یدفع اهل المسجد الی فقیر او ینتفعوا به فی شراء حصیر اخر للمسجد والمختار انه لا یجوز لهم ان یفعلوا ذلک بغیر امر القاضی کذافی محیط السرخسی.

(فتاویٰ عالمگیریه ص ۴۵۸ جلد ۱ الباب الحادی عشرا فی المسجد وما یتعلق به)

وقال ابن عابدین: سئل عن شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضی ویمسک الثمن لیصرفه الی بعض المساجد اوالیٰ هذا المسجد قال نعم الخ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۰۷ جلد ۳ مطلب فیما لو خرب المسجد کتاب الوقف)

﴿۲﴾ قال علی بن سطان محمد: قال اصحابنا وغیرهم من العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم وهو من الکبائر لانه متوعد علیه بهذا الوعید الشدید المذکور فی الاحادیث سواء صنعه فی ثوب او بساط او درهم او دینار او غیر ذلک الخ.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ص ۲۶۶ جلد ۸ باب التصاویر)

په جماتونوکښې د هارن والا ګهړو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په جمات کښې جاپانی ګهړئ دی. چه پنځلس منټه پس الارم وهی، اویوه ګهنټه پس الارم وهی نوچه خومره ګینټې شوې وی هغه خومره ټنګار کوی. یو صاحب اووئیل چه دې ګهړو دَیو ټنګ سره سل شیطانان پیدا کیږی. ځکه چه دا ساز دې او دَ ساز دَیو ټنګ سره سل شیطانان پیدا کیږی. په دې وجه دا ګهړئ دَجماتونو نه لرې کړئ. آیا دا مسئله صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد امین نسوزی ضلع اټک ...... ۱۹۹۱ء/۱/۸.

الجواب: دا آواز سرود نه دې نه عرفًا اونه فنًا. لهذا داسې ګهړئ دَ جماتونو نه ویستل ضروری نه دی. ﴿۱﴾. وهوالموفق.

په جمات کښې محراب جوړول یو ښه کار دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه جمات کښې محراب جوړول سنت دی یا مستحب یا واجب؟ یو سړی جمات جوړ کړو او قصداً ئې محراب جوړ نه کړلو. آیا په دې سره مونځ باندې څه اثر پریوځی؟ دَ محراب ابتداء دَ کله نه شوې ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد عظیم خان قوم رنګین خیل کوهاټ ...... ۱۹۷۴ء/۷/۲۰.

﴿۱﴾ حضرت شیخ اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمائیلی! په جمات کښې دننه ګینټه داري ګهړئ دَوخت معلومولو په غرض جائز دی. اودَبعضې خلقو نظرکم وی او بعضې نمبرې نه پیژنی او کله کله رنړا کمه وی په دې وجه ضرورت وی دآواز والا ګهړئ. نوپه دې مصلحت سره دا دَممنوع جرس نه مستثنی ده لکه عالمګیری کښې بعضې فروعات ددې قسم لیکلې شته، اوپه حدیث کښې دَتصفیق اجازت خالص په مونځ کښې دَمصلحت دپاره ښکاره دلیل دې. دمشروعیة صورت چه هغې کښې متقارعین لمصلحة الاعلام المتعلق بالصلوة. (امداد الفتاوی ص۷۱۹ جلد ۲ باب احکام المساجد)

الجواب: په جماتونو کښې محراب جوړول مستحسن کار دې دې ابتداء دَ حضرت عمربن عبد العزیز رحمة الله علیه دَ خلافت دَزمانې نه شوې ده. ﴿۱﴾. او دَمحراب نه مقصود دَ وسط تعین دې. لهذا ددې په نه کیدلو کښې په ثواب باندې څه فرق نه پریوځی. چه کله امام دَجمات په مینځ کښې ولاړ وی. ﴿۲﴾. والتفصیل فی مجموعة الفتاوی). وهوالموفق.

دَ اهل سنت په جماتونو کښې دَ شیعه ګانو مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په منګلا ډیم کښې یو جمات دې هلته شیعه ګان هم کافی تعداد کښې موجود دی. دَ امام بارګاه جوړولو دپاره ئې درخواست هم ورکړې وو. لیکن مستردشو. دغې جمات کښې امام سنی دې. آیا شیعه ګان په دې جمات کښې ځان ځان له مونځ کولې شی؟ په قلاره دَ آذان کولو نه پس ځان له دَجماعت کولو حق لری یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: اهالیان سنی مسلک منګلا ډیم کالوی ۱۹۷۴ء/۱۱/۱۰

الجواب: دَاهل سنت والجماعت دَجمات نه مخکښې یا روستو دا شیعه ګان خلق مونځ کولې شی. که ځانله وی که په جماعت سره. په یو وخت باندې کولو کښې دَاهلِ حق او اکثریت کسرِشان موجود دې. وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکهنوی رحمه الله: اول من احدث المحراب المجوف عمر بن عبد العزیز حین بنی المسجد النبوی ذکره الواقدی عن محمد بن هلال. (مجموعة الفتاوىٰ ص ۲۲۰ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ویقف وسطاً) قال فی المعراج وفی مبسوط بکر السنة ان یقوم فی المحراب لیعتدل الطرفان ولو قام فی احد جانبی الصف یکره ولو کان المسجد الصیفی بجنب الشتوی وامتلأ المسجد یقوم الامام فی جانب الحائط لیستوی القوم من جانبیه والاصح ما روی عن ابی حنفیة انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین او فی ناحیة المسجد او الی ساریة لانه خلاف عمل الامة قال علیه السلام توسطوا الامام وسدوا الخلل ومتی استوىٰ جانباه یقوم عن یمین الامام ان امکنه الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۲۰ جلد ۱ مطلب فی کراهة قیام الامام فی غیر المحراب)

دَ جمات په چهت باندې مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَجمات دَ تنګ کیدلو په وجه دَجماعت مونځ کول دَډیرې ګرمئ په وجه دَتکلیف باعث وی.نوکه دَجماعت مونځ دَجمات په چهت باندې ادا کړی نو جائز دی یا نه؟ په فتاوی عالمګیری کښې ئې دا صورت مکروه لیکلې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.........۱۲/جون ۱۹۷۵ء

الجواب: که دَضرورت په وخت مثلاً چه کله مونځ ګزار په لاندینئ حصه کښې نه راځی او بعضې خلق په چهت باندې اودریږی نودې کښې هیڅ حرج نشته اوصرف دَهواخورئ یاګرمئ دَوجې نه په چهت باندې جماعت کول که امام لاندې وی یا چهت باندې نودَبغیرضرورته کیدلو په وجه مکروه دې.

کمافی الهندیه ص ۳۵۶ جلد۵ الصعود علی سطح کل مسجد مکروه ولهٰذا اذا اشتد الحر یکره ان یصلوا بالجماعة فوقه اذا صاق المسجد فحینئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب﴿۱﴾. وهوالموفق

په جمات کښې کټ کښې په ناسته تلاوت کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ جمات تقریباً سل فټه اوږد دې که مختلف کسان دَجمات په یوګوټ کښې کټ کښې کینی او تلاوت هم کوی.اوبعضې خلق محراب ته نزدې تلاوت کوی په زمکه باندې ناست وی په کټ کښې دَناست کس څه حکم دې؟ داحرام دی یا خلافِ اولی دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد نظیف وزیرستان.

الجواب: په عُرف کښې بې حرمتیَ شمارلې کیږی لهذا ددینه احترازاولی دې. وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ص ۳۲۲ جلد۵ الباب الخامس فی آداب المسجد والمصحف)

په جمات کښې دَ اور لګیدلو په صورت کښې
دَ جنب کس په جمات کښې داخلیدل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جمات کښې اور لګیدلې وی. آیا ددې دَمرکولو دپاره جنبی سړې په حالت دَجنابت کښې جمات کښې داخلیدلې شی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی الطاف الرحمن ټوټیال هزاره......۱۰/محرم ۱۳۹۲ھ.

الجواب: چه کله سړې مسافر وی یا په کور وغیره کښې(دَبیمارئ یا نقصان په وجه سره) دګرمواوبو انتظام نه شی کیدلې نودَهغه دپاره دَتیمم نه پس جمات کښې داخلیدل جائز دی.یدل علیه مافی ردالمحتار مسافر مربمسجدفیه عین ماء وهوجنب ولا یجد غیرفانه یتیمم لدخول المسجدعندنا (ص۱۵۹ جلد۱).﴿۱﴾ نودَ اورلګیدلو په صورت کښې به دَجنب داخلیدل په طریقِ اولی مرخص وی. فافهم وتدبر. وهوالموفق.

که ډیر شرارتی نه وی نو یو مونځ کونکې دَجمات نه منع کول جائز نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیوجمات نه څوک مسلمان ویستل چه دلته به ته مونځ نه کوې. دامنع کول جائز دی یا ناجائز؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ګل خان دوکاندار.

الجواب: مسلمان دَجمات نه منع کول حرام دی که ډیر شرارتی نه وی. قال الله تعالی ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکرفیها اسمه.﴿۲﴾ .وفی الدرالمختار وکذا کل موذولو بلسانه.﴿۳﴾ .(هامش الردص ۶۱۹ جلد۱).وهوالموفق.

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۱۲۶ جلد ۱ کتاب الطهارت)
﴿۲﴾ (سورة البقرة پاره: ۱ آیت: ۱۱۴ ارکوع:۱۴)
﴿۳﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۸۹ جلد ۱ قبیل باب الوتر والنوافل)

دَ جمات په حصه کښې غسل خانه وغیره جوړول جائز نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ جمات کښې یو طرف ته کوهې ،سبیل اوغسل خانې دی.اوس هغه په جمات کښې داخلول غواړو.اودَ جمات دویم طرف چه دَجمات دننه والا حصه ده.په هغې کښې ئې جوړول غواړو. ځکه چه دې سره به په جمات کښې فراخی راشی ،نو آیا دَشریعت په رڼا کښې داسې کول جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:حاجی امیرمحمدهاتهیان ......۱۹۷۵ء/۷/۵.

الجواب: دَجمات په حصه کښې غسل خانې وغیره جوړول جائز نه دی.کمافی الهندیه ص۱۱۶جلد۱ وتکره المضمضة والو ضوء فی المسجد الا ان یکون ثمه موضع اعد لذلک.﴿۱﴾ فافهم که ممکن وی نودَپخوانوغسل خانووغیره دپاسه کنکریټ اوکړئ(فرش جوړ کړئ) اودَچهت دپاسه دَاودس اوغسل انتظام اوکړئ. او لاندې ځائې دې په جمات کښې داخل کړې شی. ﴿۲﴾ وهوالموفق.

په جمات کښې پرائمری (مکتب) سکول جوړول او چلول جائز نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جماتونو کښې چه حکومت کوم پرائمری سکولونه کهلاؤ کړې دی چه په هغې کښې یویادوه استاذان مقرر شوې وی.او بچوته پرائمری ښودلې کیږی.آیا دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب خان ...... ۱۹۷٤ء/۳/۲۵.

﴿۱﴾ (فتاوی عالمگیریه ص ۱۱۰ جلد ۱ فصل کره غلق باب المسجد)

﴿۲﴾ وفی الهندیه: ومن جعل مسجداً تحته سرداب او فوقه بیت...... ولو کان السرداب لمصالح المسجد جاز کما فی مسجد بیت المقدس کذا فی الهدایه.

(فتاویٰ عالمگیریه ص ٤۵۵ جلد ۲ الباب الحادی عشر فی المسجد)

الجواب: دَجمات نه دَپرائمری سکول کاراخستل جائز نه دی.ځکه چه جماتونه دَدې کار دپاره نه دی جوړ شوې.دغه شان په اُجرت سره ماشومانو ته ښودل په جمات کښې ممنوع دی.دغه شان دَصناعت دپاره(چه په هغې کښې کتابت داخل دې) په جمات کښې کیناستل ممنوع دی او دَ پهاړو په وخت کښې آواز اوچتول ضروری دی کوم چه په جمات کښې ممنوع دی.﴿۱﴾ دغه شان پرائمری سکول چه څنګه دَماشومانو په وجه ګنده او خرابیږی دغه شان به جماتونه هم ګنده شی.لهذا بهتره دا ده چه دَخانانو وغیره دَحجرو اوبیټکونو نه دامقصد پوره کړې شی.وهوالموفق.

دَ فساد ختمولو په وجه دویم جمات جوړول "مسجد ضرار" نه دې

سوال: مونږ دَاوګئ بازار ټول مسلمانان درخواست کوؤ مونږ کښې اختلاف دومره سخت شوې دې چه دَیوجمات دَتعمیر په مقابله کښې مو دَ دویم جمات تعمیر شروع کړې دې.بلکه اوس اولنی جمات ته دَنقصان رسولو په کوشش کښې یو ،مونږ دَخپلې پوهې مطابق چه څومره کوششونه اومنتونه اوکړل خو ناکامه شو ،په دې وجه مونږه انتخاب اوکړو چه مولاناعبدالمنان صاحب او مولانا سید الرحمن صاحب چه په وادی آګرور کښې جیدعلماء دی.هغوی به فیصله اوکړی.لیکن دَپارټی بازئ په وجه هغه خلق انکاریان شول.نواوس مونږ تقریباً سل قدمه فاصلې باندې دَ دویم جمات تعمیر شروع کړې دې.شرعاً دا جائز دی یا نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد یوسف،محمد عثمان بازار اوګئ مانسهره ۱۹۷۵ء/۵/۱۹

الجواب: دا دویم جمات په صحیح غرض یعنی دَ شر او فتنې نه دَبچ کیدلو په وجه جوړؤلې شی.﴿۲﴾ .لهذا دا به مسجد ضرار" نه وی. وهوالموفق.

﴿۱﴾ وفی الهندیه: ویکره کل عمل من عمل الدنیا فی المسجد ولو جلس المعلم فی المسجد والوراق یکتب فان کان المعلم یعلم للحسبة والوراق یکتب لنفسه فلا بأس لانه قربة وان کان بالاجرة یکره الا ان یقع لهما الضرورة کذافی محیط السرخسی...... والسادس ان لا یرفع فیه الصوت من غیر ذکر الله تعالیٰ.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۳۲۱ جلد۵ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن نجیم: واذا قسم المحلة المسجد......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په حرام مال سره د جوړ شوی جمات حکم

سوال: علمائې دین مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو جمات تعمیر په حلال او حرام دواړو مالونو سره اوشی نو دې کښې مونځ کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل وهاب...... ۲۷/۳/۱۹۷۴ء

جواب: اعلم ان مدار المسجد علی الساحة دون البناء فلذا تصیر الساحة وحدها مسجداً کما فی الهندیه (۴۴۳ جلد ۲) رجل له ساحة لابناء فیها امر قوما ان یصلوا فیها بجماعة فهذا علی ثلاثة اوجهٍ احدها اما ان امرهم بالصلاة فیها ابداً نصابان قال صلوا فیها ابداً او امرهم بالصلاة مطلقا ونوی الابد ففی هٰذین الوجهین صارت الساحة مسجداً ﴿۱﴾ انتهیٰ بقدر الضرورة ففی الصورة المسئولة ان کانت الساحة حلالا فلا ضیر، وان کان حراما مغصوباً فلا خیر وان کانت مشتراة بمال حرام فلا یضیر ایضا لان المعروف فی دیارنا الشراء بالمطلق ثم یدفع من الحرام وهو حلال عند الکرخی وعلیه الفتویٰ کما فی ردالمحتار ص ۲۱۹ جلد ۴ باب المتفرقات ﴿۲﴾ واما البناء من الخشب والاجر وغیرهما ان اشتریت بالمال الحرام فحکمها الحل والا فالحرمة لکن حرمة البناء لا تضر المسجدیة کما مر. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) وضربوا فیه حائطاً ولکل منهم امام علی حدة ومؤذنهم واحد لابأس به.

(البحر الرائق ص ۳۵ جلد ۲ باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها)

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۴۵۵ جلد ۲ الباب الحادی عشر فی المسجد وما یتعلق به)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین الشامی: توضیح المسئلة ما فی التتارخانیة حیث قال رجل اکتسب مالا من حرام ثم اشتریٰ فهذا علی خمسة اوجه اما ان دفع تلک الدراهم الی البائع اولا ثم اشتریٰ منه بها او اشتریٰ قبل الدفع بها ودفعها او اشتریٰ قبل الدفع بها ودفع غیرها او اشتریٰ مطلقا ودفع تلک الدراهم او اشتریٰ .... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په جمات کښې غسل خانې وغیره جوړول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جمات یو حصه د غسل خانو دپاره استعمالولې شی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولانا فضل غنی فاضل دیوبند میان خان مردان.

الجواب: کومه زمکه چه د مونځ دپاره وقف شوې نه وی نو په هغې کښې غسل خانې وغیره جوړول ممنوع نه دی ﴿۱﴾ نو که د مونځ د حصې نشاندهی نه وی شوې نو دا تصرف پکښې کول جائز دی ﴿۲﴾ وهوالموفق.

(بقیه حاشیه) بلدراهم اخر ودفع تلک الدراهم...... وقال الکرخی فی الوجه الاول والثانی لا یطیب وفی الثلاث الاخیرة یطیب وقال ابوبکر لا یطیب فی الکل لکن الفتویٰ الآن علی قول الکرخی دفعاً للحرج عن الناس...... ودفعا للحرج لکثرة الحرام. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۲۴۴ جلد ۳ مطلب اذا اکتسب حرام ثم اشتریٰ باب المتفرقات)

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم: وفی الخلاصة وغیرها ویکره الوضوء والمضمضة فی المسجد الا ان یکون موضع فیه اتخذ للوضوء ولا یصلی فیه.

(البحر الرائق ص ۳۴ جلد ۲ فصل مما فرغ من بیان الکراهة فی الصلوٰة)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: ولو بنی فوقه بیتا للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ای بالقول المفتیٰ به او بالصلاة فیه علی قولهما، ثم اراد البناء منع.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۰۲ جلد ۳ قبیل مطلب فیما لو خرب المسجد)

• • •

باب الـــوتر والقـــنوت

باجمات وتر كول مباح او هميشوالي پرې كول مكروه دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه زمونږ ځائې كښې يوه مسئله باندې علماؤ كښې لوئې اختلاف موندلې كيږى. دَقول فيصل دپاره مونږه مراجعت كوو. مسئله داده چه كله عيد الفطر په شك كښې وى او تراويح اوشى. بيامعلومه شى چه عيد الفطر دې نودَشپې چه كوم وتر په جماعت سره شوې وى دَهغې قضابه كيږى يا نه؟ بينوا توجروا.

المستفتى: قاضى عبد المطلب كندې ناصر پبى نوشهره ..... ۱۳/۱/۱۹۶۹.

الجواب: دَ رمضان نه علاوه نورو مياشتو كښې باجماعت وتر كول مباح دى كه په بعضې وختونو كښې وى او په هميشوالى سره كول مكروه دى.

قال العلامة الشامى ص ۶۶۳ جلد ۱ ثم قال ويمكن ان يقال الظاهر ان الجماعة فيه (اى الوتر) غير مستحبة ثم ان كان ذلك احيانا كما فعل عمر كان مباحاً غير مكروه وان كان على سبيل المواظبة كان بدعة مكروهة.

نو دې خلقو وترباجمات هغه وخت كړى دى چه دَاختر ثبوت شرعى متحقق نه وو لهذا دَهغوى جماعت به مسنون وى مباح او مكروه نه. وهو الموفق.

به وترو كښې مقتدى نه دعائې قنوت پاتې كيدلو صورت كښې دَ وترو اعاده واجب نه ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه دَ وترو په مونځ كښې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المحتار ص ۵۲۴ جلد ۱: مطلب فى كراهة الاقتداء فى النفل على سبيل التداعى صلاة التراويح)

مقتدى نه دعائې قنوت پاتې شو، آيا اوس به په دويم ځل وتر ادا كوى يا څه به كوى؟ بينوا توجروا.

المستفتى: شفيع اكبر گدون صوابى ۲۰ رمضان ۱۴۱۰ هـ.

الجواب: دكوم مقتدى نه چه دعائې قنوت پاتې شو هغه باندې دَمونځ اعاده واجب نه ده.

يدل عليه مافى الشرح الكبير ص ۳۶۴ واما المقتدى فهو مخير بين ثلاثة اشياء قد اختلف فيها ان شاء قنت وهو مختار صاحب المحيط واكثر المحققين وان شاء امن وان شاء سكت﴿۱﴾ انتهٰى بقدر الضرورة وصحة القول الاول لايقتضى وجوب القراءة. وهو الموفق.

په وترو كښې دعائې قنوت سهواً پريخودلو باندې سجده سهو واجب ده ګنې اعاده به كوى

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى كه په وترو كښې بالكل دعائې قنوت هيرشى نو آيا سجده سهو به كوى؟ او كه بالكل هيرشى او سلام نه پس ورته ياد شى نو آيا دَ وترو اعاده به كوى؟ بينوا توجروا.

المستفتى: حافظ محمد حنيف سهارنپورى خانپور هزاره ۲۷/۸/۱۹۷۵.

الجواب: چونكه دعائې قنوت واجب دې لهذا په تارك سهواً باندې به سجده سهو واجب وى. ګنې اعاده به واجب وى. (ماخوذ از شامى). ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (غنية المستملى ص ۴۰۳ قبيل الفروع فصل فى الوتر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله يجب له) اى للسهو الاتى بيانه فى قوله بترك واجب سهوا. وذكر فى المحيط عن القدورى انه سنة وظاهر الرواية الوجوب وصححه فى الهداية وغيرها لانه لجبر نقصان تمكن فى الصلاة فيجب كالدماء فى الحج و يشهد له الامر به فى الاحاديث الصحيحة والمواظبة عليه و ظاهر كلامهم أنه لولم يسجد ياثم بترك الواجب ولترك سجود السهو بحروفيه نظر بل يأثم لترك الجابر فقط اذ لااثم على الساهى نعم هو فى صورة العمد ظاهر و ينبغى أن ير تفع هذا الاثم باعادتها نهر. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۵۴۵ جلد ۱: باب سجود السهو)

وقال: الظاهر انه يشمل نحو مدافعة الاخبثين مما لم يوجب...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دَ ماسخوتن دَ فرضو فاسد کیدلو په صورت کښې دَ وترو دَ قضا حکم

سوال: علمائې دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ ادا والا وخت تیریدلو نه پس معلومه شوه چه دَماسخوتن په مونځ کښې صرف فرض مونځ فاسد شوې وو. اوس به دَقضاء په صورت کښې صرف دَ ماسخوتن فرض کوی او که دَ وترمونځ اعاده به هم کوی؟ دغه شان دَسنتوبه څه کیږی؟ یعنی دَ وترو سره به په دویم ځل کوی یا نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اکرام الحق راولپنډی ......۱۹/۰۱/۱۹۷۹ء.

الجواب: دَامام صاحب په نزد صرف دَفرضو اعاده ضروری ده او دَصاحبینو په نزد دَ وترو اعاده هم ضروری ده. ﴿۱﴾ اودَسنتو قضا دَهیچامذهب هم نه دي.

فی الهندیه ص ۵۳ جلد ا ولا یقدم الوتر علی العشاء لوجوب الترتیب لالان وقت الوتر لم یدخل حتی لو صلی الوتر قبل

(بقیه حاشیه) سجوداً اصلا وان النقص اذا دخل فی صلاة الامام ولم یجبر وجبت الاعادة علی المقتدی ایضا وانه یستثنی منه الجمعة والعید اذا ادیت مع کراهة التحریم الا اذا اعادها الامام والقوم جمیعاً فلیراجع.

(ردالمحتار ص۳۳۷ جلد ۱ مطلب کل صلاة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها)

﴿۱﴾قال الامام الکاسانی ان من صلی العشاء علی غیر وضوء وهو لا یعلم ثم توضأ فاوتر ثم تذکر اعاد صلوة العشاء بالاتفاق ولا یعید الوتر فی قول ابی حنیفة وعند هما یعید ووجه البناء علی هذا الاصل انه لما کان واجبا عند ابی حنیفة کان اصلاً بنفسه فی حق الوقت لاتبعاًللعشاء......الان تقدیم احدهما علی الاخر واجب حالة التذکر فعند النسیان یسقط.(بدائع الصنائع ص ۲۷۲ جلد ۱ باب الوتر)

وقال العلامه ابن نجیم قوله والعشاء والوتر منه الی الصبح ای وقتهما من غروب الشفق علی الخلاف فیه وکون وقتهما واحداً مذهب الامام وعند هما وقت الوتر بعد صلاة العشاء له حدیث ابی داود ان الله امدکم بصلاة هی خیر لکم من حمر النعم وهی الوتر فجعلها لکم فیما بین العشاء الیٰ طلوع الفجر ولهما مافی بعض طرقه فجعلها لکم فیما بین صلاة العشاء. الخ (البحر الرائق ص ۲۴۶ جلد ۱ کتاب الصلاة)

العشاء ناسیاً او صلاهما فظهر فساد العشاء دون الوتر فانه یصح الوتر ویعید العشاء وحدها عند ابی حنیفة لان الترتیب یسقط بمثل هذا العذر﴿۱﴾.وهو الموفق

دَ قنوتِ نازله طریقه او علت

سوال: علمائې دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه قنوت نازله دیو مصیبت سره خاص ده یا هروخت به وئیلې کیږی؟ دغه شان مقتدی به آمین په پټه وائی که په ښکاره؟ او لاس به په نامه ږدی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد جلندر دارالعلوم حقانیه

جواب : صرّح صاحب البحر وردالمحتار فی باب الوتر بمشروعیة القنوت فی الفجر بعدرکوع رکعة الثانیة وبتأمین المقتدی ای سراً کماهو الاصل عندنا.وهو مختص عندنا بنازلة وبلیة عامة کالطاعون والحروب کما صرحوابه ایضاًفلیراجع الی ردالمحتار ص ۶۲۸ جلد ۱ .﴿۲﴾ والا صل عند ابی حنیفة الوضع تحت السرة لکونه ذکراً طویلاً﴿۳﴾ولکن اختار بعض

﴿۱﴾(فتاویٰ عالمگیریه ص ۵۱ جلد ۱ المواقیت ومایتصل بها وفیه)

﴿۲﴾(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۹۶ جلد ۱ مطلب فی القنوت للنازلة)

﴿۳﴾وفی المنهاج (قوله الالنازلة)وبه ناخذذکره فقهاء نا عن الامام الطحاوی قالوا قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی انمالا یقنت عندنا فی صلوٰة الفجر من غیر بلیة فا ذاوقت فتنة اوبلیة فلا بأس به فعله رسول الله ﷺ......یقنت لنازلة فی صلوٰة الفجر فقط کما فی الا شباه عن الغایه ویؤیده ما فی شرح المنیة وقیل فی سائر الجهریة وقیل فی کل الصلوٰت وصرح الشرنبلالی انه بعد الرکوع وهو الاظهر واستظهر الحموی انه قبله.قالوا ان المقتدی یتابع امامه الا اذاجهر فیؤمن ولم یصرحوا بوضع الیدین وبالارسال لکن الا صل یرجح الوضع وهوان الوضع سنة قیام له قرار فیه ذکر مسنون فی ظاهر المذهب......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

....

العلماء الارسال رفعاً للاشتباه فليراجع الیٰ بوادر النوادر﴿۱﴾ وهوا لموفق

دَ قنوت نازله فی الفجر مسئله

سوال: مایقول العلماء فی القنوت فی الفجر بعد الرکوع فی الرکعة الثانیه .أمختص بالفجر ام لا؟وما کیفیته وطریقته؟بینوا توجروا

المستفتی: محمد حامد حقانی المتعلم بجامعة الحقانیه اکوړه خټک......۱٤۰۳ھ

جواب: اعلم ان مسئله القنوت النازلة فی الفجر طویلة الذیل لاهمة لنا لاستقصاء ها فلنکتف بقول واحد من اقوال الفقهاء.وهو انه مختص بالفجر کما فی الشامیه ص ٤۷۱جلد ۱ عن الاشباه عن الغایة وشرح المنیة.وصرح الشر نبلالی انه بعد الرکوع. والمقتدی یتابع امامه الا اذاجهر الامام فیؤمن المقتدی﴿۲﴾(ردالمحتار)ولم یصر حوابوضع الیدین والارسال.والقواعد تقتضی الوضع عندابی حنیفة لکونه ذکراً طویلا.والارسال عند صاحبیه لعدم قراء ة القرآن﴿۳﴾وهو الموفق

(بقیه حاشیه) وسنة قراء ة فی روایة عن محمد.واختار بعض الاکابر قول محمد رفعا للاشتباه وصونا عن تکرار الرکوع.(منهاج النسن شرح جامع السنن للترمذی ص ۲۷۹جلد۲باب ماجاء فی القنوت فی صلوٰةالفجر)

﴿۱﴾(بوادر النوادر ص ۳۷٤نوے وان نادره تحقیق ارسال یاوضع یدین درقنوت نازله)

﴿۲﴾(ردالمحتارهامش الدر المختار ص ٤۹٦جلد ۱ :مطلب فی القنوت للنازلة)

﴿۳﴾وفی المنهاج السنن :قالوا ان المقتدی یتابع امامه الا اذا جهر فیؤمن ولم یصر حوا بوضع الیدین وبالارسال لکن الاصل یرجح الوضع هو ان الوضع سنة قیام له قرار فیه ذکر مسنون فی ظاهر المذهب وسنة قراء فی روایة عن محمد، واختار بعض الاکابر قول محمد رفعاً للاشتباه وصونا عن تکرار الرکوع.

(منهاج السنن ص ۲۷۹جلد۲ باب ما جاء فی القنوت فی صلاة الفجر)

......

قنوت نازله به دَ سحر په دویم رکعت کښې دَ رکوع نه پس وئیلې کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ فجر دَمونځ په دویم رکعت کښې به قنوت نازلـه دَرکوع نه مخکښې وئیلې کیږی یا دَرکوع نه پس؟ او آیا صرف دَ سحر په مونځ کښې به وئیلې کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:مولاناحسین احمدعباسیه لکی مروت ۲۰صفرالمظفر۱٤۰۲ھ

جوب:دَمفتٰی به قول په بناء باندې قنوت نازله صرف دَسحر په مونځ کښې دَ دویم رکعت دَرکوع نه پس وئیلې کیږی.لمافی ردالمحتار ص٦۲۸جلد۱ وهو صریح فی ان قنوت النازله عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرهامن الصلوت الجهریه والسریة.﴿۱﴾ .امام به جهر کوی اومقتدیان به په دعائیه کلماتو باندې په پټه (سراً) آمین وائی.﴿۲﴾ .(شامی ص۲۲۸جلد ۱).وهوالموفق.

دَوترو په رکعتونو کښې دَنګ په صورت کښې دَ وترو دَمونځ کولو طریقه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ماوترکول کول،په دویم

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدر المختارص ٤۹٦جلد ۱ :مطلب فی القنوت للنازلة)

﴿۲﴾قال ابن عابد ین الشامی: والذی یظهرلی ان المقتدی یتابع امامه اذا جهر فیؤمن وانه یقنت بعد الرکوع لاقبله.(ردالحتار هامش الدرالمختار ص٤۹٦جلد ۱ مطلب فی القنوت للنازلة)

﴿۲﴾که دعائې قنوت مقتدیانوته یاد وی خوبهتره ده چه امام به په قلاره وایی .او ټول مقتدیان به هم په قلاره وائی اوکه مقتدیانو تـه یاد نـه وی لکه اکثرتجربه ددې شاهدده نوبهتر داده چه امام په زوره وایی اوټول مقتدیان په قلاره قلاره آمین وایی.

(کفایت المفتی ص٤٤۸ جلد۳ بیسوان باب قنوت نازله)

وقال الشرنبلالی: والمؤتم یقرأ القنوت کالامام علی الاصح ویخفی الامام والقوم هو الصحیح لکن استحب للامام الجهربه فی بلاد العجم لیتعلموه الخ.

(مراقی الفلاح ص ۳۸۲ باب الوتر واحکامه)

ركعت كښې مې شک راغې چه دا دويم ركعت دې يا دريم ركعت دې؟ داسې صورت كښې به مونځ كونكې څه كوي؟ آيا په دويم ځل به وتر كوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم.........

الجواب: په كوم ركعت كښې چه ئې شک راغلې وي په هغه ركعت كښې به دعائې قنوت وائي. او په هغه ركعت كښې به كيني قعده به كوي او په دريم ركعت كښې به په دويم ځل دعائې قنوت وائي او ركعت به پوره كوي او په آخره كښې به سجده سهو كوي. ﴿١﴾ (بحر، شامي، هنديه، خلاصة الفتاوى) وهو الموفق

دَ مقتدي د پاره دَ دعائې قنوت دَ پوره كولو نه بغير په ركوع كښې دَ تللو حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په رمضان كښې كه مقتدي په وترو كښې څه دعائې قنوت وئيلې دې او څه باقي دې يا دَغلط كيدلو نه پس ئې په دويم ځل وئيلو چه امام ركوع ته لاړو. اوس به مقتدي قنوت پوره كوي يا ركوع ته به ځي؟ او كه دَامام نه قنوت پاتې شو او ركوع ته لاړو نو مقتدي به څه كوي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم........

الجواب: كه مقتدي ته دَركوع دَفوت كيدلو خطره وي نو ركوع ته دې لاړ شي او دَامام متابعت دې اوكړي او كه دَركوع ملاويدلو امكان وي نو دومره

﴿١﴾ وفى الهنديه: لو شک احد فى الوتر انه فى الاولىٰ او الثانية او الثالثة فانه يقنت فى الركعة التى هو فيها ثم يقعد ثم يقوم فيصلى ركعتين بقعدتين ويقنت فيهما احتياطاً وفى قول آخر لا يقنت فى الكل اصلاً والاول اصح لان القنوت واجب وما تردد بين الواجب والبدعة يأتى به احتياطاً كذا فى المحيط.

(فتاوىٰ عالمگيريه ص ١١١ جلد ١ باب الوتر)

(وهكذا فى البحر الرائق ص ٤١ جلد ٢ باب الوتر والنوافل)

دعائې قنوت دې اووائي او ركوع ته دې لاړ شي. چه دَ دواړو اعمالو رعايت لحاظ) اوساتلې شي. ﴿١﴾ (شامي). ﴿٢﴾ وهو الموفق.

دَ وترو آخري ركعت موندونكي دپاره دَ دعائې قنوت وئيلو حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي!

(١) چه يو سړې دَ وترو په دريم ركعت كښې دَامام سره شريک شو. او دعائې قنوت ئې دَامام سره اووې. نو اوس به په باقي مونځ كښې دعائې قنوت وائي كه نه؟ (٢) مقتدي دَ وترو دَ دريم ركعت په ركوع كښې امام اوموندلو او ده دعائې قنوت نه دې وئيلې نو ده دپاره په دويم ځل دَقنوت لوستلو څه حكم دې؟ بينوا توجروا.

المستفتي: عبدالله مردان.

الجواب: په دواړو صورتونو كښې دې مسبوق باندې قنوت لوستل ضروري نه دي. په اولني صورت كښې دعائې قنوت حقيقتاً او په دويم صورت كښې حُكماً ادا شو. (كمافى الشامى ص ١٠ جلد ٢). ﴿٢﴾. وهو الموفق.

﴿١﴾ قال الامام طاهر البخارى: فلو ركع الامام فى الوتر قبل ان يفرغ المقتدى من القنوت فانه يتابع الامام ولو ركع الامام ولم يقرأ القنوت، يقرأ المقتدى من القنوت شيئاً ان خاف الركوع فانه يركع وان كان لا يخاف يقنت ثم يركع. (خلاصة الفتاوىٰ ص ١٢٠ جلد ١ النوع من يتابع الامام)

﴿٢﴾ قال ابن عابدين: (قوله قطعه وتابعه) لان المراد بالقنوت هنا الدعاء الصادق على القليل والكثير وما اتى به منه كاف فى سقوط الواجب وتكميله مندوب والمتابعه واجب فيترک المندوب للواجب (قوله ولو لم يقرأ) اى لو ركع الامام ولم يقرأ المقتدى شيئاً من القنوت ان خاف فوت الركوع يركع والا يقنت ثم يركع الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٤٩٥ جلد ١ قبيل مطلب فى القنوت للنازلة)

﴿٣﴾ قال الحصكفى: واما المسبوق فيقنت مع امامه فقط ويصير مدركا بادراک ركوع الثالثة، قال ابن عابدين: لانه آخر صلاته وما يقضيه اولها حكما فى حق القراءة وما اشبهها وهو القنوت واذا وقع قنوته فى موضعه بيقين لا يكرر لان تكراره غير مشروع شرح المنية.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٤٩٦ جلد ١ قبيل مطلب فى القنوت للنازلة)

باب السنن والنوافل

سنت غیرموکده ئې دَ مازیګر په مونځ کښې شریک کیدلو په وجه مات کړل روستو کول ئې مکروه تحریمی دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی کـ ـ ـ مازیګر دَمانځه نه مخکښې دَغیرموکده سنتونیت تړلې وو دَ مازیګر جماعت شروع کیدلو په وجه ئې مونځ مات کړو. اوس خوپرې دا واجب شوې دی نو که ده دَ مازیګر دَجماعت نه پس دامونځ ادا کړو نومکروه تحریمی دی یا تنزیهی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق ډی ۵۵۲ راولپنډی.....۱۹۲۹ء/۱/۱۹.

الجواب: چونکه په ده باندې اعاده واجب لغیره ده. واجب اصلی نه ده. لهذا دَدې مونځ ادا کول دَمازیګر نه پس مکروه تحریمی دی.﴿۱﴾.

قال فی الدر المختار وکره نفل وکل ماکان واجباً لا لعینه بل لغیره کمنذور والذی شرع فیه فی وقت مستحب او مکروه ثم افسده ولوسنة الفجر بعد صلوٰة الفجر وصلوٰة العصر انتهیٰ مختصراً وقال العلامة الشامی فی ردالمحتار ص ۲۵۱ جلد۱ والکراهة ههنا تحریمیةایضاً کما صرح به فی الحلیة﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال فی الهندیه: لو افتتح صلوٰة النفل فی وقت مستحب ثم افسدها فقضائها بعد صلوٰة العصر قبل مغیب الشمس لایجزیه هکذا فی محیط السرخسی.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۵۳ جلد ۱ بیان الاوقات التی لا تجوز فیها الصلاة وتکره فیها)

﴿۲﴾ الدر المختار مع ردالمحتار ص ۲۷۶ جلد ۱ کتاب الصلاة)

فرض مونځ ادا کولو نه پس په دویم ځل فرض مونځ کښې شرکت خالص نفل دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوسړې دَماسپښین فرض مونځ اوکړې او په دویم ځل دَماسپښین په مونځ کښې شرکت کوی نو په دویم ځل باندې دې مونځ کښې شرکت کول به دَنفل په حیثیت سره وی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اکرام الحق ډی نمبر ۵۵۲ راولپنډی.....۳۰/محرم ۱۳۸۸ء

الجواب: په دویم ځل کول خالص نفل دی.﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَ ملازمت دَ وجې نه مونځ قضا کول په دویم جماعت کښې اقامت او دَ تهجدو په نیت کښې دَ مونځ تعین

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی.﴿۱﴾ چه په فیکټرئ کښې دکافر سره ملازمت دې دَمونځ دپاره وخت نه ملاویږی کتلو کښې مونځونه قضا کیږی جمعه هم متواتر(پرله پسې) قضا وی. داملازمت کول څنګه دی؟﴿۲﴾ په دویم جماعت کښې اقامت شته یا نه؟﴿۳﴾ دَ تهجدو په مونځ کښې به په نیت کښې سنت یا نفل یا تهجد کوم لفظ استعمالوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا فخرالدین برمنګهم انګلینډ.........۱۹۷۲ء/۸/۱۵

الجواب:(۱). کومه نوکرئ کښې چه دَمونځ اجازت نه وی هغه نوکری حرامه ده.﴿۲﴾ .(۲) په جمات کښې اقامت کول نه دی پکار او په غیرجمات کښې کول پکار دی.﴿۳﴾

﴿۱﴾وفی الهندیه: فان کان قد صلی مرة ففی العشاء والظهر لا بأس بالخروج (من المسجد) ما لم یأخذ الموذن فی الاقامة فان اخذ فی الاقامة لم یخرج حتی قضاهما تطوعا.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۲۰ جلد ۱ باب ادراک الفریضة

﴿۲﴾ وعن النواس بن سمعان قال قال رسول الله ﷺ لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق رواه فی شرح السنة. (مشکواة المصابیح ص ۳۲۱ جلد ۱ کتاب الامارة و القضاء الفصل الثانی)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: ویکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان و اقامة الا اذا صلی بهما فیه اولا غیر اهله او اهله لکن بمخالفتة الاذان ولو کرره..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۳) تهجد دَسنتو ،صلوة اللیل یا نفل، دَتهجدو مونځ په ټولو نیتونو سره کول جائز دی. وهو الموفق.

دَ جمعې اته (۸) رکعتونه سنتِ موکده او دوه رکعتونه مستحب دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَجمعې دَورځې لس (۱۰) رکعتونه سنتِ موکده دی یا غیر موکده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: منصف شاه ګدر مردان......۵/دسمبر ۱۹۷۴ء.

الجواب: دَامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد اته (۸) رکعته سنتِ موکده دی او باقی دوه رکعته مستحب دی.《۱》. خو کول ئې بهتر دی، صرح به فی جمیع کتب الفتاوی.《۲》 وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) اهله بدونهما او کان مسجد طریق جاز اجماعا کمافی مسجد لیس له امام ولا مؤذن ویصلی الناس فیه فوجاً فوجاً فان الافضل ان یصلی کل فریق باذان واقامة علی حدة کما فی امالی قاضی خان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۸ جلد ۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)

《۱》 قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: والدلیل علی استنان الاربع قبل الجمعة ماروا ه مسلم مرفوعا من کان مصلیا قبل الجمعة فلیصل اربعا مع ماروا ه ابن ماجه عن ابن عباس قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یرکع من قبل الجمعة اربعا لا یفصل فی شئ منهن وعلی استنان الاربع بعدها ما فی صحیح مسلم عن ابی هریرة مرفوعاً اذا صلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها اربعا وفی روایة اذا صلیتم بعد الجمعة فصلوا اربعا وذکر فی البدائع انه ظاهر الروایة وعن ابی یوسف انه ینبغی ان یصلی اربعا ثم رکعتین.

(البحر الرائق ص ۴۹ جلد ۲ باب الوتر والنوافل)

《۲》 قال العلامه ابراهیم الحلبی: والافضل ان یصلی اربعاً ثم رکعتین للخروج عن الخلاف. (غنیة المستملی ص ۳۷۳ فصل فی النوافل)

دَ ماسپښین څلور رکعته چه پاتې شی نو دوه رکعتونه ئې پس کول راجح دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَظهر اولنی څلور رکعته سنت پاتې شی نو دَفرضو نه فوراً پس یا دوه رکعتونه پس به ئې ادا کوی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: منصف شاه ګدر مردان.........۲/ذی قعده ۱۳۹۴ھ.

الجواب: دې مسئله کښې توسع ده. محققینو علماؤ ابن الهمام وغیره دَحدیث په وجه دَ دوه رکعتونو مخکښ کولو ته ترجیح ورکړې. 《۱》. والحدیث رواه الترمذی وابن ماجه. 《۲》. وهوالموفق.

دَ فجر په مونځ کښې به دَ امام دَ قرأت اوریدلو په وجه سنت نه پریخودلې کیږی

الجواب: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جمات کښې دَ فجر دَ مونځ قرات کیږی نو دَجمات په حدود کښې (یعنی جمات کښې دننه) سنت کول په جماعت کښې دَشریک کیدلو نه افضل دی یا سنت پریخودل او امام پسې جماعت کښې شاملیدل افضل دی؟ جمات دَ حدود نه مراد دَجمات هغه علاقه چه عام طور سره په هغې کښې مونځ کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد جان نوشهره کلان ....۱۹۸۵ء/۲۲/۱۰.

《۱》 قال العلامة ابن الهمام: (قوله وانما الخلاف) فعند ابی یوسف بعد الرکعتین وهو قول ابی حنیفةؒ وعلی قول محمد قبلهما وقیل الخلاف علی عکسه والاولیٰ تقدیم الرکعتین لان الاربع فاتت عن الموضع المسنون فلا تفوت الرکعتان ایضا عن موضعهما قصدا بلا ضرورة. (فتح القدیر ص ۴۱۵ جلد ۱ باب ادراک الفریضة)

《۲》 عن عائشة ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا لم یصل اربعا قبل الظهر صلاهن بعدها (ترمذی) وفی منهاج السنن: ای بعد الظهر وبعد الرکعتین ، ففی روایة ابن ماجة کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاهن بعد الرکعتین بعد الظهر وهو قول ابی یوسف ونسب الی ابی حنیفة وفی فتاویٰ العتابی ی انه المختار وفی مبسوط شیخ الاسلام انه الاصح ورجحه ابن الهمام.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۱۹۴ جلد ۲ باب ماجاء فی الرکعتین بعد الظهر)

الجواب: فقهائي کرامو په جمات کښې دَفجرسنت (دَجماعت دَقیام په دوران کښې) مکروه لیکلي دي.لیکن دا ئې نه دی لیکلي چه سنت مه کوئ بلکه دا ئې لیکلي دي چه حائل وغیره وی نو کوئ ئې.دا "اهون البلیتین" دي اودَترک (اومخالطت) په نسبت افضل دي.﴿۱﴾ وهو الموفق.

دَمازیګر دَڅلور رکعتونو سنت وخت

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَمازیګر دَڅلور رکعتونو چه کوم فضیلت دې دا قبل وقت العصر دې یا بعدوقت العصر؟

بینوا توجروا.

المستفتی: محمد جمال c/o محمد اقبال جی پی او پشارو ..۲/شعبان ۱۳۹۷ھ.

الجواب: په مشکوٰة شریف کښې دی ,,رحم الله امرء صلی قبل العصر اربعاً،، (رواه احمد والترمذی وابوداؤد).﴿۲﴾ .بهرحال دَدې وخت دَ فرضونه مخکښې او دَعصر دَوخت داخلیدو نه پس دې .وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله والاترکها) قال فی الفتح وعلی هذا ای علی کراهة صلاتها فی المسجد ینبغی ان لا یصلی فیه اذا لم یکن عند بابه مکان لان ترک المکروه مقدم علی فعل السنة غیر ان الکراهة تتفاوت فان کان الامام فی الصیفی فصلاته ایاها فی الشتوی اخف من صلاتها فی الصیفی وعکسه واشد مایکون کراهة ان یصلیها مخالطا للصف کما یفعله کثیر من الجهلة، والحاصل ان السنة فی سنة الفجر ان یأتی بها فی بیته والا فان کان عند باب المسجد مکان صلاها فیه والا صلاها فی الشتوی او الصیفی ان کان للمسجد موضعان والا فخلف الصفوف عند ساریة لکن فیما اذا کان للمسجد موضعان والامام فی احدهما ذکر فی المحیط انه قیل لا یکره لعدم مخالفة القوم وقیل یکره لانهما کمکان واحد قال: فاذا اختلف المشائخ فیه فالافضل ان لا یفعل قال فی النهر وفیه افادة انها تنزیهیة، لکن فی الحلیة قلت وعدم الکراهة اوجه للاثار التی ذکرناها ثم هذا کله اذا کان الامام فی الصلاة اما قبل الشروع فیأتی بها فی ای موضع شاء.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۳۰ جلد ۱ باب ادراک الفریضة)

﴿۲﴾ (مشکواة المصابیح ص ۱۰۴ جلد ۱ باب السنن وفضائلها الفصل الثانی)

دَ مونځ نه پس صرف سجده کول مکروه دی

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق دَمونځ نه پس صرف سجده کوی آیا دا جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: بهادر زیب چکدره دیرسټیټ......۱۷/جولائی ۱۹۷۹ء.

الجواب: دَمونځ نه پس سجده مناجات کول مکروه دی.

کمافی شرح الکبیر وما یفعل عقیب الصلوٰة فمکروه لان الجهال یعتقدونها سنة او واجبة﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ ماسپښین دَ دوه(۲) سنتو سره دوه نفل یوځائې کول

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زید دَماسپښین آخرنی دوه رکعتونه کول په آخرنی قعده کښې دَتشهد وئیلو نه مخکښې پاسیدلو او دوه رکعته نفل ئې ورسره یوځائې کړل نوآیا دا طریقه صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: خیرالبشرمدینه مډیسنزنوشهره..........۱۹۸۷ء/۳/۹.

الجواب: د ماسپخین یا ماسخوتن وغیره په سنتوباندې دَنفل بناکول صحیح دی. کمافی ردالمحتار ص ۴۷۲ جلد ۱ وغیره، فلیراجع.﴿۲﴾ .والله اعلم.

﴿۱﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۵۲۹ فصل فی مسائل شتیٰ)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: (قوله لان کل شفع منه صلاة) لتمکنه من الخروج علی رأس الرکعتین فاذا قام الی شفع آخر کان بانیا صلاة علی تحریمة صلاة ومن ثم صرحوا بانه لو نوی اربعا لا یجب علیه بتحریمتها سوی الرکعتین فی المشهور عن اصحابنا وان القیام الی الثالثة بمنزلة مبتدأة حتی ان فساد الشفع الثانی لا یوجب فساد الشفع الاول الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۳۹ جلد ۱ مطلب کل شفع من النفل صلاة)

دَ سنت قبل الظهراو فرضوپه مینځ کښې نفل کول او دَ مونځ ګزارو مخې ته تیریدل

سوال: محترم المقام حضرت مفتی صاحب مدظله العالی! عرض دا دې(۱) چه یوځل ما دَ حقانیې په جمات کښې قبل الظهرسنت ادا کړل اودَجماعت په انتظارکښې کیناستم دې دوران کښې ماتاسو صاحبان اولیدلئ چه تاسو تیزئ سره اولنی صف ته راغلئ او دوه رکعته مو اوکړل نو په دې دوه رکعتونو سره حیران شوم او زړه کښې می وئیل چه دا دوه رکعته سنت ظهر دی یا سنت ئې مخکښې خپل کور کښې کړی دی او دا دوه رکعته نفل دی. بهرحال سوال دا دې که دا دوه رکعته نفل دی نوپه کوم حدیث سره دَسنت قبل الظهر او فرضو په مینځ کښې دَنفلو جواز معلومیږی. دا رنګې که یو سړې امام وی نو هغه دپاره داجائز دې چه سنت قبل الظهر ادا نه کړی او خلقو ته امامت اوکړی. اګر چه په وخت کښې تنګی هم نه وی.

بین لنا بیانا شافیاً کی یبعد التردد من قلبی بارک الله فی الدنیا والاخرة وانتم مقتدی الناس فی الاحادیث فی هذالزمان. (۲)وهکذا رئیت فی مسجد الحقانیه الطلبة الکرام یمرون امام المصلین ایجوز هذا ام لا. بینواتوجروا

المستفتی:عبدالله نوشهره............ ۲۷/اګست ۱۹۸۴ء.

جواب: (۱) اصلی سنة الظهر القبلیة فی البیت واصلی فی المسجد تحیة المسجد ولم یمنع احد من الفقهاء من التطوع فی هذا الوقت وورد فی روایة انه علیه السلام صلها علی توجیه﴿۱﴾. (۲) والمرور بین یدی المصلی ممنوع الا فی المسجد الکبیر

﴿۱﴾قال العلامة ابن الهمام: فالاولی الاستدلال بمجموع حدیثین حدیث ابن عمر حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم عشر رکعات رکعتین قبل الظهر ورکعتین بعدها ورکعتین بعد المغرب فی بیته ورکعتین بعد العشاء ورکعتین قبل صلاة الصبح وحدیث عائشه انه صلی الله علیه وسلم کان لایدع اربعا قبل الظهر ورکعتین قبل الغداةبناء علی الجمع بینهما اما بان الاربع کان یصلیها فی بیته فاتفق عدم علم ابن عمر بهن وان علم غیرها مما صلی فی بیته لانه صلی الله علیه وسلم کان یصلی الکل فی البیت ثم کان یصلی رکعتین تحیة المسجد. (فتح القدیر ص ۳۸۶ جلد ۱ باب النوافل)

کما صرحوا فانه یجوز المرور فیه فی ماوراء موضع السجود﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ حفظ القرن والا مونځ ثابت دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو کتاب په صفحه ۱۴۲ نه ۱۴۴ پورې دَحفظ القران مونځ لیکلې شوې دې. دَنمونې دپاره دوه پاڼې درلیږم. چه دَهغې په سند کښې دَحصن حصین حواله ورکړې شوې ده، لیکن په ترجمه د حصن حصین کښې ماته داحواله ملاؤنه شوه. آیا چرته په بل کتاب کښې ددې ثبوت شته دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی:اکرام الحق غفرله.........

الجواب: داحدیث په ترمذی جلدثانی ص ۵۱۳ باندې لیکلې شوې دې﴿۲﴾ فقط

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وان کره مرور مار فی الصحراء اوفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مروره بین یدیه الی حائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعة واحدة مطلقا. (الدر المختارعلی هامش ردالمحتار ۴۶۹ جلد ۱ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

﴿۲﴾عن ابن عباس انه قال بینما نحن عند رسول الله صلی الله علیه وسلم اذ جاءه علی ابن ابی طالب فقال بابی انت وامی تفلّت هذاالقرآن من صدری فما اجدنی اقدر علیه فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم یا ابالحسن افلا اعلمک کلمات ینفعک الله بهن وینفع بهن من علمته ویثبت ما تعلمت فی صدرک قال اجل یا رسول الله فعلمنی قال اذا کان لیلة الجمعة فان استطعت ان تقوم فی ثلث اللیل الآخر فانها ساعة مشهودة والدعاء فیها مستجاب وقد قال اخی یعقوب لبنیه سوف استغفرلکم ربی یقول حتی تاتی لیلة الجمعة فان لم تستطع فقم فی وسطها فان لم تستطع فقم فی اولها فصل اربع رکعات تقرأ فی الرکعة الاولیٰ بفاتحة الکتاب وسورة یٰس وفی الرکعة الثانیة بفاتحة الکتاب وحم الدخان وفی الرکعة الثالثه بفاتحه الکتاب والم تنزیل السجدة وفی الرکعة الرابعة بفاتحة الکتاب وتبارک الملک المفصل فاذا فرغت من التشهد فاحمد الله واحسن الثناء علی الله وصل علی واحسن وعلی سائر النبیین الخ.
(سنن ترمذی ص ۱۹۶ جلد۲ ابواب الدعوات باب فی دعاء الحفظ)

"صلاة معکوس" مونځ نه دي بلکه يوه مجاهده اومعالجه ده

سوال: صلاة معکوس جائزدي يا نه؟ اودَ صلاة معکوس طريقه څه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي رحمت کريم ډاک اسماعيل خيل نوشهره. يکم ذالحجه ۱۳۸۶ء

الجواب: دَصلاة معکوس متعلق په امدادالفتاوی ص ۲۸۹ جلد نمبر ۱ کښې دی چه دې ته "صلاة مجازاً" وئيلې کيديشی. په اصل کښې دا يوه مجاهده او يوه معالجه ده. اودَمعالجې دپاره منقول او ماثور کيدل ضروري نه دی اګرچه منهی عنه نه کيدل ورته ضروری دی. ﴿۱﴾

نوټ: ددې تذکره په "القول الجميل" کښې موجود ده. ﴿۲﴾ . وهوالموفق.

دَ فجر دَ سنتو قضا افضل ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په راوالپنډی کښې يو صاحب دَ تقريردوران کښې دا اووئيل چه که چرته دَسحردفرضو دَوجې نه سنت پاتې شی نوهغه بعد الفرض کول پکار دی اوبعضې علماؤ نه اوريدلې شوې دی چه ددې بالکل اعاده نشته نو ددې شرعی حکم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: اکرم خان هنګوضلع کوهاټ............۵/۹/۱۹۸۷ء

الجواب: بهترداده چه داسنت دَنمرختلونه پس قضا اوکړې شی. اوپاتې شوې سنت قبل طلوع الشمس ادا کول مکروه دی. وهوقول محمدومالک واحمد و

﴿۱﴾(امداد الفتاویٰ ص ۳۱۰ قبيل فصل فی التراويح)

﴿۲﴾قال الامام ولی الله الدهلوی وللجشتية صلوٰة تسمّى صلوٰة المعكوس لم نجد من السنة ولا اقوال الفقهاء ما نشدها به فلذلك حذفناها والعلم عند الله .

(القول الجميل مع شفاء العليل ص ۷۲ الفصل الخامس)

الشافعی فی قوله القديم ولا تقضى عندابی حنيفة والتفصيل فی الفقه﴿۱﴾وشروح الاحاديث.﴿۲﴾ والموفق

دَ ماسپښين مخکښې سنت به دَ دوه رکعتو نه پس ادا کولې شی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَيو سړی نه دَ ماسپښين سننِ قبليه پاتې شی نودَجماعت نه پس به دا سنت دَ دوه رکعتونو نه پس ادا کولې شی يا مخکښې. وقدذکروافی کتب الفقه الاختلاف فی تقديمها وتاخيرها؟ بينوا توجروا.

المستفتي: محمد سرورافغاني.........۳۱/مئ ۱۹۷۵ء.

الجواب: په دې تقديم او تاخيرکښې توسع ده البته دَمحققينو په نزد به دوه رکعته مخکښې ادا کولې شی.

کما فی الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۶۷۳ جلد ۱ ثم يأتی بها علی انها سنة فی وقته الظهر قبل شفعه عند محمد وبه يفتی، قال العلامة الشامی اقول وعليه المتون

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله ولا يقضيها الا بطريق التبعية) ای لا يقضی سنة الفجر الااذا فاتت مع الفجر فيقضيها تبعا لقضائه لو قبل الزوال واما اذا فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد احب الى ان يقضيها الى الزوال كما فی الدرر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۳۰ جلد ۱ باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾وفی المنهاج: اتفق ابوحنيفة وصاحباه علی انه لا يصلی ركعتی الفجر قبل طلوع الشمس، واختلفوا هل يصليهما بعد طلوع الشمس ام لا، فقال محمد نعم وهو مذهب مالک واحمد وقال به الشافعی فی قوله القديم وقال فی الجديد يصليهما بعد صلوٰة الصبح قبل طلوع الشمس واحتج بحديث الباب، ولنا احاديث النهی عن الصلوٰة بعد الصبح والعصر وهی احاديث صحيحة مشهورة بل متواترة وكذا هی محرمة من قبيل التشريع العام بخلاف حديث الباب فانه منقطع لم يسمع محمد بن ابراهيم عن قيس جد سعد بن سعيد.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۹۲ جلد۲ باب فيمن تفوته الركعتان قبل الفجر)

لاکن رجح فی الفتح تقدیم الرکعتین قال فی الامداد وفی فتاویٰ العتابی انه المختار وفی مبسوط شیخ الاسلام انه الاصح لحدیث عائشة رضی الله عنها انه علیه السلام کان اذا فاتته الاربع قبل الظهر یصلیهن بعد الرکعتین وهو قول ابی حنیفة وکذا فی جامع قاضی خان، والحدیث قال الترمذی حسن غریب انتهیٰ ﴿۱﴾ قلت فاذا ورد فیه انه قول الامام وکذا ورد فی الحدیث لفظ کان فالاول هو العمل علیه. وهو الموفق

په ناسته نفل کول،سنن رواتب پریخودل او دَ ضرورت په وخت کښې مونځ ماتول

سوال: علمائې دین لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائی!

(۱) نفل په ناسته کول صحیح دی یا په ولاړه باندې؟

(۲) عام طورچه دَمونځ نه مخکښې یا روستو کوم سنت وی موکده یا غیر موکده یانفل که دا اونه کړې شی نو آیا مونځ ته څه نقصان رسیږی؟

(۳) سنت او فرض په کوم حالت کښې ماتول جائز دی.که والدین آواز اوکړی نو سنت یا فرض ماتول به جائز وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: میران شان ختک.............۱۹۷۹ء/۵/۴

الجواب: (۱) په ناسته نفل کول جائز دی البته دَولاړې په نسبت نیم ثواب لری. کمافی حدیث صحیح رواه ابوداؤد وغیره.﴿۲﴾ .

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۳۱ جلد ۱ قبیل باب قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ عن عمران ابن حصین انه سأل النبی ﷺ عن صلوٰة الرجل قاعداً فقال صلوته قائما افضل من صلوته قاعداً وصلوته قاعداً علی النصف من صلوته قائما وصلوته نائما علی النصف من صلوته قاعداً.

(سنن ابی داؤد ص ۱۴۴ جلد ۱ باب فی صلوٰة القاعد)

(۲) سنت کول دَثواب باعث دی په نه کولو کښې ئې عتاب دې بلکه عقاب دې (شامی).﴿۱﴾ .(۳) که والدین یا اجداد (نیکونه) صرف آواز اوکړی نو نفل ماتول جائز دی او فرض ماتول جائز نه دی البته که مدد طلب کول غواړی نو ماتول (دَفرضو) جائز دی.(شامی جلد ۱).وهوالموفق.

دَ ډیوټئ په دوران کښې نفل ادا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ملازمین دَ ډیوټئ په دوران کښې دَفرض مونځ نه علاوه نفل مونځ یا تلاوت قرآن مجید کولې شی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: جی ایم خلیل الرحمن پریمیئرتوبیکوانډسټریزجهانګیره ۱۹۸۷ء/۱۱/۱۵

﴿۱﴾ قال العلائی : (قوله وحکمها ما یوجر علی فعله ویلام علی ترکه) ای یعاتب بالتاء لا یعاقب کما افاده فی البحر والنهر لکن فی التلویح ترک السنة المؤکدة قریب من الحرام یستحق حرمان الشفاعة لقوله علیه السلام من ترک سنتی لم ینل شفاعتی، وفی التحریر ان تارکها یستوجب التضلیل واللوم والمراد الترک بلا عذر علی سبیل الاصرار کما فی شرح التحریر لابن امیر حاج...... وفی البحر من باب صفة الصلاة الذی یظهر من کلام اهل المذهب ان الاسم منوط بترک الواجب او السنة الموکدة علی الصحیح لتصریحهم بان من ترک سنن الصلوٰت الخمس قیل لا یاثم والصحیح انه یاثم ذکره فی فتح القدیر وتصریحهم بالاثم لمن ترک الجماعة مع انها سنة موکدة علی الصحیح وکذا فی نظائره الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۷۷ جلد ۱ قبیل مطلب ان الاصل فی الاشیاء الاباحة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولو دعاه احد ابویه فی الفرض لا یجیبه الا ان یستغیث به وفی النفل ان علم انه فی الصلاة فدعاه لا یجیبه والا اجابه، قال ابن عابدین رحمه الله: (قوله الا ان یستغیث به) ای یطلب منه الغوث والاعانة وظاهره ولو فی امر غیره مهلک واستغاثه غیر الابوین کذلک والحاصل ان المصلی متی سمع احدا یستغیث وان لم یقصده بالنداء او کان اجنبیا وان لم ماحل به او علم وکان له قدرة علی اعانته وتخلیصه وجب علیه اعانته وقطع الصلاة فرضا کانت او غیره. (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ص ۵۲۶ جلد ۱ مطلب قطع الصلاة یکون حراما ومباحا ومستحبا وواجبا باب ادراک الفریضة)

الجواب: دَ ډیوټئ په دوران کښې نفل کول او تلاوت کول ممنوع دی.

قال فی الشامیه ص ۵۹ جلد ۵ تحت قوله(ولیس للخاص ان یعمل لغیره)بل ولا ان یصلی النافلة قال فی التتار خانیه وفی فتاویٰ الفضلی واذا استاجر رجلا یوما یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک العمل الی تمام المدة ولا یشتغل بشئ آخر سوی المکتوبة وفی فتاویٰ سمرقندیه وقد قال بعض مشائخنا له ان یؤدی السنة ایضا واتفقوا انه لا یؤدی نفلاً﴿۱﴾. وهو الموفق

په ورځ شپه دواړو کښې نفل ثابت دی بدعت نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په اسلام کښې نوافل په ورځ کښې هم دی یا صرف دَشپې په وخت کښې دی؟ اوځوک چه نوافل نهار ته بدعت وائی او کونکوته ئې ریاکار وائی آیا دَهغوی داقول صحیح دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم..........

الجواب: دَفقهاؤ په کتابونو کښې په "ابواب الوتر والنوافل" کښې او دَاحادیثو په کتابونو کښې په "باب السنن" کښې دَ نوافل النهار تفصیل موجود دې﴿۲﴾ دیته بدعت وئیلو والا جاهل دې. او ریا خو په فرض مونځ کښې هم حرامه ده. وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸ جلد۵ مطلب لیس للاجیر الخاص ان یصلی النافلة مبحث الاجیر الخاص)

﴿۲﴾ قال العلامه شرنبلالی: وندب رکعتان بعد الوضوء قبل جفافه لقوله علیه السلام: مامن مسلم یتوضأ فیحسن وضوءه ثم یقوم فیصلی رکعتین یقبل علیها بقلبه الا وجبت له الجنة رواه مسلم کذا فی البرهان وندب صلاة الضحیٰ علی الراجح وهی اربع رکعات لما رويناه قريبا عن عائشة رضی الله عنها وانه علیه السلام کان یصلی الضحیٰ اربعا ولا یفصل بینهما بسلام، ولما فی صحیح مسلم عن عائشه رضی الله عنها انه...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ ماښام دَ سنتو سره دوه رکعته نفل کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ ځائې کښې دَبعضې خلقو دا معمول دې چه دَماښام دوه رکعته سنتو نیت اوتړی اوڅلور رکعته اوکړی. اونیت دَدوه رکعتونو وی. اوپه دې څلور رکعتونو کښې آخرنی دوه رکعته په ناسته باندې کوی. آیا داسې کول صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شادمحمد خان سرډهیری چارسده......... ۵/۷/۱۹۸۲ء

الجواب: دَقواعدو په رڼا کښې دا جائز دی لیکن افضل نه دی. افضل دا دی چه نفل په ولاړه اوکړی. (شامی ص۴۸۹ جلد ۱). وهو الموفق

(بقیه حاشیه) علیه السلام کان یصلی الضحیٰ اربع رکعات ویزید مایشاء فلذا قلنا: ندب اربع فصاعداً الی اثنتی عشره رکعة لما روی الطبرانی فی الکبیر عن ابی الدرداء قال قال رسول اللهﷺ من صلی الضحیٰ رکعتین لم یکتب من الغافلین ومن صلی ستا کفی ذلک الیوم ومن صلی ثمانیة کتبه الله من القانتین ومن صلی اثنتی عشرة رکعة بنی الله له بیتا فی الجنة...... وندب صلاة اللیل خصوصاً آخره الخ.

(امداد الفتاح شرح نور الایضاح ص۴۳۸ فصل فی صلاة الضحیٰ واحیاء اللیالی)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعدا لا مضطجعا الا بعذر ابتداء وکذا بناء بعد الشروع بلا کراهة فی الاصح کعکسه.

(الدر المختار علی هامش ردالمختار ص۵۱۵ جلد ۱ باب الوتر والنوافل)

.....

فصل فی التهجد وصلاة التسبیح

په تهجد کښې طول قیام افضل دې یا دَ رکعتونو شمیر؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَتهجدو په مونځ کښې طولِ قیام افضل دې یا دَرکعتونو شمیر؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی محمد........ ۱۹۷۴ء/۴/۲.

الجواب: طول قیام افضل دې.﴿۱﴾ .لیکن په دوه رکعته تهجدباندې اکتفاء کول فعلِ رسول ﷺ هم دې.﴿۲﴾ .وهو الموفق.

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدین: اختلف النقل عن محمد فی هذه المسئلةفنقل الطحاوی عنه فی شرح الآثار ا ن طول القیام احب ونقل فی المجتبی عنه العکس ونقل عن ابی یوسف انه فصل فقال اذا کان له ورد من اللیل بقراء ة من القرآن فالا فضل ان یکثر عدد الرکعات والافطول القیام افضل لان القیام فی الاول لایختلف ویضم الیه زیادة الرکوع والسجود.........قال اصحابنا طول القیام افضل وقاضی الشافعی کثرةالصلاة افضل والصحیح قولنا ثم قال وروی عن ابی یوسف انه قال الیٰ اخرما مروظاهر کلامه ان هذا قول ائمتنا الثلاثة حیث لم یتعرض الا لخلاف الشافعی ویؤید ہ مامر عن الطحاوی. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۰۱ جلد ۱ قبیل مطلب قولهم کل شفع من النفل صلاه الخ)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین : (قوله وأقلها علی مافی الجوهرة ثمان)قید بقوله علی مافی الجوهرة لانه فی الحاوی القدسی قال یصلی ماسهل علیه ولو رکعتین والسنة فیها ثمان رکعات باربع تسلیمات. والتقیید باربع تسلیمات مبنی علی قول الصاحبین وأماعلی قول الامام فلا کما ذکره فی الحلیة وقال فیها أیضا وهذا بناء علی أن أقل تهجد ہ صلی الله علیه وسلم کان رکعتین وأن منتهاه ثمانی رکعات أخذممافی مبسوط السرخسی ثم ساق تبعا لشیخه المحقق ابن الهمام الاحادیث الدالةعلی ما عینه فی (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ نفل او تهجد لغوی معنی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَنفلو او تهجدو لغوی معنی څه ده؟ واضحه ئې کړئ! بینوا توجروا.

المستفتی: حافظ حجاج ولی دوسلی کیمپ بنوں............ ۱۹۸۸ء/۲/۱۱

الجواب: نفل زیادت ته وائی.﴿۱﴾ .او تهجد دَخوب پریخودلو ته وائی.﴿۲﴾ وهو الموفق.

په نفلو کښې دَ تهجدو ډیر فضیلت دې

سوال: دَتهجدو فضیلت بیان کړئ چه په نفلو کښې ددې څه درجه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: ابن شیر محمد ترلاندی صوابی مردان......... ۲۴/صفر ۱۳۸۹ھ

(بقیه حاشیه) المبسوط من منتهاه وحدیث ابی داود الدال علی ان اقل تهجده ﷺ اربع سوی ثلاث الوتر وتمام ذلک فیها فراجعها لکن ذکر آخر اعنه ﷺ من استیقظ من اللیل وایقظ اهله فصلیا رکعتین کتبا من الذاکرین الله کثیرا والذاکرات رواه النسائی وابن ماجه وابن حبان فی صحیحه والحاکم وقال المنذری صحیح علی شرط الشیخین.
(ردالمحتار هامش الدرالختار ص ۵۰۶ جلد ۱ :مطلب فی صلاة اللیل :باب الوتر والنوافل)

﴿۱﴾قال العلامه شرنبلالی :النفل فی اللغة عبارة عن الزیادة و منه سمیت الغنیمة نفلا لانها زائدة علی ما وضع له الجها دو هو اعلاء کلمة الله تعالیٰ ومنه قول لبید من الرمل : ان تقویٰ ربنا خیر نفل .وسمی ولدالزنا نافلة لهذا. (امدادالفتاح ص ۴۲۴ فصل فی النوافل)

﴿۲﴾قال العلامه ابن عابدین :ان صلاة اللیل المحثوث علیهاهی التهجد وقد ذکر القاضی حسین من الشافعیة انه فی الاصطلاح التطوع بعد النوم واید بمافی معجم الطبرانی من حدیث الحجاج بن عمرورضی الله عنه یحسب احد کم اذا قام من اللیل یصلی حتی یصبح انه قد تهجد انما التهجد المرء یصلی الصلاة بعد رقده......ولان التهجد ازالة النوم بتکلف مثل تأثم ای تحفظ عن الاثم الخ.(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۰۶ جلد ۱ :مطلب فی صلاة اللیل)

الجواب: په نفلو کښې دا ډیر بهترین مونځ دي ﴿۱﴾ .فقط.

دَ نعمت او راحت اوخوشحالئ په حاصلیدلو باندې دَ شکر مونځ اداکول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی. چه دَقرآنِ پاک دَآیت "لئن شکرتم لازیدنکم" نه یو صاحب استنباط کولو بیان ئې کولو. چه دَ یو نعمت راحت او خوشحالئ په راتللو باندې دوه رکعته دَ شکر مونځ اداکول هم مستحب دی. چه اصحابه کرامو رضی الله عنهم او اولیائې کرامو معمول پاتې شوې دې آیا دا قول صحیح دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اکرام الحق ډی _ ۵۵۲ راولپنډی .... ۱۹۷۹ء/۵/۱۴.

الجواب: دَامام ابو حنیفه رحمه الله دَمسلک په بناباندې دا استنباط صحیح دې ځکه چه ترمذی کښې راغلې دی.

کان رسول الله ﷺ اذاجاءه امر سرورًا اویسر به خر ساجدًاشاکراً لله تعالیٰ ﴿۲﴾ وفی اللمعات وهم(ابو حنیفه و مالک)یقولون ان المراد با لسجدة الواقعة فی تلک الاحادیث والاثار الصلاة عبر عنها بالسجدة وهو کثیر اطلاقاً للجزء علی الکل ﴿۳﴾.وهو الموفق

﴿۱﴾قال ابن عابدین : (قو له وصلاة اللیل)أقول هی أفضل من صلاة النهار کما فی الجوهرة ونور الایضاح وقد صرحت الأیات والاحادیث بفضلها والحث علیها قال فی البحر فمنها مافی صحیح مسلم مرفوعا أفضل الصلاة بعد الفریضة صلاة اللیل وروی الطبرانی مرفوعا لا بدمن صلاة بلیل ولو حلب شاة وما کان بعد صلاة العشاء فهو من اللیل وهذا یفید ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلاة العشاء قبل النوم......ولانه المفهوم من اطلاق الأیات والاحادیث ولان التهجد ازالة النوم بتکلف مثل تأثم أی تحفظ عن الاثم نعم صلاة اللیل وقیام اللیل أعم من التهجد وبه یجاب عما أورد علی قول الامام أحمد هذا ما ظهر لی والله أعلم .(ردالمحتار هامش الدرالختار ص ۵۰۶ جلد ۱ مطلب فی صلاة اللیل)

﴿۲﴾(مشکواة المصابیح ص ۱۳۱ جلد ۱ : باب فی سجود الشکر)

﴿۳﴾وفی الهندیه وسجدة الشکر لاعبرة لها عند ابی ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ صلوة تسبیح افضل وخت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَصلوة تسبیح بهترین وخت کوم یو دې؟ صرف دَ وخت متعلق اولیکئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمدزاهد میډیم رجمنټ ایل اې ډی ۱۷/محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: دَ ماسپښین دَمانځه نه مخکښې کول پکاردی.(شامی) ﴿۱﴾ وهوالموفق.

(بقیه حاشیه)حنیفة رحمه الله تعالیٰ وهی مکروهة عنده لا یثاب علیها وترکها اولی. (فتاوی عالمگیریه ص ۱۳۵ جلد ۱ مسائل سجده الشکر)

وقال العلی القاری: سجدة الشکر...... سنة عند الشافعی ولیست بسنة عند ابی حنیفة خلافاً لصاحبیه...... فقالوا المراد بالسجود الصلاة وحجتهم فی هذا التأویل ما ورد فی الحدیث ان النبی ﷺ لما اتی برأس ابی جهل خر ساجداً وقد روی عبد الله بن ابی او فی رأیته ﷺ صلی بالضحی رکعتین حین بشر بالفتح او برأس ابی جهل الخ. (مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ص ۲۰۲ جلد۳ باب فی سجود الشکر)

﴿۱﴾قال ابن عابدین رحمه الله :وقال المعلی یصلیها قبل الظهر.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۵۰۸ جلد ۱ :مطلب فی صلاة التسبیح)

باب التراويح

پيغمبر عليه السلام به په رمضان کښې هره شپه تراويح کولې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پيغمبر عليه السلام دَ تراويحو څو رکعتونه کړې دی. او څو شپې ئې کړې دی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: عبدالله لنډی کوتل............ ۲۵/۱۱/۱۹۷۵ء.

الجواب: پيغمبر عليه السلام به په رمضان کښې هره شپه تراويح کولې. البته په لوئې جماعت سره ئې درې شپې ادا کړې دی. ﴿۱﴾. او جماعت کبری علی طريقه الدوام" دَ خليفه ثانی دَزمانې نه شروع شوې. ﴿۲﴾. او په دغه زمانه او حضرت عثمان غنی رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه په زمانه کښې به شل (۲۰) رکعتونه تراويح کيدلې. ﴿۳﴾. او دَ يو څيز شمير په رائې او قياس سره نه معلوميږی لهذا دَ قواعدو په رڼا کښې به دا دَ شلو شمير مرفوع وی.

﴿۱﴾ عن عائشة ام المؤمنين ان رسول الله صلی الله عليه وسلم صلیٰ ذات ليلة فی المسجد فصلی بصلاته ناس ثم صلی من القابلة فكثر الناس ثم اجتمعوا من الليلة الثالثة او الرابعة فلم يخرج اليهم رسول الله صلی الله عليه وسلم فلما اصبح قال قد رأيت الذی صنعتم ولم يمنعنی من الخروج اليكم الا انی خشيت ان يفرض عليكم وذلک فی رمضان. (صحيح البخاری ص ۱۵۲ جلد ۱ باب تحريض النبی صلی الله عليه وسلم علی قيام الليل والنوافل من غير ايجاب)

﴿۲﴾ عن سائب بن يزيد قال: كانوا يقومون علی عهد عمر بن الخطاب فی شهر رمضان بعشرين ركعة الحديث وقال الشعرانی فی كشف الغمه، وكانوا يصلونها فی اول زمان عمر بثلاث عشرة ركعة...... وكان امامهم ابی بن كعب وتميما الداری ثم ان عمر...... امر بفضلها ثلاثا وعشرين ركعة ثلث منها وترا واستقر الامر علی ذلک فی الامصار.

(التعليق الحسن علی اثار السنن ص ۲۰۴ باب فی التراويح بعشرين ركعة)

﴿۳﴾ عن عبد الرحمن بن عبد القاری قال خرجت ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دغه شان دَ "عليكم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدين.﴿۱﴾. حديث په بناء باندې به سنت نبوی وی. داخو ناممكن ده چه دَ شر القرون اهلِ حديث دَ خير القرون دَ خلفاؤ نه زيات متبع سنت وی.

واما حديث لايزيد فی رمضان ولافی غيره علی احد عشر ركعة فمحمول علی التهجد بدليل ولا فی غير رمضان وكذا محمول علی الغالب ﴿۲﴾ فافهم وللتفصيل مقام آخر. وهو الموفق

په تراويح کښې جماعت دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم او خلفاؤ دَ زمانې نه معمول دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو سړې وائی چه تراويح په جماعت سره دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم او خليفه اول په زمانې کښې نه دې شوې او دَ دويم خليفه په حكم سره باجماعت کړې شوې وی. ليكن دا حكم څلورم خليفه منسوخ کړې دې. آيا ددې سړی داخبره صحيح ده؟ بينوا توجروا.

المستفتی: نذير احمد چيف ګډز كلرک ريلوې ګودام مردان.... ۱۳/۱۰/۱۹۷۰ء.

(بقيه حاشيه) مع عمر بن الخطاب ليلة الی المسجد فاذا الناس اوزاع متفرقون يصلی الرجل لنفسه ويصلی الرجل فيصلی بصلاته الرهط فقال عمر انی لو جمعت هؤلاء علی قارئ واحد لكان امثل ثم عزم فجمعهم علی ابی بن كعب قال ثم خرجت معه ليلة اخریٰ والناس يصلون بصلاة قارئهم قال عمر نعمت البدعة هذه والتی تنامون عنها افضل من التی تقومون يريد آخر الليل وكان الناس يقومون اوله. رواه البخاری. (مشكوٰة المصابيح ص ۱۱۵ جلد ۱ باب قيام شهر رمضان الفصل الثالث)

﴿۱﴾ (مشكوٰة المصابيح ص ۳۰ جلد ۱ باب الاعتصام بالكتاب والسنة

﴿۲﴾ قال الشيخ محمد ذكريا الكاندهلوی: قال شيخ مشائخنا مولانا الجنجوهی كان السائل ظن ان رسول الله صلی الله عليه وسلم لعله كان يزيد فی رمضان علی ماتهجد فی غيره فردته بقولها ماكان يزيد فی رمضان ولا فی غيره ای فی غالب الاحوال والاوقات فالغرض الانكار علی زيادة ركعات التهجد لخصوصيته رمضان فلا ينافيه ماكان يصليه فی بعض الاحيان فوق احدی عشرة ركعة وكذا لا تعلق له بصلاه التراويح نفيا ولا اثباتا. (فتح الملهم شرح الصحيح المسلم ص ۲۹۱ جلد ۲ باب صلاة الليل وقدر ركعات النبی صلی الله عليه وسلم)

الجواب: پیغمبر علیه السلام تراویح په جماعت سره درې شپې کړې دی.(رواه البخاری) او باقی شپو کښې ئې د (فرضیت دویرې) دعذر په وجه جمات کبری پریخودلې دي ﴿۱﴾ . اوکوم کارچه دعذر د وجې نه متروک شی هغه حکماً معمول شمار کیږي. پس ګویا چه پیغمبر علیه السلام په جماعت کبری باندې حکمی دوام کړې دی.﴿۲﴾ . اوصدیق اکبر ؓ ددې کار متعلق څه تغیر او تبدیلی اونه کړله. البته حضرت عمرفاروق ؓ د پیغمبر علیه السلام تمناپوره کړه اوپه جماعت کبری باندې ئې دحقیقی تمنا معمول جوړ کړو ﴿۳﴾

﴿۱﴾ عن عائشة ام المؤمنين ان رسول الله ﷺ صلىٰ ذات ليلة فى المسجد فصلى بصلاته ناس ثم صلى من القابلة فكثر الناس ثم اجتمعوا من الليلة الثالثة او الرابعة فلم يخرج اليهم رسول الله ﷺ فلما اصبح قال قد رأيت الذى صنعتم ولم يمنعنى من الخروج اليكم الا انى خشيت ان يفرض عليكم وذلك فى رمضان. (الصحيح البخارى ص ۱۵۲ جلد ۱ باب تحريض النبى ﷺ على قيام الليل والنوافل من غير ايجاب)

﴿۲﴾ وفى المنهاج : وفى رواية البخارى نعم البدعة هذه ليس المشار اليه قيام رمضان لانه سنة الرسول، ولا قيامه بالجماعة الصغرىٰ لان النبى ﷺ لم ينكر على ابى بن كعب حين صلى بنسوة وكذا حين صلى بالناس فى ناحية المسجد ولا الجماعة الكبرىٰ لان النبى ﷺ فعلها ثلاث ليال، ولا الجماعة الكبرىٰ على وجه الدوام لان النبى ﷺ تركها خشية الافتراض ولو لاهذه الخشية لما تركها فهذه مواظبة حكماً وارادة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۸۲ جلد ۴ قبيل ابواب الحج عن رسول الله ﷺ)

﴿۳﴾ عن عبد الرحمن بن عبد القارى: انه قال خرجت مع عمر بن الخطاب ليلة فى رمضان الى المسجد فاذا الناس اوزاع متفرقون يصلى الرجل لنفسه ويصلى الرجل فيصلى بصلاته الرهط فقال عمر انى ارى لو جمعت هؤلاء على قارئ واحد لكان امثل ثم عزم فجمعهم على ابى بن كعب ثم خرجت معه ليلة اخرىٰ والناس يصلون بصلاة قارئهم قال عمر نعم البدعة هذه والتى ينامون عنها افضل من التى يقومون يريد آخر الليل وكان الناس يقومون اوله.

(صحيح البخارى رقم حديث: ۲۰۱۰ كتاب صلاة التراويح)

اوخلیفه ثالث او رابع او نورو امامانو په دې کښې هیڅ تغیر اوتبدیل نه دې کړې د آثارو نه ښکاره معلومیږي چه حضرت علی ؓ شل رکعته تراویح کړې دی. ﴿۱﴾ .وهوالموفق.

چه په دیرشمه شپه د شوال احتمال وی نو تراویح به باقاعده ادا کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې په دیرشم رمضان باندې شوال کیږي آیا په دې اندازې سره چه نه څه شهادت وی او نه مضبوط علامات وی د دیرشم رمضان په شپه باندې تراویح کول پکار دی یا نه ؟که کول غواړې نو په مقرر وخت باندې او که نه د شپې په آخرنئ حصه کښې ؟آیا وتر به باجماعت کوی او که نه اوکه شهادت نه وی خوقوی علامت موجود وی نو بیا څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سیف الله بنوی........۱۹۲۹ء/۱۰/۷.

الجواب: ددې شپې دشوال کیدلو احتمال همیشه او هروخت وی.لهذا ترڅو پورې چه دشوال حکم نه وی شوې نوتراویح اووتربه باقاعده په جماعت سره ادا کولې شی او د وترو اعاده نه لازم ده او نه مستحب.او علامات لکه دښار

﴿۱﴾ قال البيهقى: و روينا عن شتير بن شكل وكان من اصحاب على رضى الله عنه انه كان يؤمهم فى شهر رمضان بعشرين ركعة ويوتر بثلاث وفى ذلك قوة لما اخبرنا ابو الحسن بن الفضل القطان ببغداد(بسند متصل) عن ابى عبد الرحمن السلمى عن على رضى الله عنه قال دعا القراء فى رمضان فامر منهم رجلا يصلى بالناس عشرين ركعة قال وكان على رضى الله عنه يوتر بهم وروى ذلك من وجه آخرعن على.

(السنن الكبرىٰ للبيهقى ص ۶۹۹ جلد ۲ باب فى عدد ركعات القيام فى رمضان)

﴿۲﴾ قال ابن نجيم : (قوله ويثبت رمضان برؤية هلاله او بعد شعبان ثلاثين يوماً) لحديث الصحيحين صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم فاكملوا عدة شعبان ثلاثين.

(البحر الرائق ص ۲۶۳ جلد ۲ كتاب الصوم)

نه د عادت مطابق ډېزو په آوازونوباندې اعتماد کول صحیح دی.﴿۲﴾ وهو الموفق.

دَ جماعت په ځائې په عام چوک کښې دَ تروایح جماعت کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو پیش امام اودهغه سره یو څوسړی په یو چوک کښې پنځه وخته مونځ او تروایح کوی.هلته صفائی هم نه وی دَچیلم سګریټو وغیره ګندګی فی الحال موجود ده.او داچوک دَجمات نه څلوېښت ګزه لرې دې.اوجمات ته راتللو نه څه شرعی مانع هم نه دې موجود دې.صرف دَسستئ په وجه جمات ته نه حاضرېږی.او وائی چه زمونږ جماعت په سنت طریقې سره اداکیږی.آیا دَ دوی دا خبرې صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:ګل ولی پائی ضلع ټانګ دارالعلوم ارشادیه.

الجواب: داکسان دَجمات دَفضیلت نه محروم دی.لیکن دَجماعت فضیلت ورته حاصل دې.لتحقق الجماعة.﴿۳﴾ نعم تکره الصلوة ان کان فی الطریق او

﴿۱﴾ قال ابراهم الحلبی: ولایصلی الوتر بجماعة الا فی شهر رمضان ومعناه الکراهة دون عدم الجواز...... واما فی رمضان فلا خلاف فی نفی کراهة الجماعة فیه ولکن اختلفوا فی الافضل ففی فتاویٰ قاضی خان الصحیح ان الجماعة افضل لانه لما جازت الجماعة کانت افضل اعتباراً بالمکتوبة. (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص ۴۰۱ بحث التراویح والوتر)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: قلت والظاهر انه یلزم اهل القریٰ الصوم بسماع المدافع اورؤیة القنادیل من المصر لانه علامة ظاهرة تفید غلبة الظن وغلبة الظن حجةموجبة للعمل کما صرحوا به واحتمال کون ذلک لغیر رمضان بعید اذ لا یفعل مثل ذلک عادة فی لیلة الشک الا لثبوت رمضان. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۹۹ جلد ۱ مطلب الاعتماد علی قول الحساب مردود)

﴿۳﴾ قال العلامة حلبی رحمه الله: وان اقیمت التراویح فی المسجد بالجماعة وتخلف عنها رجل من افراد الناس وصلی فی بیته فقد ترک الفضیلة لا السنة...... وان صلی واحد فی بیته بالجماعة حصل لهم ثوابها وادرکوا فضلها ولکن لم ینالوا افضل الجماعة التی تکون فی المسجد لزیادة فضیلة المسجد وتکثیر جماعته واظهار شعائر الاسلام.
(غنیة المستلی المعروف بالکبیری ص ۳۸۴ فصل فی النوافل)

تحقق مایشغل باله صرح العلامة الشامی فی ردالمحتارص۲۹۳ جلد۱﴿۱﴾وهوالموفق

شل رکعته تراویح بغیرتعدیل نه او اته(۸) په تعدیل سره دواړه په غلطئ دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام شل رکعته سره دَ وترو او فرضو په شل منټه کښې کوی چه نه پکښې تسبیحات لوستلې کیږی نه پکښې تعدیل الارکان وی.په بل جمات کښې اته رکعته تراویح سره دَ وترو او فرضو په شل منټه کښې دَتعدیل الارکان سره کیږی.په دې صورت کښې دکوم امام اقتداء کول پکار دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:محمد خالق عنایت کلے باجوړ............ ۱۷/۷/۱۹۸۴ء.

الجواب: دا دواړه دَفضیلت دَلارې نه خالی دی.او دواړه بدنصیبه دی.﴿۲﴾ وهو الموفق.

یوځائې کښې ئې تراویح اوکړې نودویم امام پسې په تراویح کښې اقتدا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام خپل قوم ته دَ مختصرو تراویح نه پس دویم جمات ته راځی حافظ صاحب پسې دَقرآن اودریدلو دپاره اقتداء کوی.امام صاحب دَ جواز دپاره دَ حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه دملفوظاتو حواله ورکوی.او دویم کس وائی چه دا ناجائز دی.ځکه چه دا دَ تداعی الی النوافل بالجماعة" صورت دې.چه هغه فقهاؤ منع کړې دې.اوس به څه صورت وی جائز یا ناجائز؟ بینوا توجروا.

المستفتی:حافظ ارشادالدین زیارت کاکاصاحب نوشهره ۱۴/۱۰/۱۹۷٦ء.

﴿۱﴾ قال الحصکفی: وکذا کل ما یشغل باله عن افعالها ویخل بخشوعها...... وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة وفی طریق ، قال ابن عابدین: وفی طریق لان فیه منع الناس من المرور وشغله بما لیس له لانها حق العامة للمرور. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۲۷۹ جلد ۱ قبیل مطلب تکره الصلاة فی الکنیسه)

﴿۲﴾ قال الحصکفی : ویجتنب المنکرات هذرمة القرأة وترک تعوذ وتسمیة وطمانینة وتسبیح واستراحة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۳ جلد ۱ قبیل باب ادراک الفریضة)

الجواب: دَ زید دا کار مکروه نه دي.

کما فی شرح الکبیر ص ۳۵۲ ولو ام رجل فی التراویح ثم اقتدیٰ بآخر فی تراویح تلک اللیلة ایضا لا یکره له ذلک کما لو صلی المکتوبة اماماً ثم اقتدیٰ فیها متنفلا بامام آخر ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ ټولي محلي والا په تراویح کښې جماعت پریخودل او په کورونو کښې دَ ادا کولو حکم

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو کلی امام چه دَ کلی جمات پریږدی اودَځو غټانو خلقو دَخوشحالولو په طریقې سره دَهغوی په بیټک کښې دَ تراویح جماعت کوی. اوبل طرف ته ددې کلی جمات بالکل شاړ دی. هلته یو څو غریبانان کسان ځان ځانله مونځ کوی اودَجمات امام بل ځائې تراویح ورکوی. ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.......... ۱۹۷۲ء/۱۰/۱۴.

الجواب: ددې محلې خلق "تارک السنت" دی.

لان الجماعة فیها سنة علی سبیل الکفایة حتی لو ترک اهل المحلة کلهم الجماعة وصلوا فی بیوتهم فقد ترکوا السنة ، شرح الکبیر ص۳۴۷ ﴿۲﴾

دَامام او غیرامام حکم یو شان دی. وهوالموفق.

دَ فاتح مقرر کولو نه بغیر هم تراویح ورکول صحیح دی

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو حافظ قرآن په رمضان شریف کښې دَ تراویح ختم کوی. اوخپل ځان پسې فاتح نه مقررکوی. حال داچه بعضې ځائې حافظ غلط کیدلې هم شی چۀ دَهغې تدارک بغیر د فاتح نه ناممکن دې دَشریعت په رڼا کښې دامونځ صحیح دې یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمستعان کاټلنگ مردان.......... ۱۹۷۲ء/۱۰/۱۲.

﴿۱﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۳۸۹ فصل فی النوافل)

﴿۲﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۳۸۴ فصل فی النوافل)

الجواب: چه کله فرض مونځ بغیرفاتح نه کول صحیح دي اومکروه نه دي نو دَ تراویح کول به بغیر فاتح نه په طریقه اولی سره صحیح وی. وهوالموفق.

په عربو ملکونو کښې دَ احنافو دپاره په تراویح کښې دَ حنفی امام اهتمام کول

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ په عرب امارات کښې مقیم یو. هغه اهلِ حدیث خلق تراویح دولس رکعته او وتر یو رکعت یواځې کوی. مونږ دلته شپیته (۶۰) اویا (۷۰) پاکستانیان یو که مونږ په رمضان کښې حنفی امام اوساتو اوپه خپله دیره کښې دَتراویح اهتمام اوکړو نو ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.......... ۱۹۸۷ء/۲/۱۸.

الجواب: که قانونی خطره نه وی نو دا طریقه بهتره ده.

لان الافضل الاقتداء بمن یوافق فی الفروع کما فی ردالمحتار ص۲۹۶ جلد۱ فلیراجع ﴿۱﴾. وهوالموفق

که تراویح او وترو په مینځ کښې قوم ته تکلیف وی نو ډیر کیناستل نه دی پکار

الجواب: علمائي دین دي مسئلې باره کښې چه مونږ کښې دوه درې کسان دَ تراویح نه پس او دَ وترو نه مخکښې نفل کوی. اوعوامو ته په دې انتظار باندې تکلیف وی ځکه چه ضعیف کسان هم په مونځ کښې وی نومولوی صاحب اوفرمائیل چه دَتراویح نه متصل پس وتر کوئ. اوکه دَوترو نه پس دَچا زړه خومره غواړی هومره نفل دې کوی کولې شی. دامسئله زید او بکر

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: ان الاقتداء بالمخالف المراعی فی الفرائض افضل من الانفراد اذ لم یجد غیره و الا فالاقتداء بالموافق افضل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۱۷ جلد ۱ مطلب اذا صلی الشافعی قبل الحنفی هل الافضل الصلاة مع الشافعی ام لا باب الامامة)

اونه منله او دَامام خلاف شول. او دَصف نه او وتل ځانله نفل کوی. په دې کښې مولوی صاحب کوم حد پورې صحیح دې؟ او زید او بکر ترکوم حد پورې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالقدوس خان پښتون ګړهی پشاور.

الجواب: که قوم ته کلیف وی نو ددې کسانو انتظار نه دی کول پکار.

(فی الهندیه ص ۱۲۲ جلد ۱) **ویستحب الجلوس بین الترویحتین قدر ترویحة وکذا بین الخامسة والوتر کذا فی الکافی وهکذا فی الهدایه ولو علم ان الجلوس بین الخامسة والوتر یثقل علی القوم لا یجلس هکذا فی السراجیه ﴿۱﴾. وهوالموفق**

دَ تراویحو او وترو په مینځ کښې ځانله نفل کول جائز دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق دَ تراویحو نه پس او وترو نه مخکښې دوه رکعته نفل کوی آیا د اجائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق اکوړه خټک........ ۱۹۸۷ء/۲۹/۱۱

الجواب: دَ تراویحو او وترو په مینځ کښې انفرادی طور سره نفل کول جائز دی.

کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ص ۴۹۵، ۴۹۶ جلد ۱ وکذا بین الخامسة والوتر ویخیرون بین تسبیح وقراءة وسکوت وصلوٰة فرادیٰ ﴿۲﴾. وهوالموفق

په غلطئ سره دَ دوه رکعتونو په ځائې څلور رکعته تراویح دَ قعده اولی نه بغیر د کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په تراویح کښې چرته دَ دوه رکعتونو په ځائې څلور رکعته بغیر دَ قعده اولی نه او کړی. نو دا تراویح

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۱۵ جلد ۱ فصل فی التراویح)
﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد ۱ باب الوتر والنوافل)

صحیح شوې یا نه؟ که صحیح وی نو دوه رکعته به شمار کیږی یا څلور؟ او د ختم القران تلاوت به دوباره کیږی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالرحمن حقانی وزیرستان........ ۱۹۷۹ء/۹/۱۵

الجواب: په دې صورت کښې به دویمه شفعه دَ قرات سره واپس راګرځولې شی.

کما فی الهندیه ص ۱۱۸ جلد ۱ وعن ابی بکر الاسکاف انه سئل عن رجل قام الی الثالثة فی التراویح ولم یقعد فی الثانیة قال ان تذکر فی القیام ینبغی ان یعود ویقعد ویسلم وان تذکر بعد ما سجدللثالثة فان اضاف الیها رکعة اخریٰ کانت هذه الاربع عن تسلیمة واحدة وفیها ایضا واذا فسد الشفع وقد قرأ فیه لا یعتد بما قرأ فیه ویعید القرأة لیحصل له الختم فی الصلوٰة الجائزه وقال بعضهم یعتد بها کذا فی الجوهرة النیرة ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ تراویحونه علاوه په نوافلو کښې دَ قران پاک اورولو د پاره دَجماعت اهتمام کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَتراویح نه پس یا بل وخت کښې په نفلو کښې دَجماعت په صورت سره دَ قران پاک منزل اورولې شم یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد رمضان جلال پورجټان ګجرات....... ۱۹۷۷ء/۹/۲۵

الجواب: دَشلو (۲۰) رکعتونه زیات قیام اللیل" قیام رمضان نه دې لهذا دَتراویح نه پس به نفل بلاجماعت ادا کولې شی. باجماعت کول به مکروه وی چه کله مقتدیان دَ دریو (۳) نه زیات وی.

کما فی البدائع ان الجماعة فی التطوع لیست بسنة الا فی قیام رمضان (بحواله ردالمحتار ص ۴۷۲ جلد ۱) وفی شرح التنویر ولا یصلی الوتر ولا التطوع بجماعة

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۱۸ جلد ۱ فصل فی التراویح)

خارج رمضان ای یکره ذلک لو علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد کمافی الدرر ﴿۱﴾ انتهیٰ، والمراد من التطوع قیام رمضان بدلیل عبارة البدائع وبدلیل مافی الهندیه ص ۱۲۳ جلد ۱ ولو صلی التراویح ثم اراد ان یصلوا ثانیا یصلون فرادیٰ کذا فی التتارخانیه ﴿۲﴾. وهوالموفق.

په تراویح کښې حافظ صاحب سره بل قوم ته دوباره ختم کول اختلافي دي ليکن دَ ترکِ سنت نه اولیٰ دي

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښې چه يو حافظ که په يوځائي کښې په عشره اولیٰ کښې ختم القرآن په تراويح کښې کړې وي آيا په دويم ځائي کښې بيا وئيلي شي؟ حال داچه په تراويح کښې يوځل ختمِ قرآن سنت دي.او دَ حافظ سنت ادا شوې دي.اوس په دويم ځل به ئې داعمل مستحب وي اودَ مستحبو اداکونکي پسې دَسنت مونځ ادائيگي څنګه صحيح کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سلطان خان ترناب فارم پيښور........۱۹۷۷ء/۹/۱۹.

الجواب: کوم حافظ چه په تراويح کښې يوځل قرآن ختم کړې نوپه دوباره ختم کولو سره دَ دويم قوم سنت نه ادا کيږي.دامختار قول دې البته دَ "الم ترکيف" والا تراويح نه بهتردي.لان الاداء الاختلافی اولیٰ من ترک السنة اصلا،دغه شان داکه حافظ دويم ختم په ځان نذر کړې نو دَ قوم سنت به ادا شي.(ماخوذ از مجموعة الفتاوی للکهنوی).﴿۲﴾ .وهوالموفق.

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد ۱ مبحث صلاة التراويح)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيريه ص ۱۱۶ جلد ۱ فصل فی التراويح)

﴿۳﴾ علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله فرمائي! په سغناقي کښې دي په يو امام يو قران شريف په تراويح کښې دَيوقوم سره ختم کړو.اودويم دَ دويم قوم سره.نوددې دويم قوم دَ ذمې نه به سنت نه ساقطيږي.ځکه چه ددې امام په دويم ځل ختم القرآن دَول سنت نه دی.نودَهغه دپاره به داعمل دی نومقتديان به دَنفلو ثواب اومومي. دَتراويحو به نه مومي.اودَ حضرت مولانا صدر الدين حسام" په رساله"مسائل تراويح" کښې دی ده څوک دَ...(باقي حاشيه په بل مخ)

دَ حافظ صاحب يوځل ختم کولونه پس په دويم ځل نوي قوم دپاره ختم کول

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښې څه فرمائي که يو حافظ په يوجمات کښې ختمِ تراويح اوکړې اوبيا په دويم جمات کښې دويم ختم شروع کړې نو آيا ددې حافظ صاحب اودَعوامومسنون ختم اداکيدلې شي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاري حضرت گل ضلع بنون........۱۹۷۸ء/۹/۱.

الجواب: کوم حافظ چه يوځل په تراويح کښې ختم اوروليي وي هغه بل قوم ته په تراويح کښې ختمِ قران اوروليي شي په دې کښې دَچانقصان نشته.(وتمام البحث فی مجموعة الفتاویٰ ص ۲۶۷ ، ۲۶۸ جلد ۱) ﴿۱﴾ قلت قولهم ان الختم مرة سنة ومرتين فضيلة وثلاثاافضل ﴿۲﴾ يدل علی ان هذا الامام اقویٰ حالاً من القوم لانه الادنیٰ ونظيره ما اذا ام ذلک الحافظ فی التراويح ويقرأ الم ترکيف علی قول من قال لا يکره له ترک التراويح، فافهم، وقلت: ان قدروی بعض اهل العلم

﴿بقيه حاشيه﴾ يوامام باره کښې سوال اوکړې چه هغه يو قرآن شريف په تراويح کښې ختم کړو او دويم ئې شروع کړو نو دده اقتداء هغې خلقو دپاره جائز ده چاچه ختم نه دې اوريدلې اوکه هغه خلق ئې اقتداء اوکړې نو داختم به حسابيږي يا نه؟ څه وايم چه دامسئله دَدهلی دَاستاذانو په مجلس کښې يوزماني پورې په بحث کښې پاتې شوې.چاوې چه اقتداء صحيح نه ده ځکه چه په دې کښې دَقوی بناپه ضعيف باندې لازم راځي.ځکه چه دَمقتدي تراويح سنتِ موکده دي.اودَامام سنتِ موکده نه دی بلکه نفل دی.اودَنفلو نه سنتِ زائد قوی دی.اوهغوی ددې صورت په هغه صورت باندې قياس کړې دې.چه په هغې کښې فرض کونکې دَنفلو کونکي پسې اقتداء اوکړي.اوبعضې وائي چه جائز دی.نوچه دده په سقوطِ ختم او عدمِ سقوط کښې اختلاف واقع شو نوامام لره پکار دی چه دويم ختم سره دَتراويح نه په ځان باندې نذرکړې اوداسې اووائي "لله علی ان اختم القران فی صلوة التراويح" چه دَامام ختم واجب او دَمقتديانو اقتداء صحيح شي. وتفصيله فی خزانة الرواية. (مجموعة الفتاویٰ ص ۲۰۴،۲۰۵ جلد ۱ کتاب الصلوٰة)

﴿۱﴾ (مجموعة الفتاویٰ للکهنوی ص ۲۲۴ جلد ۱ کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد ۱ مبحث صلاة التراويح)

عن کنز الفتاویٰ ام قوماً فی التراویح وختم فیها ثم ام قوماً آخرین له ثواب الفضیلة ولهم ثواب الختم انتهیٰ ﴿۱﴾ فهو الراجح لانه لافرق بین الصلاتین فی الارکان والواجبات فکیف یکون اقتداء القوی بالضعیف والاعتبار للصلاة دون شئ آخر. فافهم

حافظانو ته په ختم تراویح کښې پیسې ورکول هدیه وی اُجرت نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په تراویح کښې تلاوت دقران مجید باندې اجرت اخستلو په باره کښې ستاسو صاحبانو رائې څه ده. دَ بهارِ شریعت په څلورمه حصه کښې دی چه وئیلو اوریدلو والا دِیرکسان دا اووائی چه نه اخلو اونه ورکوو. اوبیا روستو واخلی. نودې هیڅ خبره نشته آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: گل محمد خطیب مرکزی جامع مسجد تهی
تله گنگ کیمل پور ـ ۵/۱/۱۹۶۹ء

الجواب: دَ چندې ورکونکو طرفته مراجعت کولو نه معلومیږی چه داپیسې کومې چه حافظ ته ورکولې کیږی دادَتحفې په طورباندې دی. اودَتحفې په اخستلو او ورکولو کښې که هغه معروف وی یا مشروط وی هیڅ حرج نشته. والحرج انماهوفی الاجرة سواء کانت مشروطة اومعروفة وکلتا هما منتفیان لعدم عقد الاجارة بالقول ولا بالتعاطی فتدبر. دغه شان که دا اومنلې شی چه دا معروف اجرت دې بیاهم په دې کښې څه حرج نشته. ځکه چه حافظانو ته دا رقم صرف دَختمِ القران په معاوضه کښې نه ورکولې کیږی. اونه صرف دَامامت په معاوضه کښې ورکولې شی. بلکه حافظانو ته داپیسې هغه وخت ورکولې شی چه کله امام جوړشی په تراویح کښې ټول قرآن رکنِ قرات جوړکړی یعنی داد

﴿۱﴾ (مجموعة الفتاویٰ للکهنوی ص ۲۲۴ جلد ۱ کتاب الصلاة)

امامت خاصه معاوضه ده او په امامت باندې اجرت اخستل په مفتی به قول سره جائز دی. ﴿۱﴾

کما لا یخفیٰ علی من راجع الی کتاب الاجارات، ومارویٰ انه علیه الصلاة والسلام قال اقرء وا القرآن ولا تأکلوا به، فانما هو امر من الاقرأ لا من القرأة لان الفقهاء انما استدلوا به لعدم جواز اخذ الاجرة علی التعلیم فالتقریب انما یتم علی التقدیر الاول فافهم وراجع الی العرف ومسئلة رزق القاضی. وهو الموفق

حافظ ته په ختم تراویح کښې دَ څه ورکولو په باره کښې دَ ورکونکی نیت معتبر دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که په رمضان شریف کښې یو حافظ دَختم قرآن دپاره مقررکړې شی هغه څه غواړی نه لیکن خلق ورته خامخا څه ورکوی. نواوس ددې باره کښې داطریقه ښه ده چه دَچا زړه غواړی حافظ ته دې ورکړی اوکه نه داطریقه چه فلانکې فلانکې دومره دومره روپئ ورکړئ. شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی سمیع الحق اچینی پایان پشاور...... ۲۳/۹/۱۹۷۷ء

الجواب: دَورکونکی نیت معتبر دې لهذا دا دواړه طریقې برابر دی. یعنی که چرته ورکونکی دَشکرانې او اکرام نیت کړې وی نوبغیراختلاف نه جائز دی. اوکه دَفیس یعنی(اجرت) نیت ئې کړې وی نوهغې کښې اختلاف دې.
مال اکثر الاکابر الی عدم الجواز لانها اجرة التلاوة ومال البعض الی الجواز لانها اجرة الامامة المقیدة بقراءة مخصوصة وهو الاقویٰ والاول احوط ﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویفتی الیوم بصحتها لتعلیم القرآن والفقه والامامة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۸ جلد ۵ باب الاجارة الفاسدة)

﴿۲﴾ وقال فی المنهاج: واماما یعطی الحفاظ فی رمضان عند ختم القرآن فالحق انه جائز لانها هدیة معروفة لیست باجرة ویشهد له حدیث الترمذی عن انس رضی الله عنه ان رجلا من کلاب سأل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله انا نطرق الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة والاعتبار لنیة الدافع دون الآخذ فافهم ولو سلم انه اجرة فلا حرج فیه ایضا لانها لیست عوض التلاوة البحتة ولا الامامة البحتة بل هی عوض الامامة المسنونة المخصوصة ولا ضیر فی اخذ الاجرة علی الامامة المقیدة... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه

حافظ ته څه ورکول دَصلې مکافات او اکرام په طور معروف دی دَ اجرت په طور نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ "المعروف کالمشروط" په طور سره چه په رمضان شریف کښې حافظ ته کوم رقم ورکولې شی دا اجرت ورکول جائز دی یا نه؟ مادې خلقو ته خوځلې اووئیل چه تاسو خامخا دَحافظ صاحب خدمت کول غواړئ نومخکښې ولې نه ورکوئ خاص دَختم قران په شپه باندې ورکول صحیح نه دی ځکه اجرت مقررول او دَقرآن لوستل حرام دی. وغیره وغیره. لهذا تاسو صاحبان دامسئله اولیکئ؟ او راولیکئ چه خلق ددې قبیح کارنه بند شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عزیز الله خطیب جامع مسجد ډیره لال حید آباد سنده

الجواب: حافظ ته چه کوم رقم ورکولې شی هغه غالباً صله، مکافات او اکرام وی، اجرت مشروط یا معروف نه وی ځکه چه نه عقد اجاره موجود ده او نه څه اشتراط متحقق دې او نه په یو خاص اجرت باندې عرف جاری دې او نه حافظ دَحاکم او قاضی سره مطالبه کولې شی. په خلاف دَمزدور او اجیرچه دهغه اجرت په شرط یا عرف سره معلومیږی. او هغه مرافعه الی القاضی هم کولې شی. نو حافظ ته دا پیسې ورکول جائز دی: یدل علیه ما روی الترمذی عن انس ﷺ ان رجلاً من کلاب سال النبی علیه السلام عن عسب الفحل فنهاه فقال انا نطرق الفحل فنکرمه فرخص له فی الکرامة.《۱》. ددینه علاوه خبره داده چه دا رقم حافظ ته صرف دَ ختم القران په وجه نشی ورکولې. لکه چه څنګه ئې صرف دَامامت په وجه نشی ورکولې. بلکه دا رقم په امامت مخصوصه (چه دَهغې دَقرأت رکن ټول قران دې) باندې ورکولې شی. نو دَې رقم ته مونږ ناجائز نه شو وئیلې. وآراء الاکابر فیه مختلفة.

نوټ: دا جواب زمونږ دَعلاقې په عرف باندې مبنی دې. وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) بمکان اوزمان او قرأة سورة وسور هذا. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص ۹۰ جلد ۲ باب کراهیة ان یاخذ الموذن علی الاذان الاجر)

《۱》(سنن الترمذی ص ۱۵۳ جلد ۱ باب ماجاء فی کراهیة عسب الفحل)

په تراویح کښې قرات تیزول او قومه او جلسه پریخودل منکرات او مکروهات دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَتراویح په مونځ کښې دومره تیزی کول چه په قرأت، رکوع، سجده، قومه او جلسه وغیره کښې دومره لنډوالې اوکړی چه دَمونځ هغه اصلیت بالکل ختم شی آیا دغه شان ډیر زر زر تراویح کول جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد فرید عرف فریدی شهرمردان........ ۲۴/رمضان ۱۴۰۲ھ.

الجواب: دَجماتونو دَامامانو په تراویح کښې دا تیز قرأت، دَقومې او جلسې پریخودل وغیره ټول په ټوله منکرات او مکروهات دی.

کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ص ۲۷۵ جلد ۱ ویجتنب المنکرات هذرمة القراة وترک تعوذ وتسمیة وطمانینة وتسبیح واستراحة《۱》. وهو الموفق

په لاؤډسپیکر باندې تراویح کول او په اوریدونکو باندې دَسجده تلاوت دَلازم کیدلو مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی. (۱). په رمضان المبارک کښې قرآن پاک ختم په لاؤډ سپیکر سره په اوچت آواز وئیل جائز دی یا نه؟ (۲). سجده تلاوت چه کوم عام خلق آوری هغه اکثر بې اودسه وی دَهغوی په ذمه سجده تلاوت واجبیږی یا نه؟ (۳). دغه دوران کښې خلق په بازارونو حجرو او کورونو کښې ګپ شپ لګوی آیا دا خلق په ګناه کښې واقع کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا شمس العارفین عرف قریشی صاحب حق صاحب کانګره چارسده ۱۹۷۲/۱۰/۱۴

الجواب: (۱). په لاوډ سپیکر باندې تراویح کول (او ختم کول) بذاتِ خود ممنوع نه دی. البته دَتکلیف رسولو او دَآوازونو دَاشتباه وغیره عوارضو په وجه به ممنوع وی.《۲》. (۲). اهل فن ته دَمراجعت کولو نه پس معلومیږی چه په دې آلې سره

《۱》(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۳ جلد ۱ قبیل باب ادراک الفریضة)

《۲》قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وفی حاشیه الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد......(بقیه حاشیه په راروانه مخ)

اصلي آواز اوچت شي او اوريدلي كيږي نو دَدې تحقيق په بناء باندې به په ټولو اوريدونكو باندې سجده تلاوت لازم وي. چه يو عبادت دې گناه نه ده. والاسرار ادب لمن يقرا خارج الصلاة فافهم.﴿۱﴾ .﴿۳﴾. داخلق پخپله دَجرم ارتكاب كوي حافظ صاحب خوځه جرم نه دې كړي.﴿۲﴾

نوټ: په مقامي باثره مسلمانانو باندې ضروري دي چه په اوچت آواز سره ريډيو وغيره غږولو دَتكليف نه ديندار خلق او مونځ گذاره او بيماران بچ كړي. وهو الموفق.

په لاؤډ سپيكر دَ شبينې دَختم حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په لاؤډ سپيكر باندې دَشبينې ختم جائز دې يا نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم........۱۸/جمادى الاول ۱۴۰۲هـ.

الجواب: په لاؤډ سپيكر باندې تلاوت او ذكر كول بذاتِ خود جائز دې البته دَ ايذاء په صورت كښې ناجائز دى.

كما يشير اليه ما رواه الحموى عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفاً وخلفاً على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او

(بقيه حاشيه) وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارئ.
(ردالمحتار على هامش الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فى رفع الصوت بالذكر باب مايفسد الصلاه وما يكره فيها)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: (قوله واستحسن اخفاء ها الخ) لانه لو جهر بها لصار موجبا عليهم شيئا بما يتكاسلون عن ادائه فيقعون فى المعصية فان كانوا متهيئين جهربها بحر عن البدائع قال فى المحيط بشرط ان يقع فى قلبه ان لا يشق عليهم اداء السجدة فان وقع اخفاها.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۵۷۶ جلد ۱ قبيل باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ وفى الهنديه: رفع الصوت عند سماع القرآن والوعظ مكروه.
(فتاوىٰ عالمگيريه ص ۳۱۹ جلد ۵ الباب الرابع فى الصلاة والتسبيح وقراءة القرآن الخ)

مصل الخ (ردالمحتار)﴿۱﴾ ليكن چه كوم سړي په لاؤډ سپيكر سره ريكارډنگ باندې انكار نه كوي دَهغه په شبينه باندې انكار كول دَالتفات قابل نه دې. وهو الموفق

دَ رمضان نه علاوه په درې شپو كښې دَ رسوماتو نه پاك دَ شبينې ختم جائز دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه دَرمضان نه علاوه دَ قران پاك داسې شبينه چه دَ مروجه رسوماتو نه پاك وي جائز ده يا نه؟ (۱).چه په هغې كښې په جماعت كښې دَشركت كولو دعوت نه وې وركړې شوې مقتديان صرف دوه وي.(۲) دلاؤډ سپيكر آواز دَجماعت نه بهر نه ځي.(۳).سامعين په جماعت كښې په ادب سره سماعت كوي.(۴).قاري صاحب په نوافلو كښې قران پاك په اوچت آواز سره وائي.(۵).آنحضرت ﷺ او دَامت ټولو اكابرينو ته ايصالَ ثواب مقصود وي. (۶).شبينه په درې شپو كښې وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نصر الله رحيمي مسجد زكريا فيصل آباد........۱۴۰۹هـ.

الجواب: ظاهري طور سره داشبينه جائز ده دَفقهي دَقواعدو سره متصادم نه ده، وهو الموفق.

اته ركعته تراويح كونكي په غلط فهمئ كښې مبتلا دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه يو سړې وائي اته(۸) ركعته تراويح دي او شل ركعته ثابت نه دي آيا دَهغه داخبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد يوسف سركي اټك......۳۰/ذى الحجه ۱۴۰۲هـ.

الجواب: كوم خلق چه اته ركعته تراويح مني هغه په غلط فهمئ كښې مبتلا دي هغوي نه په تراويح او تهجد و كښې فرق كوي او نه دَحديث په الفاظو "فى رمضان وغيره" كښې غور كوي، په غير رمضان كښې تهجد كولې شي تراويح نه. ددينه علاوه دَ نورو تصريحاتو نه هم سترگې پټوي. من كان فى هٰذه

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فى رفع الصوت بالذكر باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها

اعمیٰ فهو فی الآخرة اعمیٰ، وهو ما رواه البیهقی عن ابن عباس انه علیه السلام صلی فی رمضان عشرین رکعة سوی الوتر ﴿۱﴾ وقال البیهقی استقر الامر علی عشرین وقال ایضاً کانوا یصلون عشرین رکعة فی عهد عمر وعثمان وعلی وفی کنز العمال ان ابیا رضی الله عنه کان یصلی لهم عشرین رکعة، وروی مالک عن یزید بن رومان مثله﴿۲﴾ . وهوالموفق

تراویح شل رکعته دی په خیرالقرون کښې اته رکعته دَ چامذهب هم نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ اهل حدیثو دَطرفه یو اشتهار شائع شوې دې په هغې کښې دی چه شل رکعته ثابت نه دی البته اته رکعته تراویح دَ احادیثو نه ثابت دی. اوشل کول مستحب دی. خوسنت نه دی. نوآیا تراویح واقعی شل رکعته ثابت نه دی؟ او آیا واقعی اته رکعته ثابت دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شیراحمد خطیب جامع مسجد جوړی.

الجواب: واضحه دې وی چه تراویح اوتهجد جدا جدا مونځونه دی تهجدتول کال زمونږ په نزد مسنون اومستحب دی اوتراویح صرف په رمضان کښې کول سنت موکده دی. درمضان نه علاوه په نورومیاشتوکښې تراویح کول دَچاپه نز دهم مسنون نه دی. لهذا داحدیث (چه اهلِ حدیث وغیره ئې په استدلال کښې پیش کوی). لایزیدفی رمضان ولا فی غیره الحدیث" په تهجدوباندې محمول دې په تراویح نه بدلیل ولافی غیره، اوپه غالبواوقاتوحمل دې په دوام نه بثبوت الزیادة فی روایات اخری، نودې حدیث سره دَتراویح په شمار استدلال کول دَمنلوقابل نه دې.

﴿۱﴾ (السنن الکبریٰ للبیهقی ص۶۹۸ جلد۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

﴿۲﴾ عن یرید بن رومان :قال کان الناس یقومون فی زمان عمر بن الخطاب رضی الله عنه فی رمضان بثلاث وعشرین رکعة. (السنن الکبریٰ للبیهقی ص۶۹۹ جلد۲ باب ماروی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

نعم روی ابن خزیمة عن جابر رضی الله عنه عن النبی ﷺ ثمان رکعات ثم اوتر لاکنه فعل لیلة واحدة لیدل علی نفی الزیادة فی تلک اللیلة ولا فی غیرها ومع ذلک اتفق جمهور الصحابة والتابعین علی عشرین فی آخر الامر دون ثمان، قال البیهقی ثم استقر الامر علی عشرین وقال ایضا بالعناد صحیح انهم کانوا یقومون علی عهد عمر بعشرین رکعة﴿۱﴾ وعلی عهد عثمان وعلی وفی کنزل العمال ان ابیا رضی الله عنه صلی بهم عشرین رکعة وروی الامام مالک عن یزید بن رومان کان الناس یقومون فی زمن عمر بن الخطاب بثلث وعشرین رکعة﴿۲﴾ وماروی عن مالک ان عمر امرابی بن کعب وتمیما الداری ان یقوما للناس باحدی عشر رکعة﴿۳﴾ فقال ابن عبد البر هذا وهم من مالک وقال البیهقی وابن حبیب المالکی انه فی اول الامر ثم استقرالامر علی عشرین قلت فالراجح هو العشرون دون الثمانیة لانه معمول الخلفاء الراشدین وقال رسول الله ﷺ علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین ﴿۴﴾ ولان العدد لا یعرف بالعقل فهذا وان کان موقوفا ظاهرا لاکنه مرفوع حکماً والقیاس یوید نا لان السنن مکملات الفرائض وهی عشرون مع الوتر فافهم. ولا تکن من اهل البخاری وکن من اهل الحدیث،

هم داوجه ده چه مونږاو امام شافعی اواهلِ مکه شلو ته ترجیح ورکوو. اوتعجب دادې چه دَخیرالقرون په امامانوکښې اته رکعته دَهیچامذهب نه دې. وهوالموفق.

﴿۱﴾ (السنن الکبریٰ للبیهقی ص۶۹۹ جلد۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

﴿۲﴾ (السنن الکبریٰ للبیهقی ص۲۹۹ جلد۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

﴿۳﴾ (السنن الکبریٰ للبیهقی ص۲۹۸ جلد۲ باب ما روی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان)

﴿۴﴾ (مشکواة المصابیح ص ۳۰ جلد۱ الفصل الثانی باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

المنهج الصحیح فی رکعات التراویح

اهل ظاهر عام طور سره داکوشش کوی چه عوام دَخیر القرون دَاماموَنو نه بدگمانه کړی او یو څو احادیث دَعوامو مخې ته کیږدی چه امت په فروعی مسائلو کښې مبتلا کړی او تفرقه بازی کوی. دَهغې نه یوه دَ تراویح دَرکعتونو دَ شمار مسئله ده. چه ډیره په زور اوشور سره پیش کولې شی. حضرت مفتی مدظله، دَ احادیثو او دلیلونو په رڼا کښې دَهغوی په رد کښې دامقاله لیکلې وه چه په بعضو ماهنامو کښې شائع شوې وه، دې باب سره دَ تعلق لرلو په وجه فتاویٰ کښې شامل کولې شی چه استفاده کښې زیادت راشی. (ازمرتب)

واضحه دې وی چه په رمضان المبارک کښې دَتراویح مونځ کول سنتِ مؤکده دی.

کما صرح به فی الهندیه وشرح التنویر ومراقی الفلاح والجوهرة من کتب الحنفیة وفی الروضة والتوشیح من کتب الشافعیة والشرح الکبیر من کتب المالکیه والروض ونیل المآرب من کتب الحنابلة.

البته دَتراویح په شمار کښې اختلاف دې دَامام ابوحنیفه او امام شافعی رحمهما الله په نزد ددې مونځ دَرکعتونو شمیر شل دې.

کما صرح به فی البدائع وغیره من کتب الحنفیة، وفی المجموع من کتب الشافعیة وهی روایة عن مالک کما فی شرح المهذب، واختار ابو عمر ابن عبد البر المالکی کما فی شرح التقریب وذکره ابن رشد فی البدایة عن احمد ورواه ابن قدامة فی المغنی عن احمد.

او ابن قاسم په مدونه کښې دَامام مالک نه روایت کړې چه تراویح ۳۶ رکعته دی. او وتردرې (۳) رکعته دی. او امام ترمذی دَامام احمد نه روایت کړې دې چه هغه دَڅه خاص شمیر قائل نه دې. دَهغه په نزد دې کښې توسیع ده اته رکعته

شل رکعته او ۳۶ رکعته ټول جائز دی. او دَ احنافو په مشائخو کښې علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائی چه اته رکعته دَسنت رسول کیدلو په وجه مؤکده دی. او شل رکعته دَسنتِ خلفائې راشدینو په وجه سنتِ زائده دی. بهرحال ائمه اربعه او دَهغوی په متبعینو کښې چاهم دَاته رکعتونو نه زیات (مثلاً شل رکعته) ته بدعت یامکروه نه دې وئیلې. البته بعضې غیرمقلدینو اته رکعته مسنون گرځولې دی او ددېنه په زیات تعداد باندې انکار کړې دې. او دا مسئله ئې دَ درې طلاقه یو طلاق گرځولو مسئلې پشان دَبې علمه او کم علمه خلقو دَښکار دام جوړ کړې دې. اعاذنا الله من شرور الفرق الشاذة المخالفة عن السواد الاعظم.

غیرمقلدین دَحضرت سیده عائشه رضی الله عنها په دې حدیث سره تمسک کوی. وهو ما رواه البخاری ماکان رسول الله صلی الله علیه وسلم یزید فی رمضان ولافی غیره علی احدی عشر رکعة، یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم به نه په رمضان کښې یوولسو (۱۱) رکعتونو باندې زیاتې کولو او نه په غیررمضان کښې. (بخاری ص ۱۵۴ جلد ۱ کتاب التهجد)، دغه شان داخلق دَحضرت جابر رضی الله عنه په دې حدیث سره دلیل نیسی. (وهومارواه ابن خزیمة وابن حبان انه علیه السلام قام بهم فی رمضان فصلی ثمانی رکعات ووتر. یعنی حضور اقدس صلی الله علیه وسلم (دَصحابه کرامو رضی الله عنهم سره) په رمضان کښې قیام اوکړو او اته رکعته مونځ ئې اوکړو. او وتر ئې هم اوکړل.

قال النیموی مداره علی عیسیٰ بن جاریة قال اللهبی قال ابن معین عنده منا کیر، وقال النسائی منکر الحدیث وعنه ایضا متروک وقال ابو زرعة لا بأس به وقال فی الخلاصه وثقه ابن حبان، وقال ابوداؤد منکر الحدیث انتهی.

دغه شان داخلق دَسائب بن یزید په حدیث سره تمسک کوی. وهوماروه مالک فی الموطا، انه قال امر عمربن الخطاب ابی بکر بن کعب وتمیم الداری ان یقوم للناس باحدی عشر رکعة. جمهوردحضرت ابن عباس رضی الله عنهما ددې حدیث نه استدلال کوی.

وهوماروه ابن ابی شیبة والطبرانی والبیهقی انه علیه الصلوة والسلام یصلی فی رمضان عشرین رکعة سوی الوتر .یعنی حضور ﷺ به په رمضان المبارک کښې د وترو نه علاوه شل رکعته مونځ کولو .قال الزیلعی هومعلول بابی شیبة وهومتفق علی ضعفه،ددې حدیث دمعلول کیدلو باوجود په دې سره استدلال صحیح دې.ځکه چه دا حدیث امت قبول کړې دې.اوامام ابن قیم او امام سیوطی وغیرهما رحمهما الله تصریح کړې چه کوم حدیث امت قبول کړی نوهغه به صحیح ګرځولې شی.اګرکه هغه حدیث دسند په لحاظ سره صحیح نه وی دغه شان دې حدیث ته دخلفائې راشدینو په تعامل سره ډېرلوئې تائید اوقوت حاصل شوې دې.

دغه شان جمهور دامام بیهقی دسنن کبری په حدیث سره استدلال کوی.

وهو ماروه یزید بن خصیفة عن السائب بن یزید قال کانوا یقومون علی عهد عمر بن الخطاب فی رمضان عشرین رکعة وفی عهد عثمان وعلی.

ددې حدیث نه په واضح انداز ثابتیږی چه دخلفائې راشدینو په زمانه کښې په شلو رکعتونو عمل راغلې.اودې باندې تعامل او توارث پاتې شوې دې.اود **علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین (رواه ابن ماجه وغیره)** حدیث په بناء چه څنګه دسنت رسول اتباع ضروری ده دغه شان دسنت خلفائې راشدینو اتباع هم ضروری ده.اوددینه اعراض یا په دې باندې اعتراض دحدیث رسول اوقول رسول نه اعراض او په هغې اعتراض دې اعاذنا الله تعالی منه

دغه شان دخلفائې راشدینو داسنت داسې سنت دې چه دهغې ادراک په عقل او اجتهاد سره نه کیږی ځکه چه دیوڅیز شمیر اومقدار په فکر او رائې سره نشی متعین کیدلې.نو داسې سنت په حقیقت کښې درسول سنت وی.

واضحه دې وې چه اهلِ ظاهر داحدیث سنداً اومتناً معلول ګرځولې دې ځکه چه امام آجری دامام ابوداؤد نه روایت کړې چه امام احمد یزیدبن

الخصیفه ته منکر الحدیث وئیلې دې.دغه شان اهل ظاهر وائی چه داحدیث متناً مضطرب دې ددې په بعضې روایتونو کښې یوولس رکعته کول هم مروی دی. کماروه المالک فی الموطا،دغه شان دا حدیث دحضرت عائشه رضی الله عنها دحدیث سره معارض دې چه هغه ددې خدیث نه قوی دې.

جمهورو ددې اعتراضاتو اهلِ ظاهر ته سخت سخت جوابات ورکړې دی.اول داچه ائمه ؤ ددې حدیث تلقی کړې ده او دائې اخستې دې اوخطیب په خپل کتاب الفقه والتفقه کښې اوابن قیم په اعلام الموقعین،کښې او علامه سیوطی په تدریب الراوی کښې اوابن عبدالبر په استذکار کښې او نورو فنونو والو په خپلو تالیفاتو کښې داقاعده لیکلې ده چه دکوم حدیث دا اهل علم تلقی اوکړی نودا تلقی ددې حدیث دصحت شهادت عادله دې. دویم داچه یزیدبن خصیفه مشهور تابعی دې.دده نه امام مالک.امام بخاری، اوامام مسلم وغیرهم روایت نقل کړی.ابن حبان هم دې ثقه ګرځولې دې.کمافی تهذیب التهذیب،وتهذیب الکمال للمزی،والهدی الساری،اوحافظ ابن حجر رحمه الله په الهدی الساری کښې دآجری د روایت داجواب ورکړې دې چه امام احمدبن حنبل داثرم په روایت کښې ده ته ثقه وئیلې دی.اودائې وئیلې دی چه امام احمدهغه راوی ته منکرالحدیث.وائی چه هغه په خپلو اقرانو کښې دیوحدیث په روایت کولو کښې متفرد وی.اودامسلمه قاعده.ده چه دثقه راوی تفرد مقبول وی. ترڅوچه په دلیل سره دهغې غلط کیدل ثابت شوې نه وی.نوپس په دې بناء باندې به دیزیدبن خصیفه حدیث مقبول وی.

داضطراب ددعوې جواب دا دې چه ابن عبدالبر او ابوبکربن العربی داحدی عشر، والا روایت دامام مالک وهم ګرځولې لیکن چونکه عبدالعزیز بن محمد اویحیی بن سعید القطان دامام مالک متابع دی. کما لایخفی علی من راجع الی سنن سعیدبن منصور ومصنف ابن ابی شیبة.لهذا دامام مالک په وهم کښې پریوتل نا قابل تسلیم دی. حافظ ابن حجر رحمه الله دا

اختلاف د اوقاتو په اختلاف باندې حمل کړې یعني چه کله به ئې اوږد قرأت کولو نو اته یادولس رکعته به ئې کول.او چه مختصر قرأت به ئې کولو نوشل رکعته به ئې کول.

کما قال الشعرانی فی کشف الغمة کانوا یصلونها فی اول زمان عمر بثلث عشر رکعة ثم عمر امر بفعلها ثلاثا وعشرین رکعة ثلاث لها وتر، واستقر الامر علی ذلک...... قال النیموی کما استقر الامر فی خلافته علی ضرب الثمانین فی الخمر وکما استقر الامر علی النهی عن بیع امهات الاولاد وکما استقر الامر علی اربع تکبیرات الجنائز وکما استقر الامر علی القرأة فی خلافة عثمان رضی الله عنه کما فی الاوجز.

اودا مسلمه قاعده ده چه په ترجیح اوتطبیق سره اعتراض ساقطیږي.

د اهلِ ظاهر دا اعتراض چه دَیزید حدیث دَحضرت عائشه دَحدیث سره معارض دې چه هغه اقوی دې جواب دا دې چه دَیزید اوحضرت عائشه په حدیثونو کښې هیڅ تعارض نشته.ځکه چه دَعائشه په حدیث کښې ددغې رکعتونو نه مراد دَتهجدومونځ دې قیام تراویح اوقیام رمضان نه،ځکه چه په غیررمضان کښې تراویح نشی کولې.اوعند التحقیق تراویح اوتهجد ځان ځانله حقائق دی.اوکه دااومنلې شی چه تهجد اوتراویح ځان ځانله مونځونه نه دی نواهل ظاهر ته وئیلې کیږی چه دَحضرت عائشه په حدیث کښې هم اختلاف دې ځکه چه امام بخاری په صحیح البخاری په باب مایقرا فی رکعتی الفجر، کښې دَحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه دَ دیارلس رکعتونو حدیث روایت کړې دې.ولفظه کان رسول الله ﷺ یصلی باللیل ثلاث عشرة رکعة ثم یصلی اذا سمع النداء بالصبح رکعتین،دَدې اختلاف اوتعارض اهلِ ظاهرڅه جواب ورکوی؟ که اهلِ ظاهر داجواب ورکوی چه احدی عشر،والا روایت په غالب حالاتو باندې حمل دې او زیادت په بعضې اوقاتوباندې حمل دې.نودې اهلِ ظاهر په اته رکعتونو باندې جمود او کلک کیدل باطل شو او پخپله توره باندې قتل شول اوکه اهلِ ظاهر ددې تطبیق نه اعراض کوی

نو داختلاف په وجه باندې دَحضرت عائشه رضی الله عنها دواړه روایتونه ساقط شول او دَیزید بن خصیفه حدیث بلاتعارض پاتې شو او واجب العمل شو.واضحه دې وی چه دَجمهورو مسلک دَنظر او شواهدو په رڼا سره هم قوی دې.ځکه چه په ورځ شپه کښې شل رکعته اعتقادی اوعملی فرائض دی،نومناسب داده چه تراویح هم چه دَفرضو مکملات دی شل رکعته دی.لکه چه سننِ قبلیه او بعدیه هم شل رکعته دی. دَاهلِ ظاهر دَ دلائلو جوابونه دا دی چه دَحضرت عائشه رضی الله عنها حدیث په تهجدوباندې محمول دې نه دا چه په تراویح باندې.اوپه غالب باندې محمول دې نه داچه په دائم باندې.ګنې نودَحضرت عائشه رضی الله عنها روایتونه به متعارض شی.بلکه امام احمد په زیاداتِ مسند کښې دَحضرت علی رضی الله عنه نه په اسناد حسن سره روایت کړې دې چه حضور اکرم ﷺ به په شپه کښې شپاړس رکعته نفل کول.دغه شان دَحضرت عائشه رضی الله عنها داحدیث په ابتداء باندې محمول دې هغه وخت چه په شلو رکعتونو باندې استقرار نه وو شوې.

دَحضرت جابر رضی الله عنه دَروایت نه حافظ ابن حجر داجواب کړې.لاکنه فعل جزءی فی لیلة واحدة لا یدل علی نفی الزیادة تلک اللیلة،او دویم جواب دا دې چه دا په ابتداء الامرباندې محمول دې.وقدمرسابقاجواب حدیث السائب.

اوداخبره دې واضحه وی چه دَابن الهمام سره نورو مشائخواتفاق نه دې کړې ځکه چه دَابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې شل رکعته کول دَفعل رسول،نه ثابت دی.دغه شان په حدیث ،علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین کښې دَ علیکم لفظ سنت رسول او سنت خلفاءدواړو ته یو شان متوجې دې نو په دواړو کښې فرق کول دَپوهې نه اوچتې خبرې دی.داسنتِ دخلفاء اګرچه ظاهراً موقوف دې لیکن په حقیقت کښې مرفوع دې.

لعدم کونه مدرکاً بالرأی والقیاس وهو الموفق والهادی،
وصلی الله تعالیٰ علی سید نا خیر خلقه محمد وآله واصحابه واتباعه اجمعین.

شبینه بدعت نه دي جائز ده

علمائي دین دي مسئلي باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په محله کښې تقریباً دپنځلس شل کالو راسې دَرمضان په آخری درې شپو کښې شبینه کولې شی سامعین ئې ډیر په شوق سره اوری.دَهغې دلیل دا دې چه هفته یوه نیمه هفته مخکښې دَپروګرام متعلق تپوس کوی په چاباندې هیڅ قسم دباؤ(زور) نه وی اونه پکښې څوک مجبوراً شاملیږی.قاریان او حافظان هم په شوق سره لولی.څه دنیا وی لالچ اودَفائدې طمع ئی نه وی.بعضې خلق په خپله خوشحالئ په اقتداء کښې نیت تړی او اوری اوبعضې دغه شان په جمات کښې ناست وی اوری.دَتیرو پنځلس شلو نه چاهیڅ شکایت نه دي کړې لیکن تیرکال یو سړی اووئیل چه دا بدعت دې،په دې سره خلقو ته تکلیف رسیږی.دَشبینې اهتمام دَشریعت په رنړا کښې څنګه دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حافظ بشیراحمد حافظ آباد گوجرانواله.....۳/نومبر۱۹۷۴ء.

الجواب: دَسلف صالحینو نه ورځ شپه کښې یو ختم کول بلکه ددینه زیات ختمونه کول مروی لهذا دیته به بدعت نه وئیلې کیږی.البته افضل به نه وی.

قال الامام السیوطی فی الاتقان ص ۱۰۴ جلد ۱ وقد کان للسلف فی قدر القرأة عادات فاکثر ماورد فی کثرة القرأة من کان یختم فی الیوم واللیلة ثمان ختمات اربعا فی اللیل واربعا فی النهار ویلیه من کان یختم فی الیوم واللیلة اربعا الخ﴿۱﴾. ولقد الف مولانا اللکهنوی فیه الرسالة المسماة بالاکثار فی العبادة لیست ببدعة فلیراجع﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (الاتقان فی علوم القرآن ص ۱۰۴ جلد ۱ النوع الخامس والثلاثون فی آداب تلاوته)

﴿۲﴾ البته په شبینه کښې دضرورت نه د زیات جهر اجازت نشته چه بیمار وغیره ته ضرر اوتکلیف نه وی اویوخل چه ختم شوې وی نوبیا په شبینه کښې د عام مقتدیانو لحاظ ساتل پکاردی صرف د مخصوصو مقتدیانو نه.(سیف الله حقانی)

دَ دوو ترویحو په مینځ کښې ذکر بالجهرکول

سوال: علمائي دین دي مسئلي باره کښې څه فرمائی چه کوم خلق په تراویح کښې دَ دوو ترویحو په مینځ کښې په ناسته باندې ذکربالجهر په زرو سره دَ لا اله الا الله،وائی یو سړې وائی چه دا حرام اوبدعت دې.او دلائل پیش کوی ادعوا ربکم تضرعا وخفیة دون الجهر،واذا سالک عبادی الخ،اودَاحادیثو نه هم حوالې ورکوی چه عبدالله بن مسعود ﷜ ذاکرین بالجهر مبتدعین ګرځولې وو او دَجمات نه ئې بهرویستلي وو،اوپه زورسره ذکر کول ریاکاری ،ځان ښودل حرام اومکروه دی دده په مقابله کښې دویم کس وائی چه دَمفتی به مسلک نه ته بې خبره ئې په مذکوره آیتونو کښې عندالمفسرین دعا دَمونځ نه بهر یا قرأت دَمونځ مراد دې.لکه چه علامه بغوی هوالصحیح وئیلو سره فیصله کړې .اوعبدالله بن مسعود خلق دَذکربالجهر په وجه نه وو ویستلي بلکه په دې وجه چه دغه خلقو دامستقل عبادت ګڼړلو او کولو ئې.باقی که دَفتاوی بزازیه پوره عبارت اولوستلې شی نو ذکر بالجهرته به کله هم بدعت اونه وائی.بلکه صاحب دَجاء الحق په ص۳۵۷کښې دَحضرت عبدالله بن مسعود دَخلقو لره دَویستلو وجه دَبعضې مونځ ګذاوو اوپه جماعت اول کښې خلل انداز کیدل ظاهر کړی دی.اوټول مفسرین اوفقهاء فرمائی چه که په جهر سره نزدې والا کس ته ضرر یاتشویش وی نو ممنوع دی.مثلاً په خواکښې مونځ ګزار وی یا اوده وی ګنې ذکربالجهر په مساجدو کښې خارج از مساجد کول افضل اومستحب دې.اودَتراویح په باره کښې صاحب دَمجالس الابرار په باب التراویح،۱کښې فرمائی ان شاء واسبحوا وهللوا اوسکتوا وهم مخیرون، علامه ابن حجر په فتح الباری کښې ذکر روستودَمونځ نه په عنوان سره دَحضرت عبدالله بن عباس ﷜ نه ددې روایت لاندې ان رفع الصوت بالذکر حین ینصرف الناس من المکتوبه کان علی عهد

النبی ﷺ وقال ابن عباس کنت اعلم اذا انصرفوا بذلک سمعته، نقل فرمائیلي دي.فیه دلیل علی جواز الجهر بالذکر عقب الصلاة،په ردالمحتار کښې دی.اجمع العلماء سلفاً وخلفاً علی استحباب ذکرالجماعة فی المساجد وغیرها، تفسیرروح البیان،سباحة الفکربحواله مرقاة شرح مشکواة او خزینة الاسرار، کښې مذکور دی که ریاکاری نه وی نو په اوچت آواز سره ذکرکول جائز دی.اومستحب دی چه خوب او غفلت لرې شی اوپه طبیعت کښې خوشحالی وی. ددین عظمت وی،محلې،دکانونه،کورونه،اونې او ترځناورو پورې ګواه جوړشی. شیخ محمد تهانوی رحمه الله فرمائی چه حضور ﷺ به دمونځ نه پس دخپلوصحابه کرامو رضی الله عنهم سره په اوچت آواز سره تسبیح وتهلیل او ذکر کولو.(دلائل اذکارص ۷۲).

علامه ګنګوهی په فتاوی رشیدیه کښې فرمائی ذکرجهر برابره خبره ده چه هرذکروی دامام ابوحنیفه په نزد سیوا دهغې موقعونه چه جهری ثبوت وی هلته مکروه دی.اوصاحبین او نور فقهاؤ او محدثینو په نزد جائز دی. او زمونږ د مشائخو مشرب دصاحبینو دمذهب اختیارول دی،ددې مسئلې متعلق فیصله اوکړئ او بیان ئې کړئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمود شاه اوګی مانسهره هزاره......۱۴/۱۱/۱۹۷۴ء.

الجواب: الذکرالجهری جائز خلاف الاولی الاعندالایذاء فانه مکروه،(۱).الا اذا کان مطلوباشرعافانه مشروع،وهو المصوب.

د فرضو کولو نه بغیر تراویح کول

الجواب: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړی دعشاء د

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفاً وخلفاعلی استحباب ذکرالجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم اومصل او قارئ. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۴۸۸ جلد ۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها)

مونځ فرض نه وی کړې او تراویح شروع کړې .نوآیا دفرض کولو نه بغیر داسې تراویح کولې شی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ریاض الدین......۲۲/۹/۱۹۸۸ء.

الجواب: کوم امام چه فرض مونځ نه وی کړې نوهغې امام پسې اقتداء صحیح نه ده او نه دهغه ذمه دتراویح نه فارغیږی. کمافی الهندیه ص۱۲۲ جلد۱ لان وقتها بعداداء العشاء فیجب الاعادة اذا ادی قبل العشاء،(۱)وبمعناه فی الشرح الکبیر ص ۳۸۵،(۲).هوالموفق.

د تراویح د مونځ نه پس د امام اجتماعی دعا غوښتل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ امام صاحب دتراویح د مونځ نه پس اجتماعی طور سره دعا غواړی آیا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالرحمن اچهره لاهوربنار..........۸/۹/۱۹۸۱ء.

الجواب: که دا دعا غوښتل دالتزام په طور سره نه وی نو مکروه نه ده.(۳). وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاوی عالمګیریه ص ۱۱۵ جلد ۱ فصل فی التراویح)

﴿۲﴾ قال العلامة الحلبی: وقال القاضی الامام ابو علی النسفی الصحیح ان وقتها بعد العشاء لا تجوز قبلها سواء کانت بعد الوتر او قبله وهو المختار لانها نافلة سنة بعد العشاء بفعل وکذا المنقول من فعله علیه الصلوٰة والسلام فکانت تبعا لها کسنتهاوتقدیم الصحابة لها علی الوتر. (غنیة المستملی ص ۳۸۵ فصل فی النوافل)

﴿۳﴾ قال المفتی الاعظم المفتی کفایت الله رحمه الله تعالی: (د دعا بعد السنن والنوافل) حکم دا دې چه که په هغې کښې څه قسم التزام نه وی او بهتر او افضل ئې نه ګڼړی اوپه پریخودونکی باندې ملامتیانه کوی او داجتماع اهتمام نه کوی او امام ورته پابندولې نه شی نو که دسنتونه روستو کوم خلق اتفاقی طور سره موجود وی او دعا اوغواړی نو جائزدی.(کفایة المفتی ص ۳۴۰ جلد ۳ سنن ونوافل نه پس داجتماعی دعا ثبوت شته یا نه، فصل اول).

(باقی حاشیه په راروانه صفحه)

دَ مخصوص شبينې حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دې زمانه کښې دَ شبينې ختم په لاؤډ سپيکرباندې دَنمود او نمائش دپاره دومره زر زر کوی چه په هغې کښې دَ زبر زير فرق نه وی آيا داسې شبينه په صحابه کرامو رضی الله عنهم او خيرالقرون کښې معمول وه آيا په دې طريقې سره شبينه کول جائز دی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: عبدالرشيد.......۱۹۸۴ء/۶/۳۰.

الجواب: بشرط صدق مستفتی دا شبينه ناجائز او خلاف سنت ده.داسې شبينه په خيرالقرون کښې معمول نه وه.﴿۱﴾ .وهوالموفق.

دَ تراويح او وترو په مينځ کښې نفل کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَتراويح او وترو په مينځ کښې نفل کول جائز دی يا ناجائز ؟ بينوا توجروا.

المستفتی:عبدالرزاق مردان........۱۹۷۶ء/۱۰/۶.

(بقيه حاشيه) مفتی عزيزالرحمن صاحب فرمائی: دَسنتو او نفلو نه پس اجتماعی طور مقتديان دَدعا پابند کول نه دی پکار. دَفرضو نه پس که مثلاً يو سړې کورته ځی اوسنت کوی نو هغه ولې پابند کولې شی. اوکه څوک داسې اوکړی هغه دَملامتـه کولو لائق نه دې.او دا رواج چه دَسنتو اونفلو نه پخپله هريو سړې کله فارغ شو دعا کوی اوځی يا فرضو نه پس کورته ځی سنت کوی دې کښې څه تنگی نه دی کول پکار.

(فتاویٰ دارالعلوم ديوبند ص ۲۱۲ جلد۴ باب مسائل سنن مؤکده)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ويجتنب المنکرات هذرمة القرأة وترک تعوذوتسمية وطمانينة وتسبيح واستراحة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۳ جلد ۱ مبحث التراويح)

وفی الهنديه: ويکره الاسراع فی القراءة وفی اداء الارکان کذا فی السراجية.

(فتاویٰ عالمگيريه ص۱۱۷ جلد ۱ فصل فی التراويح)

الجواب: دَوترو او تراويح په مينځ کښې نوافل کول جائز دی.

کما فی شرح التنوير ويجلس ندبا بين کل اربعة قدرها وکذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقرأة وسکوت وصلاة فرادی﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ نذر نفل کونکی پسې تراويح کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ نذر نفل کونکی پسې سنت تراويح کول صحيح دی يا نه؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حافظ تعويذگل نرياب هنگو.........۳/جنوری ۱۹۸۳ء.

الجواب:دا اقتداء صحيح ده.هذابناء الادنی علی الاقوی(مجموعة الفتاوی).﴿۲﴾. وهوالموفق.

دَ پيغمبر عليه السلام نه اته(۸) رکعته تراويح ثابت نه دی.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ يوملگرې وائی چه په رمضان المبارک کښې اته رکعته تراويح کول پکار دی ځکه چه رسول الله ﷺ نه ددينه زيات نقل نه دی.

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۲ جلد ۱ مبحث صلاه التراويح)

﴿۲﴾ علامه عبدالحی لکهنوی فرمائی: په اولنی اختلاف باندې يو ژور نظر اچولونه پس دا معلوميږی چه تراويح او نور سنتونه اونفلونه په مطلق نيت او دَنفلو سره پوره کيږی لکه چه ابن همام ددې تحقيق کړې دې.اوپه دويم اختلاف باندې ژور نظر کولو سره دا معلوميږی چه که تراويح کونکې نفل کونکی پسې اقتداء اوکړی نو تراويح به ئې ادا شی.ليکن دکراهت نه خالی نه دی ځکه چه دې کښې دَسلفو مخالفت دې.نوپه داسې صورت کښې بهتر ده چه امام څومره تراويح دَبل جماعت سره کول غواړی دَهغې نذر دې اومنی اوپه دې طريقې سره دې هغه په ځان واجب کړی نودَبناء القوی علی الضعيف" والا شبهې نه به محفوظ شی.

(مجموعة الفتاوی ص۲۳۵ جلد۱ کتاب الصلوة).

او که د دینه زیات یعنی شل رکعته او کړی نو په هغې کښې ثواب نیشته آیا
داسې څه دلیل شته چه دهغې نه دا ثابته وی چه تراویح اته رکعته دی؟ بینوا توجروا
المستفتی: محمد نثار سدو خیل پړانګ چارسده........۱۸/صفر ۱۳۸۹ھ

الجواب: د پیغمبر علیه السلام نه اته رکعته تراویح ثابت نه دی او نه دا د ائمه اربعة د مذهب دی.﴿۱﴾ دا د اهلِ حدیث مذهب دی چه من حیث التحقیق په غلطئ باندې دی. وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله وهی عشرون رکعة)هو قول الجمهور وعلیه عمل الناس شرقا وغربا وعن مالک ست وثلاثون وذکر فی الفتح مقتضی الدلیل کون المسنون منها ثمانیه والباقی مستحبا و تمامه فی البحر وذکرت جوابه فیما علقته علیه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۲۱ جلد ۱ مبحث صلاة التراویح)

وقال العلامه حسن الشرنبلالی: التراویح سنة کما فی الخلاصة وهی موکدة کما فی الاختیار وروی اسد بن عمر وعن ابی یوسف قال سالت ابا حنیفة عن التراویح وما فعله عمر رضی الله عنه فقال التراویح سنة موکدة ولم یتخرصه عمرمن تلقاء نفسه ولم یکن فیه مبتدعا ولم یامر به الا عن اصل لدیه وعهد من رسول الله ﷺ ......ثبت سنیهتا بفعل النبی ﷺ وقوله قال علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین من بعدی وقد واظب علیها عمر وعثمان وعلی رضی الله عنهم...... وقول بعضهم سنة عمر لان الصحیح انها سنة النبی ﷺ، قال العلامه طحطاوی وفی الفتاویٰ الهندیه عن الجواهر هی سنة رسول الله ﷺ وقیل هی سنة عمر رضی الله عنه والاول اصح وفی حاشیة السید علی العلامه مسکین وما قیل یکفر من یقول انها سنة عمر رضی الله عنه کما تقوله الروافض فممنوع فقد صرح فی کثیر من المتداولات بانها سنة عمر یعنی یعنی بالنظر لکونها عشرین رکعة وللمواظبة علیها وذلک لا یمنع کونها سنة رسول الله ﷺ ایضا لما ذکرنا.
(حاشیة الطحطاوی علی المراقی الفلاح ص ۲۲۴ فصل فی صلاة التراویح)

په ختم القرآن اجرت اودَ پنځه څلویښت روپو نه کم اجرت نه اخستلومسئله

سوال: علمائې دین.دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَختم القرآن کولو نه پس په دې پیسې ورکول اخستل څه حکم لری؟ دغه شان دا هم واضح کړئ چه واقعی په ختم القرآن باندې دَ۴۵روپو نه کم اجرت اخستل جائز نه دی؟ بینوا توجروا.
المستفتی: حافظ حجاج ولی بنوں......۴/۲/۸۸ء

الجواب: په ختم القرآن باندې اجرت اخستل جائز دی چه کله دَدنیوی مقصد دپاره وی او که دَ ایصالِ ثواب دپاره وی نو بیا اخستلو کښې اختلاف دې.او چه کله تراویح کښې وی نو دَتحقیق په بناء باندې جائز دی.﴿۱﴾. او دَ۴۵ روپونه کم نه اخستلو والا مسئله فقهائې کراموضعیفه او کمزورې ګرځولې فلیراجع الی ردالمحتار ص۳۸ جلد۵ وما نقل عن بعض الهوامش وعزی لحاوی الزاهدی من انه لا یجوز الاستیجار علی الختم باقل من خمسة واربعین درهما فخارج عما اتفق علیه اهل المذهب ﴿۲﴾. وهو الموفق.

﴿۱﴾ وفی المنهاج: واما اخذالاجرة واعطاءها علی ایصال ثواب التلاوة فانکر علیه اکثر الفقهاء لکن کلام البحر فی باب الوقف یدل علی الجواز وعبارة السراج الوهاج صریح فی ان جواز الاخذ هو القول الاصح ای عند تعین المکان فالاحوط هو الاجتناب ، واماما یعطی الحفاظ فی رمضان عند ختم القرآن فالحق انه جائز لانها هدیة معروفة لیست باجرة ویشهد له حدیث الترمذی عن انس ان رجلا من کلاب سأل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله انا نطرق الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة والاعتبار لنیة الدافع دون الآخذ فافهم، ولو سلم انه اجرة فلا حرج فیه ایضا لانها لیست عوض التلاوة البحتة ولا الامامة البحتة بل هی عوض الامامة المسنونة المخصوصة ولا ضیر فی اخذ الاجرة علی الامامة المقیدة بمکان او زمان او قراءة سورة او سؤر هذا.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۹۰ جلد۲ باب کراهیة الاجر علی الاذان)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۳۹ جلد۵ مطلب تحریر مهم فی عدم جواز الاستنجار علی التلاوة والتهلیل باب الاجارة الفاسدة)

باب قضاء الفوائت

دَ نامعلومه پاتې شووو مونځونو دَ قضا کولو طريقه

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ څو کالو پاتې شووو څلور رکعتونو والا مونځ قضا به څنګه کيږی. دَ عام فرضو پشان يا دَ نفلو پشان دغه شان وتر او دَ مابنام مونځ به څنګه ادا کولې شی؟ او نيت به څنګه کول پکار وی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: خواجه عبد السلام ازارندرروند وضلع چترال... ۱۹۸۲ء/۵/۲۰.

الجواب: دَ نامعلومه قضاء کولو په صورت کښې به فرائض دَ نفلو پشان کولې کيږی ټولو رکعتونو کښې به سورت يوځائې کولې شی او درې رکعتونو والا به هم څلور رکعتيز کولې کيږی. او دَ وترو په دريم رکعت کښې به قنوت وئيلې کيږی. په څلورم کښې نه ځکه چه دا نفل دی. ﴿۱﴾ . او دَ نيت متعلق دې داخبره واضحه وی چه دَ اول نه يا دَ آخرنه شروع کړئ يعنی اولنې صبا يا آخرنې صبا وغيره داسې نيت به کوی. ﴿۲﴾ . وهو الموفق.

﴿۱﴾ قال العلامه سيد احمد الطحطاوی ومن قضی صلاة عمره مع انه لم يفته شئ منها احتياطا...... والافضل ان يقرأ فی الاخيرتين السورة مع الفاتحة لانها نوافل من وجه فلان يقرء الفاتحة والسورة فی اربع الفرض...... ويقنت فی الوتر ويقعد قدر التشهد فی ثالثته ثم يصلی ركعة رابعة فان كان وترا فقد اداه ...... وكذا يصلی المغرب اربعا بثلاث قعدات.
(طحطاوی علی المراقی الفلاح ص ۲۴۳ قبيل باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾ قال العلامه حسن بن عمار الشرنبلالی فاذا اراد تسهل الامر عليه نوی اول ظهر (وقوله عليه) ادرک وقته ولم يصله فاذا نواه كذلک فيما يصليه يصير اولا فيصح بمثل ذلک وهكذا او ان شاء نوئ اخره فيقول اصلی اخر ظهر ادركته ولم اصله فاذا فعل كذلک فيما يليه يصير آخر بالنظر لما قبله فيحصل التعين.
(مراقی الفلاح علی هامش حاشية الطحطاوی ص ۲۴۲ باب قضاء الفوائت)

دَ قضا مونځونو طريقه او چه قوم ته بې اودسه مونځ اوکړئ نو څه به کوی

سوال: علمائې دين شرع متين دَ لاندنيو مسئلو باره کښې څه فرمائی!

(۱) دَ بلوغ نه پس که يو سړې تر ۴۰، ۳۵ کالو پورې مونځ اونکړی نو دَ هغې دَ قضا کولو طريقه څه ده؟ (۲). يو امام څو کسانو ته دَ رمضان يو مونځ بې اودسه کړې دې نو خلقوته وئيل ضروری دی يا نه؟ (۳). څو کسانو ته که دَ جنابت په حالت کښې مونځ اوکړې شی نو څه کول پکار دی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: دين محمد جنوبی وزيرستان.... ۱۹۷۵ء/۸/۳۰.

الجواب: (۱). دا سړې به روزانه يو څو مونځونه ادا کوی او دَ اول وخت (يعنی اولنې فجر يا اولنې ظهر، اولنې عصر، اولنې مغرب اولنې ماسخوتن) يا دَ آخری وخت نيت به کوی. کمافی الدر المختار قبيل سجود السهو، کثرت الفوائت نوی اول الظهر عليه او آخره. ﴿۱﴾ . البته چه کوم مونځ يقينی طورسره قضا شوې نه وی نو احتياطاً دې دَ نفلو پشان ادا کړې شی. (۲، ۳). که دا قوم معلوم او معين وی نو ضروری ده چه دَ خط وغيره په ذريعوسره هغوی خبر کړې شی. فی الدر المختار كما يلزم الاخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب بالقدر الممكن بلسانه او بكتاب او رسول علی الاصح (هامش ردالمحتار ص ۳۹۸ جلد ۱) ﴿۲﴾ قلت عند الفتنة جاز الاخفاء بالمذهب بالمرجوح ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۴۵ جلد ۱ قبيل سجود السهو)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۳۸ جلد ۱ مطلب المواضع التی تفسد صلاة الامام دون المؤتم)

﴿۳﴾ قال الحصكفی وصحح فی مجمع الفتاویٰ عدم (ای اخبار القوم) مطلقا لكونه عن خطأ معفو عنه لكن الشروح مرجحة علی الفتاویٰ، قال ابن عابدين قوله (لكونه عن خطاء معفو عنه) ای لانه لم يتعمد ذلک فصلاته غير صحيحة ويلزمه فعلها ثانيا لعلمه بالمفسد واما صلاتهم فانها وان لم تصح ايضا لكن لا يلزمهم .... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دَ پیغمبر علیه السلام نه دَقضا مونځونو ثبوت او

دَ نامعلومه قضا شوو مونځونو طریقه

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی که دَیو انسان نه بې شمیره مونځونه پاتي شوې وی نو دَهغې دَ ادا کولو طریقه به څه وی. اوپه احادیثو کښې دَپیغمبر علیه السلام نه دَمونځونو قضاء کیدل اوبیا ادا کول ثابت دی یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حاجی مشیرخان زروبی صوابی......۱۴۰۱/۲/۴هـ.

الجواب: حدیث لیلة التعریس (رواه مسلم وغیره) ﴿۱﴾ اوحدیث غزوه خندق (رواه البخاری وغیره) ﴿۲﴾ کښې دَپیغمبر علیه السلام نه دَمونځونو قضاء کیدل اودَهغې راګرځول ثابت دی. اودَ کوم کس نه چه بې شمیره مونځونه پاتې شوې وی

(بقیه حاشیه) اعادتها لعدم علمهم ولا یلزمه اخبارهم لعدم تعمده فافهم. وقال الشیخ عبد القادر الرافعی قوله (لانه لم یتعمد) قال السندی ما ملخصه ان عمر لما رأی الاحتلام فی ثوبه اغتسل وغسل الاحتلام ولم یذکر انه اخبر الناس وعزا الاثر للموطا.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۳۸ جلد ۱ وتقریرات الرافعی ص ۷۷)

﴿۱﴾ عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ حین قفل من غزوة خیبر سار لیلة حتی اذا ادرکه الکری عرس وقال لبلال اکلا لنا اللیل فصلیٰ بلال ما قدر له ونام رسول الله ﷺ واصحابه فلما تقارب الفجر استسند بلال الی راحلته مواجه الفجر فغلبت بلال عیناه وهو مستند الی راحلته فلم یستیقظ رسول الله ﷺ ولا بلال ولا احد من اصحابه حتی ضربتهم الشمس فکان رسول الله ﷺ استیقاظا ففزع رسول الله ﷺ فقال ای بلال فقال بلال اخذ بنفسی الذی اخذ بابی انت وامی یا رسول الله بنفسک قال اقتادوا فاقتادوا رواحلهم شیئا ثم توضاء رسول الله ﷺ وامر بلال فاقام الصلوٰة فصلی بهم الصبح فلما قضی الصلوٰة قال من نسی الصلوٰة فلیصلها اذا ذکرها فان الله تعالیٰ قال اقم الصلوٰة لذکری قال یونس وکان ابن شهاب یقرأها للذکریٰ.

(الصحیح المسلم ص ۲۳۸ جلد ۱ باب قضاء الصلوٰة الفائتة واستحباب تعجیل قضائها)

﴿۲﴾ عن جابر بن عبد الله ان عمر بن الخطاب جاء یوم الخندق بعد ما غربت الشمس جعل یسب کفار قریش وقال یا رسول الله ما کدت ان...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اودَ تمیز اوتعین نه ئې بې بسه وی نو هغه به دَ اولنی قضاء مونځ نه یا آخرنی قضاء مونځ نه شروع کړی. مثلاً هرورځ به دَاولنی فجر، اولنی ظهر، او، اولنی عصر نیت کوی. اوپه هر رکعت کښې به سورت یوځائې کوی. اووتر او ماښام به هم څلور رکعته کوی. (په دویم دریم او څلورم رکعت باندې به قعده کوی).

په کوم وختونو کښې چه نفل ممنوع دی هغه وختونو کښې به دا قضا نه کوی. (ماخوذ از ردالمحتار ص ۵۱۷ تا ۴۸۹ جلد ۱). ﴿۱﴾. وهوالموفق.

دَچا په ذمه باندې چه فرض مونځونه وی نو

قضا مونځونه راګرځول دَنفلو نه افضل دی.

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَیو سړی په ذمه باندې فرض مونځونه باقی وی. اودَ قضا په ځائې باندې نوافل کوی نوآیا ده دپاره نوافل کول افضل دی یا قضا مونځونه کول؟ بینوا توجروا.

المستفتی: خیرمحمد متوره بنوں.

الجواب: دَچا په ذمه چه فرض مونځونه باقی وی نو هغه دپاره قضامونځونه

(بقیه حاشیه) اصلی حتی کادت الشمس ان تغرب قال النبی ﷺ وانا والله ما صلیتها فنزلنا مع النبی ﷺ بطحان فتوضأ للصلوٰة وتوضأنا لها فصلی العصر بعد ما غربت الشمس ثم صلی بعدها المغرب.

(صحیح البخاری ص ۵۹۰ جلد ۲ باب غزوة الخندق وهی الاحزاب کتاب المغازی)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: انه کان یصلی المغرب والوتر اربع رکعات بثلاث قعدات کما نقله فی البحر عن مآل الفتاویٰ ای ویکون حینئذ اعادة الصلاة المجرد توهم الفساد غیر مکروه ویکون النهی محمولا علی غیر هذا الوجه لکن لما کانت الصلاة علی هذا محتملة لو قوعها نفلا...... نقول انه کان یضم الی المغرب والوتر فعلی احتمال صحة ماکان صلاة او لا تقع هذه الصلاة نفلا وزیادة القعدة علی رأس الثالثة لا تبطلها وعلی احتمال فساده تقع هذه فرضا مقضیا وزیادة رکعة علیها لا تبطلها.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۵۱۶ جلد ۱ قبیل مطلب فی الصلاة علی الدابة)

اداکول دَنفل اداکولو نه افضل دی.

كمافی الهندیه ص ۱۳۲ جلد ۱ وفی الحجة والاشتغال بالفوائتة اولیٰ واهم من النوافل الا السنن المعروفة وصلوٰة الضحیٰ الخ ﴿۱﴾. وهوالموفق

په قضاء مونځونو کولو او نوافلو اداکولو کښې څه منافات نشته

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم مونځونهٔ دَغفلت په وجه زمونږ نه قضا شوي دی، اوس هغه ادا کول دی لیکن ما اوریدلي دی چه دچاپه ذمه باندې فرض مونځونه وی نودَهغه نوافل غیرمقبول دی، دَنوافلو په ځائې قضاء مونځونه کول پکاردی. سوال دادې چه آیا ځه به نوافل تهجدوغیره نه اداکوم. اوصرف قضاء ادا کړم؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالرؤف ډاتوال ضلع چکوال...... ۲۲/۱۱/۱۹۸۲ء

الجواب: نه قضا هم کوه او تهجد، اوابین وغیره نوافل هم کوه. کماقی الهندیه ص ۱۳۲ جلد ۱ باب قضاء الفوائت، ﴿۲﴾. دغه شان دَ وترو قضا هم ضروری ده.
(شامی، بحر، هندیه وغیره، ﴿۳﴾. وهوالموفق.

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۲۵ جلد ۱ الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ قال فی الهندیه: وفی الحجة والاشتغال بالفوائت اولی واهم من النوافل الا السنن المعروفة وصلاة الضحیٰ وصلاه التسبیح والصلوٰت التی رویت فی الاخبار فیها سور معدودة واذکار معهودة فتلک بنیة النفل وغیرها بنیة القضاء کذا فی المضمرات.
(فتاویٰ عالمگیریه ص ۱۲۵ جلد ۱ الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)

﴿۳﴾ قال الحصکفی: الترتیب بین الفروض الخمسة والوتر اداء وقضاء لازم، قال ابن عابدین: الواو بمعنی اومانعة الخلو فیشمل ثلاث صور ما اذا کان الکل قضاء او البعض قضاء والبعض اداء اوالکل اداء کالعشاء مع الوتر.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۵۳۶ جلد ۱ باب قضاء الفوائت)

دَ څلور رکعتو تراویح نیت ئې اوکړو په دریم رکعت کښې مونځ فاسدشو نودَقضاځه حکم دې؟

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی که چادَڅلور رکعته تراویح نیت اوتړلو بیاپه دریم یا څلورم رکعت کښې ئې سلام اوګرځولو یا په دویمه شفعه کښې مونځ فاسد شو اوس به هغه صرف دوه رکعتوقضاکوی دَنفلو پشان، یا دَڅلورو رکعتونو؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اکرام الحق راولپنډی....... ۱۸/اګست ۱۹۷۳ء

الجواب: واضحه دې وی چه تراویح اګرچه فی نفسها سنتَ موکده دی لیکن څلورڅلور رکعته کول سنت موکده نه دی لهذا پهٔ مسؤله صورت کښې دوه رکعته قضا کول کافی دی.

کمافی الدرالمختار وقضی رکعتین لونویٰ اربعا غیر المؤکدة علی اختیار الحلبی وغیره ونقض فی خلال الشفع الاول اوالثانی (هامش الرد ص ۶۴۷ جلد ۱) ﴿۱﴾

اودَاولنی شفعې اعاده هم ضروری ده.

کمافی ردالمحتار ص ۶۴۸ جلد ۱ لکن ینبغی وجوب اعادة الاول لترک واجب والسلام مع عدم انجباره بسجود سهو الخ ﴿۲﴾.

پس ټول څلور واړه رکعتونه کول به ضروری وی اول دوه دَاعادې په طور او آخرنی دوه دَقضا په طور. وهماشیئان متقاربان، وهوالموفق.

دَ صاحب ترتیب نه کیدلو په صورت کښې دَترتیب خیال ساتل

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې صاحب ترتیب نه وی لیکن هغه په قضامونځونو کښې دَترتیب خیال ساتی اویا کله په ترتیب سره اوکله په غیرترتیب سره قضامونځونه کوی، آیاداصحیح ده، ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: جلال احمد جلال طورومردان...... ۲۹/۲/۱۹۷۵ء

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۱۱ جلد ۱ مبحث المسائل الستة عشریة

﴿۲﴾ (ردالمحتارهامش الدرالمختار ص ۵۱۱ جلد ۱ مبحث المسائل الستة عشریة

الجواب: کوم کس چه صاحبِ ترتیب نه وی په هغه ترتیب واجب نه دی.﴿۱﴾ اودَترتیب په خیال نه ساتلو باندې ګنهګار نه دې. وهوالموفق.

دَ نامعلومه وتر دَ قضا په صورت کښې به په څلورم رکعت کښې قنوت نه وئیلې کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه قضا مونځ چه کوم معلوم نه وی دَ ادا کولو په وخت کښې د ماښام او وترو مونځ په دریو قعدو سره ادا کوی نو آیا دَوترو چه کله په دویم رکعت کښې دعائې قنوت اولولی نو په څلورم رکعت کښې به هم قنوت لولی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عبدالرؤف لوند خوړمردان.......۲۸/رمضان ۱۴۰۵ھ.

الجواب: دا زیادت دَنفل کیدلو دَاحتمال په وجه باندې احتیاطی دی لهذا په څلورم رکعت کښې دَقنوت لوستلو څه جواز نشته دې.

بخلاف اذا شک فی ثالثة الوتر انها ثانية او ثالثة فانها یضم الیها الرابعة ویقنت فی کلتیهما احتیاطاً ولم یصرحوا به وهو من الواضحات ﴿۲﴾ فافهم. وهوالموفق

دَ مونځ فدیه به بعدالموت ورکولې شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی. چه کله دَیو سړی په ذمه

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله او فاتت ست) یعنی لا یلزم الترتیب بین الفائتة والوقتیة ولا بین الفوائت اذا کانت الفوائت ستا کذا فی النهر. (ردالمحتارهامش الدر المختار ص۵۳۸ جلد ۱ قبیل مطلب فی اسقاط الصلاة عن المیت باب قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی رحمه الله: ومن قضی صلاة عمره مع انه لم یفته شیئ منها احتیاطاً قیل یکره...... ویقنت فی الوتر ویقعد قدر التشهد فی ثالثة ثم یصلی رکعة رابعة فان کان وتراً فقد اداه وان لم یکن فقد صلی التطوع اربعا ولا یضره القعود و کذا یصلی المغرب اربعا بثلاث قعدات. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص۲۴۷ باب قضاء الفوائت)

باندې مونځونه باقی وی نو آیا دا سړې دَمرګ نه مخکښې فدیه ورکولې شی؟ او آیا پخپله اسقاط. قبل الموت جائز ده؟ که نه وی جائز نو بیا به دا دَ جنازې نه مخکښې ورکولې شی یا روستو یا دَ دفن کولو نه پس؟ بینوا توجروا

المستفتی: کرامت الله چروړی چمله سوات...... ۱۹۷۰ء/۴/۴.

الجواب: حیله اسقاط قبل الموت صحیح نه ده. اودَمرګ نه پس هروخت صحیح ده.

فی الهندیه ص ۱۳۲ جلد ۱ سئل الحسن بن علی عن الفدیة عن الصلوٰت فی مرض الموت هل یجوز فقال لا ﴿۱﴾. وهوالموفق

دَ یو کتاب نه فتوی ورکول دَ هرچا کار نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ ځائې کښې دوه طبقې جوړې شوې دی. یوه طبقه دَمړی حیله اسقاط جائز وائی او دویمه طبقه ئې ناجائز وائی، او دواړه دیوبندیان دی او دَیوقسم کتابونو نه حوالې پیش کوی. سوال دا دې چه آیا فتاوی رشیدیه او فتاوی دارالعلوم دیوبند قابلِ عمل مستند اودَ حنفی مذهب مطابق دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد کرم شاه بنوں...... یکم اپریل ۱۹۷۵ء.

الجواب: حیله اسقاط بذاتِ خو د جائز ده په قرآن ﴿۱﴾ او حدیث ﴿۲﴾ کښې

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص۱۲۵ جلد ۱ الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ قال الله تعالیٰ: وخذ بیدک ضغثا فاضرب به ولا تحنث.

(سورة ص پاره: ۲۳ رکوع: ۱۳ آیت: ۴۴)

﴿۳﴾ عن ابی امامة انه اخبره بعض اصحاب رسول الله ﷺ من الانصار انه اشتکی رجل...... وقالوا ما راینا باحد من الناس من الضر مثل الذی هو به لو حملنا الیک لتفسخت عظامه ما هو الا جلد علی عظم فامر رسول الله ﷺ ان یاخذوا له مائة شمراخ فیضربوه ضربة واحدةً.

(سنن ابی داؤد ص۲۶۶ جلد ۲ باب فی اقامة الحد علی المریض)

ددې دپاره اصل موجود دې.البته مرؤجه حیله دَمعتبروشرطونو دَنه خیال کولو په وجه باندې حیله دَاستحصال جوړه شوې ده،لهذا دَمړی دَ ذمه فارغ کولو﴿۱﴾ دپاره دامروجه حیله اسقاط بې کاره ده.فتاوی رشیدیه (گنگوهی) او فتاوی دارالعلوم دیوبند زمونږ دَ اکابرو فتاوې دی.لیکن دَ یو کتاب نه فتوی ورکول دَ هرچا کار نه دې.وهوالموفق.

دَ حیله اسقاط په دائره کښې قران مجید کیښودل

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دحیله اسقاط په دائره کښې قران مجید دَ نورو مالونو سره قبض کول راقبض کول او یو بل ته حواله کول لکه څنګه چه په حیله اسقاط کښې معمول دې آیا دا جائز دی؟ حال دا چه په فتاوی سمرقندیه کښې دَقرآن مجید تاوهلو ته هم جائز وئیلې شوې دی.آیا ددې نه منع کول جائزدی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:مولانااسماعیل گاؤن الوچ سوات.

الجواب:فقیه ابوالليث سمرقندی رحمۃ اللہ علیہ معتبرشخصیت دې.﴿۲﴾ .هغه چه کومه مسئله لیکلې ده هغه صحیح ده.هیڅ یو فقیه ددې تردید نه دې کړې.چونکه قرآن هم مالِ متقوم دې دا په فدیو کښې ورکول نه ممنوع دی او نه مطلوب دی.البته دَموقوف (وقف شوی) یا مملوکة الغیر مصحف تملیک او تملک

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ويجب ان يدفعها حقيقة لا تحيلا ملاحظا ان الفقير اذا ابى عن الهبة الى الوصى كان له ذلک ولا يجبر على الهبة. (منة الجليل ص۲۲۵)

﴿۲﴾قال الامام الفقيه محمد عبد الحى اللكهنوى: نصر بن محمد بن احمد بن ابراهيم ابوالليث الفقيه السمرقندى المشهور بامام الهدیٰ اخذ عن ابى جعفر الهندوانى عن ابى القاسم الصفار عن نصير بن يحیٰ عن محمد بن سماعة عن ابى يوسف وله تفسير القرآن، والنوازل، والعيون، والفتاویٰ، وخزانة الفقه، وبستان العارفين، وشرح الجامع الصغير ، وتنبيه الغافلين وغير ذلک..... وقد طالعت من تصانيفه البستان وتنبيه الغافلين وخزانة الفقه وكلها مفيده.

(الفوائد البهية فى تراجم الحنفية ص ۲۹۱ حرف النون رقم:۳۸۵)

ممنوع دی.دغه شان دَبازاری قیمت نه زیاتی قیمت مقرر کول عبث اوبې قاعدې حیله درحیله ده.﴿۱﴾ .وهوالموفق.

امحاء الخباط عن مسئلة حيلة الاسقاط

حیله اسقاط فقهاؤ په خپلو کتابونو کښې باقاعده طور سره ذکر کړې ده.اودَ هغې دپاره ئې شرطونه او طریقه کار هم جوړ کړې دي.لیکن عوامو په دې کښې ډیر مفاسد اوشرعی محظورات داخل کړل.په دې بناء باندې بعضې خلقو دَدې په انکار کښې دومره سختئ نه کار واخستلو چه دَنفسِ حیله اسقاط نه منکر شول. تردې چه په کولو وَالا باندې ئې دکفر او بدعت فتوې اولګولې.اودَاصحاب السبت په حیلو باندې ئې قیاس کړه او فقهائې کرام هم دَدوی دَفتوؤ په ضد کښې راغلل.حضرت مفتی صاحب دامتِ برکاتهم دَ حیله اسقاط په حقیقت او مشروعیت باندې دامقاله شائع کړې وه.ددې باب سره دَ انتهائی مناسبت په وجه په فتاوی کښې شامل کولې شی.﴿ ازمرتب﴾.

﴿۱﴾ مفتی کفایت الله فرمائی (تنبیه) دا رسم په بعضې ځایونو کښې ادا کولې شی چه صرف یو قرانِ پاک یو فقیر ته ورکوی داسې ورته وائی چه قران مجید چونکه دَالله تعالی کلام دې نو ددې هډو څه قیمت نیشته(یعنی ډیر قیمتی دې) او ددې په وجه دَټولو مونځونو، روژو، او نورو واجباتو چه څومره اندازې کفاره دَمړی په ذمه وی،دَهغې ټولو په بدله کښې مونږ دَا قران درکؤو.اوفقیرئې قبلوی.داطریقه هم ناجائز ده.ځکه چه دا حضرات چه په فدیه کښې قرانِ مجید بې قیمته وائی خوچه کله دَفدیې دپاره اخستلو دپاره ځی نودَروپئ په ځائې ئې په دولس آنې او دولس آنو په ځائې په لس آنې په جهګړو جهګړو واخلې.دَاخستلو په وخت ئې بې قیمته کیدل هیروی.اوداخوتقریباً محال دی چه که دوکاندار دَدې قیمت یوه روپئ اووائی نو دې دَقران مجیددَ قدر کولو په نظر سره دَخپل طرفنه دوه روپئ ورکړی.بهرحال دا قران مجید چه په کاغذلیکلې شوې یا چهاپ شوې دې داشرعاً مالِ متقوم دې اوپه کفاراتو اومعاوضاتو کښې به ددې دَ اصل قیمت اعتبار وی.په دې وجه به دا دَ دومره مونځونو فدیه جوړیږی.دَ څومره مونځونو دَفدیې پورې چه دَدې قیمت رسیږی.

(كفاية المفتى ص۱۵۷ ج۴ مجموعه دليل الخيرات فى ترك المنكرات)

دَیو عاقل بالغ مسلمان نه چه قصداً یا بلا قصد څه مونځونه او روژې قضا شی نو په هغه باندې د قضا ادا کول فرض دی. او دَقضانه کولو په صورت کښې هغه گنهگار دې. او کله چه دَ ژوندنه نا اُمیده شی نو په هغه باندې دا وصیت کول ضروری دی چه دَده دَمنقوله او غیر منقوله مالونو دَ میراث دَ ۱/۳ حصې نه به دَهر مونځ او روژې په بدله کښې تقریباً دوه یا دوه نیم کلو غنم یا ددې قیمت مسکینانو ته ورکولې شی. او که دا وصیت ئې اونکړو نو گنهگار مړشو. او که ددې سړی مال نه وو یا ۱/۳ حصه دَذمه فارغ کولو دپاره کافی نه وو، یا ئې دَفسق او جهل په وجه وصیت اونه کړو. نو وارثان وغیره دَده دَطرفنه باقاعده طور سره حیله اسقاط کولې شی. (ماخوذ از ردالمحتار ص ۴۹۲ جلد ۱)، ﴿۱﴾.

حیله هر مباح کار اوخبرې ته وئیلې شی. چه دَهغې په ذریعې سره په خفیه انداز کښې یو مقصد ته رسیدل اوشی. صاحب دَمفردات فرمائی. الحیلة مایتوصل به الی حالة مافی خفیة (ص۱۳۸). او ابن حجر رحمة الله علیه فرمائی: هی مایتوصل به الی مقصود بطریق خفی (فتح الباری ص ۲۷۴ جلد ۲)، اوصاحب دالاشباه والنظائر فرمائی! هی تقلیب المنکر حتی یهتدی الی المقصود (ص ۴۱۷)،

پوهه شه چه دَحیلې ډیر قسمونه دی. په دې مقاله کښې صرف دوه قسمونه ذکر کیږی. اول حیله هغه ده چه دَحرام دَحلال والی او دَشریعت دَ حکم دَباطل کولو او ختمولو دپاره وی لکه څنګه چه اصحاب السبت، دَ ښکار دَ حلالولو دپاره کړې وه. (القرآن).

﴿۱﴾قال الحصکفی: ولو مات وعلیه صلوٰت فائتة واوصیٰ بالکفارة یعطی لکل صلاة نصف صاع من بر کالفطرة.......... ولو لم یترک ما لا یستقرض وارثه نصف صاع مثلاً ویدفعه لفقیر ثم یدفعه الفقیر سم وثم حتی یتم. قال ابن عابدین: (قوله وعلیه صلوٰت) ای بان کان یقدر علی ادائها ولو بالایماء فیلزمه الایصاء بها والا فلا یلزمه..... یعطی عنه ولیه ای من له ولایة التصرف فی ماله بوصایة او وراثة فیلزمه ذلک من الثلث ان اوصی...... واما اذا لم یوص فتطوع بها الوارث فقد قال محمد فی الزیادات انه یجز یه ان شاء الله...... نصف صاع من بر ای او من دقیقة او سویقة او صاع تمر الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۴۲،۵۴۱ جلد ۱ مطلب فی اسقاط الصلاة عن المیت)

اوبعضې یهودیانو دا حیله دَ وازګې دَحلالولو دپاره کړې وه. (بخاری). او دا قسم حیله بغیر دَشک نه حرامه ده. دویمه هغه حیله ده چه دَحرامو نه دبچکیدلو، دَ ذمې دَفارغ کیدلو او دَ واجباتو دَ اسقاط دپاره وی. لکه چه حضرت ایوب علیه السلام کړې وه. قال الله تبارک وتعالی: وخذبیدک ضغثافاضرب به ولا تحنث (سورة ص ۱) ﴿۱﴾ اوپیغمبر علیه السلام دَیو ناوادہ کړی سړی مریض دپاره دَ زنا دَ حدجاری کولودپاره کړې وه. قالوا مارئینا باحدمن الناس من الضرمثل الذی هوبه لو حملنا الیک لتفسخت عظامه، ماهوالاجلدعلی عظم، فامر رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یاخذواله مائة شمراخ فیضربوه بها ضربة واحدة، (رواه ابوداؤد)، ﴿۲﴾.

دا حیله جائز ده، نه مخصوص ده نه منسوخ ده. اوهم دا دَحضرت عطاء او شعبی نه مروی ده، اوهم دا احنافو، شوافعو او حنابلو مختاره کړې ده، البته دَموالکو او سلفیانو په نزد مشروع نه ده. (فلیراجع الی تفسیر القرطبی ص ۲۱۳ جلد ۱۵ وشرح الاشباه للحموی ص ۴۱۸ وفتح الباری ص ۲۷۵ جلد ۱۲).

دا حیله اسقاط چه لکه څنګه په اصل کښې ثابت ده دغه شان فقهائې کرامو هم ددې په مشروعیت باندې تصریح کړې ده. فلیراجع الی ردالمحتار ص ۶۸۷ جلد ۱، ﴿۳﴾. والطحطاوی ص ۲۶۳ والشرح الکبیر ص ۴۹۷ وخلاصة الفتاوی ص ۱۵۳ جلد ۱ والبحر ص ۹۱ جلد ۲ والاشباه والنظائر ص ۴۱۸ وغیر ذلک، البته ددې حیلې دَ مشروعیت دپاره څه شرائط دی چه دَهغې خیال ساتل ډیر زیات ضروری دی.

﴿۱﴾(سورة: ص پاره: ۲۳ آیت: ۴۴)

﴿۲﴾(سنن ابی داؤد ص ۲۶۶ جلد ۲ باب فی اقامة الحد علی المریض)

﴿۳﴾قال ابن عابدین: (قوله ولو لم یترک ما لا یستقرض الخ) فیستقرض قیمتها ویدفعها للفقیر ثم یستوهبها منه ویتسلمها منه لتتم الهبة ثم یدفعها لذلک الفقیر او لفقیر آخر وهکذا فیسقط فی کل مرة کفارة سنة وان استقرض اکثر من ذلک یسقط بقدره وبعد ذلک یعید الدور لکفارة الصیام ثم للاضحیة الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۴۲ جلد ۱ قبیل باب سجود السهو)

اول داچه دَوصیت نه کیدلو په صورت کښې په وارثانو کښې نابالغه او غائب څوک نه وی ځکه چه دَ هغوی دَمال نه تبرع جائز نه ده. دویم داچه په قطار یا دائره کښې به مسکینان وی. مالدار ته ورکولو سره ذمه نه فارغیږی. دریم داچه دغه مسکین به حقیقتاً مالک جوړ وي صرف زبانی تملیک به نه کوي.

کما صرح به ابن عابدین فی منة الجلیل ص ۲۲۵ حیث قال ویجب ان یدفعها حقیقة لاتحیلاً ملاحظاً ان الفقیر اذا ابی عن الهبة الی الوصی کان له ذلک ولایجبر علی الهبة، انتهیٰ﴿۱﴾

او که داحیله په اشهرحج یعنی دَحج په میاشتو کښې اوشوه نو په دغه ټولو قبض کونکو باندې به باقاعده حج فرض شی بل ته بخلو سره حج دَدوی دَذمې نه نه ساقطیږی. نو په دې مروجه حیلو کښې ددې شرطونو او خاص طور سره دَ دریم شرط خیال نه ساتلې کیږی. لهذا په دې مروجه حیلې سره دَمړی ذمه نه فارغیږی. نوم ئې دَحیله اسقاط دې او په حقیقت حیله دَ استحصال ده. په اهلَ علم باندې ضروری دی چه ددې مفاسدو اصلاح اوکړی یا ددې حیلې مخ نیوې اوکړی چه عوام دَخوش فهمئ او خوش ظنئ نه بچ شی.﴿۲﴾. وهو الموفق.

په حیله اسقاط کښې دقران تاؤهل دَقرآن په بې عزتئ کښې نه راځی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په ښار کښې چه کومه حیله اسقاط کیږی په هغې کښې قران پاک هم کیښودلې کیږی. ما ددې نه منع کړل خو فریق مخالف وائی چه داطریقه دَحضرت عمر رضی الله عنه نه ثابت ده.

﴿۱﴾ (رسائل ابن عابدین ص ۲۲۵ جلد ۱ منة الجلیل لبیان اسقاط ما علی الذمة من کثیر وقلیل)

﴿۲﴾ **مفتی کفایت الله فرمائی!** واضحه دې وی چه دَمذکوره عبارتونو نه ښکاره معلومه شوه چه دا فعل اسقاط دَوارث په ذمه واجب او ضروری نه دی بلکه محض تبرع ده. او دَمړی دَذمې فارغ کولو دپاره یوه حیله ده. که دا ضروری یا سنت او کړلې شی نو ناجائز او بدعت به وی لکه چه دَرسم نمبر۳ په بیان کښې دَطحطاوی دَعبارت نه صراحةً معلومه شوې. دغه شان دا هم ضروری ده چه دَمړی دَوصیت نه کولو په صورت کښې چه ترڅو ټول وارثان بالغ او حاضر نه وی دَمیراث نه به څه مقدار په اسقاط کښې نه ورکولې کیږی. او دَثلث په وصیت کښې زائد علی الثلث او دَثلث نه په کم وصیت کښې زائد علی الوصیت به هم نشی ورکولې. که چرته ورکړی نو هغه به ئې ضامن وی. (کفایت المفتی ص ۱۵۶ جلد ۴ ازمجموعه دلیل الخیرات فی ترک المنکرات)،

ماپه جواب کښې راهِ سنت. کتاب دَحضرت ابوالزاهد سرفرازخان صفدر دامت برکاتهم پیش کړو لیکن هغوی وئیل چه مونږ دَ اردو کتابونه نه منو، نو که تاسو دَ عربی کتاب حواله راواولیږئ چه مخالف جماعت شکست اوخوری نو څه به ډیر مشکوریم؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مقبول الرحمن ضلع هزاره.

الجواب: قرآن هم مالِ متقوم دې لهذا دَدې اخستل خرڅول او ددې صدقه کول او هبه کول ټول هرڅه جائز دی نه په دې کارونو کښې اهانت شته اونه اهانت دَچامقصود وی. لهذا دَمصحف په ذریعې سره اسقاط کول منع نه دی. لکه څنګه چه ئې دَاسقاط په مال کښې کیښودل هم ضروری نه دی.﴿۱﴾. فقط.

دَ غریب مسکین مړی دَطرفنه حیله اسقاط جائز ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو غریب مسکین عاجزه مړ شو څه مال ئې نیشته او وارثان ئې هم فقیران دی او دَمړی په ذمه باندې مونځونه روژې هم دی چه دَهغې دَفدیې ادا کولو نه عاجزه دی. اوس بعضې علماؤ فرمائی چه دَده دَطرفنه دې حیله اسقاط اوکړیشی او بعضې وائی چه داجائزنه ده. تفیصلی جواب راکړئ چه خدشات لرې شی. واجرکم علی الله

المستفتی: فیض الله متعلم حقانیه......۷/جون ۱۹۷۰ء.

الجواب: په مذکوره صورت کښې حیله جائز ده خو چه دَحیلې کولو په وخت کښې حقیقتاً تملیک مراد وی. حیلةً مراد نه وی.

﴿۱﴾ دَقران دَاجزاء تاوهل هم دَبعضې روایتونو نه ثابت دی او په دې سره توسل بالمصحف مقصود دی. او توسل بالمصحف ثابت دی. قال علیه الصلاة والسلام اللهم ارحمنی بالقران العظیم، اولکه څنګه چه په فتاوی سمرقندیه کښې دَحضرت عمر رضی الله عنه نه دَقران دَ اجزاؤ دوران ثابت دی. نو دغه شان واقدی هم په فتوح الشام، کښې ذکر کړې دی. فقال اخبره ابوعاصم عن ابن جریج عن ابن شهاب عن ابی سلمة عن ابی موسی قال فعل عمر رضی الله عنه ای دوران اجزاء القرآن. (ازمرتب).

اعلم ان للحيل انواعا منها ان تكون لتحليل الحرام كحيلة اصحاب السبت وهی حرام البتة، ومنها ان تكون لدفع المضرة كحيلة يوسف عليه السلام لا بقاء اخيه لئلا يصيبه اخوته مضرة عند العود وهی جائزة لعدم الانكار عليها، ومنها ان تكون لتفريغ الذمة بلا حرج كحيلة ايوب عليه السلام وكذا حيلة النبی ﷺ للزانی الغير المحصن، وحيلة الاسقاط من قبيل الاخير لانه لم يمكنه الاداء لعجزه ولا الاسقاط لفقره فلا بد من الحيلة تعاونا بالمسلم وصرح بجوازها الفقهاء ولم يصرح بعدم جوازه احد من الفقهاء والاحناف فليراجع الی ردالمحتار ص ۲۸۶ جلد ۱ ﴿۱﴾ والهنديه ص ۱۳۲ جلد ۱ ﴿۲﴾ والطحطاوی ص ۲۶۳ ﴿۳﴾ والبحر ص ۹۱ جلد ۲ ﴿۴﴾ وهكذا فی غير واحد من كتب الفتاویٰ . فقط

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فيستقرض قيمتها ويدفعها للفقير ثم يستوهبها ويتسلمها منه لتتم الهبة ثم يدفعها لذلك الفقير او لفقير اخر. (ردالمحتار ص ۵۴۲ جلد ۱ مطلب فی اسقاط الصلاة عن الميت باب قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ وفی الهنديه : اذا مات الرجل وعليه صلوٰت فائتة فاوصی بان تعطی كفارة صلوته يعطی لكل صلاة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله وان لم يترك مالا يستقرض ورثته نصف صاع ويدفع الی مسكين ثم يتصدق المسكين علی بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتی يتم لكل صلاة ما ذكرنا كذا فی الخلاصة. (فتاویٰ عالمگيريه ص ۱۲۵ جلد ۱ الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)

﴿۳﴾ قال العلامة الطحطاوی: وان لم يف ما اوصی به الميت عما عليه اولم يكف ثلث ماله اولم يوص بشیٔ واراد احد التبرع بقليل لا يكفی فحيلته لا براء ذمة الميت عن جميع ما عليه ان يدفع ذلك المقدار اليسير بعد تقديره لشیٔ من صيام او صلاة او نحوه ويعطيه للفقير بقصد اسقاط ما يرد عن الميت فيسقط عن الميت بقدره ثم بعد قبضه يهبه الفقير للولی او للاجنبی ويقبضه لتتم الهبة وتملك ثم يدفعه الموهوب له للفقير ...... وهكذا يفعل مراراً حتی يسقط ما كان يظنه علی الميت من صلاة وصيام ونحوهما مما ذكرناه من الواجبات. (الطحطاویٰ علی المراقی الفلاح ص ۴۳۹ فصل فی اسقاط الصلاة والصوم)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: اذا مات الرجل ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دَ مړی دَ طرفنه فدیه او اسقاط باقاعده جائز دی

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائی چه دَ فديې او اسقاط په مينځ کښي څه فرق دي او دا دکوم آيت يا حديث نه ثابت دی؟ بينوا توجروا.

المستفتی: حافظ نورمحمد پيش امام مصری بانډه

نوشهره...... ۱۹۶۹ء/۵/۵

الجواب: دَفديې او اسقاط مطلب دا دي چه دَهر مونځ او هرې روژې نه به دَصدقة الفطر په مقدار بدل ورکړي. ﴿۱﴾ . او دا فديه دَ روژې متعلق عبارةً او دَمونځ متعلق دلالةً ثابت ده. او دَحيله اسقاط نه قرآن او حديث ساکت دی ليکن دَقران او حديث سره دَمنافی نه کيدلو په وجه باندي فقهائي کرامو جائز کړي ده. خو چه کله دَ قاعدي مطابق وی او عدم جواز دَهيچا مذهب نه دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

(بقيه حاشيه) وعليه صلوات فائتة او اوصی بان يعطی كفارة صلاته يعطی لكل صلاه نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع وانما يعطی من ثلث ماله وان لم يترك مالا تستقرض ورثته نصف صاع ويدفع الی المسكين ثم يتصدق المسكين علی بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتی يتم لكل صلاة ما ذكرنا. (البحر الرائق ص ۹۰، ۹۱ جلد ۲ باب قضاء الفوائت)

﴿۱﴾ وفی الهنديه : اذا مات الرجل وعليه صلوٰت فائتة فاوصی بان تعطی كفارة صلوته يعطی لكل صلاة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله وان لم يترك مالا يستقرض ورثته نصف صاع ويدفع الی مسكين ثم يتصدق المسكين علی بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتی يتم لكل صلاة ما ذكرنا كذا فی الخلاصة. (فتاویٰ عالمگيريه ص ۱۲۵ جلد ۱ الباب الحادی عشر فی قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ثم اعلم انه اذا وصی بفدية الصوم يحكم بالجواز قطعا لانه منصوص عليه واما اذا لم يوص متطوع بها الوارث فقد قال محمد فی زيادات انه يجزيه ان شاء الله تعالیٰ فعلق الاجزاء بالمشيئة لعدم النص وكذا علقه بالمشيئة فيما اذا اوصی بفدية الصلاة لانهم الحقوها بالصوم احتياطاً. (ردالمحتار ص ۵۴۱ جلد ۱ مطلب فی اسقاط الصلاة عن الميت باب قضاء الفوائت)

دَ قبض نه پس فقیربال بچه دار ته دَ فدیې واپسی او قصداً دَ قضا شوو مونځونو فدیه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی.(۱). که یو بال بچه دار غریب سړې یا ښځه دَغربت په حالت کښې مړه شی.او دَمونځونو وغیره فدیې فقیران قبولې کړی او دَقبلولو نه پس ئې واپس کړی نو آیا داجائز دی یا نه؟ (۲). یو مسلمان سړه دَپوهې قصداً عمداً دَمونځ روژې وغیره ادائیګی نه کوی نو آیا دَمرګ نه پس دَهغه دپاره فدیه ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ماسټرسمیع الرحمن ګمبت مردان...۱۹/جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ.

الجواب: (۱)دا واپسی صحیح ده﴿۱﴾.(۲) دَجمهورو په نزد عمداً دَقضاشوؤ مونځونو او روژې فدیه ورکول صحیح دی.﴿۲﴾ خلافالابن تیمیه وغیره وهوالموفق

باقاعده طور سره حیله اسقاط مشروع ده بدعت نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ ځائې کښې حیله اسقاط کیږی چه دَمونځونو وغیره فدیه وی.ددې باره کښې دَفتاوی رشیدیه او احسن الفتاوی وغیره نه معلومیږی چه مذکوره جیله په خیرالقرون کښې نه وه. ددینه علاوه دَپاکستان دَعلماؤ کراچئ ولاهور وغیره دیوبندیان، بریلیان، او اهل حدیث ټول اکثر په رسالو او اشتهاراتو کښې بیانونه ورکوی، چه ددې عمل دَقران او حدیث.عملِ صحابه او دَقرون ثلاثه نه څه ثبوت نیشته.

﴿۱﴾قال ابن شحنة: ویجوز الرجوع فی الهبة عندنا وان کان مکروها اذا کان ذلک بتراضیهما او بحکم الحاکم لقوله ﷺ الواهب احق بهبته ما لم یثب عنها ای ما لم یعوض...... وهب الموهوب له لآخر ثم رجع الواهب الاول له ان یرجع ایضاً (لسان الحکام فی معرفة الاحکام) (معین الحکام ص ۳۷۳ نوع فی الرجوع عن الهبة)

﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولو مات وعلیه صلوات فائتة واوصی بالکفارة یعطی لکل صلاة نصف صاع من بر کالفطرة . قال ابن عابدین: (قوله یعطی) بالبناء للمجهول ای یعطی عنه ولیه ای من له ولایة التصرف فی ماله بوصایة او وراثة فیلزمه ذلک من الثلث اذا اوصی. (الدر المختار مع ردالمحتار ص ۵۴۱ جلد ۱ باب قضاء الفوائت)

او دَکوم عمل چه ثبوت نه وی نو هغه ثواب ګڼړل او التزام کول بدعت او واجب الاجتناب وی.لهذا بنده عرض کوی چه تاسو هم دې باره کښې څه اولیکئ او په دې بې مثله اجر کښې حصه واخلئ؟ ولاجرالآخرة اکبر.

المستفتی: عبدالرزاق اله ډنډ ډهیری ملاکنډایجنسی... ۱۰/فروری ۱۹۷۵ء.

الجواب: داخبره دې واضحه وی چه بدعت دَهغه څیز نوم دې چه په خیرالقرون کښې نه بنفسه موجود وی او نه باصله موجود وی.او بیاهغه دین ګڼړلې کیږی. اوچونکه دا حیله خوباصله راغلې ده.کمافی الاشباه.لهذا حیله اسقاط به بدعت نه وی. کما ورد فی القرآن فی حق ایوب علیه السلام وورد فی الترمذی فی حق الانصاری الغیرالمحصن، ددې وجې نه ټولو فقهائې کرامو دیته جائز وئیلې دی.فلیراجع الی باب قضاء الفوائت فی ردالمحتار والبحروالاشباه والنظائروخلاصة الفتاوی والهندیه وفتح القدیر وغیره.خلافاللطائفة السلفیة النجدیة،البته ددې حیلې دپاره څوشرائط هم دی چه دَهغې رعایت اولحاظ کول ضروری دی.

منها ما ذکره العلامه ابن عابدین فی رسائله :ویجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عند دفع الصرة للفقیر الهزل او الحیلة بل یجب ان یدفعها حقیقة لا تحیلا ، ملاحظا: ان الفقیر اذا ابی عن الهبة الی الوصی کان له ذلک ولا یجبر علی الهبة انتهیٰ. مافی منة الجلیل ص ۲۲۵ جلد ۱ چونکه په مروجه حیله کښې داشرط مفقود دې لهذا داحیله به دَذمې دَفارغ کیدلو دپاره بې کاره وی.فافهم،وهوالموفق.

په فدیو کښې حیله مروجه دَ مړی دَ ذمې فارغ کیدلو دپاره کافی نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَحیله اسقاط څه حکم دې چه کوم مړې مسکین وی او دَهغه دپاره حیله اوکړیشی او دَفدیې مقدار برابر کړیشی نو د شریعت په دې کښې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولاناعبدالحلیم تخت بهائی مردان......۱۹۸۹ء/۲/۲

الجواب: حیله اسقاط بذات خود جائزه دَقران، حدیث او فقه حنفی نه ددې مشروعیت دَروښانه ورځ پشان ثابت دې البته ددې دَمشروعیت دپاره څه شرائط دی چه دَهغې لحاظ کول ډېر زیات ضروری دی. منها التملیک الحقیقی للمسکین والاجتناب عن الهزل والتملیک اللسانی کماصرح به فی رسائل ابن عابدین.﴿۲﴾ خوچونکه په مروجه حیله کښې دا شرائط مفقود دی، لهذا مروجه حیله اسقاط دَمړی دَذمې دَفراغت دپاره بې کاره ده په اهلِ علم باندې لازم دی چه ددې مفاسدو اصلاح اوکړی یا ددې حیلې مخ نیوی اوکړی یعنی بغیر حیلې دې فدیه تقسیم کړی. وهوالموفق.

دَ حیله اسقاط نه پس دَفدیې دَمال نه دَ وارثانو خیرات کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو مړی دَ زر روپو دَخرچ کولو وصیت کړې وی لیکن بالغ وارثان خپل مینځ کښې مشوره اوکړی چه مونږ به دې مړی دپاره درې سوه روپۍ په فدیه کښې ورکړو. دَتدفین په ورځ دَحیله مروجه په بنیادیو خو کسان کیناستل چه په هغې کښې اکثر مالداران وو او په مروجه حیله کښې تملیک حقیقی هم مفقود معلومیږی دَمال دَ تاؤهلو په وخت کښې دَمال آخرنې قبض کونکې دَمړی وارث نه او وائی چه دا مال تقسیم کړه او صدقه کړه. دَقابض خیال دې چه دا خو د آخرنی قابض ملک جوړیږی او دَفدیې معامله ختمه شوه نو آیا وارثان ددینه خیرات کولې شی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: حضرت مولانافضل مولاصاحب دلبوړی
مدرس دارالعلوم حقانیه_۲۷/ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب. مروجه حیله دَ شرط نه موجود کیدلو په وجه دَ ذمې فارغ کیدلو دپاره

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فیستقرض قیمتها ویدفعها للفقیر ثم یستوهبها منه ویتسلمها منه لتتم الهبة ثم یدفعها لذلک الفقیر او لفقیر آخر.
(ردالمحتار ص ۵۴۲ جلد ۱ باب قضاء الفوائت)

﴿۲﴾ (رسائل ابن عابدین منة الجلیل لبیان اسقاط ما علی الذمة من کثیر وقلیل ص ۲۲۵ جلد ۱)

بې کاره ده لیکن داوارث ددې مخصوص مال بهرحال مالک دې. امامن ابتداء لعدم صحة تملیک للغیرلاجل الهزل وامابتملیک القابض الاخیرعلی تقدیرالجد.

پس داوارث ددې مخصوص مال په رسمی یاغیر رسمی طریقه سره دَخیرات کولو مجازدې. وهوالموفق

دَ اسقاط یا حیله اسقاط د پاره قبرستان ته څیزونه وړل نه مطلوب دی او نه ممنوع دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که دَحیله اسقاط دپاره چرته قبرستان ته اجناس یعنی (مختلف څیزونه) یوسی یا هلته تقسیم نه شی آیا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی عبدالعلی زیارت بلوچستان........ ۲/۱۰/۱۹۸۴ء

الجواب: باقاعده طورسره دَاسقاط یا حیله اسقاط دپاره اجناس وغیره قبرستان ته وړل او هلته تقسیم کول نه مطلوب شرعی دی او نه ممنوع شرعی دی چه کله دَ مفاسدو نه خالی وی. او په مصلحتونو باندې مشتمل وی. مثلاً په مصارفو باندې په باعزت طریقې سره په تقسیم کښې آسانی وی نو په طریقِ اولیٰ به ممنوع نه وی. **لانه اهون من الذهاب الی ارباب الاموال منهم لحصول الاموال للمدارس وغیرها لخلوه عن صورة السوال. وهوالموفق**

دَ قضائې عمری حدیث موضوعی او مردود دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَقضائې عمری مونځ چه هغې ته بعضې علماء بدعت وائی آیا ددې مونځ په شریعت کښې څه ثبوت شته یا نه؟ او کوم حدیث چه په دلیل کښې پیش کوی ددې حدیث درجه څه ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سعید الرحمن مدرسه عربیه رائے ونډضلع لاهور.. ۲۰/۷/۱۹۸۸ء

الجواب: دامونځ چه دَمبتدعینو په نزد د قضائې عمرئ سره نوم لری. مکروه او بدعتِ قبیحه دې نه دَقران پاک نه دَدې مشروعیت ثابت دې او نه دَحدیث نه

واما حدیث من قضی صلوٰة من الفرائض فی آخر جمعه فی شهر رمضان کان ذلک جابراً لکل صلوٰة فائتة الیٰ سبعین فقال القاری فی الموضوعات الکبیر ص ۷۴ انه باطل قطعا لانه مناقض للاجماع علی ان شیئا من العبادات لا یقوم مقام فائتة سنوات، ثم لا عبرة بنقل النهایة ولا بقیة شراح الهدایة فانهم لیسوا من المحدثین ولا اسندو الحدیث الی احد من المخرجین، انتهیٰ﴿۱﴾.

اونه د فقهي په کتابونو کښي موجود دي:

واما روی عن ابی حنیفة انه قضی صلوٰة عمره فلیس المراد منه هذا بل هو قضاء الفوائت علی قدر الفوائت علی الزعمیة، وصرح الشامی فی ردالمحتار ان هذه الروایة لم تصح عنه فلیراجع الی ردالمحتار ص ۴۹۰ جلد ۱ ﴿۲﴾.

بلکه دمونځ دحنفیه دقواعدو نه هم مخالف دي:

من عدم اقتداء المفترض بالمتنفل وبمفترض وقت آخر ﴿۳﴾ وعدم جواز الاذان عند ادائها فی المساجد ﴿۴﴾. وهوالموفق

دَ قضاء عمریٔ دَ مونځ هیڅ ثبوت نشته

سوال: علمائي دین دي مسئلي باره کښي څه فرمائی چه دَرمضان په آخرنۍ جمعه کښي دَقضاعمریٔ مونځ په شریعت کښي څه حیثیت لری. بعضي علماء دي باره کښي پوره دلیلونه بیانوی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شمس الحق متعلم حقانیه......۲۸/نومبر ۱۹۷۴ء.

﴿۱﴾ (الموضوعات الکبریٰ لملا علی قاری ص ۲۴۲ رقم الحدیث : ۹۵۳)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ص ۵۱۶ جلد ۱ قبیل مطلب فی الصلاة علی الدابة باب الوتر والنوافل)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: ای وفسد اقتداء المفترض بامام متنفل او بامام یصلی فرضاً غیر فرض المقتدی الخ . (البحر الرائق ص ۳۶۰ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله فالاذان للفائتة فی المسجد اولی بالمنع .
(البحر الرائق ص ۲۶۲ جلد ۱ باب الاذان)

الجواب: دامونځ نه دَقرآن او حدیث نه ثابت دي او نه دَفقهائي کرامو نه مروی دي.

والاحادیث الواردة فیها موضوعة کما صرح به العلی القاری ﴿۱﴾ وغیره ﴿۲﴾ وماروی ان الامام اباحنیفة قضی صلوٰة عمره فعلی تقدیر الثبوت معناه قضاء صلوٰة جمیع العمر احتیاطا لاما فهمه المتعبدون، بل هی مخالفة عن تصریحات الفقهاء لان فیها یوذن للفوائت عند الاداء فی المساجد وفیها عدم اتحاد صلوٰة الامام مع الماموم وایضا هی مخالفة عن حدیث لا کفارة لها الا ذلک، ثم هی مهلکة للعوام لانهم یعتقدون کفایتها کما لا یخفیٰ. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الملا علی القاری رحمه الله: حدیث من قضی صلاة من الفرائض فی آخر جمعة من شهر رمضان کان ذلک جابرا لکل صلاة فائتة فی عمره الی سبعین سنة، باطل قطعا لانه مناقض للاجماع علی ان شیئا من العبادات لا یقوم مقام فائتة سنوات ثم لا عبرة بنقل النهایة ولا ببقیة شراح الهدایة فانهم لیسوا من المحدثین ولا اسندوا الحدیث الی احد من المخرجین. (الموضوعات الکبریٰ ص ۲۴۲ رقم حدیث: ۹۵۳)

﴿۲﴾ قال العلامه عبد الحی اللکهنوی: وذکره الشوکانی فی الفوائد المجموعة فی الاحادیث الموضوعة بلفظ من صلی فی آخر جمعة من رمضان خمس الصلوات المفروضة فی الیوم واللیلة قضت عنه ما اخل به من صلوات سنة، وقال هذا موضوع بلا شک ولم اجده فی شیئ من الکتب التی جمع مصنفوها فیها الاحادیث الموضوعة ولکن اشتهر عند جماعة من المتفقهة بمدینة صنعاء فی عصرنا هذا وصار کثیر منهم یفعلون ذلک ولا ادری من وضع لهم فقبح الله الکذا بین انتهیٰ وقال العلامة الدهلوی فی رسالة العجالة النافعة عند ذکر قرائن الوضع الخامس ان یکون مخالفاً لمقتضی العقل و تکذبه القواعد الشرعیة مثل القضاء العمری ونحو ذلک انتهیٰ.

(مجموعه سبع رسائل ص ۵۳ الاثار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة)

وقال الشاه عبد العزیز المحدث الدهلوی: الخامس ان یکون الحدیث مخالفا لمقتضی العقل والنقل وتکذبه القواعد الشرعیة مثل حدیث قضاء العمری ونحوه.

(العجالة النافعه ص ۳۰ بیان قرائن وضع الحدیث)

دَ قضائي عمری دلائل بې اصله او دَاحنافو دَ اصولو خلاف دی

سوال: ماقولکم ایها العلماء الکرام فی صلوٰة یصیلها الناس فی اخر جمعة من رمضان علی صورة قضاء خمس صلوات جماعة باذان واقامة لکل واحد منها ویسمونها بالقضاء العمری، فیبدءون بصلوٰة الفجر ثم بالظهر وهکذا الی العشاء ثم فی آخرها یصلون الوتر بجماعة ویعتقدون بان القضاء علی هذه الهیئة تکون جابرة لمافات منهم فی العمر او فی سبعین سنة من الصلوٰة، وانها جبیرة لکل ما نقص منهم فی صلوٰة العمر. هل لهٰذه الصلواة اصل فی الشریعة ام هی بدعة مخترعة فی الدین؟ وهل یصح تمسکهم لجوازها بدلائل ذکروها فی الرسائل؟(۱) الاول ماروی ان النبی ﷺ قال من قضی خمس صلوٰة فی آخر جمعة من رمضان باذان واقامة کان جابرا لما فاته فی سبعین سنة،فان هذا الحدیث قد نقله صاحب النهایة فیعلم منه انه ثابت فیصح الاستدلال به وان کان ضعیفا، فان الضعیف من الاحادیث یحتج به فی فضائل الاعمال علی ما هو المصرح فی کتب الفن،(۲) والدلیل الثانی انه لو سلم ان الحدیث موضوع لکن یصح الاحتجاج به لما فیه من الترغیب الی الصلوٰة والعمل بالموضوع جائز فی الترغیب وکذا الوضع علی ما یعلم من ظاهر قوله علیه السلام من کذب علی الخ فانه کلمة علی تشعر بالضرر فیعلم منه ان الممنوع هو الکذب الذی فیه ضرر علی الدین فانه کذب علیه علیه السلام لا مافیه نفع للدین فانه کذب له لا کذب علیه. (۳)الدلیل الثالث: ان کثیرا من الاحبار والرهبان الذین لهم زهد فی الدنیا ورغبة فی الاخرة والتقویٰ والانابة الی الله قد فعلوها وواظبوا علیها فینبغی لنا ان نتبعهم فیها لقوله تعالیٰ

واتبع سبیل من اناب الخ(الایة) .(۴) الدلیل الرابع: ان النبی ﷺ کان شغل عن اربع صلوات یوم الخندق فقضاهن مرتبة فی وقت العشاء وفی حدیث اخر صلوا کما رأیتمونی اصلی رواه احمد وکذا ما وقع له علیه السلام فی لیلة التعریس یدل علی جواز هن فان فیهاقد فاتت منه صلوة الفجر فقضاها بعد ما طلعت الشمس بالجماعة باذان واقامة کما رواه مالک فی موطاه مرسلاً. (۵)الدلیل الخامس: ان هذه الصلوة قد ذکرها الفقهاء فی معتبرات کتب الفقه کالبحر والخلاصة والظهیریة وقاضی خان والدر المختار وحاشیة ردالمحتار وفی فتاویٰ نورالهدیٰ ایضاً فیعلم منه ان لها اصلا فی الشریعة وثبوتا فی المذهب لا سیما وقد ذکروا ان اباحنیفة قد فعلها وقضی صلوات عمره هل یصح التمسک بهذه الدلائل ام لا؟ بینواتوجروا

المستفتی: شمس الحق متعلم حقانیه ....۱۴ جنوری ۱۹۷۵ء

جواب: (الف) لا اصل لهذه الصلوة بل هو مخالف عن الاصول المرویة عن الاحناف مثل عدم التأذین عند القضاء فی المسجد کما فی البحر ﴿۱﴾ ولعدم صحة اقتداء المفترض بالمتنفل اوالمفترض لوقت آخر کما فی البحروغیره ﴿۲﴾. وعدم جواز الاقتداء فی النوافل علی سبیل التداعی فی غیر التراویح والوتر انه مکروه بالمواظبة ﴿۳﴾. (ب) لیس بهم دلیل بل هو امر مخترع.

﴿۱﴾قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: فالاذان للفائتة فی المسجد اولی بالمنع. (البحر الرائق ص ۲۶۲ جلد ۱ باب الاذان)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: ای وفسد اقتداء المفترض بامام متنفل او بامام یصلی فرضا غیر فرض المقتدی الخ. (البحر الرائق ص ۳۶۰ جلد ۱ باب الامامة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: ولو صلوا الوتر......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۲)هذاموضوع والموضوع لا یصح الاستدلال به لا فی الفضائل ولا فی غیره کما فی شرح النخبة وغیره ﴿۱﴾ والکذب والاختلاق حرام مطلقا لعموم المحرم، وقال رسول الله ﷺ من حدث عنی بحدیث یری انه کذب فهو احد الکاذبین(مسلم)﴿۲﴾ وفی روایة من قال عن مالم اقله الحدیث وهو لمام . (۳) لیس بدلیل مالم ینقل ولم یقرر. (۴) دال علی القضاء دون الصلوٰة المسماة بالقضاء العمری. (۵) جاز قضاء صلوٰة جمیع العمر احتیاطا فی روایة مرجوحة ولم یجز صلوٰة القضاء العمری البتة.

والثابت عن العبارات الامر الاول دون الثانی وللتفصیل مقام آخر. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) بجماعة فی غیر رمضان فهو صحیح مکروه کالتطوع فی غیر رمضان بجماعة وقیده فی الکافی بان یکون علی سبیل التداعی اما لو اقتدی واحد بواحد او اثنان بواحد لا یکره واذا اقتدی ثلاثة بواحد اختلفوا فیه وان اقتدی اربعة بواحد کره اتفاقا.

(البحر الرائق ص ۷۰ جلد۲ باب الوتر والنوافل)

﴿۱﴾ قال العلامة اللکهنوی : اعلم انه قد صرح الفقهاء والمحدثین باجمعهم فی کتبهم بانه تحرم روایة الموضوع وذکره ونقله والعمل بمفاده مع اعتقادثبوته الا مع التنبیه علی انه موضوع ویحرم التساهل فیه سواء کان فی الاحکام اوالقصص او الترغیب والترهیب او غیر ذلک ویحرم التقلید فی ذکره و نقله الامقرونا ببیان وضعه بخلاف الحدیث الضعیف الخ...... قلت قد ثبت من هذه الروایات ان الوضع علی النبی ﷺ ونسبة مالم یقله الیه حرام مطلقا ومستوجب لعذاب النار سواء کان ذلک فی الحلال اوالحرام او ترغیب او ترهیب او غیر ذلک فبطل ظن بعض الوضاعین الجهلة ان الکذب علیه ﷺ للترغیب والترهیب یجوز لانه کذب له لا علیه.

(مجوعه سبع رسائل للکهنوی ص ۹۰، تا ۹۸ الاثار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة)

﴿۲﴾ (الصحیح المسلم ص ۶ جلد ۱ باب وجوب الروایة عن الثقات وترک الکذابین والتحذیر من الکذب علی رسول الله ﷺ)

دَ بې اودسه ادا کړې شوو مونځونوباره کښې
دَ معزول امام اطلاع او دَ قضاء کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ دَجمات نه یوامام معزول کړې شو دَهغه په ځائې بل امام جوړ کړې شو نودې معزول امام اوویل چه ماتاسو ته دوه مونځونه بغیر اودسه کړې دی اوماته معلوم نه دی چه هغه کوم مونځونه وو. اوس به مقتدیان حضرات څه کوی اودکومو مونځونو ادا به کوی. ځکه چه څه دَخاص وخت دَمونځونو یقین نیشته دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: متعلم جامعه حقانیه....۱۴/۲/۱۹۸۷ء

جواب: جاز ان لا یعتمد علی قول هذا الفاسق نعم اذا کان متورعا فجاز الاعتماد کما فی الهندیه ص ۹۱ جلد ۱ فلیراجع ، فالورع ان یقضی صلوٰة یومین ﴿۱﴾ فافهم. وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الفتاویٰ الهندیه: لو قال صلیت بکم المدة علی غیر وضوء وهو ماجن لا یقبل قوله وان لم یکن کذلک واحتمل انه قال علی وجه التورع والاحتیاط اعادوا صلاتهم.

(فتاویٰ عالمگیریه ص۸۷ جلد ۱ الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماما لغیره)

باب الاستسقاء

د باران د پاره سورت یسین ویل اود اذان کولو طریقه مباح ده مستحب نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د باران دپاره چه د استسقاء کوم مونځ مشهور دې آیا ددینه علاوه نورې طریقې هم ثابت دی؟ زمونږ ځائې کښې د بارانِ رحمت دپاره لاندینئ طریقه اختیارولې شی.هغه دا چه د ماسخوتن د مانځه نه پس د جمات امام یا بل سړې سورت یسین د اول نه شروع کړی د اولنی مبین پورې ئې تلاوت کړی دهغې نه پس یو سړې د امام خوا کښې اودریږی اذان کوی، دهغې نه پس دجمات په جنوب مغرب طرف کښې اذان کولې شی، بیا بعد اذان جنوب مشرق ګوټ کښې اذان کولې شی،دغه شان شمال مشرق او بیا شمال مغرب ګوټ کښې اذان کولې شی،ددې نه پس امام چه په دریم ځل سورت یسین ابتداء نه دویم مبین پورې اووائی اوپه مذکوره طریقې سره پنځه کسان اذان کوی،دغه شان بیا دریم مبین پورې غرض د سورت یسین تر آخرنی مبین پورې دا اذانونه اوتلاوت کیږی.دهغې نه پس دعا کولې شی،د تپوس لائق کار دادې چه آیا مذکوره طریقه شرعاً صحیح اوجائزده؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولوی اورنګزیب کریلیان هری پور ایبټ آباد..۱۹۸۴/ ۲/ ۷ء

الجواب: که دا عمل د عملیاتو په ارادې سره کوی نو نه مطلوب دې او نه ممنوع دې﴿۱﴾ اوکه د مستحباتو نه د کیدلو په نیت ئې کوی نو بدعت دې﴿۲﴾

﴿۱﴾بدل علیه حدیث مسلم :عن عوف مالک الا شجعی قال لنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علی رقا کم لاباس بالرقیٰ مالم یکن فیه شرک.(الصحیح المسلم ص ۲۲۴ جلد ۲ باب جواز اخذ الاجرة علی الرقیة)

﴿۲﴾قال العلامه ابن نجیم :ولان ذکر الله تعالیٰ اذا .... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

بهرحال د وسائل مشروعه باوجود نور خودساخته وسائل په کار راوستل د مسلمانانو شایان شان نه دی.وهو الموفق

صلوٰة استسقاء باجماعت کول د صاحبینو په نزد سنت مؤکده دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په مشکوة باب الاستسقاء کښې دعبد الله بن زید رضی الله عنه نه روایت دې.

قال خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم با لناس الی المصلی یستقی فصلی بهم رکعتین جهر فیهما بالقراءة واستقبل القبلة یدعوا ورفع یدیه وحول رداءه حین استقبل القبلة متفق علیه

اوس سوال دادې چه د استسقاء مونځ به په جماعت سره اداکولې شی یا ځانله؟ لهذا د فقه حنفی په رڼا کښې د استسقاء څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالستارتخت بهائی ضلع مردان ...ذیقعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد باندې باجماعت مونځ کول سنت مؤکده نه دې.

کما اشار الیه صاحب الهدایه بقوله فعله مرة وترکه اخریٰ .وصرح به ابن الهمام وغیره﴿۱﴾ اود صاحبینو په نزد سنت موکده دی:وهو مختار الطحاوی وقال الشیخ عبدالحق الدهلوی وعلیه الفتویٰ﴿۲﴾وهو الموفق.

(بقیه حاشیه)قصد به التخصیص بوقت دون وقت اوبشیٔ دون شئی لم یکن مشر وعا حیث لم یر دالشرع به لا نه خلاف المشروع.(البحرالرائق ص ۱۵۹ جلد ۱ باب العیدین)

﴿۱﴾قال العلامه مر غینانی: وقال یصلی الامام رکعتین لما روی ان النبی صلی الله علیه وسلم صلی فیه رکعتین کصلاة العید رواه ابن عباس قلنا فعله مرة وترکه اخریٰ فلم یکن سنة .قال ابن الهمام :قوله ورسو ل الله صلی الله علیه وسلم استسقیٰ ولم تروعنه الصلاة یعنی فی ذلک الاستسقاء فلایرد انه غیر صحیح کما قال الامام الزیلعی المخرج ولو تعدیٰ بصره الی قدر سطرحتی رأی قوله فی جوابهما قلنا فعله مرة وترکه اخریٰ فلم یکن سنةلم یحمله علی النفی مطلقا وانمایکون سنة ما واظب علیه الخ(هدایه فتح القدیر ص ۵۸ جلد ۲ باب الاستسقاء)

﴿۲﴾وفی المنهاج: اعلم ان الصلوٰة فیه سنة مؤکدة......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په صلوة الاستسقاء کښې مفتی به قول د صاحبینو دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د استسقاء په مونځ کښې د جماعت په باره کښې دامام ابوحنیفه اوصحابینو (رحمهم الله) په مینځ کښې اختلاف دې، په دې کښې مفتی به قول کوم یو دې، د معتمد کتابونو په حوالې سره د مُفتی به قول نشاندهی اوکړئ؟ بینوا تؤجروا

المستفتی: مولوی احمد صاحب بشام سوات..... ۱۹۷۷ء ۱۰۱۱۱۹

الجواب: امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الاثار کښې د صاحبینو مذهب غوره کړې دې او شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی:

علی قولهما الفتوىٰ عندالحنفیة کما فی حاشیة المشکواة باب الا ستسقاء.﴿۱﴾وفی ردالمحتار ص ۷۹۱ جلد ۱ واختار القدوری قول محمد لا نه علیه السلام فعل ذلک نهر وعلیه الفتوی کما فی شرح درر البحار.﴿۲﴾فافهم.وهو الموفق

(بقیه حاشیه) عند مالک والشافعی واحمد وابی یوسف و محمد فیصلی الامام رکعتین بجماعة یجهر فیهما بالقراءة واختاره الطحاوی وقال الشیخ الد هلوی وعلیه الفتوىٰ والوجه فیه ان النبی صلی الله علیه وسلم عند الخروج له لم یرجع بغیر صلاة الجماعة .وقال ابو حنیفة الصلوٰة فیه لیست بمسنونة کما فی مختصر القدوری و مراده انها لیست بسنة موکدة بدلیل تعلیل الهدایة حیث قال فعله مرة وترکه اخرىٰ فلم یکن سنة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۸۸ جلد ۳ باب ماجاء فی صلوٰة الاستسقاء)

﴿۱﴾قال العلامه الشیخ زینة المحدثین مولانا نصیر الدین الغورغشتوی: ونحن لا نمنعه ولکن نقول اذا اجتمع الناس للاستسقاء وخرجوا الی المصلی فلا ینبغی لهم الرجوع بغیر صلاة الجماعة...... ولهذا اختار الطحاوی قول الصاحبن وقال الشیخ الدهلوی علی قولهما الفتوىٰ عند الحنفیة.

(هامش غورغشتوی علی مشکواة المصابیح ص ۱۳۴ جلد ۱ باب الاستسقاء)

﴿۲﴾(ردالمختار هامش الدر المختار ص ۶۲۴ جلد ۱ قبیل هل یستجاب دعاء الکافر باب الاستسقاء

د مسنون طریقهٔ استسقاء په موجودګئ کښې د مشتبه طریقې نه بچ کیدل پکاردی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ د علاقې په خلقو کښې د استسقاء دپاره دا اصول دی چه ټول خلق جمع شی او ذکرشروع کړی، دغه شان یو مولوی صاحب وعظ هم کوی. اوبیا داخلق په اجتماعی طریقې سره د یو کلی نه بل کلی ته ځی، او اعلان کوی چه ددې کلی خلق هم مونږ سره استسقاء اوکړئ دې دوران کښې څه غیبت او بې کاره مجلس نه وی صرف د الله تعالی ذکرکولې شی.اوس بعضې علماء فرمائی چه دا بدعت دې، اوبعضې وائی چه ددې د بدعت کیدلو وجه داده چه د خلقو دخوراک انتظام کلی والا کوی او باران غوښتلو والا خو خوراک نه غواړی،ددې شرعی حیثیت واضح کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: ولی محمد خان زی کلې بلوچستان..... ۱۳۹۳ء ۱۲۱۲۱۲

الجواب: چه کله د علماؤ په راهنمایئ کښې په مسنون طریقې سره استسقاء کول ممکن وی﴿۱﴾ نو په دې مشتبه کارکښې د پریوتلو هیڅ ضرورت نشته. نعم لا یقال انها بدعة مالم یدخلوها فی الدین لان البدعة الا احداث فی الدین .قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهورد اوکما قال علیه الصلاة والسلام ﴿۲﴾.وهو الموفق

په استسقاء کښې دوه رکعته باجماعت کول مفتی به قول دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د صلوة الاستسقاء په

﴿۱﴾قال الحصکفی: ویستحب للامام ان یا مرهم بصیام ثلاثة ایام قبل الخروج وبالتوبة ثم یخرج بهم فی الرابع مشاة فی ثیاب غسیلة او مرقعة متذللین متواضعین خاشعین لله ناکسین رؤسهم ویقدمون الصدقة فی کل یوم قبل خروجهم ویجددون التوبة ویستغفرون للمسلمین ویستسقون بالضعفة.والشیوخ والعجائز والصبیان ویبعدون الا طفال عن امهاتهم الخ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۲۴ جلد ۱ باب الا ستسقاء)

﴿۲﴾(مشکواة المصابیح ص ۲۷ جلد ۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

باره کښې بعضې خلق وائی چه څلور رکعته کول پکاردی.دوه رکعته اول ځانله اوبیا دوه رکعته باجماعت، ځکه چه په دې کښې احتیاط دې او بعضې وائی چه صرف دوه رکعته باجماعت ادا کول پکاردی، په دې کښې کوم یو قول صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم ....

الجواب: چونکه مفتی به قول د صاحبینو مذهب دې، لهذا دوه رکعته باجماعت کول پکاردی.

(فی الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۷۹۱ جلد ۱) **وقالا تفعل کالعید ای یصلی بهم رکعتین بجماعة یجهر فیهما بالقراءة بلا اذان ولا اقامة ثم یخطب الخ﴿۱﴾وقال مولانا** (نصیر الدین الغرغشتوی) **فی حاشیة المشکواة ولکن نقول اذا اجتمع الناس للاستسقاء وخرجوا الی المصلی فلا ینبغی لهم الرجوع بغیر صلاة الجماعة ولهذا اختار الطحاوی قول صاحبین وقال الشیخ الدهلوی علی قولهما الفتویٰ عند الحنیفة﴿۲﴾.وهو الموفق.**

﴿۱﴾(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۶۲۴ جلد ۱ :مطلب هل یستجاب دعاء الکافر باب الاستسقاء)

﴿۲﴾وفی منهاج السنن : اعلم ان الصلوة فیه سنة موکدة عند مالک والشافعی واحمد وابی یوسف و محمد فیصلی الامام رکعتین بجماعة یجهر فیهما بالقراءة واختاره الطحاوی وقال الشیخ الدهلوی وعلیه الفتویٰ والوجه فیه ان النبی ﷺ عند الخروج له لم یرجع بغیر صلوٰة الجماعة .وقال ابو حنیفة الصلوٰة فیه لیست بمسنونة کما فی مختصر القدوری.ومراده انها لیست بسنة مؤکدة بدلیل تعلیل الهدایة حیث قال فعله مرة وترکه اخریٰ فلم یکن سنة .وصرح المحقق ابن امیر الحاج فی الحلیة وغیره ان ابا حنیفة قائل بالجواز .وبالجملة ان الاستسقاء عند ابی حنیفة هو الدعاء والاستغفار لقوله تعالیٰ فقلت استغفروا ربکم انه کان غفاراً یرسل السماء علیکم مدراراً .حیث علق نزول المطر بالاستغفار دون الصلوٰة .فکان الاصل فیه الدعاء والاستغفار دون الصلوٰة وللناس ان یصلوا جماعة اووحدانا ویقتصروا علی الدعاء من غیر صلاة.ویؤیده ماروا ه سعید بن منصور فی سننه ان عمر خرج یوما یستسقی فلم یزد علی الاستغفار فقالوا ما رءیناک......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په استسقاء کښې باجماعت مونځ کول بدعت نه دې مشروع دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه استسقاء کښې باجماعت مونځ ثابت دې یا نه؟ او ائمه دین د استسقاء باجماعت مونځ باره کښې څۀ رائې لری؟ دلته یو مولوی صاحب باجماعت استسقاء ته بدعت او کولو والا ته بدعتی وائی، تفصیل ئې اولیکئ ډیره مهربانی به وی؟

واجرکم علی اللّٰه

المستفتی: نامعلوم.....

الجواب: مفتی به قول دادې چه مونځ به باجماعت کولې شی ﴿۱﴾ او بیا روستو به خطبه وی او د خطبې په ضمن کښې به تحویل رداء (څادر اړول) کیږی.

قال مولانا فی حاشیة المشکواة وللصاحبین ومن وافقهما ان یقولوا ثبت فی هذه الاحادیث الدعاء عن رسول ﷺ ونحن لانمنعه ولکن نقول اذا اجتمع الناس للاستسقاء وخرجوا الی المصلی فلا ینبغی لهم الرجوع بغیر صلوٰة الجماعة فانه لم یثبت عن النبی ﷺ فی الصورة الرجوع بغیر صلوٰة الجماعة لهذا اختارا الطحاوی قول الصاحبین وقال الشیخ الدهلوی علی قولهما الفتویٰ عند الحنیفة﴿۲﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) استسقیت فقال طلبت الغیث بمجادیح السماء اللذی یستنزل به المطر. والمجادیح الانواء کما فی القاموس .وکذا یؤیده ما رواه ابن ابی شیبة عنه الاکتفاء بالاستغفار وقد احتج البدر العینی بنحو ستة عشر حدیثا بالمذهب ابی حنیفة فی عدم سنیة الصلوة فیه.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص ۸۸ جلد ۳ باب ماجاء فی صلوٰة الاستسقاء)

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدین رحمه الله :وقال محمد یصلی الامام أو نائبه رکعتین کما فی الجمعة ثم یخطب أی یسن له ذلک والاصح أن أبا یوسف مع محمد نهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۲۳ جلد ۱ : باب الاستسقاء)

﴿۲﴾(حاشیه غورغشتیه علی مشکواة المصابیح ص ۱۴۴ جلد ۱ باب الاستسقاء)

د استسقاء د پاره يو عمل

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مارتونګ مولانا صاحب د بارانِ رحمت دپاره دا وظيفه ښائی چه د مونځ نه پس به ئې په سرتور سر دا لوستل (وهو الذي ينزل الغيث من بعد ما قنطوا و ينشر رحمته، وهو الولى الحميد) او روستو خلقو به په جهرسره آمين وئيل، نوما هم د مولانا صاحب د ارشاداتو مطابق دا وظيفه اوکړه دباران د طلب دپاره، نو يو سړی راته اووئيل چه دا وظيفه په سر تور سر جمات کښې کول ممنوع دی او تکبردې نو آيا واقعی دا وظيفه ممنوع ده او تکبردې؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالحکيم شاه امام مسجد معيارمردان.... ۱۲۱۷۱۱۹۷۴

الجواب: که دا وظيفه بطورعمل اوکړې شی نو دعدم ايذاء په شرط صحيح ده(۱) ولعل هذا هو مراد الشيخ الجامع .والشرط فى جواز العمليات هو عدم التصادم بالسنة لا ثبوتها بخصوصها بالسنة والدليل عليه ما فى حديث عوف بن مالک مرفوعا اعرضوا على رقاکم لا بأس بالرقىٰ ما لم يكن فيه شرک (رواه مسلم بحواله مشكواة ص۳۸۸ جلدا كتاب الطب والرقىٰ) ﴿۲﴾ .وهو الموفق

د استسقاء د مونځ د پاره دريو ورځو نه زيات وتل ثابت نه دی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د استسقاء د مونځ دپاره خلق درې ورځو پورې اوځی او وائی چه د دريو ورځو نه زيات وتل جائز نه دی. آيا دا صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........

﴿۱﴾قال العلامه ابن عابدين: وفى حاشية الحموى عن الامام الشعرانى اجمع العلماء سلفاً وخلفا على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد وغيره الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارئ الخ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص۴۸۸ جلد ا مطلب رفع الصوت بالذكر)

﴿۲﴾(مشكواة المصابيح ص۳۸۸ جلد ا : كتاب الطب والرقى :الفصل الا ول)

الجواب: درې ورځو پورې وتل د فقهاؤ نه منقول دی زيات نه ﴿۱﴾ وهو الموفق

د استسقاء په مونځ کښې د څادر اُلټه کولو حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د استسقاء په مونځ کښې د څادر اُلټه کولو څه حکم دې؟ او صحيح طريقه ئې څه ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: سيد عمرخان هنګو

الجواب: په استسقاء کښې څادر اُلټه کول صرف د امام دپاره مستحب دی. د مونځ نه پس قلب رداء داسې کوی چه د څادر او چته حصه لاندې راشی او لاندينۍ حصه بره شی او چه ښی ګس ته او ګس ښی طرفته شی. کما فى ردالمحتار باب الاستسقاء ﴿۲﴾ وهوالموفق

د استسقاء په مونځ کښې اړولې لاسونو سره د دعا غوښتلو حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ کلی کښې زمونږ امام صاحب د استسقاء دعا غوښتلو دوران کښې لاسونه اُلټه کړل او دعائې اوغوښتله. آيا دا جائزدی؟ بينوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........

﴿۱﴾ قال الحصكفى: ويخرجون ثلاثة ايام لانه لم ينقل اكثر منها متتابعات. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۶۲۴ جلد ا باب الاستسقاء)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدين: (قوله خلافا لمحمد) فانه يقول يقلب الامام رداءه اذا مضى صدر من خطبته فان كان مربعا جعل اعلاه اسفله واسفله اعلاه وان كان مدوراً جعل الايمن على الايسر والايسر على الايمن وان كان قباء جعل البطانة خارجا والظهارة داخلا حليه وعن ابى يوسف روايتان واختار القدورى قول محمد لانه عليه الصلاة والسلام فعل ذلک نهر وعليه الفتوىٰ كما فى شرح درر البخار قال فى النهر واما القوم فلا يقلبون ارديتهم عند كافة العلماء خلافا لمالک. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۶۲۴ جلد ا باب الاستسقاء)

الجواب: داهم جائز دی، رواه ابوداؤد ﴿۱﴾ وهوَ الموفق

د صلوة الاستسقاء د پاره صحرا ته وتل بهتر دی

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه د استسقاء مونځ کوم ځائي کول پکاردی؟ آیا صحرا طرف ته وتل ضروری دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: سلطان علی خان بنوں

الجواب: صحرا طرف ته وتل بهتر دی (شامی) ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ عن انس ان النبی ﷺ کان یستسقی هکذا یعنی ومد یدیه وجعل بطونهما ممایلی الارض حتی رایت بیاض ابطیه. (سنن ابی داؤد ص ۱۷۲ جلد ۱ باب رفع الیدین فی الاستسقاء)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ویخرجون) ای الی الصحراء کما فی الینا بیع اسمعیل وهذا فی غیر اهل المساجد الثلاثة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۲۴ جلد ۱ باب الاستسقاء)

...

باب سجود السهو

چه د اولنی رکعت نه پس امام په قعده کینی او فتح اخستلو سره پاڅی نود سجده سهو څه حکم دی؟

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه دوه یا څلور رکعته فرض مونځ کښي امام د اولنی رکعت د دویمي سجدي نه پس په قعده باندي کیناستلو. او مقتدیان ټول اودریدل اود مُکبر په فتحه باندي امام د قعدي نه قیام ته لاړلو، اوس به امام سجده سهو کوی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټر حزب الرحیم......۱۹۷۷ء۱۹۱۹۱

الجواب: که دا قعده (د اولنی رکعت نه پس) اوږده وی د جلسهٔ استراحت د مقدار نه زیاته وی سجده سهو لازم ده کني لازم به نه وی.

کمافی ردالمحتار ص ۳۱۵ جلد ۱ وکذا القعدة فی آخر الرکعة الاولیٰ او الثالثة فیجب ترکها ویلزم من فعلها ایضاً تاخیر القیام الی الثانیه او الرابعة عن محله وهذا اذا کانت القعدة طویلة اما الجلسة الخفیفة التی استحبها الشافعی فترکها غیر واجب عندنا بل هو الافضل ﴿۱﴾ فافهم. وهوالموفق

د مسبوق د پاره د ماښام بقیه دوه رکعتونو په مینځ کښي قعده نه کولو سره سجده سهو ضروری ده

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه یوسړي د ماښام په مونځ کښي خاص په هغه وخت کښي شامل شو چه امام دوه رکعته کړی وو، دا سړي به دصاحبینو د مذهب مطابق خپل باقی مونځ داسي پوره کوی چه دسلام نه پس مسبوق یو رکعت اوکړی قعده به کوی، او د تشهد نه پس به دخپل باقی رکعت دپاره پاڅی او د امام اعظم رحمه الله په مذهب باندي به د باقی

﴿۱﴾ (ردالمحتار ص ۳۴۷ جلد ۱ باب صفة الصلاة قبیل مطلب مهم فی تحقیق متابعة الامام)

دواړو رکعتونو په مینځ کښې قعده نه کوی. اوس سوال دادې که یو سړې همیشه دپاره د صاحبینو په مذهب باندې عمل کوی لیکن چرته یو وخت کښې په اولنی رکعت باندې سهواً اودریدلو یعنی چه قعده ئې هیره شوه نو دې صورت کښې د سجده سهو څۀ حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: صاحبزاده محمد صالح ډوډهیرصوابی.... ۱۹۸۴ء۱۲۱۵۱

الجواب: چونکه علامه شامی وغیره دامام محمد رحمه الله قول صحیح ګرځولې دې. کما فی ردالمحتار ص۴۱۹ جلد۱ ﴿۱﴾ اعتماد دامام محمد رحمه الله په قول باندې دې. نو په مذکوره صورت کښې به سجده سهو کول ضروری وی. وهوالموفق

د پنځم رکعت نه چه تشهد د پاره واپس شی او سجده سهو اونه کړی نومونځ واجب الاعاده دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د آخری تشهد په ځائې امام د پنځم رکعت دپاره اودریږی اومقتدی ورته فتحه ورکړی اوامام سمدستی د تشهد دپاره واپس شی اوسجده سهو هم هیره کړی نو په دې صورت کښې مونځ کیږی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرؤف شین باغ خورد اټک.... ۱۹۹۰ء۱۹۱۵

الجواب: دا مونځ واجب الاعاده دې. په صورت مسئوله کښې سجده سهو لازمیږی. رد المختار وغیره. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله: والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد...... ويقضی اول صلاته فی حق قرأة وآخرها فی حق تشهد فمدرک رکعة من غير فجر ياتی برکعتين بفاتحة وسورة وتشهد بينهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ولا يقعد قبلها. قال الشامی (تحت قوله ويقضی اول صلاته فی حق قرأة) وفی الفيض عن المستصفی لو ادركه فی رکعة الرباعی يقضی رکعتين بفاتحة وسورة ثم يتشهد ثم يأتی بالثالثة بفاتحة خاصه عند ابی حنيفة وقال رکعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم رکعتين اولاهما بفاتحة وسورة وثانيتهما بفاتحة خاصة وظاهر كلامهم اعتماد قول محمد.
(فتاوی شامیه ص ۳۴۱ جلد ۱ باب الامامة مطلب فی المسبوق والمدرک واللاحق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله: وتعاد وجوبا...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په مونځ کښې بغیروجې نه قصداً سجده سهو کولوسره مونځ کښې نقصان نه راځی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو سړې بغیر ضرورته یعنی بغیر د سهو اونسیان نه قصداً عمداً سجده سهو اوکړی نوآیا مونځ به صحیح وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد قاسم عزیز بټهی روډ نوشهره صدر.... ۱۹۹۰ء۱۱۱۷۱

الجواب: دا سړې به د سلام اړولوسره د مونځ نه اوځی او مونځ به ئې پوره شی نوبې ځایه سجده سهو کولوسره دده مونځ ته نقصان نه رسیږی. وهوالموفق

سجده سهو هیره شی نو دمونځ اعاده واجب ده اود مونځ دواړه سجدې فرض دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) په یو مونځ ګذار باندې سجده سهو لازم شوې ده لیکن سجده سهو ترې هیره شوه سلام ئې اوګرځولو. دجمات نه بهر اووتلو خبرې اترې ئې اوکړې ناڅاپه ورته یاد شو چه سجده سهو ئې پریخې ده. نواوس د مونځ اعاده واجب ده که نه؟

(۲) په مونځ کښې یوه سجده فرض ده یا دواړه فرض دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاضی جبرائیل غورزئی پایان کوهاټ.... ۲۴\۱شعبان ۱۴۰۹ھ

الجواب: (۱) په ده باندې اعاده واجب ده فرض نه ده.

لانه ترک الواجب وهی سجده السهو كما فی ردالمحتار ص۳۰۹ جلد ۱ باب السهو، وهل تجب الاعاده بترک سجود السهو لعذر كما لو نسيه والذی يظهر الوجوب كما هو مقتضی اطلاق الشارح لان النقصان لم ينجبر بجابر

(بقيه حاشيه) فی العمد والسهو ان لم يسجد له وان لم يعدها يكون فاسقا آثما وكذا كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۳۶، ۳۳۷ جلد ۱ كل صلاة اديت مع كراهة التحريم تجب اعادتها باب صفة الصلاة)

وان لم یاثم بتر که فلیتامل ﴿۱﴾.

(۲) په ټولو معتبرات فقه کښې لیکلی دی چه دواړه سجدې فرض دی. ﴿۲﴾ فلیراجع. وهو الموفق

په نفل مونځ کښې سجده سهو، آخری قعدې نه د پاڅیدلو او د نابالغه مونځ کونکی مخې ته د تیریدلو مسئلې

سوال: علمائې دین لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائی:

(۱) په نفل مونځ کښې سجده سهو لازمیږی یا نه؟

(۲) چه د مونځ په سنتو کښې داسې الفاظ اووئیلې شی چه دهغې په معنی کښې تغیر فاحش واقع شی نو مونځ فاسدیږی یا نه؟

(۳) آخری قعده کښې تشهد لوستلو نه پس په هیره سره اودریدلو او د رکوع کولو نه مخکښې ورته یاد شی نو دوباره به په قعده کښې تشهد لولی یا نه؟

(۴) د نابالغه مونځ کونکی مخې ته تیریدل جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: امان الله بډه بیر پشاور.... ۳۰\۱۳\۱۹۸۹ء

الجواب: (۱) د سهوې او سجده سهوې حکم په فرض او نفل مونځ کښې یو شان دې. ﴿۳﴾ (۲) د مونځ په مفسداتو کښې تفاوت نه وی. ﴿۴﴾ (۳) درود شریف نه به شروع کوی. ﴿۵﴾

﴿۱﴾ (ردالمحتار ص۳۳۷ جلد ۱ باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة)

﴿۲﴾ وقال فی الهندیه: (ومنها السجود) السجود الثانی فرض کالاول باجماع الامة (فتاوىٰ هندیه ص ۷۰ جلد ۱ الباب الرابع فی صفة الصلاة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والسهو فی صلاة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۵۶ جلد ۱ باب سجود السهو)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: السنة فی تسبیح الرکوع سبحان ربی العظیم الا ان کان لا یحسن الظاء فیبدل به الکریم لئلا یجری علی لسانه العزیم فتفسد به الصلاة کذا فی شرح درر البحار فلیحفظ. (ردالمحتار ص ۳۶۵ جلد ۱ مطلب فی اطالة الرکوع للجائی باب صفة الصلاة)

﴿۵﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله عاد وسلم) ای عاد للجلوس لما مر ان مادون الرکعة محل للرفض وفیه اشارة الی انه لا یعید التشهد وبه صرح فی البحر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۵۳ جلد ۱ باب سجود السهو)

(۴) ممنوع دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

که سجده پاتې شی او رکوع کښې یاده شی نوڅه به کوی؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که د مونځ ګذار نه یوه سجده پاتې شی او رکوع ته اورسیدو چه ورته یاد شو، نو آیا هغه رکوع اوکړی او قومه اوکړی بیا درې سجدې اوکړی او په آخره کښې سجده سهو اوکړی او یا ددې د اداکولو څه طریقه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق ای۲۳٦\۱ راولپنډی.... ۱۳\۱۱\۱۹۷۲ء

الجواب: که رکوع کښې یاد زاتلو سره سجدې ته د رکوع نه لاړشی نو بیا هم څه حرج نشته. (فی القول الاصح) (ردالمحتار ص۴۳۱ جلد ۱) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د سجده سهوکونکی امام د اولنی سلام سره د مسبوق اودریدل د واجبو پریخودل دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مسبوق د امام د اولنی سلام شروع کولو سره اودریږی (برابره خبره ده که دامام په سجده سهو کولو باندې واپس راشی او په ده باندې سجده سهو لازم نه وی نو رانشی نو دده اولنی سلام ګرځولو سره د باقی مونځ دپاره) اودریدل خلاف سنت دی یا خلاف واجب؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق محله قطب الدین راولپنډی .... ۱۳\۱۱\۱۹۷۲

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وان اثم المار لحدیث البزار لو یعلم المار ماذا علیه من الوزر لوقف اربعین خریفا فی ذلک المرور. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۴۷۰ جلد ۱ لا تفسد باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین رحمه الله: لو ترک سجدة من رکعة ثم تذکرها فیما بعدها من قیام او رکوع او سجود فانه یقضیها ولا یقضی مافعله قبل قضائها مما هو بعد رکعتها من قیام او رکوع او سجود بل یلزمه سجود السهو فقط.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۴۱ جلد ۱ باب صفة الصلاة)

الجواب: په ترکِ واجب کښې مبتلا شوې دې.(ردالمحتار ص ٥٥٩ جلد ١)﴿١﴾ چه کله بغیر ضرورته وی. وهوالموفق

د اخترونو په مونځونو کښې د کثرت جماعت په وجه د سجده سهو نه کولوحکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه داخترونو په مونځ کښې تکبیرات زوائد چه واجب هم دی،داپه دویم رکعت کښې اونه وائی او رکوع ته لاړشی.نودې صورت کښې سجده سهو واجب شوې ده یا نه؟اوکه سجده سهو اونکړی نو مونځ فاسد شو یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی:قاری محمد افضل فاروقی واه کینټ....١٢\اگست١٩٨٤ء

الجواب: په دې امام سجده سهوه واجب وه لیکن د اختر مونځ کیدلو په وجه ساقط ده.(شامی)﴿٢﴾ وهوالموفق

په سجده سهو کښې به یوطرف ته سلام گرځوی یا دواړو طرفونو ته؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو سړې د سجده سهو دپاره دواړو طرفونو ته سلام اوگرځوی نوآیا مونځ به صحیح وی؟ حال داچه مفتی اعظم هندوستان مفتی کفایت الله صاحب دعدم جواز اوحضرت تهانوی صاحب د جواز قائل دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداسماعیل شریک موقوف علیه دارالعلوم حقانیه.١٤\شوال١٤٠٥ھ

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله وکره تحریما) ای قیامه بعد قعود امامه قدر التشهد لو جوب متابعته فی السلام. (ردالمحتار ص ٤٤٢ جلد ١ مطلب فیما لو اتی بالرکوع او السجود او بهما مع الامام او قبله او بعده باب الامامة)

﴿٢﴾ قال العلامه حصکفی: والسهو فی صلوة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتاخرین علمه فی الاولیین لدفع الفتنة کمافی جمعة البحر واقرة المصنف وبه جزم فی الدرر، قال ابن عابدین شامی: الظاهر ان الجمع الکثیر فیما سواهما کذلک کما بحثه بعضهم وکذا بحثه الرحمتی الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص٥٥٦ جلد ١ باب سجود السهو)

الجواب: صاحب دهدایې دواړو طرفونوته سلام گرځول مختار کړی دی. لیکن جمهور علماء صرف یوطرف ته سلام گرځول مختار کړی دی.(کما فی ردالمختار ص٥١٨ جلد١ فلیراجع)﴿١﴾

نوټ: په دې حکم کښې د مقتدی اومنفرد وغیره فرق منقول نه دې. وهوالموفق

په وتروکښې د فاتحې نه پس د قنوت د پاره لاسونه اوچت کړل نو سورت ونیل وریاد شو اوسورت ئې اولوستلو نوسجده سهو واجب نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که وتر کونکې دریم رکعت کښې سورت فاتحه اولولی اوبیا لاسونه اوچتوی چه الله اکبر اووائی. بیا ورته ضم د سورت یاد شی او سورت اولولی اوبیا لاسونه اوچت کړی او قنوت شروع کړی نودې صورت کښې به سجده سهو واجب وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ننک اسلاف اصلاح الدین ډی آئی خان. یکم ربیع الاول١٤٠٢ھ

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله واحد) هذا قول الجمهور منهم شیخ الاسلام وفخر الاسلام وقال فی الکافی انه الصواب وعلیه الجمهور والیه اشار فی الاصل الا ان مختار فخر الاسلام کونه تلقاء وجهه من غیر انحراف وقیل یأتی بالتسلیمتین وهو اختیار شمس الائمة وصدر الاسلام اخی فخرالاسلام وصححه فی الهدایة والظهیریة والمفید والینا بیع کذا فی شرح المنیة قال فی البحر وعزاه ای الثانی وفی البدائع الی عامتهم فقد تعارض النقل عن الجمهور (قوله عن یمینه) احتراز عما اختاره فخرالاسلام من اصحاب القول الاول کما علمته وفی الحلیة اختار الکرخی وفخر الاسلام وشیخ الاسلام وصاحب الایضاح ان یسلم تسلیمة واحدة ونص فی المحیط علی انه الاصوب وفی الکافی علی انه الصواب قال فخر الاسلام وینبغی علی هذا ان لا ینحرف فی هذا السلام یعنی فیکون سلامه مرة واحدة تلقاء وجهه وغیره من اهل هذا القول علی انه یسلم مرة واحدة عن یمینه خاصة ، والحاصل ان القائلین بالتسلیمة الواحدة قائلون بانها عن الیمین الا فخرالاسلام منهم فانه یقول انها تلقاء وجهه وهو المصرح به فی شروح الهدایه ایضا کالمعراج والعنایة والفتح.
(ردالمحتار هامش الدرالمختارص٥٤٥ جلد ١ باب سجود السهو)

الجواب: په صورتِ مسئوله کښې د قواعدو مطابق سجده سهو نه واجبیږی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

که په نفلو او تراویح کښې د دوه رکعته نیت اوکړو اوڅلور ئې اداکړل نوسجده سهو واجب نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوحافظ قرآن د دوه رکعته نیت اوکړو اوڅلور رکعته ئې اداکړل اوپه آخر کښې ئې سجده سهو اوکړه آیا دا مونځ اوشو؟ دغه شان د څلورو رکعتو نیت کولونه بغیر څلور رکعته کول صحیح دی یانه؟ اوسجده سهو وغیره واجب ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سبزعلی باجوړایجنسی....۱۵\شوال ۱۳۹۵ھ

الجواب: په نفلو او تراویح کښې د دوه رکعتو اوڅلور رکعتو دنیت حکم یوشان دې، دا مخالفت څه نقصان ورکونکې مخالفت نه دې. (فلیراجع الی شرح الکبیر ص ۳٤۰، ۳٤۱) ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ سجده سهو په یو رکن کښې په دومره تاخیر کولو سره واجب کیږی چه په هغې کښې مسنون طریقې سره د مونځ ورکوتې رکن مثلاً سجده یا رکوع اداشی اوپه صورتِ مسئوله کښې صرف د ,,الله اکبر،، په اندازې وئیلو وخت لګیدلې دې چه په مسنون سجده یا رکوع باندې د خرچ کیدلو والا وخت نه ډیر کم دې، لهذا په دې تقدیم اوتاخیر کښې سجده سهو واجب نه ده.

قال العلامه سید احمد الطحطاوی: ومن الواجب تقدیم الفاتحة علی السورة وان لا یؤخر السورة عنها بمقدار اداء رکن وقال فی آخر الباب ولم یبنوا قدر الرکن وعلی قیاس ما تقدم ان یعتبر الرکن مع سنته وهو مقدر بثلاث تسبیحات.

(الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ٤٦٠، ٤٧٤ باب سجود السهو)

﴿۲﴾ قال العلامه ابراهیم الحلبی: وان شرع فی التطوع بنیة الاربع ای بنیة ان یصلی اربع رکعات ثم قطع ای افسدها شرع فیه قبل اتمام شفع لایلزمه الا شفع ای الاقضاء شفع عند ابی حنیفة ومحمد خلافاً لابی یوسف فان عنده یلزمه قضاء اربع فی روایة وانما قیدنا بقبل اتمام شفع لانه لو افسد بعد اتمامه فان کان قبل القیام الی الثالثة یلزمه شفع واحد عنده وعندهما لا یلزم شیئ وان کان بعد القیام الیها لزمه قضاء شفع اتفاقا والاصل ان کل رکعتین من النفل صلاة علی حدة والقیام الی الثالثة کتحریمة مبتدأة اتفاقا.

(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۳۷۷ فصل فی النوافل)

چه آخری قعده پریږدی او دوه(۲) رکعته ورسره ختم کړی نو سجده سهو کول ضروری دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَڅلور رکعته فرض مونځ نیت اوتړی بیا آخری قعده هیره کړی او پاڅی اوبیا دوه رکعته نور ورسره یوځائې اومونځ پوره کړی آیا داسې کول به صحیح وی؟ اودَ سجده سهو څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد عظیم ،عبدالخیلی لکی مروت...۱۹/مارچ ۱۹۸۴ء.

الجواب: دامونځ صحیح دې او سجده سهو کول ضروری دی. ﴿۱﴾ .(ماخوذ ازشرح کبیری ص ۳۷۸). اودا شپږ واړه رکعتونه ټول په ټوله نفل دی. البته که دې سړی په څلورم رکعت باندې قعده قصداً پریخې وی نو سجهده سهوه پرې واجب نه ده. ﴿۲﴾ . وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال العلامة الحلبی: وان سها عن القعدة الاخیرة فی ذوات الاربع وقام الی الخامسة یعود الی القعدة مالم یسجد للخامسة لانها فرض فرفض لاجلها عند التمکن من اصلاحها ماهو محل الرفض وهو مادون الرکعة ویتشهد ویسلم ویسجد للسهو لتاخیر القعدة وان قید الرکعة الخامسة بالسجدة بطل فرضه وتحولت صلوته نفلا عند ابی حنیفة وابی یوسف...... وعلیه ان یضم الیها ای الی الخامسة رکعة سادسة عندهما خلافا لمحمد لیصیر متنفلا بست رکعات لان التنفل بالوتر غیر مشروع عندنا......ویسجد للسهو وهو قول بعض المشائخ وفی النهایة والاصح انه لا یسجد وکذا قال ابن الهمام الصحیح انه لا یسجد لان النقصان بالفساد لا ینجبر بالسجود وقد یقال الفساد لصفة الفریضة لا لاصل الصلاة فینجبر النقصان الواقع فی اصلها لترک الواجب سهواً بالسجود. (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ٤٣٣ فصل فی سجود السهو)

﴿۲﴾ قال العلامه شرنبلالی: ولا یسجد فی الترک العمد للسهو لان سجود السهو عرف جابراً للفائت سهو او شرعا والعمد اقوی فلا ینوب سجود السهو عنه ولانه متعمد فیستحق التغلیظ بالاعادة ثم بین ضعف القول بالسجود لما ترک عمدا بصیغة التمریض بقولنا قیل ...... سئل فخر الاسلام البلیعی کیف یجب العمد؟ قال ذلک سجود العذر لاسجود السهو کذا فی شرح المقلسی عن الولو الجی. (امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ۵۱۱ مطلب فی سجود العذر للعمد فی مواضع)

دَ مغرب او وترو قضا احتیاطاً څلور څلور رکعته کولوصورت کښې سجده سهو کول خلافِ قاعده دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق دَنامعلومه مغرب او وترو مونځونو قضا کوی او دَ دریو په ځائې څلور رکعته ادا کوی نو آخره کښې بعضې خلق سجده سهو کوی.آیا دا سجده سهو صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی:عبدالرحیم جلبئ صوابی.

الجواب: که دا سجده سهو چرته په معتمد کتاب باندې حمل نه وی نو دا سجده دَقصداً کیدلو په وجه خلافِ قاعده ده.(١).وهو الموفق.

﴿١﴾ قال العلامة الشرنبلالی:ولایسجد فی الترک العمد للسهو، لان سجود السهو عرف جابراً للفائت سهو او شرعا و العمد اقویٰ فلاینوب سجود السهو عنه ولانه متعمد فیستحق التغلیظ بالاعادة.

(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ٥١١ مطلب فی سجود العذر للعمد)

....

باب صلوة المریض

دَ معذور د پاره دَ مخکښې اودس نه پس قطره نه وتلو په صورت کښې دغې اودس سره بل مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَبنده نه تللو راتللو وخت کښې یا دَخپوپه سر کیناستلو وخت کښې دَمتیازو قطرې غورځیږی،نو په دې وجه دَهرمونځ دپاره نورې اودس کووم.لیکن کله کله داسې اوشی چه دَیو مونځ نه بل مونځ پورې څه قطره نه اوځی.نوچه کله ماته دا یقین وی چه څه قطره نه ده .وتلې نو په دې اولنی اودس سره دَبل وخت مونځ کولې شم یانه؟ بینوا توجروا.

المستفتی:فیض الوهاب کاکاخیل اضاخیل پایانوشهره...٢٢/٢/١٩٨٩ء.

الجواب: چه کله دَاودس کولونه پس قطره اونه اوځی نو په دې اودس سره بل مونځ کولې شي.(١) اوکه ته یو نیم انچ پلنه او شپږ انچې اوږده کپړه دَآله تناسل نه تاؤ کړې او یو درمیانی شان غوټه ورته ورکړې نو تاته به ډیر ارام ملاؤشی.وهو الموفق.

دَ بلااختیاره قهقه کونکی امام اقتداء جائز نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې دَدیرشو، څلویښتو کالونه دَامامت فرائض اداکوی.دَڅه مودې نه په مونځ کښې بلا اختیاره اوبې وجه قهقهه یا ضحک راځی.نوآیادده امامت جائز دې؟ او دده دَ انفرادی مونځ څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

المستفتی:جهانزیب خان گهاس منډی ډی آئی خان......٧/شوال ١٤٠١ھ.

﴿١﴾ وینقضه خروج کل خارج نجس بالفتح ویکسر منه ای من المتوضی الحی معتادا اولا من السبیلین اولا الی ما یطهر بالبناء للمفعول ای یلحقه ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: بې اختیاره قهقهه یا ضحک کونکې معذوره نه دې ﴿١﴾. الا فی قول للشافعیه لم یرتضی به الحافظ ابن حجر فی شرح البخاری ﴿٢﴾. دَده پسې اقتداء کول جائز نه دی مناسب دا دی چه داسې کس مختصر مونځ کوی چه دَشیطان غالب راتللو نه مخکښې مونځ ختم وی. وهو الموفق.

په لاسو خپو دَ شل کس دَ مونځ طریقه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَایکسیډنټ په وجه

(بقیه حاشیه) حکم التطهیر ثم المراد من السبیلین مجرد الظهور من اضافة الصفة الی الموصوف ای الظهور المجرد عن السیلان فلو نزل البول الی قصبة الذکر لا ینقض لعدم ظهوره. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ٩٩، ١٠٠ جلد ١ مطلب نواقض الوضوء)

﴿١﴾ قال العلامه عبد الرحمن الجزری: الحنفیة قالوا: القهقهة فی الصلاة تنقض الوضوء وقد وردت فی ذلک احادیث منها ما رواه الطبرانی عن ابی موسیٰ قال: بینما رسول اللهﷺ یصلی بالناس اذ دخل رجل فتردی فی حفرة کانت فی المسجد وکان فی بصره ضرر فضحک کثیر من القوم وهم فی الصلاة، فامر رسول اللهﷺ من ضحک ان یعید الوضوء ویعید الصلاة، والقهقهة هی ان یضحک بصوت یسمعه من بجواره فاذا وقع منه ذلک انتقض الوضوء ولو لم یطل زمن القهقهة، بخلاف ما اذا ضحک بصوت یسمعه هو وحده ولا یسمعه من بجواره فان وضوءه لا ینتقض بذلک بل تبطل به الصلاة وانما ینتقض الوضوء بالقهقهة اذا کان المصلی بالغا ذکراً کان او امرأة عامداً کان او ناسیاً الخ.

(الفقه علی المذاهب الاربعة ص ٨٤ جلد ١ مبحث نواقض الوضوء)

﴿٢﴾ قال الحافظ بن الحجر العسقلانی: قوله (وقال جابر) هذا التعلیق وصله سعید بن منصور والدارقطنی وغیرهما وهو صحیح من قول جابر واخرجه الدارقطنی من طرق اخریٰ مرفوعا لکن ضعفها والمخالف فی ذلک ابراهیم النخعی والاوزاعی والثوری وابو حنیفة واصحابه قالوا: ینقض الضحک اذا وقع داخل الصلاة لا خارجها قال ابن المنذر: اجمعوا علی انه لا ینقض خارج الصلاة، واختلفوا اذا وقع فیها فخالف من قال به القیاس الجلی وتمسکوا بحدیث لا یصح وحاشا اصحاب...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

زما دا حال شوې چه دَنامه نه لا ندې بالکل بې دمه شوې یم. دَهغه وخت نه دَپائپ په ذریعې متیازې ویستلې کیږی. دَلاس په ذریعې ډوډئ او به پخپله خوړلې څکلې نه شم، په ډډه باندې هم پخپله نه شم اوړیدلې. دَمتیازو دَنالئ سره ۲۴ ګهنټې پائپ لګیدلې وی. او پائپ بیا په بوتل کښې پروت وی یو څاڅکی سره بوتل ډکیږی. نودې صورت کښې به زما دَ مونځ څه کیږی. او په کومې طریقې سره مونځ کووم. په وزن کښې دَ والدینو نه درونډ یم آ اوړیدلو په وخت کښې درې کسان لګیا وی، په بل چاسره استنجاء او اودس کول هم ډیرزیات ګران کار دې تیمم هم نه شم کولې. او داهم وائی چه قبلې طرف ته دَمخ کولو به څه کیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: سعید سلطان بام خیل صوابی .... ١٩٨٤ء/٢/٤.

الجواب: ته بغیر اودسه مونځ کولې شې. ﴿١﴾. او که ممکن وی نو دکټ خپې قبلې طرف ته کړئ او یا قبله ته په اشارې سره مونځ کوئ. ﴿٢﴾. وهو الموفق.

(بقیه حاشیه) رسول اللهﷺ الذین هم خیر القرون ان یضحکوا بین یدی الله تعالیٰ خلف رسول اللهﷺ انتهیٰ، علی انهم لم یأخذوا بعموم الخبر المروی فی الضحک بل خصوه بالقهقهة.

(فتح الباری شرح صحیح البخاری ص ٥٢٢ جلد ١ باب من لم یرا الوضوء الا من المخرجین)

﴿١﴾ قال العلامة الحصکفی: والمحصور فاقد الماء والتراب...... وکذا العاجز عنهما لمرض یؤخرها عنده وقالا یتشبه بالمصلین وجوبا به یفتی والیه صح رجوعه ای الامام کما فی الفیض وفیه ایضا مقطوع الیدین والرجلین اذا کان بوجهه جراحة یصلی بغیر طهارة ولا یتیمم ولا یعید علی الاصح. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ١٨٥ جلد ١ مطلب فاقد الطهورین باب التیمم)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصکفی: من تعذر علیه القیام ای کله لمرض حقیقی وحده ان یلحقه بالقیام ضرر به یفتی قبلها او فیها ای الفریضة او حکمی بان خاف زیادته او بطء برئه بقیامه او دوران رأسه اووجد لقیامه الماً شدیداً او کان لو صلی قائما سلس بوله، صلی قاعداً ولو مستندا الی وسادة اوانسان فانه یلزمه ذلک علی المختار کیف شاء علی المذهب لان المرض اسقط عنه الارکان فالهیئات اولیٰ، وایضا وان تعذر القعود ولو حکما او ما مستلقیا علی ظهره ورجلاه نحو القبلة غیر انه ینصب رکبتیه لکراهة مد الرجل الی القبلة ویرفع رأسه یسیرا لیصیر وجهه الیها.

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ٥٥٩، ٥٦٢ باب صلاة المریض)

باب سجود التلاوة

دَ لوئي کور په مختلفو حصوکښې دَسجدې دَ آیت دَ تلاوت کولو حکم

سوال: حضرت مولانا مفتی محمد فرید صاحب صدر دارالافتاء دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! که یو سړې دَجمات په دننه حصه کښې یو آیت سجده، تلاوت کړی بیاهم دغه آیت دَجمات په بهرنئ یا پورتنئ حصه کښې یا دَجمات په صحن کښې بیا اووائی نو په ده باندې یوه سجده تلاوت واجب ده. لیکن چه شرقاً غرباً څلویښتو لاسونه یا دَهغې نه لویه کمره وی یا دکشتئ اوریل په ډبه کښې (چله کله کشتئ اودَ ریل ډبه څلویښت لاسونه یادَهغې نه زیات وی) هلته دَغه آیت سجده بار بار اووائی. نو دوه سجدې به واجب کیږی. آیا دا مسئله صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: اکرام الحق نشترآباد راولپنډی....۳/جون ۱۹۷۰ء.

الجواب: دامسئله صحیح ده. (صرح به العلامة الشامی ص۷۲۷و۷۲٦، جلد۱) لیکن دَڅلویښتو لاسونو حدمقررکول دلته منصوص نه دی. دامقدار دَمونځ کونکی مخې ته دَتیریدلو په مسئله کښې مراد دې. ﴿۱﴾ (ردالمحتار ص ۵۹۳ جلد ۱) پس په سجده تلاوت دَورکوټې یا غټ جمات او کور فرق نشته اوکه ډیر زیات غټ ځائې وی لکه شاهی مسجد نو هلته به متعدده سجدې واجب وی. ﴿۲﴾ .وهوالموفق.

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: (قوله ومسجد صغیر) هو اقل من ستین ذراعا وقیل من اربعین وهو المختار کما اشار الیه فی الجواهر قهستانی.
(ردالمختار هامش الدرالمختار ص ۴۲٦۹ جلد ۱ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله بخلاف زوایا مسجد) ای ولو کبیر علی الاوجه وکذا البیت وفی الخانیة والخلاصة الا اذا کانت الدار کبیرة کدارالسلطان.
(ردالمختار هامش الدرالمختار ص ۵۷۴ جلد ۱ باب سجود التلاوة)

چه په تراویح کښې آیت سجده اولولی اوسجده اونکړی نو آیا دا دَ مونځ په سجدې سره ادا کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په تراویح کښې دَسجدې آیت اولولی اوسجده اونکړی او وائی چه دَرکعت دَسجدو سره ادا شوه. نو آیا دا ادا صحیح ده؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فضل ربی باړه شیخان.......۱۳/رمضان ۱۴۱۰هـ.

الجواب: چه کله دَسجده تلاوت آیت لوستلونه پس متصل یا دوه درې آیتونو لوستلو نه پس تداخل اوکړې نو مشروع دی. (شامی) (۱) .وهوالموفق.

بغیر اودسه سجده تلاوت جائز نه ده

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه سجده تلاوت بغیر اودس نه جائز ده یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی عنایت الله خوازه خیله سوات.......۱۳۸۹هـ.

﴿۱﴾ واضحه دې وی چه سجده تلاوت صلاتیه دَمونځ نه بهر نشی ادا کولې هم په مونځ کښې به ادا کیدې شی. که مونځ گزارې مستقل سجده نه کوی او په رکوع او سجده تلاوت کښې تدخل کوی نو هم جائز دی. البته دې دپاره نیت ضروری دې دَنیت نه بغیر به په رکوع کښې سجده تلاوت جائز نه وی، په درمختار کښې دی. وتؤدی برکوع صلاة اذا کان الرکوع علی الفور من قراءة آیة اوآیتین وکذاالثلاث علی الظاهر کما فی البحران نواه ای کون الرکوع لسجود التلاوة علی الراجح. (الدرالمختار ص ۵۷۱ جلد ۱ باب سجود التلاوة) او دَدې نه داهم معلومه شوه چه دَآیت سجده لوستلو نه پس رکوع کولو ته درې آیاتو لوستلونه زیاته فاصله نه وی گني بیا په رکوع کښې نیت صحیح نه دې
قال حسن بن عمار: ویجزی عنها ای عن سجدة التلاوة رکوع الصلاة ان نواها ای نوی ادائها فیه' وفیه اوانقطاعه بان یقرأ اکثرمن آیتین بعد آیة السجدة بالاجماع.
(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص ۲٦۴ باب سجود التلاوة)

الجواب: سجده تلاوت بغیر اودسه ناجائز ده.

قال فی البدائع واما شرائط الجواز فکل ما هو شرط جواز الصلوة من من طهارة الحدث وهی الوضوء والغسل وطهارة النجس وهی طهارة البدن والثوب ومکان السجود والقیام والقعود فهو شرط جواز السجدة لانها جزء من اجزاء الصلوٰة فکانت معتبرة بسجدات الصلوٰة انتهٰی.﴿۱﴾ (ص ١٨٦ جلد ١)

دغه شان دا شاذ مذهب دي چه دابن عمر او امام شعبی رضی الله عنهما نه مروی دي لهذا په دي باندې عمل کول اولویه لار پریخودل نه دعقل تقاضاده او نه دشریعت. قال العلامة العینی فی عمدة القاری لم یوافق ابن عمر احد علی جواز السجود بغیر وضوء الاالشعبی ص٥٠٩ جلد٣، بلکه دابن عمررضی الله تعالی عنهما نه دذې قول معارض قول موجود دي چه هغې ته ترجیح ورکول مذهب منصور دي. قال البدر العینی فی العمده ص٥٠٩ جلد٣ روی باسناد صحیح عن اللیث عن نافع عن ابن عمررضی الله عنهما قال لا یسجدالرجل الاوهو طاهر، په دي مسئله کښې دمودودی صاحب دقول هیڅ اعتبار نشته. فافهم.

ریډیو یا ټیلی ویژن په ذریعې سره دسجده تلاوت آیت اوریدل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یوسړې دریډیو ټیلی ویژن په ذریعې سره دسجدې آیت واوری نو په ده باندې سجده تلاوت واجب ده یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: فقیر متعلم بهرت بنوں رمضان المبارک..........١٣٨٩ھ

الجواب: چونکه د ریډیو وغیره ذریعې سره عکس اوریدلې شی ﴿٢﴾ لهٰذا د

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ص١٨٦ جلد ١ فصل فی شرائط جواز السجدات)

﴿۲﴾ دریډیو ټی وی په ذریعې سره ریکارډ شوی تلاوت باندې دعدم وجوب سجده حکم اتفاقی دي البته په دي کښې اختلاف چه ددې په ذریعې سره اصل آواز اوریدلې کیږی یا عکس دي. نو داصل کیدلو په صورت کښې به براه راست تلاوت کیدلو په وجه به دبعضو په نزد سجده تلاوت واجب وی لیکن راجح داده چه دا اصل آواز نه دي ﴿بقیه حاشیه به بل مخ﴾

ریډیو وغیره ذریعې سره دسجدهٔ تلاوت په اوریدلو سجده نه واجبیږی. یدل علیه مافی الدرالمختار ﴿۱﴾ ولا تجب بسماعه من الصدیٰ والطیر (هامش ردالمختار ص٥١٧ جلد ١) وهوالموفق

په لاؤډ سپیکر د سجدې آیت اوریدلو سره سجده کول پکاردی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه د لاؤډ سپیکر په ذریعه دسجدې آیت اوریدلو سره سجدهٔ تلاوت کول پکاردی یا نه؟ ځکه چه دا آواز خود تلاوت کونکی آواز نه دي بلکه د لاؤډ سپیکر په ذریعې سره اوریدلې کیږی چه دا دآواز رسولو یوه آله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله.......... ٢٤ اکتوبر ١٩٨٣ء

الجواب: دَلاؤډسپیکرباره کښې اختلاف دي چه ددې په ذریعې سره اصلی آواز رسولې شی یا عکس. نو احوط سجده کول دی.﴿٢﴾ البته دَاقتداء دَ صحت دپاره دَمکان اتحاد یا اتصال دَصفونو شرط دي چه په دې مسؤله صورت کښې نیشته دي. وهوالموفق.

﴿بقیه حاشیه دتیرمخ﴾ دَمولانا مفتی شفیع ﷫ مرتب شوې رساله "آلات جدیده کے شرعی احکام" کښې آله مکبرالصوت په باره کښې چه کوم تحقیقات شوې دی دَهغې خلاصه داده چه دَذې نه کیدلو والا تموج کښې په نورو ذریعو سره آواز پیدا کیدلې شی چه دَڅو واسطونه تیریږی دَریډیو مشین په ذریعې (دَبرقی تیز رفتارئ په وجه) په یو وخت اوریدلې کیږی. اودَنوې سائنس ماهران پخپله هم په دې کښې مختلف دی بعضې ورته اصلی آواز وائی اوبعضې ورته مصنوعی وائی. بهرحال ددې تحقیقاتو په رنړا کښې راجح داده چه دا اصل آواز نه دي ځکه چه دَوجوب سجده دپاره ضروری دی چه دَتلاوت کولو والائې پخپله واورې او ژبه پرې متحرکه شی چه هغه دَریډیو اوټی وی په صورت کښې متحقق نه دي لهذا دَریډیو یا ټی وی په ذریعې سره به سجده تلاوت واجب نه وی. البته دَاختلاف په وجه باندې احتیاط په سجده کولو کښې دي که تلاوت کونکې براه راست وی. (ازمرتب).

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمختار ص ٥٦٩ جلد ١ باب سجود التلاوة)

﴿۲﴾ د لاؤډ سپیکرپه ذریعې سره چه کوم آواز کیږی په دې کښې راجح ﴿بقیه حاشیه به بل مخ﴾

په لاؤډسپیکر باندې دَ سجده تلاوت آیت اوریدل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه لاؤډسپیکر په ذریعې سره دَسجده تلاوت آیت اوریدلو سره سجده واجب کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله........۲۴/اکتوبر ۱۹۸۳ء

الجواب: په ټولو اوریدونکو باندې به سجده واجب وی ځکه چه دا بظاهر دَمتکلم آواز دې ځکه چه دَ آذان اوریدلو سره اجابت بالقدم واجب کیږی. وهوالموفق.

سجده تلاوت آیت په قلاره وئیل بهتر دی

سوال:(۱) که یو سړې دَسجده تلاوت آیت په اوچت آواز سره اووائی نو په اوریدونکو باندې به سجده واجب کیږی یا نه؟ (۲) دَسجده تلاوت آیت په اوچت آواز وئیل پکار دی یا په قلاره آواز؟ بینوا توجروا.

المستفتی: شاه اسماعیل مرزا ضلع اټک..........۱۵/جمادی الاول ۱۳۹۹ھ.

الجواب:(۱) .واجب ده. هدایه (۲) په دې کښې توسع ده البته دَمصلحت په طور سره په قلاره آواز وئیل بهتر دی. ﴿۲﴾.وهوالموفق.

﴿بقیه حاشیه د تیرمخ﴾ دامعلومیږی چه دادَمتکلم اصل آواز دې وجه داده چه دې کښې دآواز اوچتولو دپاره ذریعې کمې استعمالیږی او دَفنی ماهرینو په دې کښې اختلاف دې چه دا اصل آواز دې یا عکس.لیکن.اکثرماهرینو رائې داده چه دا بعینه دَمتکلم هغه آواز ې کوم چه دده دَژبې نه ا وځی.دَتفصیل دپاره آلاتِ جدیده کے شرعی احکام کتاب مولانامفتی محمد شفیع صاحب اوګورئ.پس دې صورت کښې سجده تلاوت ؤډسپیکرپه ذریعې سره اوریدلو سره واجب کیږی.(ازمرتب)

﴿۱﴾قال المرغینانی: والسجدة واجبة فی هذه المواضع علی التالی والسامع سواء قصد ماع القرآن اولم یقصد لقوله علیه السلام السجدة علی من سمعها وعلی من تلاها وهی مة ایجاب وهو غیرمقید بالقصد.

ایه علی صدر فتح القدیر ص۴٦۵، ٤٦٦ جلد۱ باب سجود التلاوة)

﴿۲﴾قال ابن عابدین الشامی: (قوله واستحسن اخفاؤها) ..(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ عصر او فجر مونځ نه پس سجده تلاوت جائز ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَ صلاة العصر او صلاة الفجر نه پس سجده تلاوت جائز ده یا نه؟ بینوا توجروا.

المستفتی: محمد ازرم تبوک سعودیه عربیه......۱۴۰۱/۷/۷ھ.

الجواب: جائز ده.﴿۱﴾ .وهوالموفق.

آیا په یو مجلس کښې متعدد آیات سجده په تلاوت سره به متعدد سجدات واجب کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو کس په یو مجلس کښې دَسجده تلاوت مختلف آیتونه اولولی نو یوه سجده به کول وی یا دَهر آیت دپاره به ځان ځانته سجده تلاوت ادا کول وی؟ بینوا توجروا.

المستفتی:فضل واحد پشه سالارزی باجوړ..........۱۱/۷/۱۹۸۴ء.

الجواب:آیتونو په مقدار برابر سجدې کول ضروری دی.﴿۲﴾ .(شامی) بخلاف مااذا کرر آیة واحدة.وهوالموفق.

(بقیه حاشیه دتیرمخ) لانه لوجهر بها لصار موجبا علیهم شیئا ربما یتکاسلون عن ادائه فیقعون فی المعصیة فان کانوا متهیئین جهربها بحر عن البدائع قال فی المحیط بشرط ان یقع فی قلبه ان لایشق علیهم اداء السجدة فان وقع اخفاها وینبغی انه اذا لم یعلم بحالهم ان یخفیها نهر.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص۵٧٦ جلد۱ باب سجود التلاوة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لایکره قضاء فائتة ولو وترا اوسجدة تلاوة وقال ابن عابدین: (قوله وسجدة تلاوة) لوجوبها بایجابه تعالیٰ لابفعل العبد کما علمته فلم تکن فی معنی النفل. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۲٧٦ جلد۱ مطلب یشترط العلم بدخول الوقت)

﴿۲﴾قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ولو.... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دَ ټیپ ریکارډنه سجده تلاوت اودَ ګانوبجانو اوریدلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دَټیپ ریکارډنه دَسجده تلاوت دآیت اوریدلو څه حکم دې ؟ که په دې سره سجده تلاوت نه واجب کیږی نو بیا ګانې اوریدل ولې ناجائز دی چه داهم دَهغې په ذریعې سره وی که نه ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: ماسترعبدالمطلب.

الجواب: دَټیپ په ذریعې سره په تلاوت اوریدلو سره سجده تلاوت نه واجب کیږی. لان المسموع عکس الصوت لااصله. ﴿۱﴾ اودَټیپ نه ګانې اوریدل جائزنه دی. لتساوی العکس بالاصل فی المناط ویشیرالیه حدیث کانه ینظر الیها رواه ابوداؤد ﴿۲﴾. وهوالموفق.

دَ سجده تلاوت دَ لازم کیدلو راز

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په قرآن مجید کښې

(بقیه حاشیه) کررها فی مجلسین تکررت) الاصل انه لایتکررالوجوب الا باحد امورثلاثة اختلاف التلاوة او السماع او المجلس اما الاولان فالمراد بهما اختلاف المتلو والمسموع حتی لو تلا سجدات القرآن کلها او سمعها فی مجلس اومجالس وجبت کلها.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۷۳ جلد ۱ باب سجود التلاوة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لاتجب بسماعه من الصدی والطیر، قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله من الصدی) هومایجیبک مثل صوتک فی الجبال والصحاری ونحوهما کما فی الصحاح.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۶۹ باب سجودالتلاوة)

﴿۲﴾ عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها کانه ینظر الیها، متفق علیه. (مشکوٰة المصابیح ۲۶۸ جلد ۱ باب النظر الی المخطوطة)

چه دَسجدو دآیتونو دی. په مونځ کښې یا دَمونځ نه بهر ددې په وئیلو یا اوریدلو سره سجده ولې لازمیږی؟ بینوا توجروا.

المستفتی: نامعلوم.....

الجواب: پیغمبر علیه السلام اوصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په دې ځایونو کښې سجده کړې ده. نو په دې ځایونو کښې سجده کول ضروری دی اودغه شان دغې ځایونو کښې دَمسلمانانو نه عبارتاً یا اشارتاً دَسجده کولو مطالبه وی. ﴿۱﴾. فقط.

﴿۱﴾ قال العلامه ابن الهمام: ومما یدل علی الوجوب ان الله تعالیٰ وبخ من ترک السجود بقوله فما لهم لایؤمنون واذا قرئ علیهم القرآن لا یسجدون والتوبیخ لایکون الا بترک الواجب ولان آیات السجدة کلها دالة علی الوجوب السجدة اعتزل الشیطان یبکی یقول یا ویله امر ابن آدم بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود فابیت فلی النار والاصل ان الحکیم اذا حکی عن غیرالحکم کلاما ولم یعقبه بالانکار کان دلیل صحته فهٰذا ظاهر فی الوجوب مع ان آی السجدة تفیده ایضاً لانه ثلاثة اقسام قسم فیه الامر الصریح به وقسم تضمن حکایة استنکاف الکفرة حیث امروا به وقسم فیه حکایة فعل الانبیاء السجود و کل من الامتثال والاقتداء ومخالفة الکفرة واجب الا ان یدل دلیل فی معین علی عدم لزومه لکن دلالتها فیه ظنیة فکان الثابت الوجود لا الفرض والاتفاق علی ان ثبوتها علی المکلفین مقید بالتلاوة لا مطلقا فلزم کذٰلک.

(فتح القدیر ص ۴۶۵، ۴۶۶ جلد ۱ باب سجود التلاوة)

مسائل شتی

په دې عنوان کښې هغه مسئلې جمع کړې شوې دی چه حضرت مفتی صاحب دامت برکاته لیکلې او په سه ماهی (درې میاشتنۍ) الفرید کښې شائع شوې دی. دَسه ماهی الفرید جلد ۴ شماره: ۱، نه تر جلد ۵ شماره ۴ پورې مسئلې جمع کولې شی او دَ مسائل شتی په عنوان سره دَفتاوی سره شامل کولې شی. (ازمرتب)

دَمستوراتو په تبلیغی جماعت کښې دَمعتبر شرطونو سره وتل مصلحت دې

سوال: دَمستوراتو تبلیغ سنت دې یا بدعت؟

الجواب: په موجوده زمانه کښې دَمستوراتو تبلیغ دپاره وتل بدعت دې، په خیرالقرون کښې دامعمول نه وو. په خیرالقرون کښې به مستورات صرف دَجمات، حج او جهادی خدمت دپاره باقاعده وتلې. دَتبلیغ دپاره نه. البته په دې شرالقرون کښې دَمستوراتو باقاعده وتل بدعت سئیه نه دې بلکه مصلحت دې چه کله دَاصلاح او دین تربیت امید وی او دَمعتبرو شرطونو نه مخالف نه وی یعنی دَخاوندانو یامحارمو رفاقت، دکورنی حقوقو عدم تعطل دَتعطر او زینت والا لباس نه اجتناب وی او سړو سره عدمِ اختلاط وی گنې نوبیاناجائز دی. وهوالموفق.

دَ تبلیغی جماعت دَ مصطلح گشت حکم

سوال: تبلیغی خلق چه کوم مصطلح گشت کوی دې ته دَصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین کاروائی آیا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا.

الجواب: داگشت دَتبلیغی حضراتو اصطلاح ده مونږ ته ددې اباحت معلوم دې ددې دَ سنتیت یا استحباب اصل راته نه دې معلوم. وهوالموفق.

دَ یو نه زیاتو ښځو په ربع یا ثمن کښې حصې

سوال: ښځه دَخاوندنه ربع (څلورمه) یا ثمن (اتمه) حصه میراث اخلی نو که دَیو سړی دوه یا درې یا څلور ښځې وی هغوی ته به څومره حصې ورکولې کیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب: دا ربعې یا ثمن به په ټولو ښځوعلی قدرالرؤس تقسیمیږی.

کما فی الهندیة (ص ۴۵۰ جلد۶) والزوجات والواحدة یشترکن فی الربع والثمن وعلیه الاجماع ﴿۱﴾ وفی معین الحکام (ص ۲۲۴) واحدة او اکثر یشترکن فی ذلک ﴿۲﴾ وهوالموفق

دَ پیر مونځ کول او دَ مریدورته شاته نه ببوزې وهل مکروه نه دی

سوال: یو پیر صاحب مونځ کوی او مرید ورته دَ شاته نه لاسو والا پکې (ببوزې) وهی دا مکروه دی یا مشروع؟ بینوا توجروا.

الجواب: داطریقه مکروه نه ده.

بدلیل ما روی ابوداؤد فی باب المحرم یظلل عن ام الحصین حدثته قالت حججنا مع النبی ﷺ حجة الوداع فرأیت اسامة وبلالاً واحدهما اخذ بخطام ناقة النبی ﷺ والاخر رافع ثوبه یستره من الحر حتی رمی جمرة العقبة. ﴿۳﴾

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ص ۴۵۰ جلد ۱ الباب الثانی فی ذوی الفروض قبیل الفروض المقدرة فی کتاب الله)

﴿۲﴾ (لسان الحکام فی معرفة الاحکام الملحقة بمعین الحکام ص ۲۲۴ الفصل التاسع والعشرون)

﴿۳﴾ (سنن ابی داؤد ص ۲۶۱ جلد ۱ باب فی المحرم یظلل کتاب الحج)

دَ سجده سهونه کیدلو په صورت کښې دَمونځ اعاده واجب ده.

سوال: که یو مونځ گذارې سجده سهو اونکړی نو دَمونځ اعاده واجب ده یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: په دې سړی باندې دَمونځ اعاده واجب ده. کمافی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ص ٣٠٦ جلد١ وتعاد وجوباً فی العمدوالسهوان لم یسجدله وان لم یعدها یکون فاسقا آثماً.

دَ ښځو علاج په خاوندانو باندې واجب شرعی نه دې

سوال: ښځو دپاره خوراک جامې اومکان ورکول واجبِ شرعی دی لیکن دَهغوی علاجونه کول هم واجب شرعی دی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: په دې زمانه کښې ښځې محبوبات جوړې شوې دی نو دَهغوی دوائی کول مُروت او عرفی واجب دی، واجب شرعی نه دی. په دې باندې دائمه اربعهٔ اجماع ده چه علاج واجب شرعی نه دې. کمافی الهندیه ص ٣٥٥ جلد٥، مرض اورمدفلم یعالج حتیٰ مات لا یاثم کذافی الملتقط خلافاً للمتجددین.

دَ مطلقه مغلظه غیرمدخول بها بغیر دَحلالې نه په دویم ځل دَ نکاح کولو عجیبه مسئله

وفی المشکلات من طلق امرئته الغیر المدخولة بها ثلاثا فله ان یتزوج بها بلا تحلیل واما قوله تعالیٰ فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره ففی حق المدخول بها (معین الحکام ص٣٢٩)(١) ویؤیده قوله تعالیٰ الطلاق مرتان ای طلاق المرءة المدخول بها مرتان بدلیل قوله تعالیٰ فامساك بمعروف او تسریح باحسان، لان الامساك بمعروف لا یمکن فی غیر المدخول بها، فقوله تعالیٰ فان طلقها فلا تحل له

(١) (لسان الحکام الملحقة بمعین الحکام ص ٣٢٩ نوع فی الخلع)

له من بعد فهو فی حق المدخول بها. لاکن ما فی المشکلات مخالف عن آثار الصحابة والتابعین رضی الله تعالیٰ عنهم.

په ختم تراویح کښې حافظ ته رقم ورکول

سوال: حافظ چه کله په تراویح کښې ختم اوکړی نو هغه ته پیسې ورکول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: چونکه دا رقم دَتلاوت معاوضه نه ده کوم چه ممنوع ده. بلکه دَامامت معاوضه اخستلې شي نوپه ختم کښې حافظ دپاره دَپیسو اخستل ممنوع کیدل هندی مسئله ده حنفی مسئله نه ده.

په مونځ کښې دَ سجده تلاوت آیت ونیل اوپه رکوع کښې ئې ادا کول

سوال: سجده تلاوت په رکوع کښې ادا کولې شی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: سجده تلاوت دَمونځ په رکوع کښې ادا کیږی دَمونځ نه بهر نه. وهو الراجح کما فی البدائع (ص ١٨٩ جلد١) الرکوع خارج الصلاة لا یجزءه قیاسا واستحسانا لان الرکوع خارج الصلاة لم یجعل قربة فلا ینوب مناب القربة.

دَ مسافر وطن اقامت نه هره هفته وطن اصلی ته دَتللو راتللو مسئله

سوال: یو سړې چه کله دَخپل ځائي نه سل کلومیټره لرې په یو ښار کښې دَعلم یا ملازمت دپاره لاړشی. اودَیوې میاشتې اقامت کولو نه پس هرهفته خپل ځائي ته راځی نودا سړې به په دې ښار کښې قصر کوی که اتمام به کوی؟ بینوا توجروا

الجواب: دَدې سړې چه په دې ښار کښې خومره مودې پورې رهائش وی اودَپریخودلو اراده ئې نه وی نو داسړې به اتمام کوی قصربه نه کوی. کما اشار الیه صاحب البحر (ص١٣٦ جلد٢) بقوله ببقاء الثقل، کوطن الاقامة یبقی ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر واشار الیه صاحب البدائع فی بیان انتقاض وطن

الاقامة بالسفر، انه اعرض عن التوطن به حيث قال (ص۱۰۴ جلد۱) فصار معرضاً عن التوطن به فصار ناقضاً له. او په مسؤله صورت کښې دَا اعراض موجود نه دې.

دَ اخترمونځ په اولنی رکعت کښې چه تکبیرات هیرشی چرته به ادا کولې شی

سوال: چه کله دَاختر په اولنی رکعت تکبیرات هیرشی نوکوم ځائې کښې به ادا کولې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب: که بعضې فاتحې یاټولې فاتحې نه پس یادشول نوتکبیرات به اووائی اوفاتحه به دَاول نه اولولی. اوکه دَفاتحې اوسورت نه پس یادشی نوهغه وخت به ئې تکبیرات اولولی اوفاتحه دې (بیا) نه وائی.

کما فی الحلبی الکبیر (۵۷۳) نسی التکبیر فی الاولیٰ حتی قرء بعض الفاتحة او کلها ثم تذکر یکبر ویعید الفاتحة واذا تذکر بعد ما قرء الفاتحة والسورة یکبر ولا یعید القراءة لانها تمت وصحت بالکتاب والسنة.

پلار ځوئی لره عاق کول دَمیراث نه مانع نه دی

سوال: چه کله پلار دَخپل ځوئی نه خفه شی اوهغه عاق کړی دَجائیداد نه ئې محروم کړی نو شرعاً داځوئې محروم کیږی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: داځوئې شرعاً نه محروم کیږی. دَمیراث موانع څلور کارونه دی رق، قتل، اختلاف دین او دار او عقوق یعنی نافرمانی دَمانعاتو نه نه دې. ارث ثابتول او ساقط کول زمونږ په خوښه باندې مبنی نه ده بلکه دا جبری اوغیراختیاری څیز دې. قال الله تبارک وتعالی آباء کم وابناء کم لاتدرون ایهم اقرب لکم نفعا (۱). وقال صاحب تنقیح الفتاوی (ص۵۴ جلد۲) الارث جبری لایسقط بالاسقاط. که پلار خپل جائیداد خرچ کوی یا ئې چاته هبه کړی نو دا عاق شوې (ځوئې) به پخپله محروم شی.

(۱) (سورة النساء پاره: ۴ رکوع: ۱۳ آیت: ۱۱)

آزاد سړې یا ښځه دَ تښتیدلو په صورت کښې دَهغوی قتل کول گناهِ کبیره ده

سوال: چه کله یو آزاد سړې او ښځه په رضامندئ سره بل کلی ته اوتښتی اودَجینئ اولیاء دوی لره قتل کړی نو شرعاً دا جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: عرفاً داغیرت دې لیکن شرعاً دا گناه کبیره ده. دا اولیاء دَخپل مستحب حق تلفئ په وجه باندې دَحرامِ قطعی په جرم کښې مبتلا کیږی. وهوالموفق.

په دشمن باندې دَ ځود کش حملو حکم

سوال: یو مسلمان دَخپل ځان پورې بم اوتړې او په دشمن حمله اوکړی چه دَدشمن ډیرزیاته تباهی اوشی. داجائز دی یا ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب: داعرفاً جائز دی نفسانی جذبه ده خوشرعاً داخودکشی ده. په خیرالقرون کښې دا اقدام نه دې واقع شوې. وهوالموفق.

دَ واده نه مخکښې دَ خاوند په مړکیدلو باندې منکوحې ته ټول مهر ورکولې شی

سوال: چه کله دَمنکوحې خاوند دَ واده کولو نه مخکښې مړ شو نو منکوحې ته به څومره مهر ورکولې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب: دې منکوحې ته به ټول مهر ورکولې شی.

کما فی الهندیة ص۳۰۳ جلد۱ والمهر یتاکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین، وفی الدرالمختار علی صدر ردالمختار ص ۱۰۲ جلد۲ باب المهر، ویتاکد عند وطی او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما.

دَ قربانی څرمن یادَهغې قیمت په جوماتونو یا مدرسوباندې لگول

سوال: دَقربانئ څرمنې یادَهغې قیمت په جوماتونویامدرسوباندې لگول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا.

الجواب: دالکول دهندی مشائخوپه نیزد ناجائزدی لمافی الهندیه ص ۳۰۱ جلد۵ ولایبیعه بالدراهم لینفق علی نفسه اوعیاله ولو باعها بالدراهم یتصدق بها.یعنی ددې تصدق دې اوتصدق تملیک نه وئیلې شی اودافغانی مشائخو په نیزدالکول جائز دی.کمافی الزیلعی ولو باعها بالدراهم لیتصدق بها جاز لانه قربة کالتصدق ، هندیه ص۳۰۱جلد۵. یعنی دقیمت تقرب به کولې شی.او قربت دخیرکار ته وئیلې شی اباحت وی که تملیک وی.ولم یقل لانه تصدق ایضاً.اوجمات اومدرسې ته دقیم اومهتمم په وساطت سره تملیک صحیح دې.کمافی الهندیه ص ٤٦٠ جلد۲ولوقال وهبت داری للمسجد واعطیتها له صح ویکون تملیکاً فیشترط التسلیم. دغه شان حاجیان همیشه په لاکونو هذیې ذبحه کوی اوپه غوښه اوڅرمنو باندې اباحت کوی نه تملیک وعلیه التعامل.

دَ جماعة النساء شرعی حیثیت او دَ احنافو مذهب.

سوال: دمستوراتو جمات جائز دي یا ناجائز؟ چه کله ښځه امام وی او دصف په مینځ کښې ولاړه وی؟ بینوا توجروا.

الجواب: دمستوراتودجماعت متعلق دحدیث ام ورقه ،حدیث عائشه او حدیث ام سلمة رضی الله عنهم نه جواز ثابت دې.والیه یمیل الشافعی واهل الحدیث ومن دان دینهم خلافالنا وللمالک،اودې احادیثوته احنافو اومالک منسوخ وائی لیکن ناسخ ئې معلوم نه دې.الاان یرادبالنسخ مایریده الامام الطحاوی فی شرح معانی الاثارای متروک العمل،وهو وجه وجیه،او اکثر محققین مشائخ فرمائی چه اوس ددوی جماعت مکروه تحریمی دې. یعنی دغوی دظهوراوکورونو دوتلو په وجې سره (چه غالباً دمنکراتو نه خالی نه وی).واشیرالیه فی حدیث عائشة(رواه البخاری)لوادرک رسول الله ﷺ ما

احدث النساء لمنعهن.﴿۱﴾. اوبعضې متاخرین علماء دوقتی ضرورت په بناء باندې دمنکراتو انکار کوی لیکن دغوی جماعت ته جائز خلاف اولی وائی.ولنعم قول المشائخ المحققین.

دَ مشتری بائع نه په قرض څه اخستل او بیا په بائع باندې دَ خرڅولو مسئله

سوال: چه کله یو مشتری دبائع نه یو څیز په قرض باندې واخلی اودقیمت ادا کولو نه مخکښې ئې په بائع باندې دمخکنی قیمت نه په کم قیمت باندې خرڅ کړی نوآیا داجائز دی؟ بینوا توجروا.

الجواب: دامعامله ناجائز ده کمافی الهدایه لاثرعائشة رواه احمد وعبدالرزاق والدارقطنی (۳۷).وکمافی الهندیه (ص۱۲۲جلد۳). اوکه دا اولنی مشتری ئې په دویم مشتری باندې خرڅ کړی اودغه مشتری ئې په بائع باندې په کم قیمت خرڅ کړی نو دا جائز دی (هندیه ص۱۳۲جلد۳)، اوکه داڅیزارزان شی او دارزانئ په وجه ئې بائع دمخکنی قیمت نه په کم سره واخلی نو دا ناجائز دی.(هندیه ص۱۳۲جلد۳).

دَ اتقوا مواضع التهم حدیث سند

سوال: دَ اتقوا مواضع التهم حدیث دکوم ځائې نه ثابت دي اوسندئې څنګه دې؟

الجواب: داحدیث امام غزالی رحمه الله په احیاء باب شرح عجائب القلب کښې ذکر کړې دې. حیث قال منع الشرع من التعرض للتهم فقال علیه السلام اتقوا مواضع التهم. لیکن په تخریج عراقی کښې دی لم اجدله الصلاً،اوامام سیوطی موضوعات کبیرص۱٦) باندې لیکی.هوقول عمر رضی الله عنه من سلک مسلک التهم اتهم،نودا اثردې مرفوع ثابت نه دې.﴿۲﴾.

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص۱۲۰ جلد۱ باب خروج النساء الی المساجد باللیل والغلس)

﴿۲﴾ (وایضا رواه الامام البخاری فی الادب المفرد فی النسخة القدیمة، وایضا رواه صاحب التشرف جلد۱ ص۹۲)

مسبوق لره دَ تشهد نه پس دامام دَ سلام نه مخکښې قیام کول

سوال: چه کله مسبوق دامام دَسلام نه مخکښې دَتشهددَپوره کولو نه پس قیام کوی دا جائز دی که ناجائزه؟

الجواب: دَتشهددَپوره کولو نه مخکښې قیام ناجائز دې او روستو جائز دې کما فی الهندیة (ص۹۱ جلد۱) وکذا اذا خاف المسبوق ان یمر الناس بین یدیه لو انتظر سلام الامام. قام الیٰ قضاء ماسبق قبل فراغه کذا فی الوجیز للکردری، ولو قام فی غیرها (ای المواضع المارة) قدر التشهد صح ویکره تحریماً. وان قام قبل ان یقعد قدر التشهد لم یجز.

دَ امام دریم رکعت دَ پاره اودریدلو نه پس دَ مقتدی تشهد پوره کول

سوال: چه کله دَمقتدی دَتشهد پوره کولو نه مخکښې امام دریم رکعت ته اودریږی یا سلام واړوی نو مقتدی به تشهد پوره کوی یا نه؟

الجواب: دامقتدی به تشهد پوره کوی او اتمام نه کول هم کافی دی. کمافی الهندیه (ص ۹۰ جلد۱) فالمختاران یتم التشهد کذافی الغیاثیة وان لم یتم اجزءه.

دَ فرائضو او سنتونه پس دعا کول دَ فعل رسول صلی الله علیه وسلم نه ثابت نه دی

سوال: دکومو فرضونه پس چه سنت وی دهغې نه پس یا مخکښې دعا کول د فعل رسول صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی یا نه؟

الجواب: داسې مونځونو کښې چه دَهغې نه پس سنت وی دعا کول دَفعل رسول نه ثابت نه دی نه دَسنتونه پس او نه دَسنتو نه مخکښې. دَاحادیثوبیخ ته رسیدل دَفقهاء مجتهدینو کار دې دَاهل ظاهرو او دَهغوی دَهم مسلکو کار نه دې وهوالموفق.

دَ یو کس چاته دَ ټولو حقوقو معاف کولو سره دَ نامعلومه حقوقو دَ معاف کولو مسئله

سوال: که یو سړې چاته اووائی چه ماته ته خپل ټولو حقوق معاف کړې دی نو

په دې سره داسې حقوق هم معاف کیږی چه دَهغې دې سړې ته علم نه وی؟

الجواب: دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیز داسې حقوق هم معاف کیږی اوهم دا قول مفتی به دې (شرح فقه الاکبر لملاعلی قاری ص۱۲۷).

دَ مرداې چرګې اګئ(انډې) او دَ مردارې چیلئ پئ حلال دی

سوال: دَمردارې چرګې نه چه کومې انډې راوخی او دَ مردارې چیلئ نه چه کوم پئ حاصل شوې وی هغه حلال دی یا حرام؟

الجواب: دا انډې او پئ حلال دی (هندیه ص ۳۳۹ جلد۵) (۱).

دَ ذکر په وخت کښې دَ اسم ذات تکرار مشروع دې

سوال: د اسمِ ذات تکرارمشروع دې یا مکروه؟

الجواب: دَ اسمِ ذات تکرارمشروع دې په احادیثوکښې دَ اسمِ ذات تکرارراغلې دې کما فی روایة البخاری (ص۴۰۸ جلد۱) قال من یمنعك منی فقال الله الله ثلاثا وکما فی روایة مسلم (ص۸۴ جلد۱) لا تقوم الساعة حتی لایقال فی الارض الله الله (مشکوٰة ص۴۸۰) وهٰکذا فی الطبرانی الصغیر وغیره، اودَ اهل لسان په نیز دا دَحذف په وجې سره جمله وی.

په طلب العلم فریضة علی کل مسلم حدیث کښې دَ مسلمة لفظ ثبوت

سوال: طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة داحدیث دکوم ځائې نه ثابت دې؟

الجواب: داحدیث نصربن محمدبن ابراهیم سمرقندی په بستان العارفین (ص۳) کښې ذکر کړې دې.

---

(۱) وفی الهندیه: البیضة اذا خرجت من دجاجة میتة اکلت وکذا اللبن الخارج من ضرع الشاة المیتة کذا فی السراجیه.

(فتاوٰی عالمگیریه ص ۳۳۹ جلد۵ الباب الحادی عشر فی الکراهة فی الاکل)

عن ابی روق عن علی بن ابی طالب ان النبی ﷺ قال لی طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة وفی خبر آخر اطلبوا العلم ولو بالصین فان طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة، اوپه مرقات (ص۲۸۴ جلد ۱) کښې دی ومسلمة کما فی روایة.

دَ یو شیخ نه دَ بیعت په صورت کښې دبل شیخ نه بیعت کول

سوال: که یو سړي دَیو شیخ نه بیعت اوکړی نو دبل شیخ نه بیعت کولې شی یا نه؟

الجواب: کولی شی کمافی تنقیح الفتاوی الحامدیه (ص۳۶۹جلد۲) رجل من الصوفیة اخذالعهد علی رجل ثم اختارالرجل شیخا آخرواخذعلیه العهد فهل العهد الاول لازم ام الثانی،الجواب :لایلزمه العهد الاول ولا الثانی ولااصل لذلک.اهل فن چه کوم قیدونه ذکرکړی دی هغه دَمصلحت په طور دی.

په دسترخوان باندې ټول قسمونه په یو ځائې کیښودل بهتر دی

سوال: په دسترخوان باندې ټول څیزونه دَخوراک په یو ځائې کیښودې کیږی یا یوبل پسې؟

الجواب: ټول هرڅه په یوځائې کیښودل بهتردی.دَسلفواوعربوهم داطریقه وه او دَیوبل پسې کیښودل دَرومیانو معمول دي.کمافی تنقیح الفتاوی الحامدیه (ص۳۵۹جلد۲).(۱).

دَ سرنه ګیرچاپیره عمامه تاوهل او دَ مینځ خالی پریخودلو حکم

سوال: که یو مونځ ګذارې عمامه دَسرنه ګیرچاپیره اوتړی او مینځ خالی پریږدی نو په مونځ کښې داسې جائز دی یا نه؟

(۱) قال العلامه محمد امین: کانت سنة السلف ان یقدموا جملة الالوان دفعة لیاکل کل ما یشتهیه. فثبت بهٰذا ان تقدیم الالوان جملة من سنة السلف کما هو عادة العرب وما یفعله الاروام من تقدیم الالوان واحدا بعد واحد الخ، (الفتاوٰی تنقیح الحامدیه ص۳۵۹ جلد۲ مسائل شتیٰ)

الجواب: دا اعتجاردې اودَحدیث په بناء مکروه ده.کمافی الطحطاوی(ص ۲۸۴) فقوله وترک وسطه مکشوفا والمراد انه مکشوف عن العمامة لامشکوف اصلاً۔

په پخوانی مقبره باندې دَ زراعت او تعمیر حکم

سوال: په پخوانئ مقبره باندې زراعت اوتعمیرجائز دې یا نه؟

الجواب: په پخوانئ مقبره باندې زراغت اوتعمیرکول جائز دی.کمافی الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ص ۶۲جلد۱،کماجاز زرعه والبناء علیه اذابلی وصارتراباً.

په میراث کښې دَ وارث مړی طرفته په دوه نسبتونو سره کیدل

سوال: چه کله مړی ته یو وارث په دوه نسبتو سره منسوب وی نودَهغې څه کیفیت دی؟

الجواب: که په دې نسبتونوکښې یو دبل دپاره حاجب نه وی نو په دواړو نسبتونوسره به میراث اخلی ګنې نوصرف دحاجب په نسبت سره به میراث اخلی.کما فی البزازیه علی هامش الهندیه (ص۴۷۲ جلد۶) من یدلی الی المیت بنسبین ان کان احدهما لا یحجب الاخر ورث بهما جمیعا وان کان یحجب ورث بالحاجب، قلت کما اذا تزوجت بابن عمها فانه یرث عنها النصف بالفرضیة والباقی بالعصوبة.

دَ چینډخ دَ میتیازو حکم

سوال: دَ چینډخ متیازې پاکې دی یا نه ؟

الجواب: کوم چینډخ چه بحری(دریابی) وی دَهغه متیازې بذاتِ خود ناپاکې دی.لیکن دَمجبورئ په وجه به دا اوبه ناپاکې نه وی.اوکوم چینډخ چه

داوچې وی هغه به هم ناپاکې نه وی لیکن کوم کښې چه وینه وی هغه به ناپاک وی کمایدل علیه مافی ردالمختارباب المیاه ﴿۱﴾.

د دریابی او اوچې د مار د پاکئ او ناپاکئ حکم

سوال: دریابی او اوچې والا مار چه کله په اوبو کښې مړ شی نو دا اوبه پاکې دی یا ناپاکې؟

الجواب: ددریابی مار اوبه پاکې دی او داوچې والا کښې که چرته وینه وی نو ناپاکې دی کښې نو پاکې دی (ردالمحتار)

په اوبوکښې د چرمخکئ په مړه کیدلو سره د اوبو حکم

سوال: که چرمخکئ په اوبو کښې مړه شی نو اوبه پاکې دی یا ناپاکې؟

الجواب: په چرمخکئ کښې چونکه وینه نشته نو د قواعدو په رڼا کښې دا اوبه پاکې دی ﴿۲﴾.

د اختر د مونځ نه پس د مصافحې حکم

سوال: د اختر دمونځ نه پس مصافحه کول جائز دی یا ناجائز؟

الجواب: داختر دمونځ نه پس دمصافحې متعلق بعضې علماء فرمائی چه لاباس به او بعض وائی چه جائز ده. اوبعضې فرمائی چه مکروه ده. اوبعضې فرمائی:

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: (قوله فیفسد فی الاصح) وعلیه فما جزم به فی الهدایه من عدم الافساد لضفدع البری وصححه فی السراج محمول علی ما لادم له سائل کما فی البحر. (ردالمحتار هامش در المختار ص۱۳۶ جلد۱ باب المیاه مطلب حکم سائر المائعات کالماء فی الاصح)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: وان مات فیه ای الماء غیر دموی کزنبور وعقرب وبق ای بعوض، قال ابن عابدین: (قوله غیر دموی) المراد ما لادم له سائل لما فی القهستانی ان المعتبر عدم السیلان لا عدم له حتی لو وجد حیوان له دم جامد لا ینجس اقول وکذا دم القملة والبرغوث فانه غیرسائل. المختار هامش الدرالمختار ص۱۳۵ جلد۱ باب المیاه)

بدعة مکروهة کما فی ردالمختار (ص۵۵۷ جلد۱) قوله والتهنئة وانما قال ذلك لانه لم یحفظ فیها شیئ عن ابی حنیفة واصحابه وذکر فی القنیة انه لم ینقل عن اصحابنا کراهة وعن مالك انه کرهها وعن الاوزاعی انها بدعة وقال المحقق ابن امیرالحاج بل الاشبه انها جائزة مستحبة فی الجملة ثم ساق آثارا باسانید صحیحة عن الصحابة فی فعل ذلك ثم ذلك والمتعامل فی البلاد الشامیة والمصریة عید مبارك علیك ونحوه الخ.

نو ددې اختلاف په وجه په دیکښې تشدد (سختی) مناسب نه ده.

دَ غاښ ډکولو یا ورته دَ کوَر (توپئ) اچولو په صورت کښې دَ غسل حکم

سوال: په غاښ دسوری کیدلو په وجه باندې دمصالحې نه ډک کړی یا ورته کوَر واچوی نو دغسل په وخت به څه حکم وی؟

الجواب: دغسل په وخت کښې دا ډکوالې او کوَر په لرې کولو کښې بشکاره حرج (گرانی) ده لهذا دا لرې کول معاف دی. ویؤیده ما رواه احمد فی مسنده ان عثمان بن عفان ضبب اسنانه بذهب ﴿۱﴾.

په یوه ورځ کښې سحر او ماښام میاشت لیدل

سوال: آیا هم په یوه ورځ کښې سحر او ماښام میاشت لیدلې کیدې شی؟

الجواب: (شریعت والو په نیز داکیدلې شی. خلافاً للحکماء. اودشیخینو په نیز دامیاشت دآئنده شپې وی.

کما فی رد المحتار ص۳۹۲ جلد۲ اما اذا رؤی یوم التاسع

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ولا یشد سنه المتحرك بذهب بل بفضة وجوزهما محمد، قال ابن عابدین: ای جوز الذهب والفضة ای جوز الشد بهما واما ابویوسف فقیل معه وقیل مع الامام. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص۲۵۵ جلد۱ کتاب الحظر والاباحة)

والعشرین قبل الشمس ثم رؤی لیلة الثلاثین بعد الغروب وشهدت بینة شرعیة بذلك فان الحاکم یحکم برؤیته لیلا کما هو نص الحدیث ولا یلتفت الی قول المنجمین انه لا تمکن رؤیته صباحا ثم مساء فی یوم واحد (قبیل مطلب فی اختلاف المطالع) وفی البدائع (ص۸۲ جلد۲) والاصل عندهما انه لا یعتبر فی رؤیة الهلال قبل الزوال ولا بعده وانما العبرة لرؤیته قبل غروب الشمس.

دَ پاکستانیانو د پاره دَ سعودی عرب په رؤیت هلال باندې اعتماد کول

سوال: که پاکستانی رویت هلال کمیټی دَسعودی عرب په رویت هلال کمیټۍ اعتماد اوکړی اودَرمضان اواختر حکم په هغې ورکړی نوآیا داجائز دی؟

الجواب: چونکه سعودی عرب دَپاکستان نه بلدِبعید دې نود راجح قول په بناء باندې دا اعتماد صحیح نه دې

قال صاحب البدائع ص۸۳ جلد۲ هذا (ای قضاء صوم یوم) اذا کانت المسافة بین البلدین قریبة لا تختلف فیها المطالع فاما اذا کانت بعیدة فلا یلزم حد البلدین حکم الآخر لان مطالع البلاد عند المسافة الفاحشة تختلف فیعتبر اهل کل بلد مطالع بلدهم دون البلد الآخر، قلت وعند العمل علی موافقة عرب یلزم فوات التراویح فی اللیلة الاولیٰ وارتکاب التراویح فی لیلة العید.

دَ حافظ یو ځل ختم کولو نه پس دوباره ختم کول

: چه کوم حافظ یو قوم ته په تراویح کښې ختم اوکړی نو بل قوم ته په خل کولې شی یا نه؟

ب: ختم کولې شی روی بعض اهل العلم عن کنز الفتاویٰ رجل ام قوما راویح وختم فیها ثم ام قوما آخرین له ثواب الفضیلة ولهم ثواب الختم.

ة الفتاویٰ ص۲۲۴ جلد۱ عن خزانة الروایات)

په سفر کښې به دَ ویرې په وخت کښې سنن راتبه پریخودلې شی او دَ قرار په وخت کښې به ادا کولې شی

سوال: دَتبلیغی جماعت یوحنفی سړې وائی چه په سفرکښې سننِ راتبه نیشته. ایاداصحیح دی؟

الجواب: داسړې دَفقه حنفی اونوروحدیثونو نه بې خبره ده. په سفرکښې به دَویرې په وخت کښې سنت پریخودې کیږی او دَقرارپه وخت کښې به ادا کیږی. کما فی الهندیه: والمختار انه لا یاتی بها فی حال الخوف ویاتی بها فی حال القرار والامن هٰکذا فی الوجیز للکردری، (هندیه ص۱۳۹ جلد۱)

او دَ ابوداؤد شریف په لیلة التعریس والا حدیث کښې دی. قال رسول الله ﷺ من کان منکم یرکع رکعتی الفجر فلیرکعهما فقام من کان یرکعهما ومن لم یرکعهما فرکعهما، (باب فی من نام عن صلاة اونسیها ص۷۰ جلد۱)

او دَ ترمذی په ابواب السفرکښې دی عن ابن عمر صلیت مع النبی ﷺ فی الحضر والسفر فصلیت معه فی الحضر الظهر اربعا وبعدها رکعتین وصلیت معه فی السفر الظهر رکعتین وبعدها رکعتین (ص۷۲ جلد۱)

په تبلیغی جماعت کښې چه کله عرب یا اهل حدیث ځی نودېرځلې داسې واقعات واقع کیږی. داعوام دَفقهائې احناف نه بدګمانه کوی

دَ مشتری دَ ثَمَن ورکولو نه مخکښې په بائع باندې په کم ثمن خرڅول جائز نه دی

سوال: چه کله یو سړې دَدوکاندار نه یو څیز واخلی اوبیائې په دغه دوکاندار په لږقیمت خرڅ کړی داجائز دی یا ناجائز دی؟

الجواب: دامشتری ئې دَثمن ورکولو نه مخکښې په کم ثمن باندې په دې بائع نشی خرڅولې. کما فی الهدایه ص۵۷ جلد۳ ومن اشتریٰ جاریة بالف درهم حالة

اونسیئة فقبضها ثم باعها من البائع بخمس ماة قبل ان ینقد الثمن لا یجوز البیع لقول عائشة لتلك المراة وقد باعت بست مائة بعد ما اشترت بثمان ماة بئس ما شریت واشتریت رواه احمد وعبد الرزاق والدارقطنی، فلیراجع الی الدرایة والزیلعی،البته دَثمن دَقبض کولو نه پس په کم ثمن سره خرڅول جائز دی.
(کمافی الهندیه ص۱۳۲جلد۳).

پُسکئ(هوا بغیرآواز نه) چه بدبوئی پکښې نه وی اودس ماتونکې ده یانه؟

سوال: یوسړې وائی چه دکومې پُسکئ سره بدبوئی نه وی نوهغه اودس ماتونکې نه ده دا دَمعدې نه نه راځی.دادُبُر دَحلقې پیداوار دې آیا دا صحیح ده؟

الجواب: په دې سره اودس ختمیږی.په حدیث کښې دی.لا وضوء الامن صوت او ریح، رواه الترمذی ای حتی یتیقن الحدث کما فی المعالم، وفی الخلاصة مناط النقض العلم بکونه من الاعلیٰ فلا نقض مع الاشتباه، فمن کان اطروشا ای اصم او اخشم ای لایجد الریح فینتقض طهارته اذا تیقن وقوع الحدث منه.

دَ تعزیت د پاره دَ مستوراتو جمع کیدل اوکیناستل ممنوع دی

سوال: دَمړی دَتعزیت دپاره سړی خوجمع کیږی خوآیا دَتعزیت دپاره زنانه هم جمع کیدلې شی؟

الجواب: دَزنانو دپاره تعزیت ته جمع کیدل اوکیناستل منع دی.کمافی ردالمحتار ص ٦٠٤جلد١ الجلوس فی المصیة ثلاثة ایام للرجال جاءت الرخصة فیه لا تجلس النساء قطعا.

دَ علاج په ذریعه دَ حیض جاری کول یا بندول ممنوع نه دی

سوال: که مُرضعه (بئ ورکونکې ښځه) دَعدت پوره کولو دپاره په علاج او دوائی سره حیض جاری کړی یا روژه داره او احرام والا زنانه دَ روژې او طواف دپاره حیض بند کړی نو دا جائز دی یا نه ؟

الجواب: ردالمحتار ص٢٠٢ جلد٢ باب العدة کښې دی: قال فی السراج سئل بعض المشائخ عن المرضعة اذا لم ترحیضا فعالجته حتی رءت صفرة فی ایام الحیض قال هو حیض تنقضی به العدة، چه کله حیض جاری کول په علاج او دوائی سره جائز دی نو بندول ئې هم ممنوع نه دی.

دَ استمناء بالکف حکم

سوال: استمناء بالکف جائز دی یا ناجائز؟

الجواب: استمناء دَتسکینِ شهوت یعنی شهوت دَآرام ورکولو دپاره معاف دی او دَ استجلابِ شهوت یعنی دَشهوت راوستلو دپاره منع دې.کمافی ردالمحتار ص ٣٩٩جلد٢.

دَ نابالغه په قتل عمد کښې په نابالغه باندې قصاص نشته دیت واجب دې

سوال: که یو نابالغه یو نابالغ عمداً قتل کړی نو دیکښې قصاص واجب دې یا نه؟

الجواب: په دې کښې قصاص نشته دیت واجب دې. کمافی الهندیه ص ٣, جلد ٦ ولا قصاص فیما بین الصبیان وعمدالصبی وخطاه سواء عندنا حتی تجب الدیة فی الحالین فی ماله فی قتل العمد.

دَ معتوه یا لیونی والدینو لره قتل کول دَ میراث نه مانع نه دی.

سوال: چه معتوه یا مجنون پلار قتل کړی نو په دې کښې دَمیراث نه محرومیدل شته یا نه ؟

الجواب: په دې کښې کفاره او دَمیراث نه محروم کیدل نشته.کمافی تنویر الابصار علی ردالمحتارص ٥٨٦جلد٦وعمدالصبی والمجنون خطالاکفارة ولا حرمان ارث.

دَ شینل کمپنۍ دَ کاروبار شرعی حیثیت

سوال: دَشینل کمپنۍ دَ کاروبارشرعی حیثیت څه دې؟ جائزدې یا ناجائز؟

الجواب: په دې کاروبارکښې نه سود شته اونه رشوت.په دې کښې تجارت دې اودَتجارت زیاتولو کامیابه طریقه ده.البته په دې کښې چه اخستونکی ته دَقرضې ورکولو کوم رعایت ورکړې شوې دې په هغې کښې نیمه نامعلومه ده چه دا فاسدونکې ده.﴿۱﴾

﴿۱﴾ دَشینل کمپنۍ دکاروبارپه طریقه کاربانډې مشتمله رساله مطالعه کولو نه پس دَعدم جواز تولې فتاوې مومِلاحظه کړې نومعلومه شوه چه مستفتی حضراتو دَخپل فهم مطابق سوالونه کړی دی.اوبیاهم په دغې بنیادباندې عدم جواز فتوې ورکړې شوې دی. بهرحال دکمپنۍ دَ دستور العمل رسالې مطابق لاندېنې تحقیق پیش کولې شی.او دا جواب به ترهغې وخته پورې وی ترڅو چه دکمپنۍ کاروبارددې رسالې مطابق وی.

(۱) دَ کمپنۍ دَطرف نه په شائع شوی دستورالعمل باندې دَغور کولو نه معلومیږی چه کمپنی مشین خرڅوی اوبیع برابرکړی شی.بیاکه یوکس دکمپنۍ ډسټری بیوټر(تقسیم کولو والا ممبر) جوړیدل غواړی نوجوړیدلې شی.دَدرستور په صفحه ۳باندې ئې لیکلې دی.(۱) دَپروډکټ سامان اخستلو نه پس اوډسټری بیوټرشپ کارډملاویدلونه پس یو سړې مخکښې تللې شی.(۲) ډسټری بیوټرصرف دکمپنۍ په مقرر شوې قیمت باندې سامان اخستلې شی.دَمقررقیمت نه کم یا زیات باندې ئې نشی اخستلې.(۳) که ډسټری بیوټر اوغواړی نوسامان دَخرڅولو نه پس په اووه(۷) ورځو کښې دننه به خپلې(Direct up line) مشورې او رضامندۍ سر کمپنۍ ته واپس کولې شی.(۴)(xl) دکمپنۍ ذمه داری ده.چه هغه پروډکټ په صحیح حالت کښې اومکمل مهیاکړی اودَخرڅولو نه پس ورته خدمات هم حاصل کړی.

دَ کمپنۍ ددې طریقه نه معلومه شوه که یو سړې مشین واخلی نو په هغه باندې دا لازم نه دی چه خامخابه بل خریدار هم راولی.بلکه که یو سړې ډسټری بیوټر جوړیدل غواړی اودکمپنۍ ممبرجوړشی اوکار کول غواړی.نوهغه ته به بونس ملاویږی کنې نه به ملاویږی ورته.نوچه کله داشرطونه ضروری نه دې لکه چه ددې دَعبارتونو نه واضحه ده اودَ کمالِ عقدنه پس دَ ډسټری بیوټر جوړیدلو په صورت کښې شرائط هم کیښودلې شی نو دادَبیع دپاره ضررو الانه دی.قال التمرتاشی:ولابیع بشرط لایقتضیه ﴿باقی حاشیه په راروانه صفحه﴾

﴿بقیه حاشیه﴾ العقد ولا یلائمه وفیه نفع لاحدهما اوالمبیع (تنویرالابصار علی صدر ردالمختار ص۸۵ جلد۵ باب بیع الفاسد) پس ددې بیع دعدم جواز هیڅ وجه نشته، وفی الهندیه: واما حکم البیع فثبوت الملك فی المبیع للمشتری وفی الثمن للبائع اذا کان البیع باتا (هندیه ص۳ ج۳)

(۲) هرکاروباری دَخپل کاروبار دپاره یو طریقۀ کار او انتظامی امور جوړوی.ترڅو چه په هغې کښې یوه خبره دَشریعت خلاف نه وی نوپه هغې کښې به دَعدم جواز فتوی نشی ورکولې تولو ادارو ته اجازت دې چه خپل سامان په عام مارکیټ کښې یادَایجنټانوپه ذریعه خرڅ کړی.په فقه السنة کښې دی.لان للمالك ان ینصرف فی ملکه کیف یشاء مالم یستلزم ذالك التصرف محرماً مما وردالشرع بتحریمه (فقه السنة ص۲۹۰ جلد۳) د البشری لارباب الفتوی په فصل فی الافتاء فی الحوادث الجدیده کښې دی: وبالجملة ان الاصل فی تشریعها التخریج من النصوص ویکفی فی اباحتها عدم تعارضها بالنصوص (البشری ص۴۸) اوامام شاه ولی الله په عقد الجید کښې فرمائی:وفی عمدة الاحکام من کشف البزدوی یستحب للمفتی الاخذ بالرخص تیسیراً علی العوام مثل التوضی بماء الحمام والصلاة فی الاماکن الطاهرة بدون المصلی....وینبغی للمفتی ان یاخذ بالایسر فی حق غیره خصوصاً فی حق الضعفاء لقوله علیه السلام لابی موسی الاشعری ومعاذ حین بعثهما الی الیمن یسرا ولا تعسرا (عقدالجید ص۷۳، ۷۴)

(۳) دَ کمپنۍ په دستور سره چه کوم څیزمخې ته راځی په هغې کښې ظاهری طورسره دَناجائزه قرض څه صورت په نظر نه راځی.البته چه مشتری کوم لږقیمت ورکوی اوباقی دَهغه په ذمه قرض وی نو دا یو صورت دې.لیکن زبانی طورسره دَایجنټانو نه معلوم شو او دَدستور نه هم معلومیږی چه دکمپنۍ دَطرف نه دا شرط نه دې چه خامخابه ته ممبران جوړوې.بلکه دَډسټری بیوټر جوړیدلو په صورت کښې کمپنی خپل داقرض په بونس کښې پوره کوی.اوبنده دَبعضې ممبرانو نه زبانی طور داهم معلومه کړه که بالفرض داممبرنورکارنه کوی اونورممبران نه پیدا کوی نوبیاکمپنی داقرض څنګه وصول کوی نوهغوی اووئیل چه دکمپنۍ دَطرفنه یوکال پورې داقرض دده په ذمه باندې وی اودکال تیریدلو نه پس کمپنی دا رقم معاف کوی.دَبونس متعلق معلومات دَپروډکټ اصل قمیت وغیره په دستور کښې دې طریقه باندې بیان کړې شوې دې.

دَ پروډکټ تول قیمت: ۹۹۸۰/۰۰ روپۍ ، کستم ډیوټی: ۱۹۸۰/۰۰ روپۍ

بنیادی ډسټری بیوشن BDA رقم: ۸۰۰۰/۰۰ روپۍ لاګت او دَ کمپنۍ منافع: ۴۵ فیصد ، دَ ډسټری بیوټر دپاره.۵۵ فیصد.بس دلته چه ډسټری بیوټر کوم ﴿باقی حاشیه په راروانه صفحه﴾

﴿بقیه حاشیه﴾ مشین خرخوی نو کمپنی دهغه دبونس نه خپل قرض پوره کوی نوچه کوم اولنی بونس ملاویږی هغه په قرضه کښې حسابیږی.اودقرضې ختمیدلو نه پس خپل بونس باقاعده طریقې وصول کوی لهذا دا نفع زائد علی القرض نه ده چه په کل قرض جرنفعاً کښې داخل شی.بلکه باقاعده په قرضه کښې حسابیږی اودخدماتو په صله کښې بونس ملاویږی.

(۴) دَ دستور نه دا معلومیږی چه نه په دې کښې رشوت شته اونه جواری. دَدستور په ص ۴ کښې دي چه کـه ډسټری بیوټر غـواړی نـو پروډکټ دَاخستلو نـه پـس پـه اوو (۷) ورځو کښې دننه دَخپلې مشورې او رمضامندئ (direct upline) سره کمپنئ تـه واپس کولې شی.اوبیا آئنده درې میاشتو پورې ډسټری بیوټر نشی جوړیدلې.ددینه علاوه دَ درستور نه داهم معلومه شوه چه ډسټری بیوټر جوړیدل ددې مشتری خوښه ده کـه کار کول غواړی نو بونس به ورته ملاویږی او کـه کار کول نه غواړی نوپه دې باندې څه پابندی نشته.اودَدستور په ص ۳ کښې دی چه ډسټری بیوټر صرف دکمپنئ په مقرر شوې قیمت باندې پروډکټ خرڅولې شی.دَمقرره قیمت نه کم یا په زیاتې باندې ئې نشی خرڅولې.انتهی

پس دَپروډکټ خپل مقررقیمت دې اوبیع دَمشتری اوبائع په خوښه باندې منقعد کیږی.علامه ابن نجیم رحمه الله فرمائی:(قوله هو مبادلة المال بالمال بالتراضی) وفی فتح القدیر بانـه اذا فقدالرضا لایسمی فی اللغة بیعاً بل غصباً ولو اعطاه شیئاً آخرمکانه وعرفه فی البدائع بانه مبادلـة شئ مرغوب فیه بشئ مرغوب فیه وذلك قدیكون بالقول وقدیكون بالفعل فالاول الایجاب والقبول والثـانی التعاطی (بحرالرائق ص۲۵۷ جلد۵) ددینه علاوه خبره داده چه دامشین پـه عـام بازار کښې ارزان ملاویږی او دَبعضې استفتاګانو نه معلومیږی چه دامشین په عام بازارونو کښې نه ملاویږی بهرحال کمپنی زیات قیمت اخلی نوپه دې کښې هم څه قباحت نشته.پـه فتاوی حقانیه کښې دی: ملخصاً،شریعت مقدسه پـه تجارت کښې دَمـال پـه منافعو کښې څه خاص حد نه دې مقرر کړې.دا دَ دواړو عاقدینو خپل مینځنئ معامله ده څنګه چه جوړه شوه هغه شان جائزه ده.لانه مبادلة المال بالمال بالرضا (دررالحکام) (فتاوی حقانیه ص۱۰۸ جلـد۶) نوددې ګران قیمت په وجه دې باندې دَرشوت تعریف صادق نه راځی.پـه منهاج السنن کښې دی:

رشوة الوصله الی الحاجة بالمصانعة.... فالراشی من یعطی الذی یعینه علی الباطل والمرتشی الاخذ والـرائش ذی یسعی بینهما یستزید لهذا ویستنقص لهذا الخ (منهاج السنن شـرح جـامع الـسنن ص۷۰ جلـد۵) دجوارئ معنی هم په دې کښې نیشته ځکه چه کمپنی مخکښې دامشین پـه دغـه معین ان قیمت باندې خرخوی بیاکه چرته مشتری ډسټری ﴿باقی حاشیه په راروانه صفحه﴾

﴿بقیه حاشیه﴾ بیوټر جوړیږی.نو کمپنی دَخپلو اصولو مطابق هغه ته بونس ورکوی اوکه دَ کمپنئ سره کار نه کوی نوهغه تـه هیڅ نـه ملاویږی.اوهغـه ګران قیمت ددې مشین ثمن وو.لهذا دَرقم ضائع کیدلو دلته هډو څه خطره نه معلومیږی.دَدستورالعمل پـه صفحه ۳ کښې دی.دَپروډکټ اخستلو نه پس اودَډسټری بیوټر شپ کارډ ملاویدلو نه پس یو سړې مخکښې ترقی کولې شی.دَډسټری بیوټری دکمپنئ پروډکټ دَنیټ په ذریعې سره خرڅول نوې دوستانو د (xl) کیرئیر نه متعارف کول.اودَبونس نه لطف اندوز کیدل دی.

(۵) دَ کمپنئ دَجوړکړې شوو اصولو نه معلومیږی چه څوک ممبرجوړشی هغـه بـه نور دوه کسان دَمشین اخستلو دپاره تیارکړی بیابـه مخکښې دا دوه کسان نور دوه دوه تیارکړی اوداټول ممبران به دَخپل نیټ خورولو دپاره باقاعده کار کوی.یعنی دا اولنې ممبربه هم په دې کښې اولګی چه دَخپل ځان نه لاندې دوه ممبرانودپاره بـه نور ممبران پیداکړی ګنې نو دده بونس به په خپل ځائې ولاړ وی.یعنی دا اولنې ممبرچه دې دې به پـه قلاره نـه کینی بلکه دَخپلو دوه ممبرانو دپاره بـه نور دوه دوه ممبران پیدا کول وی.ګنې کـه ددې اولنی ممبر پـه نیټ کښې په دوه ممبرانو کښې یو ممبرداسې راغې چه دَخپل ځان دپاره اخستونکی پیدا نه کړی نوبیابه ددې حد پورې دغې سابقه ممبرانوته بونس ملاویږی.چه دَزیات بونس حقدار نه دی.لهذا ده دپاره دَخپل بیسک نیټ دَډاؤن لائن پـوره نګرانی اودَهغې دپـاره افراد تیارول مستقل ذمـه داری ده.لکـه چه دَدستور دَ ص۱۲ ،۱۳نـه ظاهر ده.دَایډوانس ډسټری بیوټر جوړیدلو نه پس به ته دَخپل بیسک نیټ ډاؤن لائن نه فراموش کوی.ته دَخپل بیسک نیټ پـه دوه مختلفـو ځانلـه لائنونو کـښې دوه ایډوانس ډسټری بیوټرضرور جوړکړه پـه دې وجـه ضروری ده چه ته پـه خپل بیسک یونټ باندې پوره توجه اوساتې(مختصراً)

دَ کمپنئ ددې اصولونه(چه تفصیلی دی) معلومیږی چه دده نیټ کښې څومره ممبران جوړیږی نوپه دې کښې هریو دَبل دپاره دَممبرجوړولو اوکمپنئ دپـاره دَګاهـک (خریدار) پـه جوړولو کښې معاون اوکارکولو والا وی.ګنې نودَممبرنه جوړیدلو پـه صورت کښې به دَبونس پـه شرح کـښې ترقـی نـه کیږی.نوګویا چه داټول ممبران دکمپنئ پـه کـار کـښې مستقل متحرک دی.اودَخریدار جوړیدلو دپاره ذریعـه جوړیږی.پس کـه کمپنی دَخپل پیداوار ۵۵فیصده دَخپلو اصولو مطابق دې ممبرانو تـه دَبونس پـه شکل کښې ورکوی نوپـه دې کـښې هیڅ قباحت نشته.ددینه علاوه چه څوک ممبرجوړیږی نودکمپنئ کار دا دې چه مشین بـه اخلی اودَممبرانو کـار دادې چـه خریـدار بـه جوړوی.اوکـوم مـال چـه پـه منافع کـښې پـاتې شی نودَمشین لاګت(خرچه) اودکمپنئ منافع ۴۵ فیصدبه ﴿باقی حاشیه په راروانه صفحه﴾

که مختلف محلې او کورونه یوځائې شمارلې کیږی نو دا قریه کبیره (لوئې کلې) ده

سوال: په شمالی وزیرستان کښې دَ"خشالی" په نوم یوځائې دې چه دَډیرو باندو او شاخونو په شکل کښې آباد دې چه په هغې کښې په سلګونو کورونه او زرګونو سړی او زنانه اوسیږی داځائې دَمصرِشرعی(شرعی ښار) په حکم کښې دې یا واړه واړه څو کلی دی ؟په دې کښې دَجمعې اقامت صحیح دې یا نه؟

الجواب: حدیث لاجمعة ولا تشریق ولا فطر ولااضحی الافی مصر جامع .اونور صحیح حدیثونو په بناء باندې دَجمعې دَصحیح والی دپاره ښار یا لویه قصبه شرط دې. کمابین فی موضعه ،لیکن دَښار دَصحیح والی دپاره دکورونو اتصال شرط نه دې، کماصرح به ابن حزم فی حق منازل المدینة المنورة فی عهدالنبی علیه‌السلام.

﴿بقیه حاشیه﴾ پاتې شی.او۵۵ فیصد به په ممبرانوباندې دَنیت په ترتیب سره تقسیمیږی اوظاهری طور سره دَدستور نه معلومیږی چه ممبران دده په کاروبارکښې دَشریک په حیثیت سره کار کوی.اوپه دې باندې دَ شرکة الوجوه تعریف صادق راځی په هندیه کښې دی.فهو ان یشترکا ولیس لهما مال لکن لهما وجاهة عندالناس فیقولا اشترکنا علی ان نشتری بالنسیئة ونبیع بالنقد علی ان ما رزق الله سبحانه وتعالی من ربح فهو بیننا علی شرط کذا،کذا فی البدائع (هندیه ص٣٢٧ جلد٢).

(٢).دَدستور نه معلومیږی چه دکمپنۍ دَطرفنه انعامونه په نیت کښې یو خاص هٔدف ته دَرسیدلو په صورت کښې ملاویږی.اودلته په انعام کښې عمل هم دې.اوعوض هم معلوم دې. لهذا ددې خلاف شریعت کیدل نه معلومیږی.اکثرفقهاؤ دَانعام داتعریف کړې دې. التزام عوض معلوم علی عمل معین اومجهول عسرعمله (مغنی المحتاج، الفقه الاسلامی وادلته ص٧٨٣ جلد٤) اوپه تفسیرقرطبی کښې دی: الجعالة من العقود الجائزة التی یجوز ان یفسخه قبل الشروع وبعده اذا رضی باسقاط حقه ولیس للجاعل ان یفسخه اذا شرع المجعول له فی العمل (قرطبی ص٢٣٢ جلد٩) اودَکمپنۍ دَطرفنه دَانعام ضامن اوکفیل کیدل هم خلافِ شریعت نه دی.ولمن جاء به حمل بعیر، وهذا من باب الجعالة وانا به زعیم، وهذا من باب الضمان والکفالة (تفسیرابن کثیر ص٦٣٠ جلد٢)

.... از مرتب ....

نوکه ټول خشالی یوځائې وی چه دَهغې کورونه اومحلې جدا جدا اوځانته وی نو دا ښار اولوئې کلې دې.په دې کښې دَجمعې قائمول صحیح دی.اوکه خشالی دَعلاقې نوم وی چه دَهغې باندې ځان ځانته دی نوپه هغې کښې دَجمعې قائمول ظاهری طورسره صحیح نه دی.اوظاهری دَعرف نه شق اول معلومیږی.

په تحکیم باندې دَاجرت ورکولو اخستلو حکم

سوال: که دَتحکیم دپاره متعددعلماء راجمع وی نوهغوی ته اجرت ورکول جائز دی یا ناجائز ؟

الجواب: زمونږ په نزد تحکیم باندې اجرت اخستل جائز نه دی لیکن چه کله تحکیم مفت نشی کیدلې نو بعضې علماء فرمائی چه دَخصمینوپه رضامندئ سره دَمحکمینودپاره اجرت اخستل چه هغوی په کتابونوکښې کتلوسره راجح قول اوښائی او جګړه ختمه شی نودا په تعلیم اوتعلم باندې دَ اجرت اخستلو پشان ده دا ناجائز نه ده.فتامل.

دَ مشترکه مال نه یو رور دپاره ویزه واخلی نوهلته دَ کړې شوې مزدورئ دَسرمایې حکم

سوال: هرکله چه رونړه یو وروړته دَمشترکه مال نه ویزا واخلی او ابوظهبی ته ئې اولیږی اوهغه هلته مزدوری کوی مال جمع کړی نودامالونه به دَټولو رونړو وی یا به صرف ددې رور ملکیت وی؟

الجواب: چونکه ددې رونړو په مینځ کښې نه شرکت املاک شته اونه شرکتِ عقود.بلکه عوامی او پټهانی(یعنی دَپښتونولئ) شرکت دې.نودامالونه به صرف دَدې رور وی مشترک به نه وی.البته په ویزا وغیره باندې خرچ شوې مال په حساب کښې وی.

دَ کاغذی نوټونو یوبل باندې دَ خرڅولو حکم

سوال: که یو کس دَ زرو (۱۰۰۰) روپو نوټ دَ لس روپو په نوټ باندې واخلی نوآیا دا جائز دی؟

الجواب: دا دواړه نوټونه دکاغذ دی نه د سپینو زرو دی نه دَ سرو زرو. نوداتبادله کول شرعاً ناجائز او سود نه دې. اودَدې ذاتی قیمت معمولی دې او اعتباری اوسرکاری قیمت ئې غیرمعمولی دې نوداتبادله به عرفی ممنوع وی شرعی ممنوع به نه وی. دغه شان دَ ډالر، ویزه، ټکټ او کاغذی کرنسی تبادلې په تفاضل سره به ممنوع عرفی وی ممنوع شرعی به نه وی. ﴿۱﴾.

﴿۱﴾ مفتی نظام الدین الاعظمی فرمائی:

نوټ (کاغذی) نه کیلی دی اونه وزنی بلکه عددی دې نوځکه په کمی زیاتی سره ئې بدلول جائز دې. فقط والله اعلم.

کتبه:

العبد نظام الدین عفی عنه

مفتی دارالعلوم دیوبند

الجواب صحیح
حبیب الرحمن عفاالله عنه

الجواب صحیح
محمد ظفیرالدین غفرله
کفیل الرحمن عثمانی.

(منتخبات نظام الفتاوی ص۲۹۹ جلد ۱ کتاب المعاملات).

النحو فی الکلام کالملح فی الطعام

دروس الکافیه

پښتو شرح

کافیه ابن حاجب

افادات
حضرت العلامہ مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی مدظلہ العالی
مدرس دارالعلوم حقانیہ اکوړہ خټک

مرتب: مولوی محمد سلیم سواتی

ناشر:
مکتبہ رشیدیہ
جی۔ٹی روڈ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ 0344-9084693